# پر امنیتی سکتور باندی عامه څارنه

## د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره لارښود کتاب







# پر امنیتی سکتور باندی عامه څارنه

## د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره لارښود کتاب

**لیکوالان**

Eden Cole (DCAF)
Kerstin Eppert (UNDP)
Katrin Kinzelbach

هغه تحلیل او د پالیسی لپاره کومی سپارښتنی چې په دی کتاب کی څرګندی شوی دی شخصاً د هغوی مؤلفینو پوری اړه نیسی او هرومرو د ملګرو ملتونو، د هغه سازمان د پرمختیایی پروګرام (UNDP) یاد هغوی د غړو له نظریاتو استازیتوب نه کوی. دا یو خپلواکه خپرونه ده چې د UNDP په غوښتنه لاس لاندی نیول شوی. دا کتاب د مشهورو مشاورینو، سلاکارانو او مؤلفینو د یو ټیم د زیار او هڅو محصول دی.

**ژبنی کتونکی**

Christopher Grollman

د کتاب د پوښ انځورونه (له پاسه کښته خواته، له کيڼ څخه ښی خواته):

-۱ DCAF-OSCE ، د ارمنستان د پارلمان ورکشاپ
-۲ UNDP سودان، د قانون د حاکمیت پروګرام، دارفور
-۳ UNDP د یوګوسلاویا پخوانی جمهوریت، مقدونیه، د ټولنیز مصونیت او امنیت لپاره مشارکت
-۴ DCAF، د مدنی ټولنی د زده کړی کورس
-۵ UNDP El Slavador، د عدالت او امنیت پروګرام

**پښتو ژباړه:** عبدالباری حکیم
**کتونکی:** خالد صدیقی

**طرح او ډیزاین او چاپ (Layout, design and print):**

دا کتاب په دغه انترنتی پاڼه کی موندلای شی: UNDP Bratislava Regional Center
http://europeandcis.undp.org/list/publications

د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنټرول لپاره د جینوا مرکز (DCAF)
http://www.dcaf.ch/publications/kms/index.cfm

© د امتیاز خاوند: د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام، ۲۰۰۸

ټول حقوق محفوظ دی. د دی خپرونی هیڅ برخه د امتیاز خاوند له لیکل شوی اجازی پرته، نه له سره چاپیږی او نه د کامپیوتری سیستم په حافظه کی ساتل کیږی او نه لیږدول کیږی(په هیڅ ډول سره: الکترونیکی، میخانیکی،انځور ایز، ثبت یا په نورو طریقو).

# د منني څرګندونه

د دی لاسی کتاب بشپړول د یو زیات شمیر همکارانو او شریکانو د مرستی، ملاتړ او لارښوونی څخه پرته ممکن نه ؤ، مونږ د دوی زیارونو او ژمنو څخه د زړه له کومی مننه کوو. د دی کتاب لومړنی مفکوره اوطرح د Marina Caparani (د ICTJ د پخوانی DCAF غړی او د Dr. Philipp Fluri (DCAF) لخوا وړاندی شوه. د دی لپاره چی دا کتاب د UNDP-DCAF د «دیموکراتیک کیدونکی امنیت» د لړی یوه برخه وګرځی، د هغوی له اخلاص اومهربانی څخه ډیره ډیره مننه کوو.

همداراز له Dr. Jafar Javan او Agi Veres، (UNDP) او Dr. Philipp Fluri (DCAF) ته د زړه له کومی مننه څرګندوو چی مونږ سره د دی کتاب د خپرولو د تیاری په ټولو موده کی مرسته وکړه. سربیره پر دی له Alejandro Alvarez، Monica Blagescu، Alison Buchanan، Marina Caparini، Nadja Dolata، Marcela Donadio، Vanessa Farr، Francis James، William Ko، Dario Kosovsky، Michaela Lednova، Markus Lenzen، Gloria Manzotti، Lauren Matthews، Amerei Mueller، Mamura Nasirova، Lousise Nylin، Sidonie Porterie، Geoff Prewitt، Rustam Polatov، Juan Rial او له Louise Sperl څخه د هغوی د تخصص او د هغوی له بی سارو هڅو په خاطر د رغوونکو تبصرو په وړاندی کولو سره چی د دی کار په بشپړولو کی مرسته وکړه مننه کوو.

د دی پروژی د همغږی، پراخی څیړنی او د لیکوالی په کار کی د مرستو په موخه غواړو چی Vahan Galoumian، Suying Lai، Timothy Melvin، Mamura Nasirova، Geoff Prewitt او Peter Serenyi ته د هغوی د ټینګ ملاتړ او زیارونو په خاطر خپل ژور درناوی او د زړه له کومی مننه وړاندی کړو. په پای کی د مدنی ټولنی د څانګی، د UNDP د مشارکت د دفتر د اضافی مالی ملاتړ لپاره د خپلی د زړه له کومی قدردانی او مننه څرګندوو.

# د مطالبو فهرست


| | |
|---|---|
| 7 | سریزه (Manfred Nowak) |
| 9 | د دې لارښود کتاب په هکله |
| | **لومړی برخه: تعریفونه او لوبغاړی** |
| 11 | ۱- پر امنیتی سکټور باندی عامه څارنه (Marino Caparini او Eden Cole) |
| 35 | ۲- پر امنیتی سکټور باندی د اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوو څارنه او لارښوونه (Ian Leigh) |
| | **دوهمه برخه: ستراتیژی او میتودولوجی** |
| 61 | ۳- څیړنه او معلومات (Duncan Hiscok) |
| 87 | ۴- د خبرتیا د سطحی لوړول (Alejandra Pero) |
| 107 | ۵- پلویتوب (Peter Albrecht) |
| 137 | ۶- روزنه (Angela Mackay) |
| 165 | ۷- څارنه (Vahan Galoumian) |
| 195 | ۸- د بودجې تحلیل (Teodora Fuior) |
| 225 | ۹- د سازمانی اعتبار رامنځ ته کول (Geoffrey Prewitt) |
| | **دریمه برخه: ننګونی او امکانات** |
| 245 | ۱۰- جنسیت او دیموکراتیکه امنیتی حکومتوالي (Kristin Valasek) |
| 277 | ۱۱- بشری حقونه او د امنیتی سکتور څارنه (Johanna Mendelson Forman) |
| 299 | ۱۲- قانونی مرسته او د قانون اصلاح (Mark Guthrie او Siphosami Malunga) |
| 333 | ۱۳- له نړیوالی تولنی سره د اتحاد طرح (Amerei Müller) |
| 365 | ۱۴- بیرنی حالتونه او محدود چاپیریالونه (Rizal Darma Putra) |
| 393 | ۱۵- د امنیتی سکتور څارنه، زورپالونکی شخړه او د سولی رامنځ ته کول (Katrin Kinzelbach او Yasmine Sherif) |

# سریزه

د ربړونی په هکله د ملګرو ملتونو د ځانګړی رپوټ ورکونکی په توګه، زه په خپل کار کی په ټوله نړی کی د بشری امنیت د خوندی ساتنی او ودی په موخه د مدنی ټولنی د نه ستړیکیدونکی او مسلکی کار قدر او ستاینه کوم، چی ډیری وخت یی په خپله خوښه او د ستر شخصی خطر په منلو سره یی سرته رسوی. د ملګرو ملتونو د ځانګړی رپوټ ورکونکی او د بشری حقونو د یو مسلکی شخص په توګه، ما د مدنی ټولنی له سازمانونو او د هغو له استازو څخه تل مهم معلومات تر لاسه کړی دی. هغوی د هری اړوندی قضیی او هغی پوری د اړوندو قانونی نیمګړتیاوو په هکله چی د هغوی په هیوادونو کی پر بشری حقونو او د خلکو پر مصونیت باندی اغیزی کوی، معلومات راټولول خپله دنده ګرځولی ده. د مدنی ټولنی سازمانونه چی انګریزی مخف یی (CSOs) دی، د ربړونی د مخنیوی لپاره د خلکو خبرتیا ته وده ورکوی، د ربړونی قضیی څاری او ثبتوی یی، او بالاخره د ربړونو له قربانیانو سره په قانونی او روغتیایی برخو کی مرسته کوی. هغه هڅی چی حکومتونه او نړیواله ټولنه یی کوی ترڅو دیموکراسی او بشری امنیت پیاوړی شی تر زیاتی کچی د ټولنی د هغو متعهدو خلکو پر ونډو او له هغو سره د دیالوګ بربنسټ تکیه کوی چی د عدالت او سولی په لټه کی فعال دی. د هغوی د فعالیتونو لمن د سترو اوټیټګو غیرحکومتی سازمانونو څخه نیولی تر محلی ټولنو پوری پراخیږی.

خو ډیر کارونه لا تر اوسه پاتی دی چی باید سرته ورسیږی. له بده مرغه نن هم لا تراوسه وینو چی د ربړونو او هغو ته ورته له بشری حقونو څخه د سرغړونو لمن تر زیاتی کچی پراخه پاتی ده او کله هم د امنیتی سکتور د کارکونکو سیستماتیک ناوړه چلندونه هر چیری لیدل کیږی. پرته له شک څخه، داسی یو هیواد نشته چی هلته په کی د امنیتی سکتور ناوړه چلند ونه لیدل شی، که شتمن هیوادونه دی، یا بی وزلی، که ثبات لرونکی او که بی ثباته. د دی خبری معنی دا ده چی یوی اغیزمنی او خپلواکی څارنی ته هرچیری سخته اړتیا ده. سربیره پر دی، د امنیتی سکتور د دیموکراتیکی څارنی په پراخی اجندا کی د اغیزمن ملکی قوت د رامنځ ته کولو په موخه مدنی ټولنه دا توان او اختیار لری چی د څارنی هغو رسمی ماموریتونو ته ټینګه اوږه ورکړی چی د اجرائیی، پارلمان، قضائی او همدا راز د بشری حقونو د ملی تأسیساتو پر اوږو ایښودل شوی دی. دیموکراسی او بشری امنیت یوائی هغه وخت وده او پرمختګ کولای شی چی د سیاسی تأسیساتو او د رائیو ورکونکو ترمنځ چی هغو ته یی د استازیتوب اختیار ورکړی، رغوونکی دیالوګ او تبادل موجود وی.

د «ترور پر ضد جګړی» تر نامه لاندی د وروستی زمانی هڅی په ملی او نړیواله سطح د نویو امنیت پوری اړوند لګښتونو، نړیوالو همکاریو او په پخوانیو دیموکراسیو کی د امنیتی سکتور پوری اړوند صلاحیتونو او اختیاراتو د لمن د پراخیدو لامل وګرځیدی. خو د اندیښنی وړ خبره دا ده چی په دی برخه کی د څارنی د مناسبو ارګانونو وده شاته پاتی ده، هغه څه چی د سیاسی تصمیمونو او د پالیسیو د پلی کولو په دیموکراتیکه څارنه کی خلاء رامنځ ته کړی ده. دی مسألی نه یوائی د پرمختیا په حال هیوادونو کی د دیموکراسی پروسه له ګواښ سره مخامخ کړی ده، بلکه په پرمختللو دیموکراسیو کی د بشری حقونو موقف ته هم تاوان رسولی دی. همدا راز ډیره ستره اندیښنه دا ده چی د دی وضعیت په نتیجه کی د بشری حقونو مکلفیتونه او آن د بشری حقونو ثابت او نه انکار کیدونکی نورمونه تر پوښتنی لاندی نیول شویدی دی. د دی لپاره چی د تیری زمانی لاس ته راوړنی بیرته اعاده شی، په خاصه توګه بنسټیزی ژمنی چی وایی، امنیتی سکتور باید تر ملکی څارنی لاندی وی او د دی لپاره چی نړیوالو بشری حقونو نورمونو ته پابندی ټینګه پاتی شی، مدنی ټولنه باید تل خبر ولری چی څه پیښ شوی دی، هغه باید انتقاد کونکی پاتی شی او په لوړ غږ خبره وکړی او هغه باید فعاله اوسی ترڅو داډ لاس ته راشی چی د هر هیواد امنیتی سکتور، حقوقو ته د درناوی، خلکو ته د خدمت او د هغوی د امنیت د خوندی ساتنی پر بنسټ ولاړ دی او یا پر دی بنسټ جوړیږی.

په دی لاربسود کتاب کی د امنیتی سکتور د عامه څارنی په هکله د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د نړی له ګوټ ګوټ څخه تجربی راټولی او د مدنی ټولنی لپاره عملی لاربښوونی وړاندی شوی چی څرنګه کیدای شی امنیتی سکتور نه یواځی قانون ته درناوی ولری، بلکه د ټولنی په وړاندی شفافیت او حساب ورکونکی وګرځی. دا لاربسود کتاب د معلوماتو د یوی ستری شتمنی څخه برخمن دی. زه په پوره ډاډ ویلی شم چی پر امینتی سکتور باندی د څارنی د ټینګولو په موخه د مدنی ټولنی د سازمانونو د کار او فعالیت لپاره به دا معلومات خورا ارزښت لرونکی او ګټور ثابت شی.

د مدنی ټولنی سازمانونه د امنیتی سکتور په څارنه او د امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی یو ژوندبښونکی نقش لری، هغه یو نقش چی سپارښتنه کیږی چی ستاسو سازمان یی په غاړه واخلی. د دی لپاره چی په دی ستر زیار کی ستاسو د سازمان د برخی اخیستو لپاره لاره آسانه شی، هغه مختلف نقشونه چی مدنی ټولنه یی کولای شی د امنیتی سکتور په دیموکراتیک کولو کی ولوبوی، په دی کتاب کی په بشپړه توګه څیړل شوی دی.

مانفرد نوواک (Manfred Nowak)
د ربړونی په هکله د ملګرو ملتونو ځانګړی رپوټ ورکونکی

## د دی کتاب په هکله

دا کتاب د مدنی ټولنی سازمانونو ته د هغه نقش په هکله چی دوی یی د امنیتی سکتور په دیموکراتیکه څارنه کی لوبولی شی، منظمی لارښوونی وړاندی کوی: په بنسټیزه توګه، دا چی دوی څرنګه کولای شی خپل فعالیتونه پلان وکړی او په ښه او اغیزمنه توګه سره سمبال او پلی کړی.

د دی خبری په پام کی نیولو سره چی پر امنیتی سکتور باندی د عامه اعتماد په موخه د غښتلو او خپلواکو دیموکراتیکو تأسیساتو د ساتنی او جوړولو لپاره ژوند ښونکی اهمیت لری او د امنیتی پالیسی په ساحه کی د معتبرو مدنی ټولنو د سازمانونو ونډه له حساب ورکولو او غوره حکومتوالی سره ډیره مرسته کوی. د هغو مدنی ټولنو د ډلو لخوا پلویتوب چی د محلی انجمنونو او د هغو له ګټو څخه استازیتوب کوی، هغه یو بله مرسته ده چی کولای شی د ځینو له پام څخه غورځول شویو لوبغاړو غږونه پورته کړی. سربیره پر دی، دغه ډول پلویتوب سره د پالیسی جوړونی د پروسی دروازه د خلکو د پراخو پرګنو پر مخ پرانیستله کیږی. د مدنی ټولنی سازمانونه نه یواځی په ټینګو دیموکراسیو کی، بلکه په هغو دولتونو کی هم چی له شخړو یا د مطلق العنانو رژیمونو څخه نوی ژغورل شوی او یا لا تراوسه غیر دیموکراتیک پاتی دی یو ژوندښونکی نقش لوبوی. په دغو دولتونو کی د مدنی ټولنی د سازمانونو فعالیتونه کولای شی د قدرت د خاوندانو پر تصمیمونو باندی چی سیاسی پروسه یی انحصار کړی ده، اغیزی ولری.

په داسی حال کی چی د مدنی ټولنی ډیرو سازمانونو په انتقالی دولتونو او له شخړو څخه د نویو ژغورل شویو دولتونو کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو لپاره لاره برابره کړی ده، د هغوی له ډیر نور قوت څخه تراوسه پوری کار نه دی اخیستل شوی. همدا ډول د یوی اوږدی مودی په هغه یو نقش باندی چی د مدنی ټولنی سازمانونه یی د یوی فعالی ونډی له لاری په امنیتی سکتور کی د څارنی په موخه لوبولی شی، په پرمختللو او د پرمختیا په حال دولتونو کی کله کله مخ اړول کیږی. د لارښوونی دغه کتاب په دی لټه کی دی تر څو ټولنیز تائید او د یوی عامه ښیګنی په توګه د امنیت څخه پوهاوی تشویق کړی او امنیتی پالیسی او د امنیتی سکتور د اصلاحاتو پروسه د مدنی ټولنی د سازمانونو پر مخ پرانیځي. همداراز هڅه شوی ده چی د مدنی ټولنی هغه سازمانونه چی لامخکی امنیتی موضوعاتو ته یی پام اړولی دی، څرنګه چی ډیری یی په سختو شرایطو کی فعالیت کوی، کولای شی په دی کتاب کی د راټول کړای شویو غوره چارچلندونو، د څارنی له وسایلو او د عمل کولو له ستراتیژیو څخه ګټه واخلی.

خو د یوی بشپړی ملکی څارنی او په اړندو پروسو کی د ملکی ونډو په وړاندی ډیری وخت د امنیتی سکتور د غړو لخوا له قانونی او سیاسی لحاظه مقاومت کیږی. په وروستیو کلونو کی د نړیوال تروریزم او لانجو په نتیجه کی د عامه امنیت د خوندی ساتنی په پلمه د محرمیت او پټ ساتنی دودونه په ډیرو هیوادونو کی پیاوړی شوی دی. په نتیجه کی د ملکی حقونو څخه مخنیوی شوی او پر امنیتی سکتور باندی عامه څارنه تر ډیری زیاتی کچی محدوده شوی ده او یا حتی په لومړی سر کی ملکی څارنه اصلاً رامنځ ته شوی نده.

د دی لپاره چی د داسی یو وضعیت پر ضد مقابله وشی او حساب ورکول او شفافیت خوندی وساتل شی، د مدنی ټولنی لوبغاړی باید د څارنی د موضوعاتو مختلفو اړخونو ته پام واړوی، هغه اړخونه چی په لومړی سر کی داسی نه ښکاری چی د مدنی ټولنی لپاره د لاس رسی وړ وی، لکه مراقبت، بودجوی تحلیل، قانونی مرستی او د قانون له تعدیل او اصلاح سره مرسته. خو په عین وخت کی د مدنی ټولنی د استازو په توګه له ډلیزو رسنیو، نړیوالو لوبغاړو او نور اړندو اړخونو سره ګډ کار کول ترڅو د څارنی د اړتیاوو، ننګونو او چانسونو په هکله عامه خلکو ته د معلوماتو په ورکړه کی اصلاحات رامنځ ته شی.

دغه لارښود کتاب د UNDP او DCAF د «امنیت د دیموکراتیک کیدو» تر نامه لاندی د خپرونو په لړی کی دریم محصول دی او په لومړی سر کی د مدنی ټولنو او غیرحکومتی سازمانونو لپاره په پام کی نیول شوی دی. خو د څارنی د اړخونو په هکله د هغه د نظری او عملی کتنو ته پاملرنی سره، د دی کتاب څیړل شوی مسائل د دیموکراتیکو تأسیساتو او استازو، پالیسی جوړونکو، تجربه کونکو (ستاژیرانو)، څیړنکو، د امنیتی سکتور تأسیساتو، ډله ایزو رسنیو، او همداراز سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو لپاره چی د امنیتی سکتور د عامه څارنی په برخه کی د مدنی ټولنی له سازمانونو سره ملګرتیا لری، هم ګټور دی.

# لومړی فصل

MARINA CAPARINI AND EDEN COLE

# پر امنیتی سکتور باندی دعامه څارنی موضوع: طرحی او ستراتیژی

Marina Caparini and Eden Cole

# ۱

# پر امنیتی سکتور باندی دعامه څارنی موضوع: طرحی او ستراتیژی

په دیموکراتیکه څارنه کی عامه مداخله په ټول امنیتی سکتور کی د حساب ورکولو او شفافیت د خوندی ساتنی لپاره خورا اهمیت لری. د امنیتی پالیسی په ساحه کی د مدنی ټولنی د سازمانونو مداخله له حساب ورکولو او غوره حکومتوالی سره ډیره زیاته مرسته کوی: د مدنی ټولنی سازمانونه نه یواځی د حکومت د «څارونکی وسیلی» په توګه، بلکه په عامه امنیت او اړوندو خدماتو کی د مسوولو تأسیساتو او ادارو له اجراآتو سره د عامه رضایت د نښانی په توګه هم عمل کوی. ځینی چارچلندونه لکه د حکومت د اجراآتو، پالیسی، له قوانینو سره سم عمل او د بشری حقونو مراعات، دا ټول له دی پروسی سره مرسته کوی. سربیره پر دی، د مدنی ټولنی د هغو ډلو پلویتوب چی د محلی انجمنونو او د داسی نورو ورته ډلو او انفرادی کسانو له ګټو څخه استازیتوب کوی، د ټولنی د حاشیوی لوبغاړو سره مرسته کوی، ترڅو خپل غږ اوچت کړی او دغه راز د پالیسی جوړونی پروسه د ټولنی د نورو پرګنو پرمخ پرانیځی. په دی ترتیب، د مدنی ټولنی سازمانونه نه یواځي په ټینګو دیموکراسیو کی، بلکه په هغو دولتونو کی چی له شخړو او مطلق العنان رژیمونوڅخه نوی خلاص شوی دی یو مهم نقش لوبوی. په دغو دولتونو کی د مدنی ټولنی فعالیتونه کولای شی چی د قدرت د خاوندانو پر تصمیم نیولو باندی چی سیاسی پروسه یی انحصار کړی ده، اغیزه وکړی.

## پر امنیتی سکتور باندی د دیموکراتیکی څارنی اصول

د سړی جګړی له پای څخه راپدیخوا، پر امنیتی سکتور باندی دیموکراتیکه څارنه یو نړیوال منل شوی اصل ګرځیدلی دی. د انتقالی دیموکراسیو په حال کی هیوادونو د امنیت تر واکمنی لاندی د بیروکراسیو او د بیشمیرو امنیتی سکتورونو چی پخوا د مطلق العنان او زور پالونکو رژیمونو د ساتلو لپاره یی مسوولیت درلود، د منحلولو لپاره د خپلو امنیتی سکتورونو د اصلاحاتو په لټه کی شول. د جګړو او شخړو څخه د وروسته دوری ټولنو هڅه وکړه ترڅو د یو ثبات لرونکی دیموکراسی لپاره نوی امنیتی تأسیسات جوړکړی. د امینتی سکتور اصلاح د داسی دیموکراتیکو پایلو او د ملی، سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو لپاره یو سازمانی اصل وګرځید.

تر ټولو مهمه دا چی دیموکراتیکه څارنه د دیموکراتیکو تأسیساتو، اصولاً پارلمان او د هغه اړوندی کمیټی، مدنی ټولنه، د حکومت اجرائیه او خپله امنیتی سکتور د امنیتی پالیسی په طرحی، تطبیق، څارنی اواصلاحاتو کی فعالی ونډی پوری تړلی ده. د دغو له جملی څخه، پارلمانی غړی، مدنی ټولنی اوډلیزی رسنی دی چی ښایی تر ټولو زیات امکانات ولری تر څو په څارنو او پالیسیو کی نیمګړتیاوو ته ګوته ونیسی.

د امنیتی سکتور د تأسیساتو د اصلاحاتو او په دیموکراتیکه توګه د یوی منتخبی ملکی اداری او یو خپلواکی قضائیی تر امر لاندی د دغو تأسیساتو د راوستلو له لاری د یوی دیموکراتیکی ټولنی د بنیګنو لپاره د امنیت د تأمین فکر یو منل شوی اصل ګرځیدلی دی ترڅو غیردیموکراتیکو او غیر مصونو پخوانیو دودونو ته په پریکړنه توګه شا واړوله شی. د عامه امنیت پروګرامونه چی د بشری حقونو او دیموکراتیکو آزادیو خوندی ساتنی ته یی پام اړولی، د «ملی» امنیت په پرتله چی اکثر شخړه ایزو بهرنیو ګواښونو ته ځیر دی، د سترځواکونو د مقابلی د پای څخه را پدیخوا ړومبیتوبونو کی راځی. بشری امنیت او د هر انسان مصونیت ته ځیر کیدو سره دولتونه توانیدلی دی چی د امنیتی سکتور پوری اړوند خدماتو پام له بهرنی دفاع څخه د اتباعو د امینت او د بشری حقونو خوندی ساتنی ته واړوی.

نن د امنیتی سکتور دیموکراتیکه حکومتوالی د ټینګو نړیوالو نورمونو څخه شمیرل کیږی (د بیلګی په توګه ۱-۱ چوکاټ وګوری) او ډیرو نړیوالو او سیمه ایزو انجمنونو د غړیتوب او همدا ډول د نړیوالو اصلاحاتو او د همکاریو د پلانونو لومړنی شرط دی. د امنیتی اصلاحاتو د تجربی د تطبیق سره، اړوندی طرحی هم مختلف ډولونه پیدا کوی او د هغو وسایلو په هکله پوهه زیاتیږی چی د هغو په مرسته دیموکراتیکه څارنه په ډیره ښه وجه تطبیق او ټینګه پاتی کیږی.

**۱-۱چوکاټ**

**تر دیموکراتیکی څارنی لاندی د امنیتی پالیسیو راوستل: نړیوال نورمونه**

**د ملګرو ملتونو د عمومی غونډی ۹۶/۵۵ (۲۰۰۰) پریکړه او ثبات لرونکی دیموکراسی**

د ملګرو ملتونو عمومی غونډه دولتونو باندی غږ کوی چی دیموکراسی ته وده ورکړی او ټینګه کړی، د نورو تر څنګ له لاندو لارو:

۱- ج) v) خپلواکه قضائیه قوه؛

viii) د ملکی مامورینو او د قانون د اجراء کولو او پوځی پرسونل لپاره د بشری حقونو ښوونه ایز پروګرامونه؛

ix ډاډمن کیدل چی پوځ دیموکراتیکه منتخب ملکی حکومت ته حساب ورکونکی دی.

http://www.un.org/Depts/dhl/resguide/r55.htm

**د امنیت د سیاسی – پوځي اړخونو په هکله په اروپا کی د امنیت او همکاری د کنفرانس (OSCE) لارښوونی**

دغه لارښوونی د دولتونو دنده ګنی چی امنیتی ځواکونه له لاندو لارو د دیموکراتیک قانونیت څخه د برخمنو ادارو تر ملکی کنترول لاندی راوړی:

- د قانونی مراجعو له لاری د اړوندو بودجو منظوری؛
- د وسلوالو ځواکونو سیاسی ناپلویتوب؛
- د نړیوالو بشری قوانینو سره سم د ځواکونو د منسوبینو روزل او د هغوی سمبالول؛

- د نړیوالو بشری قوانینو څخه د وسلوالو ځواکونو د سرغړونو په صورت کی حساب
- او کتاب ته د هغوی کشول؛
- په کورنی امنیتی ماموریتونو کی د اړوندو اړتیاو د پلی کولو لپاره مالی منابع
- د ملکی خلکو او د هغو شتمنیو ته د تاوان رسولو د مخنیوی لپاره دنده درلودل؛
- وسلوال ځواکونه نشی کولای چی د خلکو سولیز اوقانونی بشری او مدنی حقونو عملی کول محدود کړی یا هغوی له خپل ملی، دینی، فرهنگی، ژبنی یا قومی هویت څخه بی برخی کړی.

http://www.osce.org/utem/883.html

**د دیموکراتیک کنترول په هکله د اروپا د پارلمانی اسامبلی د شورا ۱۷۱۳(۲۰۰۵) سپارښتنی**

۶- د حکومت اقدامات باید قانونی او مشروع وی. نو په دی وجه یو دول دیموکراتیک مراقبت ته اړتیا ده، دغه مراقبت باید د پارلمان لخوا عملی بنه غوره کړی. قضائیه یو مهم نقش لوبوی، ځکه هغه کولای شی د استثنایی مقرراتو څخه هر ډول ناوړه استفادی ته چی هغی سره بشری حقونه تر پښو لاندی شی یا په خطر کی ولویږی، سزا ورکړی. نړیوال سازمانونه هم د پالیسی په لاربښوونو اود مقرراتو په همغږیو کی مهم نقش لوبوی.

۷- دیموکراتیک مراقبت له یو لړ ځانگړیو قانونی وسیلو څخه کار اخلی ترڅو د امنیتی سکتور سیاسی حساب ورکول او شفافیت خوندی وساتل شی. دغه قانونی وسیلی عبارت دی له: اساسی قانون اصول، قانونی مقررات او تأسیساتی او لوژستیکی احکام او سربیره پر دی هغه عمومی فعالیتونه چی هدف یی د امنیتی سکتور د مختلفو برخو تر منځ د اړیکو ټینگښت له یوی خوا او د سیاسی قدرت (اجرائیه، مقننه او قضائیه) او د مدنی ټولنی د استازو (غیرحکومتی سازمانونه، ډله ایز رسنی، سیاسی گوندونه او همداسی نور) له بلی خوا.

http://assembly.coe.int/main.asp?Link=/documents/adoptedtext/ta05/erec1713.htm

**د UNDP د ۲۰۰۲ کال د بشری پرمختیا رپوټ: په یو ټوټه ټوټه شوی نړی کی د دیموکراسی ټینگول**

په دیموکراتیکو سیستمونو کی باید د پالیسی جوړونکو لپاره یومکلفیت وی تر څو د خپلو تصمیمونو په وجه او دعامه منابعو څخه د استفادی په وجه د عامه خلکو په وړاندی ځان حساب ورکونکی وگنی. که چیری د څارنی تأسیسات د امنیتی سکتور د فعالیتونو د ارزولو له ظرفیت څخه برخمن نه وی، اغیزمنه حساب ورکونه به په امنیتی سکتور کی هیڅکله تحقق پیدا نه کړی. پرته له داسی ظرفیت څخه، د نه پاملرنی یو دوران به تل پاتی وی. د بشری پرمختیا رپوټ، ۲۰۰۲: په یوی ټوټه ټوټه شوی نړی کی د دیموکراسی ټینگول، (نیویارک: OUP,2002)، پاڼه ۸۹.

http://hdr.undp.org/en/media/hdr/_2002_en_comlete.pdf

**د ملگرو ملتونو د عمومی منشی رپوټ، د سولی اوپرمختیا خوندی ساتل: د امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی دملگرو ملتونو نقش، د ملگرو ملتونو د امنیت شورا، د جنوری ۲۳، ۲۰۰۸ کال**

۱۸- د امنیتی سکتور د اصلاحاتو اهمیت په دی کی دی چی هغه ښکاره کوی چی امنیت د دود ایز

پوځی عناصرو ځخه هم  وړاندی ګام ږدی او په هغه کی یو ګڼ شمیر ملی او نړیوال تأسیسات او لوبغاړی ګډون لری. هغه همداراز د امنیت د ترتیباتو لپاره اړتیاوی روښانه کوی هغه چی د مختلفو لوبغاړو ترمنځ اړیکی په پام کی نیسی. په عین سویه، د امنیتی سکتور اصلاحات ټینګار کوی چی اغیزمنتوب، حساب ورکول او دیموکراتیک حکومتوالی تول په ګډه د امنیت عناصر پیاوړی کوی. د امنیتی سکتور اصلاحات له ملی لوبغاړو سره د مرستی په موخه د کار د یو چوکاټ وړاندیز کوی، ځرنګه چی ملګری ملتونه او نور نړیوال شریکان د امنیت د یو ګډ تصور په پلی کولو کی یی لری.

http://www.in.org/Docs/journal/asp/ws.asp?m=s/2008/39
http://daccess-ods.un.org/access.nsf/Get?OpenAgent&Lang=E

## د مدنی ټولنی او د هغی د ظرفیتونو تعریف

مدنی ټولنه په عمومی توګه د خلکو لخوا د خپلی خوښی ګډو فعالیتونو ساحی ته وایی چی د ګډو ګټو، موخو او ارزښتونو پر بنسټ وده کوی. دغه اصطلاح هغه لاری ته اطلاق کیږی کومه کی چی خلک د خپل ژوند د سمبالښت، د خپل نظر ځرګندولو، د خپلو ګټو تعقیب، د معلوماتو د تبادلی او د اختلافونو ترمنځ د منځګړیتوب، د اړیکو او ټولنیزو تأسیساتو (کوم چی هماغسی سره دول ډول دی لکه خپله خلکو چی هغه په محلی، ملی، سمیه ایز او نړیواله سطح جوړ کړی) د رامنځ ته کولو لپاره یو بل سره راشه درشه کوی. صنفی اتحادیې، چاپیریالی ډلی، مذهبی ټولنی، تحقیقاتی مؤسسی او ولسی خلک او د بومی یا اصلی اوسیدونکو غورځنګونه د مدنی ټولنی بیلګی دی.

د مدنی ټولنی فعالیتونه د غیرانتفاعی کارونو استازیتوب کوی، هغه کارونه چی د ټولنی د ډله ایزو ګټو په مقصد دی، او د نورو ملکی بانډونو لکه د جنایتکارانو باندړ ونه، چی عامه ښیګڼي ویجاړوی په مقابل کی دریږی. ځینی وخت د مدنی ټولنی ډلی د ځینو خاصو ګټو یا موضوعاتو په وجه خلک هڅوی هڅول کوی، خو هغه په خاصه توګه  د کوم شخصی یا اقتصادی اړوندی ډلی لخوا نه ترسره کیږی. په داسی حال کی چی دوی له دولت ځخه جلا په خپل سر عمل کوی او په عامه ساحه کی شته والی لری، د مدنی ټولنی سازمانونه له حکومت او سیاست سره سراو کار لری. د مختلفو ټولنیزو ډلو ترمنځ د اعتماد د رامنځ ته کولو سره د مرستی، د ټولنی د غړو، دولتی تأسیساتو او حکومتی مقاماتو ترمنځ د ډیالوګ د هڅولو او په محلی سطح د ټولنی د ګټو د استازیتوب سره، ډیری مدنی ټولنی پیژندل شوی چی په سیاست او  همدا راز په ټولنیزی حکومت والی کی یی د خپل ملکی ژوند کیفیت سم کړی دی. د مدنی ټولنی سازمانونه همداراز د حکومتی پالیسیو او چارچلندونو په مهمو دندو کی برخه لری.

د مدنی ټولنی، حکومت او دولتی ادارو ترمنځ یوه خوځنده اړیکه د دیموکراتیکو جوړښتونو د پوخوالی نښانه ده. هغه د خلکو– دولت په اړیکو کی چی د پرله پسی شفافیت او حساب ورکونی پر بنسټ ولاړی دی او د یو پرانیستی حکومت یو مرکزی اصل ګڼل کیږی، د یو دیموکراتیک فرهنګ استازیتوب کوی. پرانیستی په دیموکراسیو کی پر حکومتوالی باندی ګټوره اغیزه لری: علاقه لرونکی خلک ډیری وخت معلوماتو ته د لاس رسی په لټه کی نه کیږی، خو د فعالو او مطلعو اتباعو درلودلو سره د پالیسیو او د پالیسیو د بدیلونو په هکله د بحث لمن پراخیږی. یو ژوند بښونکی نقش په دی اړه د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا لوبول کیدای شی، ځرنګه چی متخصص او کار پوه غیرحکومتی سازمانونه کولای شی چی دغه ډول بحثونه تاوده کړی او په دی ډول د پالیسو موضوعاتو ته د عامه خلکو پام راواړوی. په یوه ټولنه کی فعال اتباع او فعالی ډلی له دی سره هم مرسته کوی چی د عامه موضوعاتو او عامه پالیسیو په هکله معلومات په بشپړه توګه خپاره او تحلیل شی، له دی لاری  په یوه په دراوزه ترلی یا

محرمه پروسه کې د ګډون امکانات زیاتیږي، هغه څه چې تر اوسه پورې یواځې د محلي، ملي او بین المللي ډله ایزو رسنیو د استفاده له لارې سرته رسول کیدل تر څو په اعظمې توګه بربنډول ممکن وګرځي.

هغه مهم نقش چې د مدني ټولنې سازمانونه د پرمختیا په اړه یې لوبوي، په ډیره ښه توګه مضبوط شوی دی. OECD-DAC خپل غړي دولتونه تشویقوي چې د امنیتي سیستم د دیموکراتیک حکومتوالي لپاره د یو اصلاح پلوی چاپیریال د رامنځ ته کیدو په موخه د مدني ټولنې له فعالیتونو څخه ملاتړ وکړي.[1] دغه فعالیتونه عبارت دي: د پیل ټکو مشخص کول او د محلي لوبغاړو له لارې د اوسنی نوښت پر بنسټ د جوړولو په مقصد د کار میتودونو ته وده ورکول. که څه هم د پرمختیا په حال کې ټولنه لیواله ده تر څو غیرحکومتي سازمانونه او د مدني ټولنې نور سازمانونه د چمتو کونکو خدماتي بدیل او د مرسته کونکو هیوادونو لپاره د چینلونو په توګه ووینې، هغوی همدا راز د پالیسي په یو پراخه پروسه کې نقش لوبوي. د بیلګې په توګه، د OECD غړو دولتونو ته هدایت ورکول کیږي چې د «پالیسي په هکله د خبرو اترو د مقابل لورې په توګه د مدني ټولنې د ډلو له برخې اخیستو څخه ملاتړ وکړي. هغوی له خپل دغه ګډون سره کولای شي چې د امنیت پر سر د تصمیم نیولو په برخه کې ونډه واخلي او د خلکو د خبرتیا سطح لوړه کړي، او همداراز عملي وړاندیزونه وکړي ترڅو د اصلاحاتو د پروسې له دوام سره مرسته کړي.»[2] نو په دې وجه نړیوال مالي مرسته کونکي یو مکلفیت لري چې د مدني ټولنې له سازمانونو سره مرسته وکړي، هغه چې د یو رغوونکي دیالوګ د رامنځ ته کولو لپاره د ښودنې وړتیا او ظرفیت لري، دغه ډول دیالوګ کولای شي چې د پالیسي جوړولو او د پالیسي پر پلي کولو باندې په لومړي سر کې نفوذ ولري.

**۱-۲ چوکاټ**
**په منځنۍ او ختیځه اروپا کې د کمونیزم په ړنګیدو کې د مدني ټولنې د سازمانونو نقش**
هغه نقش چې د مدني ټولنې د سازمانونو لخوا په منځنۍ او ختیځه اروپا کې د کمونیزم د نسکوریدو په ګړندي کولو کې لوبول شوی دی، نه هیریدونکی دی او د تاریخ په پاڼو کې ثبت شویدی. د مدني ټولنې سازمانونو په فعاله توګه د «مدني» فضا په رامنځ ته کولو او د دولت له کنترول څخه د یوې خپلواکې فضا په رامنځ ته کولو کې نقش درلود. د مدني ټولنې سازمانونو او ناراضیانو په ګډه کار وکړ، تر څو د آزادي چاپیریال جوړ کړي، چیرته چې پر هغو موضوعاتو ربښتیني بحثونه وشي چې منع کړای شوي او یا د دولت له پام څخه غورځول شوي ؤ. د بیلګې په توګه، په پولند کې د کارګرانو د دفاع لپاره د کمیټې جوړول تر څو په ښکاره توګه د محکومو کارګرانو د حقونو لپاره مبارزه وکړي، ډیر ژر د خپلواکو مطبعو، کتابخانو، د خپلواک کیدو په حال کې ورځپاڼو او د دولت پر ضد د انتقاد کونکو ژورنالیستانو د جوړیدو سبب وګرځید. سربیره پر دې د شبکه یي کار او د نویو ډله ایزو اړیکو د تکنولوجي له لارې د مدني ټولنې فعالیت په یو هیواد کې وکړای شو چې په بل هیواد کې فعالیت ته الهام ورکړي. په دې لاره کې د بیلګې په توګه په پولند کې د پیوستون نومې غورځنګ "Solidarity" وکړای شو چې په چکوسلواکیا، هنګري او وروسته د آلمان په دیموکراتیک جمهوریت کې کوچنیو غورځنګونو ته الهام ورکړي.
سرچینه:
Christiane Olivo ، په ختیځ آلمان کې د یوې دیموکراتیکې مدني ټولنې جوړول: د ولسي وګړو غورځنګونه او ۹۰ نومې اتحاد، Palgrave, New York, 2001, pp.11-15

[1] OSCE, Security System Reform and Governance: Policy and Good Practice. Policy Brief, Recommendation VIII,2004, p.7.
[2] Ibid, p.4

## د امنیتی سکتور د عامه څارنی لپاره منطق

د ولسی دولتونو د رامنځ ته کیدو څخه راپدیخوا په ټوله نړی کی په دود ایزه توګه امنیت د «پوځی پالنی» یا «میلیتاریزم» له نظره تعریف شویدی، خو د حکومت د دیموکراتیکو اصولو د خپریدو او د بشری امنیت د غیر پوځی کولو او منطقی طرحی، په خاصه توګه د یوی عامه بنیګنی په توګه د امنیت د بندوبست منل، هغی یوی مفکوری باندی د بطلان کرښه باسی چی امنیت یواځی د پوځی اندیښنو تر نفوذ لاندی ګنی.

د بشری امنیت د اصل له مخی د امنیت بندو بست باید په مستقیمه توګه د خلکو اړتیاو ته ځواب ووایی. شفافیت او حساب ورکول غوښتنه کوی چی د معلوماتو نه خپرول یا نه ورکړه، یواځی د قانونی او ټینګو دلایلو له امله وی. امنیتی سکتور اکثر هڅه کوی چی د خپلو فعالیتونو په هکله پر عامه معلوماتو باندی محدودیت ټینګ کړی او د ملی امنیت غوښتنی ایجابوی چی د محرمیت ځینی دلایل په پام کی وساتل شی. خو په محرمیت کی افراط او زیاتی، تاوان اړوی او د ناوړه چارچلندونو لپاره لاره اواروی، هم په عمل او هم د پالیسیو به جوړولو کی. د بیلګی په توګه، کله چی د محرمیت څخه د کار اخیستو په وجه پر ناوړه مالی منجمنت او یا پر ځینو پټو فعالیتونو پرده واچوله شی.[3]

د خلکو د امنیت تأمین د دولت تر ټولو مهمه دنده ګڼله کیږی. یو دیموکراتیک دولت دنده لری چی د هغه یو امنیت لپاره بندوبست وکړی چی اغیزمن، شفاف او خلکو ته حساب ورکونکی وی. په دیموکراتیکه ټولنه کی د بل هرعامه خدمت په څیر دولت هغه یو قانونی او مشروع مرجع ده چی کولای شی عامه امنیت تأمین کړی. البته ځینی کوچنی دندی شته دی چی کیدای شی شخصی کمپنیو ته په اجاره ورکړای شی، خو د هغوی اختیارات او چلندونه باید د دولت د ادارو او مدنی ټولنو تر څارنی لاندی پاتی شی. د مختلفو لارو چارو د کنترول او «فید بک» یا غبرګون له لاری، د مثال په توګه د ډلیزو رسنیو، تبلیغاتی وسایلو، د تأسیساتی او نورو رسمی مراجعو له لاری د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی ډاډ لاس ته راوړی چی دغه اداری د خپلو ماموریتونو صلاحیتونو ته ریښتینی پاتی کیږی، له ناوړه چلندونو څخه کار نه اخلی او د هغوی کارونه او پالیسی د منظمو څارنو او پلټنو له لاری ګټور تماميږی. د امنیتی سکتور په څارنه کی د مدنی ټولنی نقش د خلکو د سیاسی ونډی د پراخیدو له لاری د دیموکراتیکی پروسی د پیاوړتیا سبب ګرځی.

د مدنی ژوند د ښه کولو لپاره د مدنی ټولنی ظرفیت، د امنیت پالیسی او حکومتوالی تر ساحو پوری پراخیږی. په دیموکراتیکو او غیردیموکراتیکو سیاستونو کی امنیتی پالیسی د تاریخ په اوږدو کی دا وه چی سیاسی او امنیتی امتیازلرونکی او همداراز صنعتی او د سوداګری شرکتونه چی پر سیاستوالو او امنیت والو باندی له پریکړنو تصمیمونو څخه ګټه اخلی، وساتل شی. د دغو امتیازلرونکو طبیعت البته توپیر لری، خو کیدای شی چی په عمومی توګه د پوځی، پولیسی او استخباراتی لوړپوړو کسانو له مخی چی یو هیواد مستقیماً یا د خپلو استازو له لاری رهبری کوی، وپیژندل شی؛ امنیتی امتیازلرونکی له صنعتی او سوداګری ګټو سره په معامله کی د خپل ګټو د خوندی ساتنی لپاره عمل کوی؛ ملکی سیاستوالان بیا پر امنیتی امتیازلرونکو باندی تکیه کوی ترڅو په قدرت باندی خپله برخه خوندی وساتی؛ او امنیتی امتیازلرونکی د کودتاوو له لاری مستقیماً قدرت نیسی. په کمزورو یا ناکامو دولتونو کی عین اصول په عمل کی لیدل کیدای شی، خو په اصطلاح د «زورور» غیررسمی ډلی د دولتی معمولو جوړښتونو ځای نیسی.

---

[3] See: Department for International Development and Supporting Security Sector Reform; DfID, London, 2002, p.29.

بالمقابل، ملکی کسان د عامه امنیت په هکله د خپل نظر د څرګندولو اختیار لري. د هغوی ځینی په ځانګړو ساحو کی مسلکی تخصص ته وده ورکوی. اتباع یا عام ولس یواځی رأی ورکونکی نه دی، هغوی په عین وخت مالیه ورکونکی، د عامه خدماتو ګټه اخیستونکی، د یوی ځانګړی ساحی اوسیدونکی او د مذهبی جماعتونو او د فرقه یی ډلو غړی هم دی. د دغو فرقه یی ډلو څخه هر یوه یی حق لری چی غوږ ورته ونیول شی. مدنی ټولنه سیاستوالو ته له دی توان ورکولو سره چی عامه برخو ته لاس رسی پیدا کړی، د کومو نظریات چی بنایی غیر له دی له پام څخه وغورځول شی، دیموکراتیکه پروسه بشپړوی. د دی لپاره چی ډاډ لاس ته راشی چی تخصیص کړای شوی منابع په سمه او اغیزمنه توګه په کار لوییږی، د عامه خدماتو ورستی ګټه اخیستونکو سره کیدای شی سلا مشوره وشی او په دی پروسه کی شامل کړای شی.

سر بیره پر دی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د ګوندی سیاستونو څخه ځان پاک وساتی اوډیری وخت له عامه اعتبار څخه برخمن دی، ځکه هغوی ته په دی سترګه کتل کیږی چی له حکومت څخه خپلواک دی. ځینی ستری غیرحکومتی مؤسسی چی له ځانګړو مسائلو سره سروکار لری د خپلو پیژندل شویو ملی او نړیوالو تخصصونو له امله د عامه اعتبار خاوندانی شویدی. دغه ډلی لکه، د بښنی نړیوال سازمان یا د بشری حقونو د څارنی سازمان،Human Rights Watch، توانیدلی چی غوره نړیوال شهرت څخه برخمن شی، دغه شهرت دوی ته توان ورکوی ترڅو له حکومتونو اونړیوالو سازمانونو سره په عین سویه خبری وکړی. دا تخصص د پالیسی جوړولو په پروسه کی یو ارزښت لرونکی سرچینه ده، ځکه هغه پالیسی جوړونکو او قانون جوړونکو ته هغو معلوماتو ته د لاس رسی امکانات برابروی چی د اعتبار وړ دی خو خپلواک.

د مدنی ټولنی د سازمانونو موقف او ستره ونډه په خاصه توګه د فردی، ډلو او ارګانونو د حقونو او مسوولیتونو په هکله د ملګرو ملتونو په اعلامیه کی پیژندل شوی دی، ترڅو په نړیواله سطح پیژندل شویو بشری حقونه او بنسټیزی آزادی وساتلی شی او وده وکړی.

**۱-۳ چوکاټ**

**د مدنی ټولنی د سازمانونو او د فردی، ډلو او ارګانو د حقونو او مسوولیتونو په هکله د ملګرو ملتونو اعلامیه، ترڅو په نړیواله سطح پیژندل شوی بشری حقونه او بنسټیزی آزادی خوندی وساتلی شی او وده وکړی.**

دغه اعلامیه د فرد او د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره حق په رسمیت پیژنی ترڅو د بشری حقونو موضوعاتو په هکله مبارزه وکړی او هغو ته وده ورکړی. دولتونه باید قانونی، اداری او نور داسی اقدامات طرح او تصویب کړی تر څو په اغیزمنه توګه د دغو حقونو ضمانت وشی (دوهمه ماده).

د حقونوپه جمله کی دا هم شامل دی:

- د دی حق درلودل چی، غیرحکومتی سازمانونه، ټولنی یا نوری ډلی جوړی کړی یا هغو کی شامل شی په دی مقصد چی بشری حقونه په ملی او نړیواله سطح وده کړی او خوندی وساتل شی (پنځمه ماده)؛
- د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره دا حق چی حکومت کی برخه واخلی او عامه چاری پرمخ بوزی، همداراز دا حق چی حکومتی ارګانونو، ادارو او عامه چارو سره په تړواو کی سازمانونو ته د نیوکو او وړاندیزونو وړاندی کول ترڅو خپل کار کی اصلاحات رامنځ ته کړی او د هغو هر هغه یو کار ته پام اړول چی د بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو د ساتنی،

ودی او تحقق مخنیوی کوی (اتمه ماده)؛

- د دی حق درلودل چی د پالیسو او د بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو څخه د سرغړونو په اړه دهر چاروکی او حکومتی ارګانونو د چلندونو په هکله د عریضو یا نورو مناسبو لارو چارو له لاری صلاحیت لرونکی قضائی، اداری یا قانون جوړونکو مراجعو ته د دولت د قانون له مخی شکایت وړاندی کړی (نهمه ماده، دریم بند، الف فقره)؛
- د دی حق درلودل چی د بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو د سرغړونو پر خلاف په سوله ایزو فعالیتونو کی ونډه اخیستل (دوالس ماده).

دغه اعلامیه د بشری حقونو د ښوونی، روزنی او تحقیق په هکله د مدنی ټولنی د سازمانونو مهم نقش په رسمیت پیژنی (شپاړسمه ماده).

سرچینه: د ملګرو ملتونو ۱۴۴/۵۳ د عمومی غونډی پریکړه، د ۱۹۹۹ کال د مارچ میاشت، په دغه انترنتی پانه کی موندلای شی:

http://daccesdds.un.org/doc/UNDOC/GEN/N99/770/89/PDF/N9977089.pdf?OpenElement

په ځینو هیوادونو او سیمو کی د محلی او ملی تأسیساتو په سطح کی کافی ظرفیت وجود نه لری ترڅو په امنیتی سکتور کی د دوام وړ اصلاحاتو د پروسو بندو بست وشی. په نتیجه کی د نړیوالو تخنیکی مرستو مداخله کیدای شی چی کله ناکله د امنیتی سکتور د پروسو ملی خپلواکتوب تر پوښتنی لاندی راوړی. د امنیتی سکتور د اصلاحاتو ډیری پروګرامونه لاتراوسه د دولت د تأسیساتو سمونوالی ته د مدنی ټولنی د هڅو د یوی ډیری لږی مداخلی سره سرته رسول کیږی، که څه هم دا حقیقت چی اغیزمن پروګرامونه د محلی ونډو او خپلواکتوب غوښتنه کوی ترڅو اعتماد او باور رامنځ ته شی او داډ لاس ته راشی چی دغه پروګرامونه د خلکو اړتیاوو ته په کافی اندازه ځواب وایی. په همدی ډول، « د مدنی ټولنی د سازمانونو جوړول چی یواځی امنیت ته ځیر شی، خو محلی ټولنو سره په اړیکو کی نه اوسی، له ناکامی سره مخامخ کیږی. مالی مرسته کونکی د هغو محلی سازمانونو په لټه کی دی چی ټولنو سره اړیکه ولری، نو په همدی وجهه، دغه ډلی کولای شی چی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو پوری اړوند مسائل په خپلو محلی اجنداو کی ونیسی.»[4]

په محلی خپلواکتوب کی مدنی ټولنه په ښکاره توګه ګدون لری چی هم د محلی ټولنو له نظریو استازیوب کوی او هم پالیسی جوړونکو ته د محلی شرایطو او اړتیاو په هکله معلومات ورکوی او هم د اصلاحاتو د پلی کولو په څارنه کی. د مدنی ټولنی ډلی، په خاصه توګه لیری له پلازمینو په اطرافی سیمو او ولایتونو کی، د مرکزی سیاست او پالیسی د امتیاز لرونکو غوړونو ته د محلی ټولنو د غوښتنو په رسولو کی مهم نقش لوبوی.

د امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی د محلی خپلواکتوب او د مدنی ټولنی سره د مشغولتیا لپاره د حکومتونو او نړیوالو سازمانونو په منځ کی ښکاره ملاتړ موجود دی، که څه هم په عمل کی دغه ډول ملاتړ د مدنی ټولنی په شمول د ټولو اړوندو اړخونو د اړتیا او ړومبیتونو په هکله د مالی مرسته کونکو او د نړیوالو سازمانونو د لږ معلومات له امله او د اړندو موضوعاتو په هکله د حساسیتونو له امله ډیری وخت له محدودتیونو او خنډونو سره مخامخ کیږی. د غیر نمونه یی تخنیکی مرستو د مخنیوی لپاره چی

[4] - Forman, Johanna, „Security Sector Reform: What Role for Civil Society?“ in Caparini, Marina; Fluri, Philipp and Ferenc Molnar /eds) Civil Society and the Security Centre: Concepts and Practices in New Democracies, LIT Verlag, Munster, 2006, p. 39. Also see Pauline Jones Luong & Erika Weinthal, “ The NGO Paradox, Democratic Goals and Non-Democratic Outcomes in Kazakhstan” in Europe Asia Studies, Vol. 51, No.7,1999.

محلی ظرفیتونه او رومبیتونه په پام که نه نیسی، د نړیوالو پرمختیایی لوبغاړو لپاره لازمه ده چی د پروګرامونو د طرحی او د مالی مرستو د چمتو کولو څخه مخکی له یو شمیر دولتی او غیردولتی اړخونو سره سلامشوری وکړی: دا د محلی مدنی ټولنو مسوولیت دی چی ډاډ ترلاسه کړی چی دغه ډول پروسی د ټولنی د ټولو برخو پوری اړه نیسی، نه داچی یواځی سیاسی، اداری او د امنیتی سکتور امتیاز لرونکی تری ګټه واخلی.

بۍ خاصه توګه د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی غښتلی شریکان او ګټور منځګړی اوسی ترڅو له محلی خپلواکتوب څخه د اصلاحاتو د پروسی غوښتنه وکړی او د داخلی مدنی ټولنی راتلوکی نسلونه د څارنی د نقش لپاره چمتو کړی. هغوی باید دا ونه منی چی بهرنی کارپوهان او نړیوال مشاورین په اوږده موده کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو ستراتیژیو باندی نفوذ ولری. په نتیجه کی د هغوی د هڅو یوه برخه باید دا وی چی د مدنی ټولنی د فعالینو نوی نسل وروزی، ترڅو هغوی وکړای شی چی د امنیتی سکتور پر تأسیساتو او لوبغاړو باندی اغیزمنه څارنه پلی کړی کړای شی. دغه ستراتیژیک پرمختیایی ظرفیت د هغو لارو چارو د پیژندلو غوښتنه کوی چی د هغوی وېدی او مرستی د نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو په پرتله تر زیاتی کچی وړتیا او دوام ولری، او د یوی اوږدی مودی لاری چاری لپاره بنسټ ږدی، هغه چی پر کارپوه توب (تخصص) اومسلک توب تینګار کوی او په عین وخت کی د خلکو له پراخو پرګنو سره په تماس کی پاتی کیږی.

## د مدنی ټولنی د سازمانونو ډول چی پر امنیتی سکتور باندی په څارنه کی ونده اخلی

هغه ډلی چی له مسلکی لحاظه له سولی او امنیتی موضوعاتو سره بوخت دی لکه د بی وسلی کولو ډلی، علمی څانګی او د څیړنو یا پالیسیو مؤسسی چی له امنیت او جنایی عدلی چارو سره سراو کار لری، د مدنی ټولنی تر ټولو ښکاره ډولونه دی چی کیدای شی د امنیتی سکتور په اصلاخاتو او د حکومتوالی په اجنداء کی ګډون ولری.

خو د هغو مدنی ټولنو د سازمانونو ساحه چی کولای شی د امنیتی سکتور او حکومتوالی په اصلاحاتو کی نقش ولوبوی، له دی څخه ډیره زیاته پراخه ده. دبیلګی په توګه، حساب ورکول او پر امنیتی سکتور دیموکراتیکه څارنه ډیری وخت د بشری حقونو، مدنی آزادیو او ټولنیز عدالت مسائلو پوری مستقیم تړاو لری. لږکی او نوری حاشیوی ډلی کیدای شی احساس وکړی چی د هغوی امنیتی اړتیاوی خوندی نه دی، یا وینی چی هغوی د زورزیاتیو قربانیان دی، یا پرته له دی چی خبر وی تر څارنی لاندی دی، او یا د امنیتی سکتور د پرسونلو د یو بل ډول چالچند قربانیان دی. د پولیسو مسوولیت او چلند تر ټولو د مخه د اندیښنی وړ موضوع ده، کومی په هکله چی د ټولنی یو زیات شمیر ډلی او انجمنونه کولای شی معلومات ورکړی اوځینی مخکی له دی په دی برخه کی فعالیت لری. سربیره پر دی، د مدنی ټولنی سازمانونه بیلابیل خو یو تربله په تړاو کی مهارتونه لری ترڅو د امنیتی سکتور د څارنی په پروسه کی ونډه واخلی. ۴-۱ چوکاټ د دغو ونډو ځینی بیلګی وړاندی کوی.

## پر امنیتی سکتور باندی د څارنی لپاره د مدنی ټولنی مهارتونه

د مدنی ټولنی لخوا اغیزمنه څارنه هغه یوه لاس ته راوړنه ده چی د خپلی تخصص او ظرفیت له لاری په دفاعی او امنیتی چارو کی د حکومت تصمیمونه په خپلواکه توګه ارزیابی کوی، هغه تر پوښتنی لاندی نیسی او یا یی تأییدوی. مدنی ټولنی ډیری وخت د حکومت او یا د هغه د سیمه ایزو ادارو په پرتله د عامو خلکو په اړتیاو ښه پوهیږی او تری خبرتیا لری. هغوی کولای شی چی د ځانګړو ټولنو د

اړیتاو او غوښتنو په هکله عامه مسوولینو ته تفصیلي معلومات ورکړي. هغوی همداراز کولای شي چې د ځینو خاصو موضوعاتو او ټولنیزو ډلو په هکله د ارزښت وړ تخصصي معلومات وړاندې کړي. د بېلګې په توګه، ځینې د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې د ټولنې هغه ډلې چې یا له پام څخه غورځول شوې او یا د ژوبلېدو وړ دي، لکه پناه وړونکي چې په ډېرو هیوادونو کې د ملي موضوعاتو په بحث کې یا د عامه پالیسیو جوړولو کې یې غږ نه پورته کېږي او کیدای شي چې د امنیت او عدالت له لحاظه له خاصو ستونزو سره مخامخ وي، د خپل فعالیت ساحه وګرځوي او هغو ته پام واړوي.

**۱- ۴ چوکاټ: مدني ټولنې او پر امنیتي سکتور باندې د هغوی ونډې**

| د مدني ټولنې ډول | پر امنیتي سکتور باندې د څارنې ونډه | د ملي یا نیمه ملي مدني ټولنو بېلګې | د نړیوالو مدني ټولنو بېلګې |
|---|---|---|---|
| د ټولنې او د ګاونډیتوب پر بنسټ ولاړ د مدني ټولنې سازمانونه او ډلې | - د خبرتیا د کچې لوړل<br>- د ټولنې د حاشیوي ډلو پیاوړی کول<br>- د ګټو استازیتوب | په ګواتیمالا کې دشمال د بومي خلکو او بزګرانو اتحادیه (Unidad Indigenay del Norte) | Minorityrights.org (د لږکیو حقوق) |
| د پرمختیا او «سولې» مدني ټولنې | - د خبرتیا د کچې لوړل<br>- د ټولنې د حاشیوي ډلو پیاوړی کول<br>- څارنه کول<br>- سپارښتنې کول | په سویس کې د Helvetas نومې ډله، په اندونیزیا کې د Propatria Institute | Oxfam International, Care International, International Alert, InterPeace, Saferworld |
| د بشري حقونو ډلې او شبکې | - د خبرتیا د کچې لوړل<br>- نیوکې کول<br>- څارنه کول<br>- سپارښتنې کول | په چیچنستان کې د عدالت نومې پروژه، د Fiji په نامه د بشري حقونو کمیسیون، په اسرائیلو کې د ربړونې ضد کمیټه. | د نړیوالې بښنې سازمان، د بشري حقونو د څارنې سازمان یا Human Rights Watch، د بشري حقونو او پرمختیا لپاره د Inter-Africa Network (AFRONET) |
| شبکې او مرستندویه ټولنې | - د خبرتیا د کچې لوړل<br>- د ټولنې د حاشیوي ډلو پیاوړی کول | د ځمکنیو مینونو د بندولو لپاره (هند)، د ټوپکو د کنترول اتحادیه (جنوبي افریقا) | د افریقا د امنیت ډیالوګ او څېړنې ټولنه (ASDR)، د خوشه یي وسلو د کنترول اتحادیه، د «کم سن یا ماشوم عسکر» نومې اتحادیه |
| د پالیسیو د څېړونو انستیتوتونه، نظریه ورکونکي مؤسسې او د امنیتي څېړونو انستیتوتونه | - د خبرتیا د کچې لوړل<br>- نیوکې کول<br>- ډیالوګ او بحث<br>- سپارښتنې کول | د پالیسیو د څېړونو او پرمختیا لپاره د کوزوو انستیتوت (KIPERD)، په اوکرائین کې د Razumkov مرکز، د قانوني پرمختیا او شفافیت لپاره د پاکستان انستیتوت (PILDAT)، د ترکیې د اقتصادي او ټولنیز مطالعاتو بنسټ (TESEV)، د سولې او د کړکیچ د مطالعاتو انستیوت (هند) | د ستاکهلم د سولې او څېړنې نړیوال انستیتوت (SIPRI)، په اسلو کې د سولې او څېړنې نړیوال انستیوت (PRIO)، د نړیوالو چارو لپاره د ناروې انستیتوت (NUPI)، د ستراتیژیکي او نړیوالو مطالعاتو لپاره مرکز (CSIS)، د ستراتیژیکي مطالعاتو لپاره نړیوال انستیتوت (IISS) |

| د مدني ټولنې ډول | پر امنیتي سکتور د څارنې باندې ونډه | د ملي یا فرعي ملي مدني ټولنو بېلګې | د نړیوالو مدني ټولنو بېلګې |
|---|---|---|---|
| مسلکي انجمنونه او ډلې [5] | - د خبرتیا د کچې لوړول<br>- د ټولنې د حاشیوي ډلو پیاوړی کول<br>- د ګټو استازیتوب | په کولمبیا کې د Jose Alvear په نامه د وکیلانو انجمن (Colectivo de Abogados Jose Alvear Restrepo)<br>د ګرجستان دځوانو وکیلانو انجمن (GYLA) | د هستوی وسلو پرضد د وکیلانو نړیوال انجمن، نه سرحد لرونکي خبریالان |
| د محصلینو ډلې | - د خبرتیا د کچې لوړول<br>- د ګټو استازیتوب<br>- څارنه کول | په امریکا متحده ایالاتو کې د Pugwash محصلین (SPUSA)، په اوکرائین کې Pora | موجود نه دی |
| صنفي اتحادیې | - د خبرتیا د کچې لوړول<br>- د ټولنې د حاشیوي ډلو پیاوړی کول<br>- د ګټو استازیتوب<br>- څارنه کول | د انګلند او ولز د پولیسو فدراسیون، د سکاتلند د پولیسو فدراسیون | Euromil |
| د ښځو سازمانونه | - د خبرتیا د کچې لوړول<br>- د ټولنې د حاشیوي ډلو پیاوړی کول<br>- د ګټو استازیتوب<br>- څارنه کول | د مقدونیې د جمهوریت د ښځو د سازمان اتحادیه (SOZM)، په مراکش کې د ښځو پر ضد د زورزیاتیو د مخنیوی ټولنه (AMLVE) | د سوزانه مبارک د ښځو د سولې نړیوال غورځنګ |
| بنسټونه | - د امنیتي څېړونو تمویل او د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره مرسته | The Gleitsman Foundation (امریکا متحده ایالات)، Friedrich-Ebert-Stiftung (آلمان)، Konrad-Adenauer-Stiftung (آلمان) | Marcathur Foundation, Open Society Institute |

سربېره پر دې، د مدني ټولنې د ځینو لوبغاړو ځانګړې پوه او تخصص کېدای شي چې د حکومتونو او د امنیتي بیروکراسیو لپاره، کله چې پالیسي او بودجه جوړوي د معلوماتو یوه بشپړه کونکو سرچینه وګرځي. مدني ټولنه کولای شي چې د معلوماتو د یوې بدیلې سرچینې او د خپلواک تحلیل په توګه، سخت دریځونه او نظریات چې بنایي د بیروکراتیک، سیاسي یا صنعتي ملاحظاتو تر نفوذ لاندې وي، تر پوښتنې لاندې ونیسي. د امنیتي پالیسیو په هکله د ټولنې لخوا د یو لړ پراخو نظریاتو د وړاندې کولو سره د مدني ټولنې ډلې همدا راز کولای شي چې د پالیسي او د پلي کېدو د لارو چارو په هکله غبرګونونه ښکاره کړي.

**۱ ـ ۵ چوکاټ:**
**هغه ونډې چې مدني ټولنې یې د امنیتي سکتور په اصلاحاتو او حکومتوالۍ کې سرته رسولای شي**

- د پالیسي د موضوعاتو په هکله د دیالوګ او بحث لپاره لاره برابرول

[5]- د بېلګې په توګه د انجمنونو کلوپ، د روغتیایي خدماتو انجمنونه، د خبریالانو انجمنونه او د پوهانو ټولنې.

- د لیوالتیا وړ ځانګړو موضوعاتو په هکله سیاستوالو، پالیسی جوړونکو او عامه خلکو ته ښوونه کول
- د ځانګړو موضوعاتو په هکله د ښوونی او د خبرتیا د کچی د لوړولو لپاره ډلو او عامه خلکو ته قدرت ورکول
- له پالیسی جوړونکو، پارلمانی غړو او عامه رسنیو سره د محلی اړتیاو او شرایطو په هکله د خاصو معلوماتو او پوهی شریکول
- د ټولنیزو ډلو او نظریاتو له لاری د پالیسو د جوړلو د قانونیت سمونول
- د هغو امنیتی پالیسیو تشویقول چی د کلیو او باندو او سیمه ایزو خلکو اړتیاو ته ځواب ووایی او د هغوی له غوښتنو څخه استازیتوب وکړی
- د پالیسی په چاپیریال کی د ډلو او ټولنو له ګټو استازیتوب کول
- په سیاسی اجنداء کی د امنیتی مسائلو اصلاحاتو ته ځای ورکول
- د خپلواک تخصص، معلوماتو او نظریاتو د یوی مجموعی برابرول
- د پالیسی په اړوند د څیرونو په لاره اچول
- د مخصوصو معلوماتو او پالیسیو په کار اچول
- د امنیتی تأسیساتو شفافیت او حساب ورکولو ته وده ورکول
- د اصلاحاتو او د پالیسی د پلی کولو څارل
- د پالیسیو ټینګ مراقبت او تدقیق
- د ځواب ورکونکی حکومتوالی ته وده ورکول
- د هغه بنسټونو جوړول چی پرپالیسیو او د عامه ښیګڼو په ګټه د اجرائی ارګانونو پرقانونیت باندی پریکړنه اغیزه ولری
- په دیموکراتیکو او غیردیموکراتیکو رژیمونو کی د حد اقل نړیوالو بشری حقونو د معیارونو د خوندی ساتنی لپاره د دیموکراتیکو اصلاحاتو لپاره لاره برابرول
- د غیردیموکراتیک سیمه ایز او مرکزی حکومت په وړاندی د یو انتقاد کونکی ډله ایز منظم مخالف اړخ جوړول او لمسول.

د مدنی ټولنی ډیری سازمانونه او مدنی اتحادیی د یوی بیړنی موضوع په مقابل کی یو پروګرام جوړ کړی او بیا کله چی ستونزه حل شوه، سره تیت اوپرک کیږی. د خلکو د هڅولو لپاره ترڅو غورځنګونه تری جوړ شی یا پایښت لرونکی مدنی ټولنی اود دی لپاره چی وکړای شی د حکومت پر تصمیم نیولو باندی په عامه بحث کی نفوذ ولری، هغوی باید یو لړ پراخو موضوعاتوته پام واړوی او دوی ټینګ مشرتابه او توانمندی ته ضرورت لری ترڅو عام خلک اود دولت پالیسی جوړونکی او د نظریاتو خاوندان د پالیسو په موضوعاتو باندی خبری کړی اوپه دی پروسه دوی ټول سره ګډ کړی.

په ځینو دولتونو کی مدنی ټولنی پخوا د هغه څه په ځواب کی چی په امنیتی ساحه کی د زورزیاتی، غیر دیموکراتیک یا په ساده ژبه د ناروا چلندونو په نامه انګیرل کیدل، د دولت لپاره یواځی مشورتی نقش لوبولی دی. په یو جګړه یا کورنی امنیتی عملیاتو کی د یو هیواد ګډون چی د هغه د خلکو په نظر غیرقانونی دی، پرضد د مظاهرو او احتجاجونو سره د خلکو پام اړول ګټور تمامیږی. په دی اړه دوه ستر ولسی احتجاجونه د پام وړ دی، یو په امریکا متحده ایالاتو کی د ۱۹۶۰ لسیزی د ویتنام جګړی پرضد احتجاجونه ترڅو هغه معلومات خلکو ته ورکړای شی چی د حکومت لخوا ستنول کیدل، او بل په ارجنتاین کی د «پلازما دی مایو» نومی میندو احتجاجونه چی د هغو ځوانانو لپاره یی د عدالت غوښتنه وکړه چی د ارجنتاین د پوځی دیکتاتوری په وخت کی لادرک شول. په هغو موضوعاتو کی

چې ټولنې ته خورا اهمیت لرې نه یوائې د بدیلو نظریاتو، بلکه ستونزو ته د حل بدیلو لارو وړاندې کولو سره مدنې ټولنې په سیاست کې یو خوځونکې نقش لرې. د OECD د پرمختیایې مرستو کمیټه پر دغو لاندو غوښتنو باندې ټینګار لرې:

«په ډیرو هیوادونو کې د دولت د کمزورتیا په پام کې نیونې سره خورا مهمه ده چې د مدنې ټولنې ډلې یوائې د حکومتونو په نسبت په نیوکو بسیا و نه کړې، بلکه خپلو ظرفیتونو ته یې وده ورکړې او عملاً وړاندیزونه وکړې ترڅو د اصلاحاتو پروسې سره مرسته وکړې.» [6]

له دولتې لوبغاړو سره د یو رغونکې دیالوګ د پیل کولو لپاره تر اوسه پورې د یوې څارنې نقش ته وده ورکول د دې خبرې غوښتنه کوې چې دولت باید د اصلاحاتو په پروسه او د عدالت د لا ټینګښت مسوولیت په غاړه اخیستلو د اغیزمنتوب په موخه حکومت سره مرسته وکړې. څرنګه چې حکومتونه او سیمه ایز او نړیوال سازمانونه باید هڅه وکړې ترڅو د پالیسې په مشورو کې د مدنې ټولنې د سازمانونو په وړاندې پرانیستې غیږ ولرې، د مدنې ټولنې سازمانونه هم باید له حکومتې او دولتې بیروکراسیو سره د همکاریو لپاره هڅې وکړې.

د داسې ظرفیتونو او توان د ودې لپاره چې د څارنې په موضوعاتو کې له طرحې سره سم ونډه واخیستله شې، د دې لاربنود کتاب اساسې موضوع جوړوې. په لاندې برخه کې په هغو ظرفیتونو باندې رڼا اچول شوې چې څرنګه په امنیتې ساحه کې اغیزمن اقدامات لاس لاندې ونیول شې.

## د عامه څارنې لپاره ستراتیژې

پر امنیتې سکتور د عامه څارنې په پروسه کې د اغیزمنې برخې اخیستنې لپاره د مدنې ټولنې د لوبغاړو توانمندې د هغوې د صلاحیتونو بنسټ جوړوې. ټولې مدنې ټولنې د خپلو مینې وړ مسائلو څخه جلا، باید په دې لټه کې شې چې خپلو رأیو ورکونکو ته د خدمت کولو د یوې کچې د ساتنې لپاره خپلو مهارتونو ته وده ورکړې او له نورو مؤسسو او اړوندو اړخونوسره، په نړیواله سطح هم، خپلې اړیکې ټینګې کړې.

په دې برخه کې د مدنې ټولنې هغو مهارتونو ته چې باید ولرې او هغه نقشونو ته چې باید پر امنیتې سکتور باندې په څارنه او د عدلې اصلاحاتو په موضوعاتو کې ولوبوې کتنه شوې ده. په خاصه توګه په دې برخه کې چې مدنې ټولنې څرنګه د امنیتې سکتور د عامه څارنې په پروسه کې په اغیزمنه توګه ونډه اخیستلاې شې او په ملې، سیمه ایزه او نړیواله سطح د امنیتې سکتور حکومتوالې تر نفوذ لاندې راوستلاې شې، معلومات وررکول شوې دې. سربیره پر دې هغه لارې چې مدنې ټولنې وکړاې شې له امنیتې سکتور سره په تعامل کې ترې کار واخلې د مختلفو سیمو د مدنې ټولنو تجربو سره ښودل شوې دې، دغه تجربې د څیړنې او معلومات، پلویتوب، د خبرتیا د کچې لوړلو، ښوونې،څارنې، قانونې مرستو اوقانونې اصلاحاتو، د بودجې تحلیل او د تشکیلاتې اعتبار د جوولو په اړه ښه مثالونه وړاندې کوې. دغه ډول فعالیتونه ډیرې وخت یو بل سره نژدې اړیکې لرې. دغه لنډه کتنه چې په لاندې فرعې برخو کې تشریح شوې دې، د دې لاربنود کتاب په نورو برخو کې په تفصیل سره بیان شوې دې.

اساساً، دغه تر بحث لاندې موضوع د صلاحیتونو او ظرفیتونو د ودې اصلې محور جوړوې. د UNDP له مخې ظرفیت د «شخصې افراد، سازمانونو او ټولنو هغه یو توامندې ده چې د هغه له مخې

[6] -OECD, Security System Reform and Governance, DAC Guidelines and Reference Series, 2005, p.39

کولای شی خپلی دندی پر ځای کړی، ستونزی حل کړی او ځان ته هدفونه وټاکی او هغو ته ورسیږی.»[7]

د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره چی وکړای شی د امنیتی سکتور اصلاحات اغیزمن کړی، د ټولنی د ظرفیت د لوړولو په مقصد د هغوی په دننه کی د کافی تأسیساتی ظرفیت شته والی، اساسی شرط دی. د مدنی ټولنی د سازمانونو ظرفیت یو شان نه دی او د محلی مدنی ټولنی د سازمانونو ظرفیت محدود دی، دا ځکه چی هغوی له کافی بشری، مالی، تشکیلاتی او فزیکی منابعو څخه برخمن نه دی. [8] د ظرفیت د ودی لپاره کیدای شی چی د مدنی ټولنی مهارتونه، پوهه او چلندونه پیاوړی کړای شی ترڅو د پالیسی تحلیل او د دفاع او څارنی چاری د عمل په ډګر کی پلی کړای شی. له چلندنو څخه مقصد د هغوی داخلی منجمنت، ملی منجمنت، د مالی منابع پراخول او نورو ته د دندو سپارل دی.

## څیړنه او معلومات

د مدنی ټولنی سازمانونه لکه د څیړنی انستیتوتونه، اکادمیکی څانګی او نظریه ورکونکی مؤسسی او مرکزونه کولای شی چی د پالیسی په اړوند څیړنی او موجودو پالیسیو تحلیل په لاره واچوی او په دغو مشخصو ساحو کی د اصلاحاتو لپاره لاری تشخیص کړی. سربیره پر دی، هغوی کولای شی چی په نورو اړوندو موضوعاتو کی هم څیړنی ترلاس لاندی ونیسی، چی هغه عبارت دی له:

- د محلی یا سیمه ایزو ټولنو امنیتی او عدلی غوښتنی؛
- د ډلو لکه د لرکیو یا ښځو امنیتی ګټی؛
- په اړوندو مهمو ساحو باندی د امنیتی لارو چارو اغیزه، لکه چاپیریال؛
- د ودی په حال کی امنیتی تکنالوجیو اغیزی، لکه پر شخصی اسرارو؛
- د امنیتی سکتور داصلاحاتو د لارو چارو اغیزمنتوب؛
- د بودجی د پروسی شفافیت او په امنیتی ساحه کی عامه لګښت.

د پالیسی پروسی ته د خبرتیا په لټه کی د مدنی ټولنی سازمانونه خپل نتایج او موندنی د یو زیات شمیر لوبغاړو په اختیار کی ږدی، لکه په محلی، سیمه ایزه او ملی سطح کی حکومتی ادارو او همدا راز د قانون جوړونکو (پارلمانی استازو)، عامه خلکو، بسپنه ورکونکو هیوادونو اوغیر حکومتی سازمانونو چی په پرمختیایی او امنیتی برخو کی کار کوی او نورو شریکانو ته. د نتایجو او معلوماتو خپرول د نوو تکنولوجیو څخه په کار اخیستو سره ډیر آسانه شوی دی، لکه ستلایتی تلویزیون او انترنت او په پخوانیو او انتقالی دیموکراسیو او همداراز په مطلق العنان دولتونو کی د مدنی ټولنی سازمانونه پیاوړی کړی او یو بل سره یی نښلولی دی. د مدنی ټولنی لوبغاړی په داسی حال کی چی د خپلو داعیو د ټینګو ارزښتونو او ژمنو سره له یوی غښتلی روحیی څخه برخمن دی او په دی لټه کی دی چی د امنیت پر حکومتوالی باید نفوذ ولری، باید د څیړنی دندی په مسلکی، بشپړه او خپلواکه توګه سرته ورسوی، له دغه ډول کار کولو سره هغوی په خبرو اترو کی خپلو اړوندو شریکانو ته اعتبار پیدا کوی او د خپلو څیړونو نتایج په معقوله طریقه پالیسی جوړونکو او د ولس پراخی برخی ته وړاندی کوی.

د یوی دندی په توګه د څیړنی او معلوماتو د راټولولو لپاره د مدنی ټولنی سازمانونه باید له تحلیلی مهارت څخه برخمن وی، له دا ډول یو مهارت سره هغوی کولای شی چی د خپلو فعالیتونو په ملاتړ معلومات زیرمه کړی. د داسی مهارت سطح د اړوندو دندو او وظیفو پوری اړه نیسی، خو د مدنی

[7] - UNDP Capacity Development portal, http://www.capcity.undp.org

[8] World Bank, Civil Society and Peacebuilding: Poencial: Limitations and Critical Factors (draft). World Bank Sical Development, june 2006, p.29.

ټولنې سازمانونه باید په سیستماتیکه او منظمه توګه لاس ته راغلی رسمی احصاییه په محلی، سیمه ایزه او ملی سطح کی تفسیر کړی؛ د اړوندو معلوماتو لپاره رسنی تر څارنی لاندی ونیسی؛ له نړیوالو سرچینو څخه اړوند اطلاعات تحلیل کړی؛ او د دی توان ولری چی د راتلونکی استفادی په مقصد معلومات ثبت او زیرمه کړی.

## د حقونو څخه دفاع یا پلویتوب

د مدنی ټولنی ډلی کولای شی چی د رسمی پروسو او د محلی ټولنو ترمنځ د یوه پله په څیر عمل وکړی. په داسی حالاتو کی د هغوی د محلی پیښنو او موضوعاتو سره پیژندګلوی د هغوی د قوت نښانه ده، د ملی او نړیوالو پروسو اغیزی په پام کی نیولو څخه پرته، یوازې محلی مسائلو ته پام اړولو سره کیدای شی چی د هغوی اغیزی محدودی کړی. نوی په دی وجه د مدنی ټولنی سازمانونه باید په پام کی ونیسی چی څرنګه د هغوی داعیه د محلی، ملی، سیمه او نړی په سطح د پالیسی جوړولو ته د لاس رسی له لاری ګټه کوی. د حقونو څخه دفاع یا پلویتوب د نفوذ موندولو یا لاس برتوب یوه وسیله ده او له نژدی د پوهاوی او لیوالتیا د پارلو سره اړیکه لری، پر دغی موضوع باندی په همدی فصل کی وروسته بحث شوی دی.

دفاع یا پلویتوب معمولاً د یو دیالوګ د رامنځ ته کولو او له پارلمانی غړو او حکومتی چارواکو سره د یوی موجودی قاعدی پر بنسټ د اړیکو د نیولوغوښتنه کوی، هغه چارواکی چی دوی هم لیوالتیا لری ترڅو یو ښه حساب ورکونکی او شفاف امنیتی سکتور رامنځ ته شی. له بلی خوا دفاع یا پلویتوب د ځینو ځانګړو کمپاینونو سره تړلی دی، د بیلګی په توګه د سیاسی بندیانو خوشی کول، که څه هم هغه مسائل چی په دی کمپاینونو کی تری پلویتوب کیږی باید د روان دیالوګ یوه برخه وی. د حقوقو پلویتوب همدا راز کیدای شی چی له سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو څخه وغواړی چی په امنیتی موضوعاتو کی له مدنی ټولنی سره د همکاری پروسه نوره هم پراخه کړی. په دی اړه د مدنی ټولنی سازمانونه باید هڅه وکړی چی له هغی ټولنی سره د حکومت سلا مشوری قانونی بڼه پیدا کړی او ډاډ پیدا کړی چی دا سلامشوری د یو اصلی جریان په توګه پاتی شی، نه داچی هغه یوازې د خپلی خوښی کارونو په چوکاټ کی پاتی شی. له بلی خوا سلامشوری باید شفافی او د بیلابیلو اړخونو لپاره د لاس رسی وړ وی، خصوصاً هغه اړخونه یا لوبغاړی چی په دودیزه توګه له پام څخه غورځول شوی دی یا کیږی، تر څو په پام کی نیول شوی ګټي د کوم خاص اړخ د نظریاتو تر انحصار لاندی پاتی نه شی.

په ځینو موضوعاتو مدافعین کولای شی چی په دی فکر کی شی چی د امکاناتو په صورت کی په نړیواله سطح خپلو هڅو ته پاملرنی سره پر پالیسی باندی نفوذ پیدا کړی. د بیلګی په توګه د نړیوالو او سیمه ایزو سازمانونو له امکاناتو څخه په استفادی سره د خپل هیواد پر حکومت فشار زیات کړی. مثلاً د پولیسو یا د پوځ په واسطه د سرته رسیدلو سرغړونو شواهدو او اسنادو، لکه ویدویی عکسونه، چی حقیقی وی استفاده وشی ترڅو خلک په کورنی او نړیواله سطح د سرغړونو څخه خبرتیا پیدا کړی او هغوی دی ته ولمسوی چی حکومت مجبوره کړی ترڅو د سرغړونو د مخنیوی لپاره په عمل لاس پوری کړی. که چیری د خپل هیواد په دولت کی اختناق او زورزیاتی حاکم وی او د بشری حقونو فعالین تر فشار لاندی وی او نه شی کولای چی غږ پورته کړی یا دا چی کورنی فضا داسی وی چی د مدافعینو هڅو ته څوک پام نه اړوی او نه څوک ځواب ورکوی، بیا نو نړیوالی ټولنی یوازنی مراجع دی چی د هغو لارو چارو په لټه کی شی او دا ډول موضوعاتو ته عامه پام واړوی. [9]

[9] - Kathryn Sikkink, „Patterns of Dynamic Multilevel Governance and Insider-Outsider Coalition" in Transnational Protest & Global Activism: People, Passion and Power, Donatelle Della Porta and Sidney Tarrow (eds), Rowman and Littelfield Publishers, Inc, Oxford, 2005, p. 158.

## د پوهی او خبرتیا د سطحی لوړول

د امنیتی سکتور د حکومتوالی او د عدالت په ساحه کی د حقونو څخه دفاع یو مهم اړخ د پوهی او خبرتیا د سطحی لوړول دی، دغه اړخ د هغو معلوماتو چمتو کولو پوری تړلی دی چی پاس تری یادونه وشوه. دغه ستراتیژی مهمه ده تر څو عام وګړی د امنیتی سکتور په هکله معلومات پیدا کړی او په دی پوه شی چی یو حساب ورکونکی او ځواب ورکونکی امنیتی سکتور څرنګه باید کار وکړی.
د پوهی او خبرتیا د سطحی لوړول د عامه خلکو په منځ کی د بحث او فکر کولو لپاره د لاری د برابرولو په موخه لومړی ګام دی، دا هغه وسیله ده چی د سیاسی او ټولنیز بدلون او په پای کی د دیموکراسی د رامنځ ته کیدو سبب ګرځی. سربیره پردی د پوهی او خبرتیا د سطحی لوړول کولای شی د هغو موضوعاتو په هکله چوپتیا ماته کړی چی پری بحث او خبری کول منع شوی وی. له دی ستراتیژی څخه د دی لپاره هم کار اخیستل کیدای شی چی د حکومت سیاستونو او تأسیساتو او همداراز نړیوالو موافقو ته قانونیت وروبښل شی. دا مسأله په خاصه توګه په انتقالی دیموکراسیو او هغو هیوادونو کی چی تازه له شخړو او جګړو څخه خلاص شوی دی، اهمیت لری، په دغو هیوادونو کی د حکومت په وړاندی بیا په خاصه توګه د امنیتی تأسیساتو په وړاندی عامه باور ډیر کمزوری دی.

د معلوماتو او پیغامونو لیږدول کیدای شی د لاندو امکاناتو له لاری سرته ورسیږی:

- د مطبوعاتو له لاری د معلوماتو، خبرونو او تبصرو خپرول؛
- د رپوټونو او د څیړونو خپرول، په لیکل شوی ډول، یا ویب سایتونو له لاری په الکترونیکی توګه او یا د بریښنا لیکونو له لاری؛
- پارلمانی کمیټو او تحقیقاتو ته په تحریری یا شفاهی ډول معلومات وړاندی کول؛
- ډله ایزو رسنیو ته مرکی ورکول او د هغوی رپوټی برخی ته معلومات ورکول؛
- د عامه غونډو دایرول؛
- د کنفرانسونو او ورکشاپونو دایرول؛
- د تعلیمی موادو په برابرولو کی ونډه اخیستل او د هغوی چمتو کول.

## ښوونه

یو بنسټیز کمال او مهارت چی د مدنی ټولنی سازمانونه باید ولری، دا دی چی هغوی باید د امنیتی سکتور د څارنی په موضوعاتو کی خپل کار کونکی، همکاران، عام وګړی، د امنیتی سکتور او د دیموکراتیکو تأسیساتو کارکونکی ته ښوونه ورکړی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی هدف لاندی نیول شویو خلکو ته د څارنی د طرحو د تئوری او عمل په خپرولو، مراقبت، د پوهی او خبرتیا دسطحی په لوړولو او همداراز د مدافعینو د مهارت په پیاوړی کولو کی مهم نقش ولوبوی، که دا د ښوونکو یا روزونکو د روزنی په چوکات کی وی او یا د ښوونه ایز کورسونو په چوکات کی. همداراز د ښوونو د ودی لپاره د مختلفو ډلو د مهارتونو او د پوهی پرتله کول هم خورا اهمیت لری. پر امنیتی سکتور د څارنی په اړه د پراخی پوهی د موندولو سره د مدنی ټولنی سازمانونه همدا راز په دغه څارنه کی د محوری استازو په توګه خپل قانونیت او اعتبار غښتلی کولای شی.

## مراقبت

د مدني ټولنې ډلې کولای شي چې د مرکزي چارواکو او دعامه تأسيساتو چې د امنيت د چمتو کولو لپاره مسوولیت لري، د فعالیتونو د مراقبت او څارنې او د حساب او کتاب په وړاندې د دغو لوبغاړو د درولو سره د امنيتي سکتور د حساب ورکولو او ښه حکومتوالي په پروسه کې ونډه واخلي. دولت او د هغه اداري چې د امنيت د چمتو کولو لپاره مسوولیت لري کیدای شي چې په دې دلیل تر څارنې لاندې ونیول شي چې هغوی باید قانون ته پابندی او درناوی ولري، نه یوازې قانون بلکه بشري حقونو ته هم. دا چې دولت څرنګه تر څارنې لاندې ونیول شي، لاره يي دا ده چې د هغه د پالیسیو بیانونو ته او همداراز د هغو ژمنو پلې کولو ته پام واړول شي چې د نړیوالو یا دوه اړخیزو تړونونو په وړاندې لري. د دولتي دستګاوو او د حکومت د څارنې بله لاره دا ده چې وکتل شي د هغه عامه لګښت څه ډول دی، د اختلاس او اداري فساد په وړاندې څه کوي او د پالیسیو اغیزمنتوب يي څرنګه دی.

د مدني ټولنې د مراقبت نقش په حقیقت کې کولای شي چې پر حکومت او د هغه پر عامه پالیسیو باندې د یو څارونکي اړخ په توګه د ډله ایزو رسنیو نقش بشپړ کړي. چیرته چې د ډله ایزو رسنیو ستر تأسیسات اړوندو مسائلو ته زیاته پاملرنه ونه کړي، د حکومت نیمګړتیاوو ته د پام اړونې لپاره د مدني ټولنې ډلې کولای شي چې د معلوماتو خپرولو سره دغه خلاء ډکه کړي. څرنګه چې مخکې له دې د UNDP/DCAF لخوا بیان شو چې «پر امنیتي موضوعاتو باندې خیال ساتلو او رپوټ ورکولو سره د مدني ټولنې له سازمانونو څخه معمولاً غوښتنه کیږي چې د مهمو امنیتي موضوعاتو په هکله تبصرې وکړي او په عین وخت کې د دې توان ولري چې دغو ډول موضوعاتو ته په ړومبیتوبونو کې ځای ورکړي.»[10]

## تحلیل بودجه

د مدني ټولنې سازمانونه چې د امنیتي څارنې له موضوعاتو سره بوخت دي باید د دې توان ولري چې امنیتي بودجې پورې اړوند مالي ارقام او اعداد تحلیل کړي، په هماغه کچه یا سویه چې یو مالي پلټونکی يي له بودجې څخه د سمې او قانوني استفادې په توګه کوي. د دې کار د کولو لپاره د مدني ټولنې سازمانونه باید هم خبرتیا ولري او له رسمي منابعو څخه د معلوماتو غوښتنه وکړي او هغه غوره معیارونو له مخې تر ارزونې لاندې ونیسي. په دې ډول د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي د دولتي منابعو د اغیزمن او معقول کار اخیستلو لپاره او همداراز دولتي ادارو په دننه کې د اختلاس او اداري فساد پر ضد د څارنې لپاره لیوالتیا راوپاروي. د مدني ټولنې معلوماتي بودجوي تحلیل کیدای شي چې د پارلمان له غړو او پارلماني کار کونکو سره چې د بودجې په څارنه کې نقش لري، مرسته وکړي. د امنیت اړوند بودجوي موضوعات په خاصه توګه په تدقیق او څارنه کې هغو پارلماني غړو ته ستونزې پیدا کوي چې په امنیتي مسائلو کې تخصص نه لري.

یوه کمزوري میدیا چې د منابعو او تخصص د نشتوالي له امله ونه شي کړای د پارلمان او د امنیتي سکتور کارونه وڅاري، کیدای شي چې د امنیتي سکتور د بودجې په اغیزمنه څارنه کې یو خنډ وګرځي. د بودجې د پروسو په اړه د میدیا پرمختیایي ظرفیت د څیړن ایز ژورنالیزم لپاره ډیر مهم دی. په پای کې د مدني ټولنې سازمانونه چې په بودجوي تحلیل کې بوخت دي باید پټو دفاعي لګښتونو او د بودجې څخه بهر فعالیتونو او د امنیتي سکتور د عاید سرچینو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. مدني ټولنه که

[10] UNDP/DCAF, "Recommendation for Improving Democratic Oversight and Guidance of Security Sector" in Katrin Kinzelbach and Eden Cole /eds) Democratising Security in Transition States, UNDP, Bratislava, 2006.

چیری دفاعی بودجه تحلیلوی، نه یواځی دغه لګښتونه په پام کی ونیسی بلکه حکومت باید مجبوره کړی چی په دی هکله حساب ورکړی.

## د تشکیلاتی اعتبار رامنځته کول او د داخلی حکومتوالی جوړول

د ظرفیت د ودی یو مهم اړخ د مدنی ټولنی د سازمانونو مهارتونو ته وده ورکول دی تر څو د یوی منظمی قاعدی پر بنسټ وکړای شی خپل کارونه وڅاری او تر غور لاندی ونیسی او همداراز هغوی ته وښیی چی د هغوی مهارتونه د «اړوند سازمان د اعتبار لپاره» د هغه مشتریانو، خپله کارکونکو، همکارو سازمانونو، مرسته کونکو او حکومت ته څومره اهمیت لری. د یو سازمان د کار د څارنی او ارزونی لپاره توانمندی د لاس لاندی نیول شویو فعالیتونو د اغیزمنتوب د ټاکلو لپاره یو ړومبنی شرط او د کمزورتیا د پیژندولو لپاره ضروری دی. کله چی له ارزونی څخه نتایج او سپارښتنی لاس ته راشی، مثبته اړخونه کیدای شی د غور چلند په توګه وپیژندل شی او له نورو سره شریک کړای شی، او په عین وخت کی څارنه کولای شی داړ لاس ته راوړی چی کمزورتیاوی اصلاح کیږی. سربیره پر دی، د خپل اداری یا سازمان خپل کنترول او څارنه او ارزول هغی یا هغه سره د شفافیت په ساتلو کی مرسته کوی او د کار کونکو د حساب ورکولو روحیی ته وده ورکوی.

## یو بل سره خپل منځنی تړلی مسائل

د مدنی ټولنی سازمانونه باید په خپلو پروګرامونو کی یو شمیر مسائل داخل کړی، هغه چی له یو لړ مهارتونو سره چی دوی یی باید لاس ته راوړی او یو لړ ستراتیژی چی دوی یی باید طرح کړی، په مختلفو سطحو کی تړلی وی ترڅو د امنیتی سکتور څارنه اغیزمنه کړای شی.

## جنسیت

د امنیتی سکتور د څارنی او اصلاحاتو په وړاندی د جنسیت (نارینه – ښځینه مساوی حقوقو تأمین) له لحاظه د یو حساس اقدام لاس لاندی نیول د امنیتی سکتور د حکومتوالی د اجندا یو د ودی په حال کی اړخ دی. امنیتی سکتور په خپله د هغی یو پالیسی او پروګرامونو د طرحی له ننګونی سره مخامخ دی چی د جنسیت له لحاظه د خپلو جوړښتونو په دننه کی اندول خوندی وساتی. په ډیرو انتقالی دیموکراسیو او په هغو هیوادونو کی چی نوی له شخړو او کړکیچونو څخه راوتلی دی، د ښځینه – نارینونه د مساوی حقوقو اصل له یو لړ کلتوری او ټولنیز خنډونو سره مخامخ شوی چی باید ورته پام واړول شی تر څو د ټولنی یوی نیمایی برخی ته د امنیت په خوندی ساتلو کی اصلاحات رامنځ ته شی.

## بشری حقونه

د بشری حقونو د ړومبیتوبونو د اصل پر بنسټ د امنیتی سکتور د څارنی اینبودل د محلی، ملی او نړیوالو لوبغاړو توانمندی غښتلی کوی، ترڅو په امنیتی سکتور کی د شفافیت او حساب ورکولو، د قضا د خپلواکتوب او د هغه اصلاحاتو د کچی معلومول چی په امنیتی پالیسی او عمل کی ورته اړتیا ده. بشری حقونو ته د ړومبیتوب ورکولو لپاره هڅی په خاصه توګه په انتقالی دیموکراسیو او هغو

هیوادونو کی چی له مطلق العنان رژیمونو یا جګړو ځخه نوی ژغورل شوی دی، له یو لړ ننګونو سره مخامخی دی.

## د قانون جوړونی همکاری او په قانون کی اصلاحات

د مدنی ټولنی سازمانونه هغو پارلمانی غړو سره چی د قانون په بحث، تعدیل او یا د قوانینو د مسوده کولو په تدوین کی برخه لری، په ښه توګه مرسته کولای شی. دغه ډول تخصصی مرستی کیدای شی چی مقننی یا نورو پارلمانی کمیټو ته د ټاکلو مقرراتو سره سم یا په خپله خوښه اړندو پارلمانی غړی ته وړاندی شی.

د پارلمان له صحنی ځخه بهر، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د قانون له مقرراتو ځخه په کار اخیستلو سره د رسمی چارچلند قانونیت تر آزموینی لاندی ونیسی، قانون ته هغسی بدلون ورکړی چی هغه ډله یی خپله غواړی اویا که چیری د دی کار توان ونه لری، بیا نو د قانون نیمګړتیاو ته دی ګوته ونیسی چی عام خلک پری خبری شی او د هغه د اصلاح لپاره دی هڅه وکړی. په ځینو هیوادونو لکه امریکا متحده ایالاتو او بیا په خاصه توګه په بریتانیا کی د عامه ګټو په پام کی نیولو سره د قانون جوړول د سیاسی پروسی یوه مهمه برخه ده. سپارښتنه کیری چیرته چی محکمی صلاحیت لری ترڅو پر قانون باندی غور وکړی (لکه د امریکا په متحده ایالاتو کی) هغه قوانین تر پوښتنی لاندی ونیول شی چی د قناعت وړ نه دی، دا هغه یوه لاره ده چی کیدای شی د پالیسی پروسه په مستقیمه توګه تر اغیزی لاندی ونیوله شی، نه دا چی مقننی (پارلمان) ته انتظار وایستل شی تر ځو د نه قناعت وړ قانون د تعدیل لپاره عمل وکړی، ځرنګه چی په بریتانیا کی معمول دی.[11]

## له نړیوالی ټولنی سره اتحاد

په داسی حال کی چی د مدنی ټولنی ډیر سازمانونه د معلوماتو د سر چینو او تمویل لپاره د خپلو جوړښتونو پر بنسټ عمل کوی، خو له نړیوالی ټولنی سره د اغیزمنو اتحادونو جوړول (که دا تمویلی منابع، ښوونی او روزنی، بشری معلوماتی قواوی دی یا د پیوستون د شبکو جوړول دی) د هغوی د ودی لپاره یو محوری مهارت دی. په انتقالی دیموکراسیو او د جګړو او شخړو ځخه په نویو خلاص شویو هیوادونو کی د مدنی ټولنی سازمانونه چی ډیری یی له محدودو مالی منابعو ځخه برخمن دی، کولای شی له نړیوالو بسپنه کونکو او همداراز له نړیوالو مدنی ټولنو ځخه د خپلو کارنو او مهارتونو د پیاوړتیا لپاره د مرستو په لټه کی شی. په هغو چاپیریالونو کی چی سیاسی زورزیاتی ډیر زیات دی یا مالی منابع ډیر زیات محدود دی، د نړیوالو اتحادونو جوړول غوره لاره ده تر ځو شخړه ایزو موضوعاتو ته د نړیوالو پام راواړول شی او هم مالی منابع ورته برابر شی، دغه ډول هڅی د مدنی ټولنی د سازمانونو کار او فعالیت په محلی او ملی سطح کی پیاوړی کوی.

## بیړنی حالات او محدود چاپیریالونه

د مدنی ټولنی سازمانونه کیدای شی چی په غیر دیموکراتیکو دولتونو او استثنایی حالاتو کی له ژورو ننګونو سره مخامخ شی. په یوه له سیاسی لحاظه دښمنه فضا یا په یو محدود چاپیریال کی د خپلو دندو

[11] - Ian Leigh, „Civil Society, Democracy and the Law“ in Civil Society and the Security Sector: Concept and Practices in New Democracies, Marina Caparini, Philipp Fluri and Ferenc Molnar (eds), LTT, Munich, 2006.

سرته رسول د محلی یا ملی مدنی ټولنو د سازمانو لپاره تر ټولو سختی ننګونی دی. د دی لپاره چې حکومت مجبوره کړای شی چې حتی په داسی شرایطو او حالاتو کی هم باید نړیوال منل شوی معیارونه مراعات کړی، د مدنی ټولنی د سازمانونو د کار د اغیزمنتوب یوه ستره آزموینه ده. خو پر دی موضوعاتو باندی ستراتیژیکی کار البته د منابعو په کار اچولو او په محلی، ملی او یا نړیوالو سطحو کی د یو لړ محدودو امکاناتو پوری تړلی دی.

## د سولی ټینګول

په شخړه لرونکو هیوادونو او هغو نورو کی چی له جګړو او شخړو څخه نوی خلاص شوی دی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د پخوانیو دښمنانو ترمنځ په منځګړیتوب او د هغوی ترمنځ د باور په رامنځ ته کولو، په مختلفو ټولنیزو ډلو کی د شخړو د اغیزو د ښه کولو او د نویو دیموکراتیکو تأسیساتو په جوړلو کی یو مهم نقش ولوبوی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی داډ ورکړی چی د هغوی د اندیښنی وړ مسائل په هغو لارو چارو کی منعکس شوی چی د یوی رغوونکی او سوکالی راتلونکی لپاره بنسټ جوړوی، خو د دغی دوری ځانګړی ننګونی د سولی د ټینګولو او د روغی جوړی د لارو چارو او له ټولنی څخه د نا امنی د لاملونو د لیری کولو غوښتنه کوی.

## نتیجه

د امنیتی سکتور په دیموکراتیکه څارنه کی عامه مداخله نه یواځی د دولت په امنیتی ادارو کی د ځواب ورکونی او شفافیت ضمانت کوی بلکه د اجرائیه په پالیسیو او د حکومت په امنیتی پالیسی کی هم. سربیره پر دی د امنیتی پالیسی په ساحه کی د څارونکو په توګه د مدنی ټولنی د سازمانونو ګډون د حساب ورکولو او د غوره حکومت والی په تأمین کی مرسته کوی او له دی ویندویی کوی چی د امنیتی سکتور له فعالیت څخه عام وګړی راضی دی.

داسی چلندونه لکه د حکومت د اجراآتو، پالیسی، قانون سره سم عمل کول او د بشری حقونو د مراعاتولو څارنه، دا ټول له دی پروسی سره مرسته کوی. سربیره پر دی، د مدنی ټولنی ډلی چی د محلی ټولنو او ډلو له ګټو څخه استازیتوب کوی، دفاعی فعالیتونه له پام څخه د غورځول شویو کسانو د پیاوړی کولو او د پالیسیو د قانونیت سره مرسته کوی. دغه مثبته اغیزه ایجابوی چی د مدنی ټولنی سازمانونه د دولت په چارو کی بوخت شی. دولتونه کولای شی چی د مدنی ټولنی له سازمانونو سره په امنیتی موضوعاتو کی د رغوونکی او خوځنده اړیکو د لټولو لپاره لاره هواره کړی، د غونډو او د بیان آزادی تأمین کړی، د محل له سطحی څخه ملی سطحی ته د مشوری میکانیزمونه جوړ کړی، د مدنی ټولنو د سازمانونو د ثبتولو قانون تدوین کړی او د رپوټچیانو (هغه کسان چی د غیرقانونی کارونو بربنډونه کوی) د حفاظت ضمانت وکړی.

د مدنی ټولنی سازمانونه باید په فعاله توګه هڅه وکړی چی محوری مهارتونه پیدا کړی ترڅو خپلو اجنداو ته وده ورکړی او اړوندو لوبغاړو سره ګډ کار وکړی. د دغو مهارتونو څخه پرته دا خطر شته چی د مدنی ټولنی سازمانونه له پام څخه وغورځول شی او د پالیسیو او اصلاحاتو په بحثونو کی له پام څخه وغورځول شی او بیا ونه شی کړای چی خپلی محوری دندی تر سره کړی او په بدلونونو کی برخه واخلی.

په دې فصل کې هرڅېرل شوې مهارت د مدني ټولنې له سازمانونو سره مرسته کوي تر څو خپلې دندې په باورې او اغیزمنه توګه سرته ورسوي. څرنګه چې د مدني ټولنې سازمانونه باید د امنیتي څارنې په اړه خپلې لارې چارې طرح کوي، د هغو مدني ټولنو لپاره چې باید خپل ظرفیتونه پراخ کړي، د محوري مهارتونو لاس ته راوړلو وده او پالنه باید په ستراتیژیکې توګه طرح شي ترڅو خپلې څارنې اومشورتي دندو کې سترو اصلاحاتو ته ورسیږي.

د لازمو مهارتونو ډولونه چې په دې فصل کې فهرست شوي دي د ټولو مدني ټولنو سازمانونو په برخه کې په مختلفو کچو تطبیق کیږي. د محلي سطحې مدني ټولنې ځینې سازمانونه کولای شي چې دفاعي فعالیتونو، څارنې، د پوهې او خبرتیا د سطحې لوړولو، هڅولو، پیاوړي کولو او بشري مرستوته ځیر شي، خود مدني ټولنې هغه سازمانونه چې په ملي او سیمه ایزو سطحو کې عمل کوي، باید په هره ساحه کې کفایت ولري او په عین وخت کې په دې باندې هم پوه وي چې په دغو موضوعاتو کې د محل په سطح د مدني ټولنې له سازمانونو سره د مرستې مسوولیت لري.

د مدني ټولنې سازمانونه باید په بشپړه توګه د هغوی پر مخ له عامه او سیاسي خلاصې فضا څخه استفاده وکړي تر څو خپل ماموریت تعقیب کړای شي. د امنیتي سکتور عامه څارنه یوائې له عامه او خصوصي ساحو سره د سیستماتیک او با خبره رغوونکې تعامل له لارې لاس ته راتلای شي. دا د داسې تعامل ستراتیژۍ دي چې په دې کتاب کې تر ټولو زیات تر څیړنې لاندې نیولې شوي دي.

# ۲

# فصل

IAN LEIGH

# پر امنيتی سکتور باندی د اجرائيه، مقننه او قضائيه قواوو څارنه او لاربنوونه

Ian Leigh

# ۲

# پر امنیتي سکتور باندې د اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوو څارنه او لاربنوونه

په دې فصل کې په امنیتي سکتور کې د دولت د درې مهمو څانګو دندې په پوره تفصیل سره بیان شوې دي. په لومړي سر کې پر امنیتي تأسیساتو د اجرائیې د کنترول اړخونه او بیا پارلماني څارنې بیان شویدي. همداراز په دغه فصل کې د محکمو او قضاء او د څارنې د یو دریم رسمي عنصر په توګه د خپلواکو ادارو لکه د شکایتونو د اوریدو د ادارو نقشونه په تفصیل سره تشریح شوي دي. ځانګړې پاملرنه دې ته شوې چې د مدني ټولنې سازمانونه څرنګه کولای شي د دولت له درې څانګو سره اړیکې ونیسي او څرنګه له هغو اوهمداراز د څارنې له خپلواکو ادارو سره کار وکړي ترڅو په امنیتي ساحه کې دیموکراتیکه حکومتوالي سمون پیدا کړي.

## اجرائیه او مدني ټولنه

په دې فصل کې د وسلوالو ځواکونو، امنیتي او استخباراتي ادارو او د اړوندو وزارتونو په شمول د حکومت د اجرائیه څانګې په اړه د مدني ټولنې په نقش باندې بحث کیږي. د ملي امنیت، دفاع او عامه نظم ساتنه هغه دندې دي چې په عمومي توګه د یو هیواد د اساسي قانون له مخې اجرائیه څانګې ته سپارلې کیږي. په ځینو هیوادونو کې د دغو دندو صلاحیتونه د حکومت د مشر یا د جمهور رئیس یا دولت د رئیس تر منځ ویشل شوي دي. په داسې حال کې چې یو دیموکراتیک اصل دا دی چې د یو هیواد پوځي، امنیتي او استخباراتي ادارې باید تر یوې ملکي څارنې لاندې وي، ډیر وخت لازمه ده چې دغه ارګانونه د ګوندونو له سیاسي فشار څخه خوندي وساتل شي ترڅو د حکومت د مخالفو کسانو او ګوندونو د آزادیو ضمانت وشي. د دغو ارګانونو له منسوبینو څخه غوښتنه کیږي چې د اساسي قانون پر بنسټ د وفادارۍ لوړه پرځای کړي. اساسي قانون ته رجعت په دې وجه هم اهمیت لري چې د اتباعو د مخالفت حق، د بیان، ټولنو جوړولو او داسې نورو حقوقو او آزادیو ضمانت وشي او په عین وخت کې د هغو ارګانونو د سیاسي ناپلویتوب دندې خوندي وساتلې شي.

د دولت په تأسیساتو کې د پوځي وسلوال ځمکني او هوایي ځواکونه اوکه چیرې موجود وي، سمندري ځواکونه، امنیتي او استخباراتي ادارې (البته په دوی کې ځینې کورنۍ دندې لري او ځینې یې بهرنۍ، یا ځینې زیګنالي استخباراتو پورې اړه نیسي)، پوځي استخبارات، پولیسو اوسرحدي او ساحلي محافظین شامل دي. خو په دې برخه کې مختلفي نمونې وجود لري: د بیلګې په توګه ټول دولتونه د کورنۍ او بهرنۍ امینتي ادارو تر منځ توپیر نه کوي او ډیر لږ دولتونه بهرنۍ امنیتي ادارې لري. بنایي په ځینو

هیوادونو کی ملکی او پوځی استخباراتی اداری یو بل کی تداخل ولری او په ځینو هیوادونو کی یوه ځانګړی امنیی پولیسی قوه موجوده وی.

معمولاً د دغو ادارو او خدماتو لپاره لږ تر لږه دری اړوند وزارتونه موجود دی: د دفاع، کورنیو او بهرنیو چارو وزارتونه – خو بیا هم کیدای شی په ځینو هیوادونو کی دا ډول نه وی. د بیلګی په توګه په یو فدرالی دولت کی د پولیس او کورنی امنیت صلاحیتونه سره ویشل شوی دی؛ یا په یو ریاستی جمهوری سیستم کی ځینی خاص ځواکونه او اداری دی چی په مستقیمه توګه د جمهور رئیس تر څارنی لاندی دی نه د حکومت.

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د دفاعی او امنیتی پالیسی په جوړښت کی او د دغو ادارو د چارچلند په هکله د رپوټ ورکولو په څارلو کی ونډه واخلی. د مدنی ټولنی د سازمانونو ګټی کیدای شی چی جغرافیایی وی (د بیلګی په توګه محلی ډلی چی د محلی پولیسو یا په یو محل باندی د یوی پوځی هډی له اغیزو سره سراوکار لری) یا فرقه وی (د بیلګی په توګه هغه ډلی چی د قومی، نژادی، مذهبی یا جنسی لږکیو د حقوقو لپاره د امنیتی سکتور په دننه کی او یا د ټولنی په دننه کی مبارزه کوی) یا د ځینو ځانګړو موضوعاتو لپاره وی (لکه چاپیریالی ډلی، د سولی د غورځنګ یا د هستوی انرژیو ضد مبارزی یا د بشری حقونو ډلی او داسی نوری). د مدنی ټولنی سازمانونه معمولاً د اجرائیی په سطح د هغو وزارتونو سره چی د پالیسی جوړولو لپاره مسوول دی، تماس نیسی. خو بیاهم په ځینوحالاتو کی خپله له امنیتی ارګانو سره هم غږیږی، د بیلګی په توګه د ځینو عملیاتو د اغیزو په هکله چی پر ټولنه یا پر یو محل باندی یی لری.

**۲ـ ۱ چوکاټ:**
**هغه میتودونه چی د هغو له مخی د مدنی ټولنی سازمان کولای شی له اجرائیی سره تماس ونیسی**

- د څیړنو په لاره اچول یا د اسنادو او شواهدو ټولول، د نورو هیوادونو پرتله کونکو معلوماتو یا د نظری موډلونو تولیدول
- پر پالیسیو باندی د نفوذ موندلو او عامه بحثونو د لمسولو په موخه د رپوټونو خپرول
- له ډله ایزو رسنیو سره اړیکی نیول او د خلکو د خبرتیا او پوهاوی لپاره مبارزه کول
- وزارتونو یا د امنیتی سکتور ادارو ته لازمی مشوری ورکول
- په وسلوالو ځواکونو یا پولیسو کی د بشری حقونو د موضوعاتو په هکله د روزنیزو کورسونو دایرول

## د پالیسی په جوړولو کی برخه اخیستل

په عمومی توګه مدنی ټولنه کولای شی چی د پالیسیو په جوړولو کی ونډه واخلی، په دی شرط چی هغه مخکی له مخکی له پالیسی جوړونکو سره تماس ولری. په حقیقت کی د پالیسو بدلون په لومړی سر کی بنایی د خپلواکو څیړنیزو مؤسسو یا د غیر حکومتی سازمانونو له خوا په اړوندو موضوعاتو کی د سلا مشورو په نتیجه کی رامنځ ته شی.

کله چې د حکومت لخوا د پالیسی د سمونوالی لپاره وړاندیزونه طرح شی، کیدای شی چې هغه له مدنی ټولنی سره د سلا مشورو له لاری تر آزموینی لاندی ونیول شی. خو تر ټولو مهمه خبره دا ده چې مشورتی پروسه باید خپله فعاله وی او د حکومت له وړاندیزونو څخه مخکی په عمل لاس پوری کړی.
پرته له دی دا خطر موجود دی چې غښتلی، سازمان شوی او شتمنی ډلی د پالیسیو په جوړولو کی له زیات نفوذ څخه کار واخلی او یا حکومت یواځی له مدنی ټولنی سره په سمبولیکه توګه سلا مشوری په لاره واچوی. د دی لپاره چې د پالیسیو په جوړولو او اصلاحاتو کی ټولی اړوندی ډلی په مناسبه توکه استازیتوب ولری، سم نظم او دسپلین ته اړتیا ده، ځرنګه چې مطبوعات وکړای شی ټول بهیر له نژدی وڅاری. دغه ډول څارنه د هغو غښتلو ډلو یا د نفوذ خاوندانو د هلوځلو مخه نیسی چې غواړی په خپله ګټه پالیسیو ته بدلون ورکړی، که چیری هغوی پوه شی چې د هغوی هڅی بربنډیږی، نو له دا ډول هڅو څخه ښایی مخ واړوی.

په دفاعی او امنیتی ساحو کی د پالیسیو د بدلون لپاره د هغو مؤسسو او څیړنیزو مرکزونو نقش خورا اهمیت لری چې په نړیوالو اړیکو، د ستراتیژیو په مطالعاتو او دفاعی چارو کی تخصص ولری. بشری حقونو یا حقوقی غیرحکومتی سازمانونه کولای شی چې په امنیتی ساحه کی ونډه واخلی، ځرنګه چې نه یواځی په دفاعی بلکه د قانون د اجراء په موضوعاتو او همداراز د امنیتی سکتور د څارنی په موضوعاتو کی فعاله ونډه ولری.

په یوه روغه او سالمه دیموکراسی کی دغه ډول یو شمیر مختلفی مؤسسی د همدی مقصد لپاره کار کوی ترڅو د پالیسیو په جوړولو او اصلاحاتو کی مختلف نظریات واوریدل شی او د خپلواکو کارپوهانو د نظریو او مشورو په پام کی نیولو سره په پالیسیو کی بدلون راوستل شی. د ملی امنیتی ستراتیژیو طرح او دفاعی بودجی پلان کول هغه دوه مهمی برخی دی چې له دغو لارو چارو څخه ښه ګټه ترلاسه کولای شی. په وروستیو کلونو کی د دفاعی او امنیتی پالیسیو په مهمو موضوعاتو کی چې په مختلفو اروپایی دولتونو کی د پالیسیو د کارپوهانو تر ارزونی لاندی نیول شوی دی، هغه بحثونه هم شامل کړای شوی دی چې د ختیځی او جنوب ختیځی اروپا په یو شمیر دولتونو کی د ناتو او د اروپا د اتحادیی د غړیتوب او د پوځی خدمت د مکلفیت د پای ته رسولو پر سر په لاره اچول شوی. په یو شمیر نورو پخوانیو دیموکراسیو کی ځینی نور موضوعات لکه د سوله ساتو ځواکونو د وسلو د کنترول او کمولو یا د هستوی وسلو د سیستمونو تعویض تر بحث لاندی راغلی دی.

خو په انتقالی دیموکراسیو کی د پالیسیو په برخه کی د خپلواکو لوبغاړو شمیر لږ دی او هغوی ښایی له مالی لحاظه تر زیاتی کچی حکومت یا بهرنیو سرچینو ته اړ وی چې دا ډول اړتیا په خپله خپلواکتوب باندی اغیزی لری. سربیره پر دی کیدای شی چې د پالیسی تأسیسات هم د هغو سیاسی نخبه ګانو څخه جوړ شوی وی چې وزیران او چارواکی هم له هغو څخه سر راپورته کوی. دا د یوی ودانی «ځرخی دروازی» ته پاتی کیږی چې له هغی څخه حکومت ته هماغه خلک ورننوځی او راوځی. په داسی یو وضیعت کی دا خطر شته دی چې د پالیسی جوړنی امتیاز د ضوابطو پر اساس نه، بلکه د شخصی روابطو له مخی یواځی د محدودو کسانو تر نفوذ لاندی پاتی شی او هیڅ ډول خپلواکتوب ونه ولری. دغسی یوه «دروازه» ښایی د وسلو جوړونی د صنایعو او د هیوادونو د دفاع په وزارتونو د تدارکاتی ادارو تر منځ هم جوړه شوی وی چې عین چارواکی د هغو تر منځ په آزاده تګ او راتګ لری.

## د پرګنه ایزو ګټو په رسمیت پیژندل

د پرګنه ایزو ګټو یوه ساحه چې له اجرائیه سره د مدنی ټولنی د سازمان د مداخلی ښه بیلګه ګڼل کیدای شی، هغه د پوځی انجمنونو یا اتحادیو په رسمیت پیژندل دی. د دغو انجمنونو څخه ځینی یی ډیره اوږده سابقه لری، لکه په هالند، بلجیم یا سویډن کی (لومړی ځل داسی یو انجمن د نولسمی پیړی په پای کی په

هالند کی جوړ شو)، حال دا چی دغسی څینی نور په دی وروستیو وختونو کی په پولند، هنګری، بلغاریا او رومانیا کی د اساسی قوانینو له بدلولو سره جوړ شوی دی. په هغو هیوادونو کی چی دغه لاره تعقیب کیږی د وسلوالو ځواکونو غړی له قانونی لحاظه منع نه دی چی په پوځی انجمنونو کی شامل شی.
په دی اړه ډیر ښه شرایط هغه دی چی دغه انجمنونه د مدنی ټولنی په ساحه کی له یو ډول خپلواکمنتوب څخه برخمن وی او کیدای شی چی حکومت له هغو سره، د بیلګی په توګه، د وسلوالو ځواکو د غړو د خدمت په شرایطو باندی مشوره وکړی. هغوی همداراز کولای شی چی د کارپوهانو یوه ډله جوړه کړی تر څو له پوځی نظره په دفاعی او امنیتی موضوعاتو باندی په عامه بحث کی ونډه واخلی.

**۲ـ ۲ چوکاټ: په یو شمیر هیوادونو کی پوځی انجمنونه**

**د سویدن د پوځی افسرانو انجمن**

د سویدن د پوځی افسرانو انجمن (SAMO) په ۱۹۹۵ کال کی د دوو پخوانیو اتحادیو (Svenska Officersförbundet او Officerarnas Riksförbund ) له یووالی سره تأسیس شو. هغه کابو ۹۵۰۰ غړی لری چی په هغو کی له خورد ضابطانو څخه نیولی تر جنرالانو او ادمیرالانو (امیر البحر) پوری شامل دی. SAMO د سویدن د مسلکی انجمنونو د کانفدراسیون یو غړی دی او د کارکونکو د عامه خبرواترو د شورا له لاری کار کوی. دا هغه یو شورا ده چی د دولتی یا حکومتی او ښاروالیو د کارکونکو د اتحادیو په استازیتوب خبری اتری پر مخ بیایی. SAMO په دی وروستیو وختونو کی له وسلوالو ځواکونوسره د پوځیانو د کار د وختونو، سفر او لوژستیکی مقرراتو، په احتیاطو کی د افسرانو د استخدام، د پوځی پرسونل د استخدام د نورو ډولونو او د نړیوال خدمت په هکله یو لړ موافقی لاس ته راوړی. که څه هم په رسمی توګه منع نه ده چی SAMO د یو ډله ایز اعتصاب لپاره د یو محدود وخت په مخه بلنه ورکړی، خو هغه انجمن موافقه وکړه چی له دغه حق څخه استفاده ونه کړی.

**پولند**

په ۱۹۹۴ کال کی د پولند د دفاع وزارت ټولو افسرانو ته اجازه ورکړه چی غونډه وکړی او د هغو کمیسارانو په ټاکلو لاس پوری کړی چی د هغوی له حقونو څخه ساتنه وکړی (۸۱ او ۸۲ پریکړی/ د دفاع وزارت/ د ۱۹۹۴ کال د اګست ۲۲). په ۲۰۰۰ کال کی د اساسی قانون محکمه پریکړه وکړه چی په پوځ کی په صنفی اتحادیو کی غړیتوب منع کول له اساسی قانون سره سم دی، په دی شرط چی د انجمن د آزادی د پلی کولو لپاره بدیل موجود وی ( د ۲۰۰۰ کال د مارچ د ۷ نیټی پریکړه). د مسلکی عسکرو د پوځی خدمت د قانون د ۳،۴ فصل لسمه ماده (د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر ۱۱) مسلکی عسکرو ته اجازه ورکوی تر څو د هغو مقرراتو له مخی چی د دفاع وزارت له خوا صادر شوی نماینده ارګانونه جوړ او یوه مشورتی شورا تأسیس کړی (د مسلکی عسکرو د ټولنی د لوړپوړو افسرانو شورا).

سرچینه Ministerstwo Obrony Narodowej, Soldier-Citzen in Uniform, Warsaw, 2006

**هنګری**

د ۱۹۸۹ کال د اساسی قانون له تعدیل څخه وروسته چی پوځی منسوبینو ته یی د انجمن د آزادی حق

ورکړ، په ۱۹۹۱ کال کې د پوځي پرسونل د حقوقو د ساتنې انجمن (KÉSZ) له ۵۶ غړو او ۷ محلي انجمنونو سره تأسیس شو. د پوځیانو صنفي اتحادیه (Hanvédszakszervezet, HOSZ) په ۱۹۹۵ کال کې د ځانګړو غړو سره د یو سازمان په توګه جوړه شوه. هغه اوس لس زره غړي لري. قانون د اعتصاب ممانعت کوي، خو د وسلوالو ځواکونو د مظاهرو او غونډو اجازه ورکوي. د پوځي ګټو د خوندي ساتنې د روغې جوړې یوه جرګه ګې شته دی چې د اړوندو استازو سره د ټولنیز دیالوګ لپاره د دفاع وزارت د وسلوالو ځواکونو په ټولو سطحو کې عمل کوي. دغه پرمختګونه د دفاعي ځواکونو لپاره په قانون کې په ۱۹۹۶ او ۲۰۰۳ کلونو کې تصدیق شول.

سرچینه: DCAF, 2006، په بخارست کې د پوځي اتحادیو په هکله د ګردي میز خبري اترې لنډیز یې په لاندې انټرنتي پاڼه کې موندلای شی:
http://se2.dcaf.ch/serviceengine/FileContent?serviceID=21&filied=3BEBFDDD-A108-49EF-4EFB-FC4581177BF3&lng=en.

د دغو ټولو مثالونو په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره، لطفا د Hans Born او Ian Leigh د بشري حقونو او د پوځي پرسونل د بنسټیز آزادیو په هکله د لارښوونې لاسي کتاب مطالعه کړې.
ODIHR, Warsa, 2008. Also available at
http://www.dcaf.ch/pubications/handbooks.cfm?nav1=5&nav2=4

## د مدني ټولني سازمانونه، د پالیسي تطبیق او څارنه

مدني ټولنه کولای شي چې د پالیسي په تطبیق او د قانون په جوړونه کې ونډه واخلي. څرنګه چې پاس تري یادوونه وشوه، د حکومت وزارتونه او امنیتي سکتور بنایي وکولای شي چې د مدني ټولنې د تجربو او تخصص څخه په کار اخیستلو سره په عمل لاس پورې کړي. د پالیسي د تطبیق په سطح مطبوعات او غیرحکومتي سازمانونه کولای شي د حکومت د پالیسیو اجراآت وپلټي او څارنه ورباندې ولري. [12] د ټولنې د یوې ځانګړې پرګنې د مستقیمې اړیکې له لارې، لکه د معلولینو، نه امتیاز لرونکو ډلو یا پوځي سابقه دارانو، او د مدني ټولنې سازمانونه د حکومت د پالیسیو او قوانینو اغیزمنتوب بنکاره کیږي. په ځینو حالاتو کې کیدای شي چې هغوی د دغو پالیسیو تر پوښتنې لاندې نیولو لپاره مستقیماً مسوولیت په غاړه واخلي. ددې لپاره دحکومت سره ګډ کار ته اړتیا لري (د دغه ګډ کاربنه مثال او بیلګه د رفاهي خدماتو او ښوونې او روزنې ساحې دي).

د دې لپاره چې په دغه سطح کې په اغیزمنه توګه کار وشي، د مدني ټولنې ډلې حکومتي معلوماتو ته باید لاس رسی ولري. په دغه سخت او حساس او بیا په خاصه توګه امنیتي موضوعاتو کې د معلوماتو د قوانینو د آزادۍ چوکاټ، د اړوندو استثنائاتو حدود، د غوښتنو او اجراآتو پروسې او د دې قانوني مادو د استفادې حقوق، ډا ټول اهمیت لري.

[12] Laurence Lustgarten and Ian Leigh, In From the Cold: National Security and Parliamentary Democracy. Oxford University, Oxford, 1994 ; especially chapter 10, on the constitutional role of the press in security realm.

**۲ ــ ۳ چوکاټ:**

**د بشری حقونو په موضوعاتو کی د غیر حکومتی سازمانونو څارنه اومبارزه**
**د روسیی عسکرو د میندو د کمیټو اتحادیه**

د روسیی عسکرو د میندو د کمیټو اتحادیه (UCSMR) دبشری حقونو یو غیرحکومتی بشری سازمان دی چی په ۱۹۸۹ کال جوړ شو. د دغه سازمان ستر هدف د مجلوبینو، عسکرو او د هغوی د میندو د حقونو خوندی ساتل دی. د UCSMR د فعالیتونو مهم کار په وسلوالو ځواکونو کی د بشری حقونو د سرغړونو په هکله غور کول دی (که دا شفاهی شکایتونه وی او که تحریری)؛ د جلبیانو او د هغو میندو او پلورونو لپاره د بشری حقونو د ښوونی لپاره بندوبست کول؛ او د عسکرو د میندو د سیمه ایزو سازمانونو سره په ګډه کار کول.

په مسکو کی د UCSMR دفتر هر کال کابو ۴۰۰۰ شفاهی او ۳۰۰۰ تحریری شکایتونه ثبتوی. له ۱۹۸۹ کال څخه را پدیخوا، UCSMR د جلبیانو او د هغو د میندو او پلورونو لپاره د بشری حقونو منظم ښونځی لری. په دغو ښونځیو کی په متوسطه توګه د ۲۰۰ تر ۳۰۰ کسان په زدکړو بوخت دی. د UCSMR لخوا لاس ته راغلی شکایتونه په سلو کی ۶۰ د ژوند له حقونو او د بشری کرامت څخه سرغړونو پوری اړه نیسی. په دغو سرغړونو کی وهل، ټکول، توهین او تحقیر او ربړول شامل دی. کابو په سلو کی ۲۰ سرغړونی روغتیایی حقونو او د پتمن ژوندانه شرایطو پوری اړه نیسی. د UCSMR د اټکل له مخی د هغو فراری عسکرو شمیر چی خپل ژوند او خپلی روغتیا ته د خطرونو له امله له خپلو پوځی قطعاتو تښتیدلی کابو ۴۰ زرو ته رسیږی د UCSMR د فعالیتونو یوه ځانګړی برخه د چچین له جګړو سره تړاو لری. په دغو فعالیتونو کی د جګړی د پخوانی بندیانو قانونی کول او د عسکرو لپاره د روغتیایی، روانی او ټولنیزو خدمات شامل دی. د چچین په دوهمه جګړه کی UCSMR مجبوره ؤ چی په ډیرو سختو شرایطو کی کار وکړی تر څو د ققفاز په شمال کی دبشری حقونو سرغړونی وڅاری او د کړکیچ د یو سولیز حل لپاره یی غوښتنی وکړی.

Source: http://soldiersmothers.ru/eng/index.php?PHPSESSID=a16e2625983c727048112

**د ګرجستان د عدالت او آزادی انجمن**

له خپل تأسیس څخه را پدیخوا د عدالت او آزادی انجمن (JLA) د وسلوالو ځواکونو د غړو د حقونو لپاره او همداراز د اختلاس او اداری فساد پرضد مبارزه کړیده او سر بیره پر دی په ګرجستان کی عام وګړو ته د هغوی د حقونو په هکله لارښوونی کړی دی. JLA له پوځی تأسیساتو څخه لیدنه کتنه کوی تر څو د عسکری منسوبینو د کار شرایط له نژدی وڅاری او د دغو تأسیساتو په دننه کی په خیرونو لاس پوری کړی. د خپل کار په نتیجه کی دغه انجمن په پوځی تأسیساتو کی ځینی ناخوال شرایط موندل، لکه د خوراکی توکو، عسکری جامو او روغتیایی درملو کموالی. سر بیره پر دی په تدارکاتی برخو کی یی د اختلاس تشخیص هم کړی دی. دغه انجمن جلبیانو او د هغوی کورنیو ته یی سلا مشوری ورکړی او د ګرجستان پارلمان یی دی ته هڅولی دی ترڅو له قانونی تعدیلاتو سره په وضعیت کی سمونوالی رامنځ ته کړی. د JLA یو ګڼ شمیر سپارښتنی چی څرنګه له اختلاس سره مبارزه وشی د جمهوری ریاست په یو فرمان کی په پام نیول شوی دی. JLA ډیر زیات زیار ایستلی تر څو ځوانان چی د عسکر مکلفیت ته نژدی کیږی، له ګټورو معلوماتو څخه یی برخمن کړی. همدا راز په ۲۰۰۰ کال کی یی د ۴۵۵۰ فراری عسکرو لپاره چی له خپلو قطعاتو تښتیدلی ؤ، د یوی عمومی بښنی لپاره خبری اتری په بریالیتوب سره سرته ورسولی.
Source: http://www.eurasia.org/documents/CaseStudies/Opening%20the%20Georgian%20Military.pdf

**پارلمان او مدنی ټولنه**

دغه برخه د امنیتی سکتور په اړه د پارلمانونو په نقش او هغو امکاناتو په هکله بحث کوی د کومو له لاری چی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی په دغو دیموکراتیکو دندو کی ونډه واخلی.
پارلمانونه معمولاً د امنیتی سکتور په اړه یو لړ مهمی دندی ترسره کوی. هغه عبارت دی له:

- د یو قانونی اساس جوړول چی د هغه له مخی وسلوال ځواکونه، استخباراتی او امنیتی اداری، سرحدی محافظین او پولیس عمل وکړای شی؛
- د دفاعی او ملی امنیتی پالیسیو باندی غور او دقت او د دغو پالیسیو د تطبیق لپاره د وزیرانو او د عامه چارواکو مسوول ګڼل او حساب تری اخیستل؛
- پر دفاعی او امنیتی بودجو او تدارکاتی تصمیمونو باندی کنترول درلودل او په دی هکله غور او پلټنه چی پیسی په څه ډول په مصرف رسیدلی دی؛
- د پالیسیو د ناکامیو یا د دفاعی او امنیتی سکتور لخوا د سرغړونو د ادعاو پلټل؛
- سپارښتنی کول.

ځینی ځانګړی دندی (لکه د بیرنیو حالاتو سره هوکړه کول یا د جنګی یا سوله ساتو ماموریتونو لپاره د وسلوالو ځواکونو د استولو د تصمیم تصویبول) ښایی ډیری وخت د اساسی قانون له مخی د پارلمان د یو پراخ اکثریت غوښتنه وکړی.

د دی لپاره چی دغه بیلابلی دندی اجراء شی پارلمانی غړی کولای شی چی له یو لړ لارو چارو څخه کار واخلی: د نویو قوانینو جاری کول او قانونی تعدیلات؛ د پوښتنو او غوړ نیولو غونډو له لاری د وزیرانو او نور عامه چارواکو پلټل؛ د کار پوهانو څخه سلا او مشوره غوښتل؛ او رسمی اسنادو او معلوماتو ته لاس رسی.

**۲ـ ۴ چوکاټ**
**په امنیتی څارنه کی د پولند د پارلمان نقش**

د پولند پارلمان له یو لړ امنیتی اړوند موضوعاتو سره تعامل لری، د هغو له جملی څخه یو هم له وسلوالو ځواکونو سره اړیکه ده. د پولند د پارلمان دواړه جرګی یعنی ولسی جرګه یا Semj او مشرانو جرګه د هغه قانون چوکات جوړوی چی د دفاعی سکتور چاری تنظیموی او د پالیسیو اصول جوړوی. پارلمان دفاعی بودجه طرحه کوی او د هغی د تطبیق څارنه کوی، هغه قوانین تصویبوی چی دفاعی چارو پوری اړوندو بنسټیزو موضوعاتو پوری اړه نیسی او د ملی دفاع د وزیر په ټاکلو کی مستقیماً لاس لری او له دی لاری د وزیر پر کار باندی نفوذ پیدا کوی او هغه د خپل ماموریت په دوره کی حساب او کتاب ته کښینوی.

پارلمانی کمیتی په ځانګړی توګه پر ځینو خاصو دندو کنترول لری، څرنګه چی په ولسی جرګه کی د دولت د دفاع موضوع د ملی دفاع کمیتی پوری اړه نیسی. د ولسی جرګی یا Semj ملی دفاع کمیټه، د ځینو خاصو خدماتو لپاره د Semj کمیټه ، د ملی دفاع لپاره د سنا کمیټه او همداراز د ولسی او مشرانو جرګو استازی حکومتی استازی د پارلمانی غونډو په ترڅ کی تر پوښتنو لاندی نیسی. د Semj د ملی دفاع د کمیتی د مسوولیت په حدودو کی دغه موضوعات شامل دی: ملی دفاع پوری اړوند مسائل (په خاصه توګه هغه چی د وسلوالو ځواکونو پوره اړه نیسی)، د هیواد د خاوری بشپړتیا او ملکی دفاع

پوری اړوند چارې، کوپراتیفی او ټولنیز سازمانونه او خصوصی دفاعی صنایع او د هیواد د دفاعی ظرفیت په پیاوړتیا کی د هغوی اړوند نقش. پارلمان همداراز د کورنی امنیت لپاره ځینی هدایتونه صادروی. پارلمان د دولت د کورنی امنیت د اصولو، د عامه ارګانونو د صلاحیتونو او په کورنی امنیت کی د حکومت د لګښتونو په هکله رأیی ورکوی. پارلمانی کمیټی همداراز پر کورنی امینتی ځواکونو څارنه لری.

کله چی وړاندیزونه د قانون جوړونی پړاو ته ورسیږی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د هغو پارلمانی استازو پام راواړوی چی د مسوده شویو قوانیونو د تعدیل او تصویب په بحثونو کی ګډون لری. په دغه پړاو کی د دغو ډلو کارپوه توب ته اړتیا ده او هغه په ځانګړی توګه ګټور تمامیږی، ځکه چی هر پارلمانی استازی ښایی له یوی یا دوو موضوعاتو کی زیات تخصص ونه لری، نو په دی وجه غیرحکومتی مؤسسی او سازمانونه کولای شی چی تخصصی مرستی چمتو کړی او په پیشنهاد شویو بدلونونو کی مرسته وکړی. سربیره پر دی که چیری مختلفی ډلی له قانون جوړونکو سره په مختلفو پیشنهادونو او وړاندیزونو کی مرسته وکړی دا دیموکراتیکه پروسه نوره هم شتمنه کوی.

ځانګړی پاملرنه پکار ده چی له مالی لحاظه شتمنی ډلی یا صنایع ونشی کړای پر قانون جوړونکو باندی نفوذ پیدا کړی. کله چی په بحثونو کی مختلف نظریات وړاندی کیږی، دا په خپله د پارلمانی پروسی د پیاوړتیا سبب ګرځی، پرته له دی چی د سیاسی ګوندونو تر نفوذ لاندی راوستل شی. دغسی تخصصی مرستی کیدای شی چی له مختلفو لارو، البته له قانون سره سم، پارلمانی کمیټی ته ورسولی شی، د بیلګی په توکه د اسنادو استولو سره او یا هر قانون جوړونکی ته په ځانګړی توګه د معلومات ورکولو سره. له دغی پروسی سره جوخت کیدای شی چی د ډله ایزو رسنیو له لاری عامه نظریات هم وړاندی شی تر څو پارلمانی استازو باندی فشار راوستل شی چی د قانون په جوړولو کی د هغوی ګټی په پام کی ونیسی.

**۲ـ ۵ چوکاټ**
**هغه میتودونه چی د هغو په مرسته د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی د قانون جوړونی په پروسه کی ونډه واخلی**

- د حقایقو د موندولو لپاره څیړنی په لاره اچول
- د پارلمان غړو ته عرض او معلومات وړاندی کول
- د پام اړونی لپاره د کمپاینونو په لار اچول
- پارلمانی استماعیه یا غوړ نیولو غونډو یا کمیټی ته په شفاهی یا تحریری توګه شواهد او اسناد وړاندی کول
- یوی پارلمانی کمیټی ته د یو کار پوه ګمارل
- د پارلمان غړو ته د قانون د مسودی یا قانونی تعدیل سپارل
- قانونی تعدیلاتو یا قانون جوړونی باندی نیوکی کول
- د امنیتی پالیسی په هکله د یو بدیل تفصیلی رپوټ تسوید

د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا د عامه او پارلمانی کمپاین اهمیت او اغیزمنتوب د هغو ځوانو سرتیرو د خپلوانو په تجربه کی څرګندیږی چی د بریتانیا د Deepcut په بارکونو کی مړه شول. د یوی اوږدی

کمپاین څخه وروسته د یو خپلواکې پلټنې په نتیجه کې د هغو فشار نتیجه ورکړه تر څو په پالیسی کې بدلون راوستل شي.

**۲ـ ۶ چوکاټ**
**په بریتانیا کې د Deepcut د پیښې په اړه څیړنیز کمپاین**

د بریتانیا د Deepcut د Princes Royal د Surrey په بارکونو کې د ۱۹۹۵ تر ۲۰۰۲ کلونو په منځ کې د څلورو عسکرو د مړینې څخه وروسته د هغوی خپلوانو د دفاع وزارت او د پارلمان پر ګمارل شوی کمیټې باندې فشار راوړ چې د پولیسو د پلټنې تر څنګ دې په دې قضیه کې څانګړې تحقیقات په لاره واچوي. د پارلمان د یو غړي په مرسته د فشار جرګه ګۍ چې د Deepcut & Beyond نوم پرې ایښودل شوی ؤ د ۲۰۰۳ کال په نومبر کې جوړه شوه ترڅو د هغو عسکرو د ۵۰ کورنیو څخه استازیتوب وکړي چې په غیر جنګي حالتونو کې خپل ژوند له لاسه ورکړی ؤ. د Private Geoff Gray نومی عسکر د مړینې موضوع د بښنې د نړیوال سازمان لخوا هم عنوان شوه.[13]

د ۲۰۰۴ کال د مارچ په میاشت کې د Surrey پولیسو د پوځ د پالنې د نظام په اړه چې د تحقیقاتو په ترڅ کې ورته پام واړول شو، د یو لړ پراخو موضوعاتو او اندیښنو په هکله خپل پنځم او وروستی رپوټ خپور کړ. د ۲۰۰۴ کال لپاره د دفاعی کمیټې دریم رپوټ کې یو ګڼ شمیر موضوعات شامل کړای شوی ؤ چې د عسکرو جلب، روزنې او د وسلوالو ځواکونو په دننه کې دسپلین پورې اړه درلوده، په هغو کې د عسکرو د سوکالۍ، شخصي، جنسي او نژادی ځورول او نور ناخوال مسائل شامل کړای شوی ؤ.

سربیره پر دې د یو لوړپوړی وکیل په لارښونه یوه خپلواکه څیرنه هم وشوه او په ۲۰۰۵ کال کې یې رپوټ وړاندې شو. دغه څیرنه دې نتیجې ته ورسیده چې دغو سرتیرو د پوځې فشارونو او اختناق له امله خپل ژوند په خپل لاس پای ته ورساوه او په ځان وژنو یې لاس پورې کړ. د دغې نتیجې په پام کې نیولو سره په رپوټ کې ځینې سپارښتنې وړاندې شوې چې هغه باید د عسکرو د جلب، روزنې او پالنې په وخت کې په پام کې ونیول شي او هم هغه لارښوونې وړاندې شوې چې څرنګه د جنسي، نژادي او یا شخصي ځورولو څخه مخنیوی وشي، د شکایتونو د وړاندې کولو لپاره لاره پرانیستله شوه (دې کار لپاره د پوځي شکایاتو د اوریدو یو کمیسار وټاکل شو) او سر بیره پر دې د هغو عسکرو د مړینې د پلټنې لپاره چې د خدمت په وخت کې خپل ژوند له لاسه ورکوي څانګړې کمیټه وټاکله شوه. د Deepcut پوځې هډه په ۲۰۰۷ کال کې وتړل شوه.

سرچینه:
BBC, The Deepcut Investigations, http://news.bbc.co.uk/2/hi/uk_news/4215635.stm

[13] http://web.amnesty.org/liberary/Index/ENGEUR450092003?open&of=ENG-GBR

**۲- ۷ چوکاټ**
**د لایحو په مسودو باندی تبصری – د بېنني نړیوال سازمان او د شمالی آیرلند د پولیسو لایحه**

په ۲۰۰۰ کال کی د بېنني نړیوال سازمان د شمالی آیرلند د پولیسو په لایحه باندی یو هراړخیزه تبصره خپره کړه. د بېنني سازمان د خواشیني په ځرګندولو سره یادونه وکړه چی د شمالی آیرلند د پولیسو د لایحی په مسوده کی د بشری حقونو خوندی ساتنه د یومحوری موضوع په توګه نده نیول شوی او د یو پخوانی ریوټ سپارښتنی هم په پام کی نه دی نیول شوی. سربیره پر دی په تبصره کی د شکایتونو د اوریدو د چاروکی د حساب ورکولو او د پولیسی د دیموکراتیک ځواب ورکولو او د پټو عملیاتو، ځرنګه چی په مسوده کی صلاحیت ورکړ شوی ؤ، اندیښنی ځرګندی شوی. د بېنني سازمان خبرداری ورکړ چی په نوی قانونی مسوده کی د دولت په چارو کی وزیر او د امنیی قوماندان ته د ډیر زیات صلاحیت ورکولو سره پخوانی اشتباهات تکرار شوی دی او شک یی ځرګند کړ چی له داسی یو قانون سره دی سړی وکړای شی پولیس د قانون او ټولنی په وړاندی حساب ورکولو ته کښینول شی.

سرچینه:
Amnesty International, Policing in Northern Ireland: A New Beginning? Amnesty International's initia comments on the Police (Northern Ireland) Bill, 2000 Aviaable at: http://www.amnesty.org.ru/library/Index/ENGEUR450482000?open&of=ENG-2U3

## پر امنیت او استخباراتو باندی پارلمانی څارنه

په یو شمیر هیوادونو کی د امنیتی سکتور پارلمانی څارنی دنده تر ډیر زیاتی برخی یو پارلمانی کمیټی یا یو کارپوهی کمیټی یا ارګان ته سپارل شوی ده تر څو پارلمان ته ریوټ ورکړی. سړی کولای شی چی د هغو دولتونو ترمنځ چیرته چی قانون جوړونکی (پارلمانی استازی) خپله د پارلمانی کمیټی له لاری د امنیتی او استخباراتی څارنی دندی په غاړه اخلی (لکه ارجنتاین، آسترالیا، جنوبی افریقا، بریتانیا او د امریکا متحده ایالات) او د هغو دولتونو کوم چی له پارلمان څخه بهر یو کمیټه ګمارل کیږی چی غړی یی پارلمانی استازی هم نه دی خو پارلمان ته ریوټ ورکوی (لکه بلجیم، هالند او ناروی) توپیر پیدا کړی. هر یو په خپل وار سره ځینی ګټي لری. لومړی ډول تر زیاتی کچی دیموکراتیک ښکاره کیږی، حال دا چی دوهم ډول یی زیات مسلکی تخصصی برخی ته امکان په لاس ورکوی ترڅو د څارنی کارونه ترسره کړی، سر بیره پر دی په دغه وروستی ډول کی د سیاسی اختلاف او د عامه اشتهار د خطر مخنیوی هم کیدای شی. دریم ډول یی د دغو دواړو ډولونو یعنی د پارلمانی او غیرپارلمانی لارو چارو ګډول دی: د بیلګی په توګه په کانادا کی وړاندیزونه تل دا دی چی د امنیتی استخباراتی د پلټنی د غیر پارلمانی کمیټی ترڅنګ دی یو پارلمانی کمیټه هم وګمارل شی.[14]

د دغو پارلمانی څارنو د ارګانونو صلاحیت او اختیار یو تر بله سره د پام وړ توپیر لری. ځینی یی صلاحیت لری چی د استخباراتی ادارو د عملیاتو مراقبت هم وکړی: د بیلګی په توګه د امریکا متحده ایالاتو د کانګرس د څارنی کمیټه او د آلمان د فدرالی شورا یا بوندستګ د کنټرول جرګه ګی حق لری چی د پټو عملیاتو په هکله ورته معلومات ورکړ شی.[15] نور یواځی د بیلګی په توګه د پولیسی، اداری

[14] Farson, Stuart, ‚Canda's Long Road from Model Law to Effective Oversight of Security and Intelligence' in Who's Watching the Spies: Establishing Intelligence Service Accountability; Born, Hans; Lock Johnson and Ian Leigh /eds), Potamac Books, London, 2002.
[15] German Bundestag Secretariat of the Parliamentary Control Commssion (PKGR), Parliamentary Control of the Intelligence Services in Germany, Bundesamt, Berlin, 2001, pp. 19-20

او مالی موضوعاتو کنترول لپاره صلاحیت لری (لکه په بریتانیا کی). په ځینو هیوادونو کی هغوی د امنیتی او استخباراتی ادارو د کړووړو قانونیت او بشری حقوقو ته د هغوی درناوی تر پلټنی لاندی نیسی (څرنګه چی په ناروی کی یوه کمیټه دغسی صلاحیت لری).[16]

په دی ساحه کی پارلمانی کمیتی د محرمو او سری اسنادو په وجه هرو مرو ځینی محدودیتونه لری چی څرنګه عمل وکړی، که څه هم کله چی ځینی ځانګړی عملیات تر پلټنی لاندی نیول کیږی، ډیر زیات محدودیت نه لیدل کیږی. دغه ډول محدودیتونه هغو لارو چارو باندی اغیزی لری چی د هغو په مرسته اسناد او شواهد راټولیږی او رپوټونه خپریږی. سر بیره پر دی دغه محدودیتونه د مدنی ټولنو د سازمانونو د مستقیمو مداخلو په مخکی خنډ اچوی.

سره له دی هم په ډیرو حالاتو کی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د شواهدو او اسنادو په وړاندی کولو او د پارلمانی کمیتی د رپوټونو د روښانه کولو په برخه کی نقش ولوبوی. ځینی هیوادونو قانوناً اجازه ورکړی چی د څارنی ارګان وکړای شی له کارپوهانو څخه چی په څیړنیزو مرکزونو یا پوهنتونو کی کار کوی، معلومات لاس ته راوړی. د بیلګی په توګه په لوګزامبورګ کی د پارلمانی کنترول کمیټه کولای شی چی د پارلمان د دو پر دریم اکثریت او د استخباراتی خدماتو له رئیس سره له مشوری وروسته تصمیم ونیسی چی یو کارپوه د څارنی او د پلټنی په برخه کی ورسره مرسته وکړی.[17] دا د د هغه یو نظر بدیل وړاندی کوی چی د حکومت یا استخباراتی اداری له خوا څرګندیږی.

په ځینو هیوادونو کی خپلواکی اداری لکه د عام پلټونکی اداره، جوړه شوی ده تر څو د امنیتی او استخباراتی ادارو په څارنه کی له پارلمان سره مرسته وکړی.

**۲- ۸ چوکاټ**

**د امنیتی او استخباراتی ادارو د څارنی په برخه کی د ځینو عامو پلټونکو د نقش او صلاحیتونه مقایسه**

| | امریکامتحده ایالات | کانادا | آسترالیا | نوی زیلاند | جنوبی افریقا |
|---|---|---|---|---|---|
| له جاری قانونمندی سره پابندی تأمینول | هو | هو | هو | هو | هو |
| د رسم اوقاعدی له کچو سره د پابندی تأمینول | هو | هو | هو | هو | هو |
| د څارنی، څیړنی او پلټنی په لاره اچول | هو | هو | هو | هو | هو |
| د ناوړه عمل، درغلیو او سرغړونی مخه نیول | هو | هو | هو | هو | نامعلوم |
| اقتصاد، اغیزمنتوب او توانمندی ته وده ورکول | هو | نه | نه | نه | نه |
| له اجرائی هدایاتو او عملیاتی پالیسیو سره سم پر عمل کولو باندی کتنه | هو | هو | هو | هو | هو |
| د امر ورکونکو صلاحیتونو سره سم د اجراآتو پابندی | نه | نامعلوم | هو | هو | نه |
| عملیاتی فعالیتونو باندی له سره کتل | هو | هو | هو | هو | نه |
| قوانینو او مقرراتو باندی له سره کتل | هو | نه | هو | نه | نه |
| د اداری مشر یا مشرانو ته رپوټ ورکول | هو | نه | نه | نه | نه |
| اجرائیه، مقننه یا د څارنی کمیسیون ته رپوټ ورکول | هو | هو | هو | هو | هو |
| د مقننی یا د څارنی د کمیسیون له غوښتنی سره سم رپوټ ورکول | هو | هو | هو | هو | هو |

[16] The Act relating to the Monitoring of Intelligence and Security Services: Act No. 7 of 3 February 1995; Sejersted, 2005;

[17] Art. 14(4), Loi du 15 Juin portant organisaion du Service de Renseignment de l´Etat, Mémorial-Journal Official du Grand-Duché de Luxembourg, 2004, A-No.113.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د اداری په هکله د شکایتونو تحقیق | هو | نه | هو | هو | هو |
| دبشری حقونو د مناسب درناوی خوندی ساتل | هو | نه | هو | نه | نامعلوم |
| د ثبت کړای شویو اسنادو او شواهدو او معلوماتو د خپرلوپه هکله له مقرراتو سره سم عمل کول | هو | نه | هو | نه | نامعلوم |
| د اداری ټولو اسنادو، شواهدو او معلوماتو ته لاس رسی درلودل | هو | هو | هو | هو | هو |
| په خپل نوبت سره د څیړونو په لاره اچول | هو | نه | هو | نه | هو |
| د شهادت اخیستلو لپاره اداری لوړه | هو | نه | هو | نه | هو |

سرچینه: د استخباراتو او امنیت کمیته (بریتانیا)، د ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۲ کال کلنی رپوټ
Cm 5542, Appendeix 3

**۲ـ ۹ چوکاټ**
**دهغی کمیتی مثالونه چی د حکومت د امنیتی پالیسیو په هکله په انتقادی توګه رپوټ ورکوی**

**کانادا: سومالیا کی د کانادایی ځواکونو د استقرار په برخه کی د تحقیق کمیسیون.**

سومالیا کی د کانادایی ځواکونو د استقرار په برخه کی د تحقیق کمیسیون د کانادا د دفاع وزیر Art Eggleton لخوا وګمارل شو ترڅو په سومالیا کی د ۱۹۹۳-۱۹۹۲ کلونو کی د ملګروملتونو په سوله ساتی ماموریت کی د کانادایی ځواکونو د ګډون په هکله تحقیقات وکړی.

په دی برخه کی رپوټ دی نتیجی ته ورسید چی د سومالیا په ماموریت کی د رهبری اشتباه ګانی «خوارځیزی او بنسټیزی» وی او هغه چالچلندونه چی سرته رسیدلی دی په دی مقصد شوی چی هر یو ځان ته یو مقام لاس ته راوړی او شخصی جاه طلبیو ته د اصلی ماموریت د موخو په پرتله ړومبیتوب ورکړ شوی دی.» سربیره پر دی «د مسوولیت د مهمو ساحو په څارنه او مراقبت کی ژوری نیمګرتیاوی شوی دی او یواځی سطحی ارزونی سرته رسیدلی دی؛ حتی که چیری ناوړه چلندونه او له دسپلین او قانون څخه سرغړونی ټولو ته څرګندی هم وی، کوم اقدامات چی د هغو پر خلاف نیول شوی هم دی، له ګډوډیو سره جوخت او غیر اغیزمن ؤ.»

سرچینه:
http://www.dnd.ca/somalia/somaliae.htm

**بریتانیا: د Butler رپوټ**

د ۲۰۰۴ کال د فبروری په دریمه د بریتانیا حکومت د عراق د ډله ایزو وژلو د وسلو (WMDs) د موضوع په اړه د استخباراتو په هکله د تحقیقاتو د ترسره کولو اعلان وکړ، څکه د همدی استخباراتی معلوماتو له مخی برتانیا د عراق په جګړه کی ګډون وکړ.

د تحقیقاتو څخه وروسته رپوټ دی نتیجی ته ورسید چی هغه مهم استخباراتی معلومات چی د عراق د جګړی د توجیه لپاره وړاندی شوی دی، د باور وړ نه دی. رپوټ ادعا کوی چی د استخباراتو اداری خپلی سرچینی په دقیقه توګه کنترول کړی نه دی او په ځینو حالاتو کی یی په دریم رپوټ باندی تکیه کړی ده. رپوټ همداراز د ۲۰۰۲ کال په قضیه کی د ۴۵ دقیقه یی ادعا څخه د کار اخیستلو نیوکه کړی او هغه یی «بی محتوی یا تشی» ادعا په توګه ګڼلی ده. رپوټ یادونه کوی چی ډیر زیات د عراق د حکومت د ناراضیانو په ادعاو باندی تکیه شوی ده. همداراز رپوټ یادونه وکړه چی وروستی

استخباراتی معلومات داسی یو څه نه څرګندوی چی عراق دی د نورو هیوادونو په پرتله زیات ګواښ کونکی وی او بل دا چی د ملګرو ملتونو په تحقیقاتی ماموریت کی نه بریالیتوب باید WMDs دی ته واړوی چی په موضوع باندی له سره غور وکړی.

سرچینه:
http://www.butlerreview.org.uk/report/

**ترکیه: د Susurluk په پیښه کی د پارلمانی کمیسیون تحقیق**

د Susurluk افتضاح د ترکیی د Balükesir په ولایت کی د Susurluk سیمی ته نژدی د ۱۹۹۶ کال د نومبر په دریمه د یو موټر د ټکر له پیښی څخه وروسته رامنځ ته شوه. په دی ټکر کی د استانبول د پولیسو د رئیس پخوانی مرستیال حسین کوکدا، د خړو لیوانو نومی ډلی مشر (د یو نشنلیستی ګوند د ځوانانو ضربه یی سازمان) عبدالله چاتلو او یوه میرمن چی نوم یی ګونا اوز ښودل شوی ده، شامل ؤ. دغی پیښی د استانبول د پولیسو او د خړو لیوانو نومی نشنلیستی ډلی او سیاست والو ترمنځ اړیکی بربنډی کړی.

یوه پارلمانی تحقیقاتی کمیسیون وروسته له دغی پیښی د Susurluk په نامه یو ۳۵۰ پاڼی لرونکی رپوټ د ۱۹۹۷ کال د اپریل په میاشت کی خپور کړ. د کمیسیون په رپوټ کی وویل شول چی دولتی ارګانونو د خړو لیوانو نومی ډلی څخه استفاده کړی ترڅو غیرقانونی فعالیتونه په لاره واچوی.

سرچینه:
Cizre, Umit, Democratic Oversight and Reform of the Security Sector in Turkey:2005/2006 Sattus Report, lit Verlag, Berlin, 2008.

## د شکایتونو د اوریدو خپلواکی اداری

په ډیرو هیوادونو کی ځینی خپلواک دفترونه جوړ شوی دی چی معمولاً د شکایتونو د اوریدو چارواکی یا د شکایتونو د اوریدو اداری یی بولی او په ځینو کی هغه کمیساران یا عامه مدافعین شامل دی چی د خلکو په استازیتوب د عامه چارواکو او ادارو د تصمیمونو او چارچلندونو په هکله د شکایتونو او یا د هغوی د نیمګړتیاوو په هکله تحقیقات کوی. دغه دفترونه یا اداری صلاحیت لری چی اسناد وغواړی، چارواکو سره مرکی وکړی او له دولتی ځایونو او مقرونو یا پوځی قرارګاوو لکه (پوځی قشلو یا بارکونو او یا هم د امنیتی سکتور له ودانیو) څخه لیدنه کتنه وکړی. کیدای شی چی هغوی خپله صلاحیت ولری ترڅو په خپل نوبت په تحقیقاتو لاس پوری کړی او قانونی تعدیلات او اصلاحاتو لپاره سپارښتنی کړی، ترڅو هغه د نړیوالو بشری حقونو له قانون سره سمون پیدا کړی. د دغو دفترونو او ادارو د تحقیقاتو په مرسته سری کولای شی چی د امنیتی ارګانونو د سکتور په واسطه د بشری حقونو سرغړونی د اړوندو حکومتی ادارو یا پارلمان غوړونو ته ورسوی او په دی هکله تحقیقات په لاره واچوی.

په ځینو دولتونو کی د شکایتونو د اوریدو عام چارواکی او د هغه اړونده اداره په تولیزه توګه د وسلوالو ځواکونو او نورو امنیتی ادارو په اړه عمل کوی. د یوی داسی اداری شته والی چی د امنیتی سکتور ساحه هم تر سیوری لاندی ونیسی د دی داړ ورکوی چی په امنیتی سکتور کی شفافیت تأمین کیږی او

په هغو کی د قانون حاکمیت جاری دی او دا د دی سبب گرځی چی عام وگړی د خپلو اړوندو امنیتی ادارو په وړاندی باور ولری.

په ځینو نورو هیوادونو کی په ځانگړی توگه د پوځی شکایتونو د اوریدو اداری جوړی شوی دی چی هغوی ځینی خاص موضوعات لکه څارنه یا هغه اطلاعات چی د امنیتی او استخباراتی ادارو لخوا تری استفاده کیږی تر کتنی لاندی ونیسی او د پارلمانی غړو په استازیتوب د څارنی کارونه سرته ورسوی. د یو ځانگړی او جلا اداری په توگه د پوځی شکایتونو د اوریدو دفتر یا اداره په مختلفو هیوادونو کی په مختلفو نومونو تأسیس شوی دی، لکه په آلمان کی د وسلوالو ځواکونو لپاره پارلمانی کمیسار چی په آلمانی ژبه ورته Wehrbeauftragter ورته وایی او په کانادا کی د ملی دفاع او کانادایی ځواکونو لپاره د شکایتونو د اوریدو چارواکی. دغه ډول اداری د نورو هیوادونو لپاره نمونی گرځیدلی دی لکه د آیرلند د پوځی شکایتونو اداره یا د چک د جمهوریت د وسلوالو پوځونو لپاره د شکایتونو د اوریدو اداره.

**د پوځی شکایتونو د اوریدو چارواکی یا اداره**

د پوځی شکایتونو د اوریدو د چارواکی یا اداری مهم مسوولیتونه دا دی چی د پوځی مسوولینو چالچلندنو باندی مراقبت ولری او ووینی چی آیا هغوی له قانون سره سم عمل کوی او که نه. سربیره پر دی که چیری وصومی چی د یو چا حقوق پښنو لاندی شوی په خپل نوښت سره په تحقیقاتو لاس پوری کړی. هغوی همداراز کولای شی چی په پوځ کی د ناوړه چلند او د نیمگړتیاو په هکله شکایت وکړی او د سمونوالی لپاره مناسبی سپارښتنی وړاندی کړی. د شخصی شکایتونو یا په خپل نوښت د تحقیقاتو په لاره اچول څخه وروسته د شکایتونو د اوریدو اداره د پوځی ژوند په دننه کی ستونزو ته پام اړوی، هغه ستونزی چی د اصلاحی اقداماتو غوښتنه کوی ترڅو په پوځی اداره کی سمونوالی رامنځ ته شی او له دی لاری پوځ او د هغه منسوبین د قانون او عام وگړو په وړاندی ځواب ورکونکی او حساب ورکونکی وگرځی. ولسی وگړی یا پوځی منسوبین چی ادعا کوی هغوی سره ناوړه چلند شوی دی، کولای شی چی د شکایتونو د اوریدو له اداری څخه وغواړی چی په اړه موضوع کی تحقیقات په لاره واچوی؛ سربیره پر دی، د شکایتونو د اوریدو اداره دا صلاحیت لری چی د پارلمان په هدایت هم یو تحقیق په لاره واچوی. عام خلک نشی کولای چی یو شکایت د پوځی شکایتونو د اوریدو اداری ته وړاندی کړی. په ځینو هیوادونو کی د شکایتونو د اوردیو اداره کولای شی چی په خپل نوښت او اختیار د هغو موضوعاتو په هکله کومو کی چی د وسلوالو ځواکونو د غړو بنسټیز حقوق پښنو لاندی شویدی، په یو تحقیق لاس پوری کړی (لکه کانادا، فنلند، گرجستان او آلمان کی).

د شکایتونو د اوریدو اداره کولای شی چی صلاحیت ولری ترڅو د یوی امنیتی یا استخباراتی اداری پرضد د یو شکایت په هکله تحقیق وکړی او رپوټ ورکړی، څرنگه چی په هالند کی دا کار کیږی.[18] په ځینو نورو هیوادونو کی د امنیتی او استخباراتی چارو یو خپلواک عام پلټونکی د دغو ادارو په هکله کابو په ورته ډول سره شکایتونو ته غوږ نیسی. دغسی یو چارواکی د بیلگی په توگه په نوی زیلاند کی (د استخباراتی او امنیتی اداری د عام پلټونکی دفتر په ۱۹۹۶ کال کی تأسیس شو) او په جنوبی افریقا کی (د استخباراتو د عام پلټوکی دفتر د اساسی قانون د ۱۲ فصل سره سم وټاکل شو). همداراز ځینی خاص دفترونه چی د معلوماتو د آزادی یا د اطلاعاتو د ساتنی د قانون له مخی جوړ شوی دی کیدای شی چی د نوموړو ارگانونو پرضد د عنوان شویو شکایتونو پلټنه وکړی. د شکایتونو د اوریدو د ادارو تر ټولو ضعیف جوړښت دا دی چی هغوی د امنیتی او استخباراتی ادارو لخوا د بشری حقونو د سرغړونو په هکله معلومات را ټولوی او بیایی په خپل کلنی رپوټ کی خپروی، د هغو تر څنگ عمومی څارنوالی ته سپارښتنی کوی او پارلمان او ډله ایزو رسنیو ته یی وړاندی کوی.

---

[18] Inteligence and Security Act 2002, Art. 83.

د پوځي یا امنیتي شکایتونو د اوریدو د یوې ځانګړې اداري د جوړیدو لپاره استدلالونه بالاخره خپل ځای ونیو، که څه هم ځیني د یو داسې اداري د جوړیدو مخالفت کوي. د پوځي یا امنیتي شکایتونو د اداری د جوړیدو ګټه دا ده چې هغه د خپل تخصص سره سم د پوځي ژوند یا د امنیتي سکتور مسائلو ته خپله ځانګړې پاملرنه کولای شي. هغه همداراز د دغو ارګانونو له سرې او محرمو مسائلو سره سم چلند کولای شي ترڅو د پوځي فعالیتونو حساسیت ته پاملرنه وشي. خو په عین وخت دا اندیښنه هم موجوده ده چې دغه ډول یو اداره له پوځي او امینتي سکتور سره ډیري نژدې اړیکې ولري او خپلواکتوب یې تر پوښتنې لاندې راشي او شکایتونو ته هغسې پاملرنه ونه کړي چې عام پلټونکې یا د شکایتونو عامي اداری کولای شي. که چیرې د صلاحیت حدود یې ټول امنیتي سکتور تر پوښښ لاندې ونه نیسي، دا خطر موجود دی چې پلټني او تحقیق یې بشپړ ونه ګڼل شي او یا دا چې د هغو ارګانونو شخړه ایز موضوعاتو ته هغوی لاس رسې پیدا نه کړي. له بلې خوا د شکایتونو د اوریدو یوه عامه اداره چې د صلاحیت حدود یې امنیتي سکتور هم تر پوښښ لاندې ونیسي کیدای شي چې له هغو ستونزو سره مقابله وکړي چې د نورو لاروچارو غوښتنه کوي او دا عملاً د دې سبب ګرځي چې د شکایتونو د اوریدو یوه متخصصه فرعي اداره رامنځ ته شي. خو په هغو بیروکراسیو کې چې د امنیتي سکتور تر نفوذ لاندې دي په آساني سره د شکایتونو د عامو ادارو مخنیوی کیدای شي.

## د پولیسی شکایتونو د اوریدو اداره

په ځینو هیوادونو کې د شکایتونو د اوریدو لپاره یوه خاصه پولیسی خدماتي اداره جوړه شوې ده. دا ښایي په دې وجه وي چې د پولیسو په هکله شکایتونه ډیر زیات وي او یا په حساسو سیاسي اوضاعو کې پولیس ډیر پراخ نقش ولري. د بیلګې په توګه په شمالي آیرلند کې کله چې د آیرلند د پولیسی خدماتو نوی اداره (PSNI) جوړه شوه، د انډول د ساتنې لپاره د هغې تر څنګ د آیرلند د پولیسی شکایتونو د اوریدو اداره تأسیسه شوه ترڅو په نوموړي هیواد کې د سلطنت پلوو او جمهوریت پلوو ټولنو لخوا عنوان شویو شکایتونو ته غوږ ونیسي او ورته رسیدګي وکړي. په هغو سیمو او هیوادونو کې چې له جګړو او وسلوالو نښتو څخه ژغورل شویدي، د بشری حقونو د سرغړونو د مخنیوی او څارنې لپاره د داسې پولیسی خدماتو د ادارو جوړیدل ګټور تمام شوي، لکه په کوزوو کې. رسمي یا قانوني رپوټونه باید ځایي پولیسی هیأت، د پولیسو اداري او مسوول وزیر ته واستول شي. د بریتانیا په هیواد کې د پولیسی شکایاتو اداره وجود نه لرې، خو د شکایاتو کمیسیون د پولیسو د چارچلند په هکله د شکایتونو پلټنه هغسې کوي لکه چې د PSNI د شکایتونو اداره یې کوي. نو په دې وجه د دغو مختلفو تأسیساتو ګډ هدف په پولیسو کې د شفافیت او حساب ورکولو د خوندي ساتنې سره د پولیسو په وړاندې د عامو خلکو اعتماد او باور لاس ته راوړل دي.

**۲- ۱۰ چوکاټ**
**په شمالي آیرلند کې د پولیسی شکایتو د اوریدو اداره**

د شمالي آیرلند د پولیسی شکایتونو د اوریدو اداره د شمالي آیرلند د پولیسو د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۰ پریکړې له مخې د شکایتونو یو خپلواک میکانیزم په توګه تأسیس شوه. دغه اداره د پولیسو د چارچلند په هکله د خلکو شکایتونو ته غوږ نیسي او لاس رسی ورته کوي. د پولیسی شکایتونو د اوریدو اداره هر کال د شکایتونو له مخې یو رپوټ هم خپروي. هغه اداره د دولت په چارو کې وزارت ته هم رپوټ ورکوي او کولای شي چې د هغه وزارت اړوند یو موضوع باندې پلټنه په لاره واچوي. د شکایتونو د اوریدو د دفتر له رپوټونو څخه هم د پارلمان او هم د مدني ټولني سازمانونه کار اخلي تر څو پولیس حساب او کتاب ته کش کړي.

سرچينه:
http://www.policeombudsman.org/

د مدنی ټولنې سازمانونه کولای شی چی له مختلفو لارو د شکایتونو د اوریدو له دفترونو سره اړیکی ونیسی او یا له هغو سره ګډ کار وکړی. د مدنی ټولنې سازمانونه کولای شی چی د شکایتونو د اوریدو د شته والی او یا د شکایت کولو د لارو چارو په هکله تبلیغات وکړی؛ یا هغوی کولای شی چی د شکایتونو د اوریدو له کارکونکو سره د امنیتی سکتور په څارنه کی مرسته وکړی. د دی کار یوه بنه بیلګه د روسیی د پوځی یونټونو د ګډی پلټنې پروګرام دی چی په ۲۰۰۷ کال کی د روسیی د بشری حقونو د شکایتونو د اوریدو د اداری، د عام پلټونکی د مرستیال او پوځی عمومی څارنوالی ترمنځ پری موافقه وشوه، په دغه پروګرام کی د بشری حقونو مدافعین او پوځی څارنوال په ګډه په پلټنه لاس پوری کوی.[19] په عین ډول د ګرجستان د شکایتونو د اوریدو اداری د مدنی ټولنی له سازمانونو سره په ګډه د پولیسو د ماموریتونو د څارنی لپاره یو منظم سیستم جوړ کړ.[20] مهمه موضوع داده چی د شکایتونو د اوریدو اداری په فعاله توګه په دغو مسائلوکی برخه لری، نه یوائی د څارنی له لحاظه، بلکه د امنیتی سکتور د تحقیق او له نورو دیموکراتیکو تأسیساتو او رسنیو سره د تعامل له لحاظه هم.

## قضاء او مدنی ټولنه

دغه برخه مخکی له دی چی د امنیتی سکتور په اړه د محکمو او د مدنی ټولنی د سازمانونو د نقش په هکله بحث وکړی، د بنسټیزو حقونو د خوندی ساتنی لپاره (د هغو مدنی ټولنو د کارکولو لپاره د حقونو په شمول) د قضایی سیستم پر اهمیت باندی بحث کوی.

د نړیوالو بشری حقونو عصری قانون د ملګرو ملتونو د منشور پر بنسټ ولاړ دی (په خاصه توګه د هغه مقدمه او ۱ (۳)، (۵۵ او ۵۶ مادو) ، او د بشری حقونو د نړیوالی اعلامیی، د مدنی او سیاسی حقونو په هکله د نړیوال تړون او د اقتصادی، ټولنیز او فرهنګی حقونو د تړون سره تکمیل شوی دی. سربیره پر دی د ملګرو ملتونو تړونونه دی: لکه د نژادی او د ښځو د توپیر پالنی ضد تړون، د ماشوم د حقونو منشور، د ربړونی ضد منشور[21] او د کډوالو او تابعیت منشور. د ملګروملتو د تړون مکلفیتونه د سیمه ایزو بشری حقونو سیستمونو سره نور هم بشپړ کیږی.

[19] Interfax News Agency, 6 February 2007.
[20] See http://www.ombudsman.ge/eng/activites/monitoring.html;http:www.alpe/about_alpe/
[21] See also the European Convention fort he Preventation of Torture and Inhuman or Degrading Treatment or Punishment, http://conventions.coe.int/Treaty/en/Treaties/Word/126.doc

## ۲- ۱۱ چوکاټ
## په نړیوالی سطح د بیان او د انجمن جوړونی د آزادی رسمیت پیژندل

| | |
|---|---|
| د UDHR ۱۹ ماده [22] | هرانسان د بیان اود نظر آزادی لری؛ دغه حق کی د ډلیزو رسنیو له لاری هرچیری چی وی پرته له کوم سرحد او پولی څخه د ناپلوو نظریاتو او معلوماتو د غوښتنی او لاس ته راوړلو آزادی پرته له کوم خنډ څخه شامل دی. |
| د ICCPR ۱۹ ماده[23] | ۱- هر انسان حق لری چی پرته له مداخلی د نظرغوښتنی په لټه کی شی.<br>۲- هر انسان د بیان آزادی لری؛ دغه حق کی د ډلیزو رسنیو له لاری هرچیری چی وی پرته له کوم سرحد او پولی څخه په شفاهی ، تحریری یا چاپی توګه د خپلی خوښی ناپلوو نظریاتو او معلوماتو د لټولو، غوښتنی او لاس ته راوړلو آزادی پرته له کوم خنډ څخه شامل دی.<br>۳- د هغو حقونو اعمال چی د دی مادی په دوهم پارګراف کی تصریح شوی دی ځانګړی مسوولیتونه له ځان سره لری. له دی امله دا کیدای شی چی د ځینو محدودیتونو تابع وی، خو دا محدودیتونه باید په قانون کی صراحت ولری او لزوماً د لاندو وجوهاتو لپاره<br>الف – د بشری حقونو یا د نورو شهرت ته درناوی<br>ب – د ملی امنیت یا د عامه نظم یا عامه روغتیا یا اخلاق. |
| د ECHR ۲۱ ماده [24] | د سولیزو غونډو او ټولنو جوړول باید په رسمیت وپیژندل شی. د دغه حق په سرته رسولو کی هیڅ ډول محدودیت نه منل کیږی، مګر دا چی قانون واضح کړی وی او هغه هم په یو دیموکراتیکه ټولنه کی د ملی امنیت، عامه مصونیت، عامه نظم، د عامه روغتیا د ساتنی یا عام اخلاقو د ساتنی او یا د نورو د آزادی د خوندی ساتنی لپاره وی. |
| دECHR ۱۰ ماده [25] | ۱- هر انسان د بیان د آزادی حق لری. په دغه حق کی د عامه چارواکو له مداخلی پرته د نظریاتو او ناپلوو معلوماتو غوښتل او لاس ته راوړل شامل دی.<br>۲- دا چی د دغو آزادیو عملی کول له یو لړ دندو او مسوولیتونو سره جوخت دی کیدای شی چی د ملی ګټو د خوندی ساتنی، د خاوری د بشپړتیا یا عامه نظم، د ګډوډیو او جرایمو د مخنیوی، د عامه روغتیا یا اخلاقو د ساتنی، د نورو د حقونو او شهرت د ساتنی، د سری معلوماتو د بربنډیدو د مخنیوی یا د د قضاء د صلاحیت او ناپلویتوب د خوندی ساتنی په وجه ځینو ځانګړو رسمی حالاتو او شرایطو اومحدودیتونو پوری چی په قانون کی تصریح شوی دی، تړلی وی. |
| د UDHR ۲۰ ماده[26] | ۱- هر انسان د سولیزو غونډو او ټولنو جوړولو حق لری.<br>۲- هیڅ څوک مجبور کیدای نشی چی یوی ټولنی پوری تړلی وی. |
| د ECHR ۱۱ ماده [27] | هر انسان له نورو سره د سولیزو ټولنو جوړلو او انجمنونو جوړولو د آزادی حق لری، په دی حق کی د خپلو ګټو د خوندی ساتنی لپاره صنفی اتحادیو کی د شمولیت حق هم شامل دی. |

[22] Avialable at http://www.unhchr.ch/undhr/lang/eng.htm
[23] Avialable at http://www.unhchr.ch/htm/menu3/b/a_ccpr.htm
[24] Avialable at http://www.unhchr.ch/htm/menu3/b/a_ccpr.htm
[25] Available at http://conventions.coe,int/treaty/en/Treatyies/Html/005.htm
[26] Avialable at http://www.unhchr.ch/undhr/lang/eng.htm
[27] Available at http://conventions.coe,int/treaty/en/Treatyies/Html/005.htm

په دی بشری حقونو کی د انجمنونو او د بیان آزادی په ځانګړی توګه د فعالو مدنی ټولنو د سازمانونو لپاره ضروری ده. دا د بشری حقونو بنسټیز حقونه دی چی په نړیوالو تړونونو او د ډیرو هیوادونو په اساسی قوانینو کی منل شوی دی.

د انجمنونو د آزادی له یو اغیزمن تطبیق څخه پرته، د مدنی ټولنی سازمانونه به ونه توانیږی چی د بیان د آزادی لپاره بندوبست وکړی او د بیان او انجمنونو آزادی هغوی ته اجازه ورکوی چی خپل افکار عامه خلکو ته وړاندی کړی او په دی ډول سیاسی ملاتړ وهڅوی. سر بیره پر دی د بیان آزادی څخه پرته د مطبوعاتو آزادی هم نشته او چی دا آزادی نه وی معنی دا چی د دیموکراتیک حساب ورکولو لپاره هم امکانات نشته، هغه څه چی د عامه خلکو د خبرتیا او د سیاستوالو او نورو چارواکو تر پلټنی او څارنی نیولو لپاره ضروری دی. چیرته چی دغسی حقوق محدود دی، قضائیه قوه اوبیا په خاصه توګه د اساسی قانون محکمه ځینی خاص مسوولیتونه لری ترڅو په ملی قانون کی د بدلون غوښتنه وکړی او ډاډ لاس ته راوړی چی له نړیوالو لاس لیک شویو او منل شویو تړونو سره سم عمل کیږی.

چیرته چی دغو حقونو ته په عمومی توګه لږه پاملرنه ده او د قانون په چوکاټ کی هم ورته پام نه دی شوی، بیا نو د مدنی ټولنی د سازمانونو دنده ده چی د بشری حقونو په هکله شکایتونه عنوان او نړیوال فشار زیات کړی او د ساتونکو میکانیزمونو په لټه کی شی.

په همدی وجه یوه لاره چی د هغی سره د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی د امنیتی سکتور په واسطه د سرته رسیدلو بشری حقونو سرغړونو ته پام واړوی، دا ده چی د بشری حقونو په هکله عنوان شوی شکایتونه نړیوالو ارګانونو ته وړاندی شی، د بیلګی په توګه د ملګرو ملتو د بشری حقونو میکانیزمونو یا (په اروپا کی) د بشری حقونو منشور ته. که څه هم غیرحکومتی سازمانونه په خپل سر دغو مکیانیزمونو ته عرض وړاندی کولای نشی، مګر دا چی د هغوی خپل حقوق پښنو لاندی شوی وی، خو هغوی کولای شی چی د بشری حقونو د سرغړونو د اسنادو او شواهدو په راټولولو، قربانیانو او د هغوی کورنیو ته د لارښونو او د هغوی د داعیو په تبلیغ کی ستر نقش ولوبوی. دغه مسائل په دیارلسم فصل کی په تفصیل سره تر بحث لاندی نیول شویدی. خو د یادونی وړ ده چی نړیوالو میکانیزمونو ته دی وروسته له هغی شکایت او عرض وړاندی شی چی د هیواد په دننه او کورنی موجود میکانیزمونه هغو ته پام وا نه اړوی او د هغو اوریدو او تلافی لپاره ټولی هڅی سرته رسیدلی وی. [28] د اروپایی منشور په اصل کی په لومړی سر کی د کورنی او ملی تأسیساتو پراهمیت باندی ټینګار شوی چی د بشری حقونو د سرغړونو شکایتونو ته غوږ ونیسی او د هغو د تلافی په لټه کی شی او د بشری حقونو د سرغړونو پرضد دفاع کی د نړیوالو محکمو او نورو تأسیساتو نقش په دوهمه درجه کی راځی.

## قضاء او د امنیت سکتور

د امنیتی سکتور په اړه د قضائیه قوی محوری دندی دا دی چی وګوری آیا د هغه سکتور چالچلندونه د اساسی قانون سره سم دی که نه، آیا هغوی د عام وګړو او د هیواد د یونیفورم لرونکو منسوبینو(د وسلوال پوځ منسوبین) د بشری حقونو څخه سرغړونی کوی که نه. دغه دندی په خاصه توګه په اضطراری حالاتو کی ځانګړی اهمیت پیدا کوی. د پارلمان او اجرائیه قوی پرخلاف، محکمی دا صلاحیت نه لری چی عامه چارواکی په خپل ابتکار حساب ورکولو ته کښینوی – د قاضیانو صلاحیت او توانمندی په بشپړه توګه دی پوری تړلی ده چی اړوند قضیی هغوی ته راجع کړای شی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د عامه ګټو او قانون د واکمنی په خوندی ساتلو کی مهم نقش ولوبوی

[28] European Convention on Human Rights. Art. 35.1.

څرنګه چې د قانوني لارو څخه په استفادی سره سرغړوني بربنډی کړی او بشري حقونه خوندی وساتی.

محکمی کولای شی چې په دوو اساسی طریقو ونډه ولری. لومړی طریقه دا ده چې دولتی چاروکی خپله په قانونی اقداماتو لاس پوری کړی، د بیلګی په توګه پر تروریستی یا رسمی پټی قضیی څارنه یا د وسلوالو ځواکونو د یو غړی پر ضد انظباطی اقدام. په داسی یو حالت کی محکمی کولای شی چې په غیر مستقیمه توګه پر امنیتی سکتور باندی کنترول ټینګ کړی، په خاصه توګه له دی لاری چې وګوری آیا ځینی شواهد او اسنادو ته (د بیلګی په توګه هغه چې د ربړولو، یا په غیرقانونی توګه یا په درغلیو لاس ته راغلی) اجازه ورکړی که نه. خو کله چې څارنی یا انظباطی چلند د وسلوالو ځواکونو پر ضد عنوان شی یا وویل شی چې د پولیسو یو افسر له خپلی دندی څخه ناوړه استفاده کړی، د کنترول له مقرراتو څخه کار اخیستل کیږی.

دوهم، انفرادی خلک یا د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی له محکمو څخه په استفادی سره د امنیتی سکتور د اقداماتو یا پالیسیو قانونیت تر پوښتنی لاندی ونیسی. دبیلګی په توګه پرمحکمی کیدای شی چې غړ و شی چې د امنیتی سکتور د یو اجرائیه مامور چلند باندی غور وکړی چې په یوی وسلوالی شخړی کی ګډون کړی او یا یی د هغی په پلوی کار کړی. د داسی یوی پیښی جریان ښه بیلګه، د آلمان د فدرال اداری محکمی د ۲۰۰۵ کال تصمیم دی، هغی محکمی فیصله وکړه چې د پوځ د Software یو انجنیر چې د وجدانی دلایلو له امله یی د یو کامپیوتری پروګرام باندی له کار کولو څخه ډډه وکړی، برائت ورکړ او حکم یی وکړ چې د هغی وجدانی حقوق باید خوندی وساتل شی، د هغه دلیل دا ؤ چې د عراق جګړه ناحقه او غیرعادلانه ده. [29] په دی هکله یوه بله ښه بیلګه، د آلمان د اساسی قانون د محکمی پریکړه ده چې د یو تښتول شوی الوتکی ویشتل یی غیرقانونی عمل وګڼله. [30]

دغه ډول محکمی کولای شی قضاوت وکړی چې آیا د تروریزم د ګواښ پرضد مبارزه کی د امنیتی سکتور چلندونه د قانون له لحاظه پر ځای او مدلل دی که نه. په دی برخه کی یو مهم مثال په ۲۰۰۴ کال کی رامنځ ته شو، کله چې په بریتانیا کی ستری محکمی ومونډل چې ۲۰۰۱ د تروریزم ضد، جرایمو او امنیت د قانون د څلورمی برخی له مخی د یوی تروریستی مشکوکی ډلی تر نا معلوم وخت پوری توقیف د هغوی د بشری حقونو ضد عمل دی، ځکه د آزادی له حق څخه د حکومت له خوا د هغوی محرومول مدلل نه دی. [31] په دی اړه یو ډیر ښه څرګند مثال په ګوانتانامو کی دبندیانو د قانونی حق په هکله د امریکا متحده ایالاتو د ستری محکمی تصمیم دی. د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کی هغی محکمی پریکړه وکړه چې د ګوانتانامو بندیان حق لری چې د خپل بندیتوب پر ضد د فدرال په محکمو کی دعوا وکړی. دغی پریکړی د متحده ایالاتو د تروریزم ضد پالیسی په هکله ډیره اغیزه وکړه. معنی دا چې د ګوانتانامو بندیان د امریکا متحده ایالاتو د قضا د صلاحیت له حدودو څخه نور بهر ساتل کیدای نشی.

په یو شمیر هیوادونو کی دا عادی ده چې د امنیتی سکتور په ځینو برخو کی د انجمنونو آزادی محدوده کړای شی. د امنیتی سکتور کارکونکی ښایی اجازه ونه لری چې صنفی اتحادی جوړی کړی یا داسی نور اتحادیی تر څو خپلی ګټی خوندی وساتی. په دی صورت کی د محکمو نقش د هغوی د حقوقو د ساتنی لپاره دیر مهم دی. څرنګه چې د پولند او هنګری د هیوادونو مثالونه دا موضوع په ډیره ښه توګه روښانه کوی. په امنیتی سکتور کی د کارکونکو پر حقوقو باندی ځینی محدودیت لګول ښایی د

[29] - German Fedral Administrative Court. 21 June 2005, Case No. 2 WD 12.04 ( see M. Bohlander, Superior Orders, Unjust War and Soldier’s Conscience’. (2005( 4 Inter Alia 17-19)
[30] Decision of 15 February 2006
[31] Av Secretary pf Sate fort he Home Department (2004) UKHL 56.

توجیه وړ وی، په خاصه توګه د تولی تولنی د ګټو د خوندی ساتنی په موخه له سیاست څخه د هغوی لیری ساتل، خو دغه ډول محدودیت هم باید په قانون کی مدلل وی او عامه ګټو سره تناسب ولری.[32]

> **۲ـ ۱۲ چوکاټ**
> **د انجمن جوړولو او د پوځی منسوبینو د آزادی لپاره قضائی ضمانت**
>
> په پولند کی د اساسی قانون محکمی په ۲۰۰۰ کال کی پریکړه وکړه چی په صنفی اتحادیو کی پوځیانو د غړیتوب منع کول له قانون سره سم چلند دی، په دی شرط چی هغوی د انجمن جوړولو د آزادی له یو بدیل حق څخه برخمن وی.[33]
>
> په هسپانیه کی د اساسی قانون محکمی په ۲۰۰۰ کال کی پریکړه وکړه چی د وسلوال پوځ غړی قانونی حق لری چی په هغو تولنو کی ګډون وکړی چی د هغوی له تولنیزو او اقتصادی ګټو استازیتوب کوی، په دی شرط چی دغه تولنی په صنعتی فعالیتونو کی د برخی اخیستلو لیوالتیا ونلری.[34]
>
> سرچینه:
> Leigh, Ian and Hans Born, Handbook on Human Rights and Fundamental Freedoms of Armed Forces Personnel, ODIHR, Warsaw,
> http://www.dcaf.ch/publications/handbooks.cfm?nav1=5&nav2=4

د مدنی تولنی سازمانونه کولای شی چی قضیی محکمو ته وړاندی کړی او یا د خپلو ګټو څخه د دفاع لپاره محکمو ته مراجعه وکړی، د مثال په توګه کله چی حکومت هغوی ته اجازه ورنکړی چی لازمو معلوماتو لاس رسی ولری یا د خپلو غړو په نمایندګی عمل وکړی او یا د پیښو قربانیانو سره د لاربنونو او د کارپوهانو د مرستو سره سم لاربنونه وکړی چی څرنګه خپله قضیی محکمو ته وړاندی کړی. دا ډول مرستی کیدای شی چی ډیری ارزښتناکی وی: یو انفرادی وګړی ښایی د دی توان ونه لری چی لازمو معلوماتی سرچینو ته لاس رسی پیدا کړی، یا دا معلومات او تجربه ورسره نه وی چی څرنګه په اغیزمنه توګه په محکمه کی د حکومت سره دعوا پر مخ بوزی. خو د مدنی تولنی سازمانونه کولای شی چی له دا ډول تجربو او یا کارپوهانو څخه برخمن وی. هغوی کولای شی چی د کارپوهانو په مرسته د امنیت او دفاع په برخه کی اسناد او شواهد وړاندی کړی (څرنګه چی د قانونی لارو څخه د حکومت ادعاوی تر پوښتنی او آزموینو لاندی راوړی). سربیره پر دی هغوی د امنیت سکتور په برخه کی قانونی او حقوقی تخصص لری چی دا په خپله محکمی ته ګټور تمامیږی، دغو ډول کارپوهانو ته

---

[32]- په یوه قضیه کی چی په هنګری کی په وسلوالو ځواکونو، پولیسو او د امنیتی سکتور په کارکونکو باندی محدودیت لګول شوی چی په سیاست کی به لاس وهنه نه کوی او نه به په سیاسی فعالیت لاس پوری کوی، د بشری حقونو لپاره د اروپا محکمی په داسی یو محدودیت کی د اروپایی بشری حقونو د منشور له لسمی او یوولسمی مادی څخه کومه سرغړونه ونه ګڼله. ځکه دغه ډول محدودیت د عامه ګټو او د ملی امنیت د خوندی ساتنی او د بی نظمیونو د مخنیوی په موخه لاس لاندی نیول شوی دی. دغه محدودیتونه په دی وجه هم دی چی پولیسی دستګاه غیرسیاسی وګرځی او هغه یوه دیموکراسی ټینګه او خوندی وساتل شی چی د پلورالیزم (ډیرپالنی یا کثرت ګرایی) په بنسټ ولاړه وی. د محکمی په پریکړه کی راغلی دی چی: «پولیس افسران له زور لرونکو صلاحیتونو څخه برخمن دی ترڅو د وګړو کړه وړه سره تنظم کړی، په ځینو هیوادونو کی د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره په وسلو سمبال دی. په پای کی پولیس د دولت په خدمت کی دی. نو په دی وجه د تولنی غړی انتظار لری چی پولیس هغه ځواک باید وی چی له سیاسی لحاظه ناپلوی وی او په سیاست کی له لاس وهنی کار وانخلی».
(Rekneyi v Hungary (2000) 30 EHRR 519).

[33] د پولند د اساسی قانون محکمه، د ۲۰۰۰ کال د مارچ د ۷ نیټی، K 26/28 پریکړه.

[34] -Nolte, George, European Military Law Systems, Walter de Gruyter, Berlin, 2003

په اصطلاح amicus curiae یا «د محکمې ملګرې» ویل کیږي، او د محکمې د مقرراتو سره سم هغوی اجازه لري چې په پروسه کې ګډون وکړي.

هغه قانون چې د مدني ټولنې د سازمانونو لخوا وړاندې کیږي نسبت ودې ته چې یواځې د یو څو اغیزمن شویو کسانو حقوق وساتي ډیر زیات د سترو مقصدونو لپاره هم دي. د محاکمې څخه مخکې د کشف چالچلندونه د دې زمینه برابروي چې مخکې له دې پټ کړای شویو معلوماتو او اسنادو ته لاس رسې ومونډل شي، له دې لارې کیدای شي چې په امنیتي سکتور کې د شفافیت او حساب ورکولو امر پر ځای شي. سر بیره پر دې، د چارواکو او محکمو د خپلواکتوب په وجه قانوني اعتراضونه هغو ناخوالو ته چې پارلماني سیستم د هغو په تلافي کولو کې پاتې راغلی دې، د عامه خلکو د پام اړونې لپاره مهم سیاسي وسایل دي.

د مدني ټولنې یو سازمان کولای شي چې د قربانیانو د یوې ډلې لپاره په همدې ډول عمل وکړي. د بدیل په توګه د مدني ټولنې یو سازمان کولای شي چې یوه یو ځانګړې قضیه د نمونې او آزموینې په توګه انتخاب کړي او محکمې ته یې په دې مقصد وړاندې کړي چې د هغې ګټلو په صورت کې د [35] نورو کسانو داسې ورته قضیې پرې حل شي او هغوی هم د محکمې له پریکړې څخه ګټه واخلي. ډله ایزه یا امتحاني دعوا، دبیلګې په توګه د بریتانیا په پوځ کې د توپیرپالنې د چالچلندو په مقابل کې د اعتراض په برخه کې ډیر مهم دي، مثلاً له پوځ څخه د همجنس بازو منسوبینو د ایستلو پر ضد یا د Gurkhaد متقاعدو عسکرو چې د بریتانیا په عسکري ځواکونو کې یې خدمت کړي دي، د تقاعد حقوق اعاده کول (۲- ۱۳ چوکاټ). د حقوقي او قانوني حقونو په توګه د سیاسي غوښتنو عنوانول د مدني ټولنې سازمانونو ته یو بل امکان په لاس ورکوي چې د بې عدالتیو د مخنیوي او د هغوی د تلافي لپاره په یولړ پراخو قانوني لارو چارو لاس پورې کړي. حتی که چیرې په محکمه کې د سمدلاسه بریالیتوب امکان هم نه لیدل کیږي، د امتحاني دعواوو وړاندې کول د عامه خلکو د خبرتیا او د هغوی د پوهې د سطحې د لوړولو لپاره خورا مرسته کوي، هغه یوه مرسته چې کیدای شي یوه وخت د قانوني اصلاحاتو د رامنځ ته کیدو سبب وګرځي.

**۲- ۱۳ چوکاټ**
**د امنیتي سکتور پالیسیو او چالچلندونو پرضد قانوني اعتراضونه**

په بریتانیا کې د Gurkha د سرتیرو پر ضد توپیر پالنه

په بریتانیا کې دوه محکمه یې قضیې د Gurkha د عسکرو پر ضد له توپیرپالنې څخه خبري کوي، Gurkha هغه نیپالي عسکر دي چې د بریتانیا په پوځ کې یې خدمت کړي دي. په لومړي قضیه یا دعوا کې موضوع دا وه چې ویلټل شي آیا د Gurkha د عسکرو د خدمت شرایط د بشري حقونو لپاره د اروپایي منشور له ۱۴ مادې سره سمون لري که نه. [36] د Gurkha عسکرو ته د نورو بریتانوي پوځیانو په پرتله ډیر لږ تقاعد ورکول کیده، خو هغوی د تقاعد د وخت له لحاظه غوره والې درلود، په دې معنی چې وروسته له ۱۵ کلونو څخه به تقاعد یې ورکول کیده، حال دا چې د بریتانوي سرتیرو تقاعد به تر ۶۰ کلنۍ پورې ځنډول کیده. محکمې همداراز په هغو ټولنو کې چې د Gurkha او نور بریتانوي سرتیري تقاعد ته سوق کیدل د ژوند شرایط تر پلټنې لاندې ونیول، که څه هم په دې اړه د۱۴ مادې څخه یې سرغړونه ونه موندله، خو بیاهم د محکمې پریکړه د دې لامل وګرځید چې د هغوی

---

[35] Smith and Grady v UK (2000) 29 EHRR 493, European Court of Human Rights.
[36] R (Purja and others) v Ministry of Defence ( 2004) 1 WLR 289, CA

د خدمت ټول شرايط يو ځل بيا تر غور لاندې ونيول شي.[37] په دوهمه قضيه کې توپيرپالنه د Gurkha او برېتانوي هغو عسکرو د حقوقو د ورکړې پورې اړه نيوله چې په دوهمه نړيواله جګړه کې د جنګي بنديانو په توګه نيول شوي ؤ. محکمې ومونده چې د Gurkha سرتيرو د لږو حقوقو ورکړه غيرمنطقي ؤ. د محکمې له پرېکړې سره حکومت مکلف وګرځيد چې لس زره پونډه د Gurkha هر اغيزمن شوي سرتيري ته د تاوان په توګه ورکړي.

**د Katharine Gun پرضد دعوا چې ګواکې اسرار يې بربنډ کړي، باطله کړای شوه**

په ۲۰۰۳ کال کې د عراق له جګړې څخه مخکې Katharine Gun چې په Cheltenham کې د الکترونيکي ليکونو د څارنې په مرکز کې يې د ملکي کارکونکي په توګه کار کاوه، د امريکا د NSA څخه يې يو برېښنا ليک لاس ته راوړ چې د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا «غيردايمي» استازو ته په پټه توګه د غوږ نيولو لپاره برېتانيا ورسره مرسته وکړي. وروسته له هغې چې دغه برېښنا ليک د عامه ګټو په خاطر مطبوعاتو کې بربنډ شو او هغې خپل آمر ته اعتراف وکړ چې دا کار يې کړی دی، هغې باندې دعوا وشوه چې د محرم سند په بربنډولو کې سرغړونه کړې ده. له ميرمن Gun څخه د بشري حقونو يو غيرحکومتي سازمان، ليبرتي يا آزادای، وکالت کاوه. خو کله چې دعوا محکمې ته ورسيده او د هغې مدافع وکيل د ټولو هغو اسنادو غوښتنه وکړه چې په جګړې کې د ګډون لپاره د برېتانيا د تصميم د قانونيت د روښانه کولو په موخه وړاندې شوي ؤ، دغه دوسيه وتړل شوه، ځکه د حکومت څارنوالانو ونشو کړای چې د هغې پرضد شواهد وړاندې کړي.

سرچينه:
www.liberty-human-rights.org.uk;www.guardian.con.uk/politics/2004/feb/26/interviewy.iraq

## نتيجه

په دغه فصل کې د امنيتي سکتور په اړه د دولت د درې مهمو څانګو په نقش باندې بحث وشو. د مدني ټولنې سازمانونه ډېر زيات امکانات لري چې له اجرائيه او پارلمان او همدارز قضائيه قوې سره تماس ونيسي ترڅو په اصلاحاتو لاس پورې کړي او د امنيتي سکتور ارګانونه تر زياتې کچې حساب او کتاب ته کښينوي. په دې کې پاليسي جوړونه تر نفوذ لاندې راوستل، د قانون جوړونې او پلټنې له لارې د هغو د تطبيق څارنه، د اساسي قانون سره سم عمل کولو سره مرسته او د دعواوو او شکايتونو له لارې د بشري حقونو معيارونه شامل دي. په دې ټولو ساحو کې د مدني ټولنې سازمانونه يو ژوند بښوونکې برخه لري ترڅو د امنيتي سکتور په ديموکراتيک کنترول کې نقش ولوبوي. په داسې حال کې چې دا فصل د مدني ټولنې د سازمانونو او د دولت د مختلفو قانوني ارګانونو ترمنځ اړيکو ته ځير کړای شوی ؤ، راتلونکې فصل به د ميتودولوژۍ پر موضوع او دا چې عملاً څرنګه د څارنې فعاليتونه د عمل په ډګر کې پلې شي بحث کوي.

[37] HL Debs, 11 January 2005, http:///www.publications.parliament.uk/pa/ldhansrd/text/50111-47.htm

## د یو مدنی ټولنی د سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### د اجرائیی پام اړول

- د امنیتی سکتور د پالیسی او چالچلندونو په هکله څیړنه په لاره اچول د شواهد راټول
- د نورو هیوادونو څخه د پرتله ایز اطلاعاتو او نظری مادلونه راټول
- د رپوټونو چمتو کول ترڅو د پالیسی جوړونی بهیر باندی نفوذ پیدا کړی او عامه بحثونه راوپاروی
- وزارتونو یا د امنیتی سکتور ادارو ته تخصصی مشوری ورکول
- وسلوالو ځواکونو یا پولیسو او همداراز نورو مدنی ټولنی سازمانونو ته تخصصی روزنی ورکول

### د پارلمان پام اړول

- د حقایق موندلو لپاره څیړنی په لاره اچول
- د پارلمان غړو ته معلومات ورکول
- د پام اړونی کمپاینونو لپاره بندوبست کول
- د پارلمان استماعیه غونډو یا کمیټو ته تحریری یا شفاهی شواهد ورکول
- د پارلمانی کمیټی ته تخصصی مشوری ورکول
- د پارلمان غړو ته د قانون د مسودی یا تعدیل وړاندی کول
- د قانون جوړولو یا د قانون د تعدیل په بهیر باندی په رغوونکی توګه نیوکی کول
- د امنیتی پالیسیو په هکله د بدیلو مسودو وړاندی کول

### د شکایتونو د اوریدو د ادارو پام اړول

- د څارنی په نتیجه کی لاس ته راغلو معلوماتو ته د شکایتونو د اوریدو د ادراو پام اړول
- د شکایتونو د اوریدو اداری هڅول تر څو په اقداماتو لاس پوری کړی
- د پالیسو د تعدیل په هکله سپارښتنی کول

### د قضائیه قوی پام اړول

- د بشری حقونو څخه د سرغړونو د بربنډولو او د بشری حقونو څخه د دفاع لپاره دعوا کول
- د یاداشتونو ساتل ترڅو د شواهدو او اسنادو د وړاندی کولو لپاره معیارونه پوره کړای شی
- حقوقی او قانونی تخصص ته وده ورکول ترڅو په تحقیقاتو کی د اسنادو او شواهدو په راټولولو کی آسانتیاوی برابری کړای شی
- حقوقی او قانونی تخصص ته وده ورکول ترڅو وګړو ته د دفاعی خدماتو د برابرولو لپاره آسانتیاوی برابری کړای شی.

# ٣
# فصل

DUCAN HISCOCK

# څېړنه اومعلومات

Ducan Hiscook

# ۳

# څېړنه اومعلومات

یوه د هغو مهمو ونډو څخه چې د مدني ټولنی سازمانونه یی کولای شی چی د امنیتی سکتور په حکومتوالی کی وکړی دا ده چې د څېړنی او معلوماتو د یوی خپلواکی سرچینی په توګه عمل وکړی. د څېړنی له لاری د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی په امنیتی سکتور کی جاری وضعیت وڅیړی او لاری چاری یی تشخیص کړی او په پالیسی او عمل کی اصلاحات رامنځ ته شی. [38] سربیره پر دی، د مدنی ټولنی سازمانونه د باوروړ معلوماتو او منظمو تحلیلونو ته اړتیا لری تر څو په دیموکراتیکی څارنی او د امنیتی سکتور اصلاحاتو (SSR) کی خپلی ونډی رهبری کړی او له هغو څخه ملاتړ وکړی. په دی فصل کی لوستلای شی:

- د څېړنی هدفونه او په دیموکراتیکه څارنه کی د هغی نقش؛
- د څېړنی مهم ډولونه او د لوستلو لپاره مهم موضوعات او بل دا چې: د مدنی ټولنی سازمانونو په څه ډول څېړونو لاس پوری کړی؛
- د څېړنی د اړتیا وړ وسایل او میتودولوجی؛
- احتمالی ستونزی کله چې په څېړنی لاس پوری کیږی او دا چې څرنګه د حل لاره ورته موندل کیږی.

## د څېړنی هدفونه

د دی کتاب په لومړی فصل کی د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره مهمی ستراتیژی او میتودولوجی معرفی شوی تر څو د امنیتی سکتور په دیموکراتیکه څارنه کی ونډه واخلی او یادونه په کی شوی چی په عمل کی دغه ساحی یو بل سره له نژدی تړاو لری. غوره ده چی په لومړی سر کی څېړنی او معلوماتو ته کتنه وشی، ځکه څېړنه په خپل ذات کی د یو فعالیت زړه جوړوی او د هغه یو عمل لپاره بنسټ چی د شپږو نورو ستراتیژیو او میتودولوجیو څخه ملاتړ کوی، کومی چی په دی کتاب کی مخکی له دی تشریح شول (۳ – اچوکاټ). که څه هم کارپوهان ښایی ځینی وختونه امنیتی سکتور یواځی له نظری لحاظه تحلیل کړی، د مدنی ټولنی سازمانونه کومی څېړنی چی کوی باید عملی استفاده ولری، که هغه خپله د هغوی له خوا سرته رسول کیږی او یا د نورو لوبغاړو په واسطه.
د یوی څېړنی دقیق هدفونه البته اړوندو سازمانونو، پروژو او حالاتو پوری اړه لری. خو هر څېرنیزه پروژه کیدای شی چی دغه لاندی یو یا زیات عمومی هدفونه ولری:

[38]- د یادونی وړ ده چی دغه فصل یواځی د مدنی ټولنی پوری اړه نه نیسی چی لا مخکی امنیتی موضوعات د خپل کار په زړه کی نیولی دی. په ډیرو هیوادونو کی غښتلی څېړنه ایز مرکزونه دی چی کیدای شی پر مهمو امنیتی موضوعاتو باندی کار وکړی، خو تر اوسه پوری داسی کنټل شوی دی. دا فصل هغه معلومات هم وړاندی کوی چی څرنګه دغه تحقیقاتی مرکزونه کولای شی د امینتی سکتور په څېړنه کی برخه واخلی. د مدنی ټولنی هغه سازمانونه چی د امنیتی سکتورپه برخه کی کار کوی، خو په څېړنیز اړخ کی له تجربی بی برخی دی، دا یوه ډیره ښه موقع ده چی له منلو شویو څېړنیزو تأسیساتو سره په ګډه کار وکړی. دا ددی سبب هم ګرځی چی دغه څېړنیز مرکزونه امنیتی سکتور ته په راتلونکی کی خپله ځانګړی پاملرنه واړوی.

## د اړوندو معلوماتو راټولول

د امنيتي سکتور په هکله يوه زياته برخه معلومات ښايي په عامه توګه د لاس رسي وړ وي، خو دا چې ډيری وخت د يو زيات شمير سرچينو له لاری تيريږی، د هغوی موندل او تفسير يې ګران کار دی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چې د يوی ځانګړی موضوع په هکله اړوند معلومات سره راټول کړی او هغو نورو ته د لاس رسی وړ وګرځوی (نورو سازمانونو ته، عام وګړو ته او حکومتی چارواکو ته). اړوندو اړخونو او لوبغاړو ته د امنيتي موضوعاتو په هکله معلومات ورکولو سره په حقيقت کی د ديموکراتيکی څارنی سره مرسته کول دی؛ ځکه دوی بيا مجبوره نه دی چې خپله دا ډول معلوماتو پسی وګرځی، دوی کولای شی چې خپل ډير زيات قوت په مستقيمه توګه په دی لاره کی مصرف کړی چې امنيتي سکتورحساب ورکولو ته کښينوی.

## د عمل کولو لپاره د يو بنست جوړول

په امنيتي سکتور کی ټول فعاليتونه (د SSR يا د امنيتي سکتور د اصلاحاتو په شمول) بايد پرد باور وړ معلوماتو او دقيق بنسټ ولاړ وی. په دی ترتيب ښه څيړنه د ټولو فعاليتونو لپاره يو اساسی شرط دی، که دا هغه فعاليتونه دی چې د مدنی ټولنی د خپلو سازمانونو لخوا يا د امنيتي سکتور د چاراواکو او يا د هغوی لخوا چې د څارنی دندی په غاړه لری، په لاره اچول کيږی. څيړنه د اړتياوو او ارجحيتونو لازمی ارزونی وړاندی کوی اوپس منظری معلومات برابروی، هغه چې د هری يوی پروژی يو بنسټ جوړوی. البته ټولی دغسی څيړنی حتمی نه دی چې خپری شی؛ کله چې يوه څيړنه لاس لاندی نيوله کيږی چې د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د ستراتيژی او د تطبيق معلومات ورکړی، ښايی بيا نو لازمه نه وی چې دغه څيړنه او ارزونه  په عام توګه خپره شی او حتی تاوان هم ښايی واړوی.

## د بديل او خپلواک نظر وړاندی کول

په ډيرو هيوادونو کی د امنيتي سکتور په هکله د معلوماتو زياته برخه د دولت تر کنترول لاندی سرچينو څخه لاس ته راځی. ښکاره ده چې دغه ډول معلومات خورا مهم دی، په خاصه توګه چې سړی له دی لاری د جاری وضعی او د حکومت د ړومبيتوبونو په هکله ښه معلومات پيدا کوی. خو دا هم يو حقيقت دی چې دغه ډول معلومات اکثر يوه اړخيزه وی يا د يو اړخ نظر څرګندوی او هغه ارزونی چې په دولتی پاڼو کی په چاپ رسيږی، ډيری وخت داسی وړاندی کيږی چې يواځی د برياليتوب ښکارندويی کوی او تر کنترول لاندی دی. د ديموکراتيکی څارنی له لحاظه، دا به د غير حکومتی سازمانو لپاره يوه غټه ستونزه وی چې د خپلو اړوندو دولتونو د امنيتي سکتور د کار په هکله يواځي د هغو معلوماتو پر اساس قضاوت وکړی چې دولت د هغوی په اختيار کی کيږدی.

بله خبره دا ده چې پاليسی جوړنه او تصميم نيونه هغه وخت له برياليتوب څخه برخمن کيږی چې په اړوندو موضوعاتو کی بحث وشی او مختلف نظريات وړاندی شی. په اکثرو دولتونو کی حکومتی چاراواکی د مدنی ټولنی د سازمانونو له څيړنو څخه هرکلی کوی، ځکه د مدنی ټولنی سازمانونه د راتلونکو طرحو او وړانديزونو له وړاندی کولو سره د چوپيتا سرحدونه ماتوی، هغه څه چې حکومتی مقامات د هغو له کولو عاجز دی.
د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا څيړنه په دی وجه هم ډير زيات اهميت لری چې د ټولنی د مختلفو ډلو نظريات په هغی کی استازيوب لری، په خاصه توګه هغه ډلی چې ناامنيو څخه زيات رنځ وړی، خو سياسی غږ يې ډير نه اوچت کيږی.

## د امنیتی سکتور په هکله ژوره پوهه

ډیری څیړنی له دی لحاظه هم غوره دی چی د امنیتی سکتور د یو یا څو اړخونو په هکله زمونږ پوهه نوری هم ژوره کوی: د بیلګی په توګه، یو یا بل اړخ څرنګه کار کوی، هم له نظری لحاظه او هم له عملی لحاظه؟ د امنیتی سکتور له کومو ننګونو سره مخامخ دی؟ په دی ساحه کی د څارنی سطح څرنګه ده؟ کومی اړوندی برخی د زیات مراقبت یا تحلیل غوښتنه کوی؟ څیړنه کیدای شی چی مختلفی ډلی هدف ونیسی، هغه ډلی چی غواړی په لومړی سر کی د خپل سازمان په دننه کی پوره معلومات پیدا کړی، یا د نورو مدنی ټولنی د سازمانونو په منځ کی، په عامه وګړو کی، په حکومت کی او آن دا چی په نړیواله ټولنه کی. دغو پوښتنو باندی د «څیړنی د مهمو ډولونو» په برخه کی په تفصیل سره بحث شوی دی.

## د امنیتی پالیسی او پلی کولو د اصلاح لپاره د نظریاتو او سپارښتنو وړاندیزونه

د مدنی ټولنی سازمانونه د امنیتی سکتور تحلیل یواځی د تحلیل او ارزونی په مقصد نه کوی، بلکه هغوی غواړی چی په دغه سکتور کی بدلون هم رامنځ ته کړی، هغه یو بدلون چی د امنیتی سکتور په پالیسی او عمل کی سمونوالی رامنځ ته کړی او یا د دیموکراتیکی څارنی سطح نوره پراخه او پیاوړی شی. په همدی وجه ډیری څیرنیزی پروژی یو لړ نظریات او سپارښتنی څرګندوی هغه چی د دوی په نظر هدف ته په رسیدو کی مرسته کولای شی.

## د امنیتی سکتور پام اړول

تیرو کربښو کی ټینګار پر دی وشو چی یوه څیرنه په لومړی سر کی هغه یو وسیله ده چی سړی هدفونو ته رسوی. خو دا هم د یادونی وړه ده چی د یوی څیړنی لاس لاندی نیول د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره هغه یوه لاره ده چی په مستقیمه توګه د امینتی سکتور له چارواکو سره د دیالوګ او تماس نیولو زمینه برابروی. څیړنه کولای شی چی یوه ډیره ګټوره لاره وی تر څو له هغو چارواکو سره اړیکه ټینګه کړای شی چی مخکی له دی یو سازمان ورسره کار نه ؤ کړی. له دی سره سړی کولای شی چی د مدنی ټولنی د سازمانونو او د امینتی چارواکو تر منځ یو بل ته د درناوی او یو بل باندی د باور فضا رامنځ ته کړی، دغه چارواکی بیا کولای شی چی په اوږده موده کی پر امنیتی سکتور باندی د ملکی څارنی لپاره آسانتیاوی برابری کړی.

## د شفافیت آزموینه

څیرنه د دی مقصد لپاره هم غوره ده چی د هغی په مرسته په امینتی سکتور کی د موجود شفافیت کچه معلومه کړای شی او بل دا چی تر کومی کچی دولتی چارواکی چمتو دی چی د مدنی ټولنی سازمانونو سره همکاری وکړی. که څه هم حکومتونه ډیری وخت په امنیتی سکتور کی د پرانیستی غیږ او همکاری وعدی کوی، د مدنی ټولنی سازمانونه ځینی وختونه د عمل په ډګر کی له چندان ښه وضعیت سره نه مخامخ کیږی او د امنیتی سکتور په هکله معلومات لاس ته راوړل ورته ډیر ګران تمامیږی (حتی که چیری هغه په عامه توګه د لاس رسی وړ هم وی). څیرنه په دی برخه کی مرسته کولای شی ترڅو په شفافیت کی نیمګړتیا او ستونزی تشخیص کړی او هغو ته د حل لاره هم پیدا کړی: دغه لاندی

برخه کې «د څېړنې په وخت کې احتمالي ستونزې» په دې موضوع بحث کوي چې څرنګه د څېړنې په وخت کې ستونزو سره مقابله وشي.

**۳- ۱ چوکاټ**
**څېړنې د مدنې ټولنې د سازمانونو له نورو ستراتيژو او ميتودولوجيو سره څرنګه اړيکه لري:**

| ميتود | څېړنه کولای شي.... |
|---|---|
| مدافعه يا پلويتوب | • هغه اقدامات تشخيص کړي چې تری دفاع کول غواړي<br>• څرګنده کړي چې دفاعی اقدامات پراعتبار وړ معلوماتو او تحليل باندی تکيه ولري<br>• د تصميم نيولو جوړښتونه او هغه هدفونه چې تری دفاع کول غواړي تشخيص کړي چې کوم هدفونه له کومو دليلونو سره جوړيږي. |
| د پوهی او خبرتيا د سطحی لوړل | • د هدف وړ ډلی وټاکی<br>• وګوری چې کومه ډله د کومو معلوماتو څخه بايد خبرې وی<br>• د ځينو خاصو هدف وړ ډلو د پوهی او خبرتيا د سطحی د لوړولو لپاره د لارو چارو په موندلو کی مرسته وکړی<br>• د دی لپاره چې ډله ايز رسنی وکړای شی د پوهی او خبرتيا سطحه لوړه کړی مهم معلومات او استدلالونه چمتو کړی |
| روزنه | • د روزنی دضرورت په تشخيص کی مرسته وکړی<br>• د روزنی د موادو لپاره پس منظری معلومات او نمونه يی قضيی چمتو کړی<br>• د تير شويو روزنو اغيزی تر ارزونی لاندی ونيسی |
| څارنه | • د قانون (د نړيوال قانون په شمول)، د پاليسو ژمنی او د اصلاحاتو د اجندا پلی کول تر څارنی لاندی ونيسی<br>• د پاليسی په جوړولو او تطبيق کی پرمختګ وڅاری (حتی په وار وار سره) |
| قانونی مرستی او اصلاحات | • په قانون کی کمزورتيا تشخيص کړی او د هغی د اصلاح لپاره د لارو چارو وړانديزونه وکړی<br>• ځينی خاصی قضيی تر تحقيق لاندی ونيسی، خصوصا هغه چې پر ملی امنيت او د امنيتی سکتور په واکمنی باندی اغيزی کوی |
| د سازمانی اعتبار لاس ته راوړل | • څرګنده کړی چې ستاسو سازمان جدی او د معلوماتو خاوند دی او د دی توان لری چې تحليلونه او نظريات وړاندی کړی او له دی لاری له اړوندو لوبغاړو سره مرسته وکړی<br>• له حکومتی او غيرحکومتی لوبغاړو سره د اړيکو په ټينګولو کی په عمل لاس پوری کړی |

## د څېړنې مهم ډولونه

د امنيت ساتنه او پالنه د حکومت د ډيرو مهمو دندو څخه شميرله کيږی او د امنيتی سکتور حکومتوالی او اصلاحات پراخ لمنی موضوعات دی. د امنيتی سکتور د ژوروالی او ستروالی معنی دا ده چې د څېړنی لپاره امکانات نامحدود دی، د ټول سکتور د پيچلو تحليلونو څخه نيولی تر د يوی ځانګړی او مشخصی قضيی په هکله تحقيقاتو پوری. دغه برخه د څېړنی مهمو ډولونو ته کتنه کوی، هغه چې د مدنی ټولنی سازمانونه يی کولای شی لاس لاندی ونيسی. همدا راز دغه برخه هغو مهمو موضوعاتو ته

اشاره کوی چې د مدنی ټولنې سازمانونه يې بايد په پام کې ونيسی او هغه وړانديزونه کوی چې کومه څيړنه د مدنی ټولنې د بيلابيلو سازمانو لپاره مناسب او ګټوره ده.

سړی کولای شی چې لږ تر لږه د امنيت په اړوند د څيړنې مهم ډولونه تشخيص کړی. ډيری پروژې ښايي د لاندی فهرست شويو ډولونو څخه دوه يا ډيری سره ګډ او يوځای کړی، البته دا د مدنی ټولنې سازمان او خپله پروژې د ضرورت وړ معلوماتو پوری اړه نيسی. دغه ډولونه د بيلګې حيثيت لری او د دې ويندويي کوی چې د مدنی ټولنې سازمان له کوم ډول څيړنې څخه کار واخلی، نه دا چې د څيړنې د ډولونو د يوه هراړخيزه او بشپړه درجه بندی وی.

د ډيرو څيړنيزو پروژو موخه د معلوماتو راټولول دی. څرنګه چې مخکې تری يادونه وشوه ښه به وی چې معلومات په يو ډول سره يو ځای کړای شی چې له يوی خوا د لاس رسی او له بلې خوا په آسانی سره د پوهی وړ وی. دا مسأله په خاصه توګه د امنيتی سکتور په برخه کې ډير اهميت لری، ځکه په دغه سکتور کې ښايي ډير معلومات په دی نامه چې حساس او محرم دی، لاس ته را نشي او که چيری په رسمی توګه د لاس رسی وړ هم وی، ښايي په سختی سره ومومندل شی. د دغه ډول څيړنې مثالونه دا دی: د قانون او د چالچلندونو خلاصه يا لنډيز، د رسمی بيانونو او احصائيو مجموعه، د موضوعاتو فهرستونه، بولټنونه او په يوی خاصی موضوع باندی د سرچينو لنډيزونه. په کافی اندازی د اطلاعاتو راټولول د څيړنې د نورو شکلونو لپاره يو مخکی له مخکی شرط دی چې دا د نورو تحليلونو غوښتنه کوی (د بيلګې په توګه څارنه، د پاليسی تحليل).

دوهم د مدنی ټولنې سازمانونه کولای شی چې وڅاری چې آيا د امنيتی سکتور تأسيسات (او دولت په مجموع کې) د خپلو اعلان شويو پاليسو سره سم عمل کوی او ملی او نړيوال قوانين په سمه توګه پلی کوی که نه. د مثال په توګه، د مدنی ټولنې سازمانونه کولای شی وڅاری چې آيا د دفاع بودجه د هغو ړومبيتوبونو، پاليسيو، انتخاباتی وعدو او رسمی بيانونو چې د اړوندو تصميم نيونکو لخوا شوی دی، مصرف کيږی که نه، له دې لاری سړی کولای چې دغه تصميم نيونکی حساب او کتاب ته کښينوی. دغه ډول څيړنې بايد په منظمه توګه تکرار شی، ځکه څارنه بايد يو جاری فعاليت وی، نه دا چې د يوی خاصی پيښی له امله: د حکومت چارواکی که چيری پوه شی چې د دوی د کړو وړو په هکله د مدنی ټولنې سازمانونه وخت په وخت رپوټونه خپروی، کيدای شی چې تر زياتی کچې د قانون سره سم عمل وکړی او خپل کار کې شفافيت ښکاره کړی. د فعاليتونو څارنه په اووم فصل کې په تفصيل سره بيان شوی ده.

د امنيتی سکتور اړوند موضوعاتو باندی د مدنی ټولنې د سازمانونو څيړنه تر زياتی کچې د پاليسو موضوعاتو پوری اړه نيسی. د دغو پاليسيو لمن پراخه ده چې د هوايي ځواک د عصری کولو[39] په هکله د حکومت له پاليسی څخه نيولی تر د امنيت او دفاع او د SSR پاليسيو پوری. د يوی اړوند او ټاکل شوی موضوع په هکله د دولت د پاليسی د قوت، کمزورتيا او اغيزو د تحليل له لاری دوی سره يو ځای دی. ډيری وخت دا څيړنه د پاليسی او د عمل ترمنځ د خلاء په هکله تحليل او د پاليسو د پياوړتيا او يا بدلون لپاره يو لړ سپارښتنو پوری اړه نيسی.

امنيتی سکتور ته د پاليسی د مسائلو له نظره کتنې سره د مدنی ټولنې سازمانونه همداراز کولای شی چې تشکيلاتی تحليلی څيړنې لاس لاندی ونيسی ترڅو د امنيتی سکتور د تشکيلاتی وضعيت په هکله رڼا واچوی . البته د داسی موضوعاتو عنوان کول ښايي ډير ګران وی او د مدنی ټولنې کوچنی

[39] Murdoch, Clark A, U.S. Airforce Bomber Modernisation Plans: An Independent Assesment, Centre for Strategic and International Studies, Washington, 2008. Available online at http://www.csis.org/component/option,com_csis_pubs/task,view/id,4301

سازمانونه ښایی د دی کار له اجراء څخه عاجز وی. خو بیاهم دا موضوع په اوږده موده کی د امنیتی سکتور د روغتیا لپاره خورا اهمیت لری او هغه سازمانونه چی د دی پوښتنو د کولو توان او ظرفیت لری (او خپله ورته ځواب هم ورکولای شی) د امنیتی سکتور د څارنی او حکومتوالی په برخه کی مهمه ونډه اخیستلای شی.

په دی اړه د ورستی خبری په توګه، د مدنی ټولنی سازمانونه همداراز کولای شی چی امنیتی سکتور اړوندی پروژی تر ارزونی لاندی ونیسی، هغه پروژی چی یا خپله د دوی لخوا په لاره لویدلی دی او یا د نورو لوبغاړو لخوا. دغه ډول څیړنه او تحلیل د مدنی ټولنی له سازمانونو سره مرسته کوی ترڅو د خپلو پروژو طاقت پیاوړی کړی چی په بدل کی یی دا د دوی تشکیلاتی اعتبار ته ډیر ګټور تمامیږی (په دی اړه نهم فصل مطالعه کړی) او په راتلونکی کی د امنیتی سکتور د اغیزمنی دیموکراتیکی څارنی سره مرسته کوی.

**۳ـ ۲ چوکاټ**

**د امنیتی سکتور د حکومتوالی او اصلاحاتو په هکله د مدنی ټولنی د سازمانونو د څیړنی بیلګی**

د ملکی نوښتونو لپاره ټاټوبی (کوزوو) (Forum for Civic Initiatives (Kosovo): په کوزوو کی د بشری امنیت په شمول د ټولنی د مصونیت په هکله څیړنه کوی: د نظریاتو یوه سروی.
http://www.fiq-fiq-org/en/?/do=publications

د پالیسیو د مطالعاتو نړیوال مرکز (اوکراین) ( International Center for Policy Studies)
دغه مرکز د اوکراین د امنیتی سکتور په هکله د۲۰۰۶ کال په پای کی » د اوکراین د امنی پالیسی د تحلیل په شمول: Taking Stock« یو شمیر پاڼي خپری کړی دی.
http://icps.com.us/eng/library.html?31

د دیموکراسی د مطالعی مرکز (بلغاریا) (Center for Study of Democracy): په بلغاریا کی د خصوصی امنیتی شرکتونو، پولیسی پلټنو او قومی جوړښتونو او جنایی جرایمو د بهیر په شمول د امنیت په مختلفو نورو مسائل یی څیړنی کړی دی.
http://ww.csd.bg/publications.php

همکاری او دیموکراسی (ارمنستان) (Co-operation and Democracy): «په ارمنستان کی د امنیتی سکتور اصلاحات» (له مصونی نړی نومی نړیوال غیرحکومتی سازمان سره په ګډه) د دغه هیواد د امنیتی سکتور بدلون او د SSR د راتلونکی په هکله تحلیل کوی.
http//www.saferworld.org.uk/images/pubdocs/armenia_English.pdf

د ستراتیژی او تکنولوجی د تحلیل لپاره مرکز (روسیه)، دا مرکز یو منظمه مجله «مسکو دفاعی معلومات» او "Eksport Vooruzheniy„ یا د صادراتو کنترول او همداراز د روسیی د دفاعی مسائلو په هکله ځینی نوری نشریی خپروی.
http://mdb.cast.ru/, http://www.cast.ru/eng/journal/

د ستراتیژیکی او نړیوالو مطالعاتو لپاره مرکز (امریکا متحده ایالات) (Center for Strategic and International Studies)
دغه مرکز د امریکا متحده ایالاتو د امنیتی او دفاعی پالیسی او د نړیوال امنیت نور اړخونه په ډیره

ژوره توکه څیړی.

http://www.csis.org/pubs/

د عامه پالیسی د څیړنی انستیتوت (بریتانیا) (Institut for Public Policy Research) ، دا یو عامه نظریاتی مرکز دی. په ۲۰۰۷ کال کی دغه انستیوت یو لوړسویه ملی امنیتی کمیسیون تأسیس کړ ترڅو د هغو ملی امنیتی ننګونو په هکله چی بریتانیا په ۲۱ پیړی کی ورسره مخامخه ده یو تحلیل او څیړنه وړاندی کړی.
http://www.ippr.org/ipprcommissions/index.asp?=2656

د امنیتی مطالعاتو لپاره انستیتوت (د اروپا اتحادیه) (Institute for Security Studies) ، دغه انستیتوت د اروپا د اتحادیی د امنیتی او دفاع پالیسی او عمل مختلف اړخونه څیړی. ISS د اروپا د اتحادیی لخوا تأسیس شو او هغی سره تینګه اړیکه لری، خو له اپراتیفی خپلواکی څخه برخمن دی.
http://www.iss.europa.eu/index.php?id=2

دامنیتی مطالعاتو لپاره انستیتوت (جنوبی افریقا) (Institute for Security Studies) دغه انستیتوت په جنوبی افریقا او د افریقا په وچه کی د امنیتی موضوعاتو په هکله ریوتونه خپروی د هغو په جمله کی د افریقایی امنیت ته د کتنی په نامه یو رپوټ په افریقا کی امنیتی اصلاحاتو ته ځانګړی شوی ؤ.
http://www.issafrica.org/index.php?link_id=31&slink_id=3961&link_typ=12&slink_typ=&tml_id=3

## دڅیړنی لپاره موضوعات

د هغو موضوعاتو لست چی امنیتی سکتور پوری اړه لری او د مدنی ټولنی سازمانونه یی کولای شی چی څیړنه وکړی ډیر اوږد او نامحدود دی. خو سر له دی هم ځینی مهم او خاص موضوعات شته چی د مدنی ټولنی د سازمانونو ونده په کی خورا اهیمت لری. ۳- ۲ چوکاټ په یو شمیر هیوادونو کی د مدنی ټولنی د څیړنی د پروژو عملی مثالونه دی.

## د امنیتی سکتور اصلاحات

چیرته چی حکومت د امنیتی سکتور اصلاحاتو (SSR) ته ژمنه کړی ده، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د SSR د پرروسی د مختلفو اړخو په څیړنی کی مهم نقش ولوبوی. هغوی کولای شی چی د حکومت د SSR د پالیسی د عمومی هدفونو تحلیل وکړی، چیرته چی لازمه ده د بدیل اقدماتو وړاندیز وکړی. دوی همداراز دا ارزونه هم کولای شی چی آیا SRR له پلان سره پلی کړای شوی دی او آیا SSR خپلو موخو ته رسیدلی دی. د مدنی ټولنی سازمانونه همدارز کولای شی چی د SSR په اړه د عامو خلکو د نظریاتو په هکله هم څیړنه وکړی، خصوصاً هغه چی د حکومت په پرتله تر زیاتی کچی د مدنی ټولنی د سازمانونو څیړنو باندی اعتماد کوی. دمدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی په نورو هیوادونو کی د SSR تجربی وڅیړی او هڅه وکړی چی لاس ته راغلی تجربی د SSR په ستراتیژی کی شاملی کړی. په هغو حالاتو کی چی د SSR رسمی پروسه وجود ونه لری، د مدنی

ټولنې سازمانونه کولای شي چې د اصلاحاتو د ضرورت لپاره په ځیرنه لاس پورې کړي او حتی خپله کولای شي چې د احتمالي اصلاحاتو لپاره وړاندیزونه وکړي.

## «تشکیلاتي» پوښتنې

د مدني ټولنې د سازمانونو خپلواکتوب هغو ته دا موقع برابروي چې د امنیتي سکتور د جوړښت او اغیزمنتوب په هکله پوښتنې عنوان کړي، هغه چې دولتي چارواکي ښایي هغو ته د ځواب توان ونه لري او یا زړه یې ونه غواړي چې ځواب ورکړي، لکه: د دولت په دننه کې دیموکراتیکې څارنې او د امنیتي سکتور د حکومتوالۍ کیفیت څرنګه دی؟ امنیتي سکتور په ورستیو کلونو کې څه ډول وده درلوده او د بدلون اصلي لامل څه ؤ؟ د امنیتي سکتور مختلفې برخې څرنګه په خپلو منځو کې تعامل لري، د کاغذ پر مخ او په عمل کې؟ آیا د امنیتي سکتور هدفونه او رومبیتوبونه د عامو ملي غوښتنو او په نور برخو کې له رومبیتوبونو سره سمون لري؟ په دغه سیستم کې اختلاس او اداري فساد کومه کچه لري؟ او د دې اختلاس او اداري فساد پایلې څه دي؟

## امنیتي ګواښونه او ځوابونه

د مدني ټولنې کارپوهان کولای شي چې ملي امنیت او عامه مصونیت ته د ګواښونو ارزونه وکړي او همدا راز هغو ته د دولت د ځوابونو مناسبت او اغیزمنتوب ترڅېړنې لاندې ونیسي. دغه ډول ځیرنه د رسمي امنیتي پالیسي په مقابل کې یو مهم انډول برابروي او د امنیتي سکتور د نقش په هکله د بحث په رامنځ ته کیدو کې مرسته کوي.

## امنیتي بودجه او لګښت

د څارنې یوه ډیره مهمه دنده دا ده چې څرنګه د امینتي سکتور بودجه تخصیص کیږي او څرنګه لګول کیږي. معمولاً پارلمان د بودجې د لګښت په څارنه کې مهم نقش لري، خو د ډله ایزو رسنیو په شمول د مدني ټولنې هڅې هم اړینې دي. دغه عنوان باندې په اتم فصل کې مفصل بحث شوی دی.

## دفاعي پالیسي

دفاعي پالیسي د امنیت په زړه کې پرته ده، ولې په ډیرو هیوادونو کې دا یوې ډیرې حساسې موضوع په توګه پیژندل شوې ده او د مدني ټولنې ډیر لږ سازمانونه دي چې په دې هکله ځیرنه کوي. لکه په نورو ساحو کې په دفاعي موضوعاتو باندې ځیرنه کولای شي چې په ټولو برخو کې له پوځي ډکترین څخه نیولې تر د وسلو د صارداتو پالیسي پورې د تصمیم نیولو په کیفیت کې سمونوالي رامنځ ته کوي.

## د قانون واکمني

په ډیرو هیوادونوکې د مدافع وکیلانو ټولنې او د مدني ټولنې نور سازمانونه د قانون د واکمنې مختلف اړخونه څیړي، څاري او په قانون او عدلي سکتور کې د اصلاحاتو لپاره وړاندیز کوي.

## پولیسی چارې

ښې پولیسي چارې د عامه مصونیت او امنیت لپاره بنستیز اهمیت لري او پولیس کابو د ټولو اتباعو لپاره د امنیتي سکتور تر ټول څرګند او ښکاره عناصر دي. د دې سره سره، په ډیرو هیوادونو کې په پولیسي چارو کې د مدني ټولنې لیوالتیا کمزوري ده. د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې د پولیسو مختلف اړخونه وڅیړي، د بیلګې په توګه د امنیت په هکله د عامه وګړو نظریات او له پولیسو څخه د هغوی انتظارونه، یا دا چې پولیس د مختلفو لړکي ډلو سره څه ډول چلند کوي. د مدني ټولنې سازمانونه او ډله ایز رسنې باید د پولیسو لخوا له قدرت څخه د ناوړه استفادې په هکله هم څیړنه وکړي.

## هغه موضوعات چې پر ټولنو، لړکیو او نورو اړوند ډلو باندې اغیزې کوي

د مدني ټولنې سازمانونه چې له ځانګړو ټولنو او ډلو استازیوب کوي، کولای شي چې د امنیت اړوند مووضوعاتو په هکله په څیړنه لاس پورې کړي، هغه چې دوی اغیزمن کوي، د بیلګې په توګه د سیمې هغو وسلو د زیرمو په هکله څیړنه چې د ناوړه یا کمزوري محافظت له امله فزیکي او چاپیریالي خطرونه پیدا کوي یا په دې هکله څیړنه چې ځایي چارواکي څرنګه کولای شي ټولنو ته مصونیت ور په برخه کړي.

۳ – ۳ چوکاټ د څیړنو ځینې مختلف ډولونه او د څیړنې ځینې مختلف موضوعات څرګندوي چې کیدای شي د ډیرو مدني ټولنو سازمانونو لپاره د لیوالتیا وړ وي.

**۳- ۳ چوکاټ د څیړنې ډولونه چې کیدای شي د مدني ټولنې د بیلابیلو سازمانو لپاره د لیوالتیا وړ وي**

| د مدني ټولنې ډولونه | د څیړنې ډولونه او د څیړنې لپاره موضوعات |
|---|---|
| د څیړنې او نظریاتو ستري مرکزونه/ غیرحکومتي سازمانونه چې مقر یې په پلازمینه کې دي | • «تشکیلاتي» تحلیل<br>• د پالیسي تحلیل او څارنه: د امنیتي سکتور اصلاحات (SSR)، دفاع، د قانون واکمنې، پولیسي چارې، بودجوي لګښتونه |
| د مدني ټولنې سازمانونه/ د څیړنې انستیتوتونه چې خاص د امنیت، دفاع اوعدلي چارو باندې څیړنې کوي | • دغه ډول ستر څیړنیز او نظریاتي مرکزونه، خو هغه چې موضوعات ډیر په تفصیل سره څیړي |
| د بشري حقونو ډلې | • د پولیسو او نورو امنیتي چارواکو لخوا د قانون د سم تطبیق څارنه<br>• د امنیتي چارواکو لخوا د قدرت څخه ناوړه استفاده<br>• د نړیوالو بشري قوانینو د تطبیق څارنه |
| ځایي ټولنه ایزې ډلې | • ځایي موضوعات لکه د ټولنې مصونیت، د لړکیو او د محرومو ډلو ساتنه<br>• د عدلي اصلاحاتو تحلیل، عدالت ته لاس رسي، د قانون د واکمنې کیفیت |
| | • د ښځو او ماشومانو د امنیت د اړتیاو تشخیصول |

| | |
|---|---|
| د ښځو د حقونو سازمانونه | • د امنیتی سکتور د جنسیت تحلیل |
| سازمانونه چې قانونی مرسته وړاندی کوی لکه د مدافع وکیلانو ټولنی | • د امنیتی چاروکو لخوا د قدرت څخه د ناوړه استفادی تحقیقات<br>• د عدلی اصلاحاتو او د قانون د حاکمیت د کیفیت تحلیل |
| چاپیریالی ډلی | • د امنیتی لوبغاړو لخوا د راپیدا شویو چاپیریالی ګواښونو تحلیل (د بیلګی په توګه په پوځی هډه کی چاپیریالی تاوانونه) |
| څیرندوی ژورنالستان | • د امنیتی چاروکو لخوا د قدرت څخه ناوړه استفادی تحقیق<br>• د پالیسی د تطبیق، د امنیتی سکتور د اصلاحاتو اړوند بودوجوی لګښت، دفاع، عدلی اصلاتو او داسی نور څارنه |
| مطبوعات او ډله ایز رسنی(پرته له څیرندوی ژورنالستانو څخه) | • د دی پر ځای چی په څیړنیز ژورنالیزم لاس پوری کړی، خپله د څیرندوی ژورنالستانو له سرچینو څخه کار اخلی |
| ټولنه پیژوندونکی مؤسسی | • عامه نظریاتی سروی او هغه ډلی د نورو څیرونکو په استازیتوب امنیتی موضوعاتو ته ځیر کیږی |
| نړیوال غیرحکومتی سازمانونه | • د ځایی مدنی ټولنو له سازمانونو سره په همکاری کی تشکیلاتی، او د امنیتی اصلاحاتو، دفاع ، د قانون د حاکمیت او پولیسی چارو په هکله سازمانی تحلیل |

## د اړینی څیړنی وسایل او میتودولوجی

د مدنی ټولنی سازمانونه ښایی چی د څیړنی ځینی تجربی ولری، حتی که چیری هغوی نورو امنیتی اړوندو موضوعاتو باندی مخکی له دی کار هم نه وی کړی. د پیچلو تشکیلاتی او پالیسی موضوعاتو باندی تفصیلی او لوړ سویه څیړنی د مجربو څیرنکو له خوا په لاره اچول کیږی، خو ځینی بنستیز تخنیکونه د څیړنی د ټولو ډولونو پوری اړه نیسی. دغه برخه د څیړنو د وسایلو او میتودولوجیو یو لنډه پیژندنه وړاندی کوی او په خاصه توګه د امنیتی سکتور د مطالعی لپاره کیدای شی ګټور تمام شی. البته په دقیقه توګه د میتودونو او وسایلو استعمال په اړوندی پروژی پوره اړه نیسی او تل باید په هغو کی اصلاحات راوستل شی ترڅو محلی شرایط په پام کی ونیول شی.

## د څیړنی وسایل

څیړنه د معلوماتو د راټولو او تحلیل یو مختلط کار دی. هغه لاره چی د هغی له مخی یو سازمان د معلوماتو تحلیل کوی، انتخاب شوی میتودلوجی پوری اړه نیسی، دغه میتودولوچی مرسته کوی چی

څه ډول معلوماتو ته اړتیا ده او څرنګه هغه باید تعریف او تفسیر شي. د څیړنې وسایل تل هغه لاري دي چې د هغو په مرسته اړوند معلومات راټول کیږي.

څیړنه دوه ډولونه لري: لومړی ډول یې په اصطلاح ابتدایي یا ساحوي څیړنه ده او دوهم ډول یې ثانوي یا دفتري څیړنه ده. که چیری په ساده ژبه وویل شي، د ابتدایي څیړنې هدف دا دی چې هغه معلومات او اطلاعات راټول کړای شي چې مخکې له دې وجود نه لري (د ټولنې پیژندنې، مرکو، د هدف وړ ډلو ترمنځ د بحثونو، د ډله ایزو رسنیو د سروې او داسې نورو امکاناتو له لارې). ثانوي یا دفتري څیړنه دې ته وایي چې معلومات موجود دي (یا نورو څیړنو، رپوټونو، رسمي اسنادو، د قانوني چوکاټونو د پرتله ایز مطالعاتو، حکومتي احصائیو او نورو احصائیوي معلومات) او دغه معلومات باید سره خلاصه او یو بل سره پرتله او تر تحلیل لاندې ونیول شي.

څرنګه چې وړاندې تري یادونه وشوه، د مدني ټولني د سازمانونو د ځینو پروژو هدف دا دی ترڅو موجود معلومات نور هم د لاس رسي وړ وګرځي: دا البته په بشپړه توګه د څیړنې دوهم یا ثانوي پړاو پوری اړه نیسي. تحلیلي رپوټونه هم کیدای شي چې تر زیاتې کچې ثانوي څیړنې پوری اړه ونیسي، خکه د هغوی مرکزي هدف اکثر د هغوی د تحلیل پیاوړی کول دي نه د نویو معلوماتو وړاندي کول. نور رپوټونه لکه سروی چې د امنیتي سکتور عامه تصور سره اړیکه لري، ښایي په بشپړه توګه ابتدایي څیړنې پوري اړه ونیسي (دبیلګې په توګه نظریاتي احصائیه او د هدف وړ ډلي). خو ډیری رپوټونه پر ابتدایي او ثانوي څیړنې باندی تکیه کوی چې له موجودو سرچینو او هم له نویو معلوماتو څخه کار اخلي ترڅو خپلو استدلالونو ته وده ورکړي.

د څیړنې لپاره څلور مهمې وسیلې موجودې دي چې په خاصه توګه د هغو کسانو لپاره ګټوری دي چې د امنیتي سکتور په برخه کې پلټنه کوي: دفتري څیړنه، له رپوټچیانو سره مرکې، نظریاتي سروی او د هدف وړ ډلي.

دفتري څیړنه د موجودو سرچینو څخه د معلوماتو ټولول دي. که څه هم دا «ثانوي څیړنه» ده، خو د څیړنې په هره پروژه کې په لومړي سر کې سرته رسول کیږي. دا د څیړونکو لپاره لاره اواروي ترڅو ومومي چې کوم معلومات مخکې له مخکې موجود دي او څه نور معلوماتو ته اړتیا ده، دا د بیځایو مالي لګښتونو مخه نیسي تر څو هغه معلومات بیا چمتو نه کړي چې هغه مخکې له مخکې موجود دي. دا د دې معنی هم لري چې څیړونکې کولای شي، مخکې له دې چې د مهمو رپوټچیانو په مرکو لاس پوری کړي ځینې پس منظري او تخصصي معلومات لاس ته راوړي. په دقیقه هغه معلومات چې د دفتري څیړنې په واسطه لاس ته راځي د اړوندي پروژې پوری تعلق لري، خو د سرچینو یو ساده فهرست او د معلوماتو ډولونه په ۳ - ۴ چوکاټ کې هم درج شوی دي.

د معلوماتو د راټولولو یوه ډیره غوره طریقه دا ده چې له هغو خلکو سره چې ریښتیا هم د معلوماتو خاوندان دي، سړی مستقیماً خبری وکړي. له رپوټچیانو یا مخبرینو سره مرکې کیدای شي «مرتب» یا «نیمه مرتب» وي. مرتبې مرکې هغه دي چې مرکه کونکې د پوښتنو یو فهرست ځان سره لري، هغه له هر چا څخه په متحدالماله توګه کوي. دا ډول مرکې کیدای شي چې له دې لحاظه ګټوری وي چې ټول اړین موضوعات تر خپل پوښښ لاندې نیسي، دا ډول مرکې کیدای شي چې په خاصه توګه د پوښتنه ایز څیړنې لپاره ګټوری وي، خصوصاً کله چې څیړونکي وغواړي د شمیرنې او ګرافیک په توګه معلومات وړاندې کړي. خو د معلوماتو لاس ته راوړولو دغه ډول طریقه ډیری وخت له محدودیتونو سره جوخته ده ځکه چې څیړونکي نشي کولای خپلې پوښتنې مختلفو کسانو ته چې غواړي ورسره مرکه وکړي، وړاندې کړي یا هغو موضوعاتو ته پام واړوي چې د هغه د څیړنې لپاره ګټور دي. په همدې وجه «نیمه مرتب» مرکې کیدای شي اکثره وخت ګټوری وي. په دې حالت کې څیړونکې د موضوعاتو یا پوښتنو هغه یو ابتدایي فهرست چمتو کوي چې غواړي ورته ځواب پیدا کړي، خو

مرکه په ډېره آزاده فضا کی سرته رسول کېږی او د یو آزاد بحث لپاره زمینه برابروی. د دی ډول مرکو هدفونه اړوندو موضوعاتو پوری اړه لری، خو هغه کیدای شی چی له حکومتی چارواکو (د تصمیم خاوندان او اپراتیفی کسانو)، پارلمانی غړو، اکادمیکرانو، ژورنالیستانو، محلی سازمانونه او د مدنی ټولنی نور سازمانونه، مذهبی مشران او نړیوال استازی وی. مهمه خبره دا ده چی له یو شمیر زیاتو معلومات لرونکو کسانو سره خبری وشی، څکه هر یو خپل معلومات او خپل نظر وړاندی کوی. ځینی مهم معلومات لرونکی کسان کیدای شی ډېر حساس وی او ښایی د ځانګړی پاملرنی غوښتنه وکړی. (۳- ۶ چوکاټ مطالعه کړی).

د یو شمیر امنیتی موضوعاتو په اړوند د عامه نظریاتو لپاره د ارقامو او اعدادو پر بنسټ د معلوماتو د پیدا کولو په مقصد نظریاتی سروی یوه ډېره ګټوره لاره چاره ده. د دغو امنیتی موضوعاتو ښه مثالونه مصونیت او جرم، د پولیسو په وړاندی دریځ او د امنیتی اړوندو پالیسیو ارزونه دی. خو د سترو کورنیو څیړونو طرح او تطبیق ښایی یو پیچلی او ستونزمن کار وی، نو په دی وجه غوره ده چی له ټولن پیژندونکو تحقیقاتی انستیتوتونو په همکاری سرته ورسیږی. که چیری داسی انستیتوتونه موجود وی چی په خپل هیواد کی په منظمه توګه نظریاتی احصائیه په لاره واچوی، نو د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی هغوی قانع کړی ترڅو په خپلو څیړنو او نظریاتی پوښتنو کی امنیتی موضوعاتو ته هم ځای ورکړی. د بیلګي په توګه، د روسیی د عامه نظریاتی څیړنیز مرکز (چی په خپل روسی مخفف VTsIOM هم مشهور دی) په منظمه توګه په خپلو څیړنو کی د امنیت او د امنیتی اړوند موضوعاتو په هکله پوښتنی کوی.[40]

نظریاتی سروی ډېر په زړپوری معلومات وړاندی کوی، خو هغه په تفصیل او جزئیاتو سره د یوی ځانګړی موضوع په هکله د خلکو دریځ او د هغوی د پوهی او معلوماتو سطح څرګندولای نه شی. هغه ډلی چی په خاصو موضوعاتو باندی څیړنه کوی اوپه انګریزی اصطلاح ورته Focus ډلی هم وایی کولای شی چی دغه خلاء ډکه کړی. دوی کولای شی چی له یوی کوچنی ډلی سره په پوره تفصیل او جزئیاتو بحث او خبری وکړی. دوی همداراز د لړکیو او متخصصو ډلو سره د نظریاتو د معلومولو لپاره هم ګټور دی. په انترنتی پانه یا Online د موجودو هدف وړ ډلو په هکله د معلوماتو د لاس ته راوړولو لپاره بیشمیره عمومی لاربښونی شته دی.[41] د یادونی وړ ده، چی په ځینو شرایطو کی دا لازمه ده چی اړین تاوان د هدف وړ ډلو ګډونکو ته تحویل شی، خو دا باید په عمومی توګه د مخنیوی وړ وی.[42]

[40] VTsIOM's website publishes a wealth of information about public opnions of safety and security:http://wciom.ru/

[41]- د هغو کسانو لباره چي غواړي په Online کی د فوکس یا هدف وړ ډلو د متودلوژیو په اړه ډېر زیاته مطالعه وکړی، د پیل ښه ټکی د Kansas پوهنتون د ټولنی لاربښونی دی: http://www.managementhelp.org/evaluatn/focusgrp.htm

[42]- کله چی د هدف وړ ډلی له امنیتی لحاظه کمزورو ساحو کی وساتل شی، نو ښایی لازمه وی چی تاوان ورکړای شی تر څو ګډونکی هغو ساحو ته سفر وکړای شی چی د هدف وړ ډلی ساتل شوی دی. او همداراز هغوی د خپل عادی ورځنی ژوند له بهیر څخه لیری نه کړای شی. پرته له دی باید د دی کار مخنیوی وشی څکه د دی خطر موجود دی چی ګډون کونکی ښایی یواځی د پیسو د تر لاسه کولو لپاره علاقه ولری نه د خپل رښتینی نظر څرګندولو لپاره. په حقیقت کی که چیری ګډونکی یواځی د پیسو په خاطر کار وکړی، هغه لازم نتایج لاس ته نه راځی چی ورته کار کیږی. که چیری د پیسو ورکړه د مخنیوی وړ نه وی، باید هغه لږ تر لږه محدود کړای شی او د ځای شرایط په پام کی ونیول شی.

## ۳- ۴ چوکاټ
## ډولونه او د دفتری څیړنی لپاره سرچینی او معلومات

د معلوماتو ډولونه

- **د پالیسی اسناد:** ملی امنیتی طرحی؛ اساسی اسناد؛ وزارت او پرمختیایی ستراتیژی اسناد.
- **رسمی بیانونه او رپوټونه:** د چاراوکو او پارلمانی استازو بیانونه؛ د حکومت د ادارو لخوا رپوټونه او احصائیی.
- **د رسنیو رپوټونه:** اړوندی مقالی په مطبوعاتو کی، راډیو او تلویزیون.
- **تحلیلی مطالعات:** د مدنی ټولنی د سازمانونو پخوانی څیړنی، نړیوال ارګانونه، علمی او داسی نور.
- **نظریاتی سروی:** نوری ټولنیزی سروی کیدای شی چی موجودی وی او د امنیت اړوند پوښتنی مطرح کړی.

د معلوماتو سرچینی

- **انټرنټ:** د دفتری څیړنی او تحلیل لپاره معلومات کیدای شی چی د پلټنی د ماشین او ویب سایټونو له لاری ممکن وګرځی. خو انټرنټ باید د معلوماتو د لټولو یواځنی ځای نه وی.
- **آنلاین بنسټیز اطلاعات:** د آنلاین بیلابیل بنسټیز اطلاعات یا Databases وجود لری چی اړوند احصائیی او رپوټونه سره یو ځای کوی. د ستاکهلم د سولی نړیوال تحقیقاتی انستیتوت (SIPRI) ځو بنسټیز اطلاعات لری:

  http://www.sipri.org/content/webmaster/databases.

په پولیسی چارو کی د بریتانیا یوه انټرنتی پاڼه د پولیسو د اصلاحاتو په هکله یوه Database لری: http://www.communityengegement.police.uk/index.php?url=erms.htm

- **کتابتون:** ډیری رپوټونه او څیړنیزی مقالی لا تراوسه د کاغذ پر مخ چاپیږی. په پوهنتونونو او نړیوالو انستیتوتونو کی کتابتونه بنایی په ځانګړی توګه ګټور تمام شی. د مدنی ټولنی سازمانونه خپل اړوند کتابتونه جوړوی.
- **شخصی تماس:** نور خلک (په خاصه توګه د څیړنی د پروژو په وخت کی) کولای شی ووایی چی کوم معلومات موجود دی او چیرته موندلای شی.

هغه تأسیسات چی له اړوندو اطلاعاتو سره اړیکه لری.

- سیمه ایز و ملی حکومتونه
- پولیس
- قاضیان او څارنوالان
- بندیان
- خصوصی امنیتی شرکتونه، د موټرو محافظین او امنیتی محافظین
- هغه سازمانونه چی د بیلګی په توګه د جنسیت اړوند زورزیاتیو ته ځواب وایی
- ټولنیز کارګران، قانونی مشاورین، ځایی جراح ډاکتران او نور ډاکتران
- روغتونونه او کلینیکونه
- ښوونځی او تجارتی مؤسسی
- ملکی سازمانونه او صنفی اتحادیی

- د بیمی شرکتونه او بانکونه
- شوراګانی

## د څیړنې میتودولوجی

د څیړنی میتودلوجی هغه یوه پروسه ده چی یو سازمان تصمیم نیسی چی کوم معلومات یی پکار دی، هغه څرنګه لاس ته راوړای شی، هغه څرنګه تحلیل کړی او نتایج څرنګه وړاندی کړی. د امنیت اړوند په ډیرو ډولونو او موضوعاتو کی غوره ده چی موجودو میتودولوژیو ته اشاره وشی.

ځینی وختونه دغه میتودولوجی ګانی په ښکاره توګه نومول شوی او لیکل شوی دی. دلته بنایی لږ څه سخته وی چی د بی شمیرو امنیتی وړ موضوعاتو لپاره د څیړنی د میتودلوجیو یو بشپړ او هراړخیز فهرست وړاندی شی، خو د څیړنی امکان شته دی. یو سند چی بنایی دامنیتی سکتور د حکومتوالی اړوند څیړونو لپاره د یادونی وړ وی، د «امنیتی سکتور د دیموکراتیکی حکومتوالی پیاوړی کول» په نامه یادیږی: د تأسیساتی ارزونی د کار چوکاټ دغه سند د Clingendael Institute لخوا د هالند د بهرنیو چارو وزارت لپاره چمتو کړای شو.[43] دا میتود تر زیاتی کچی د مرسته کونکو او حکومتی قراردادی څیړونکو لپاره لیکل شوی نه د خپلواکو مدنی ټولنی سازمانونو لپاره. خو هغه ډیر مفصل دی او په یو دولت کی د امنیتی سکتور د چارچلند د کیفیت د ارزونی لپاره ټوله پروسه بیانوی: کومی پوښتنی باید عنوان شی؛ کوم معلومات باید لاس ته راشی؛ ریسرچ باید څه ډول ولیکل شی او وړاندی شی. هغه باید په هر هیواد کی د مدنی ټولنی د سازمانونو له غوښتنو او خاصو حالتونو سره سمون ولری، خو دا چی د امنیتی سکتور اړوند چارچلندونو په هکله څرنګه څیړنه وکړای شی، هغه ډیری ګټوری لارښونی وړاندی کوی.

البته دا هم کیدای شی چی د ډیرو دقیقو موضوعاتو لپاره نوری میتودلوجی ګانی وموندل شی. ښه مثال په دی اړه «د کوچنیو او سپکو وسلو د سروی پروتوکولونه» دی چی د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام د اداری (UNDP) لپاره لیکل شوی دی. دغه سندونه په دی هکله چی څرنګه په یو هیواد کی د کوچنیو وسلو په اړه یوه هراړخیزه څیړنه سرته ورسول شی، ډیری ښیی لار ښونی لری او لا مخکی یی د کوچنیو وسلو د څیړونو پروژی د عمل په ډګر کی پلی کړی دی، په خاصه توګه په جنوب ختیځی اروپا کی.[44] دغه راز ډیر ښه نور پروتوکولونه موجود دی چی څرنګه د ځمکنیو مینونو اغیزی وڅیړل شی، دغو پروتوکولونو سره یو شمیر نورو مشورتی سندونه او معیارونه ضمیمه شوی دی. د غیرحکومتی سازمانونو یو ائتلاف د ملګرو ملتونو د مینونو د عمل ضد اداری په همکاری دغه لارښوونکی سندونه طرحه او وړاندی کړی دی او د ځمکنیو مینونو د اغیزو سروی د نړی په یو شمیر هیود ادونو کی عملی کړای شوی او یا د عملی کیدو په حال کی دی.[45]

---

[43] Ball, Nicole, Tsjeard Gouta and Luc Van de Goor, Enhancing Democratic Governance of the Security Sector: An Institutional Assessment Framwork, Clingendael Institute, Amsterdam, 2003.
د نوموړی انستیتوت دغه او نور نشرات کولای شی په دغی پاڼي کی هم ومومی:
http://www.clingendael.nl/cscp/publications/occasional-papers/

[44] SEESAC,SALW Survy Protocols 1-5, Small Arms Survy,Geneva, 2004-2007, available online at http://www.org/index.php?content=41&section=6

[45]- نور زیات معلومات کولای شی چی د Survey Action Center په انترنتی پاڼی کی هم پیدا کړی:
http://www.sac-na.org/resources.html

خو په ډېرو حالاتو کې د څېړنې کومه فورمول شوې میتودلوجي وجود نه لري. سره له دې هم، د مختلفو څېړنیز رپوټونو ته له کتنې سره سړی مونډلای شي چې څرنګه د یوې خاصې موضوع لپاره د څېړنې یوه ښه مفکوره پیدا کړي. ډېرې ښه څېړنیز رپوټونه په لومړي سر کې وایي چې هغوی له څرنګه میتود څخه کار اخیستی دی. اکثر سړی کولای شي چې د څېړنیز رپوټونو له لوستلو څخه د څېړنې لپاره الهام واخلي؛ د یوې څېړنې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د هدفونو، پوښتنو او د وړاندې کولو د شکل د سمونوالی سره سړی باید دا یقیني کړي چې د څېړنې میتودولوجي له ګوډو او ماتو چلندونو څخه لاس ته نه راځي.

## د څېړنې تمویل

د مدنې ټولنې سازمانونه ناچار مالي سرچینو ته اړتیا لري ترڅوڅېړنې په لاره واچوي. د مالي سرچینو مونډل یو ډېر سخت کار او ستره ننګونه ده، فرق نه کوي چې هغوی په څه ډول یوې موضوع باندې څېړنه کوي، په خاصه توګه د امنیتي سکټور حساس طبیعت دا کار نور هم سختوي ځکه ډېرې کسان دې ته زړه نه ښه کوي چې دغه ډول څېړنې تمویل کړي. خو له بلې خوا اوس یو پراخ پوهاوی پیدا شوی چې د امنیتي سکټور چارچلند او کار په اوږده موده کې د یو دولت د پیاوړتیا لپاره خورا اهمیت لري او د مدنې ټولنې د سازمانونو څېړنه کولای شي چې د امنیتي سکټور د چالچند په سمونوالی کې مرسته وکړي. معنی دا چې ورو ورو په دې برخه کې د مالي سرچینو مونډل آسانه کیږي.

په عمل کې د مدنې ټولنې سازمانونه ښایي توان ونه لري چې د خپلو غړو او یا د آزادو بسپنو له لارې خپلې پروژې تمویل کړي. هغوی مجبوره دي چې په سترو بسپنه ورکونکو تأسیساتو باندې تکیه وکړي، لکه: د خپل هیواد حکومت، نړیوال سازمانونه (ملګرې ملتونه، په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان، د اروپا اتحادیه)، دوه اړخیزه نړیوال بسپنه کونکي (سفارتونه)، تجارتي مؤسسې، شخصي افراد، خیریه مؤسسې او نړیوال غیرحکومتي سازمانونه. نړیوال غیرحکومتي سازمانونه ډېرې وخت غوره ګڼي له سیمه ایزو او ځایي مدنې ټولنې سازمانونو سره په مشارکت کې کار وکړي، نسبت ودې ته چې هغو ته پیسې ورکړي. خو بیاهم هغوی د دوو دلیلونو له مخې دوه غوره لارې چارې په مخکې لري. لومړی دا چې هغوی د مالي سرچینو د مونډولو لپاره ښه معلومات لري او له بسپنه کونکو سره ډېرې ښې اړیکې لري. دوهم دا چې هغوی د څېړنو په مختلفو ساحو کې له ښوو کارپوهانو څخه برخمن دي چې کولای شي د ځایي مدنې ټولنې سازمانونو کیفیت پیاوړی کړي او هغوی ته غټ اعتبار وکړي.

د هر چا لخوا چې د مدنې ټولنې یو سازمان تمویل کیږي، د هغه لپاره باید مهمه دا وي چې هم د بسپنه کونکي د انتظاراتو له لحاظه او هم د ځینو بسپنه کونکو سره د همکارۍ له امله د هغه حیثیت ته د اغیزمن کیدو له لحاظه د زړه له کومې یا په اصطلاح وجداني وي. د بیلګې په توګه، په ځینو هیوادونو کې کله چې یوه څېړنه د نړیوالو بسپنه کونکو لخوا تمویلیږي، هغه ته د شک او تردید په سترګه کتل کیږي؛ بالمقابل په ډېرو هیوادونو کې خلک ښایي د هغې یو څېړنې په ناپلویتوب باور ونه کړي چې یوازې د حکومت لخوا تمویل شوې وي. د داسې یو ستونزې حل کول یوه ستر ننګونه ده (لاندې مطالعه کړئ). د یوعمومي چلند په توګه د مدنې ټولنې سازمانونه باید دمختلفو منابعو لخوا تمویل شي: څومره چې د تمویل منابع سره مختلفې او زیاتې وي، هومره د بسپنه کونکو لپاره سخته ده چې د مدنې ټولنې یو سازمان تر فشار لاندې ونیسي او سربیره پر دې د مدنې ټولنې سازمانونه توان پیدا کوي چې په څېړنو کې خپل خپلواکتوب او ناپلویتوب خوندي وساتي.

د څېړنې لپاره د مالي منابعو راجلبول یوازې دا نه ده چې د یوې پروژې لپاره یو څو وړاندیزونه ولیکل شي. له احتمالي بسپنه کونکو سره په شخصي توګه لیدنه کتنه په دې مقصد تر څو ورته روښانه کړای

شي چي ولي اړوند سازمان په یوي مشخصي موضوع باندي څېړنه کوي، خورا اهمیت لري. د مدني ټولني سازمانونه باید د خپلي څېړني له بیلابیلو برخه والو سره مخکي له دي چي په کار پیل کړي، تماس ونیسي. د مالي مرستي ترلاسه کول به ډېر آسانه شي که چیري د مدني ټولني یو سازمان وکړای شي چي وښیي هغه خلک چي د هغه له څېړني څخه اغیزمن شوي د هغوي له پیشنهاد شوي موضوع سره لیوالتیا لري. په پای کي د مدني ټولني سازمان باید په آساني سره له خپل هدف څخه لاس وانخلي: البته دا تل آسانه کار نه دی، خو د څېړني یوډېر ښه وړاندیز کابو تل له ملاتړ څخه برخمن کیږي.

## د یوي څېړني په وړاندي احتمالي ستونزي

د امنیتي اړوندو موضوعاتو په هکله څېړنه کیدای شي چي ډېر پیچلي او ښایي هم له خطرونو سره جوخت عملیات وي. امنیت د دولت د ډېرو مهمو ارګانونو له جملي څخه دی او له سنتي لحاظه هغه یوه ساحه چي ډېر شفافیت په کي نه لیدل کیږي. د څرګندو دلایلو له امله دا یوه ډېره حساسه ساحه ده او د امنیتي سکتور ځیني برخي تل تر تله محرم پاتي کیږي. د امنیتي سکتور ځیني لوبغاړي د ملکي لوبغاړو په واسطه د امنیتي موضوعاتو د څېړني او د دیموکراتیکي څارني د مفکوري په وړاندي شک او تردید لري. دا کیدای شي چي د مدني ټولني د سازمانونو لپاره د تحلیل او د معلوماتو د وړاندي کولو پروسه سخته کړي. دغي ورستي برخي ځیني ستونزي او خطرونه چي کیدای شي د امنیتي سکتور د څېړني په وخت کي را منځ ته شي، په پام کي نیولي دي:

## د ناپلویتوب ساتنه

په دغه فصل کي ټینکار پر دي وشو چي څېړنه د عمل لپاره یو بنسټ جوړوي او باید نور فعالیتونه چي په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه پر امنیتي سکتور باندي دیموکراتیکه څارنه پیاوړي کوي، هم په پام کي ونیسي. خو دا سمدلاسه د ناپلویتوب ساتني لپاره ځیني پوښتني پیدا کوي: آیا هغه سازمان چي څېړنه په لاره اچوي په یوي موضوع باندي ټینګ او هر اړخیز نظر اچولي دی، ځکه کیدای شي چي څېړنه د خپلو هدفونو سره سم په لاره واچوي، که څه هم دا د منورو او روښانفکرو کړیو له رښتینوالي سره هیڅکله سمون نه لري.

دا یوائي د مدني ټولني سازمانونه نه دي چي کولای شي «داخلي تعصب او دوه اړخیزه قضاوت» څرګند کړي. ځیني نور لوبغاړي هم شته دي چي د مدني ټولني د سازمانونو د څېړني په هکله انتظارات او نظریات لري او ښایي په ښکاره او بربنډه توګه د یوي پروژي ګډودل وغواړي ترڅو خپل هدفونه او ګټي خوندي وساتي. دا په خاصه توګه د دوو ډلو په برخه کي صدق کوي: حکومتي چارواکي او بسپنه کونکي. حکومتي چارواکي اندیښنه لري چي د مدني ټولني د یو سازمان څېړنه ښایي هغوي بد نام کړي او یو ناوړه انځور له هغو څخه وکاږي. دا ښایي د دي سبب شي چي هغوي هڅه وکړي تر څو معلومات په خاصي بڼي وړاندي کړي او هڅه وکړي چي څېړنه تر خپل انحصار لاندي راوړي اویا د هغي مخنیوي وکړي. بسپنه ورکونکي مؤسسات ظاهرا دښمني نه ښکاره کوي، خو هغوي هم مخکي له دي چي د یوي پروژي تمویل په غاړه واخلي، ځیني ځانګړي ګټي په پام کي نیسي او مخکي له مخکي شرایط وړاندي کوي. نو په دي وجه د مدني ټولني سازمانونه دغي مسأله باید په پام کي ونیسي مخکي له دي چي له یوه بسپنه کونکي څخه پیسي ترلاسه کوي.

په ۳- ۵ چوکاټ کي ځیني ګامونه ښودل شوي دي چي د مدني ټولني سازمانونه څرنګه کولای شي په څېړنه کي ناپلویتوب خوندي وساتي. دغه ګامونه باید د پروژي د طرحي له پیل څخه په پام کي ونیول شي.

**۳- ۵ چوکاټ**
**هغه ګامونه چې په څېړنه کې ناپلویتوب خوندی ساتي:**

د بهرنیو څېړونکو استخدام په پام کې ونیسی.
د موضوع په پام کې نیولو سره ښايي غوره وي چې د سازمان څخه بهر د اعتباروړ کارپوه او څېړونکی استخدام شی. دا کیدای شی چې څېړنی ته ستر اعتبار ور په برخه کړی او هم کولای شی چې ستاسو د سازمان په دننه کې د څېړنکو د کمبود په صورت کې د ماهرو او مجربو کارپوهانو د کمبود ستونزی حل کړی.

له منلو شویو نمونه يی څېړنو او میتودولوجیو څخه کار واخلی.
که چیری ستاسو په هیواد کې د یوی موضوع په هکله څېړنه شوی وی، کیدای شی چې د هغی له میتودونو څخه کار واخلی، خو البته هغه له جاری شرایطو سره برابر کړی. دا کولای شی چې د څېرنکو په وجدانی او غیروجدانی مخکی له مخکی قضاوت کی تر یوی کچې نرمښت رامنځ ته کړی او کولای شی چې نورو لوبغاړو ته د څېړنی اعتبار پیاوړی کړی.

د خپلی میتودولوجی په هکله له روښانتیا څخه باید برخمن اوسی.
که چیری تاسی له یوی مخکی له مخکی منل شوی میتودولوجی څخه کار اخلی او یا خپله مو یوه میتود موندلی دی، مهمه دا ده چې د پروژی اسناد او وروستی رپوټ باید ښکاره کړی چې دغه څېړنه په څه ډول سمبال شوی او سرته رسیدلی ده او هم د څېړنی هدف باید روښانه وی؛ څرنګه معلومات لاس ته راغلی دی او ستاسو په تحلیل کی کوم معیارونه په کار لویدلی دی. څومره چې د څېړنی میتودونه او د هغی منطق روښانه وی، هومره د هغی د نتایجو توجیه او استدلال لپاره آسانتیا برابریږی.

**د یوی بهرنی کتنی لپاره موقع چمتو کړی**

له پیل څخه څېړونکی باید یو شمیر کتونکو ته د خپلو موندنو او نتایجو د وړاندی کولو لپاره بندوبست وکړی، مخکی له دی چې هغه په رسمي توګه په چاپ ورسوی. په خاصه توګه څېړونکی باید دولتی چاروکی ته روښانه کړی چې هغوی کولای شی د مسوده شوی رپوټ په هکله یوه کتنه وکړی؛ دا هغوی ته موقع ورکوی چې د ارقامو او اعدادو په اشتباهاتو کی اصلاحات رامنځ ته کړی او تحلیل ته ځواب ورکړی چې د هغوی په نظر هغه غلطه انګیرنه راپیدا کوی او غیرمنصفانه دی. څېړونکی باید ژمنه وکړی چې ټول احصائیوی اشتباهات اصلاح کړی او په دی ټینګار وکړی چې دوی مجبوره نه دی چې خپلی وروستی نتیجی کی بدلون رامنځ ته کړی. دا هم غوره ده چې رپوټ د یو بل چا له خوا هم پری کتنه وشی (د بیلګی په توګه د نورو سازمانونو لخوا یا د نورو پوهانو لخوا). په ډیرو حالاتو کی دا هم غوره ده چې مسوده شوی مسائل د کتنی لپاره بسپنه کونکو ته هم یو ځلی واستول شی.

**د څېړونکو مصونیت ته د جسمی خطرونو ارزونه**

په امنیتی موضوعاتو کی څېړنه کیدای شی چې ډیر حساس وی او کیدای شی ځینی وختونه د هغو کسانو لخوا دښمنی او مخالفت راوپاروی چې نه غواړی په ځینو موضوعاتو کی څېړنه سرته ورسیږی. له بده مرغه، په ځینو حالاتو کی څېړنه کیدای شی له جسمی لحاظه خطرلرونکی وی، څرنګه چې څېړونکو، د هغوی د کورنیو غړو او همکارانو ته ګواښونه وشی. دا اکثر هغه وخت پیښیږی چې څېړونکی په قصدی یا تصادفی توګه د اختلاس او اداری فساد اړوند ساحو سره تماس

ونیسی. د مدنی ټولنی سازمانونه مخکی له دی چی په یوی ساحی کی په څیړنه لاس پوری کوی، باید په ډیر هوښیارتیا سره د خپلو څیړنکو مصونیت د ساتنی لپاره په لازمو اقداماتو لاس پوری کړی. په ډیرو حالاتو کی یوی څیړنی ته باید سمدلاسه خاتمه ورکړای شی، که چیری ګواښ وی. خو کله کله څیړونکی (په خاصه توګه څیړندوی ژورنالستان) ښایی په دی باور وی چی د څیړنی وړ موضوع ډیره مهمه ده او دا ارزښت لری چی ورسره تړلی خطر سړی پر ځان ومنی. خو د مدنی ټولنی سازمانونه باید هیڅکله غیرضروری خطرونه ونه منی او پرته د خپلو همکارانو له خوښی سره هغوی په خطر کی وانچوی. څیړنه باید د راپیدا شوی خطر د یوی ژوری ارزونی څخه وروسته بیرته پیل شی.

## معلوماتو ته لاس رسی

په ډیرو هیوادونو کی په امنیتی سکتور کی د محرمیت او پټ ساتنی یو کلتور لا تر اوسه خوندی پاتی دی او د معلوماتو لاس ته راوړل حتی که چیری د قانونی ژمنو له مخی هغو ته لاس رسی ممکن هم وی، کیدای شی یو ډیر ستونزمن کار وګرځی. په عین ډول له حکومتی چارواکو سره د یوی رغوونکی مرکی لپاره بندوبست ښایی ډیر سخت وی. د امنیتی سکتور چارواکی ډیری وخت مرموز خلک دی او په څیړنه کی د ملکی کسانو په نسبت شک او تردید لری، نو ښایی ونه غواړی چی خپل معلومات د مدنی ټولنی سازمانونو ته نه په لیکل شوی توګه او نه هم د مرکو له لاری بربنډ کړی. پر دغو ستونزو باندی د لاس برتوب لپاره څیړونکی باید د دولت له چارواکو سره د خبرو او مفاهمی لپاره له رسمی او غیر رسمی چینلونو څخه کار واخلی.

په رسمی سطح څیړونکی باید اعظمی کوشش وکړی ترڅو ښکاره کړی چی دوی ښه نیت او مقصد لری او چمتو دی تر څو له مقرراتو او چالچلند سره سم عمل وکړی. د څیړنی په سر کی اړوندو وزارتونو او ادارو ته باید مکتوبونه واستول شی او په هغو کی د خپلو څیړونو هدفونه روښانه کړی او له هغو سره د همکاری چمتوالی ښکاره کړی. له هغی وروسته کیدای شی چی د معلوماتو د لاس ته راوړلو او یا مرکو لپاره هغوی ته کتبی خبرتیا ورکړای شی. مهمه دا ده کله چی حکومتی چارواکی د څیړنی له تیم سره همکاری پیل کړی، له هغوی څخه مننه وشی او د همکاری ستاینه یی وشی.

خو له بده مرغه په ځینو حالاتو کی رسمی اقدام محدود بریالیتوب لاس ته راوړی. کیدای شی چی له چارواکو څخه داسی ژر ځواب تر لاسه نه کړای شی او د څیړنی پروسه له ځنډه سره مخاخ شی. ځینی وختونه رسمی چارواکی قصداً په دی کار لاس پوری کوی، ځینی وختونه نور داسی هم کیږی چی د اړوندو معلوماتو او یا د یوی مرکی لپاره غوښتنه د بیروکراسیو په لومو کی بنده پاتی شی. په داسی حالاتو کی غیررسمی تماس ډیر اغیزمن ثابت شوی دی. یو سازمان کیدای شی چی د امنیتی سکتور له چارواکو سره د یوی پخوانی پروژی او نورو داسی لارو چارو له لاری پیژندګلوی پیدا کړی. اکثر دا ډول اقدام د شخصی تماسونو له لاری اغیزمن تمامیږی. له دی لاری سړی کولای شی چی په آسانی سره له خپل ارتباطی آشنا سړی سره اړیکه ونیسی او له هغه څخه د معلوماتو او یا یوی مرکی لپاره غوښتنه وشی او تری مرسته وغوښتله شی. هغه پیژندګلوی چی دغه سازمان یی له رسمی چینلونو سره د تماس نیولو لپاره د مرستی په توګه استعمالوی، چارواکو ته داډ ورکوی چی دغه سازمان سره مرسته دوی له ستونزو سره نه مخامخوی.

که چیری یو سازمان له یو مهم معلومات ورکونکی سره د مرکی  په ترلاسه کولو کی بریالی شی، بیاهم کیدای شی چی د امنیتی سکتور چارواکی د څیړونکو په وړاندی له ډیر احتیاط څخه کار واخلی. دغه ډول شک او تردید هغه وخت نور هم زیاتیږی چی امنیتی چارواکی څیړونکو او یا ژورنالستانو ته

د معلوماتو په ورکړه کې پخوا خرابه تجربه کړې وي او د هغوی له معلوماتو ناوړه استفاده شوې وي. په همدې وجه د مدني ټولنې سازمانونه باید د خپلو هدفونو او میتودونو په برخه کې شفافیت ولري او ټینګار وکړي چې د امنیتي سکتور چارواکي کولای شي مخکې له دې چې دغه رپوټ خپور شي، هغه باندې یو ځل کتنه وکړي. د مدني ټولنې سازمانونه او څېړونکي باید له هغه چا سره چې مرکه کوي پوښتنه وکړي چې آیا کولای شي د هغه خبرې ثبت کړي او له هغه څخه نقل قول وکړي، آیا غواړي چې هویت یې بربنډ شي او که د خپل هویت د نه بربنډولو په شرط خبرې کوي او یا هیڅ نه غواړي چې ورکړ شوې معلومات خپاره شي، په دې ټولو حالاتو کې د مرکې د اړخ غوښتنو ته باید درناوی وشي. (۳- ۶ چوکاټ ووینې)

خو ځینې وختونه د مدني ټولنې سازمانونه باید دا ومني چې نه شي کولای لازم معلومات لاس ته راوړي. دا حتمي نه ده چې د یوې نیمګړتیا ویندویې وکړي، بلکه کیدای شي چې د شفافیت او څارنې سره د ستونزو د ښودلو لپاره یوه ښه مرسته وي. د مدني ټولنې سازمانونه باید وښیې چې دوی ټولې لازمې هڅې کړې دي تر څو اړوند معلومات لاس ته راوړي.

که چیرې د مدني ټولنې سازمانونه دا توان پیدا نه کړي چې دا کار وکړي، نو په خپل وروستي رپوټ کې باید تری یادونه وکړي.[46] دلته په نورو هیوادونو کې د شفافیت له سطحې سره پرتله کول هم ډیر ګټور تمامیږي (البته که چیرې موجود وي): له دې لارې سړی کولای شي چې ښکاره کړي په نورو هیوادونو کې په دې موضوع کې پراخه پرانیستي او همکاري وجود لري اوله دې لارې کیدای شي چې حکومتي چارواکي تشویق شي دغه ډول همکاري په راتلونکې کې وکړي.

**۳- ۶ چوکاټ**
**د حساسو معلومات ورکونکو کسانو سره مرکې**

ډیرې مرکه کونکې ښایي خوښ وي چې د هغوی موضوع په هکله چې تاسې پرې څېړنه کوی، وغږیږي او خبرې یې ثبت شي او د هغوی نوم د اخیستلو سره تری نقل قول وشي یا د دوی له نظر او فکر څخه یادونه وشي. خو د امنیتي سکتور د حساسو مسائلو په اړه داسې یو څه تل امکان نه لري.

مختلفې لارې وجود لري چې له مهمو معلومات ورکونکو څخه څرنګه معلومات لاس ته راشي:
- **بشپړ اعتراف:** چیرته چې دوی خوښ دي چې تری نقل قول وشي، د بیلګې په توګه «له دفاع وزیر، A.Jedermann سره مرکه د ۲۰۰۷ کال د اکتوبر په ۲۲»
- **د هویت نه بربنډول،** خو د مسلکي تجربې ځینې معلومات ورکول: په داسې حال کې چې د هغوی خوښیږي چې د هغو له معلوماتو څخه نقل قول وشي او تقریبي سرچینې ښکاره کړي، خو نه یې خوښیږي چې د هغوی نوم واخیستل شي، د بیلګې په توګه «د دفاع وزارت له یو چارواکي سره مرکه، د ۲۰۰۷ کال اکتوبر.»
- **په بشپړه توګه پټ پاتې کیدل:** داپه داسې حال کې ده چې تاسې باید له ټولو امکاناتو څخه کار واخلي ترڅو د هغوی هویت پټ وساتل شي، د بیلګې په توګه د هویت د نه بربنډولو په شرط مرکه، د ۲۰۰۷ کال د اکتوبر میاشت».

په یاد ولرئ چې د خپلې خوښې مرکه معمولاً تاریخ ولري، خو مجهول الهویه مرکه کې کومه مشخصه نیټه نه ښودله کیږي، خو دا د دې امکان برابروي چې تاسې د معلوماتو سرچینه ښکاره کړي.

[46]- ځینې حالات شته دي چې غوره نه ده ترڅو دې ته زیات پام واړول شي چې یوه سازمان ته له معلومات ورکولو څخه ډډه شوې ده، ځکه دا کیدای شي چې د سازمان حیثیت او اعتبار او په اوږده موده کې نورو اړیکو ته تاوان ورسوي. دا باید یواځې ځینې ځانګړو حالاتو کې وشي.

البته دا د معلوماتو حساسیت پوری هم اړه لری چی آیا لازمه ده تر څو د معلوماتو سرچینه بربنده شی که نه، حتی که په شخصی توګه تاسی د مرکی یادداشت هم وکړی.

مهمه دا ده چی آن له پیل څخه هغه شرایط چمتو کړای شی د هغو له مخی یوه مرکه صورت مومی. تاسی باید تصمیم ونیسی چی ستاسو مرکه څرنګه په لاره واچوله شی، حتی مخکی له دی چی له معلومات ورکونکی سره تماس ونیول شی. د ځینو ځیرنیزو حساسو پروژه لپاره ښایی ښه به وی چی د سرچینی نوم وانخیستل شی. دا حالتونه مختلف دی، ځینی غوره ګڼی چی خبری ثبت شی او نومونه یی هم واخیستل شی، او ځینی نور له دی سره مخالف دی. دا هم په پام کی ونیسی چی آیا معلومات ورکونکی په رسمی توګه تاسی سره خبری کوی او که غیر رسمی، تاسی کولای شی چی هغه سره په لومړی تماس کی روښانه کړی چی حتمی نه ده چی د خپل رسمی مقام په چوکاټ کی دغه معلومات ورکړی.

په ځینی حالاتو کی معلومات ورکونکی تاسو ته اجازه درکوی چی مرکه یی ثبت کړی. دا کار په دی وجه هم ګټور دی چی تاسی ثبت شوی معلومات په اختیار کی لری تر څو هغه په صحیح توګه تفسیر، تحلیل او وړاندی یی کړی. خو د ډیرو حساسو مرکو لپاره دا کار البته ښایی ممکن نه وی. په ځینو حالاتو کی ښایی تاسو ته اجازه وی چی ځان سره یاداشت ونیسی خو کیدای شی چی حتی دا هم د منلو وړ نه وی. نو په دی وجه تاسی باید سمدلاسه له مرکی څخه وروسته (پرته له دی چی سرچینه یی بربنده کړی) ځان سره د غونډی یاداشت ونیسی او هغه معلومات چی تاسی په دی غونډه کی لاس ته راوړی دی باید په صحیح توګه په یاد کی وساتی ترڅو د هغو له مخی خپل رپوټ ولیکی.

په ځینو حالاتو کی مهم معلومات ورکونکی ښایی تاسو ته یو څه معلومات درکړی ترڅو په یو څه باندی پوه شی خو ښایی له تاسی څخه غوښتنه وکړی چی هغه په هیڅ صورت خپاره نه کړی. **تل د معلومات ورکونکی غوښتنی ته درناوی ولری.**

## د ځیرنی وړاندی کول

د مدنی ټولنی د سازمانونو په وړاندی وروستی ننګونی هغه وخت رامنځ ته کیږی چی دوی خپلی ځیرنی په چاپ رسوی او خپروی یی. هغه یوه ځیرنه هیڅ وخت د ارزښت وړ نه ده چی اصلی خلک (د بیلګی په توګه ستر تصمیم نیونکی، عامه خلک، د پولیسو مشر او داسی نور) هغه ونه لولی او یا تری خبر نه وی. د خواشینی خبره خو دا ده چی د مدنی ټولنی د سازمانونو یو ډیر ښه مدلل ځیرنه ښایی بیواځی په دی وجه بی اغیزه پاتی شی چی نتایج یی په سمه توګه خپاره نه شی. دا د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره خورا اهمیت لری چی په ټوله پروسه کی د هدف وړ ډلو څخه خبرتیا ولری: باید په دی هکله فکر وکړی چی څرنګه امکان لری په خپلی ځیرنی کی موندل شویو حقایقو ته پام واړول شی. په بریالیتوب سره د ځیرنی موندل شویو حقایقو ته د پام اړونی لپاره پوره زیار او زحمت او په کافی امکاناتو (پیسو، پرسونل، وخت او د اړیکو لست) ته اړتیا لیدله کیږی. په دی وجه د مدنی ټولنی سازمانونه باید د ځیرنی د طرحی په سر کی د هغی د خپرولو ستراتیژی هم جوړه کړی او ډاډ ورکړی چی د ځیرنی له بشپړیدو سره دغه ستراتیژی هم بشپړه کیږی، نه دا چی له ځیرنی وروسته دا کار وکړی. د خپرولو د ستراتیژی له درلودلو سره یوه ځیرنه کیدای شی چی سمدلاسه چاپ او خپره شی. ډیری وخت مناسب دی چی یوه ځیرنه د یوی پیښی سره د وخت له لحاظه جوخت خپره شی تر څو د خلکو زیات پام ورته واړول شی.

څرنګه چې په تیرو کرښو کې یادونه وشوه، غوره ده هغه کسان چې د څیړنې په وخت کې ورسره لیدل شوي دي، د رپوټ د ورستي نتیجې څخه با خبره وساتل شي. د مدني ټولنې سازمانونه معمولاً غواړي چې مهم معلومات ورکونکي (په خاصه توګه حکومتي چارواکي) دا حق ولري چې په څېړنو باندې له خپریدو مخکې تبصره وکړي، خو دا حق نه لري چې هغه ویټو کړي. دا کار دوه ګټې لري: یو دا چې د څیړنې په موندل شویو نتایجو کې که چیرې اشتباهات موجود وي، اصلاح کړای شي او دوهم دا چې هغو کسانو سره تماس ټینګ وساتل شي چې په څیړنه کې برخه اخیستې ده، خصوصاً له هغو څخه غوښتنه وشي تر څود مدني ټولنې د یو سازمان په څیړنه باندې تبصره وکړي. له دې لحاظه نو ډیر زیات امکان شته دی چې هغوی دغه رپوټ ولولي. دا د هغو ډلو او ټولنو په برخه کې هم د تطبیق وړ دي چې دوی له هغو څخه استازیتوب کوي، په خاصه توګه چې د مدني ټولنې یو سازمان د لړکیو یا تجرید شویو یا حاشیوي ډلو د نظریاتو د پوهیدو په لټه کې شي، ډیري وخت دغه ډلې د څیړنو له نتایجو څخه نه خبریږي. دا ښایي د هغوی د قهر او غوصې سبب وګرځي اوهغوی ونه غواړي چې په راتلونکو څیړنو کې ګډون وکړي.

همداراز دا هم اړینه ده چې سړی په لړکیو او په رپوټ پوری د اړوند کارپوهو ډلو په شمول د یوې څیړنې د اغیزو وړاندوینه وکړای شي. یوه څیړنه کیدای شي چې شخړه ایز وي او له مهمو لوبغاړو سره اړیکې تاوانی کړي او یا د یو سازمان شهرت ته تاوان ورسوي. کله چې د مدني ټولنې سازمانونه د امنیتي سکتور په هکله څیړنه کوي، هغوی اکثر مجبوره دي چې د واقعیت او سیاسي غوره توب او ګټې ترمنځ یو ډیره نری کرښه وکاږي. د مدني ټولنې سازمانونو هدف باید تل دا وي چې تر کومه ځایه چې امکان ولري باید واقعیت په پام کې ونیسي، ځکه دغه ډول څیړنه باید د لوړې کچې کیفیت څخه برخمن وي او په اوږده موده کې ستره اغیزه ولري. کله چې یوه څیړنه په ښکاره توګه حکومت-پلوی وي، نور لوبغاړي سمدلاسه د مدني ټولنې د سازمان خپلواکتوب ترپوښتنې لاندې نیسي اودا په ټولنه کې د هغه پاینت ته تاوان رسوي. په عین سویه، که چیرې د حکومت یا د امنیتي سکتور د کوم لوبغاړي پر ضد تمایل ښکاره کړي، دا هم ښایي د هغو لخوا د یو سخت غبرګون لامل وګرځي. دا ښایي له حکومت سره په اوږده موده کې د مدني ټولنې د سازمان اړیکو ته تاوان ورسوي، سربیره پر دې نورو پروژو ته ګواښ پیدا کړي او په راتلونکې کې پر تصمیم نیونکو باندې د نفوذمنولو چانس کمزوری کړي. حتی که چیرې یو سازمان ډاډه وي چې د هغه څیړنه په بشپړه توګه ناپلوی ده، بیاهم سیاسي هوښیارتیا ایجاب کوي چې هغه څرنګه وړاندې شي ترڅو په اصطلاح «د سترو مشتریانو» د تجرید خطر کم کړای شي. دا په رپوټ او سیاسي وضعیت پوری تړاو لري، کوم کې چې یو سازمان عمل کوي؛ ټینګار باید پر دې وي چې رپوټ څرنګه وړاندې شي او له عواقبو سره لاس او پنجه نرمه شي، نه دا چې د ځینو کړیو د ګټو د خوندي ساتنې لپاره هغه له سره ولیکل شي. څیړونکي باید له دې خطر څخه هم خبرتیا ولري چې ډله ایزې رسنې، حکومتي چارواکي او نور لوبغاړي کیدای شي چې د څیړنې له نتایجو څخه په خپله ګټه کار واخلي او قصداً یا سهواً له نتایجو څخه ناوړه استفاده وکړي یا هغه غلط تعریف او تفسیر وکړي. هغه رپوټونه چې امنیتي موضوعاتو پورې اړه نیسي ښایي په خاصه توګه د خپل حساستوب او سیاسي حساسیت له امله د داسې ناوړه استفادې لپاره جوړ وي. یو ځل بیا د یادونې وړ ده چې ډیره سخته ښکاري چې د مختلفو لوبغاړو د غبرګون وړاندوینه وشي، خو څیړونکي باید له سیاسي اوضاع څخه خبر وي او هڅه وکړي خپل کار په داسې یو ډول سره ولیکي چې څرګند وي او سوء تفاهم په کې پیدا نشي. دا مسأله په خاصه توګه د یو رپوټ په لنډیز، نتیجه او سپارښتنه کې په پام کې ونیول شي.

## نتيجه

خپلواکې څېړنيزې پروژې چې د مدني ټولنې د سازمانونو لخوا په لاره اچولې کېږي کولای شي چې د امنيتي سکتور دننګونو په نسبت عامه پوهاوی ژور کړي، د نوو مفکورو وړانديز وکړي، د پاليسيو سپارښتنې وکړي او پر امنيتي سکتور باندې د ديموکراتيکې حکومتوالۍ په پلويتوب د عمل لپاره بنسټ جوړ کړي.

هغه وسايل او ميتولوجي چې په دې فصل کې معرفي شوي دي د مدني ټولنې د هغو سازمانونو لپاره ضروري لارښونې ګڼلې کېږي چې د امنيتي سکتور په برخه کې دڅېړنيزو پروژو په لاره اچولو کې ليوالتيا لري. د مدني ټولنې سازمانونه سربېره پر دې کولای شي چې د څېړنې په مختلفو برخو کې د ظرفيتونو جوړولو سره خپل قوت پياوړی کړي، که هغه ساختماني تحليل دی او که څارنه ده يا عامه نظرياتي سروې. څرنګه چې په تيرو کرښو يادونه وشوه، د کاري ظرفيت د پياوړي کولو يوه ډېره ښه ستراتيژي دا ده چې د نورو مجربو غيرحکومتي مؤسسو او همداراز د مدني ټولنې د سازمانو چې د امنيتي اړوند سکتور موضوعاتو په برخه کې کار کوي د مثالو څخه زده وشي.

په پای کې، د امنيتي سکتور په اصلاحاتو کې د عامه څارنې د سمونوالۍ لپاره د مدني ټولنې د سازمانونو لخوا د څېړنيزو پروژو اغيزې د مدني ټولنې د يو سازمان تشکيلاتي يا سازماني اعتبار، د هغه مسلکي تجربو او د هغه دې توانمندۍ پورې اړه لري ترڅو په اغيزمنه توګه حکومت او عامه وګړي په خپلو فعاليتونو کې ګډ کړي.

### تا سې د مدني ټولنې د يو سازمان په توګه څه کولای شې:

#### د څېړنې يوې ستراتيژۍ ته وده ورکول

- اړوند معلومات راټول کړي
- د امنيتي سکتور څخه پوهه او معلومات پراخ کړي
- د عمل کولو لپاره يو چوکاټ جوړ کړي
- د څېړنې په يوه يا څو ډولونو د څېړنې يوه ستراتيژي طرحه کړي (د معلوماتو راټولول، څارنه، د پاليسي تحليل، «تشکيلاتي تحليل» يا څارنه او ارزونه)

#### د څېړنې په لاره اچول

- د دفتري څېړنې په لاره اچول
- له مهمو معلومات ورکونکو سره مرکه کول
- د ټولن پيژندنې د څېړنې مؤسسې ته د نظرياتي سروې د سرته رسولو دنده ورکول
- په موضوعاتو باندې د بحثونو لپاره د کاري ډلو ګمارل

#### د ناپلويتوب خوندي ساتل

- د بهرنيو څېړنکو د استخدام په پام کې نيول
- د پيژندل شويو نمونو او ميتودلوجيو څخه کار اخيستل
- د خپلې ميتولوجي په هکله روښانتيا ولري
- د بهرنيو کتنو لپاره لاره اواره کوي

**د ځېرنی موندل شویو حقایق اړوندو اړخونو او عام وګړو ته وړاندی کړی**

- کله چې د ځېړنې لپاره طرح جوړوی، د ځیړنی د نتایجو د خپرولو لپاره هم ستراتیژی جوړه کړی
- په کافی اندازی منابع تأمین کړی (روپی، پرسنول، وخت، د تماسونو فهرست او داسی نور)
- له هغو کسانو سره چې د ځیړنی په وخت کی تاسو لیدنی کتنی کوی، هغوی د وروستی رپوټ په هکله خبر کړی
- مهمی اغیزی چې ستاسو ځیړنه ښایی ولری، پیشبینی کړی.

# ۴

# فصل

ALEJANDRA PERO

# د پوهی سطحی لوړول او شبکه یی کار

Alejandra Pero

# ۴

# د پوهی سطحی لوړول او شبکه یی کار

د پوهی د سطحی د لوړلو سره په عامه ذهنیت کی بدلون رامنځ ته کیږی اود معلوماتو په ورکولو سره د یوی موضوع په طبیعی ستونزی باندی لیوالتیا پیدا کیږی او دا چی هغه څرنګه باید حل شی. د پوهی سطح لوړل د یوی موضوع په پلویتوب عامه ملاتړ لمسوی او په دی ډول د سیاسی تصمیم نیونکو په اراده باندی اغیزه کوی. د پوهی سطح لوړل د یوی مدنی ټولنی د پلویتوب د ستراتیژی یوه مهمه برخه ده. له پلویتوب څخه د هغی توپیر دا دی چی د هدف وړ ډله یی عامه ذهینت دی یا ځینی خاصی ټولنیزی ډلی، نه سیاسی تصمیم نیونکی. په عمل کی هغه له پلویتوب سره نژدی تړاو لری، ځکه د هغی وروستی هدف د سیاسی ملاتړ لاس ته راوړل دی تر څو د پالیسی جوړنی پر بهیرنفوذ پیدا کړی او هغی ته شکل ورکړی.

په دی فصل کی پام دی ته اړول شوی چی د مدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی د یو لړ موضوعاتو په هکله چی هدف یی دیموکراتیکه حکومتوالی او غښتلی کول او د امنیتی سکتور شفافیت خوندی ساتل دی، د عامه او ډله ایزو رسنیو د پوهاوی سطح لوړه کړی. دا فصل دمدنی ټولنی د سازمانونو ځینی میتودلوجی او وسایل تشخیصوی او د غوره چارچلندنو مثالونه بیانوی. خاص ټینګار په پروسه کی د ټولنی د ټولو ډلو او پرګنو (ښځی، ځوانان او له پام څخه غورځول شوی ډلی) پر شاملولو باندی شوی دی.

## د پوهی سطح د لوړولو لپاره د ستراتیژی جوړول: اصلی برخی

### د ستونزی تشخیص

که په محلی کچه ده او که په ملی یا نړیواله کچه د پوهی د سطحی د لوړلو د بریالیتوب ریښه د تخصص او محلی معلوماتو پر بنست ولاړی ځیرنی کی نغښتی ده. په عین سویه د یوی اغیزمنی پوهی د سطحی د لوړلو مبارزی لپاره هدفونو اوپرله پسی پیغام ورکونو ته پام اړول بنسټیز اهمیت لری.

**۴- ۱ چوکاټ**
**پیل کول**

د پوهې د سطحې د لوړولود مبارزې د پیل لپاره د مدني ټولنې سازمان باید سم پوه شي چې کوم شی ته رسیدل غواړي (هدف) او څرنګه غواړي چې هغه ته ورسیږي (ستراتیژي). د مدني ټولنې سازمان باید هغه ستونزه چې ورسره د مقابلې تکل لري او د خپل هدف وړ ډله تعریف کړي.
د پلان جوړونې د پروسې په وخت کې څلور مهمې پوښتنې دي چې باید عنوان شي:

**ولې؟** هغې ستونزې پورې اړه نیسي چې هغه یې غواړي ور سره مقابله وکړي.
**څه؟** هغه هدف پورې اړه نیسي چې ټاکل شوی دی (د هدفونو ټاکل).
**څوک؟** د هدف وړ ډلې او نورو لوبغاړو پورې اړه نیسي (ملاتړکونکي، مخالفین او ناپلوی خلک چې کیدای شي ملاتړ کونکي یا مخالفین وګرځي).
**څرنګه؟** ستراتیژۍ پورې اړه نیسي چې هغه غواړي تری کار واخلي.

سرچینه: د آلمان د تخنیکي همکاریو ټولنه (GTZ)، د کوچنیو وسلو پر ضد د عمل لپاره د مدني ټولنې د یو کمپاین بندو بست کول: د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره د لارښونې رساله، ۲۰۰۵، په دغې انټرنتي پاڼه کې موندلای شی:
http://www.gtz.de/de/dokumente/en/-decosac-NGOManual-2005.pdf

## میتودونه

د مدني ټولنو د سازمانونو سیاسي جوړښت او جاري ظرفیت هغو لارو او میتودونو ته شکل ورکوي چې د پوهې د سطحې د لوړولو لپاره تری کار اخیستل کیږي. د دې لارو او میتودونو لمن پراخه ده چې کیدای شي له مستقیم اقدام څخه نیولې لکه د عامه پروګرامونو (سړکونو مظاهرې، لاروهنې، اعتصابونه، د سړک یا په بازار کې تیاتر او ننداری) د سازمان ورکولو څخه نیولې تر له ډله ایزو رسنیو، اشتهارات او عامه پوهاوي پورې. یوه بریالۍ ستراتیژي دا ده چې مختلف پروګرامونه او کمپاین میتودونه سره یو ځای کړي، ځکه دا ټول یو د بل بشپړونکي دي. مخکې له دې چې ستراتیږي د عمل په ډګر کې پلي شي، غوره ده، که چیرې امکان ولري، په پام کې نیول شوي میتودونه د هدف وړ ډلو په یو کوچنې شمیر باندې امتحان شي.

## مشارکت او د شبکه یی کار لپاره بندو بست

د مدني ټولنې د سازمانونو تر منځ د مشارکت پیاوړي کول او شمال/جنوب، جنوب/جنوب یا ختیځ/ختیځ ائتلافونو جوړول د پوهې د سطحې د لوړولو کمپاینونه غښتلي کوي. نړیوال غیرحکومتي سازمانونه د سیمې او ولس په سطح د مستقرو غښتلو سازمانونو له کار څخه ګټه ترلاسه کولای شي: د بیلګې په توګه د بشري حقونو د څارنې سازمان (Human Rights Watch) په جنوب کې د بشري حقونو له سازمانونو سره ډیر نژدې مشارکت لري. هغه له دغو شریکانو سره په فعاله توګه ګډ کار کوي تر څو د بشري حقونو د سرغړونو په هکله شواهد او اسناد راټول کړي، د بدلون لپاره د ستراتیژۍ مشوره ورکړي او ډاډ ورکړي چې سیمه ایز اندیښنو ته غوږ نیول کیږي او نړیواله ټولنه هغو ته ځواب لپاره په عمل لاس پورې کوي. د دغه مشارکت او ګډ کار له لارې د مدني ټولنې ځایي او ملي سازمانونه

کولای شی چی د ولس په سطح خپل نفوذ زیات کړی. په نړیواله سطح د یو اتحاد د جوړیدو لارو چارو باندی د کتاب په دیارلسم فصل کی بحث شوی دی.

**۴- ۲ چوکاټ**

**د ائتلافونو او شبکه یی کارونو لپاره ځینی مشوری**

۱- خپل لنډ موده ایز او اوږد موده ایز هدفونه تعریف کړی او داډ لاس ته راوړی چی د شریکانو ترمنځ پری موافقت شوی دی. د یو ائتلاف د جوړیدو سره تر ټولو مهمه خبره دا ده چی ستاسو هدفونه معقول، رښتینی او د تحقق وړ وی. د برخه والو د توانمندی، لیوالیتا او تخصص سطح په پام کی ونیسی.

۲- داسی پروګرامونه سره جوړ کړی چی د ائتلاف غړی په یوی غونډی کی سره راټول شی، لکه: د یوی پیښی په هکله د یوی ویډو کتل، په عامو محضرونو کی د میز اینښودل ترڅو په یوی غوښتنی یا عرض باندی د عامو خلکو لاسلیکونه راټول کړای شی یا د یوه عاموچارو له یو مسوول سره لیدنه کتنه.

۳- له سختو ستونزو هیڅکله مخ مه اړوی، دغه مسائل په اجنداء کی ونیسی او پری بحث وکړی.

۴- په دی یوه شی چی پر هدفونو باندی د بحث د پروسی او پرهغو د موافقت کیفیت او پلان جوړول د هغه د کار په ورستی محصول او نتیجه کی منعکس کیږی. نو په دی وجه د چمتوالی او د کار په پروسه کی له پوره زیار څخه کار واخلی.

۵- د پروسی او پالیسی د بدلون په هکله ټول غړی خبر کړی. دا د راتلونکو اړیکو لپاره خورا اهمیت لری. د مفاهمی او یو بل سره د تماس د پروسی لپاره په اړینو اقداماتو لاس پوری کړی: په منظمه توګه د غړو د معلوماتو لپاره خبر پاڼي خپری کړی، د بریښنا لیکونو د پتو (آدرسونو) یو لست چمتو کړی، په منظمه توګه غونډی جوړی کړی او داسی نور.

سرچینه:
http://www.icbl.org/resources/campaignkit/campain.html

د پوهی د سطحی د لوړولو کمپاین کیدای شی چی هغه وخت ډیر زیات بریالی وی او له غښتلی سیاسی وزن څخه برخمن وی چی د زیاتو خلکو څخه استازیتوب وکړای شی. سربیره پر دی دغه ډول کمپاینونه هغه وخت کولای شی چی ډیر خلک وهڅوی چی د ټولنی له بیلابیلو ډلو څخه جوړ شوی وی، ډیری زیاتی پیښی راټولی کړی، پر دله ایزو رسنیو باندی زیاته اغیزه وکړی او یوه موضوع په ډیره معقوله توګه مطرح او عنوان کړی.[47]

[47] د آلمان د تخنیکی همکاریو ټولنه (GTZ)، د کوچنیو وسلو پر ضد د عمل لپاره د مدنی ټولنی د یو کمپاین بندو بست کول: د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د لارښونی رساله، ۲۰۰۵، په دغی انټرنتی پاڼه کی موندلای شی:
http://www.gtz.de/de/dokumente/en/-decosac-NGOManual-2005.pdf

**۴- ۳ چوکاټ**
**د ځمکنیو مینونو د منع کولو نړیوال کمپاین**

د ځمکنیو مینونو منع کولو لپاره نړیوال کمپاین د غیرحکومتی سازمانونو یو ائتلاف دی چی هدف یی د پرسونل ضد مینونو تولید او استعمال له منځه وړل دی. دغه سازمان په ۱۹۹۲ کال کی هغه وخت جوړ شو چی شپږ غیرحکومتی سازمانونو( Human Rights Watch, Medico International Handicap International, Physician for Human Rights, Vietnam Veterans of America Foundation and Mines Advisory Group) چی یو بل ته ورته هدفونه لری موافقه وکړه تر څو د خپلو ګډو هدوفونو لپاره په ګډه کار وکړی.

د لومړی کمپاین لمن پراخه شوه څرنګه چی هغه د څه دپاسه ۱۴۰۰ غیرحکومتی سازمانونو شبکه وګرځیده چی په هغو کی د ۹۰ هیوادونو د ښځو، ماشومانو، زړو خلکو، مذهبی او چاپیریالی ډلی او بشری حقونو، د وسلو د کنترول، سولی او پرمختیایی سازمانونه شامل دی. هغوی په سیمه ایز، محلی، ملی او بین المللی سطح په ګډه کار کوی تر څو انسان- ضد یا انتی پرسونل مینونه له مینځه یوسی. د دغه کمپاین ستر بریالیتوب په ۱۹۹۹ کال کی ؤ، کله چی د مینونو د منعی تړون د ملګرو ملتونو له خوا تصویب شو او د دغه تړون له مخی د انسان ـ ضد مینونو تولید او استعمال منع کړای شول.

د ځمکنیو مینونو د بندولو لپاره نړیوال کمپاین په ۱۹۹۷ کال د نوبل د سولی جایزه ترلاسه کړه.

سرچینه:http://www.icbl.org

همدارز مشارکت او ګډ کار د مدنی ټولنی د سازمانونو ترمنځ د ګډو موضوعاتو په اړه د پوهی او تخصص په تبادله کی مرسته کوی. د مدنی ټولنی ښه سازمان شوی او غښتلی شبکی هغه میکانیزمونه دی چی د سیمی یا هیوادونو په سطح کولای شی غږ پورته کړی. د دی لپاره چی د یوی شبکی څخه په اغیزمنه توګه کار واخیستل شی، باید یوی هراړخیزی ستراتیژی ته وده ورکړای شی، هغه یو ستراتیژی چی بیلابیلو مخاطبینو ته د لاس رسی لپاره لاره هواره کړی. د بیلګی په توګه په صربستان کی د ځوانانو غورځنګ (Otpor یا مقاومت) د پوهی د سطحی د لوړولو لپاره خپل معلومات او تخصص په ۲۰۰۳ کال په ګرجستان کی د ځوانانو لهِ غورځنګونو سره شریک کړل. په ۲۰۰۴ کال کی د اوکراین د حکومت د مخالف اړخ د ځوانانو غورځنګ صربستان ته سفر وکړ، تر څو د سازمانی او خبرواترو د مهارتونو د زده کړی او د اوکراین د درغلیو له سختو خطرونو سره مخامخ شویو ټول ټاکنو د څارنی لپاره په کورسونو او سیمینارونو کی ګډون وکړی.[48]

**۴- ۴ چوکاټ**
**د شبکه یی کار د ښه کولو لپاره د مدنی ټولنی سازمان مشوره**

۱- د مدنی ټولنی شبکی باید په څرګنده توګه ووایی چی دوی څوک دی، په شبکه کی غړیتوب څه ډول جوړښت لری او له غړو څخه د څه هیله کیږی.

[48] Janovic, Milja, Rage against the Regime: The Otpor Movement in Serbia in Van Tongeren, P.Brenk, M; Helma, M. and J.Verhoeven (eds) People Building Peace II: Successful Stories of Civil Society, Lynne Riener Publishers, Boulder, 2005.

۲- د مدنی ټولنی شبکی باید سخت زیار وباسی چی څرنګه کولای شی د یوی موضوع په هکله د خپلی پیژندګلوی له لاری خپل اغیزمنتوب او توانمندی پیاوړی کړی او وګوری چی کوم جوړښت د مختلفو هدفونو لپاره په ډیره ښه توګه کار کولای شی.

۳- د مدنی ټولنی شبکی باید د قدرت، مشرتابه، استازیتوب، بشپړتوب اوحساب ورکولتوب په وړاندی هم د شبکی په دننه او هم له بهرنیو اړخونو سره حساس وی.

۴- د مدنی ټولنی د شبکی د دندو او کارونو لمن د معلوماتو د شریکولو له پولی څخه هم باید د عمل ډګر ته پراخه شی او د بدلون راوستلو ابتکار په لاس کی ولری.

سرچینی:
European Centre for Conflict Prevention, Conference Report: From Reaction to Prevention: Civil Society Forging Partnerships to Prevent Violent Conflict and Build Peace; Working Group on Civil Society Networks; Global Partnership for prevention of Armed Conflict, ECCP, Utrecht, 2005, p.43

د مدنی ټولنی د سازمانونو جرګه ځای (فوروم) د ټولو دغو سازمانونو لپاره ډیر ښه ځای دی ترڅو له نورو شریکانو سره اړیکی ټینګی او خپل بنسټ پیاوړی کړی. دغه جرګی کولای شی چی عامه بحثونه په لاره واچوی، د هغوی پیغامونه واوری او خپاره یی کړی، یو بل سره اړیکه وساتی او په ګډه د ټاکل شویو هدفونو لپاره مبارزه وکړی.

نړیوال ټولنیز فوروم (WSF) چی اوس یی اتم کال کیږی، یوه د دغو جرګو څخه دی.[49] په تیرو څو کلونو کی بی شمیرو سیمه ایزو، ملی، محلی او موضوعی ټولنیزو فورومونو وده کړی، لکه اروپایی ټولنیز فوروم، د پان امریکن ټولنیز فوروم، د متحده ایالاتو ټولنیز فوروم او د اقلیمی بدلون په هکله ټولنیز فوروم. محلی او موضوعی فورومونه یوه فضاء مساعده کوی ترڅو په یوه ټولنه یا هیواد کی پر حساسو موضوعاتو باندی بحث او خبری وشی. د بیلګی په توګه د دیموکراسی په هکله نړیوال ټولنیز موضوعی فوروم، د بشر حقونه، کولمبیا کی د ۲۰۰۳ کال د جون په میاشت کی د Gartagena de Indias جګړه او نشه یی توکو د قاچاق پرضد پام واړول شو. کولمبیا قصداً انتخاب شو نه یواځی په دی وجه چی د ستونزی په زړه کی ځای لری بلکه په دی وجه هم چی په دی موضوع باندی د یو آزاد بحث لپاره لاره اواره شی، هغه یو څه چی په کولمبیا کی منع او ډیر خطرناک دی چی پری بحث وشی.[50]

[49] - WSF د مدنی ټولنی د یو نړیوال غورځنګ د پیداینت ویندویی کوی چی د انسانانو د ښیګنو پر بنسټ ولاړو لارو چارو د موندولو لپاره غږ کوی. دغه فوروم د مدنی ټولنی د سازمانونو د زر ګونو فعالینو چی مختلفو ډلو، صنفی اتحادیو، غیر حکومتی سازمانونو، نه هیواد لرونکو غورځنکونو، بومی سازمانو، لړکیو او د سولی غورځنکونو پوری اړه نیسی، مختلف ټولنیز هدفونه تعقیبوی. هغوی«یوه بله نړی هم امکان لری» په نامه د یو مشترک چتر تر سیوری لاندی سره ټول شوی دی، او هغوی خپل ځان د سویس د Davos نومی نړیوال اقتصادی فوروم سیال بولی. د مدنی ټولنی د کارپوهانو په نظر، WSF په نړیوال سیاست کی د پانګوالی ضد غورځنګ د مفکورو په خپریدو کی یو مهم نقش لوبولی دی. لطلفا دغه منبع مطالعه کړی:
Glasius, M M. Kaldor and H. Anheier (eds), Global Civil Society 2005/6, Sae, London, 2006, p.234.
[50] Glasius, M M. Kaldor and H. Anheier (eds), Global Civil Society 2005/6, Sae, London, 2006, p.204.

## ځارنه او ارزونه

د پوهی د سطحی د لوړولو ستراتیژی باید وځارل شی او تر ارزونی لاندی ونیول شی. کنترول باید وشی چی کمپاین په څه ډول طرحه کړای شی. ځارنی په دی برخه کی مرسته کوی چی: ۱ – آیا فعالیتونه له پلان سره سم عملی شوی دی؛ ۲- آیا بودجه له پلان سره لګول شوی ده ؛ ۳- آیا د ټاکلو هدفونو په لور پرمختګ شوی دی؛ ۴- او څه اصلاحات باید راوستل شی ترڅو د بریالیتوب ضمانت وشی. د پوهی د سطحی د لوړولو د ستراتیژی عناصر لکه د هغی وسایل، کیدای شی د هدف وړ خلکو د «کوچنیو ځارونکو ډلو» له لاری تر ځارنی او ارزونی لاندی ونیول شی تر څو پر خپلو ځوابونو باندی بحث وکړی.

ارزول د دی لپاره خورا اهمیت لری چی وکتل شی آیا د انتظار وړ هدفونه لاس ته راغلی دی او هم له پروسی څخه په زده کړه کی مرسته کوی. د ارزونی نتایج د راتلونکو پلانونو سره او دغه ډول نوښتونو سره مرسته کوی. په یوی ژوری ارزونی کی کیدای شی چی د کمیت ښودنی اطلاعات د نظریاتی احصائیو څخه واخیستل شی ترڅو ولیدل شی چی آیا د هدف وړ ډلی باندی د کمپاین د اغیزی کچه څومره ده.

## وسایل

د پوهی د سطحی لوړل هغه مواد دی چی په محلی، ملی او نړیوال سطح د پوهی د سطحی د لوړولو لپاره په خاصه توګه طرح او بندو بست شوی. ځینو ټاکل شویو وسایلو څخه کار اخیستل کیږی ترڅو ډله ایزی رسنی، د مفاهمی د چارو کارپوهان، پارلمانی غړی یا عام وګړی هدف لاندی ونیول شی. هغه کیدای شی چی تشریحی یا غږ ایز یا انځورایز شکل ولری، لکه ورځپاڼی، خبرپاڼی او پوسترونه، نښانونه، لوګو (سمبول)، بنګړی او تبلیغاتی بیرغونه.

**۴ – ۵ چوکاټ**
**په صربستان کی د ځوانانو Otpor یا مقاومت نومی غورځنګ**

په ۱۹۹۸ کال کی Otpor د محصلینو تر مشری لاندی یو ستر غورځنګ جوړ شو، ترڅو د صربستان خلک وهڅوی او د ویری او ډار کلتور ته خاتمه ورکړی او د هغه وخت جمهور رئیس سلوبودان میلوسوویچ له قدرت څخه راوپرځوی. Otpor یو بی مشره غورځنګ ؤ او هدف یی ځوان نسل ؤ. مبارزه د بلګراد په دیوالونو باندی له رنګ سره د شعارونو په لیکولو پیل شوه. دغه شعارونو په لومړی سر کی عام خلکو په منځ کی یو ډول ګونګسی پیدا کړی چی څوک د دی شعارونو تر شا ولاړ دی، ورو ورو هغه د واکمن رژیم پر ضد د یو ولسی غورځنګ د پیداینښت نښانه وګرځیدله.

د ۲۰۰۰ کال د اګست په میاشت کی، کله چی میلوسوویچ د مخکی له مخکی ټاکنو اعلان وکړ، Otpor په خپلی مبارزی لاس پوری او شعار یی دا ؤ چی : Gotov je یعنی «دی ختم دی!». په دغی مودی کی Otpor څه د پاسه شپیته ټنه مواد د خپلی مبارزی لپاره تولید کړل چی په هغو کی کمیسونه یا T-Shirt، پوسترونه، رسالی، تبلیغاتی مواد او نښانونه شامل ؤ. د Milja Jovanovic چی د محصلینو د غورځنګ د ډیرو مهمو فعالینو له جملی څخه ؤ، د وینا له مخی د تور او سپین نښلونکی نښان چی په تورو حرفونو پری لیکلی شوی ؤ: «دی ختم دی!» (مقصد د میلوسوویچ ؤ). دا د دغی مبارزی تر ټولو اغیز من شعار ؤ. دغه نښلونکی نښانونه د میلوسوویچ د تبلیغاتی پوسترونو سره هر

چیری، دسړکونو اشارو، د تنظیفاتو صندوقونو، موټرو او د دکانونو کړکیو باندی نصب شوی ؤ. د ۲۰۰۰ کال د سپتمبر په ۲۴، میلوسوویچ له قدرت څخه د رأیو له لاری راوپرځول شو. د Otpor غورځنګ د نوموړی مطلق العنان رژیم په راپرځولو کی ستره ونډه واخیستله.

سرچینه:
Jovanovic, Milja, Rage Against the Regime: The Otpor Movement in Serbia in Van Tongeren, P.M. Brenk, M. Hellema and J.Verhoeven (eds) People Building Peace II Successful Stories of Civil Society, Lynne Rienner Publishers, Boulder, 2005.

## غږیز ـ انځوریز مواد

غږیز- انځوریز مواد لکه ویډیو او مستند فلمونه د عام خلکو د پام اړونی او د بدلون راوستلو لپاره ډیر زیات اغیزمن دی. د نړیوال غیرحکومی سازمان، WITNESS,، یا شاهد په نامه د سرالیون د کورنی جګړی مستند فلم Operation Fine Girl ، جوړ کړی دی. په دغه فلم کی ښودل کیږی چی څرنګه په ښځو باندی جنسی تجاوز د جګړی د یوی وسیلی په توګه کار اخیستل کیږی، ښځو باندی د یاغیانو لخوا تجاوز کیږی له هغوی څخه د کنیزو او مریانو په توګه کار اخیستل کیږی. دغه مستند فلم د یو ځوان هلک کیسه کوی چی تښتول شوی او بیا مجبوره کیږی چی تری یو قاتل جوړ شی. Operation Fine Girl د متحرکو انځورونو او د شخصی شهادت ورکولو قوت ښکاره کوی.

دغه ویډیو مرسته وکړه ترڅو په سرالیون کی د جګړی څخه وروسته زمانه کی د جنسی تجاوزونو موضوع عنوان شی. د مدنی ټولنی نړیوالو سازمانونو له دغی ویډیو څخه د یو سند په توګه کار واخیست او وتوانیدل چی نړیوالی ټولنی او د رښتیاویلو اوپخلاینی کمیسیون ته عرض وړاندی کړی تر څود جنسی تجاوز په تحقیقاتو کی هغه په پام کی ونیسی. Operaion Fine Girl مستند فلم همداراز د روغتیایی او ټولنیزو خدماتو عرضه کونکی وهڅول ترڅو د جګړی په روانی اغیزو باندی خبری وکړی. له دغه ویډیو څخه په افریقا، اروپا او متحده ایالاتو کی د ښوونی په مقصدونو کی هم کار اخیستل شوی دی.[51]

## راډیو

راډیو د معلوماتو د خپرولو او په خاصه توګه په بی وزلو او اطرافی سیمو کی د پوهی د سطحی د لوړولو لپاره یوه ډیره ځواکمنه وسیله ده، همداراز د کډوالو او لړکیو ډلو په منځ کی چی د سترو راډیوګانو لخوا ډیر لږ خدمت ورته کیږی. منطقه یی راډیو هغه یوه خدماتی راډیو ده چی دیوی خاصی سیمی غوښتنی او ګټی په پام کی نیسی او ښایی هغه خبرونه خپاره کړی چی د سترو او پیاوړو ډلو د پام وړ وګرځی. په ډیرو حالاتو کی راډیو کولای شی چی عامه خلکو ته د موقع په برابرولو او بی وزلو او حاشیوی خلکو ته په چانس ورکولو کی چی خپل غږ اوچت کړی مهم نقش ولوبوی. محلی راډیویی دستګاوی د نړی په هرګوټ کی پیدا کیږی، خو ډیری د حکومت لخوا په رسمیت نه دی پیژندل شوی او له ګواښونو سره مخامخ دی چی وتړل شی. خو بیاهم محلی راډیو د خلکو د پوهاوی

[51] Sources: Gregory, Sam, „Operation Fine Girl Exposes Sexual Violence: WITNESS in Sierral Leone' in Van Tonren, P.M, Brenk, M.Hellema and J. Verhoeve n (eds) People Building Peace II: Successful Stories of Civil Society, Lynne Rienner Publishers Bolder, 2005.

دسطحی په لوړولو کی خورا اهمیت لری. همدا راز  په شخړه لرونکو سیمو کی د دیالوګ او روغی جوړی په وده کی مرسته کوی.

د Ijambo راډیو چی د Search for Common Ground  یا د ګډ ټاټوبی په لټه کی نومی سازمان لخوا په ۱۹۹۵ کال کی په بروندی کی د قومی اوسیاسی زورزیاتیو په لوړ پړاو کی تأسیس شوه، د بحثونو او خبرواترو هغه پروګرامونه خپروی چی هدف یی د سولی او د بروندی او نړی تر منځ د اړیکو تینګښت دی. هغه په بروندی، تانزانیا او د کانګو په دیموکراتیک جمهوریت کی د ۷ راډیویی دستګاوو له لاری خپریږی.[52]

محلی راډیوګانی همداراز د غیرحکومتی سازمانونو لخوا لکه د محلی راډیو د خپرونو نړیوال انجمن (AMARC) لخوا هم ملاتړ کیږی، دغه سازمان د نړی په ګوټ ګوټ کی له محلی راډیوګانو سره مرسته کوی. له دغی مرستی څخه هدف محلی پراختیا ده.

د لاتینی امریکا د سیمه ایزو خدماتو دفتر د ۲۰۰۸ کال په فبروری کی په Amara, Quechua او د Mayan په دوو ژبو کی یو نوی راډیویی پروګرام پیل کړ، دغه راډیویی پروګرام د AMARC-Pulsar[53] محلی شبکی سره همکاری لری. دغه راډیویی پروګرامونه په لاتین امریکا کی د بومی خلکو ځانګړو خپرونو یوه برخه ده چی په سیمه ایزو موضوعاتو باندی خبری کوی، دغه راډیویی پروګرامونه د کرهنی دپراختیا لپاره د نړیوالی وجهی صندوق(IFAD) لخوا هم ملاتړ کیږی.[54]

**۴- ۶ چوکاټ**
**بی له سرحده راډیویی غږونه**

بدون له سرحده راډیویی غږونه (RVSF) د ۲۰۰۸ AMARC  یو نړیواله راډیویی کمپاین دی چی د نړی د محلی راډیوګانو په همکاری تولیدیږی. د هغی یو هدف دا دی چی له ډله ایزو رسنیو سره د لرکیو او تاوانی شویو ډلو لپاره د لاس رسی امکانات برابر کړی. RVSF د نژادپالنی، توپیرپالنی او جنسیت موضوعات څیړی. هغه څو ژبنی خپرونه ده چی د انترنت او ستلایت راډیویی دستګاوو په واسطه په پنځو قارو کی خپریږی.

په ۱۹۶۶ کال کی د ملګرو ملتونو لخوا د مارچ ۲۱ د نژادی توپیرپالنی د ټولو شکلونو دله منځه وړلو د ورځی په توګه اعلان شوه. د RVSE 2008 یوه ورځنی خپرونه ده چی د AMARC د شبکی له لاری خپریږی تر څو محلی راډیوګانی د زغم، مساوی حقوق او په داسی نورو ټولنیزو مسائلو کی فعاله ونده واخلی. د دغی مبارزی هدف دا دی چی د مدنی ټولنی د سازمانونو له نظره د محل، سیمی او نړی په سطح د نژاد پالنی پر ضد مقابله وشی.

Source: http://rvsf.amarc.org

---

[52] Source: http://www.sfcg.org/programmes/burundi_studio.html
[53] Pulsar, an AMARC initiative, has been transmitting news and information electronically throughout Latin America and Caribean since 1995.
[54] Source: http://www.ips.org

## انترنت

نن سبا د خبر رسولو، معلومات ټولولو، د معلوماتو د تبادلې، کمپاین، هڅولو او همدارا ز د مالي مرستو ټولولو لپاره انټرنټ یوه ډیره پیاوړې وسیله ګرځیدلې ده. انترنتي فورومونه، تبادله یې ویب سایتونه، بیلابیلو ډلو ترمنځ د بریښنا لیکونو له لارې تبادله یې لیکنې، دا ټول هغه نوې او عصري آسانتیاوې دي چې نن د هر وګړي په اختیار کې کېښودل کیدای شي تر څو وکړای شي د ورځني ژوند په سیاسي فعالیتونو کې برخه واخلي او سربیره پر دي له پارلماني غړو او یا هم د سیاسي ډلو له استازو او یا داسې نورو تأسیساتو سره تماس ونیسي او خپل نظر او فکر شریک کړي. همدارا ز انترنت زمینه مساعده کړې چې خلک د خپلو هیوادونو له سرحدونو څخه بهر یو بل سره همکاري وکړي او په خاصه توګه د شبکه یې کارونو او د مدني ټولنې د سازمانونو او په عمومي توګه د عام وګړو ترمنځ یې د ایتلاف جوړولو او ګډکار لپاره پوره آسانتیاوې برابرې کړې دي.

بریښنا لیکې ډلو لکه UnitedforPeaceandJustice.org او Moven.org د ۲۰۰۳ کال د فبروري په ۱۵ په نیویارک کې د سل ګونو زرو خلکو په هڅولو کې ستر نقش ولوباوه، تر څو سړکونو ته راووځي او د عراق د جګړې پر ضد له نړیوالو احتجاجونو سره لاس یو کړي.

## بیسیم مخابرات

موبایل تیلفونونه او د هغو له لارې لیکل شوي پیغامونه د معلوماتو د خپرولو او د سیاسي هڅو نوې او عصري وسایل دي. بیسیم مخابرات د معلوماتو معمول چینلونه او سرچینې یو بل سره نښلوي. بیسیم مخابرات هغه وسایل دي چې هر چیرې او په هر وخت کې د خبر رسولو او ورکولو لپاره یې لاره پرانیستې ده. دغو وسایلو د اعتبار وړ او پیژندل شویو سرچینو لکه د ملګرو، همکارانو او یا کورنۍ غړو څخه په لومړي سر کې د معلوماتو د خپرولو لپاره لاره حلاصه کړیده. د دغو وسایلو قدرت د خبر رسولو په ګړندیتوب کې نغښتې دي. بیسیم مخابرات کیدای شي د هغو ټولنو د خلکو لپاره ډیر اغیزمن وي، چیرته چې سازماني مظاهرې او اجتماعات بند دي او د رسنیو له لارې معلومات ورکول د حکومت لخوا کنترولیږي. په داسې ټولنو کې ورځ په ورځ خلک بیسیم مخابراتي وسایلو ته مخ اړوي او د هغو له لارې خپل مخالفت او احتجاج له واکمن نظام او سیاست سره ښکاره کوي.

**۴- ۷ چوکاټ**
**د کوزوو د کوچنیو وسلو د کنترول اقدام**

د وسلوالو زورزیاتیو پرخلاف د خپلې عامه مبارزې د یوې برخې په توګه د کوزوو د کوچنیو وسلو د کنترول اقدام (KOSSAC) او د کوزوو د کوچنیو او سپکو وسلو کمیسیون یوه بې سارې ستراتیژي او (Safety Matters) نومې لوګو یا سمبول طرح او جوړ کړ چې ترجمه یې ده: «د مصونیت په وړاندې بې پروایې په کار نده». له دغه لوګو څخه د وسلو د کنترول د کمپاین په مختلفو پړاوونو کې کار واخیستل شو.

په دغه کمپاین کې مختلفې ډله ایزې رسنې موجودې وې (چاپي مطبوعات، تلویزیون، راډیو) او په هغه کې یو شمیر حکومتي تأسیسات، د وسلوالو زورزیاتیو پرخلاف غیرحکومتي سازمانونه، د ښوونې او روزنې او کورنیو چارو وزارتونه (د مصونو ښوونځیو د شعار تر نامه لاندې) او عام وګړي چې تشویق شوي ؤ ترڅو د وسلوالو پیښنو په هکله پولیسو ته خبر ورکړي. د پوست تیلفون کوزوو

(PTK) سره د غړیتوب سره دغه کمپاین همدارلز د موبایل تیلفون د شبکی له لاری ټولو مشترکینو ته د ۵۴۰ زره لنډ پیغامونو استولو (SMS) سره جوخت د کمپاین لوګو او شعار« کوزوو د مصونیتی موضوعاتو په خاطر» هم واستاوه.

سرچینه:
UNDP, KOSVO Small Arms Control Intitiative (KOSSAC), http:/www.ks.undp.org/?cid=2.103,226

په فلیپین کی د ۲۰۰۱ کال په جنوری کی په زرګونو خلک د تیلفون لیک پیغامونو(SMS) سره وهڅول شول ترڅو د دولت د مشر، Joseph Estrada د لیری کولو لپاره په سترو مظاهرو کی ګډون وکړی. په هغه وخت کی د رامنځ ته شویو سیاسی پیښو سره هڅول شوی غورځنګ چی نوم ؤ «د خلکو دوهم قدرت (People Power II) څلور ورځی دوام وکړ. Smart Communications نومی شرکت ۷۰ ملیون تیلفون لیکی پیغامونه ولیږدول او Globe Telecom ۴۵ ملیون تیلفون لیک پیغامونه هر ورځ تیرول، حال دا چی په عادی ورځو کی یی په اوسطه توګه ۲۴،۷ ملیون پیغامونه لیږدول.[55] سربیره پر انترنیت او راډیو، بیسیم مخابرات د جمهور رئیس د لیری کولو لپاره د احتجاجونو په لمسولو کی مهم نقش درلود.

## آرت یا هنر

آرت یا هنر لا تر اوسه د عامه پوهاوی د سطحی د لوړولو لپاره یوه مهمه وسیله ده. د پوهی د سطحی د لوړولو لپاره د هنرمندانو مختلفی لاری چی له ځیرتیا او تل له نوښتونو سره جوختی دی، تل ګټوری تمامی شوی دی. د ځمکنیو مینونو په هکله د محل په سطح له پوهاوی څخه نیولی تر نړیوال موضوعاتو پوری د هنرمندانو کارونه کیدای شی چی خلکو ته د بشری امنیت د موضوعاتو ور په یادولو کی ستر نقش ولوبوی.

۴ – ۸ چوکاټ
د سارایوو ویلون غږونکی

د ۱۹۹۲ کال د بوزنیا د پلازمینی، سارایوو په مرکز کی یو ګن شمیر ګولی وچاودیدلی، په دغه وخت کی خلک د ډوډی د رانیولو لپاره په کتار کی ولاړ ؤ. دوه ویشت تنه ووژل شول اوځه د پاسه سل تنه نور ټپیان شول. بله ورځ له غرمی وروسته په څلورو بجو موسیقی غږونکی، Vedran Smailovic د چاودنو په ځای کی په رسمی ماښامنی جامو کی ښکاره شو لکه دا چی کنسرت ورکوی او بیا Albinioni's Adagio موسیقی وغږوله، چی د هغه په نظر تر ټولو غمجنه موسیقی ده.

له هغی وروسته په هره ۲۱ ورځ Smailovic دغه ځای ته ورته او موسیقی یی غږوله او ۲۲ وژل شویو کسانو ویر یی کاوه. د سارایوو ویلون غږونکی چی وروسته یی دا لقب ورکاته، په بوزنیا کی د مقاومت او د انسانی روح د زغم سمبول وګرځید. هغه ۱۹۹۳ کال تر دسمبر پوری په هدیرو، کنډوالو

[55] Glasius M, M. Kaldor and H. Anheier(eds), Global Civil Society 2005/6, SAGE, London, 2006. p.268

او د بمونو د چاودلو ځایونو کی موسیقی غږوله. د هغه له کیسی څخه مطبوعات او د نړی موسیقی غږونکی خبر شول، له هغی وروسته هغه ته په هر فیستوال او کنسرت کی ځانګړی درناوی کیده.

سرچینه:
http://www.lifpositive.com/Min/Positive_Chronicles/The_Cellist_of_Sarajevo.asp

## له ډله ایزو رسنیو سره کار کول

په عمومی توګه خلک خپل اکثر نوی معلومات له خبری رسنیو څخه اخلی. ډله ایزی رسنی د حکومت د پالیسی په هکله د عامو خلکو نظر ته په شکل ورکولو کی یوه غښتلی وسیله ده. ډله ایزی رسنی غلط کارونه بربنډوی، د خلکو اړتیاوی اوغوښتنی بیانوی او د بدلون لپاره کار کوی. د مدنی ټولنی سازمانونه له ډله ایزو رسنیو سره کار کوی تر څو خپل غږ اوچت او خپل پیغامونه نورو ته ورسوی او د یوی موضوع په هکله چی د عام خلکو د پاملرنی وړ ده د پوهی د سطحی د لوړلو لپاره د ډله ایزو رسنیو د ملاتړ په لټه کی کیږی.

ډله ایزو رسنیو، د بیلګی په توګه، په بنګلدیش کی د پرمختیایی اندیښنو په بربنډولو کی مهم نقش درلود. د لومړی ځل لپاره چاپی رسنیو د ۱۹۹۰ لسیزی په نیمایی کی په یو کیمیاوی ترکیب (ارسنیک) سره د بنګلدیش د ښناک اوبو د زهرجن کیدو موضوع عنوان کړه. خبری رپوټونو چی د بنګلدیش د حکومت او نړیوالی ټولنی لخوا خپاره شول دی موضوع ته یی ګوته ونیول ترڅو پام ورته واړول شی او پالیسی جوړونکی لارښوونو ته مجبوره کړی.[56] په ۲۰۰۳ کال کی د BBC نړیوالی خپرونی HIV د ویروس یا د ایدز د ناروغی په هکله دوه یوه اونی ایز ځانګړی پروګرام په لاره واچاوه چی په هغه کی خبری رپوټونه، د نړی له یو شمیر مشرانو سره لوړ سویه مرکی، مستند او انترنتی رپوټونه شامل ؤ ترڅو د ایدز نړیواله ورځ ولمانځی.

د ډله ایزو رسنیو پام اړول خورا اهمیت لری: د ایدز د ناروغی فعالین د مدنی ټولنی سازمانونه لکه په جنوبی افریقا کی د Treatment Action Campaign (TAC) خپل اړوندو موضوعاتو ته د ډله ایزو رسنیو د پام اړولو لپاره ډیر فعال دی. TAC ، د بیلګی په توګه، کابو هر ورځ مطبوعاتی کنفرانس لری تر څو رسنیو ته د توپیرپالنی د چلندونو په هکله معلومات ورکړی. د جنوبی افریقا د نشراتی موسسی (SABC) د یو ژورنالست د وینا له مخی، د مدنی ټولنی سازمانونه د جنوبی افریقا د رسنیو لپاره اجنداء جوړوی او دا یی خپله دنده ګرځولی ترڅو خبریالان قانع کړی چی د هغو مسائلو لپاره چی دوی مبارزه کوی پری رپوټونه ورکړی، لکه Antiretroviral ته لاس رسی او HIV/AIDS په اړه د حکومت د پالیسیو په هکله[57] له میدیا سره اړیکه د TAC لپاره هغه وخت خورا مهمه شوه چی هغه د حکومت پرضد دعوا وکړه تر څو د HIV په ویروس باندی اخته حامله ښځو ته د Nevirapine په نامه درمل په وړیا توګه ورکړی.

نوموړی سازمان په منظمه توګه رسنیو ته د Nevirapine د ګټی په هکله معلومات ورکړی دی، رسنیو ته یی احصائیی په اختیار کی ایښی دی او د ایدز په ناروغی اخته حامله دار میرمنی ژورنالستانو ته معرفی کړی دی.

---

[56] Biswas, Masudul K, Developmmental Issues in News Media: NGO-Media Interaction in Bangladisch' in The International Journal of Not-for-Profit Law Volume 9, Issue 3, 2007.
[57] Malan, Mia, ‚Media-NGO Partnerships Though a Different Lens' in AIDSLink, Issue 86, 2004.

په مغلستان کې د مدني ټولنې سازمان، Globe International د ډیموکراسی، غوره حکومتوالی او مدني ټولنې په هکله رسنیو کمپاین پر مخ بولی دی. دکمپاین هدف دا ؤ چې عامه پوهاوی زیات کړی، وګړی تشویق کړی چې د حکومتوالی د موضوعاتو په بحثونو او په مغلستان کې د مدني ژورنالیزم د کلتور په ودې او عمل کې ونډه واخلی. تلویزیونی او راډیویی پروګرامونه چې د مدني ټولنې مسائلو ته ځیرکړای شوی ؤ، د ینځو میاشتو لپاره خپریدل، تر هغه پوری چې د ۲۰۰۳ کال په سپتمبر کې په نوموړی هیواد کې د مدني ټولنې نړیوال فوروم دایر شو.

د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په موضوعاتو کې له رسنیو سره کار کول یقیناً چې سخت کار دی، ځکه د امنیت موضوع پیچلی ده او په آسانی سره د رسنیو لاس رسی ورته امکان نه لری. خو د غیرحکومتی سازمانونو تجربو ښودلی ده چې د ښوو اړیکو سره کیدای شی چې حتی ډله ایز رسنی هم په فعاله او اغیزمنه توګه په دغو اصلاحاتو کې شامل کړای شی.

---

**۴ ـ ۹ چوکاټ**
**تلویزون**

د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په میاشت کې د برازیل غیرحکومتی سازمانونو چې لاربښونه یې د Viva Rio په غاړه وه د Copacabana په ساحل یو لاریون په لاره واچاوه ترڅو د غړلرونکو وسلو د اغیزو په هکله د پوهې سطح لوړه کړی او د هغو د ټینګ کنټرول لپاره له نوی قانون څخه یې ملاتړ وکړی. د برخه والو هڅول له نامعلومو سرچینو څخه ملاتړ تر لاسه کړ: د TV Globe نومې تلویزونی شبکې لخوا چې ډیر زیات لیدونکی لری او په دغه هیواد کې له ډیر زیات نفوذ څخه برخمن ده. د دغه تلویزونی خپرونی په یو مشهور مابنامنی، "Mulheres Apaixondas" یا د (مینو ښځو) اوپرا پروګرام کې د وسلوالو زورزیاتیو موضوع عنوان شوه، ځکه د کیسی له مخې یو مهم لوبغاړی د پولیسو او یوی داړی د ډزو په نتیجه کې «ووژل شو». دغه تمثیلی صحنې د Rio de Janeiro په اوسیدونکو کې سخت احساساتی غبرګون راوپاراوه. دا په داسې حال کې ده چې په دغه ښار کې هره شپږمه ورځ یو تن د ګولیو په ډزو کې وژل کیږی.

په هغې اونی کې چې د لاریون لپاره تیاری نیول کیده، د نوموړی ننداره یې پروګرام لوبغاړو اعلان وکړ چې دوی هم په دغه لاریون کې ګډون کوی او دا کار یې هم وکړ او یو زیات شمیر مینه وال یې تشویق کړل چې په هغه کې ګډون وکړی. د سخت باران سره سره کابو ۵۰ زره خلک د برازیل د Copacabana په ساحل کې د «برازیل پرته له ټوپکو څخه» تر نامه لاندی لاریون کې ګډون وکړ. دغه لاریون د نوموړی تلویزونی اوپرا په یو بله لړی کې بیا ښکاره کړای شو. نو دغه ډول یو فکر د عمل جامه واغوسته، د وسلو د کنټرول په موضوع باندی یو ملی بحث راوپاروه او ډیر خلک یې د هغه په پلویتوب سړکونو ته وایستل.

سرچینه:
Viva Rio Press Release, Available at:
http://www.iansa.org/media/viva_rio_march_realease.doc

## له ډله ایزو رسنیو سره د کار لپاره د یوی ستراتیژی جوړول

له ډله ایزو رسنیو سره د کار د یوی اغیزمنی ستراتیژی د جوړولو لپاره یو لړ مهمو اقداماتو ته اړتیا ده (په راتلونکی فصل کی د مستقیم پلویتوب په فحوا کی هم پری بحث شویدی). د ځمکنیو مینونو د منع لپاره د نړیوالی مبارزی د تجربی له مخی د اغیزمن کمپاین د پیغامونو د طرحی لپاره دغه لاندی مشوری د پاملرنی وړ دی:[58]

- خپل پیغام لنډ او ساده کړی؛
- ورځنی لغات او انځورونه استعمال کړی؛
- خپل مهم ټکی په لومړی سر کی بیان کړی؛
- موضوع ته بشری او ځایی څیره ورکړی – د ژوند رښتینی کیسه وکړی؛
- تینګار په مثبتو ارزښتونو باندی وکړی چی تاسی تری ملاتړ اوپلویتوب کوی؛
- هغو ارزښتونو څخه کار واخلی چی ستاسو په کلتور کی منل شوی دی؛
- په یوه ځانګړی کلتور کی بیلابیلو کلتوری مسائلو ته پام وکړی؛
- خپل پیغام په مختلفو خلکو باندی امتحان وکړی چی آیا هغوی پری پوهیږی؛
- د پیغام د وړاندی کولو تمرین وکړی تر څو په هغه کی او ستاسو د وړاندی کولو په مهارت کی سمونوالی رامنځ ته شی؛
- پرته له دی چی پیچلو احصائیو ته اشاره وشی ځینو مهم اضافی پسمنظری معلومات ورکړی؛
- تل د عمل یو برخه په خپل پیغام کی شامل کړی.

## خبریالان په خطر کی

د امنیتی سکتور د کارونو په هکله د خبرتیا مبارزی سره کله کله ځینی مسائل بربنډیږی چی سیاسی تأسیساتو ته ګواښ پیدا کوی. خبریالان چی په دی شخړیزو مسائلو رپوټ ورکوی، ناوړه کارونه او له قدرت څخه ناوړه استفاده بربنډوی، ښایی خپل ځان په خطر کی واچوی. نړیوال عرض یا د مدنی ټولنی له هغو سازمانونو سره همکاری چی د مطبوعاتو د آزادی لپاره کار کوی کله کله کولای شی چی اړین ملاتړ چمتو کړی او ښایی دا د هغوی د ساتنی یوه لاره وی. دا چی په تنګ او سخت چاپیریال کی سری څرنګه کار کولای شی، مفصل معلومات د همدی کتاب په ۱۴ فصل کی وړاندی شوی دی. د مصونیت په وړاندی اساسی ننګونی او د مثبت بدلون لپاره ستراتیژی شوی اقدامات همدا راز د جګړی او سولی د رپوټ انستیتوت «Institut for War and Peace Reporting» لخوا تشریح شوی دی:[59]

**۴ – ۱۰ چوکاټ**
**د ژورنالستانو حقوق او د مطبوعاتو آزادی**

د ژورنالستانو د ساتنی کمیته (CPJ) د مدنی ټولنی یو سازمان دی چی هدف یی د مطبوعاتو پر ضد د

---

[58] See: http://www.icbl.org
[59] See Bikckler, Borden et al, Reprorting for Change:A. Handlbook for Local Journalists in Crisis Area, IWRP, London, 2004, available at http://www.iwor.net/index.php?apc_state=henparr&s=special_index1.html#top: see chapter 14 on the issue of journalist safty http://www.iwp.net/docs/pdf/14_iwp_training_maual.pdf

ناوړه چلند څارنه او په نړۍ کې د مطبوعاتو د آزادۍ وده ده. دغه کمیټه د ژورنالیستانو له حقوقو څخه دفاع او ساتنه کوي تر څو هغوی وکړای شي خپل مسلکي مسوولیتونه پرته له ویرې او قانوني فشارونو څخه سرته ورسوي. CPJ په حقیقت کې د حقایقو موندلو ماموریت په غاړه لري؛ له پنځو سیمه ایزو همغږي کونکو سره پر مطبوعاتو باندې د حملو په هکله اسناد تولوي او د صحتوالي پخلي یې کوي؛ له زندان څخه د ژورنالیستانو د خوشې کولو لپاره د واسطو په لټه کې کیږي، د هغو اړخونو پر ضد احتجاج کوي چې د مطبوعاتو د آزادۍ پرضد عمل کوي او د مطبوعاتو پرضد د سرغړونو د پېښو د «بیان د تبادلې نړیوالې آزادۍ» نومې سازمان (IFEX) ته چې یو نړیوال برېښنا لیکي شبکه ده، معلومات ورکوي. په بېړنیو حالاتو کې چې ځایي او بهرني تماسونو څخه کار اخیستل کیږي، CPJ کولای شي، که چیرې ځایي او بهرني خبریالان له ستونزو سره مخامخ وي، مداخله وکړي.
CPJ چمتو ده چې خبري سازمانونه، حکومتي چارواکي او د بشري حقونو سازمانونه د مطبوعاتو پرضد د سرغړونو په هکله معلومات ورکړي.
Sources: http://www.cpj.org

## حاشیوي او له ګټو بې برخې کړای شوي ډلې

حاشیوي ډلې لکه قومي او مذهبي لږکي، بومي او قبایلي خلک او د ټولنې د ټیټې طبقې خلک اکثر د غیر شفافو امنیتي چارچلندونو قرباني ګرځي. دغه ډله خلک د خپل قومي، نژادي یا مذهبي عقایدو په وجه د پولیسو هدف ګرځي او هغوی اکثر د خپلو بنسټیزو حقونو څخه بې برخې کیږي او د خپلو حقونو څخه د دفاع لپاره له سیاسي ملاتړ څخه بې برخې کیږي.

د دغو ډلو په وړاندې تبعیض ډېر پراخ دی او دا د دې لامل ګرځي چې د امنیتي ادارو د کار کونکو له خوا پرې تیري وشي او په سیستماتیکه توګه د هغوی بشري او ملکي حقوق پښو لاندې شي. په تایلند کې، د بېلګې په توګه، د هغه هیواد د بومي او قبایلي خلکو کابو یو پر دریمه برخه لا تر اوسه د تایلند له تابعیت څخه بې برخې دي. [60] په سوریه کې زیږېدلي کردان په ۱۹۶۲ کال کې له تابعیت څخه وایستل شول. هغوی له ډېرو حقونو څخه بې برخې کړای شول لکه د رائې ورکولو، د شتمنۍ د مالکیت، د قانوني نکاح کولو او د تګ او راتګ له حقونو څخه، او یا په قانوني توګه له هیواد څخه بهر وتلو اوبېرته ستنېدو له حق څخه. هغوی او د هغوی اولادونو نارنجي رنګه شناختي پاس درلوده چې وښیي هغوی د سوریې د دولت تابعیت نه لري او بې هیواده دي. [61] د خلیج د ۱۹۹۱ کال د جګړې په تعقیب د صدام حسین د رژیم پر ضد د پاڅون په خاطر د سزاء په توګه د عراق د جبه زار ځمکو اوسېدونکې د حکومت په دستور ځمکې یې وچې کړای شوې او د ژوند شرایط پرې تنګ کړای شول. [62] له دغو خلکو سره کار کول د توپیر پالنې له ډېرو ژورو ریښو پرضد دیوې پراخې مبارزې او د یو ژور ټولنیز ریفورم غوښتنه کوي.

د پوهې د سطحې د لوړولو لپاره کمپاینونه چې هدف یې د امنیتي سکتور موضوعاتو ته پام اړول دي، باید په خاصه توګه د ټولنې حاشیوي او له ګټو څخه بې برخې کړای شوې ډلو اندېښنو او شرایط په پام

[60] IWGIA, The Indigenous World 2004, IWGIA, Copenhagen, 2004,p 252.
[61] Human Rights Watch, Syria: The Silenced Kurds, Human Rights Watch Vol. 8, No. 4(E), 1996, available online at http://www.hrw.org/reports/1996/Syria.htm;Uoef, Kathereine, “After Decades as Nonpersons, Sxrian Kurds May Soon Be Recognized”, The New York Times 28 April 2005, available online at http://www.mytimes.com/2005/04/28/International/middleast/28syria.html?_r=2&oref=slogin&oref=slogin
[62] IWGIA 2004, op cit, p.326.

کې ونیسي. لازمه ده چې د مدني ټولني سازمانونه دغه ډلې د خپلو ستراتیژیو په طرح او تطبیق کې شاملې کړي او د هغوی غوښتنې په پام کې ونیسي.

په دې وروستیو کلونو کې حاشیوي ډلې لکه لږکي، بومي اوقبایلي ډلې او دالیت نومې طبقه (هغه یوه طبقه چې د هند په طبقاتي سیستم کې د لمس وړ نه ده) له خپل ځان څخه بې ساري هلې ځلې بنودلې دي او خپل سیاسي نفوذ یې زیات کړی دی. په ټوله نړۍ کې د بومي خلکو ډیر زیات سازمانونه، شبکې او سر سازمانونه وجود لري. د هند د دالیت نومې طبقه په ډیره فعاله توګه سازماني شوې ده او لږکي ډلو لکه د کردانو خپلې ځانګړې ګوند جوړ کړی دی. د همجنس بازو د فشار ډلو په لویدیځو دیموکراسیو کې قوي شبکې جوړې کړې دي، ډیرې د بشري حقونو د مدافعینو او پرمختیایي موضوعاتو کې فعاله دي. د امنیتي سکتور په واسطه د توپیر پالنې په هکله د پوهې د سطحې لوړول د دغو ډلو د مهمو ړومبیتوبونو له جملې څخه پاتې دي. د هغوی هڅې ډیرې وخت د تشکیلاتي اصلاحاتو سبب ګرځي چې دا نه یواځې د حاشیوي ډلو په ګټه تمامیږي، بلکه ټولنې ته په مجموع توګه ګټور تمامیږي.

**۴- ۱۱ چوکاټ**
**نژاد پالنه او د نه مسوولیت وړ پولیس: قربانیان د پولیسي اصلاحاتو لپاره هڅه کوي**

د جرایمو قربانیان او قرباني شوې ډلې د نه مسوولیت وړ پولیسي ستونزو څخه پرده پورته کوي او عامه ذهنیت ته د شکل ورکولو لپاره د یو عامل (کتلیست) په توګه اهمیت لري. کله چې رسنۍ په انګلستان کې د یوې کورنۍ دوامداره درد او رنځ ته پام اړوي، بالاخره د حکومت په دننه کې د بدلون لپاره سیاسي اراده ټینګوي تر څو د پولیسو د ارګان په دننه کې په اصطلاح قانوني توپیر پالنې پام واړوي.
ستیفن لارنس یو تور پوستی ځوان ؤ چې په ۱۹۹۳ کال کې په نه لمسونکي توپیر پالنې حمله کې ووژل شو. د کلونو لپاره د لندن د متروپولیتان پولیس د هغه قاتل ته ډیر لږه پاملرنه کوله او د هغه غمجن مور او پلار ته یې د تحقیقاتو په هکله هیڅ معلومات نه ورکول. میرمن لارنس له دې او خاوند سره یې د پولیسو د چلند په هکله وویل: «دا ماته معلومه شوه چې پولیس په دې نظر ؤ چې ګواکې د تورپوستو د کورنیو قربانیان خپله جنایي مجرمین دي او نشي کیدای چې پرې اعتماد وشي.

سره له دې هم دغې کورنۍ د کلونو لپاره زغم وکړ. هغوی د پولیسو د شکایتونو اداری ته مراجعه وکړه چې د پولیسو لومړي تحقیقات نادرسته دي او نیمګړتیاوې لري او بیا یې موضوع د کورنیو چارو وزیر ته وړاندې کړه. په ۱۹۹۹ کال کې یو خاصې پلټنې یو لړ پراخې سپارښتنې وکړې ترڅو د پولیسو او لوی څارنوالي مسوولیت او حساب ورکول باید جدي ونیول شي. پولیسو په ښکاره توګه د ستیفن له مور او پلار څخه ښښنه وغوښتله او تحقیقاتو کې په خپلو نیمګړتیاو باندې اعتراف وکړ. په بریتانیا کې د څارنې نوې ملکي اداري جوړښت د نوموړې د دوسیې او د هغې په نتیجه د سپارښتنو له برکته ده.

سرچینه:
Maja Daruwala and Clare Doube (eds.), Police Accountability: Too Important to Neglect, too Urgent to Delay, report of the International Advisory Commission of the Commonwealth Human Rights Initiative Chaired by Sam Okudzeto, New Dehli, 2005, p.74.

**بومی خلک او ملګری ملتونه**

بومی خلک او لږکی د ملګرو ملتونو د ملاتړ په لټه کی کیږی، څکه هغه سازمان په خپلو وطنونو کی د هغوی د مبارزی د قانونیت او ملاتړ لپاره قانونی چوکاټ برابروی. د ملګرو ملتونو اعلامیی او منشور ونه کیدای شی په ملی سطح د مدافعه یی او هڅوونکی وسیلو په توګه استعمال شی. په نړیواله توګه په ملګرو ملتونو کی د یوی موضوع په رسمیت پیژندل ځایی ډلو ته صلاحیت ورکوی ترڅو د حقوقو د دفاع اود پوهی د سطحی د لوړولو لپاره په عمل لاس پوری کړی. د بیلګی په توګه د بومی خلکو سازمانونه کولای شی چی خپلو هیوادونو کار پوهانو ته بلنه ورکړی تر څو د بومی خلکو د بشری حقونو د شرایطو په هکله ریوټ ورکړی. د بومی خلکو[63] د بشری حقونو د وضعیت لپاره ملګرو ملتونو ځانګړی ریوټچی او د لږکیو[64] په حقونو باندی د ملګرو ملتونو خپلواک کارپوه له یو ګڼ شمیر هیوادونو څخه لیدنه کتنه کړی ده او د قانونی ناخوالو او اندیښنو په هکله یی ریوټونه ورکړی دی. دغه ریوټونه نه یوائی د تصمیم نیونکو، بلکه د عام وګړو او ډله ایزو رسنیو د پوهاوی د سطحی د لوړولو لپاره ډیر مهم دی.

**۴- ۱۲ چوکاټ**

**The Consejo Indigena Polupar de Oaxaca „Ricardo Flores Magon:**

**د ځایی سازمانونو یو ائتلاف**

The Consejo Indigena Polupar de Oaxaca „Ricardo Flores Magon (CIPO-RFM) هغه یوسازمان دی چی مقر یی د مکسیکو Oaxca کی دی او د Chatin، Chinantec، Cuicatec، Zapotec، Mixe، Triqu له بومی خلکو څخه استازیتوب کوی.

۲۰۰۴ کال د اپریل په ۲۰ د CIPO-RFM فعالینو د Oaxaca د ښار په مرکز کی د ولایت د مقر په مخکی د احتجاج یوه دایمی خیمه ودروله. دغه احتجاج د نیمه پوځیانو لخوا د Consejo د بومی خلکو د غړو د وژلو، د هغوی د څمکو د نیولو او د کرهنی په برخه کی د یوی شخړی د نه حل په وړاندی غبرګون ؤ. د دغه احتجاج یوه موخه دا وه ترڅو د نوموړی ښارخلک د سیمی د بومی خلکو د مبارزی او د هغوی ژوند ته د جاری ګوابنونو او ویرو، درد او رنځ په هکله پوه کړی. د ښار د خلکو ځواب په مجموعی توګه مثبت ؤ او ډیرو خلکو د هغوی له مبارزی سره یی لیوالتیا او د بومی خلکو د ژوند له ناخوال حالت سره یی خواخوږی ښکاره کړه. د پولیسو د ډیرو زیاتو هلو ځلو سره سره چی غوښتل یی احتجاج کونکی له ځای څخه لیری کړی، فعالینو خپلی مبارزی او احتجاج ته دوام ورکړ او دغه خیمه د Oaxaca په ښار کی د یوی دایمی خیمی په توګه پاتی شوه.

سرچینه:

http://www.indymedia.org.uk/en/2004/12/303257

---

[63] Special Rapüorteuer of teh Commission on Human Rights on the fundeamental freedoms of indigenous People.http://www.unhchr.ch/html/menu2/7/b/mindp.htm

[64] UN independent Expert on minority issues, http://www2.ohchr.org/english/issues/minorities/expert/index.htm

## ځوانان

د نړۍ د نفوس کابو نیمایی (تقریبا دری ملیارد) خلک له ۲۵ کلونو لږ عمر لری. د ننني زماني ځوان نسل په تاریخ کی تر ټولو ستر دی.[65] ځوانان کولای شی چی د امنیتي سکتور په عامه څارنی کی ستره ونډه واخلی. په داسی حال کی اکثر دوی د امنیتي سکتور تر هدف لاندی دی او په شخړه ایزو حالاتو کی سخت اغیرمن کیږی، خو په ټولنه کی د بدلون راوستلو او له بی عدالتیو څخه د خلکو د خلاصون لپاره په خپلو احتجاجونو کی هغوی تر ټولو پیاوړی دی، لکه چی په ۱۹۸۹ کال د چین په تیاننمن واټ کی چینایی ځوانانو وښودله. د مدنی ټولني سازمانونه چی د پوهی د سطحی د لوړلو په فعالیتونو کی بوخت دی، کولای شی چی د ځوانانو د ابتکارونو او د هغوی د پرته له ویری او ډار ستراتیژیو او هم د هغوی د شمیر قوت ته له پام لرنی سره، د هغوی له ګډون او لیوالتیا څخه ښه استفاده وکړی (په ۴- ۵ چوکاټ کی د صربستان د ځوانانو د غورځنګ د دی خبری ښه بیلګه ده). د مدنی ټولني سازمانونه مسوولیت لری چی د ځوان نسل د غږ اوریدو لپاره چی هغه ټول خلک واوری، زمینه اوفضا مساعده کړی. د پالیسی جوړولو او د سولی د رامنځ ته کولو لپاره تر ټولو پیاوړی غږ د ځوانانو غږ دی چی په څرګنده توګه اوچت کړای شی.

## ښځی

ښځی د مدنی ټولنی مهمی لوبغاړی دی او په داسی ساحو کی فعالی دی چی د امنیتي سکتور واکمنی ته غټ اهمیت لری.هغوی د روحی / روانی ناروغیو په پالنی، رأیو ورکونکو ته د زده کړو، د قانون اصلاحاتو، د جنسیت په هکله د پوهی د سطحی په لوړولو او سیاسی پلویتوب کی فعالی دی. ښځی همدارز له جګړو او وسلوالو شخړو څخه په وروستی دوره کی په انتخاباتی بهیر کی د ښځینه کاندیدانو په هڅولو او تشویقولو او په عمومی توګه په ټولنه کی د ښځو د سیاسی ونډو لپاره فعاله دی. د ښځو دلی کیدای شی چی په دی هکله ښه نقش ولری تر څو له پالیسی جوړونکو څخه وغواړی چی په پولیسی ځواکونو، عدلی نظامونو او د سولی په کمیټو کی د ښځو د پراخ ګډون سره ملکی امنیت ته زیاته پاملرنه وکړی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د ښځو له انجمنونو څخه ملاتړ وکړی او ښوونی او روزنی لپاره زمینه برابره کړی، کومو کی چی هغوی یو بل سره د همکاری او د خپلو تجربو د تبادلی لپاره تشویق شی او په امنیتي سکتور کی د هغوی برخی اخیستلو لپاره لاره هواره شی.

**۴ ــ ۱۳ چوکاټ**
**آیا نارینه توب د پارلمان د غړیتوب لپاره حتمی ده؟**

د ۲۰۰۷ کال په مارچ کی یو څو مشهورو ترکی ښځو د یو کمپاین نوښت وکړ ترڅو په ترکیه کی د لوړ پوړو ښځینه سیاستوالو د کمښت په هکله د پوهی سطح لوړه کړی. « **آیا نارینه توب د پارلمان د غړیتوب لپاره حتمی ده؟** تر دی شعار لاندی هغوی سره راټول شول. د کمپاین آزادو اعلانونو، پوسترونو او بولیټنونو کی ښودل شوی ؤ چی ښځو د نارینه جامی اغوستی دی او جعلی بریتونه بیرتونه یی پریښی دی. دغو پوسترونو او د تلویزیون اعلانونو په ټول هیواد کی پام ځان ته راواړاوه، شورماشور یی راوپاراوه او ملاتړ کوونکی یی پیدا کړل. ۵۵ ښځینه غیرحکومتی سازمانونو له دغه کمپاین سره چی مشری یی د ښځینه کاندیدانو د زده کړی او ملاتړ لپاره انجمن (KA-DER) په غاړه درلوده، لاس یو کړ. د KA-DER موخه دا وه ترڅو د پارلمان د ښځینه کاندیدانو شمیر زیات کړی او

[65] UNFPA, State of World Population 2006: Youth Supplement, New York, 2006, available online at http://www.unfpa.org/upload/lib_pub_file/655_filename_yswp-en.pdf

له سیاسی گوندونو څخه غوښتنه وکړی چی په خپلو لستونو کی د دری لوړو مقامونو څخه یوه یی د ښځو لپاره ځانګړی کړی. دغه مفکوره له دی حقیقت څخه پیدا شوه چی د ښځینه پارلمانی استازو په موضوع کی ترکیه د ۱۶۷ هیوادونو په جمله کی ۱۶۳ هیواد دی. د ترکیی د ۲۰۰۷ کال د جولای د میاشتی په پارلمانی ټاکنو کی د ښخینه پارلمانی غړو شمیر له ۴،۲ فیصدو څخه ۹،۱ فیصدو ته لوړ شو یعنی له ۲۴ ښځو څخه ۵۰ ته.

سرچینه:
http://www.esiweb.org/index.php?lang=en&id=245

## نتیجه

د پوهی د سطحی د لوړولو لپاره مختلفی ستراتیژی، میتودونه او وسایل وجود لری چی کیدای شی د پیغامونو د رسولو او لیږدولو او د عامه ذهنیت تر نفوذ لاندی راوستلو لپاره تری کار واخیستل شی. د مدنی ټولنی د سازمان د مشارکتونو، ائتلافونو او نړیوالو شبکو (شمال/جنوب، جنوب/جنوب، شرق/شرق، محلی/محلی) چی په هغو کی ښځی، ځوان خلک او حاشیوی ډلی شاملی دی، جوړولو سره، کیدای شی یو سیاسی قوت وګرځی هغه چی بدلون رامنځ ته کوی.
هغه څه چی تاسی د مدنی ټولنی د سازمان په توګه کولای شی:

### د پوهی د سطحی د لوړلو لپاره د ستراتیژی طرح

- په امنیتی سکتور کی د ستونزو پیژندل
- د غټو خنډونو پیژندل د هغو په جمله کی د قدرت او امنیت په هکله د ژورو ریښه لرونکو فرضیی
- د پوهی دسطحی د لوړولو د کمپاین لپاره د هدفونو ټاکل
- د اړوندو هدف وړ ډلو ټاکل
- د عامه پوهاوی د سطحی د لوړولو لپاره د مناسبو میتودونو پیژندل د هغو په جمله کی د رسنیو کمپاین، عامه تعلیم، اعتصابونه، نندارتون، مظاهری او نور عامی ټولنی

### د مدنی ټولنی له نورو سازمانونو سره ائتلاف جوړول

- د پوهی د سطحی د لوړو د کمپاینونو لپاره د تجربه لرونکو نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو سره د مشارکت جوړول
- د مدنی ټولنی له سازمانونو سره مشارکت
- د پوهی د سطحی د لوړولو د ګډو کمپاینونو لپاره ابتکار

### د څیرنی او د پوهی د سطحی د پرخوالو امکانات او وسایل

- پلټنه وکړی چی ستاسو د مدنی ټولنی سازمان څرنګه کولای شی چی غږیز– لیدنیز(سمعی او بصری) مواد، رادیو،انترنت او بیسیم مخابرات د پوهی دسطحی د لوړولو لپاره په اغیزمنه توګه په کار واچوی.
- یوی ستراتیژی ته وده ورکړی چی له رسنیو سره کار وکړی.

۵

# فصل

PETER ALBRECHT

# له حقوقو دفاع یا پلویتوب

Peter Albrecht

# ۵

# له حقوقو دفاع یا پلویتوب

د امنیتی سکتور د څارنی او مراقبت اړوند مسائلو په هکله له حقوقو د دفاع فعالیتونو د په لاره اچولو په موخه د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د یوی مناسبی سیاسی فضاء شته والی د جګړی څخه وروسته یا انتقالی دولتونو کی د پیاوړو دیمکراتیکو تأسیساتو د رامنځ ته کیدو ښکاروندی دی. معنی دا چی غیرحکومتی سازمانونه، مسلکی انجمنونه، خپلواکی ډله ایزی رسنی او څیړنیز تأسیسات ټول په یو حالت کی دی چی د اجرائیه او مقننه پالیسی جوړونکو باندی اغیزه لری:

- د امنیتی سکتور د تأسیساتو او پرسونل د قانونمندی او د څارنی چالچلندونو پیاوړی کول؛
- د امنیتی او عدلی پالیسیو په اړه په سلا مشورو او د کتنی په پروسه کی ګډون کول؛
- د عامه وګړو د برخی اخیستلو لپاره د سیاسی فضاء پرانیستل، البته چیرته چی لاتراوسه موجوده نه وی.

اساساً د مدنی ټولنی د سازمانونو د حقوقو دفاعی فعالیتونه کیدای شی چی د یوی خاصی ستونزی یا مسألی په هکله د نظریاتی یا پوهی پروسه د تصمیم نیونکو په پروسه کی د یو مثبت بدلون سبب وګرځی؛ په پای کی دغه چلندونه کیدای شی چی تصمیم نیولو طریقی او د امنیتی سکتور د لوبغاړو چارچلند ته بدلون ورکړی.

دغه فصل په دی هکله چی د مدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی د امنیتی سکتورد حقوقو دفاعی فعالیتونو کی د برخی اخیستو لپاره ستراتیژی طرحه کړی او سلا مشوری وکړی او همدا راز په دی هکله چی دا د ملی او سیمه ایز امنیتی مسائل اړوند پر تصمیم نیولو باندی څه مثبتی اغیزی لری، معلومات ورکوی.

۵- ۱ چوکاټ

**د قاضیانو د شتمنیو د اقرارخط څخه دفاع - په ارجنتاین کی د نړیوال شفافیت د کار یوه قضیه[66]**

دغه لاندی مثال د ارجنتاین په قضاء کی شفافیت او حساب ورکولو ته ځیر شوی دی. دغه مثال د امنیتی سکتور اصلاحاتو په اړه د یو هر اړخیز اقدام څخه نمایندگی کوی، کوم چی قضایی اصلاحاتو پوری اړه نیسی. د بیلگی په توگه، یو قضاء چی له شفافیت او حساب ورکولو څخه بی برخی وی، په آسانی سره د اختلاس او اداری فساد گمان پری کیږی. دا البته پر پولیسی چارو باندی ناوړه اغیزه کوی.

د ارجنتاین د ۱۹۹۹ د اخلاقو د قانون له مخی د قاضیانو په شمول د دولت ټول مامورین باید د خپل ماموریت له پیل څخه وروسته د ۳۰ ورځو په موده کی د خپلو شتمنیو د ښکاره کولو لپاره لوړه وکړی او اقرارخط ورکړی. دغه ډول اقرارخط چی ښکاره کړی څومره شتنمی لری، باید هر کال او هم د ماموریت له پای ته رسیدو څخه ۳۰ ورځي وروسته وړاندی کړی. دغه قانون عام وگړو ته حق ورکوی چی د دغو اقرارخطونو یوه نسخه تر لاسه کړی.

د ۲۰۰۰ کال د فبروری په ۹ د ارجنتاین ستری محکمی د ملی عامه اخلاقو کمیسیون ته منل شوی صلاحیتونه چی د امتیازی معلومات د تر لاسه کولو لپاره غوښتنه وکړی رد کړل او پریکړه وکړه چی دا د ستری محکمی دنده ده چی د نوموړو معلوماتو او د قاضیانو د شتمنیو د اقرارخطونو په هکله ځواب ورکړی. په عمل کی د ستری محکمی دغه جوړ شوی پروسیجر دومره ستونزمن وه چی کابو غیر ممکن وه چی د عامی ټولنی یوغړی وکړای شی د قاضایانو د شتمنیو د اندازی په هکله پوښتنه وکړی. د نوی قانون له مخی د شتمنیو د هری اقرارخط لپاره ځانگړی غوښتنه باید اړوند قاضی ته وړاندی شی او قاضی حق لری چی دغه غوښتنه رد کړی.

په ارجنتاین کی د نړیوال شفافیت ترنامه لاندی یوه ټولنی ، Poder Ciudadano د ۲۰۰۰ کال په می کی د قضائیه له شورا څخه د قاضیانو د شتمنیو په هکله د اقرار خطونو د یوی نسخی غوښتنه وکړه، خو شورا وویل چی د هغوی صلاحیت د ستری محکمی لخوا محدود کړای شوی دی.

د ۲۰۰۴ کال په مارچ کی Poder Ciudadano د مدنی ټولنی له نور سازمانونو سره لاس یو کړ تر څو د شتمنیو د اقرار خطونو نسخی عام وگړو ته هم ورکړای شی. دغه غوښتنه بیا رده شوه.

## د حقوقو د دفاع تعریف

اصولاً له حقونو څخه دفاع د یوی ستونزی په وړاندی یو سازمان شوی اقدام دی ترڅو د دغی ستونزی لپاره د حل لاره پیدا کړی او هغه اړوندو تصمیم نیونکو ته وړاندی کړی. د امنیتی سکتور په مقابل کی د یو فعالیت په توگه دا په حقیقت کی د څارنی یوه مهمه برخه ده. که چیری د حقونو دفاع د قانع کونکو دلایلو پر اساس او د سیاسی فضاء څخه د یوی ژوری پوهی سره سرته ورسول شی، دا به یو ډیر اغیزمن کار وی. له حقونو دفاع یو څو اړخیزه هڅه ده چی په هغی کی کیدای شی عامه تعلیم او عامه ذهنیت باندی نفوذ پیدا کول، څیړنه، شبکه یی فعالیت، قانونی اقدام او د عامو خلکو هڅول، د اجندا ټاکل، د پالیسی طرح، تطبیق او څارنه، دا ټول شامل وی. خو اساساً په دی هکله د نظر کوم یووالی وجود نه لری چی کوم فعالیت د پالیسی په پروسه کی تر نورو زیات اغیزه پیاوړی کوی.

د بدلون لپاره د حقونو دفاع په حقیقت کی د یو اوږد مهال زیار او زحمت غوښتنه کوی. ډیر کم وخت پیښیږی چی یوه پروسه تکرار شی. دا البته د دی معنی نه لری چی په دی پروسه کی زده کړه د

[66] Transparency International, Cobmbating Corruption in Judicial Systems- Advocacy Toolkit, 2007

احساس وړ نه ده، خو د دی لپاره چی د حقونو د دفاع د مبارزی د هر قدم د بریالیتوت د څرګندولو پر اهمیت ټینګار وشی، له هر نوښت څخه لاس ته راغلی تجربه باید بل قدم ته انتقال شی.[67]

د یادونی وړ ده چی د حقونو څخه دفاع د عام وګړو یا رسنیو په منځ کی د ښوونی یا د پوهی د سطحی د لوړولو په څیر نه ده، ځکه د دغو دوه وروستیو موخه مستقیما د سترو تصمیم نیونکو باندی نفوذ راوستل نه دی. خو دا د چارچلندونو شکلونه دی چی کولای شی د حقونو د دفاع په کار کی مرسته وکړی او د داسی یو څه په توګه کولای شی چی بیاهم د حقونو د دفاع د مبارزی د سازمان د یوی برخی په توګه پاتی شی. د بیلګی په توګه، د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا ښوونه او روزنه هرومرو د یوی ځانګړی موضوع په وړاندی د حقونو د دفاع د سازمان په راتلونکی اقدام باندی اغیزه لری. په دی جمله کی شخړیز – حساس تحول، بشری حقونه او داسی نور شامل دی.

## د حقوقو د دفاع په وړاندی ننګونی

د حقوقو د دفاع د اغیزمنو مبارزو د تر سره کولو لپاره د مدنی ټولنی د سازمان توانمندی او ظرفیت دغو لاندو چاپیریالونو پوری تړلی دی:[68]

- د محرمیت رسم چی لا تر اوسه د امنیتی سکتور په برخه کی وجود لری چی اړوندو معلوماتو او همداراز تصمیم نیونکو ته لاس رسی محدودوی؛
- د ملکی آزادیو او بشری حقونو په هکله په ملی سطح د امنیتی اندیښنو ړومبیتوبونه، دا ځکه چی د بشری حقونو په برخه کی ډیر لږ امکانات وجود لری ترڅو امنیتی سکتور حساب ورکولو ته کش کړی؛
- د مدنی ټولنی د سازمانونو تر منځ د تجربی او ظرفیت کموالی، دغسی یو ظرفیت ته اړتیا ده تر څو د تدارکاتو او د پولیسو او پوځ لپاره د بودجی جوړلو تخنیکی اړخونو سره پیژندګلوی پیدا شی؛
- د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په پروسه کی د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د بسپنه کونکو محدود ملاتړ چی معمولاً په نوموړی سکتور کی له دولت سره د تخنیکی همکاری پلوی کوی
- بی نظمه او ګډوډه مدنی ټولنه چی اساساً د سازمان د شندیدو په بیه تمامیږی، نشی کولای چی د امنیتی سکتور په اړوندو مسائلو کی خپلی دندی په سمه توګه اجراء کړی.

که څه هم دغه پورته یادی شوی ننګونی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په پروسه کی د مدنی ټولنی د شاملولو لپاره رښتینی خنډونه دی، خو ځینی نوری لاری چاری موجودی دی چی کولای شی د مدنی ټولنی د ډلی د حقونو د دفاع د کمپاین له لاری اغیزه ولری.

---

[67] Nabacwa, Mary Sconko, Policies and Practices Towards Women's Empowerment: Policy advocacy by Gender focused NGOs and the Realities of the gross roots women in Uganda, Action Aid: London 2001. p.8. available at http:///actionaid.org.uk/doc_lib/123_1_reality_grossroot_ugand.pdf

[68] Karen Barnes and Peter Albrecht, „Civil Security Oversight of the Security Sector and Gender" in Gender and Security Sector Reform Tookkit, Megan Bastick and Kristin Valasek (eds), DCAF/ODHR, UN-INSRAW, Geneva 2008

**۵- ۲ چوکاټ**
**د حقوقو دفاع او د هغه د محدودیتونو په هکله د جنوبی افریقا پریکړه**

د حقوقو د دفاع په هکله د جنوبی افریقا د پریکړی د مسودی په وخت کی اجرائیه په بشپړه توګه له لومړی سره د عامه سلامشوری څخه د استفادی په هکله قانع نه وه. خو سلامشوری د پارلمانی ستاینو سره مخامخی شوی چی په نتیجه کی یی د کتنی او پلټنی کاری کمیټه جوړه شوه. په دغی کمیټی کی پارلمانی غړی او د مدنی ټولنی تحلیل کونکی او لوړ پوړی منصبداران او ملکی مامورین شامل شول. په عین وخت ولایتی ورکشاپونه او دوه ملی مشورتی کنفرانسونه دایر شول.

پارلمانی غړی او د مدنی ټولنی ډلی په ډیرو موضوعاتو کی د نفوذ څخه برخمنی وی خو د هغوی محدودیونه هم د طرحی د مسودی په وخت کی د تندو بحثونو په وخت کی څرکند شول. په دغی پروسه کی د پوځی تخصص کمبود لیدل کیده، نو په دی وجه د جنوبی افریقا ملی دفاعی ځواک (SANDF) لخوا د هجومی ځواک د طرحی په بحث کی ډیری لږی سپارښتنی وکړی. د پارلمان لخوا د دغه ځواک د طرحی منظوری د وسلو د تر لاسه کولو د یو شخړه ایز پروګرام لامل وګرځید. په دغه پروګرام کی د پنځو ملیاردو ډالرو په ارزښت د جنګی بیړیو او جنګی الوتکو رانیول شامل ؤ. دغه ډول یو پروګرام د غیرهجومی دفاعی جوړښت په هکله د دفاعی پریکړی له اصولو او هدایاتو او له ژمنوسره نه جوړیده ترڅو د ټولنیز – اقتصادی پرمختیا په ګټه د پوځی لګښت مخه ونیوله شی.

سرچینه
Nathan; Lauri, Local Ownership of Security Reform: A Guide for Donors, University of Birmingham, London, 2007, p.103.

## بدلونکی پالیسی

پخوا د امنیتی موضوعاتو اړوندو مسائلو کی د پالیسی جوړول تر زیاتی کچی د محرمیت او دا چی د ملی امنیت مسائل د یو ډول اعتماد غوښتنه کوی، په چوکاټ کی سرته رسیدلی. خو په داسی حال کی چی د دیموکراتیکو امنیتی تأسیساتو د جوړولو په هکله تخنیکی او قانونی تفصیلات روښانه دی، د هغوی بریالی تطبیق د خلکو ظرفیت پوری اړه نیسی چی د امنیتی شرایطو په اړه خپل نظر او اندیښنه څرګنده کوی.که چیری امنیتی او عدلی شرایط په حقیقت کی د عامه پالیسی موضوع او اساساً د یوی عامه ښیګنی په توګه وګنله شی، د هغو په هکله باید د نورو موضوعاتو لکه اقتصاد، روغتیا او ښوونی او روزنی په څیر په مساوی کچه بحث او خبری وشی. ښکاره عامه بحث له مختلفو لارو پیاوړی کیدای شی، لکه عامه سروی، ډله ایز بحثونه، تلویزونی مستند رپوټونه، د مطبوعاتو له لاری د مقالو خپرول، عامه معلوماتی کمپاین، د پوهنتونو سیمینارونه او د پارلمان ځینی ځانګړی غونډي چی په هغو کی د عامه خلکو ګډون هم شرط دی.

د پالیسی پروسی ته پام اړول – څرنګه چی د مدنی ټولنی سازمانونه د دی کار په وجه اکثر تر نیوکو لاندی نیول کیږی – او د لنډ هدف لکه د قانونی یا پالیسی اصلاحاتو ته رسیدل، دا خطر ځان سره لری چی په اوږده موده کی د دغه ډول اصلاحاتو مخه ونیوله شی او یا له پام څخه وغورځول شی. بریالیتوب باید له دی قیاس شی چی د ټولنی له پام څخه غورځول شوی یا حاشیوی ډلی د خپلو امنیتی اړتیاو په تعریف کی برخه ولری، د وګړو په وړاندی د دولتی امنیتی تأسیساتو حساب ورکول غښتلی شی، هغوی په خپلو چارچلندونو کی بدلون رامنځ ته کړی او د پالیسی په پروسه کی د مدنی ټولنی د سازمانونو ونډه پراخه کړای شی.

**۵- ۳ جدول**
**د ښځو سازمانونه له پولیسو غواړی ترڅو د کورنی زورزیاتی په مقابل کی عمل وکړی: د اتریش قضیه.**

د ښځو د ډلو لخوا د حقوقو څخه د دفاع لپاره د پاینت لرونکی مبارزو په نتیجه کی ډیر اروپایی هیوادونو په ۱۹۹۰ لسیزه کی د ښځو په مقابل کی د زور زیاتیو پر ضد د مبارزو لپاره نوی ستراتیژی طرح کړی. د حقونو څخه د دفاع لپاره د خپلو هڅو د یوی برخی په توګه د ښځو سازمانونه د بیلابیلو قضیو د ثبتولو لپاره زیار وایست. دغو قضیو په ښکاره توګه بربنډه کړه چی ښځی د حقونو د دفاع څخه بی برخی دی او له دغو شواهدو څخه په استفادی سره د عامه چارو مسوولینو څخه د عمل لپاره غوښتنی وکړی. په دی برخه کی د قانون د نشتوالی له امله پولیسو دومره وکړای شو ترڅو وضعیت کی یوه اندازه چوپتیا رامنځ ته کړی او تر ګواښ لاندی میرمنو ته یی سپارښتنه وکړه چی له خپلو ماشومانو سره له کوره ووځی. د حقونو څخه د دفاع لپاره دهڅو په نتیجه کی ډیر اروپایی هیوادونه اوس په دی برخه کی ځینی مقررات او قوانین لری.

د بیلګی په توګه په اتریش کی د ښځو په مقابل کی له زورزیاتیو د مخنیوی قانون د ۱۹۹۷ کال د می په میاشت کی نافذ شو. سر بیره پر دی اوس د پولیسو او د ښځو د سازمانونو ترمنځ منظمه همکاری موجود ده. کله چی د پولیسو لخوا یو استثنایی امر صادر شی د پیښی څخه له متضرر شوی ښځی سره سمدلاسه د مداخله نومی مرکز لخوا چی رهبری یی د ښځو په غاړه ده تماس نیول کیږی. د مداخلی دغه ډول مرکزونه رسمی مراجع دی ترڅو له متضرر شویو ښځو سره مرسته وکړی، قانونی سلامشوری ورته ورکړی او د محکمی د دعوا په جریان کی تر څنګ یی ودریږی.

سرچینه:
Logar, R „ The Austrian Model of Intervention in Domestic Cases“, Expert Group Meeting organized by the UN Division fort he Advancement of Women, 17-20 May 2005, Vianna, Austria. Avialble at http://www.un.org/womenwatch/daw/egm/vaw-gp-2005/docs/experts/logar.dv.pdf

## د حقوقو د دفاع مختلفی سطحی

د امنیتی سکتور اړوند د حقوقو څخه دفاع ښایی د مختلفو سطحو د خلکو او تأسیساتو هدف وی چی لمن یی د ځایی پولیسو څخه نیولی تر ملګرو ملتونو پوری ورسیږي. په خاصه توګه چی د شخړیز او ناکرارو شرایطو څخه وروسته دولتی تأسیسات ښایی کمزوری وی او غیردولتی لوبغاړی لکه د اورپکو مشران او غیرمنظم امنیتی ځواکونه ښایی د امنیت او عدالت د خوندی ساتنی یواځنی ځواکونه وی.

نو په دی وجهه د شخړایز او ناکرار شرایطو څخه وروسته هیوادونو او یا انتقالی او د پرمختیا په حال کی دولتونو کی مختلف لوبغاړی وجود لری چی د حقونو د دفاع د مقصدونو لپاره کار کوی. دغسی یو حالت په خاصه توګه په هغو شرایطو کی وجود لری چی سیمه ایز تأسیسات د امنیت او عدالت د خوندی ساتنی لپاره انحصار په خپل لاس کی لری:

- **محلی یا ځایی سطح:** د بیلګی په توګه د ځایی پولیسو ماموریتونه، ځایی حکومتی تأسیسات، د ګوندونو ځایی استازی او ځایی مشران؛

- **ملی سطح:** د بیلګی په توګه اجرائیه چی د پرمختیایی او امنیتی پالیسو طرح جوړوی او پارلمان چی خپل موافقت او یا مخالفت څرګندوی او د هغوی د تطبیق لپاره بودجه ورکوی؛
- **نړیواله سطح:** د بیلګی په توګه د سوله ساتو عملیاتو لپاره د ملګرو ملتونو اداره، د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام، کلیدی تصمیم نیونکی او په ملګرو ملتونو کی چارواکی او همداراز په هر هیواد کی هغه نمایندګی چی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په هکله د ملګرو ملتونو پالیسی جوړوی، پری بحث او خبری کوی اوتصویبوی یی. په نړیوال سطح کی نور لوبغاړی هم ګډون لری، لکه حکومتونه، په خاصه توګه د هغوی د سفارتونو له لاری او نړیوال غیرحکومتی سازمانونه چی هغوی کولای شی چی ستاسو د حقونو د دفاع د هڅو له ستراتیژی څخه ملاتړ وکړی.

هغه موضوع چی تاسی غواړی ورته پاملرنه وکړی په ټولو دغو دری مختلفو سطحو کی مطرح دی نو په دی وجه د حقونو د دفاع لپاره ستاسو کمپاین دغو لاندو مسائلو پوری اړه لری:

۱- د ستونزی کچه چی تاسی غواړی ورته پاملرنه وکړی؛
۲- چیرته تاسی کولای شی چی په دی ستونزه یا موضوع باندی ستره اغیزه ولری؛
۳- ستاسو تشکیلاتی شبکی او اړیکی؛
۴- ستاسو د سازمان ماموریت.

**۵- ۴ چوکاټ**
**ارتباطی دفترونه – په ختیځه او مرکزی اروپا او د بالتیک دولتونو لپاره د اړیکو ځانګی**

په ختیځه او مرکزی اروپا کی ډیرو هیوادونو د هغو په جمله کی پولند، د چک جمهوریت او استونیا د اړیکو د غیرحکومتی سازمان دفترونه جوړ کړل. په سیمه کی د هیوادونو په منځ کی د مختلفو نمونو له مخی دفترونه جوړ شول.

۱- پولند، کرواتیا، د چک جمهوریت، سلواکیا، سلونیا: د هغوی د نوموړو ارتباطی دفترونو کار د یوی بیروکراتیک یونت او د یو پراخ مشورتی ارګان لخوا پرمخ بول کیږی چی د قانون، مقرراتو او نور لوایحو له مخی یو بل سره په مشارکت کی کار کوی.
۲- رومانیا، هنګری: حکومتی ارګانونه پرته له یو مشورتی ارګان څخه د غیرحکومتی سازمان د همکاری ځارنه کوی؛
۳- لاتویا، استونیا: اوسنی ځانګی د نورو مسوولیتونو سربیره لکه د ټولنیز ادغام، محلی حکومت او سیمه ایز ادارو مسوولیت، د غیرحکومتی سازمان او د حکومت د همکاری ځارنه کوی.
۴- لتوانیا: مختلفی حکومتی ځانګی له غیر حکومتی سازمانونو سره د کارونو د همغږیو مسوولیت په غاړه لری.

**د همکاری مقصد او ساحه:** په نوموړو هیوادونو کی د غیرحکومتی سازمان د ارتباطی دفترونو د جوړولو مهم دلیل دا ؤ چی د مدنی ټولنی او د حکومت ترمنځ اړیکی پیاوړی شی. د غیرحکومتی ارتباطی دفترونو جوړول یواځي په دی مقصد نه دی چی د امنیتی سکتور سره چالچلند وکړی، بلکه هغوی کولای شی چی په دغو موضوعاتو کی د مدنی ټولنی د استازیتوب لپاره یوه ډیره ښه وسیله وګرځي.

**د غیر حکومتی سازمان د ارتباطی دفتر او حکومت د همکاری مهمه ساحه:**
په ټولو دغو هیوادونو کی د ارتباطی دفترونو مهم فعالیتونه د قوانینو مسوده او د هغو په هکله مشوره،

مستقیم یا غیرمستقیم تمویل اود معلوماتو تبادله جوړوی. له هغو څخه څلور هیوادونه – سلونیا، رومانیا، استونیا او هنگری پر ښوونی او روزنی باندی ټینگار لری، چی په دغو ښوونو کی د نوموړی غیرحکومتی سازمان د استازو او په مدنی ټولنه کی د نورو فعالینو استازی شامل دی. مدنی گډون، آزاد او پرانیستی حکومتوالی او ټولنیز دیالوگ تشویقول په سلوانیا، لاتویا، رومانیا، استونیا اولتوانیا کی په ړومبیتوبونو کی راځی.

**د همکاری ځانگړی ساحی:**
په ځینو هیوادونو کی ارتباطی دفترونه د غیرحکومتی سازمان او حکومت ترمنځ په ځینو ځانگړو ساحو کی د همکاریو ملاتړ کوی لکه په پولند او کرواتیا کی (څیړنه)، استونیا کی (د مدنی نوښتنو لپاره د احصائیی او ملاتړ سیستمونه) او هنگری کی (د معلوماتی ټولنی د سرچینو پراختیا).

**ننگونی:**
د غیرحکومتی سازمان او حکومت ترمنځ د اغیزمنی همکاری خنډونه کابو په ټولو هیوادونو کی یو شان دی. د اعتماد د رامنځ ته کولو او ناوړه طرحو او کاذبو هیلو د مخنیوی لپاره ننگونی موجودی دی.
په سلوانیا، پولند، د چک په جمهوریت او هنگری کی یوه ستونزه دا وه چی نامعلومه وه څوک د همکاریو په هڅو کی د غیرحکومتی سازمانونو څخه د استازیتوب صلاحیت لری. په رومانیا کی د نه تجربی له امله چارچلندی غلطیو سره د پرگنه ایزو په متقابلو سلامشورو کی مداخله شوی ده. اداری محدویتونو (د هغو په جملو کی: تشکیلاتی، ناوړه همغږی، محدود منابع او نه توانمندی) په رومانیا، د چک په جمهوریت، استونیا او هنگری کی همکاریو ته خنډونه پیدا کړی دی.

سرچینه:
Gerasimova, Maria, The Liason Office as a Tool for Successful NGO-Government Cooperation: An Overview of the Central and Eastern European and Countries “Experience”, The International Journal of Not-for-Profit Law, vol, 7, Issue 3 (2005).

**د مدنی ټولنی د سازمان لخوا د حقوقو دفاع او د نړیوال امنیتی سکتور د اصلاحاتو چوکاټ**

نړیوال قوانین، چوکاټونه او بیانونه د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د حقوقو دفاع ډیر مهم وسایل دی.
له هغوی څخه د استفادی سره استدلالونه قوی کیدای شی او حکومتونه هم قانع کیدای شی چی د امنیتی سکتور په تعریف کی د هغوی گډون څومره اهمیت لری. نور دیموکراتیک نورمونه هم د دی کتاب په نورو برخو کی توضیح شوی، خود امنیتی سکتور د حکومتوالی څلور ستر مخصوص نورمونه عبارت دی له:

لومړی، د سولی د خوندی ساتنی او پرمختیا په هکله د ملگرو ملتونو رپوټ: د امنیتی سکتور د اصلاحاتو د ملاتړ لپاره د ملگرو ملتونو نقش: د ملگرو ملتونو د عمومی اسامبلی د ۲۰۰۸ کال رپوټ د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په موخه د ملگرو ملتونو د یو بشپړ اقدام لپاره لارښونه وړاندی کوی. دغه اصلاحات باید «د اغیزمن، بشپړ او حساب ورکونکی امنیتی تأسیساتو په وده ورکولو کی له دولتونو او

ټولنو سره مرسته وکړي او سربېره پر دې په نړیوالې سولې او امنیت، پایښت لرونکې پرمختیا او د ټولو بشري حقونو په خوندي ساتنه کې ونډه واخلي».[69]

دوهم، د اروپا د اتحادیې طرح چې نوم یې دی «د امنیتي سکتور د اصلاحاتو لپاره د اروپایي ټولنې د ملاتړ طرح» (۲۰۰۶)[70] کېدای شي په اروپا کې د حقونو د دفاع لپاره د یوې مهمې وسیلې په توګه تری استفاده وشي. د طرحې دغه مسوده د امنیتي سکتور په اصلاحاتو (SSR) کې د مدني ټولنې د چارچلند پر مهم نقش ټینګار کوي، حتی د «حکومتونو د مخکې له مخکې موافقې څخه پرته» چې کولای شي د امنیتي سکتور د څارنې په اصلاحاتو کې ونډه واخلي.»

**۵- ۵ چوکاټ**

**د حقوقو د دفاع لپاره ستاسو د کمپاین پلان[71]**

| | |
|---|---|
| موضوع څه ده او د هغې وجه څه ده؟ | د پالیسیو، بودجو او داسې نورو مسائلو په هکله له ځینو څخه استفاده کول تر څو ستونزې تشخیص او لازم معلومات لاس ته راوړي.<br>که چېرې غواړې د امنیتي سکتور په جوړښت کې جدي وګټل شي، باید د یو کار پوه له لارې عمل وکړي. د موضوع د تیارې او د ژورتیا له لارې چې تاسې پلان کوئ ترڅو له حقونو دفاع وکړي، ډېر زیات اهمیت لري. |
| ستاسو هدف او مقصد څه دی؟ | هدف عبارت د یوې اوږدې مودې غوښتنه ده چې سړی غواړي د دفاع او عملي فعالیتونو له لارې په عمل کې پیاده کړي. هدف کېدای شي دا هم وي چې: «د حکومت په امنیتي اړوند موضوعاتو کې څرګندتوب او شفافیت خوندي وساتل شي.» |
| مشخص بدلونونه کوم دي چې تاسې لاس ته راوړل غواړئ؟ | د بیلګې په توګه، د پوهې د سطحې لوړول، پوهه، دریځ یا د پالیسي جوړونکو یا امنیتي لوبغاړو چارچلند، د قضائي اختلاس یا د امنیت خوندي ساتونکو د ناوړه چارچلند مخنیوی.<br>په بل عبارت، د حقونو د خوندي ساتنې د پالیسي د تطبیق په نتیجه کې څه توپیر رامنځ ته کیږي؟ آیا د امنیت اړوند موضوعاتو په هکله په حکومت کې ستره پرانیستې رامنځ ته کېدای شي؟ |
| د نتایجو د معلومولو لپاره له کومو معیارونو څخه کار اخیستل کیږي؟ | په داسې حال کې چې د حقونو د دفاع پالیسي پلې کوي د مختلفو پرمختګونو په هکله هم فکر وکړي چې تاسې غواړي تعقیب یې کړي. معیارونه کېدای شي چې پروسه، اغیزه، نتایج په پام کې ونیسي یا په حکومت کې بدلونونو ته ځیر شي، ټول دغه مسائل کېدای شي اغیزه ولري چې آیا تاسې خپل ټاکلې هدفونه لاس ته راوړای شي. |
| ستاسو ستر برخه اخیستونکې څوک دي؟ | هغوی له څه خبر دي؟ هغوی په څه ډول تر اغیزې لاندې نیول کیږي؟ هغوی څرنګه تصمیم نیسي؟ څه ډول معلوماتو ته دوی اړتیا لري؟ آیا تاسې څوک پیژنئ چې له هغو سره کار کوي؟ یا د هغوی د اعتماد وړ وي؟ |

[69] Available at http//www.unog.ch/80256EDD006889554/(httpAssets)/90489EE81287591FC12573400322816/$file/Joint+Semina_A-62-569_S-2008-39.pdf

[70] Available at http://eur-lex.europa.eu/LexUriServ.do?.uri=COM:2006:0253:FIN:EN:PDF

[71] Adapted from Who makes the News? “Mission Impossible”: A Gender and Media Toolkit, Availbe online at: http://www.whomakesthenews.org/get_involved/advocacy_toolkit

| | |
|---|---|
| ستاسو لومړنی برخه اخیستونکی څوک دی؟ هغوی د هدفونو، موخو، نتایجو او ستاسو د ستراتیژیو د معلومولو لپاره څه ډول برخه اخلی؟ ستاسو دوهمه درجه برخه اخیستونکی څوک دی او نور مهم برخه اخیستونکی | مهم برخه اخیستونکی عبارت دی له هغو څخه چی د بدلون د راوستلو لپاره صلاحیت لری، خو هغوی ښایی دی ته اړ کړای شی چی په عمل لاس پوری کړی؛ دوهمه درجه برخه اخیستونکی عبارت له هغو ډلو څخه دی چی د هغوی پر ملاتړ حساب کیدای شی. لومړنی برخه اخیستونکی عبارت له هغو دی چی د راوستل شویو بدلونونو څخه ګټه ترلاسه کوی او د نورو مهمو برخه اخیستونکو په جمله کی امنیتی سکتور لوبغاړی دی چی کیدای شی له ستراتیژی سره مخالفت وکړی. ځان ته وخت پیدا کړی او په دی هکله فکر وکړی چی څرنګه کولای شی کار وکړی او په هر برخه اخیستونکی باندی د نفوذ موندولو سره د بریالیتوب لپاره بدلون رامنځ ته کړی. |
| څه ډول څیړنی ته تاسی اړتیا لری ترڅو د معلوماتو، دریځونو او داسی نورو مسائلو په اړه آزمایښتی فرضیی په لاره واچوی؟ | څرنګه د خپلو هدف وړ مخاطبینو یوه نمونه یی استازیتوب ته رسیږی او څه ډول تخنیک څخه استفاده کوی ترڅو د موضوعاتو په هکله د هغوی فکر معلوم کړی؟ هغوی د دی موضوعاتو لپاره معلوماتو ته څه ډول لاس رسی پیدا کوی. لطفاً په دی اړه د زیاتو معلوماتو لپاره  په همدی کتاب کی د څیړنی فصل ته مراجعه کړی. |
| مهم پیغامونه کوم دی چی تاسی باید د غوښتنی وړ بدلون لپاره اړوندو برخه اخیستونکو ته ورسوی (د بیلګی په توګه د هغوی د معلوماتو سطح، د هغوی چارچلند بدلون). | له هغو ډلو څخه استفاده وکړی چی د رسنیو او نورو داسی ډول د رسنیو څیړنیزی تجربی ورسره وی ترڅو ومومی چی څه پیښ شوی دی او ولی؟ او د هغو له مخی خپل پیغامونه سره جوړ کړی. |
| څه ډول مفاهمی او تماسونه (مثلاً، د څیړنی له مخی د حقایقو موندلو لپاره د مشهوری لاری چاری) له چینلونو (لکه مخامخ مفاهمه، سیمینارونه، ډله ایز رسنی) او فعالیتونه ستاسو مهمو برخه اخیستونکو لپاره مناسب دی. | د هغو کسانو په هکله چی ستاسو د هدف وړ دی، صراحت او څرګندتوب ولری: د ډلو په هکله پسمنظری کارونه سرته ورسوی او هغوی له مناسبو پیغامونو سره تر هدف لاندی ونیسی. په دی هکله هم فکر وکړی چی تاسی له چا سره مفاهمه کوی، هغه کسان شامل کړی چی د اعتبار خاوندان وی / مهم برخه اخیستونکی تر اغیزی لاندی راوړی. |

| | |
|---|---|
| د حقونو د دفاع د ستراتیژی لپاره څومره بودجه مو پکار ده او کومو مهارتونو او مسلکی زدکړو ته اړتیا ده؟ | په منابعو کی مالی بودجه، بشری قوه او د هغوی مهارتونه. |
| تاسی د خپلی ستراتیژی اغیزی او هغه زده کړی مو چی له تجربو کړی دی څرنګه ارزوی او خپروی؟ | د د نورو سازمانونو په هکله فکر وکړی چی څرنګه کولای شی، ستاسو له تجربو څخه یی زده کړی. |
| څرنګه کولای شی چی د حقونو د دفاع لپاره د خپلی ستراتیژی پایښت خوندی وساتی؟ | که چیری تاسی په بریالیتوب سره بدلون راوستلی یی، تاسی باید په دی هکله هم فکر وکړی چی څرنګه کولای شی د بدلون پایښت خوندی وساتی. که چیری د حقوقو د دفاع کمپاین د پالیسی سطح ته ځیر کړای شی، د دی پالیسیو تطبیق ته پاملرنه خورا اهمیت لری. څوک د لاس وهنی په وړاندی پایښت کوی؟ کوم پلان شوی اقدامات ډیر اغیزمن دی؟ |
| د حقونو د دفاع لپاره ستاسو د ستراتیژی خطر څه دی؟ | سیاسی فحوا ته په پاملرنی سره، تاسی باید په پوره احتیاط سره څرګند کړی چی ستاسو د ستراتیژی خطرونه کوم دی ترڅو له یوی خوا جسمی امنیت مو خوندی وساتل شی او له بلی خوا له هغه بحث څخه تجرید نه شی چی تاسی په هغه کی د ګډون هڅه کوی. |

دریم، د امنیتی سیستم د اصلاحاتو او حکومتوالی په هکله لارښوونی (۲۰۰۵)[72] چی د OECD د پرمختیایی مرستو د کمیټی (DAC) لخوا صادر شوی، په دی برخه کی ډیر ګټور ثابت شوی دی. دغه لارښوونی د DAC لخوا په دی مقصد طرح او تدوین شوی تر څو خپلو حکومتونو/ادارو، د پرمختیا په حال کی هیوادونو او نړیوال سازمانونو سره د هغوی د امنیتی سکتور له اصلاحاتو سره مرسته وشی. دغه لارښوونی د مدنی ټولنی سره د ملاتړ ویندویی کوی تر څو د امنیتی سکتور د دیموکراتیکی حکومتوالی لپاره د اصلاحاتو پلوی چاپیریال جوړ کړی.»

په پای کی یو ځل بیا د یادونی وړ ده چی د **امنیتی سیستم د اصلاحاتو - د امنیت او عدالت څخه د ملاتړ** (۲۰۰۷) [73] په هکله د OECD DAC د لارښوونی کتاب د بسپنه ورکونکو هیوادونو لپاره بنی لار ښوونی لری چی څرنګه د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په ساحه کی د پالیسی او عمل ترمنځ خلاء ډکه کړی. دغه لاسی کتاب پرمختایی، امنیتی او د قانون د واکمنی ساحی او دیپلوماتیک ارکان (هم هغه کسان چی د ماموریت په عملی ساحه کی او هم هغه کسان چی د پالیسیو او ستراتیژیکی مسائلو باندی په مرکزی دفترونو کی کار کوی) تر هدف لاندی نیولی دی. په دی کتاب کی یو فصل پر امنیتی سکتور باندی د څارنی سره د مرستی لپاره د مدنی ټولنی نقش ته ځانګړی شوی دی.

## د حقوقو د دفاع لپاره د یو کمپاین تیاری

[72] Available at http://www.oecd.org/dataoecd/8/39/31785288.pdf
[73] Available at http://www.oecd.org/dataoecd/43/25/38406485.pdf

د مدني ټولنې سازمانونه چې د حقوقو د دفاع لپاره د يو کمپاين بندوبست کوي بايد د خپلو اقداماتو لپاره يوه ستراتيژي جوړه کړي ترڅو وکړای شي په سمه وجه خپل فعاليتونه اجراء کړي.

## د مسائلو تشخيص او پلان جوړل

يو څرګند تشريح کړای شوی پلان چې کوم بدلونونه تاسي لاس ته راوړل غواړي او څرنګه کولای شي چې هغه پلان کړي د حقونو د دفاع لپاره د هر ستراتيژي دپيل ټکي دی. دغه لاندی لاربنوونه کيدای شي په دی لاره کې ښه ګټور وی.

**چوکاټ ۵- ۶**
مغلستان - د پوځ په تعليمی نصاب کې د جنسی روغتيايی زده کړو شاملول

د Mongol Visiondh يا د مغل ليری ليد هغه يو غيرحکومتی سازمان دی چې په ۱۹۹۸ کال کې تأسيس شوی او د روغتيايی پالنی په برخه کې فعاليتونه لری، د هغه سازمان د فعاليتونو يوه ساحه د ايدز يا د HIV د ويروس او همداراز د نورو داسی جنسی ناروغيو د سرايت د مخنيوی پوری اړه نيسی. د نوموړی سازمان فعاليتونه په خاصه توګه نارينه وو ته متوجه دی، د هغو په جمله کې هغه پوځی منصبداران او عسکر هم شامل دی چې په وسلوالو ځواکونو کی په خدمت بوخت دی. د کار او فعاليت رهبری د مغل ليری ليد نومی سازمان د روغتيايی چارو د کميټی په غاړه دی، په دی کميټی کې د مغلستان د وسلوالو ځواکونو (MAF) قوماندان هم ګډون لری.

موضوع: نوی جلبيان بيا په خاصه توګه هغه چې له اطرافی سيمو څخه راځي د ايديز د ناروغی يا د نورو جنسی مکروبونو (STI) په هکله ډير لږ معلومات لری. د جنسی ناروغيو مکروب د مغلستان د منصبدرانو او عسکرو په منځ کې ډير پراخ دی.

**هدف:** هدف دا دی تر څو د دفاع وزارت او د MAF په مرسته د ايدز يا HIV د ويروس، د STI د مکروب او د روغتيا د ساتنی لپاره د عسکرو او منصبدارانو ترمنځ د پوهی او معلوماتو سطح لوړه کړای شی.

**ستر برخه اخيستونکی:** د دفاع وزارت او د وسلوالو ځواکونو مقر.
**هغه کسان چې په لومړی سر کی له دی پروګرام څخه ګټه اخلی:** عسکر، منصبداران او د هغوی د جنسی غوښتنو نور شريکان.
**اقدامات او مفاهمه:** د دفاع وزارت او د وسلوالو ځواکونو مقرونو ته ليکونه واستول شول؛ له لوړ پوړو چارواکو سره رسمی او غيررسمی غونډی جوړی شوی؛ له لوړ پوړو چارواکو سره يوه پروژه طرح کړای شوه؛ له لوړ پوړو چارواکو سره يو ورکشاپ داير شو؛ د صلاحيت خاوند قوماندانانو او پوځی ډاکترانو د وسلوالو ځواکونو په دننه کی د SIT د روان وضعيت په هکله يی يو رپوټ وړاندی کړ.

**د برياليتوب نښی نښانی او پاينت توب:** جنسی روغتيا د پوځی منسوبينو په درسی نصاب کې شامل کړای شو؛ د لوړ پوړو منصبدارانو په منځ کی د پوهی د سطحی لوړل؛ د دفاع وزارت لخوا پراخ ملاتړ؛ د **مغل د ليری ليد** نومی سازمان د فعاليتونو د لمن پراخول.

سرچینه:
International HIV/AISD Alliance, Advocacy in Action, A Toolkit to Support NGOS and CBOS Responding to HIV/AIDS, 2002, see http://www.aidsmap.com/en/docs/4782D096-C740-41A5-AF06-D67C14B46DB8.asp#8.asp#8e83e1b6-6ffa-4479-85c3-0151eee78311

## د حقوقو په دفاع کې د څېړنې نقش

څېړنه د حقوقو په دفاع کې د هرې ستراتيژۍ د بنسټ ډېره ده او ستاسو په هيواد کې د وضعيت د څېړلو لپاره بايد په لاره واچول شي. هغه بايد د باور وړ سرچينو څخه دکيفيت او کميت له لحاظه د رښتينوالي بر بنسټ ولاړ وی، لکه د اکادميکې مؤسسو او تحقيقاتی او نظرياتی مرکزونو او همداراز له دولتی مؤسسو او د مدنی ټولنې د سازمانونو او احصائيوی رسمی رپوټونو. سر بيره پر دی د هغه يوی مؤسسې په دننه کې چې تاسی هلته د نفوذ د ټينګولو په نيت کې ياست له سترو برخه لرونکو سره سلامشوری هم اهميت لری. پاليسی جوړونکی او پوهان چې د سياسی تګ لاری پر سر تصميم نيسی او د موضوعاتو اجنداء جوړوی په عين سويه مفصلو او ځرګندو پيغامونو ته اړتيا لری، هغه پيغامونه چې د معقول استدلال څخه برخمن وی او د اسنادو او شواهدو پر بنسټ ولاړ وی. دبيلګې په توګه د امنيتی سکتور لپاره د بودجې په اړوند د يوی ستراتيژۍ په طرحه کې د کارپوهانو معلوماتو ته اړتيا ده تر څو د دولتی بودجی تخصيص کولو او په ځينو خاصو سکتورنو يا ټولنيز / اقتصادی ډلو باندی د بودجی د تخصيص د اغيزو لپاره يو هر اړخيز تحليل وړاندی کړای شی. د زياتو نورو معلوماتو لپاره لطفاً په همدی کتاب کی د څېړنی فصل ته مراجعه وکړی.

کله چی تاسی يو ارزونه وکړه تاسی بايد د دغو بدلونو د پلی کولو لپاره سپارښتنی وړاندی کړی. که چيری يوه هراړخيزه څيړنه مخکی له دی وجود لری، خو د پاليسی اړوندی سپارښتنی لا وجود نه لری، نو کولای شی چی د نورو سازمانونو له څيړنی څخه د خپلی مؤسسی د سپارښتنو لپاره استفاده وکړی.

د پيل د يو ټکی په توګه دغه سپارښتنی کيدای شی چی خاص د ستاسو د هيواد لپاره وی چی د هغه له سياسی، او اقتصادی فحوا سره جوړيږی او هغه بايد له معقوليت څخه برخمن وی. سر بيره پر دی سپارښتنی بايد د چارچلندونو تفصيل سره جوخت وی، هغه چارچلندونه چی د امنيتی سکتور په دننه کی د مختلفو لوبغاړو لخوا لاس لاندی نيول کيږی. بالاخره، که چيری تاسی د پاليسی بدلون تعقيبوی، يو محدود شمير پيغامونو ته ځيری کيږی، لکه هغه چی پر پوليسو او وسلوالو ځواکونو باندی ملکی څارنه پياوړی کوی، دا به ډير اغيز من وی نسبت ودی ته چی په يوی پاليسی کی ټولی ساحی تر پوښښ لاندی ونيولی شی.

دغه پروسه بايد ستاسی د سازمان لپاره د حقونو د دفاع په يوی ستراتيژۍ او د دريځ نيولو يو سند باندی منتجه شی چی په دوه يا دری صفحو کی ځرګنده کړی چی: هغه ستونزی چی ستاسو سازمان ورته پام اړوی؛ د موضوع په نسبت ستاسو د سازمان د ژمنی په توګه د يو معقول دليل شته والی؛او هغه فعاليتونه چی تاسی د حقونو د دفاع لپاره د مرستی په توګه عملی کوی. دغه لاندی پروسه تاسو سره په دی اړه مرسته کوی:

- **د موضوع پيژندنه:** په امنيتی موضوعاتو کی د صلاحيت او اعتبار د درلودلو سره سړی بايد د دی توان ولری چی قناعت بښوونکی استدلال وکړی او يوی پيژندل شوی ستونزی ته د حل لاره پيدا کړی. د ستونزو په حل پوهيدل او د هغو لپاره تخنيکی تخصص برابرول، په اړوندو

ساحو کی د حل لاری پیشنهادول او له کار پوهانو سره پر هغو غږیدل. دا د مدنی ټولنی پر ضد د نیوکو په مخنیوی کی مرسته کوی چی کله ناکله نشی کولای له یوی خوا د حقوقو د د فاع او د یو روغونکی تحلیل او له بلی خوا د سیاسی مشارکت اوآزاد تحلیل ترمنځ توپیر وکړی؛

- **نور سازمانونه چی په دی موضوع کار کوی وپیژنی:** وګوری چی نور سازمانونه کوم کارونه سرته رسوی تر څو د دوه ګونو کارونو مخه ونیوله شی او که چیری امکان او مناسبت ولری ورسره همکاری وکړی؛
- **د پلان پروسی ته ځیر شی:** له دی پروسی سره ستاسو د سازمان د حقوقو دفاع مبارزی هدفونو او مقصدونو پوری اړوند فعالیتونه به په لاره ولویږی؛
- **د بنسټ یو کربڼه جوړه کړی:** د هغی یوی موضوع ارزونه او اړتیا چمتو کړی چی ستاسی د پام وړ ده او د بنسټ یوه کربڼه جوړه کړی چی له هغی څخه د حقونو د دفاع کار تر څارنی لاندی نیول کیږی. ستاسو د حقونو د دفاع د مبارزی یواځی تفصیلی معلومات تاسو ته اجازه درکوی ترڅو عملاً د هغی د بریالیتوب یا ناکامی ارزونه وکړی (په عین وخت کی دا هم د یادونی وړ ده چی د حقونو د دفاع د مبارزی اغیزو او د نورو فکتورونو او فعالیتونو د اغیزو بیلتون ښایی ناممکن وی)؛
- **د خپلو هدفونو پیژندل:** د هغو موضوعاتو په هکله چی تاسی غواړی ګوته ورته ونیسی د خپلو هدفونو دریځ، د هغوی د پلیتوب سابقه، ویناوی او د ورځپاڼو مقالی چی په دی هکله لیکلی شوی وڅیړی؛ د خپلو هدفونو قانونیت تر څیړنی لاندی ونیسی. هغه بیروکراتیک، اداری او بودجوی محدودیتونه تشخیص کړی چی د دولتی ادارو ترمنځ موجود دی؛
- **له شبکو څخه کار واخلی:** هغه اړیکی چی تاسی د خپل کار له لاری لری او یا یی د امنیتی سکتور له هر یو لوبغاړی سره لری د خپل پیغام د رسولو لپاره ډیر ښه پیل او وسیله ده. بالاخره تاسی غواړی چی ولسونو ته بدلون ورکړی

## بودجوی تحلیل

د مدنی ټولنی سازمانونه په رسنیو کی د بحثونو په لاره اچولو، د بودجوی کاری چوکاټ د اسنادو له خپرولو او د پارلمان استازو ته د رپوټونو برابرولو سره کولای شی چی په ملی بودجی باندی یو پراخ بحث وهڅوی. د مدنی ټولنی سازمانونه همداراز کولای شی چی سیاستوالو ته د امنیتی سکتور په برخه کی د وړاندی شوی بودجی تحلیل لپاره اړینی تخنیکی مرستی برابری کړی. د بیلګی په توګه، د جنسیت اړوند یو بودجوی تحلیل کیدای شی تشخیص کړی چی آیا د نارینه او ښځینه کارکونکو د مختلفو اړتیاو د پوره کولو لپاره کافی بودجه ټاکله شوی ده یا دا چی آیا د وسلوالو ځواکونو لپاره تخصیص شوی بودجه د ټولنیز – اقتصادی سکتورونو برخو باندی ناوړه اغیزه کوی که چیری کوی څه ډول ده. که څه هم دا موضوع په اتم فصل کی په ډیر تفصیل سره بیان شوی ده، د مدنی ټولنی د سازمان لخوا د بودجوی تحلیل وړاندیزونه دغه لاندی مهم شکلونه کیدای شی ولری:

- یو هراړخیز بودجوی تحلیل او مرستندویه سپارښتنی چمتو کړی؛
- د مایکرو اکونومیک یا په اصطلاح د ستر اقتصاد (بشپړاقتصادی فعالیتونو) فرضیی چی د بودجی د ټاکل کیدو لپاره اهمیت لری تر آزموینی لاندی ونیسی او د ستر اقتصاد متحول فکتورونه، لکه کسر، ملی پور، د ربح نرخ، اقتصادی وده او استخدام اغیزو باندی کتنه وکړی؛
- په ځینو خاصو سکتورونو یا ټولنیز – اقتصادی ډلو باندی د امنیتی سکتور د پالیسو د تطبیق لپاره د ټاکل شوی بودجی اغیزی تحلیل او تجزیه کړی؛ د بیلګی په توګه، د تانزانیا د جنسیت اړوند شبکه یی پروګرام په ۱۹۹۷ کال کی د جنسیت اړوند یو بودجوی پروګرام په لاره واچاوه چی هدف د مایکرو اکونومیک یا «ستر اقتصاد» پالیسیو او پلان جوړنی ته چی څرنګه په تانزانیا کی پر نارینه او ښځو باندی اغیزی کوی، ځیر کیدل ؤ.

- مالیات او عایدات تر تحلیل لاندی ونیسی او وګوری چی د هغوی ویشه د ښځو، نارینه او ماشومانو د امنیت پر خوندی ساتنی باندی څه اغیزی کوی؛
- د برخه لرونکو د سروی له لاری په بودجوی پروسه کی شفافیت او برخه اخیستل تر کتنی او حکومتی اداری تر پوښتنی لاندی ونیسی تر څو ټاکلی او مشخص هدفونه تعیین کړی، هغه هدفونه چی په یوی ټاکلی مودی کی معقول د سنجش او د تطبیق وړ وی.

## د پالیسی جوړونی پوهه

د دی لپاره چی په سیاسی سیستم کی ټول نغښتی قدرت څخه کار واخیستل شی، مهمه ده چی سرې د تصمیم نیولو او قانون جوړنی په پالیسی او د اجرائیه ، پارلمان او په پروسه کی د نورو لوبغاړو د مسوولیت په نقش باندی پوره پوه شی. د دی فکتورنو څخه د پوهاوی له لاری سرې کولای شی چی د حقونو د دفاع په پروسه کی همغږی رامنځ ته کړی ترڅو اړوند سیاستوالان او حکومتی چارواکی په یو مناسب وخت کی تر هدف او څارنی لاندی ونیول شی. په امنیتی سکتور کی د بیلابیلو لوبغاړو او د هغو د نقشونو او مسوولیتونو د معلوملو لپاره یوه لاره چاره په لاندی (۵- ۷ چوکاټ) کی تشریح شوی ده. د یو مفصل تحلیل لپاره لطفاً د همدی کتاب سریزی ته مراجعه وکړی.

د ملی امنیتی پالیسی (NSP) او د دی سکتور اړوند پالیسی جوړول د حکومتی صلاحیت لرونکو ارګانونو او ادارو دنده ده او د پارلمان نقش په لومړی سر کی دا دی چی د دی ضمانت وکړی چی دا پالیسی د خلکو او مدنی ټولنو د غوښتونوپه پام کی نیولوسره جوړی شوی دی. او دا د دری لارو څخه ممکنی دی:

- **تصمیم نیول:** کله چی د ملی امنیت پالیسی پارلمان ته ورسیږی، پارلمان دیموکراتیک حق لری چی آیا هغی سره خپل موافقت یا مخالفت څرګندوی او یا د بدلون لپاره وړاندیز ورته کوی. پارلمان د بودجی د جوړولو، منظوری، مصرف او تفتیش په شمول د بودجوی دوری د مهمو پړاونو په اړه له عین ډول صلاحیت او اختیار څخه برخمن دی. البته په دی اړه د هیوادونو ترمنځ یو توپیر شته دی. د افریقا د صحرا د جنوب په اتو هیوادونو کی د پوځی سکتور لپاره د بودجی په هکله یوه څیړنه ښیی چی که څه هم په دغو هیوادونو کی پارلمانونه د دفاعی بودجی تصویب په غاړه لری، خو ښایی هغوی دوسلوالو ځواکونو د دقیق قوت او پیاوړتیا په هکله معلومات ونه لری، یا ښایی هغه امر چی د اجرائیی لخوا ورته شوی وی، د هغه په مطابق عمل وکړی.[74]

**۵- ۷ چوکاټ**

**د امنیتی سکتورپه نظارت کی د دولتی ارګانونو دندی**

| | **پارلمان** | **قضائیه** | **اجرائیه** | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | **د دولت رئیس** | **کابینه** | **د عمومی ارکانو رئیس** |
| **اعلی قوماندان** | په ځینو هیوادونوکی اعلی قوماندان | د اساسی قانون محکمه د اعلی قوماندان په | په ځینو هیوادونو کی د دولت رئیس | د جګړی په وخت کی حکومت د | په ځینو هیوادونوکی اعلی پوځی |

[74] SIPRI 2007, SIPRI Yearbook: Armaments, Disarmament and International Security, Oxford University Press, 2007.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | د پارلمان له خوا ټاکل کیږی او یا پری بحث کوی. | توګه د جمهور رئیس د کابینی قانونیت تر غور لاندی نیسی. | یواځی تشریفاتی نقش لری؛ په ځینو نورو کی هغه (نارینه یا ښځه) رښتینی صلاحیت لری، لکه د جګړی په وخت کی د اعلی قومندانی مسوولیت | اعلی قوماندان مسوولیت په غاړه لری. | قوماندان یواځی د جګړی په وخت کی دنده په غاړه اخلی؛ په ځینو نوروکی دایمی شتوالی لری |
| **امنیتی پالیسی** | پر ملی امنیتی پالیسیو او د سکتور پوری اړوند پالیسیو باندی بحثونه کوی او منظوروی یی؛ قانونونه نافذوی. | کولای شی چی د پالیسی په قانونیت او مشروعیت په برخه کی مداخله وکړی. | د امنیتی سکتور اړوند پالیسی لاسلیک کوی. | د امنیتی سکتور د پالیسیو وړاندیز، پرمختیا او تطبیق مسوولیت په غاړه لری. | حکومت ته مشوره ورکوی؛ د امنیتی سکتور په طرح او تطبیق کی مرسته کوی. |
| **بودجه** | بودجه منظوروی | نقش نه لری | په ځینو هیوادونو کی اجرائیه ډیری وخت د ویتو شخړه ایز صلاحیت لری | د بودجی وړاندیز کوی | حکومت ته مشوره ورکوی |
| **دفاعی قوانین** | قوانین تدوینوی | د اساسی قانون محکمه د قوانینو په مشروعیت کی مداخله کوی | د قوانینو د انفاذ او توشیح لاسلیک کوی | د قوانینو وړاندیز کوی او ضمیمه یی یافرعی قوانین تدوینوی | حکومت ته مشوره ورکوی؛ قوانین تطبیقوی. |
| **پرسونل** | په ځینو هیوادونو کی پارلمان صلاحیت لری چی د سترو مقرریو تصویب وکړی | د هغوی د قانونی چالچلند په هکله قضاوت کوی | ستر قوماندانان ټاکی؛ د پرسونل پلان منظوری په غاړه اخلی. | سترقوماندانان ټاکی | د پرسونل د پلانونوپه هکله مشوری ورکوی؛ د پرسونل پلان تطبیقوی؛ ټیټ پوړی قوماندانان |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ټاکي. |
| **تدارکات** | د تدارکاتو د سترو پروژو غور او منظوری پر غاړه لری | د اختلاس او اداری فساد او درغلیو په هکله له قوانینو څخه پر سرغړونو باندی قضاوت کوی | په ځینو هیوادونو کی اجرائیه کولای شی ډیری وخت یو پریکړن (شخړ ایز) نقش ولوبوی. | د وسلو د تدارکاتو وړ اندیز کوی | د وسلو د تدارکاتو پلان جوړوی او تطبیقوی یی. |
| **بهر ته سرتیری استوی/ دبهرنیو سرتیرو کوربه توب کوی** | مخکی له مخکی یا وروسته بهر ته د سرتیرو د استولو تصویب کوی یا یی نه کوی. | د هغوی د چالچلند پر قانونیت باندی غور کوی | په ځینو هیوادونو کی اجرائیه کولای شی په شخړ ایزه توگه یو اړخیز تصمیم ونیسی. | په نړیوالو ماموریتونو کی د برخی اخیستلو خبری اتری کوی؛ په یوځی ماموریتونو کی د برخی اخیستو مقررات ټاکی | عملیاتی قوماندانی. |

- **تطبیق:** د امنیتی پالیسیو د تطبیق په وخت کی دا د پارلمان دنده ده چی په منظمه توگه د بودجوی څارنی له لاری د حکومت دفعالیتونو پلټنه وکړی. امنیتی پالیسی ډیر مهم مالی نتایج لری نو په دی وجه د مالیه ورکونکو د پیسو لپاره هم؛
- **ارزونی او د زده کړی وړ درسونه:** پارلمان د امنیتی پالیسیو دتطبیق په اړه ارقام او اجراآت تر پلټنی لاندی نیسی. د حکومت د اړوندو ادارو لخوا د کارونو د پرمختګ په هکله وړاندی شوی رپوټونه د تطبیق د څارنی لپاره خورا اړین دی او د دی ښکاروندی دی چی آیا په امنیتی پالیسی کی تصریح شوی اصول تطبیق شوی دی که نه.

د پالیسی په جوړولو کی د پارلمان مرکزی نقش د پالیسیو په طرح کی د مدنی ټولنی د سازمانونو د نقش د خوندی ساتنی لپاره خورا اهمیت لری. په دی اړه د امنیت په اړوند په پارلمانی کمیټی کی مستقیم ګډون کیدای شی یولاره وی. نور فعالیتونه چی کیدای شی په پام کی ونیول شی، عبارت دی له: د پارلمانی کمیټو او مدنی ټولنی د سازمانونو ترمنځ ګډو څارونکو فعالیتونو ته وده ورکول، وزیرانو ته د پارلمانی موضوعاتو د خبر ورکولو لپاره د مدنی ټولنی د سازمانونو هڅی، له پارلمانی غړو سره د مدنی تولنی د یو دایمی ارتباطی دفتر شته والی او د مینی وړ خاصو موضوعاتو په هکله د همکاری لپاره دپالیسیو مشاورینو درلودل.

**مشورتی غونډی**

له پالیسی جوړونکو او نورو لوبغاړو سره مشورتی غونډی د حقوقو دفاع د ډیرو معمولو شکلونو څخه دی. په دی اړه د ګردی میز خبری اتری هم کیدای شی چی ګټور تمامی شی. په نړیواله سطح دغه ډول غونډی د دولتونو او اړوندو برخه اخیستونکو او د فی مابین حکومتی ادارو په راټولو کی یوه ډیره اغیزمنه لاره ده. په داسی غونډو کی د دغو اړخونو شاملول په اړوندو موضوعاتو باندی بحثونو ته ستر اعتبار ورکوی او دا د پالیسی په جوړولو کی مهمه اغیزه لری.

د دغه امر یوه ښه مثال په نیویارک کی په ملګرو ملتونو کی د هالند او ناروی د هیوادونو د ماموریتونو په چوکاټ کی د ښځو، سولی او امنیت کاری غیرحکومتی ډله ده چی د بروندی او سیرالیون په اړه د ملګرو ملتونو د سولی جوړونی د کمیسیون په مرسته د ښځو او امنیتی موضوعاتو په هکله لوړسویه د ګردی میز بحث دایر کړ. په دغه بحث کی د بروندی او سیرالیون د سولی ښځینه فعالینو خبری وکړی. دغه ډول یو بحث اړوندو پالیسی جوړونکو ته په نړیواله سطح موقع ورکړه چی خپل نظریات او تجربی سره تبادله کړی ترڅو هغه لاری چاری وپلټی چی څرنګه په بروندی او سرالیون کی د قوانینو په جوړولو کی د ښځو ونډی ته لاری پرانیځی.[75]

د خپلو غونډو د دایرولو سربیره په سترو غونډو کی ګډون هغو موضوعاتو ته پام اړول کیږی چی ستاسو د لیوالتیا وړ دی.

**۵- ۸ چوکاټ**
**د خپلی غونډی جوړښت**

| ۱- چمتوالی | ۲- د غونډی په ترڅ کی | ۳- له غونډی وروسته |
|---|---|---|
| خپل مهم پیغامونه وپیژنی | د پالیسی یا د قانون د ځینو اړخونو په هکله مثبت فکر وکړی | د غونډی څخه یاداشت ونیسی – څه پیښ شوی دی، څوک هلته ؤ، په کومو مسائلو توافق وشو. |
| خپل منځی ګټی تشخیص کړی | یوی موضوع ته پام واړوی او مهم پیغامونه وپیژنی. | له یو تیلفونی لیک یا بریښنا لیک سره غونډه تعقیب کړی |
| د خپل هدف لپاره معلومات چمتو کړی | د حل لپاره وړاندیزونه وکړی، نه دا چی ستونزی پیدا کړی | که چیری وعده مو کړی وی اضافی معلومات چمتو کړی |
| د غونډی وخت ټاکل | رښتینی او د اعتبار وړ اوسی/ که چیری تاسی نه پوهیږی، ووایی چی نه پوهیږی. | که چیری مناسب ګڼی، غونډی ته یو لیک واستوی ترڅو ستاسو نظریات له سره څرګند کړای شی. |
| | د زیاتو معلوماتو وړاندیز وکړی | د یوی پالیسی او اړوند قانون په هکله له رأیی ورکولو څخه مخکی خپل رسمی دریځ روښانه کړی |
| | یوه معلوماتی پاڼه په غونډه کی پریږدی | په غونډه کی برخه اخیستونکی پاتی شی |
| | د نورو خلکو په هکله چی ورسره خبری کوی یادونی وکړی | |

## د یو لیک لیکل

د مفاهمی او اړیک نیولو ډیره ښه طریقه د لیکونو استول دی. د اغیزمنتوب لپاره ستاسو لیک باید ډیر لنډ وی، خو په عین وخت کی هغه له کافی معلوماتو څخه برخمن وی ترڅو د موضوع د تعقیب لپاره پالیسی جوړونکی لیوالتیا زیاته کړی. په دی اړه دغه لاندی لارښوونی په پام کی ونیسی:

- په څرګنده توګه ووایی چی تاسی له خپل لوستونکی څخه څه غواړی؛ له یوی ډیری مهمی جملی سره هغه پیل کړی تر څو د لوستونکی پام راخپل کړی؛

[75] Source: http://www.womenpeacesecurity.org/

- په لنډه توګه بیان کړی چې ولې تاسی فکر کوی چې د لیک اخیستونکی په ځینو اقداماتو لاس پوری کړی، هغه یا هغی سره مرسته وکړی چې ولی هغه په اقدام باید لاس پوری کړی. مهم پیغامونه په خپل لیک کی شامل کړی، له تکرار څخه مخنیوی وکړی؛
- له لنډو، پام اړونکو جملو او پرګرافونو څخه استفاده وکړی؛
- له معما او رمز لرونکو جملو څخه استفاده مه کوی

یواځی لیکونه د بدلون راوستلو لپاره بسیا نه کوی، نو په دی وجه هغه باید له رسمی او غیر رسمی غونډو او لیدنو کتنو سره جوخت وی.

### کمیټی او هیأتونه

کمیټو او هیأتونو باندی تکیه کول ګټور تماميږی. دوی ستاسو د سازمان د نظریاتو او دریځونو په خپرولو کی پوره مرسته کولای شی او په مستقیمه توګه خلکو او پالیسیو باندی اغیزه لری. په عین وخت کی تاسی کولای شی چی په دغو کمیټو او هیأتونو کی ستره برخه لرونکو او مهمو لوبغاړو ته ځای ورکړی ترڅو ستاسو سازمان له نژدی وپیژنی.

### پارلمانی استماعیه غونډی

په عمومی توګه پارلمان دوه دندی لری: د اجرائیه قوی د کارونو څارنه او د ولس د ګټو نمایندګی. د پارلمانی استماعیه غونډو په ترڅ کی سیاستوالان په ځینو موضوعاتو کی له بهرنیو کارپوهانو سره تماس نیسی. د مدنی ټولنی سازمانونه چی په ځینو خاصو ساحو کی د کارپوه په سترګه ورته کتل کیږی په دی استماعیه غونډو کی ګډون کوی، د دغو غونډو له لاری سیاستوالان هغه معلومات پیدا کوی چی په پارلمان کی خپلی دندی په ښه وجه سرته ورسوی.

### پارلمانی کمیټې

پارلمانی کمیټی چی د امنیت او عدالت له مسائلو سره تعامل لری د حقوقو د دفاع د فعالیتونو لپاره د پیل مهم ټکی دی. د کمیټو مختلف ډولونه وجود لری، د هغو په جمله کی دایمی کمیټی (مثلا د دفاع) او موقتی کمیټی چی دندی یواځی د مخصوصو موضوعاتو باندی غور دی (لکه د ملی امنیتی پالیسی تدوین)، شاملی دی. که چیری پارلمان دنده په غاړه اخیستی وی چی هرومرو په دفاع، امنیت او قضاء باندی پراخه څارنه ولری، دا د مدنی ټولنو د سازمانونو په ګټه تماميږی.

### شبکه یی کار

د امکان په صورت کی له وزیرانو او په اړوندو وزارتونو کی له چارواکو او ادارو سره همداراز د حکومتی سازمانونو په خپل منځ کی مستقیماً، شبکه یی اړیکی ستاسو د پیغامونو د خپرولو لپاره خورا اهمیت لری. شبکه یی اړیکی کیدای شی چی مختلف شکلونه ونیسی چی ځینی یی مخکی له دی تشریح شول. دا هم د ارزښت وړ ده چی د مفاهمی ځینو مختلف چینلونه په پام کی ونیسی تر څو مهم پالیسی جوړونکو سره تماس ونیولای شی. د پالیسی جوړونی کارکونکی او همکاران او همداراز ډله ایزی

رسنی او نفوذ لرونکی سازمانونه کولای شی چی مرسته وکړی. کله چی د مفاهمی چینلونه پرانیستل شول، خپل تماس ټینګ وساتی او په منظمه توګه اړیکی ونیسی.

## د ټولنی په کچه د حقوقو دفاع

د بیلګی په توګه، د مدنی ټولنی هغه سازمانونه چی د جنسیت د حقوقو تساوی د هغوی د کار په زړه کی ځای لری کولای شی چی د نارینه او ښځینه په ژوند کی د نامن توب د واقعیت او په ملی او نړیواله سطح کی د پالیسی جوړونکو ترمنځ یوه ښه اړیکه جوړه کړی. امنیت ته پام اړونکی سازمانونه چی د ټولنی په سطح فعالیت کوی، ډیر وخت ټولنیزی شبکه یی اړیکی لری. له دی لاری دوی کولای شی چی د خلکو ورځنیو امنیتی اړتیاو ته پام واړوی. دغه ډول اطلاعات خورا اهمیت لری، هم د امنیتی سکتور د کتنی په ترڅ کی او هم د مخکی له مخکی خبرداری په توګه، کوم چی ملی امنیت د ړومبیتوبونو او هم پالیسی ټاکلو لپاره مهم دی.

د امنیتی پالیسی په بحثونو کی د ولسی وګړو د ګډون او د حقونو دفاع اړوند فعالیتونه طرح او لاری چاری په لاندی ډول دی:

- د محل په سطح د امنیتی اړتیاو او ړومبیتوبونو په ټاکلو کی د ټولنیزو سازمانونو سره مرسته کول؛
- د غیر دولتی چاراواکو په شمول د محل په سطح د ډلو او د محلی امنیتی ساتونکو ترمنځ د تعامل او اړیکو لپاره لاره هوارول؛
- د محلی امنیتی ستراتیژیو چی د بیلګی په توګه د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتی ته پام واړوی، وده ورکول؛
- د محل په سطح ډلو سره د مشارکت له لاری برخه لرونکو ته د پرتله ایزی زده کړی او لاروښونی د شرایطو برابرول ترڅو د امنیتی پالیسیو لپاره په همغږو او ستراتیژیکو اقداماتو لاس پوری کړی؛
- په ملی سطح د طرح شویو امنیتی پالیسیو څارل چی آیا د محل په سطح عملی شوی دی که نه.

د محل په سطح فعالیت مهم دی ځکه په ملی سطح د لاس ته راوړنو لمن په اتوماتیکه توګه د کلیو او بانډو په سطح نه پراخیږی او کله ناکله ډیری لږی اغیزی لری. د حقونو د دفاع پاینټ لرونکی فعالیتونه لکه د قانون د تطبیق په څیر اړین دی. د حقوقو دفاع مهمه ده څکه تر هغه وخته پوری چی یو مشخص ارزښتی سیستم موجود وی، په قانون کی د نویو ضمیمه یی نورمونو جوړول سخت دی او د محل، ملی او بین المللی سطح د عمل غوښتنه کوی.

**۵- ۹ چوکاټ**
**په سیرالیون کی د محل په سطح د حقوقو د دفاع امکانات**

په سیرالیون کی د ملی امنیت دفتر (ONS) له ولایتی کمیټو (PROSECs) او د ولسوالیو له کمیټو (DISECs) سره د محل په سطح همکاری کوی. PROSECs او DISSECs مشورتی غونډی او

ټولنې جوړوي ترڅو په هیواد کې امنیتي ګواښونو ته مناسب ځوابونه برابر کړي. د هیواد په دننه کې د غیر مرکزي کړای شویو امنیتي تأسیساتو شته والي کولای شي چې د مخکې له مخکې خبرداری ورکونکو میکانیزمونو په توګه حکومت ته دنده ترسره کړي، ځکه هغوی په مستقیمه توګه د ملي امنیت دفتر ته رپوټ ورکوي، کوم چې د ملي امنیت شورا او په دې ډول د دولت د ریاست لپاره د دارلانشاء اهمیت لري.

PROSECs او DISECs د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره شرایط چمتو کړي دي چې کولای شي د محل په سطح امنیتي پالیسیو باندې نفوذ ولري. دغه کمیټې د دې لپاره جوړې شوې چې ډاډ ورکړي ترڅو د مدني ټولنې سازمانونه د هغوی په مرسته کولای شي چې امنیتي پالیسي د عامو وګړو امنیتي اړتیاوې منعکسې کړي.

سرچینه:
http://www.daco-sl.org.encyclopedia/1_gov/1_4ons.htm

## شبکې او ائتلافونه - قوت په زیاتوالي کې

په عمومي توګه د حقوقو د دفاع کمپاین هغه وخت ډیر غښتلي دي چې د مدني ټولنې د سازمانونو د یوې شبکې یا د ائتلاف له لارې رامنځ ته شوي وي. څومره چې په یو ائتلاف کې د مدني ټولنې د سازمانونو شمیر زیات وي، هومره هغوی له قوت څخه برخمن کیږي او له دې لارې هر سازمان د سیاسي فشارونو له ګواښونو څخه خوندي پاتې کیږي. همداراز هغوی له دې لارې له ګډو بشري او مالي منابعو څخه هم ګټه ترلاسه کولای شي.

په ډیرو هیوادونو کې د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره ډیره سخته ده چې د دروازه ټرلي یا حتی غلیم-پاله سیاسي چاپیریال له کبله په مستقیمه توګه د پالیسي جوړونې د پروسې په شمول په امنیتي او قضائي مسائلو کې ګډون وکړي. په همدې وجه د امنیتي سکتور اصلاحات (SSR) لومړی دنده دا ده چې د قدرت روابطو ته بدلون ورکړي، څرنګه چې د هغو کسانو آزادي چې مخکې له دې له امنیت څخه لږ برخمن ؤ د هغو کسانو د قدرت د کمولو سبب ګرځي چې پر امنیت باندې په خپله ګټه کنټرول او نفوذ درلود. په سیمه ایز سطح په امنیتي اړوند بحثونو او میکانیزمونو کې ګډون یوه ډیره اغیزمنه لاره ده ترڅو په ملي سطح پر پالیسي جوړونکو باندې فشار راوستل شي. د مدني ټولنې سازمانونه هغه وخت ډیر زیات له اعتبار او قوت څخه برخمن دي چې د یوې سیمه ایزې یا نړیوالې شبکې غړي وي او یا هغوی نړیوال شریکان ولري. له دغه ډول ملاتړ څخه کیدای شي چې د امنیتي پالیسي د پراختیا او ودې لپاره د حکومتونو په وړاندې د یو قوت په توګه کار واخیستل شي.

کله چې د مدني ټولنو د سازمانونو یو ائتلاف جوړیږي تر څو پر حکومتي پالیسیو او د امنیتي سکتور پر فعالیتونو باندې نفوذ پیدا کړي، دغه لاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

- په شبکه یا ائتلاف کې باید د ډلو او سازمانونو د مختلفو ډولونو استازیتوب خوندي وساتل شي؛
- د شبکې یا ائتلاف لپاره باید کډ اصول وټاکل شي تر څو د هر غړي د ځانګړې ساحې ګټې له یو خوا خوندي وساتلي شي او له بلې خوا د ځان ځانې مخه ونیوله شي. په دې وجه له پیل څخه باید روښانه وي چې: د ائتلاف بنسټیز اصول او هدفونه څه دي؟ ائتلاف د چا په وړاندې حساب ورکونکی دی؟ د ائتلاف حدود کوم دي؟ د ائتلاف مشري کومه ده؟ د ائتلاف ویاند څوک دی؟؛

- د امنیت سکتور د کار د څرنګوالی، د پالیسی جوړونی د پروسی په هکله معلومات درلودل او په شبکه یا ائتلاف کی د جنسیت پر بنسټ استازیوب درلودل تر څو پروسه رهبری کړی (د شبکی په دننه کی د تخصصی معلوماتو شته والی چی څرنګه سړی کولای شی پالیسی جوړونکو سره تماس ټینګ کړی، یو مهم ټکی په دی اړه دی)؛
- په شبکه یا ائتلاف کی د هغو کارپوهانو او شخصیتونو شته والی چی د پالیسی جوړونکو له درناوی څخه برخمن وی؛
- د مدنی ټولنی د سازمانونو اعتبار خوندی ساتل او ورته وده ورکول (په دی اړه نهم فصل مطالعه کړی).

**۵- ۱۰ چوکاټ**
**د افریقایی امنیتی سکتور شبکه (ASSN)**

ASSN چی د بریتانیا د افریقایی شخړو د مخنیوی شبکی لخوا تمویلیږی یو ډیر ښه مثال دی چی ښیی څرنګه د سازمانونو یوه شبکه د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په ساحه کی د هر سازمان غړ اوچتوی. ASSN په دی موخه تأسیس شو ترڅو د مدنی ټولنی د بیلابیلو سازمانونو او د مدنی ټولنی د سازمانونو شبکو ترمنځ چی د عمل په ډګر کی کار کوی همغږی رامنځ ته کړی او د دوه ګونو کارونو مخه ونیوله شی. د یو افریقایی شبکی لاندی د دغو سازمانونو د شبکو د راوړلو سره د هر یوه غړی اصلی توانمندی به تشخیص کړای شی. سربیره پر دی په یو بل کی د هر یوه د اصلی توانمندی د تداخل د مخنیوی سره هر یو سازمان به پیاوړی کړای شی ترڅو ټولی شبکی ته نور ارزښتونه په دی هیله ور په برخه شی چی په افریقا کی دسولی او امنیت له مسائلو سره مرسته وشی.

ASSN له خپلی ذاتی توانمندی سره د دغی وچی (قاره) او د سیمی د امنیتی ټولنو په سطح په پام کی لری چی د موجودو مالی منابعو او په افریقا او نورو ځایونو کی له پوهی او معلوماتو څخه په استفادی سره د امنیتی سکتور په ساحو کی پرمختګ رامنځ ته شی او د ډله ایز امنیت او سولی لپاره بندوبست وشی.

د لاس ته راغلو معلوماتو او تجربو سره ASSN د هغه یو کاری چوکاټ د جوړولو په لټه کی دی چی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو او بدلون په پام کی نیولو سره د بیلابیلو لوبغاړو او مسائلو په منځ کی د دیالوګ د ودی لپاره ظرفیتونه جوړ کړی او د پالیسی جوړونکو او تصمیم نیونکو باندی د مثبتی اغیزی د موندلو په لور د پوهی ډک یو بحث په لاره واچوی.

په دی موخه ASSN په دی وروستیو وختونو کی د یوګندا د دفاعی پروسی له کتنی څخه د لاس ته راغلو تجربو باندی د بحث لپاره یو سیمنار جوړ کړی، په لایبریا کی د SSR په هکله د خبرواترو د دوو غونډو بندوبست وکړ، د سولی په جوړښتونو کی د SSR د شرایطو په هکله د یوی پروژی لپاره بندوبست وکړ او په مختلفو افریقایی هیوادونو کی د SSR روزونکی مرکزونه جوړ کړل.

سرچینه: /http:africansecuritynetwork.org

## له ډله ایزو رسنیو سره کار کول

له ډله ایزو رسنیو سره کار کول هغه یو قوت دی چی د حقونو د دفاع لپاره کمپاین نور هم پیاوړی کوی. د اصلاحاتو د هڅو په هکله د معلوماتو د شریکولو له لاری دغه ډول کار پر امنیتی سکتور

باندی عامه ځارنی ته وده ورکوی. ډله ایزی رسنی کیدای شی چی د حقونو د دفاع د کمپاین لپاره یو ډیر مهم اغیزمن لوبغاړی وګرځی او له هغو څخه هر وخت چی سړی وغواړی کولای شی چی استفاده وکړی.

له ډله ایزو رسنیو سره کار کول هغه یو قوت دی چی د حقونو د دفاع د کمپاین لمن د ټولنی د بیلابلو پرګنو په لور پراخوی، هغه پرګنی چی په امنیتی سکتور کی له معلوماتو څخه بی برخی دی او یا ورسره لیوالتیا نه لری، خو دا هغه کسان دی چی د عرضه کړای شوی امنیت او عدالت لومړنیو مشتریان ګڼل کیږی. دا مسأله هغه وخت د اهمیت وړ ده چی SSR او د امنیتی سکتور حکومتوالی ته د عامه پالیسی د موضوعاتو په سترګه وکتل شی، خو بیاهم دا تر یوی کچی د محرمیت په دایره کی محدودیږی.

**۵- ۱۱ چوکاټ**
**له ډله ایزو رسنیو سره د کار کولو ګټی او ننګونی**

| ګټی | ننګونی |
|---|---|
| • ستاسو د حقونو د دفاع د کمپاین لمن د ټولنی نورو پرګنو ته هم پراخوی<br>• بالقوه عامه ملاتړ زیاتوی، په دی ترتیب پر تصمیم نیونکو باندی فشار زیاتیږی<br>• په نویو موضوعاتو کی د رسنیو لیوالتیا راپاروی<br>• د ژورو څیړنو لپاره سپارښتنی کوی<br>• په ربښتینی توګه د هغو موضوعاتو چی د امنیتی سکتور چالچلندونو پوری تړی دی، د څرګندولو لپاره امکانات برابروی | • له تخنیکی لحاظه کړکیچن موضوعات په یو ډول تشریح کوی چی په پای کی عام خلک چی د امنیتی او قضائی مسائلو د مصرف کونکو په نامه هم یادیږی پری پوهیږی او تری قدردانی کوی.<br>• له ډله ایزو رسنیو سره د همکاری په مقرراتو نه پوهیږی<br>• که چیری په پیغام کی سم وضاحت موجود نه وی، د یو غلط او اشتباه لرونکی انځور احتمال شته دی<br>• منفی شهرت او ناوړه تبلیغات |

په دی شرط چی د ډله ایزو رسنیو لیوالتیا هڅول شوی وی، کیدای شی ژورنالستان تشویق شی ترڅو په داسی موضوعاتو باندی د رپوټ ورکولو لپاره محکمو ته لاس رسی پیدا کړی او یا د هغو موضوعاتو په هکله رپوټ ورکړی چی په امنیتی پالیسو کی د عام خلکو غوښتنی په پام کی ونیولی شی.

یوه موضوع باید په پام کی ونیوله شی چی ډله ایزی رسنی حتماً یو موضوع داسی نه بیانوی لکه چی د حقوقو د دفاع یو سازمان یی غواړی چی باید وویل شی. په خاصه توګه د دیموکراسی په لور انتقالی دولتونو کی ډله ایز رسنی ډیری وخت د ځارنی د پراختیا او شورماشور پارونی ترمنځ سرحد څخه پښه اړوی. دا مسأله د سازمانونو د پیغامونو د روښانه خپرولو لپاره ډیری وخت ستونزی پیدا کوی: دا باید ډیره سخته نه وی چی د حقوقو د دفاع او د یو رغوونکی تحلیل او د سیاسی او بی بنسټه تحلیل ترمنځ توپیر وشی. په ۵- ۱۲ چوکاټ هغه ګامونه روښانه کړای شوی دی چی یو سازمان یی د خپل پیغام د ترتیب لپاره کیدای شی واخلی او د حقوقو د دفاع په یوی موضوع د هغه د خپرولو اراده لری.

**۵- ۱۲ چوکاټ**
**د ځواړخیزې اغیزې په موخه له ډله ایزو رسنیو سره د ګډکارلارې چارې**

**مهم پیغامونه**
- دوه یا درې مهم ټکې چې تاسې فکر کوې باید ورته هرومرو اشاره وشي، مشخص او تعقیب يې کړې
- ټل په همدې ټکو باندې يوه مرکه يا بحث له سره ونيسی

**په یو غږ خبرې وکړې**
- کله چې ستاسو سازمان له نورو سره په یو ائتلاف کې وی، ډاډ پیدا کړې چې د ائتلاف ټول غړې په هغو پیغامونو باندې پوهیږی چې رسنیو ته وړاندی کیږی
- د سپارښتنې وړ دی چې یو ویاند وټاکی

**له مطبوعاتو سره مستقیم تماس ونیسی**
- خپله نوښت ولری: نه یواځې هغو موضوعاتو ته ځواب ورکړی چې مخکې په خبرونو کې موجود دی، بلکه خپله نوی موضوعات وړاندی کړی او مطبوعاتی معلوماتونه ورکړی
- د بحث پارولو لپاره د رسنیو خپرونکو ته لیکونه واستوی – هغوی ته ترپایه باید معلومات ورکړ شی

**د هغوی لپاره آسانتیاوی برابری کړی**
- دقیق او روښانه معلومات وړاندی کړی، لکه مطبوعاتی یا لنډی خبری معلومات. په دی کی کیدای شی چی اړیکی معلومات او یا د حقونو د دفاع د اړوندی موضوع په هکله او یا پسمنظری معلومات، د مخالفینو نظریات، ارقام او اعداد یا احصائیی او داسی نور معلومات شامل وی.

**مطبوعاتی معلومات او مطبوعاتی خپرونه**
- ضرب الاجل یا ټاکلی وخت او له مطبوعاتو سره د اړیک نیولو ښه وخت وپیژنی
- مطبوعاتی لړی د ټولو پیښو او غونډو په هکله ولری
- داسی پسمنظری معلومات وړاندی کړی چی ژورنالستان وکړای شی د هغو پر بنسټ خپلی څیړنی وړاندی کړی

**د معلوماتو لپاره د اعتباروړ منبع او سرچینه اوسی**
- داسی د اعتبار وړ منبع اوسی چی مطبوعات تاسو او ستاسو سازمان ته مراجعه وکړی تر څو د امنیتی سکتور د واکمنی د مختلفو اړخونو په هکله له تاسو څخه یقینی او ریښتینی معلومات تر لاسه کړی. کله چی د امنیتی سکتور له لویغاړو سره سړی تعامل ولری نو اعتبار د تخنیکی تخصص له کچی سره له نژدی تړاو لری.
- رسنیو ته یواځی هغه وخت بلنه ورکړی چی ریښتیا هم تاسی پر اهمیت وړ مسائلو باندی خبری کول غواړی

- که چیری تاسی له احصائیی څخه کار اخلی باید یقین ولری چی هغه د اعتبار وړ وی.

**په تلويزون کې ښکاره کېدل يا په راډيو کې خبرې کول**

- په مهمو پيغامونو باندې ټينګار وکړئ
- د مرکې د تخنيکونو په زده کړه کې پانګه واچوئ

**خپل کمپاين ارزيابي کړئ**

- مطبوعاتي رپوټونه راټول ثبت کړئ او تر ارزونې لاندې يې ونيسئ او د پخوانيو کمپاينونو له تجربو څخه يې زده کړه وکړئ

سرچينه:
Until the Violance Stops, Advocacy Tookit, 2005,
http://www.vdayeurope.org/newsletters/advocacydoc.pdf
همدا راز د زياتو معلوماتو لپاره د غيرانتفاعي سازمانونو لپاره د حقونو د دفاع ډله ايزې رسنۍ چې د Michigan Resource Center on Domestic and Sexual Violance له خوا خپريږي، هم مطالعه کړئ، دغه رسنۍ په لاندې انټرنټي پاڼه کې موندلای شئ:
http://www.mcadsv.org/mrcdsv/resource/Bibliographies/Media%20Advocacy%20for%20Nonprofits.pdf

## د حقونو د دفاع لپاره خپله ستراتيژي تر څارنې او ارزونې لاندې ونيسئ

د حقونو د دفاع د کمپاينونو د څارنې او ارزونې لپاره د يو مناسب چوکات جوړول د څو دليلونو له مخې يوه سخته آزموينه ده. د مدنې ټولنې د سازمانونو د حقوقو د دفاع د فعاليتونو او د نتايجو ترمنځ د اړيکو د وجې ټاکل ډېر سخت دي. امنيتي سکتور د خپل منځي تأسيساتو يو ډېر کرکيچن جوړښت دی چې تصميمونه يې ډېرې وخت په غير شفافه توګه نيول کيږي، نو دليل او اغيزې عامه ساحې ته چې د مدنې ټولنې سازمانونه هغې پورې اړه لري، اکثر نه بربنډيږي. اساساً د حقوقو د دفاع د يو عمل اغيزه يواځې د يو لړ بدلونونو د راوستلو په نتيجه کې د وخت او زمان په تيريدو سره ښايي وليدل شي. نو په دې وجه د يو اقدام يا عمل په دقيقه توګه د سمدلاسې اغيزې معلومول سخت دي.

په همدې ډول په يو هيواد کې د سياسي وضعيت، د حقونو د دفاع لپاره د نورو ادارو د فعاليتونو په شمول د **بهرنيو فکتورونو** وړاندوينې کيدای نه شي (د مثال په توګه، د حقوقو د دفاع لپاره ستاسو د کمپاين د هدفونو او مقصدونو ته د رسيدو سره د يوې موضوع په بريالیتوب کې يو شخصيت ستر نقش لري).

د روغې جوړې يا سازش پر بنسټ بريالیتوب، يو بله موضوع ده چې سرې بايد په پام کې ونيسئ، ځکه د حقونو د دفاع د يو کمپاين ټول هدفونو ته رسيدل اکثر ناممکنه خبره ده. له بلې خوا د روغې جوړې پر بنسټ يو بريالیتوب ستاسو د اوږدې مودې هدفونو لپاره ښايي ګټور تمام شي نسبت ودې ته چې تاسې په يوه اړخيزه توګه لنډمهال هدفونو ته ورسيږئ. خو دا هم بايد په پام کې ونيسئ چې کله هم اوږدمهال هدفونه د وخت په تيريدو سره خپل ارزښت له لاسه ورکوي، نو په دې وجه د بريالیتوب معيارونو ته بدلون ورکړئ.

د حقونو د دفاع هدفونو ته په اوږې موده کې رسيدل (د پاليسې او چارلچلند بدلون) په عين سويه چې د اغيزې د کچې معلومول له ننګونې سره مخامخوي په هماغه سويه ښايي د نتايجو مخالفت هم وکړي.
يو مهم واقعيت چې تل بايد په پام کې ونيول شي هغه دا دی چې هره ارزونه د مالي او بشري منابعو غوښتنه کوي چې ښايي د مدنې ټولنې سازمانونه تل هغو ته لاس رسی ونه لري. خو د تجربو زده

کړی، څارنه او تطبیق د یو ډیر مهم تمرین په توګه پاتی کیږی. د مدنی ټولنی د سازمانونو د کارکونکو وضعیت ته په پام کی نیولو سره دا باید د حقونو د دفاع د یو کمپاین په موده او سمدلاسه د نتایجو له لاس ته راوړلو څخه وروسته لاس لاندی ونیول شی.
لنډه دا چی یو کڼ شمیر موضوعات شته دی چی کیدای شی تر ارزونی لاندی ونیولی شی او دحقوقو د دفاع لپاره یو کمپاین کولای شی چی د بیلابیلو سازمانونو د فعالیتونو سره هدف ته د رسیدو په لاره کی مرسته وکړی.

**۵- ۱۳ چوکاټ**

**د احتمالی نتایجو باندی د پوهاوی او د حقوقو د دفاع د کمپاین د اغیزی لپاره د کار چوکاټ[76]**

| د کار اړخونه | د پرمختګ معیارونه | د بدلون او اوږدمهال اغیزی معیارونه |
|---|---|---|
| • د پالیسی بدلون او د قانون بدلون | • پر یوی موضوع باندی زیات دیالوګ<br>• د یوی موضوع د اهمیت زیاتیدل<br>• د برخه والو او تصمیم نیونکو په نظر کی بدلون<br>• د عامه خلکو په لفظ او بیان کی بدلون<br>• په چاپی خپرونو کی بدلونونه | • بدله شوی پالیسی<br>• په قانون جوړونی کی بدلون<br>• د پالیسی او قانون جوړونی د بدلون تطبیقول<br>• د پالیسی او قانون د بدلون په نتیجه کی د خلکوپه ژوند کی مثبت بدلون |
| • د همکاریو له لاری د مدنی ټونی پیاوړی کول (غیرحکومتی سازمانونه، ټولنیز غورځنګونه، شبکی، د کلیو او بانډو پر بنست ولاړ سازمانونه) | • د انفرادی غړو په مهارتونو، ظرفیتونو، پوهی او توانمندی کی بدلون<br>• د مدنی ډلو په ظرفیت، سازمانی مهارتونو او اغیزمنتوب کی بدلون<br>• په شبکو او غورځنګونو کی د هدفونو او فعالیتونو تنظیمول<br>• په همکاری، اعتماد او یا د مدنی ټولنی د ډلو په یووالی کی بدلون | • د مدنی ټولنی د کار د اغیزمنتوب زیاتول<br>• د مدنی ټولنی د ډلو فعالتوب په داسی یوه طریقه چی د بی وزلو خلکو په ګټه پر تصمیم نیونکو باندی نفوذ پیدا کړی. |
| • د دیموکراتیکی فضا یا د هغی یو فضا پراخول چی د مدنی ټولنی ډلی وکړای شی په ټولنه کی د بیان د آزادی لپاره په اغیزمنه توګه فعالیت وکړی | • د مدنی ډلو منل او په رسمیت پیژندل په ډیره پراخه کچه | • د تصمیم نیولو پروسی باندی د نفوذ موندلو لپاره د مدنی ټولنی د ډلو د برخی اخیستو پراخیدل<br>• د عامه تأسیساتو په |

[76] J.Chapman, „Monitoring and Evaluatiing Advocacy“, PLA Notes, 43:48-52, 2002.

| | | |
|---|---|---|
| | • مدني ډلو لپاره د داسې غونډو شته والی چې په یو لړ پراخو تصمیمونو کې لاس ولري<br>• د مدني ټولنې د سازمانونو د قانونیت پیاوړی کیدل | حساب ورکولو او شفافیت کې بدلون |
| • د خلکو د ګټو پر بنسټ ولاړ پالیسیو څخه ملاتړ | • د انفرادي حقونو او دقدرت د سیستمونو څخه چې دا حقوق یې په خپل انحصار کې ساتلی پراخه خبرتیا<br>• د مدني ټولنې د سازمانونو په ظرفیت کې بدلون ترڅو په خپل نوبت په عمل لاس پوری کړي او د حقونو د دفاع لپاره بندوبست وکړي | • امنیت او قضاء ته د عادي خلکو په لاس رسی کې د اصلاحاتو راوستل. |

## نتیجه

د امنیتي سکتور فعالیتونه، په خاصه توګه د دفاعي او ملي امنیتي چارو په اړه اکثر د محرمیت تر محاصرې لاندې دي. البته د ملي امنیت موضوعات تر یوې کچې همدا غوښتنه کوي چې باید محرمیت وساتل شي، خو د یو شدید او سخت حکومتي قلمرو لاندې د امنیتي سکتور جوړښت ښایي نه رغوونکې وي. ډیر زیات محرمیت ښایي پر ناوړه مالي استفادو، اختلاس او اداري فساد باندې پرده واچوي.

د مدني ټولنې د سازمانونو د حقونو د دفاع لپاره فعالیتونه په اجرائیه قوې کې کله چې د امنیت او قضاء په موضوعاتو کې تصمیم نیسي، د شفافیت او حساب ورکولو په خوندي ساتنه کې مهم نقش لوبوي. په دې فصل کې هغو لارو چارو ته اشاره وشوه چې څرنګه د امینتي سکتور په اړه د حقونو د دفاع کمپاینونه په لاره واچول شي تر څو د کلیو او بانډو، ملي او بین المللي سطح د امنیتي سکتور او قضاء د لوبغاړو لخوا په پالیسیو او تصمیم نیولو کې بدلون راوستل شي. دې فصل همدازار د څیړنو، شبکه یي کارونو په ستر نقش باندې رڼا واچوله او دا یې هم وښودله چې د دغو پروسو اغیزې څرنګه ارزیابي او وڅارل شي.

په نتیجه کې د یادونې وړه ده چې د حقونو د دفاع لپاره ستاسو ستراتیژي یوائې هغه وخت کار کوي چې تاسې په هغې ساحې کې چې د هغه د دفاع لپاره راپورته شوي یاست، کارپوه اوسې. دا فرق نه کوي چې تاسې د مدني ټولنې د یو سازمان په محلي، ملي یا نړیوال سطح کې دنده په غاړه اخلې، مهمه دا ده چې تاسې په هغې یوې ساحې کې چې کار کوي د هغې په سیاسي او اداري جوړښت باندې پوهه

ولري. د يو کارپوه په توګه تاسي په هغې يوی ژبې چې د امينتی سکتور لوبغاړی پری غږيږی په ښه توګه پوه شی.
د يو کارپوه په توګه دا يواځی بسيا نه کوی چې تاسی خپلی يا د نورو امنيتی اندیښنی څرګندی کړی، بلکه د کارپوه توب معنی دا هم ده چې د هغه ځواب په هکله هم فکر وکړی چې د امنيتی سکتور او د محدود مالی او بشری منابعو لرونکو حکومتونو لخوا يی انتظار کيږی، ډيری وخت د هغوی ځوابونه محافظه پال او د ژور بدلون راوستلو خلاف وی. د تأسيساتو او د خلکو په چلندونو کی بدلون راوستل يو تدريجی پروسه ده، نو په دی وجه د حقونو د دفاع لپاره ستاسو ستراتيژی د هغی په مطابق بايد جوړه شی.

## د مدنی ټولنی د يو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

د حقونو د دفاع د کمپاين لپاره يوه ستراتيژی جوړه کړی:

- د کليدی موضوعاتو پيژندل
- د کليدی برخوالو پيژندل
- د هدفونو او مقصد پيژندل
- د کليدی پيغامونو پيژندل
- د مفاهمی د ځايونو پيژندل
- د پرمختک د څارلو لپاره د معيارونو پيژندل
- د کليدی خنډونو پيژندل
- د څيرنو د اړتياو پيژندل
- د کاری پلان پيژندل
- د بودجی، بشری قواوو او مهارتونو پيژندل
- د خطرونو پيژندل

**په مناسبو سطحو کی د کمپاينونو هدف**

- د محلی ديموکراتيکو تأسيساتو او د محلی امنيتی چارواکو پام ځان ته اړول
- په ملی سطح د ديموکراتيکو تأسيساتو او د امنيت لپاره د مسوولو وزارتونو پام ځان ته اړول
- د مرستو لپاره د نړيوالو او سيمه ايزو لوبغاړو پام ځان ته اړول

**د پاليسی جوړونی په هکله پوهه**

- د هغو ادارو او تأسيساتو پيژندل چی د پاليسی جوړونی لپاره مسووليت لری
- د هغوی د کليدی تصميم نيونکو پيژندل
- په امنيتی پاليسيو کی د مسوولو ديموکراتيکو استازو او د هغو کسانو چی په دی پاليسيو کی ليوالتيا لری پيژندل

**د همنظرو مدنی ټولنی له ډلو سره د شبکو او ائتلافونو جوړول**

- له ډله ايزو رسنيو سره کار کول
- د کليدی پيغامونو خپرول او وده ورکول

- د یوی شبکی په توګه په یو غږ خبری کول
- له مطبوعاتو سره په مستقیمه توګه اړیکه ټینګول
- مطبوعاتی خبری کنفرانسونو دایرول
- د مطبوعاتی معلوماتو خپرول
- د اعتبار ساتل

**د حقونو د دفاع لپاره د خپلی ستراتیژی څارل او ارزول**

- د پالیسیو د اغیزمنو بدلونونو پیژندل
- د مدنی ټولنی د سازمان د همکاری پیاوړی کول

٦

# فصل

ANGELA MACKAY

# روزنه

Angela Mackay

# ۶

# روزنه

دا فصل په هغو لاروچارو رڼا اچوی چی د مدنی ټولنی سازمان څرنګه کولای شی د یو اغیزمن، شفاف او دیموکراتیک امنیتی سکتور د حکومتوالی لپاره د روزنه ایز پروګرام په طرح او وده کی ونډه واخلی.

د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا د امنیتی سکتور کارکونکو یا نورو مدنی ټولنی سازمانونو ته روزنه څرنګه تر سره شوی ده، د بریالیتوب سطح څومره ده، هغه تجر بی او زده کړی چی په دی لاره کی شوی دی مثالونه ډیر لږ موجود دی. د دیموکراسی د پروسی د نورو موضوعاتو په پرتله د امنیتی سکتور د څارنی په هکله د روزنی مواد د شمیر له لحاظه ډیر لږ دی او په ځینی حالاتو کی حتی د کمزوری کیفیت او ارزښت څخه برخمن دی. د دغی نیمګړتیا لاملونه ډیر زیات دی: په ډیرو ځایونو کی چیرته چی د امنیتی سکتور اصلاحات په لاره اچول شوی د مدنی ټولنی جوړښت کابو په یو لومړنی پړاو کی قرار درلود؛ د یو ارزښت لرونکی او معنی لرونکی سیستماتیک ارزونی نشته والی او د هغی په تعقیب د روزنه ایز فعالیتونو کمبود؛ د لویدیځ مودلونو، ژبو او مثالونو څخه خپلواک د مناسبو کلتوری موادو کمښت؛ او تر ټولو ښایی مهمه مسأله، په یو داسی سیاسی فعالیت کی د ګډون لپاره د مدنی ټولنی د سازمانونو او د امنیتی سکتور متقابله تردد. هغه چی بیا په خپل ابتکار یی په دی موضوع کی ګډون کړی د هغوی لخوا په خپله چمتو شویو روزنه ایز موادو په ثبوت رسولی چی په دی لاره کی ډیر اغیزمن تمام شوی دی.  سربیره پر دی دا فصل تشریح کوی چی د مدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی خپل روزنه ایز مواد چمتو کړی.

په عمومی توګه روزنه یو مشخص اود لمس وړ دنده ده چی مدنی ټولنی سازمانونه یی کولای شی اجراء کړی. د دی لپاره چی د روزنی د محدودیتونو او امکاناتو په هکله رڼا واچوله شی او د دی لپاره چی په دی نقش کی د مدنی ټولنی له سازمانونو سره ملا وتړله شی، دی فصل کی به :

- د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د بالقوی ننګونو او ځوابونو څیړنه وشی
- د یوی پروسی په توګه روزنه تر آزموینی لاندی ونیوله شی، هغه یوه پروسه چی د امنیتی سکتور څارنه او اصلاحات پیاوړی کړی
- له بیلګو او مثالونو څخه به کار واخیستل شی چی کوم اصولی روزنه غوره ده
- د روزنی د میتودلوجی او محتوی په هکله مشوری او مثالونه وړاندی شی.

## تعریفونه

## د څه لپاره د مدني ټولنې سازمانونه؟

د یوې ځانګړې او متحولې راتلونکې لپاره خورا مهمه ده چې د روزنې په فعالیتونو کې د مدني ټولنې استازیتوب ترکومه ځایه چې امکان ولرې پراخ کړای شي. ټول هغه سازمانونه او انجمنونه چې د دولت څخه بهر اوسیږي باید د یو ځای کیدو او اتحاد وړتیا ولرې. دغه اتحاد د اصلاحاتو پروسه پیاوړې کوي او مرسته ورسره کوي او هغه یو پریکړن پیغام مطرح کوي چې امنیت باندې اغیزې لرې او د ټولنې د ټولو عناصر لخوا اغیزمن کیږي.

## روزنه – هغه څه ده او هغه څه نه ده؟

- روزنه او ښوونه ډیرې وخت سره ګډوډیږي. په دې کتاب کې روزنه هغو فعالیتونه ته اطلاق شوی ده چې هدف یې د پوهې او مفکورې هڅول دي تر څو زده کونکې په خپل دریځ او وضعیت کې بدلون راوړې او هغه مهارتونه زده کړې چې کړه او وړه پرې اصلاح کړې.
- روزنه د اوږدې مودې اکادمیکو کورسونو پورې اړه نه لرې د کومو په نتیجه کې چې شهادتنامه یا دیپلوم لاس ته راوړل کیږي یا کوم چې د آزموینو او کړکیچنو ارزونو ایجاب کوي.
- د بشري امنیت د ستر او پراخ تعریف په دننه کې د امنیتي حکومتوالی روزنه هیڅ وخت دودیز پوځې او پولیسي تخنیکې روزنې پورې اړه نه نیسي، خو د توانمندۍ او مهارتونو د ودې لپاره له امنیتي ځواکونو څخه غوښتل کیږي چې د قانون واکمنی او دبشري حقونو نورمونه او معیارونه عملي کړې.
- د امنیتي سکتور د اصلاحاتو لپاره د روزنې محتوا له یو لړ مختلفو موضوعاتو څخه عبارت ده. دا موضوعات کیدای شي په لاندې ډول وي:

  - مشرتابه او منجمنت
  - د مرکو میتودونه او مهارتونه
  - د بشري حقونو نورمونه او د تطبیق لارې چارې
  - د ماشومانو حقونه او د ماشوم ساتنه
  - جنسیت، بشري حقونه اودقانون واکمني
  - د محلاتو پولیسي چارې او محلاتو مصونیت
  - د شخړې منجمت
  - د تماس نیولو مهارتونه: مفاهمه، خبري اترې، آسانتیاوې
  - د څارنې او مراقبت میتودونه
  - له رسنیو سره کارکول

- د هدف وړ مخاطبین بنایي یو تر بله سره مختلف وي، له زړو نیولې تر ځوانانو پورې، هغوی کیدای شي چې د امنیتي نظام په مختلفو ځواکونو کې وي، پوځې ځواکونه، د پولیسي ځواک ټولې برخې، خاص روزل شوي یونیټونه، سرحدي محافظین او د زندانونو محافظین، خصوصي امنیتي شرکتونه او عامه چارواکي.
- روزنه کیدای شي مختلف ډولونه غوره کړې او حتمي نه ده چې هغه سازمان شوي، رسمي او یا د یو ټولګې په چاپیریال کې وي: هغه کیدای شي چې د سمینارونو، ګردي میزونو، ورکشاپونو، عامه بحثونو، د وظیفوي تبادلو او د عمل د ساحې د تمرینونو شکلونه ولرې.

- ډېرى وخت روزنه د کار په ساحه کې د ښوونيو ملګرتيا، د تيم جوړوني او يا د هر ځانګړى شخص لپاره د مهارتونو د زده کړې د شرايطو د برابرولو له لارې صورت مومي.

په عمومي توګه روزنه د هغه څه يوه بشپړه کونکې برخه ده چې کمبود يې ليدل کيږي: البته هغه په خپل ذات کې د علاج لاره نه ده.

## بالقوه ننګوني او ځوابونه

۶- ۱ چوکاټ د روزنې په مسأله کې د مدني ټولنې د مداخلې په اړه ځينو د وړاندوينې وړ مسائلو باندې رڼا اچوي. دا موضوعات ځينو ځانګړو شرايطو پورې اړه نيسي او د پيچلتوب او اهميت له لحاظه په مختلفو کچو سره په مختلفو ځايونو کې پيښيږي؛ د چاپيريال په مطابق د هغوی اړونتوب هم يو بل سره توپير لري (د جګړو ځخه وروسته هيوادونو، انتقالي ټولنو او داسې نورو چاپيريالونو کې). د هغوی انګيزې او همداراز د مدني ټولنې د پيل ټکي يې هم يو تر بله سره توپير لري. د وړاندې شويو حل لارو څخه يوه يې هم په آسانۍ سره د تطبيق وړ نه ده، خو هغه ځوابونه چې دلته وړاندې شوي دي د روزنې لپاره د يوې هر اړخيزې ستراتيژۍ د طرح وينډويي کوي. همداراز د بسپنه کونکو او بهرنيو مرسته کونکو څخه چې د ونډو انتظار ترې کيږي هم دلته يادون شوی دی. په عمومي توګه د مدني ټولنې د سازمان په دننه او بهرنی چاپيريال کې چيرته چې هغوی عمل کوي ننګوني موجودي دي. نو په دې وجه د دغو مختلفو نفوذونو په وړاندې ځوابونه بايد سره اعيار کړای شي.

د مدني ټولنې سازمانونه بهرنی ستونزی لکه ناکافي وسايل يا وسلوالو ځواکونو ته په غيرمنظمه توګه معاش ورکول، نه شي حل کولای، خو دوی کولای شي چې په دې اړه مسووليت په غاړه واخلي او د ستونزو منفي عواقبو ته ګوته ونيسي او سياسي مسوولين خپلو دندو ته متوجه کړي. د مدني ټولنې د سازمان د روزنې بريالیتوبونه د امنيتي سکتور د حکومتوالې او د اصلاحاتو د حل يواځنی لاره نه ده: بسپنه کونکې او نور ملاتړ کونکې کولای شي د ګډو او مشترکو فعاليتونو لپاره يو چاپيريال چمتو کړي او د دولت د ارګانونو او مدني ټولنې د سازمان ترمنځ اړيکې تشريح کړي، لړ ترلږه د فعاليت په لومړيو پړاوونو کې.

د بسپنه کونکو مالي مرستی ډيرې وخت د مدني ټولنې د سازمانونو د پايښت لپاره ژوند ښوونکې اهميت لري، خو په دې اړه متقابله مسووليت شته دی چې د بسپنه کونکې او مرستی ترلاسه کونکې ترمنځ د تناظر مخه ونيوله شي. بسپنه کونکې، د مجربو روزونکو په څير بايد د زده کړې له پروسې بهر ودريږي، هغوی کولای شي چې يواځې په محلي ظرفيتونو، محتوی او پاليسيو باندې يو محدود کنترول وساتي، خو په عين وخت کې دغې پروسې ته بايد پر له پسې مرستی، معلومات، مشوری او مالي سرچينې چمتو کړي. ۶- ۲ چوکاټ څرګندوي چې د بسپنه کونکو له مرستو سره تړلې ننګونو په وړاندې څرنګه مقابله وشي.

## روزنه د يوې پروسې په توګه

د روزنې ټول فعاليتونه بايد په ښکاره توګه د امنيتي سکتور د حکومتوالي او اصلاحاتو د هدفونو د لاس ته راوړلو پورې اړه ونيسي. دا چې روزنه يوه وسيله ده چې هدف يې د معيارونو خوندي ساتل او له بدلون سره مرسته ده، د هغې ګټې بايد څرګنده، د سنجش وړ او د لاس ته راوړلو وړ وي، دا په داسې حال کې چې په هغه يو سرعت مخ په وړاندې ګام کيږدي چې د هدف وړ ډلې او ټولنه په مجموع کې ترې استفاده وکړای شي.

په عمومي توګه، روزنې ته د يوې رغونکې درملنې په توګه کتل کيږي چې د بې معلوماتې، ناپوهې، لږې تجربې مهارت څخه د راپيدا شويو نيمګړتياوو په حل کې مرسته کوي. که چيرې غيرمعقول انتظارونو، ناکافي منابعو او نيمګړو پلانونو باندې تکيه وشي، ښايي د نااميدي او د ناوړه غبرګون خطر له ځان سره ولري او روزنه بې نتيجې پاتې کيږي او عامه اعتماد تاواني کيږي. لنډه دا چې روزنه بايد د يوې پراخې ستراتيژۍ نه بيليدونکې برخه وي.

په ځينو حالاتو کې د «ظرفيت د پراختيا» غوښتنه ، په خاصه توګه د جګړې څخه په خلاص شويو يا انتقالي دولتونو کې کولای شي څو اړخيزو، رقابتي او کاپي شويو روزنو چې يو بل سره کمزوري اړيکې ولري، زياته پاملرونه واړوي، دا ښايي په دې وجه وي چې بسپنه کونکي غواړي ځان ښکاره کړي او روزنه د يوې چمتو او د رسيدو وړ هدف په توګه تشخيص شوې دی. روزنه د عامه اړيکو يو تمرين نه بلکه د ديموکراسۍ د ودې لپاره يو تمرين ګڼل کيږي. د لمس وړ توليدات، لکه رسالې او کورسونه، د رغوونکې زده کړې يا د «محلي برخه والو» لپاره د تدريجي کشف د يوې ثانوي لاري چارې په توګه اهميت لري.[77]

مختلفو موضوعاتو ته بايد پام واړول شي ترڅو په انفرادي او تأسيساتي سطحو د پايښت وړ پراختيايي ظرفيت رامنځ ته کړای شي، نه يوازې دا بلکه د پروسې لپاره يو فعال چاپيريال هم. د خپل ظرفيت د پرمختيايي پروګرامونو له لارې د «۲۱ نومې او ۲۰۱۵ نومې ظرفيت» له لارې د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام (UNDP) د ظرفيت د پراختيا په لورد اړتياو او د موجودو امکاناتو په پام کې نيولو سره په هر اړخيزو اقداماتو باندې لاس پورې کوي او د پايښت لرونکو اغيزو په موخه د ظرفيت د پراختيا لپاره د جوړښت او محتوی له لحاظه بدلونونه په پام کې نيسي. دغه اقدامات د پرمختيايي کارکونکو، انتفاعي تأسيساتو او سازمانونو او د بسپنه کونکو هيوادونو لخوا په پراخه توګه منل شوي دي. د يوې مستقيمې ظرفيت ارزونې پروسې پر بنسټ د ظرفيت د پراختيا اقدام د څلورو مختلفو تشکيلاتي ابعادو لپاره د ظرفيت پراختيايي ستراتيژيو تشريح کوي: الف – تأسيساتي اصلاح او انګيزې، ب – د مشرتابه ظرفيت، ج- تعليم، روزنه او زده کړه، دال – حساب ورکول او استازيتوب ميکانيزم. په بدل کې هره لاس لاندې نيولې شوې ستراتيژي بايد د ظرفيت د پراختيا د يوې اغيزمنې پروسې د رامنځ ته کولو لپاره لږ تر لږه په پيل کې دوو مهمو ټکو ته پام واړوي:

الف – د يو فعال او د کار وړ چاپيريال: کاري اخلاق، انګيزې/ خنډونه، د پاليسي کاري چوکاټ، د ډلو خپل منځي تعلقات / شبکې/ سازمانونه ، د کومې په واسطه چې هر يو د عمل توان پيدا کوي، د بيلګې په توګه قانوني/قضايي چاپيريال، د مالي منجمنت چاپيريال؛

ب – تشکيلاتي سطح: دا د انفرادي ډلو يا سازمانونو لپاره د کار چوکاټ چمتو کوي تر څو وکړای شي چې د خپلو انفرادي ظرفيتونو (وزارتونه، اداري، ولسوالي، غيرحکومتي سازمونه) څخه لوړو هدفونو ته ورسيږي؛

ج – انفرادي سطح: د پوهې او مهارتونو ذخيره، د سازمانونو د جوړښت وداني، د انفرادي اجراآتو ارزونې ، د سازمانونو مسووليت.[78]

ډيرې وخت د ارزونې کموالی اود روزنې او د لمس وړ نتايجو ترمنځ د نه روښانه اړيکه شته والی نه يوازې منابع ضايع کوي، بلکه د روزنې په نسبت باور هم له منځه وړي. د روزنې ارزول خورا اهميت لري، ځکه هغه په عمل کې له اصلاحاتو، د ښوو نتايجو لاس ته راوړلو او د عامه باور له پياوړتيا سره مرسته کوي.

---

[77] Fukuda, Sakiki, Carlos Lopes and Khalid Malik (eds), Capcity for Development: New Solutions to Old Problems, UNDP/Earthscan, London, 2002.

[78] د زياتو معلوماتو لپاره چې څرنګه هر اړخيزه پراختيايي ظرفيت په کار ولويږي، لطفا د طرحو، وسايلو او لارښونو په کتابتون کې په دغه لاندې انترنتي پاڼه کې مطالعه کړی:

http://www.capacity.undp.org/and OECD DAC, The Chalange of Development-Working Towards Good Practice. DAC Guidelines and Refrence Series, 2006, www.oecd.org/dataoecd/4/36/326495.pdf

روزنه یوه ناڅاپی پلان او یا اقدام نه دی. بلکه هغه د کافی وخت او انرژی او همدراز د یوی اوږدی مودی د فکر او ژمنی غوښتنه کوی. له کمی او کیفی لحاظه د روزنی د اړتیا لپاره د حل کومه مشخصه لاره وجود نه لری. سربیره پر دی، د مدنی ټولنی سازمانونه چی د یو داخلی هویت او اعتبار لپاره هڅه کوی، ملاتړ کونکو او مالی مرستو ته اړتیا لری ترڅو د اوږدی مودی لپاره په خپلو ژمنو ټینګ پاتی شی.

روزنه یوه پروسه ده، نه د یوی لنډی مودی هدف. د لنډې مودی فعالیت او هدف محدود ارزښت لری.

## د غټانو زده کړه

د مدنی ټولنی سازمانونه چی د روزنی په فعالیتونوکی بوخت دی باید د غټانو لپاره د زده کړی میتودونه طرح کړی، په دی وجه چی د وړاندی شویو کورسونو تر ټولو ډیر زیات ګټه اخیستونکی بالغ زده کونکی دی. دغه لاندی برخه د غټانو د زده کړی لپاره بنستیزی لارښوونی وړاندی کوی.

غټان په خپلی توانمندی پوهیږی او غواړی چی د معلوماتو د ترلاسه کونکو په توګه فعال اوسی. بی تفاوته ده چی څرنګه موضوع وی، په زده کړو کی خوځښت او پوهه نغښتی ده؛ دا په خاصه توګه هغه وخت په ربښتینی توګه د پوهی وړ ده چی سړی له حساسو موضوعاتو سره کار ولری. غټان باید عمل وکړی، بحث وکړی او د ستونزو په حل کی فعال نقش ولوبوی.

په دریځ کی د تغییر راوستلو لپاره نه یواځی د بدلونو د راوستلو لپاره پوهی ته اړتیا ده چی څرنګه هغه رامنځ ته شوی دی، بلکه بدلونونه باید دا روښانه کړی چی ولی په یو اقدام لاس پوری کیږی او په څه ترتیب. د امینتی سکتور د کارکونکو د لسیزو را په دیخوا دریځ او عمل ښایی یواځی په دی خبری سره چی یو روزونکی ورته ووایی هغوی باید خپل کړو وړو ته بدلون ورکړی، بدلون نه مومی.

غټان د خپلی روزنی او عقایدو له مخی د حق، ناحق، صحیح او غلط، اخلاق او غیراخلاق په هکله ځانګړی دریځ لری. له هغو څخه انتظار چی خپل دریځ او د عمل اخلاقو ته بدلون ورکړی، په دی معنی ده لکه چی له هغو څخه د هغوی د هویت د بدلون غوښتنه وشی؛ په بل عبارت، غټان مخکی له دی چی په خپل دریځ کی بدلون راوړی هغوی باید قانع کړای شی. که چیری غټان خپل دریځ او کړو وړو ته د منفی دلایلو په وجه لکه ډار، دښمنی، ګواښ، خطر او یا د بل چا د نفوذ او انحصار له امله بدلون ورکوی، دا ډول بدلون پایښت نه لری او په نتیجه کی به یی په عمل او د کار په کیفیت کی سمونوالی رامنځ ته نشی.

**۶- ۱ چوکاټ هغه موضوعات چی په روزنه کی د مدنی ټولنی د سازمان مداخله اغیزمنه کوی**

| احتمالی ننګونی (داخلی) | ځوابونه | بسپنه کونکی او نورتأسیساتی ملاتړ |
|---|---|---|
| متقابله ناباوری او شک د تردد او کش او کړپ سبب ګرځی | الف – وخت څخه په استقادی سره اړیکی ټینګی کړی<br>ب – د روزنی ګډه ارزونه او تحلیل په لاره واچوی ترڅو اړتیاوی وپیژنی<br>ج – د امنیتی سکتور له کارکونکو سره د مفاهمی لپاره د ګډو | الف- اعتراف او په رسمیت پیژندل د مدنی ټولنی د سازمانونو قانونیت |

| | | |
|---|---|---|
| | مسلکی او تخصصی ټکی وپیژنی<br>دال- په امنیتی سکتور کی د فعالیتونو د ملاتړ لپاره «اتلان» وپیژنی | پیاوړی کوی |
| | هـ - د روزنی ګډو پروګرامونو ته وده ورکړی او د روزنی د متقابل اهمیت وړ او ګټور موضوعات انتخاب کړی، د بیلګی په توګه غیرسیاسی ملکی بیړنیو حالاتو کی د ملکی پوځی مرستو ځوابونو سره[79]<br>و- د روزنی د پروګرامونو پر سر د بحث لپاره له امنیتی سکتور سره د خبرو اترو ګردی میز جوړ کړی<br>ز- د روانی مفاهمی د خوندی ساتنی لپاره د «دیالوګ» ډلی/ لیوالی شبکی تشکیل کړی | ب – د اتلانو او مشرانو لپاره ملاتړ ښکاره کړی<br>ج- داسی ښکاره کړی چی تاسی مرستندوی یاست نه هدایت ورکونکی<br>دال – د شبکو له پراختیا او د سیمه ایزو تجربو سره له اړیکو څخه ملاتړ وکړی. |
| د مدنی ټولنی د سازمانونو روزنه ایز پروګرامونو سره دولتی مالی مرستی د هغوی آزادی او خپلواکتوب محدودوی | الف – دولتی مالی مرسته کونکو ته د نتایجو د ښودلو لپاره لنډموده ایز او د سنجش وړ هدفونه وټاکی<br>ب- د څارنی په نقش کی محدودیتونه (تر کومه ځایه چی امکان لری) د دولتی ارګانونو لخوا د مالی مرستو د ورکړی د یو شرط په توګه مه منی.<br>ج – د دولت له فشار او ناوړه استفادی څخه د محلی غیرحکومتی سازمانونو د خوندی ساتنی لپاره له سترو شبکو سره یو ځای شی<br>دال – د مالی منابعو څخه د استفادی شفافیت او اغیزمنتوب ښکاره کړی – په دی موخه دولتی مالی چارواکو ته بلنه ورکړی ترڅو د روزنی پروګرامونه په خپلو سترګو ووینی.<br>هـ - د خپلی آزادی د پراخولو لپاره له بریالیتوبونو څخه استفاده وکړی | الف – د مرسته کونکو او مرسته ترلاسه کونکو پالیسی سره جوړی کړی - ډاډ لاس ته راوړی چی د روزنی لپاره فعالیتونه د امنیتی سکتور د اصلاحاتو له ټاکل شوی تصور سره جوخت دی – پرته له دی د اعتبار د لاسه ورکولو خطر موجود دی<br>ب – له سیمه ایزو او نړیوالو ارګانونو سره د مشارکت د جوړولو لپاره د مدنی ټولنی له محلی سازمانونو سره مرسته وکړی<br>ج – د تهدید او ګواښونو په وړاندی د مدنی ټولنی له |

[79] - Michael Pugh, „Civil Society and the Security Sector: SSR is Too Serious a business to be Left to Soldiers' in Sourcebook in Security Sector Reform, Fluri, Philiip and Hadzic, Miroslav (eds), CCMR, Belgrade, 2004

| | | |
|---|---|---|
| | | سازمانونو څخه دفاع وکړی |
| د امینتی سکتور د اصلاحاتو په ساحو کی د مدنی ټولنی د سازمانونو د مداخلی لپاره د مختلفو او له سیالیو څخه ډکی غوښتنی [80] | الف- ږومبیتوبونه وټاکی<br>ب – د مدنی ټولنی د سازمان اصلی دنده یا دندی روښانه کړی که هغه مستقیم عرضه یی خدمات، څیړنی، د حقوقو دفاع، یا مینځګړیتوب وی<br>ج – په مختلفو ساحو کی د مدنی ټولنی د سازمانونو «مخکښتوب» وپیژنی<br>دال – قوت او ضعف تشخیص کړی؛ له دا ډول غوښتنو په وړاندی چی «ټول شیان د ټولو خلکو لپاره وی» مقاومت وکړی<br>هـ - تخصص او تمرکز: د ماشومانو، ښځو یا لړکیو حقونه؛ د ټولنی مصوونیت؛ د انسانی قاچاق مخنیوی<br>و – د داسی لارو چارو په لټه کی شی چی د سیالیو یا دوه ګونو کارونو پر ځای همکاری پراخی شی<br>ز- ډاډ لاس ته راوړی چی ځوابونه د خلکو د غوښتنو سره تراو ولری او هغه د «مخورو» شرکتونو او مؤسسو تولید نه وی | الف – له بی ثباتو تأسیساتو څخه غیر معقول غوښتنی مه کوی<br>ب – له شبکی او سترو سازمانونو څخه استفاده وکړی ترڅو منابع اوتر ټولو غوره چارچلندونه تشخیص کړی او هغه د مدنی ټولنی د سازمانونو په فعالیتونو کی ونغړی. |
| د مدنی ټولنی ډول ډول محلی سازمانونه له همغږی، تمرکز او تشکیلاتو څخه بی برخی دی | الف – د مدنی ټولنی د سازمانونو اخلاقیات روښانه کړی (هدفونه، میتودونه او عقاید) ترڅو اعتبار خوندی وساتل شی<br>ب- مالی منابع راټولی کړی<br>ج – محلی پوهه او نړیوالی منابع سره یو ځای کړی (د مالی منابعو په شمول)<br>دال – د دوه ګونو کارونو مخه ونیسی<br>هـ - شبکی جوړی کړی، ځکه شبکی د انفرادی فعالیتونو په نسبت پیاوړی دی | الف – د تشکیلاتی پراختیا د هڅو ملاتړ وکړی<br>ب – د مدنی ټولنی د سازمانونو څخه ملاتړ وکړی چی د قاعدی څخه د «رأس» دوله پروسو څخه د اعتماد د راجلبولو لپاره کار اخلی<br>ج - د لویدیځ کرای شویو ګټو لټونکو ډلو سره د سطحی اتحاد پر ضد محافظت وکړی |
| له میتودولوژیو، د روزنی د میتودونو او د | الف- محلی، مسلکی امکانات تشخیص کړی<br>ب- د روزنی له بومی یا اصلی میتودونو څخه کار واخلی (ولسی هنرونه، کیسی ویل، مشورتی غونډی، مذهبی ټولنی او داسی نور) | الف- په محلی تخصص باندی ډیره زیاته تکیه وکړی<br>ب- د روزونکو د |

[80] See Chowdhury, Naved, Chelsie Finlay-Notman, and Ingie Hovland, 'CSO Capacity for Policy Engegement: Lessons Learned fro the CSPP Consultations in Africa, Asia, and Latin America; ODI Working papers, No.272, 2006, available online at: http://www.odi.org.uk/publications/working_papers/wp272.pdf

| | | |
|---|---|---|
| یوی ځانګړی موضوع په هکله متقابلی ناآشنایی د بی اعتمادی سبب ګرځی او د روزونکو لیاقت تر پوښتنی لاندی راولی. | ج- د روزونکو روزنه باید د روزنی په یوی ستری ستراتیژی کی شامله کړای شی<br>دال- د مسلکی کسانو لخوا د مشوری او ملګرتیا لپاره غوښتنه وکړی<br>هـ - د روزنی چمتوالی او په مسلکی توګه د هغوی وړاندی کول | روزنی له پلان، مشوری او ملګرتیا څخه ملاتړ وکړی<br>ج- له مسلکی تبادلو، سفری مطالعاتو، د هر یو شخص له مسلکی پرمختیا او ملګرتیا څخه ملاتړ وکړی، |
| د منابعو کموالی؛ د مدنی ټولنی محلی سازمانونه د خلکو د شمیر له لحاظه ډیر زیات شتمن دی، خو د مالی منابعو، ځای، وسایل او موادو له لحاظه ډیر کمزوری دی | الف- له نړیوالو سازمانونو او بسپنه کونکو سره د لنډ مهاله مالی مشارکتونو په لټه کی شی [81]<br>ب- مالی مرستی بیرنیو اړتیاوو ته ځیر کړی<br>ج – داډ لاس ته راوړی چی د روزنی میتودولوجیګانو کړکیچن تخنیک ونه لری او په آسانی سره د تطبیق وړ وی. [82]<br>دال – د روزونکو د روزنی پر پروګرام باندی ټینګار وکړی | الف- د روزنی لپاره مالی بسپنی ټولی کړی<br>ب - د زده کړی د پروسی لپاره د اوږد مهاله مرستو ژمنه وکړی<br>ج- معتدل هدفونه او د بنسټیزو بدلونونو اهمیت په رسمیت وپیژنی. کوچنی خو مهمی اړتیا وی تمویل کړی: کتابتونونه، ژورنالونه، انترنتی لاس رسی، د میتودولوجی وسایل [83] |

[81]- لنډ مهاله اصطلاح یو نسبی وینا ده. دلته په دی ټکی باید ټینکار وشی چی د مدنی ټولنی سازمانونه او د هغوی ملاتړکونکی باید تل یو محدود مالی تړاو په پام کی ونیسی او ډاډ لاس ته راوړی چی بهرنی مرسته د محلی ظرفیتونو د روزلو لپاره په کار لویږی.

[82] Source: http://www.networklearning,org.

[83] Vank, Biljana, Civil Society Empowerment and the Lessons Learned from the Balans, DCAF Working Papers, No.32, 2002, available online at http://www.dcaf.ch/_docs/WP32.opdf

**۶- ۲ چوکاټ**
**د بسپنو له ملاتړ سره تړلی احتمالی ننګونی**

| **بسپنه کونکی او نور تأسیساتی ملاتړ** | **ځوابونه** | **احتمالی ننګونی (بهرنی)** |
|---|---|---|
| الف- د پلان جوړونی په پروسه کی د محلی برخی اخیستلو او خپلواکتوب څخه پرته منابع او امکانات اعتماد او باور رامنځ ته کولای نه شی<br>ب- له هغو مدنی سازمانو څخه ملاتړ وکړی چی له محلی خلکو سره ټینګی اړیکی لری پرته له دی د ناکامیدو خطر موجود دی | الف- د امنیتی سکتور د ګټو پیژندل او د روزنی د ترلاسه کولو لپاره تشویق (انګیزی البته مختلفی دی)<br>ب - په مختلفو سطحو د مختلفو اړتیاو پیژندل (لوړپوړی پوځیان د عادی عسکرو په پرتله مختلفو تماسونو ته اړتیا لری)<br>ج- د ځانګړو روزنو لپاره له کارپوهانو څخه کار واخلی<br>دال- د مدنی ټولنی د بشری حقونو اندیښنو او اړتیاوو ته د ځواب لپاره له روزنی څخه کار واخلی او محلی امکانات په کی شامل کړی<br>هـ - له محلی بیلګو څخه کار واخلی او دی پوهی ته وده ورکړی چی ولی بشری حقونو باندی پوهاوی نړیوال اهمیت لری<br>و- د غوره چارچلندونو چی د بشری حقونو محلی ستونزو په برخه کی د پلی کیدو وړ دی یو ګډ اساس جوړ کړی | د امنیتی سکتور له اصلاحاتو څخه د سمدلاسه نتایجو غوښتنه او د بشری حقونو لپاره د اصلاح شوی درناوی انتظار |
| د تبادلو او د امنیتی ځواکونو او مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د ګډو روزنو بندو بست او له هغو ملاتړ وکړی | الف- اړیکی ټینګی کړی، اعتماد او باور ته وده ورکړی، روښانه کړی چی د مدنی ټولنی سازمانونه څه دی او څه کوی<br>ب- د امنیتی سکتور له جوړښتونو، رتبو، دندو، سمبول او نښان سره پیژندګلوی پیدا کړی<br>ج- د ګډو روزنو لپاره لاری هواری کړی<br>دال- له امنیتی ځواکونو څخه د روزنی غوښتنه وکړی (د مینونو شنډول؛ د وسلو پیژندل، د چلولو او مخابراتو مهارتونه)<br>هـ - ستونزی تحلیل کړی او په ګډه د حل لاری ولټوی | پوځ او پولیس چی ډیری وخت له کافی معاش څخه برخمن نه دی او په کافی وسایلو سمبال نه دی له ټولنی څخه تجرید دی؛ د مدنی ټولنی د سازمان له لیری لید سره پیژندګلوی نه لری او لیوالتیا نه لری چی د روزونکو په توګه د مدنی ټولنی |

| | | |
|---|---|---|
| سازمانونو ته په درنه سترګه وګوري. | | |
| په ټولو سطحو د بدلونونو په مقابل کې مقاومت | الف- په ټولو سطحوکې کار: له قاعدې څخه د رأس په لور، د منځنۍ پوړې له لارې له رأس څخه د قاعدې په لور<br>ب- داخلي رهبرۍ ظرفیت ته وده ورکړې ترڅو له امنیتي سکتور سره په تعامل لاس پورې کړي<br>ج- ائتلان او رهبران وپیژنې ترڅو د بدلون پروسه ګړندې شي<br>دال- د روزنې محتوی باید څرګندې ګټې ولري | د نه لیوالو حکومتونو په اړه د محلي مدنی ټولنې د سازمانونو دریځ سره مرسته وکړی |
| د پوځې قوماندې د سلسلې کلتور د ستونزو د رغونکې حل مخه نیسي | الف- د روزنې تمرینونه طرح کړې چې د ګډو فعالیتونو ملاتړ وکړي<br>ب- د روزنې د ستراتیژۍ په پراختیا کې د نمونه یې کارونو شاملول او همداراز د روزنیزو پروګرامونو طرح او عرضه<br>ج- د هغو ډلو د ملاتړ د لاس ته راوړلو په لټه کې شي چې په پوځي «ژبه خبرې» کوې مثلاً، د سابقه لرونکي پوځیانو سازمانونه چې له پوځ سره د دیالوګ لپاره مینه لري. | د نړیوالو سازمانونو شهرت کولای شي چې د مدنی ټولنې سازمان سره مرسته وکړې ترڅو پوځ د هغه په فعالیتونو کې د برخې اخیستلو لپاره قانع شي |
| پرته له شکه چې د بسپنه کونکو اجنداوې د روزنې پر ړومبیتوبونو او د مدنی ټولنې دسازمانونو په چلندونوباندې اغیزې لري | الف- د همکار په توګه په فعالیتونو کې ونډه واخلي او هراړخیزو وړاندیزونو ته وده ورکړي<br>ب- د پیوستون او شبکو له لارې د مدنی ټولنې د سازمانونو جوړښت د امنیتي سکتور په اصلاحاتو کې یو مهم عنصر دی<br>ج- که چیرې د مدنی ټولنې سازمان خپلواکمنې ونه ساتې، له محلي خلکو سره اړیکې ونه لري او یا د عرضه کولو ظرفیت ونه لري، مالي امکانات یې ضایع دی.<br>د - غوره ده چې اوسنیو مالي منابعو ته پام واړول شي نسبت ودې ته چې د یو نوي سازمان د جوړولو لپاره بسپنه کونکو ته د مالي مرستو د لاس ته راوړلو لپاره عذر او زارې وشي، یا جعلي اجنداوې چې د خلکو له اړتیاوو سره تړاو نلري، جوړې شي. | الف- له هغو سازمانونو سره چې له محلي خلکو سره اړیکې لري کار وکړې، له دې لارې ډلې په محلي موضوعاتو کې د امنیتي سکتور موضوعات ګډوې<br>ب- که چیرې بسپنه کونکې ونه توانیږي چې له اړتیاو سره سم عمل وکړې، قانونیت خپل مفهوم له لاسه ورکوی |

د دې لپاره چې د روزنې په مقصد بریالیتوب لاس ته راشي، د ګډونوالو د زده کړې دغه لاندې اصول باید په پام کې ونیول شي:

- ګډونوال تجربه لري او غواړي چې له هغې څخه استفاده وکړي (روزونکي باید په ټولګي کې د برخه والو له تجربو څخه استفاده وکړي)؛
- ګډونوال کولای شي چې انتخاب وکړي (هغوی غواړي چې په خپلو زده کړو کنترول ولري)؛
- ګډونوال غواړي د خپلو زده کړو په اړیکه باندې پوه شي؛
- ګډونوال د زده کړو لپاره لیوالتیا لري؛

- غښتان باید د خپلې زده کړې په پروسه کې په فعاله توګه ونډه ولري.

## په عمل کې اصول

د دې لپاره چې د غښتانو د زده کړې په پروسې او چلند باندې سرې پوه شې، د عملي مثالونو اړتیا پوره کړای شي او د غبرګون او یووالي کولو لپاره لاره هواره کړای شي، په زده کړو کې باید د هغه خپل اصول مراعات شي. په دې مقصد روزونکي دغه لاندې مسائل باید په پام کې ونیسي:

- میتودونه، فعالیتونه اوچاپیریالونه وټاکي ترڅو برخه وال د امن او درناوي احساس وکړي؛
- له کوچنیو، آزادو، له تخصص څخه برخمن بحثونو، خارل شویو مرکو او نقش لوبولو څخه ملاتړ وکړي او دا د سترو او د څو مقصد ایز زده کړو له جلسو څخه غوره ده؛
- د غښتانو د ژوند له تجربو څخه استفاده وکړي ترڅو څرګنده کړي چې دغه تجربې څرنګه د هغه څه سره چې باید زده کړای شي جوړیږي یا ورسره مرسته کوي او یاپه مخالفت کې واقع کیږي؛
- د ستونزو د حل لپاره د تشخیص لاره ونیسي، نه د ستونزو د «نوم نیولو او ملامتیا لاره»؛
- د زده کړې د مختلفو ډولونو او تخنیک ترمنځ (غوږیز یا Audio، لیدیز Visual او تجربي) انډول وساتي او وخت په وخت یې بدل کړي؛
- د دندې پر بنسټ ولاړ مثالونو څخه استفاده وکړي تر څو د موادو او مثالونو ترمنځ اړیکه خوندي وساتله شي؛
- موافقه شوي بنسټیز مقررات وټاکي او له هغو څخه د اړتیا په صورت کې کار واخلي تر څو د درناوي وړ سلوک خوندي وساتل شي.

## روزنه څرنګه کولای شي چې د امنیتي سکتور دیموکراتیکه څارنه پیاوړې کړي؟

د امنیتي سکتور د اصلاحاتو او پر امینتي سکتور د دیموکراتیکې څارنې په هکله د روزنې پرمختیا لا تراوسه په خپل لومړي پړاو کې ده. په داسې حال کې چې د کامپیوټر له لارې د زده کړو لپاره مواد د جوړولو او چمتوالي په حال کې دي، خو د څارنې د ډیرو پرمختللو تخنیکونو لپاره همدا اوس غوښتنې عنوان شوي دي. اساسي متنونه او روزنې جوړې شوې دي او روزنکې ډیرې وخت هغه مواد برابروي چې د ټولنې د یوې خاصې پرګنې او یا د یوې ځانګړې مؤسسې اړتیاوې پوره کړي، خصوصاً په هغو مؤسسو کې چیرته چې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو شفافیت او حساب ورکولو اړخونه، د بشري حقونو مراعات او داسې نور اړوند تأسیساتي مسائل مطرح وي. د مدني ټولنې سازمانونه باید د زده کړو د موجودو موادو سر بیره وړاندې ګام واخلي او په خپل نوښت د رزونې او زده کړې مواد چمتو کړي. دغه ډول نوښتونه له مختلفو لارو ممکن دي.

## د امنیتي سکتور د څارنې په موخه د مدني ټولنې د سازمانونو جوړول، یوځای کول او د ظرفیت پراخول

دغه هدف کیدای شي چې د دیموکراتیکې څارنې د موضوعاتو په هکله د پوهې د پراختیا او د حقونو څخه د دفاع د پروګرامونو، له دیموکراتیکو تأسیساتو او ډله ایزو رسنیو سره د اغیزمنو متقابلو همکاریو او همداراز د مدني ټولنې د سازمانونو، د امنیتي سکتور، دیموکراتیکو تأسیساتو او حکومتي

وزارتونو لپاره د روزنې د پروګرامونو په لاره اچولو له لارې ممکن وګرځي. د هغو احتمالي نتايج په لاندې ډول دي:

- د امنيتي سکتور د اصلاحاتو د ګډو هدفونو اصلاح شوې ټولنيز پوهاوی؛
- د اړوند برخه والو ترمنځ اصلاح شوې همغږي؛
- د اصلاحاتو اصلاح شوی تطبيق؛
- د اصلاحاتو لپاره د عامه خلکو اصلاح شوی پوهاوی.

**۶- ۳ چوکاټ**
**د ستراتيژيکو او نړيوالو مطالعاتو لپاره د ګرجستان څېړنيز مرکز**

د ستراتيژيکو او نړيوالو مطالعاتو لپاره د ګرجستان د څېړنيز مرکز (GFSIS) د ګرجستاني خبريالانو لپاره د امنيتي سکتور د پاليسيو چې عنوان يې دی: «دولتي امنيت او نړيوالي اړيکې»، د ګرجستان د ملي امنيت د شورا لپاره د ظرفيت جوړول او همداراز د نړيوال امنيتي سکتور د اصلاحاتو د موضوعاتو په هکله د ملي لړکيو د مشرانو لپاره د روزنې او زده کړې کورسونه داير کړل.[84]

**د امنيتي سکتور د حساب ورکولو، شفافيت او مهارت د اصلاح لپاره د دغه سکتور د هدف څخه ملاتړ او تحليل**

دغه ډول هڅې که چيرې بريالي وي، د مهمو معيارونو او ارزونو لپاره ګټورې تماميږي. د هغو احتمالي پايلې په لاندې ډول دي:

- د جنايي جرمونو په کچه کې د پام وړ کموالی
- د پېښو د قربانيانو لپاره په خدمتونو کې د سمونوالي او د اړوندو قضيو په دعواوو کې د محکمو د انتظار د کمولو په موخه په رپوټ ورکولو کې اصلاحات؛
- د امنيتي سکتور په دننه کې د نارينه وو او ښځو د مساوي حقونو او ټولنيزو اړيکو په هکله د پوهاوي د کچې اصلاح
- په منظمه توګه نظرياتي احصائيې چې د امنيتي سکتور د خدماتو په هکله د عامو خلکو خوښيې يا ناخوښي څرګنده کړي.

**۶- ۴ چوکاټ**
**نيپال**

په نيپال کې د ښځو يو سازمان د نړيوالو بشري حقونو او د ښځو او ماشومانو د حقونو اړوند منشورونو په هکله د لوړپوړو قوماندانانو لپاره د زده کړې کورسونه داير کړل. هغوی د پوځ د سرغړونو او زورزياتيو په هکله رڼا واچوله او د ژوند د خوندي ساتنې په لټه کې شول او دايي هم

[84] Duncan Hiscok, The Role of Civil Society in Security in Security Governance in the South Caucasus', paper presented at the 1st Jiont Workshop on 'Security Sector Governance in South Caucasus- Challenges and visions', held in Reichenaus, Austria 21-24 November 2003, available at http//www.dcaf.ch/news/pfp_Reichenaus 1103/Papers/Hiscock.pdf

وښودله چې څرنګه پوځی عملیات د نړیوالو بشری حقونو له نورمونو څخه سرغړونی کوی.
سرچینه: د کتاب د لیکونکی شخصی څیړنه او استناد

**پراخو پالیسو یا اصلاحی هدفونو پوری د روزنی د نتایجو تړل**

دا کیدای شی چې د کچی وړ هدفونو د ټاکولو چې د روزنی څرګندو نتایجو پوری تړلی دی، لاس ته راشی. د هغو احتمالی پایلی په لاندی ډول دی:

- د چارچلند اعلان شوی مقررات، د شکایتونو لاری چاری او اخلاقی معیارونه چې د اختلاس د له منځه تلو سبب ګرځی؛
- د امنیتی سکتور استازی چې اغیزمن خدمات عرضه کوی؛
- د محکمو غیرتبعیضی فیصلی او له زندانونو څخه په لیدنی کتنی کی اصلاحات؛
- په امنیتی سکتور کی د نارینه او ښځینه د ورځنی ژوند بهیر؛
- د پایښت وړ ملکی– پوځی مشورتی پروسی.

**۶- ۵ چوکاټ – د عمل لپاره روزنه**

په داسی حال کی چې حکومتونه او د مدنی ټولنی سازمانونه د زړه له کومی لیوالتیا لری ترڅو په خپلو ټولنو کی د وسلوالو زورزیاتیو موضوعاتو ته پام واړوی، خو ډیری وخت د خپل دی هدف لپاره له اړینو ظرفیتونو څخه بی برخی دی. د Safer World نومی مؤسسی یو لړ وسایلو او امکاناتو ته وده ورکړی چې هدف یی د ظرفیتونو جوړول دی، لکه: د مالی منابعو برابرول، د یو شمیر موضوعاتو لکه د وسلو کنترول لپاره د روزنی د کورسونو بندوبست، د ټولنی له غوښتنی سره سم پولیسی څارنه، د شخړو او زور زیاتیو مخنیوی، د سولی تأمین او د حساسو شخړیزو مسائلو د حل لاری موندل.

د نیپال او سریلانکا په شمول په یو ګڼ شمیر هیوادونو کی روزنی په لاره اچولی شوی دی او د هغوی خدمات د «عمل لپاره د روزنی» په نامه رسالی کی په چاپ رسیدلی دی.[85] د دغه نمونه یی روزنی مواد عبارت دی له:

- د ټولنی د غوښتنی له مخی د پولیسی خدماتو د روزنی مواد؛
- د کوچنیو او سپکو وسلو د مثال لپاره د روزنی مواد؛
- د حساسو شخړیزو مسائلو د حل د لاری د موندلو لپاره روزنیز مواد

[85] Safeworld, Training for Action, London, 2005, available online at http://www.saferworld.org.uk/pages/training.html

**د عمل د ساحې اړوند روزنه**

مهمه خبره دا ده چې د هر سويې روزنه پرته له دې چې د هغې موضوع او محتوی ته پام واړول شي، په لومړي قدم کې عملي ساحه ولري او هغه د زده کوونکې له مسلک او کاري ساحې سره سمون ولري او سربيره پر دې د ټولنې د ظرفيت د پراختيا سبب وګرځي. د دې احتمالي پايلې په لاندې ډول دي:

- د ټولنې له پراخې قاعدې څخه د امنيتي سکتور مختلفو ادارو کې د شموليت لپاره د پرسونل او د نويو جلبيانو د شموليت د کچې لوړول
- که چيرې څرګنده شي چې د امنيتي سکتور کارکونکې د بشري حقونو نورمونه او معيارونه تطبيقوي بيا نو شاهدان او د پيښو قربانيان هم په څيړونو کې د زياتو همکاريو لپاره ليوالتيا ښکاره کوي.

---

**۶- ۶ چوکاټ**
**برونډي**

په برونډي کې د "Dushirehamwe" د شخړو د مخنيوي، منجمنت او د سولې د تأمين، او د ټولنې د برخه اخيستلو د امکاناتو د برابرولو لپاره د روزنې مختلف موډلونه جوړ کړل. د ولس ټول مهم اړخونو (پارلماني غړو، د مدني ټولنې سازمانونه، پوليس، مذهبي ډلو، څيړونکې او ځوانانو) ته بلنه وشوه چې د ديموکراسي د پروسې، سولې او امنيت په برخه کې د خپلو اندېښنو په هکله وغږيږي.
سرچينه:Goretti Ndacayisaba, Advocacy Program Officer, Dushirehamwe. Interview with auhor

---

**د چارچلند د معيارونو ټاکل او د نتايجو د معلوملو اړيکې**

هدف دا دی چې د حقونو پر بنسټ ولاړ ديموکراتيک، هر اړخيز چلند او په عين وخت له اهميت څخه برخمنې اړيکې طرح کړای شي چې د هغو له مخکې، امنيتي سکتور په اغيزمنه توګه عمل وکړای شي. احتمالي پايلې په لاندې ډول دي:

- د پايښت لرونکو جوړښتونو او سيستمونو جوړول تر څو د مدني ټولنې د سازمانونو او امنيتي سکتور ترمنځ د اړيکو د جوړولو د ښودلو په توګه د تأسيساتو د خپلمنځې روزنې سره په ګډه په خپلو منځو کې معلومات او منابع سره شريکې کړي؛
- د اعتماد او باور زياتول تر څو د امنيتي سکتور د چلندونو او د هغه د ادارو لخوا د خلکو د امنيتي اړتياو څخه د ښه پوهاوي لپاره له امنيتي سکتور څخه د مدني ټولنې د ملاتړ سبب وګرځي؛
- په دولتي امنيت باندې د خلکو د يو نوي باور رامنځ ته کيدل چې د ډيرې څارنې په مخنيوي کې مرسته کوي.

---

**۶- ۷ چوکاټ**
**د ديموکراتيک بدلون لپاره Partners (شريکان) نومې سازمان**

«پارټنرز» يو نړيوال غيرحکومتي سازمان دی چې ژمنه کړې تر څو د مدني ټولنې او د بدلون د يو

کلتور او په نړیواله کچه د شخړې د کنترول د پراختیا لپاره د پایښت وړ محلي ظرفیت جوړ کړي. د هغه شبکه محلي سازمانونو سره مرسته کوي چې څرنګه په بدلون لاس پورې کړي او څرنګه په نړیواله کچه یو بل سره همکاري وکړي. د دغه سازمان مرستې په لاندې ډول دي:

په ارجنټاین کې «پارټنرز» په بوینس آیریس کې د ښاروالیو له مشرانو، پولیسو، ښاریانو او غیرحکومتي سازمانونو سره ګډ کار کړ، ترڅو د عامه مصونیت لپاره ټولنې، چې د نوي قانون له مخې ورته صلاحیت ورکړ شوی ؤ، خو هغو هیڅکله عملي بڼه پیدا نه کړه، جوړې کړي. د هغه سازمان د هڅو په نتیجه کې د ټولنې د غړو او محلي پولیسو ترمنځ اړیکو کې سمونوالي رامنځ ته شو او ښاریان احساس کوي چې هغوی اوس یوه مرجع لري ترڅو هلته د جنایاتو په هکله د شکایت غږ پورته کړي پرته له دې چې له غچ اخیستو څخه وویرېږي.

په هنګرۍ کې نوموړي سازمان د پولیسو او محلي خلکو ترمنځ د دیالوګ لپاره لاره هواره کړه تر څو د پولیسو د منصبدارانو لخوا د نژادي توپیرپالنې د ادعاوو په هکله تحقیقات په لاره واچوي او تعقیب یې کړي او د پولیسو او د محلي خلکو ترمنځ د همکارۍ لپاره بندو بست وکړ.

دغه راز د چک په جمهوریت کې د Partner`s Street Law«پارټنرز ستریټ لا» نومي محصلین، پولیسي منصبداران او د لومړنیو او ثانوي دورې زده کونکي د خپلمنځي همکاریو لکه د ډرامه یې محکمو او نقش لوبولو له لارې روزلي دي تر څو د ستونزو د حل لپاره قانوني لارې چارې تعقیب کړي. «پارټنرز» په ګڼ شمیر نورو هیوادونو کې هم فعال دي.

سرچینه:د «پارټنرز» له غړي، Dr. Laina Reynolds Levy سره د کتاب د لیکونکي مرکه

## د محرمیت او پټ ساتنې په کمولو او د عامه حساب او کتاب لپاره د شفافیت د زیاتولو په برخه کې د مدني ټولنې د سازمانونو نقش

احتمالي نتایج عبارت دي له:

- د ډیرو اغیزمنو سیستمونو جوړول؛
- د عامه رسنیو د بحثونو د لمنو پراخول، کوم چې د امنیتي اندیښنو او ړومبیتوبونو په څرګندولو کې مرسته کوي

**۶- ۸ چوکاټ**
**Infid, Kontra S. Propatria – اندونیزیا**

له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې د اندونیزیا د مدني ټولنې درې سازمانونو په پلازمینه جاکارتا کې د دغه هیواد د یو ګڼ شمیر مدني ټولنې سازمانونو لپاره د امنیتي سکتور د څارنې او اصلاحاتو په موضوعاتو باندې د روزنې کورسونه دایر کړل. له ټولې اندونیزیا څخه د مدني ټولنې سازمانونو په دې هکله روزنې ومونډلې چې امنیتي سکتور باید څرنګه بشري حقونه مراعات کړي او څرنګه د شفافیت او حساب ورکولو میکانیزمونه جوړ شي.

سرچینه: په جینوا کی د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د مرکز لخوا له اړوندو اړخونو سره مرکی وشوی، جاکارتا، جنوری ۲۰۰۷

## د اصلاحاتو په پروسه کی د محلی تاریخ، فرهنګ او دودونو شاملول

احتمالی نتایج عبارت دی له:

- د پوځ او پولیسو لخوا د غیر دیموکراتیکو چالچلندونو او سپکاوی کونکی انځورونو او یونیفورمونو له منځه تلل؛
- د لړکیو د غوښتنو شاملول کیدای شی له فرهنګی لحاظه د نامناسبو چلندونو، تصمیمونو او جوړښتونو مخه ونیسی.

## د مدنی ټولنی او امنیتی سکتور د کسانو ګډه روزنه

دا کیدای شی چی د هغوی خپل منځی پیژندګلوی او ګډو معلوماتو په زیاتولو اود یو بل د دیموکراتیکو کارونو په نسبت د تفاهم او درناوی په درلودلو کی مرسته وکړی. احتمالی نتایج عبارت دی له:

- اصلاح کړای شوی پوهه او ظرفیت کولای شی چی د مصونیت او امنیتی اندیښنو او هغو ته د حل لاری موندلو سره مرسته وکړی؛
- اصلاح کړای شوی اجراآت د عامه غونډو لپاره لاره هواروی (لکه احتجاجونه او مظاهری)، سربیره پر دی په ملکی بیړنیو حالاتو کی د ګډو اقداماتو او مسوولیتونوسره مرسته کوی.

**۶- ۹ چوکاټ**
**ګرجستان – د عامه قانونی زده کړو لپاره ټولنه**

«د قانون له حاکمیت سره مرسته» نومی پروژه: د ګرجستان د عامه خلکو او پولیسی ځواکونو په کړووړو کی بدلون راوستلو لپاره د ALP نومی مدنی ټولنی سازمان د بریتانیا د فرهنګی مرکز (British Council)، آزادی انستیوت او د عامه چارو لپاره د ګرجستان انستیتوت او د اروپا د اتحادیی په مرستو او همکاریو سره په اقدام لاس پوری کړ.

د دغی پروژی ستر هدف عبارت دی له: د قانون د واکمنی پر بنسټ د یوی ټولنی جوړول، د قانون د اجرائی ارګان د مدنی څارنی لپاره د یو ټینګ نظام جوړول (په زندانونو او توقیفونو کی له بندیانو سره چلند هم په دی کی شامل دی)، د پولیسو له اکادمی سره د ګډی روزنی لپاره لاره هوارول او د خلکو او پولیسو ترمنځ د اعتماد وړ او رغوونکو اړیکو د رامنځ ته کولو لپاره د مفاهمی د یو کمپاین په لاره اچول.

سرچینه: http://www.alpe.ge/projects/completed_projects/97/

**۶- ۱۰ چوکاټ**
**د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په هکله د روزنیزو نوښتونو نور مثالونه**

**په کولمبیا:** د ښځو ډلی د بشری اړتیاوو پر بنسټ د امنیت د نویو تعریفونو لپاره د خپلو شبکو له لاری کار کوی.

**ګواتیمالا کی:** د FLACSO په نامه د امنیت اړوند یو غیرحکومتی سازمان د مدنی ټولنی او حکومت د استازو او د امنیتی سکتور د غړو یوه ګډه غونډه دایره کړه ترڅو په یو مشورتی پروسه کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو ننګونو ته د ځواب موندلو لپاره یو بل سره خبری وکړی.

**په کینیا کی:** د مصونی نړی په نامه یو سازمان د لوړ پوړو منصبدارانو، نویو جلبیانو او د ځایی مشرانو لپاره د خلکو له غوښتنی سره سم د پولیسی څارنی د زده کړی یو پروګرام په لاره واچاوه. د خپل دغه پروګرام لپاره هغه د ډله ایزو رسنیو او عامه ښوونی او روزنی له امکاناتو څخه کار واخیست تر څود اصلاحاتو په اړه د خلکو د پوهی سطحه لوړه کړی.

**په سریلانکا کی:** دلته هم د مصونی نړی نومی سازمان د کوچنیو وسلو اغیزو ته په اشاری سره د بشری امنیت څخه د ښه پوهاوی لپاره د مدنی ټولنی شبکو ته وده ورکړه.

سرچینه:
Sanam Naraghi Anderlini and Camile Pampell Vonoway, Inclusive Security, Sustainable Peace: A toolkit for Advocay and Action: Security Sector Reform, International Alert, London, 2003.

**په نایجریا کی: د** Cleen Foundation (http://www.cleen.org) په نامه مؤسسی د پولیسو د ماموریت څخه د لیدنو کتنو یو لړی ته وده ورکړه تر څو ښاریانو ته معلوم شی چی څرنګه ځایی پولیس د عامه خلکو په خدمت کی کار کوی.

**د بشری حقونو لپاره د هلسنکی نړیوال بنسټ:** دغه مؤسسه د بشری حقونو له ودی څخه ملاتړ کوی، شبکی څاری او دغه راز هغو ته چی د بشری حقونو د موضوعاتو په هکله رپوټونه ورکوی، موقف ورکوی او له هغوی څخه ساتنه کوی.

## د سیمه ایزو او نړیوالو لوبغاړو لخوا د مدنی ټولنی د سازمانونو روزنه

دغه لاندی د روزنی هغه پروګرامونه دی چی د نورو غیردولتی لوبغاړو لخوا یی نوښت شوی دی (پرته د مدنی ټولنی له سازمانونو څخه)، هغوی په محلی سطحه د امنیتی سکتور د اصلاحاتو د روزنی په پروګرامونو کی د ملتیا په لټه کی شوی دی.

## کوزوو – د محلی پولیسو پروګرام [86]

په اروپا کې د امنیت او همکارۍ لپاره سازمان (OSCE) په ۱۹۹۹ کال وګمارل شو ترڅو د کوزوو لپاره د قانون د اجراآتو هغه خدمات وړاندی کړي چې پاینښت لرونکی وي او د ټولو خلکو او سیمو له غوښتنو استازیتوب وکړای شي. دغه پروګرام د امریکا متحده ایالاتو د عدلیې د وزارت د نړیوالو جنائي تحقیقاتو د روزنې د مرستې د پروګرام (ICITAP) لخوا تمویل شو او د کوزوو د محلی پولیسو او ستونزو حل نومې ټولګۍ (K-COPPS) لخوا ورسره مرسته وشو. دغه ټولګۍ په کوزوو کې د ملګرو ملتونو د ماموریت(UNMIK) او د کوزوو د پولیسي خدماتو (KPS) لخوا تأسیس شو. دغه پروګرام کې هڅه شوي ده ترڅو د قانون د اجراء لپاره د مسلکي کارکونکو او د ټولنې د غړو بیلابیل نقشونه تعریف شي او د هغوی ترمنځ اړیکې ټینګې شي، هغه اړیکې چې نه یوازې د حکومتوالۍ په څرنګوالي باندې اغیزې ولري، بلکه د جنائي جرمونو د کمیدو سبب وګرځي او په دې ترتیب د خلکو د ژوند په سویې او په مصونیت کې یې سمونوالې رامنځ ته کړي.

په اتو څو قومي ښاروالیو کې د ټولنې د مختلفو پرګنو استازي ګډون لري: د KPS منصبداران، د ښاروالیو استازي او د ټولنو د نورو پرګنو لکه د کلیو ملکان، دیني مشران، ښوونکي، سوداګران، د مدني ټولنې استازي او ځوانان. برخه والو د ټولنې د ستونزو (لکه کورنې زورزیاتې، د غیرقانوني وسلو درلودل، د ځمکو غیرقانوني دعواوې، چاپیریالي ستونزې او بیکارۍ) د پیژندلو، رومبیتوب ورکولو او حل کولو کې یو بل سره همکاري وکړه. د دې پروګرام مهمه برخه پولیسو او د ټولنې د استازو لپاره د روزونکو د روزنې پروګرام دی چې په هغه کې د ټولو ښاروالیو څخه انتخاب شوي افراد شامل دي او لس اونۍ یې دوام وکړ. د دې پروګرام هدف دا ؤ ترڅو د روزونکو په توګه د محلي خلکو ظرفیت پراخ کړي.

## د سره صلیب نړیواله کمیټه (ICRC) او په منځنۍ آسیا کې ملي ټولنې [87]

د سره صلیب نړیواله کمیټه (ICRC) چې د نړیوالو او ملي وسلوالو شخړو د قربانیانو په ساتلو او د نړیوالو بشري حقونو په وده کې مهم نقش لوبوي کولای شي د وسلوالو ځواکونو د روزنې په وضعیت کې او همدا راز د سره صلیب او د سرې میاشتې د ملي کمیټو په وده کې مهم ونډه ولري. د سره صلیب د نړیوالې کمیټې هغه یو اقدام چې په ازبکستان کې لاس لاندې نیولې شوی ؤ (یوازې د کاغذ پر مخ ساده او په عمل کې کړکیچن ګڼل شوی) هغه یو نمونه تشریح کوي چې اوس د منځنۍ آسیا د پنځو جمهوریتونو لپاره تدوین شوی او په لوړه سویه د اهمیت وړ ګڼل کیږي.

د ICRC اقدام چې د نړیوال بشري حق د پراخولو په وړاندې دراوزه پرانیستله د «صحنې تر شا په فعالیت کې» مهمه ونډه درلوده. په ازبکستان کې دغې پروسې له یوولسو وزارتونو څخه د کار په برخه کې د ډیر زیات زغم او حوصلې غوښتنه یې وکړه. د ICRC له موقف او اعتبار څخه په استفادې سره نوموړي اقدام بالاخره خپله نتیجه ورکړه، څرنګه چې حکومت په ټیټه سطح د روزنې له پروګرامونو سره موافقه وکړه.

د مدني ټولنې له لوبغاړو، په خاصه توګه د پوهنتونونو له محصلینو او استادانو سره د ګردې میز خبرو اترو له ټولو اړوندو برخه والو سره یوه موافقه رامنځ ته کړه او پرته له بهرنیو مداخلو د روزنې لپاره یې امکانات برابر کړل. د هغې په تعقیب د ICRC او د دولت له ځینو وزارتونو ترمنځ همکارۍ پیل

[86] Dr. Tamara Duffey, Special Projects Officer, Director’s Office, Kosovo Police Service School. Interview with author.

[87] Ted Itani, former ICRC delegate, (له لیکونکي سره مرکه)

شوه. د دغه بریالیتوب کلی په لومړی سر کی د یو اوږدمهال پلان او ورسره تړلی زغم ؤ، له هغی وروسته د پالیسیو په طرح کی د لوړپوړو مقاماتو ګډون او د پروسی د لوبغاړو خپله لیوالتیا په دغه بریالیتوب کی نقش ولوباوه.

## په روندا کی د پولیسو اصلاحات [88]

د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام اداری (UNDP) په روندا کی د پولیسو د اصلاحاتو یوه پروژه پلی کړه. په دغی پروژی کی د مدنی ټولنی له سازمان سره سلا مشوری وشوی او هغه په دغه هیواد کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو چی د روانی لسیزی په سر کی پیل شول د لومړی اقدام په توګه ګڼل کیږی. د دی پروژی عمومی موخه د روندا په پولیسی نظام کی د سزا څخه د معافیت دود ته د پای ټکی کیښودل ؤ، دغسی یو معافیت مخکی له دی په روندا کی ژوره ریښه درلوده او د ولس وژنی لپاره یی لاره هواره کړی وه.

د پروژی موخه په لاندی ډول وه:

- د یو شفاف او حساب ورکونکی پولیسی ځواک جوړول چی د خلکو لخوا وڅارل شی؛
- د پولیسو د چارچلندونو لپاره طرح چی د خلکو لخوا تصویب شوی وی؛
- د پولیسو د یوی مصوبی طرح چی د یو نوی قانون جوړونی لپاره بنسټ جوړ کړی؛
- د ټولنی او بشری حقونو له غوښتنو سره سم د پولیسی ځواک روزل

د پروژی تیم په کلیو او بانډو کی له خلکو سره سلا مشوری وکړی. هغوی خلک په یو ځای کی سره راټول کړل او تری پوښتنی وکړی چی دوی له خپلو پولیسو څخه څه غواړی، هغو ته د کومو کارونو اجازه ورکوی او کومو ته یی نه ورکوی. د دغو سلا مشورو نتایج ثبت شول او د پولیسو د مقرراتو لپاره یی یو بنسټ جوړ کړ. مخکی له دی چی دغه مقررات پارلمان ته د تصویب لپاره وړاندی شی، مسوده شول او د خلکو له نظره تیر او د هغوی موافقه پری واخیستل شوه.

په دغو سلا مشورو کی دا ټکی هم په پام کی نیول شوی ؤ چی د پولیسو په یونیفورم کی د هغوی نومونه لیکل شوی وای او له ورایه باید ښکاره وای ترڅو کله چی هغوی په یو عمل لاس پوری کوی، سړی پری پوه شی چی دغه کار چا کړی دی. د هغو په مطابق خلک هم خبر کړای شول چی د هغوی حقوق څه دی، د هغوی مکلفیتونه څه دی او پولیس څه دندی لری، هغوی د پولیسو او پولیس د هغوی په وړاندی څه مسوولیتونه اومکلفیتونه لری. په عین وخت کی د رووندا پولیس له نړیوالو معیارونو سره سم وروزل شول او هغو ته دا هم وښودل شو چی بشری حقونه څه دی او په محلاتو کی پولیسی دندی په څه ډول سره اجراء شی. د پولیسو د روزنی په پروګرامونو کی د کلیو او بانډو استازی هم راوغوښتل شول تر څو هغوی په خپلو سترګو ووینی او پری پوه شی چی حقوق او مکلفیتونه څه دی. دا هغو ته داډ ورکوی چی د هغوی نظریاتو ته غوږ نیول کیږی.

دغه پروژه بریالی وه ځکه چی خلکو یو ډول د خپلواکمنتوب احساس یی وکړ او پوه شول چی قانون نه یواځی پر دوی بلکه پر پولیسو هم تطبیق کیږی. خلک په دی هم پوه شول چی پولیسی څارنه هم اړینه ده. دی مسألی د سزاء څخه د معافیت دود ته خاتمه ورکړه، هغه څه چی مخکی له دی په رووندا کی موجود ؤ.

[88] Susanne J. Brinza, Programme Manager;GTZ Kenya Office; Peace Support Trainng Centere, Nairobi (formerly at UNDP), (له لیکوالی سره مرکه)

## د کار پیل[89]

په ۶- ۱۱ چوکاټ کې تشریح شوی دی چې څرنګه د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي د برخه والو له اړتیاو سره سم د امنیتي سکتور د اصلاحاتو د روزنې یو کورس ته وده ورکړي. په دې اړه د ADDIE نومې د روزنې له پروسې څخه د یوې نمونې په توګه کار اخیستل شویدی.

**۶- ۱۱ چوکاټ**
**د روزنې یو کورس ته وده ورکول**

| | | |
|---|---|---|
| **لومړی قدم ارزونه** | **هدف**<br><br>د روزنې اړتیاوې په لاندې ډول تشخیص کړې:<br>الف- وګورې چې برخه وال څوک دي<br>ب- د هغوی د پوهې سطحه معلومه کړې<br>ج- معلومه کړې چې دوی باید په څه پوه وي، د بېلګې په توګه، موخې او مقصدونه<br>دال- موجودې خلاوې پیدا کړې<br><br>**میتود**<br><br>**غیررسمي:** مخکې له روزنې څخه د برخه والو په هکله د معلوماتو ټولول؛ د روزنې د کورس له پیل څخه مخکې سروې؛ آزموینه یا پوښتنې؛ ډله ایز بحث<br>**غیررسمي:** له یو یو سره مرکې؛ د مهارتونو د آزموینې لپاره سروې | **تبصرې**<br><br>له برخه والو څخه د څه شي غوښتنه کیږي چې باید پوه شي؟<br>د بشري حقونو د پوهې اوسنی سطح په کومه اندازه ده؟<br>هغوی دبشري حقونو په هکله څه عقیده لري؟<br>متداول دریځونه، مهارتونه او عادتونه څه دي؟<br><br>مثال: یوه ارزونه ښایي روښانه کړي چې برخه وال عقیده لري چې اساساً ټول ماشومان د زدکړې حق لري، خو په عمل کې غربت اوبې وزلې د دې لامل ګرځي چې ماشومان د خپلو کورنیو سره د مرستې لپاره کار وکړي یا د نجونو لپاره ښوونځیو ته تګ خطرناکه ده. د ماشومانو دحقونو د منشور له مخې د بشري حقونو روزنه دې ستونزې ته په څه ډول کتنه کوي؟ |
| **دوهم قدم طرح او دیزاین** | **د محتوې ټاکل**<br><br>الف - د غونډې دا**نتظارونو** په توګه **هدفونه** روښانه کړې<br>ب - بنسټیز تأسیسات سره جوړ کړې (د کار ودانې، بصري مرستې، تکنولوجي، چاپیریال، مرستندوی جوړښت) | څرنګه کیدای شي چې روزنه له سترو ملي او بین المللی ماموریتونو سره جوړښت ولري؟ هغه له نورو روزنې سره څرنګه جوړیدای شي؟<br>**مثال:** آیا د امنیتي سکتور ټولو عناصرو ته د پرتله کیدو وړ |

[89]- د بېلګې په توګه د نړیوال بانک انستیوت ته کتنه وکړې: www.worldbank.org

| | | |
|---|---|---|
| | ج - اجنداء مسوده کړی او د **عینی فکتورونو** (هدفونه، محتوی) **او ضمنی فکتورونو** (د روزونکو او زده کونکو هویتونو) له مخی وخت وټاکی<br><br>**هدفونه باید معقول وی:**<br>ځانګړتوب- د غوښتنی وړ پایله څرګنده کړی<br>د اندازه کیدو وړ- هغه باید ولیدل شی او وښودل شی<br>اړوندتوب- د زده کونکو لپاره د ارزښت او اهمیت وړ وی<br>وخت او زمان پوری تړلی- هغه باید د وخت او زمان له لحاظه مناسب وی | روزنه ورکوله کیږی؟ هغوی څرنګه ادغام او څرنګه یو بل سره تړل کیدای شی<br><br>أیا چمتوالی او یا د روزنی څخه مخکی تیاری ته اړتیا شته؟<br>**مثال:** مخکی له مخکی د بنسټیز بشری حقونو لپاره د اسنادو برابرول چی هغو سره د تیاری نیولو دنده هم تړلی وی کولای شی چی پیژندګلوی ته وده ورکړی اوپه پروسه کی د مدنی تولنی د شاملیدو لپاره لاره پرانیځی<br><br>په عمومی توګه دا پوښتنه هم باید په پام کی ونیوله شی چی د کورسونو برخه وال وروسته له روزنی څخه کوم کارونه ترسره کولای شی چی مخکی له دی نه شو کولای؟<br>**مثال:** آیا پولیس کولای شی د بشری حقونو له نورمونو او معیارونو سره سم د شاهدانو په هکله څرګندونی وکړی او یا هغو سره مرکی وکړی؟ |
| **دریم قدم پراختیا** | د روزنی د منجمنت لپاره د یو هراړخیز او اغیزمنی لارښوونی وړاندی کول<br><br>دا د لاندی مسائلو په پام کی نیولو سره ممکن ګرځی:<br>الف- له کورس څخه مخکی کارونه<br>ب - لیدنیز یا بصری مرستی<br>ج - د موادو د توزیع ډول<br>دال - د مختلفو قضیو مطالعه او پر هغو تجربه کول<br>هـ - ډله ایز او انفرادی فعالیتونه<br>و - نقش لوبول، مرکی او ننداری<br>ز - ورځنی یادداشتونه او دوسیه جوړول<br>ح - کورنی کارونه یا په اصطلاح «کارخانګی» | الف- د کورسونو برخه وال او روزونکی دواړه باید د خپل کار له بهیر څخه خبر وی چی څه کوی او څه غواړی.<br>ب- د کورس مواد باید د اعتبار وړ وی او مناسبت ولری، د ورځنی ژوند تجربی په کی شاملی وی<br>ج- د شخصی غبرګون ښودلو لپاره باید وخت وټاکل شی او د روزنی یوه برخه وګڼله شی<br>دال- د روزونکو لخوا د نقش لوبول، مرکی او ننداری باید تمرین شی او په پاملرنی سره روښانه کړای شی. د پیښو اصلی «قربانیان» باید هیڅکله د |

| | | |
|---|---|---|
| | | تجربي لپاره ونه ګمارل شي او نه له هغو څخه استفاده وشي.<br>هـ - کورني کارونه یا کارخانګی تل د تمرین لپاره ګټور تمامیزی او تطبیقاتو لپاره ښه زمینه برابروی. |
| **څلورم قدم پراختیا** | د امنیتي سکتور د اصلاحاتو د یوی نه بیلیدونکی برخي په توګه د روزنی په پام کی نیول تر څو داډ لاس ته راشي چی هغه د یو اغیزمن، شفاف او دیموکراتیک حکومتوالی له ودی څخه ملاتړ کوی | د روزنی محتوی او ډول دواړه باید هغه دریځونه او چلندونه منعکس کړی چی تدریس یی کیږی، هغه چی په دی پروسه کی بشری امنیت شاملولو سره مرسته کوی |
| **پنځم قدم ارزونه** | د روزنی په بریالیتوب باندی د قضاوت لپاره له غوره امکاناتو څخه کار اخیستل<br><br>الف - کیفی او کمی میتودونه؟<br>ب - ۳۶۰ درجی لرونکی ارزونه څرنګه ممکنه ده؟<br>ج - آیا ورځنی ارزونه په لاره اچوله کیږی؟<br>دال - آیا برخوال هم تر ارزونی لاندی نیول کیږی؟<br>هـ - مواد او میتودلوجی څرنګه تر ارزونی لاندی نیول کیږی؟<br>و - د کورس د ارزونی لپاره مهمی پوښتنی کومی دی؟<br>ز- د اوږد مهالی ارزونی او غبرګون لپاره ستراتیژی کومه ده؟<br>ح - روزونکی په څه ډول مرسته او ملاتړ ترلاسه کوی؟<br>ط - د کورس د برخوالو لپاره دلارښونی او پالنی پلان په څه ډول دی؟ | ارزونه یوه پرله پسی پروسه ده او د اغیزمنتوب او اړوندتوب د یوی وروستی آزموینی لپاره باید طرح او دیزان کړای شی.<br>اصولی روزنه د ارزونی نتایج د زده کړی په پرله پسی دوره کی شاملوی.<br><br>منظم غبرګون ښودل د روزنی په ترڅ کی مرسته کوی تر څو د روزنی په بهیر، محتوی او اړوند فعالیتونو کی سمونوالی رامنځ ته شی.<br><br>ارزونه څرګندوی چی آیا روزنه د ټاکل شویو موخو او اړتیاوو لازم ځواب وایی که نه.<br><br>۳۶۰ درجی ارزونه خپله د روزونکو او د کورسونو د برخوالو لخوا د خپل ځان په هکله ارزونی ته لاره پرانیځی.<br><br>د روزنی تر بشپړیدو وروسته ارزونه څرګندوی چی آیا روزنه اغیزمنه وه که نه.<br><br>مثال: آیا د شاهدانو سره مرکی د بشری حقونو له معیارونو سره سم سرته رسیدلی دی؟ آیا د |

| | | |
|---|---|---|
| | | اصلاحی تأسیساتو (توقیف، زندان) کار کونکی له بندیانو سره د نړیوال بشری حق سره سم عمل کړی دی؟ که چیری نه یی کړی ولی؟ نیمګړتیا په څه کی ده؟ آیا روزنه کولای شی چی دغه ستونزه حل کړی؟ |

**۱۲-۶چوکاټ**
**د دیموکراتیکی څارنی د موضوعاتو په هکله د روزنی خوښ کړای شوی مواد او منابع**


**پارلمانی څارنه**

Born, Hans; Fluri, Philipp and Anders Johnsson, Parliamentary Oversight of the Security Sector: Principles, Mechanisms and Practice, Handbook for Parliamentarians , DCAF/IPU, Geneva, 2003.
http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?Ing=en&id=25289&nav1=4

Kinzelbach, Katrin and Eden Cole, Democratisning Security in Transition States: Recommendations, UNDP, DCAF, Bratislav, 2006.
http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?Ing=en&id=191528&nav1=4

دفاع

Van Eekelen, Wim and Philipp H. Fluri, Defence Institution Building: A Sourcebook in Support of the Parnership Action Plan (PAP-DIB), LaVAK, Vienna, 2006.
http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?id=en&id=26223&nav1=4

Transparency International, Addressing Corrution and Building Integrity in Defence Establishments. Working Paper No. 2,2008.
http://www.transparency.org/publications/working_paper_no_2_defence

Democratic Defence Management- PAP-DIB ADL
http://www.dcaf.ch/pap-dib/_index.cfm?print=1

Born, Hans&Ian Leigh(eds.), Handbook on HumanRights and Fundemental Freedo of Armed Forces Personnel, OSCE, Warsaw, 2008.
http://www.dcaf.ch/odihr/_index.cfm?navsub1=24&nav1=3

ملکی- پوځي اړیکی

Pantev, Plamen(ed.), Civil Military Relations and Democratic Control of the Security Sector: A Handbook, Procon, Sofia, 2005.
http://rdsc.md.government.bg/BG/Activities/Publication/Images/CMRHandbook.pdf

پولیس

Osse, Anneke, Understanding Policing: A Toolkit for Human Rights Activists, Amnesty International, Amsterdam, 2006.
http://www.amnesty.nl/documenten/rapporten/understanding%20Policing%202007%full%20text.pdf

Senior Police Adviser to the OSCE Secretary General, Guidebook on Democratic Policing, OSCE, Viena, 2008.
http://polis.osce.org/library/details?doc-id=2658

استخبارات

Born, Hans and Ian Leigh, Making Intelligence Accountable: Legal Standards and Best Practice for Oversight of Intelligence Agenciey, DCAF/University of Durham/Parliament of Norway, Geneva, 2005.
http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?id=18718&nav1=4

جنسیت

Bastick, Magen and Kristin Valasek (eds), Gender&Security Sector Reform Toolkit, DCAF/OSCE-ODIHR/UNINSTRAW, Geneva, 2008
http://www.dcaf.ch/gender-security-sector-reform/gssr-toolkit.cfm

دشکایتونو د اوریدو اداری

Kinzelbach, Katrin and Eden Cole, Monitoring and Investigating the Security Sector: Recommendations for Ombudsman Insitutions to Promote and Human Rights for Security, UNDP/DCAF, Bratislava, 2007.
http://europeandcis.undp.org/cpr/show/53481BBB-F203-1EE9-B54A004C8D44FAB5

شخصی امنیتی شرکتونه

Private Security Regulation
http://www.privatesecurityregulation.net/content/database.htm

Toolkits on Key PSC Oversight Issues
http://www.privatesecurityregulation.net/content/tool.kits.htm

بشری حقوق او د قانون واکمنی

Working with the Office of the High Commissioner for Human Rights: A Handbook for NGOs
http://www.ohchr.org/english/about/ngohandbook.htm

International Development Law Organization
http://www.idlo.int/english/External/IPXpublicationa-su.asp

ODIHR, Countering Terrorism, Protecting Human Rights: A Manual, OSCE, Warsw, 2008. http://www.osce.org/odihr/item_11_28294.html

د سولی تأمین

Engaging Civil Society in Peacekeeping
http://obpu.unlb.org/pbps/Pages/Public/viewdocument.aspx?id=2&docid=885
UNDP,UNDP and Civil Society Organistions: AToolkit for Strengthering Partnerships, UNDP, New York, 2006.
http://www.undp.org/partners/cso/publications/cso_Toolkit_linked.pdf

Ball, N. and K, Fayemi (eds), Security Sector Governance in Africa: A Handbook, Centre for Democracy and Development, London, 2004.
http://www.ssrnetwork.net/doc_library/document_detail.php?id=3155

UNDP, OAS, CIDA, IDEA, Democratic Dialogue-A Handbook for Practitioners, New York, 2007.
http://www.idea.int/publications/democratic_dialogue/index.cfm

Gleichmann, Collin, Michael Odenwald, Kees Steenken, Adrian Wilkinson, Disarmament Demobilisation and Reintegration: A Practical Field and Classroom Guide, GTZ, Stuttgart, 2004.

Large, Judith and Timothy Sisk (eds.), 2006. Democracy, Conflict and Human Securiy: Pursuing Peace in the 21th Century (Volume 1&2), Stockholm: International IDEA.
http://www.idea.int/publications/dchs_vol1.cfm;
http://www.idea.int/publications/dchs_vol2.cfm;

د امنیتی سکتور د اصلاحاتو کورسونه

GFN SSR Training courses for Practitioners and Non-Practitioners
http://www.ssnetwork.net/practitioners_course/index.php
http://www.ssnetwork.net/practitioners_course/nonacadem.php

A Beginner's Guide to Security Sector Reform (SSR) March 2007 Birmingham: University of Birmingham

http://www.ssrnetwork.net/publications/ssr_beginn.php

International Alert, Indclusive Security, Sustainable Peace.
http://www.international-alert.org/publications/41.php

Saferworld 'Training for Action'
http://www.saferworld.org.uk/pages/training.html

## نتیجه

د مدنی ټولنی سازمانونه البته نشی کولای چی د دولت د اقداماتو بشپړ تلافی وکړی، خو لږ ترلږه د خپل خپلواکتوب او ناپلویتوب څخه په کار اخیستلو سره د روزنی په ساحه کی یو مهم نقش لوبولی شی. د ماهرو مسلکی روزونکو د یوی ډلی د جوړولو لپاره د هڅو سربیره، په امنیتی سکتور کی د مدنی ټولنی د سازمانونوګډون بله ګټه دا ده چی هغوی د کلیو او بانډو د واقعیتونو په هکله معلومات هم د روزنی په موادو کی په پام کی نیسی.

د وچو استدلالونو اود یو سازمان شوی عمل ترمنځ د توپیر مهم ټکی په لاندی ډول دی:

- نورو اصلاحاتی فعالیتونو ته موازی د روزنی په لاره اچول او د امنیتی سکتورد هر اړاخیزو اصلاحاتو په ستراتیژی کی هغی ته ځای ورکول؛
- د اتلانو او مشرانو لخوا ملاتړ؛
- د اصلاح شویو اجراآتو له لاری او د ستراتیژیکی معیارنو سره د تړاو په واسطه د نتایجو ښودل؛
- د بسپنه ورکونکو، روزونکو او د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا د اوږدی مودی لپاره ژمنی کول؛
- معنی لرونکی ارزونه چی اړتیاوی او پایلی سره تړی او د ملی او سیمه ایزو ارزښتونو پر بنسټ یو بل سره «غوره چارچلندونه» شریکول؛
- په پراخه او هراړخیزه کچه د روزونکو روزل.

## د مدنی ټولنی د یو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### په امنیتی سکتور کی د روزنی اړتیاوی وپیژنی

- په امنیتی سکتور کی «د اړیکو ګډ ټکی» وپیژنی
- د روزنی په هکله ارزونه او تحلیل په لاره واچوی ترڅو د روزنی لپاره اړتیاوی وپیژنی
- د روزنی اوسنی پروګرامونه وڅیړی ترڅو د غبرګو (تکراری) کارونو مخنیوی وشی
- د روزنی لپاره ړومبیتوبونه وټاکی

### د امنیتی سکتور د پرسونل لپاره د روزنی پروګرامونو ته وده ورکړی

- له موجودو نړیوالو او محلی منابعو څخه کار واخلی تر څو د روزنی پروګرامونو ته وده ورکړی
- په ځینو خاصو موضوعاتو ځانګړی پاملرنه وکړی (د ښځو، ماشومانو، لږکیو حقونه، د ټولنی مصونیت، د انسانی قاچاق ضد مبارزه او داسی نور)، خصوصاً په هغو موضوعاتو چی ستاسو سازمان د خپل کار موخی ګرځولی دی.
- لنډمهال، منځ مهال او اوږدمهال د کچی وړ نښانی او هدفونه وټاکی ترڅو خپل لاس ته راغلی نتایج وښودلای شی

### د روزنی پروګرامونه تطبیق کړی

- هغه میتودونه، فعالیتونه او روزنیز پروګرامونه خوښ کړی چی برخه وال ورسره د هوسایی احساس وکړی او پلی یی کړی
- د ستونزو د حل لپاره تشخیص کونکی لاری چاری ولټوی، نه دا چی «هغه او دغه» د ستونزو لپاره ګرم وګڼی
- د روزنی په پروګرامونو کی محلی او دودیز میتودونه او محلی تاریخ او فرهنګ شامل کړی
- د روزونکو د روزنی پر پروګرامونو باندی ټینګار ولری ترڅو د روزنی لړی دوام پیدا کړی

# ۷

# فصل

VAHAN GALOUMIAN

## ثارنه

Vahan Galoumian

# ۷

# څارنه

د عصري زماني د ډيرې برخې لپاره د ټولنيز واقعيت په هکله د معلوماتو راټولول، درجه بندي او تحليل او تفسير لا تر اوسه د دولت حق او امتياز ګڼل کيږي. دولت نه يواځې د ګډ ژوندانه د بيلابيلو اړخونو په تنظيم کې ستر نقش لوبوي، بلکه د ټولنيز واقعيت د مختلفو اړخونو په هکله د کمي او کيفي اطلاعاتو ستره او حتی کله هم يواځنۍ سرچينه ده.

خو مخ په زياتيدو غيرحکومتي سازمانونو چې په هغو کې څيړنيز انستيتوتونه، اکادميکې مؤسسې، د سروې مرکزونه او د مدني ټولني سازمانونه هم شامل دي په پرمختللو او د پرمختيا په حال هيوادونو کې د څارنې له فعالو ستراتيژيو څخه استفاده کوي تر څو د اړوندو ټولنيزو موضوعاتو او د دولتي پاليسيو د اغيزو په هکله بديل نظريات او ليرې ليد وړاندې کړي. څارنه د ډيرو مهمو او فعالو هڅو څخه شميرل کيږي ترڅو د مدني ټولنې سازمانونه وکړای شي د هغې څخه په استفادې سره د امنيتي سکتور ديموکراتيکتوب خوندي وساتل شي. سر بيره پر دی د مدنی ټولنی د سازمانونو فعالتوب که هغه په محلی، ملی او نړيوالی سطح د پوهی د سطحی لوړول دی يا د حقونو څخه د دفاع کمپاين، د هغوی توانمندی پوری اړه لری ترڅو د دولت د پاليسيو او امنيتی ساحه کی د پروګرامو اغيزمنتوب او دغه راز د يوی عامه ښيګڼی په توګه د امنيت وضعيت وڅاری.

په دی فصل کی د څارنی او په دی اړه پر امنيتی سکتور باندی د مراقبت د موضوعاتو په هکله د مدنی ټولنو د سازمانونو د فعالی مشغولتيا باندی خبری کيږی او همداراز هغو وسايلو ته اشاره کيږی چی د امنيت اړوند اغيزمنو معلوماتو راټولو لپاره پکار دی.

د دغه فصل موضوعات په لاندی ډول ويشل شوی دی:
لومړی د امنيتی سکتور د ديموکراتيکی څارنی او د خپلواکی څارنی ترمنځ پر اړيکی باندی بحث کيږی. دوهم د څارنی يو لړ دندی تشريح کيږی چی دمدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی د امنيتی سکتور په هکله تحقيقات او پر هغه باندی کتنه وکړی او له مختلفو ننګونو سره چی په دی لاره کی مخامخ کيږی، مقابله وکړی. دريم پر ميتودلوجی او د معلوماتو د راټولو تخنيک باندی رڼا اچوله کيږی. دغه فصل د څارنی د رپوټ د اهميت او د مدنی ټولنی د نورو سازمانونو له فعاليتونو سره، لکه د پوهی د سطحی د لوړولو کمپاين، د حقونو څخه دفاع او د اتحادونو جوړول، پر اړيکو باندی له بحث سره بشپړ کيږی.

## په دیموکراتیکی حکومتوالی کی د خپلواکی څارنی نقش

د «څارنی» یا مراقبت اصطلاح د منجمنت د ترمینولوجی په پروژه کی استعمالیږی ترڅو هغی یو پروسی ته اشاره وشی چی هدف یی د پروژی د اجراآتو کنترول، دستونزو پیژندل او د لازمو اصلاحی اقداماتو لاس لاندی نیول دی. که څه هم دغی موضوع ته د دی فصل په وروستی برخه کی اشاره شوی، دلته په نوموړی مفهوم د دغی اصطلاح استعمال ډیر زیات پراخ نه دی. که په ساده توګه بیان شی، څارنه دلته په دی مفهوم استعمالیږی تر څو د ټولنیز ژوند د واقعیت د یوی ځانګړی اړخ سیستماتیکی پلټنی یا آزموینی ته ګوته ونیوله شی، هغه یو اړخ چی په اوږدمهال کی د یوی شفافی او پایښت لرونکی میتودلوجی له مخی د عمل په ډګر پلی کړای شوی دی.

په ۱۸۹۲ کال کی روسی لیکوال Anton Chekhov د سخالین په جزائی کولونی (هغه ځای چی مختلف خلک په زور دیره کیږی) کی دری میاشت تیری کړی او له زرګونو تورنو او دیره شویو کسانو سره یی د یوی احصائیی لپاره مرکی وکړی. له ستنیدو څخه وروسته هغه لیکی:

«سخالین د نه زغملو وړ د درد او رنځ ځای ؤ، هغه درد او رنځ چی ژبه د هغه له بیان څخه عاجز پاتی کیږی؛ دغه ځای یو زندان ؤ چیرته چی مونږ په ملیونونو انسانان هلته وراسته کړل، هغوی مو په وحشیانه توګه د ژوند له هر څه بی برخی کړل. مونږ خلک په ځنځیرونو وتړل په یخنیو او سړو کی په زرهاوو کیلو مترو لیری په زور واستول، هغوی مو د سفلیس (آتشک) په ناروغیو اخته کړل. داسی نارواوی مو ور سره وکړی چی په خوله نه جوړیږی........ مونږ ټول ملامت یو، خو لا تراوسه په دی ستر بشری جنایت زمونږ چرت هم خراپ نه دی،پروا یی هم نه کوو....»[90]

که څه هم له بشریت سره د داسی ناوړه چلند په هکله د Chekhov کیسه د نولسمی پیړی زمانی پوره اړه نیسی، خو هغه وحشیانه چلندونه چی له انسانانو سره په دی زمانه کی کیږی او ورځ په ورځ بربنډیږی، د تیری زمانی له غیر انسانی پیښو څخه ډیر زیات توپیر نه لری. د هغو تأسیساتو د فعالیتونو په هکله چی مونږ یی نن د امنیت سکتور ګڼو او اکثرا له پولیسو، پوځ، امنیتی استخبارات او د زندانونو او د سرحدونو محافظینو څخه عبارت دی، د دولتونو له خوا پر معلوماتو باندی پرده اچول او انحصار ساتل د بشریت په تاریخ کی بی سابقه او د حیرانتیا وړ خبره نه ده. په همدی وجه د دولت د پالیسیو څارنه ژوند بښوونکی اهمیت لری ترڅو په پرمختللی او د پرمختګ په حال نړی کی رسمی ویناوی تر پوښتنی او ګرویځنی لاندی ونیولی شی. د بیلګی په توګه په ۱۹۴۵ کال د Sétif په ښارګوټی کی د هغو الجزایریانو وژل چی د خپلواکی غوښتنه یی کوله، په ۱۹۸۲ کال په لبنان کی د مهاجرو په کمپونو کی د فلسطینیانو او په ۱۹۸۹ کال د پیکنګ د Tiananmen په میدان کی د احتجاج کونکو وژل تر خپلواکو څارنو لاندی نیول شوی دی.

د دغه واقعیت په پام کی نیولو سره څارنه ژوند بښونکی اهمیت پیدا کوی: د دولتی پالیسیو او چارچلندونو په هکله یواځی خپلواکی څارنی او څیرنی کولای شی شفافیت او سم حساب او کتاب خوندی وساتی او له دی لاری د ناوړو چارچلندونو مخه ونیوله شی.

[90] Chekov, Anton, A Journey To Sakhalin (Translated by Brain Reeve), Ian Faulkner Publishing, Cambridge, 1993.

## څارنه څه ته وايي؟

څارنه له هغې يوې ساده څېړنې څخه توپير لري چې هدف يې د يوې ډله ايزې پديدې يا د حکومت د يو پاليسي څخه يو بيړنى انځور چمتو کړي. دغه راز څارنه له دوديز عملي څېړنې څخه هم توپيرى لري، ځکه موخه يې يواځې د ټولنيزې پديدې ثبتول نه دي، بلکه د دغه واقعيت د سمونوالي لپاره کار کول دي. [91] سر بېره پر دې څارنه د حقونو د دفاع تر نامه لاندې له نورو هڅو څخه هم توپير لري: څارنه نه يواځې هغه يوه هڅه ده چې غواړي د حکومت پاليسيو ته بدلون ورکړي، بلکه په دې لټه کې هم ده ترڅو د حکومتي چارچلند اغيزې ثبت او تحليل کړي او د هغه د سمونوالي لپاره د حل لارې چارې وړاندې کړي.

## معيارونه او د لارې نښاني

د څارنې موخه دا ده چې د دولت د چالچلند له يو لړ مخکې له مخکې ټاکل شويو مقرراتو او لارښوونو سره تطابقت تر ارزونې لاندې ونيسي. د دې لپاره چې سرې ثابته کړي آيا د دولت يو ارګان له دغو مقرراتو څخه سرغړونه کړې يا د هغو په مطابق يې عمل نه دى کړى، په لومړي سر کې لازمه ده چې هغه معيارونه په څرګنده توګه روښانه کړاى شي چې د هغو له مخې حکومت چالچلند ترارزونې لاندې نيول کيږي.

دغه معيارونه دوه پراخې کټګورۍ لري: قانوني مکلفيتونه او غوره چارچلندونه. په قانوني مکلفيتونو کې ځانګړي مقررات، ملي قانوني وثيقې، د اساسي قانون چوکاټ او نړيوال قانون شامل دي. له بلې خوا غوره چارچلندونه د هغو معيارونو له مخې معلوميږي چې د نظر ورکونکو او عملي کونکو ترمنځ په يوې خاصې ساحې کې توافق منعکس کړي، يعنې نظر له عمل سره سمونوالي ولري.

## ميتودونه

د څارنې اساسي «وسيله» د څارنې د يو رپوټ چاپول او خپورل دي او ورستى هدف، څرنګه چې وړاندې ترې يادونه وشوه، پر ټولنيزو تأسيسانو او سياسي بدلون باندې نفوذ موندل دي. دعامه تأسيساتو د کار په څرنګوالي کې د نيمګړتياوو پيژندل او عام خلکو ته د دغو نيمګړتياوو بربنډول د دې لامل ګرځي چې د دولت پر تأسيساتو باندې فشار راوستل شي ترڅو ښه خدمات خپلو اتباعو ته وړاندې کړي. د مثال په توګه يو سازمان غواړي چې په ټولنه کې د يوې لږکي ډلې په اړوند د پوليسو د بشري حقونو ژمنې تر څارنې لاندې ونيسي، دا ده چې وخت په وخت په دې موضوع باندې رپوټونه خپروي تر څو هغې ته د اړوندو اړخونو او مسوولو چارواکو او تصميم نيونکو پام واړوي: لنډه دا چې هدف دا دى تر څو بشري حقوق خوندي پاتې شي او وده وکړي او د لږکي د ډلې غړي په ټولنه کې په امن کې ژوند وکړي. د دې کار د اغيزمنتوب لپاره څارنه بايد د ټينګو او منظمو ميتودونو له مخې سرته ورسيږي، د معلوماتو په راټولو کې سرې بايد ناپلوي اوسي او د ټولنيز بدلون د برياليتوب لپاره د درناوى فضا رامنځ ته کړي.

[91]- دا د دې معنى نه لري چې څېړنه او د پيښو ثبتول د امنيتي سکتور د عامه څارنې لپاره اهميت نه لري. د عامه څارنې د ستراتيژۍ په اړه د اړندو څېړنو په هکله لطفاً د دې کتاب دريم فصل ته مراجعه وکړي.

## اړیکی

دا چی څارنه معلوماتو او اطلاعاتو ته اړتیا لری ترڅو وکړای شی چی د ټولنی هغه موضوعات یا اړخونه چی په خپلواکه توګه تر پلټنی او څیړنی لاندی نیولی شوی نه دی، وڅاری او تر پلټنی لاندی ونیسی، هغه باید د اړیکو یوه شبکه جوړه کړی او له هغو کسانو سره اړیکی ټینګی کړی چی د یوی موضوع له دننی څخه ربښتینی معلومات لری، دغه ډول اړیکی د څارنی د پروژی لپاره ژوندبښونکی اهمیت لری. دغه لاندی اصول چی د بشری حقونو د څارنی لپاره د ښښنی د نړیوال سازمان د لاسی کتاب[92] څخه اخیستل شوی دی د هغو سازمانونو لپاره ګټور معلومات دی چی د څارنی د پروژو له پیل سره لیوالتیا لری. دغه سازمانونه باید دغه لاندی موخی ولری:

- د خپل منځی اعتماد، اعتبار او درناوی پر بنسټ د اړیکو او ارتباطاتو جوړل؛
- ارتباطی شخص ته باید په ښکاره توګه د خپلو څیړنو موخی څرګندی کړی او بل دا چی ورته ووایی چی د هغه یا د هغی لخوا ورکړل شوی معلومات په رپوټونو کی څرنګه استعمالیږی؛
- که چیری ارتباطی شخص د خپل هویت د نه بربنډولو غوښتنه وکړی، د هغه دا غوښتنی باید مراعات شی او په هیڅ صورت سره هغه بربنډ نشی؛
- د معلوماتو په خپرولو سره د ارتباطی شخصی ژوند په خطر کی وانه اچول شی (د ارتباطی شخص یا اشخاص ژوند تر معلوماتو خپرولو ړومبیتوب لری)؛
- له منظمو اړیک نیولو سره دغه ډول ارتباطی کسان وپالی؛
- د رپوټونو نتایج هغو ته ښکاره کړی او ورته څرګند کړی چی په یو مثبت بدلون کی د هغوی نقش څومره ښه ګټه وکړه.

د امنیتی مسائلو پوری د اړوندو وزارتونو سره په تعامل کی د کار د پیل لپاره په لومړی سر کی غوره ده چی د امنیتی سکتور له پخوانیو کارکونکو سره تماس ټینګ کړای شی. د مدنی ټولنی ډیر سازمانونه په خپلو ادارو کی پخوانی پوځی او پولیسی منصبداران لری او د هغوی له تماسونو څخه په استفادی سره له پوځ او پولیسو سره کاری اړیکی ټینګوی.

## د امنیتی سکتور څارنه

داسی ښکاری چی په امنیتی سکتور کی نفوذ کول ناممکنه وی او دا د څارنی هدف هم باید نه وی، ځکه چی هغه د محرمیت او سری ساتلو فرهنګ لری او په ډیرو هیوادونو کی لا تراوسه کمزوری شفافیت همدی مسألی پوری اړه نیسی. له بلی خوا همدا مسأله د دی لامل ګرځی چی د خپلواکی څارنی اهمیت څرګند شی. له دی لاری د امنیتی سکتور تأسیسات او د هغوی پرسونل په ښه توګه تر مراقبت لاندی نیول کیږی چی آیا د ټاکل شویو مقرراتو او پالیسیو سره سم عمل کوی او که له هغوی څخه سر غړوی. په دی اړه څارنه، څیړنه او عامه خلکو ته رپوټ ورکول هغوی ښایی دی ته واړوی چی په خپلو دندو کی له ټاکلو مقرراتو سره سم عمل وکړی.

سربیره پری دی، د جګړی په حال، د جګړی څخه وروسته، کمزورو او لړزانو دولتونو کی ښایی د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره ډیر سخته وی چی کار وکړی، ځکه هغوی د وسلوالو داړو، یاغی ډلو او غیرقانونی وسلوالو ټولګیو لخوا تهدید کیږی. د امنیت د قانون د واکمنی د نشتوالی په صورت کی د

92 Amnesty International, Monitoring and Reporting Human Rights Violations in Africa: A Handbook for Community Activists; AI, Amsterdam, 2002, As ist title suggests, this handbook is intended for African CSOs, but recommendations are applicable to a broad range of Monitoring projects.

مدنی ټولنی سازمانونه باید د دی توان ولری ترڅو د بشری حقونو د سرغړونو موضوعات او نور داسی تحولات چی پر امنیت باندی اغیزه کوی، راټول کړی او اړندو حکومتونو او نړیوالی ټولنی غوږونو ته دی ورسوی.

**چوکاټ ۷ـ ۱**
**قرغزستان: د څارنی او خبرداری له لاری د شخړو مخنیوی**

د زغم لپاره بنست، (Foundation for Tolerance Internatinal) یو قرغزی غیرحکومتی خپلواک نړیوال سازمان دی چی د پولو څخه بهر په قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان کی د سولی، دشخړو د مخنیوی او د شخړو د سولیز حل لپاره د فرغانی په دره کی کار کوی. FTI چی په ۱۹۹۸ کی تأسیس شو په قرغزستان کی د شخړو د حل په هکله د تحلیلونو او سپارښتنو سره یوه اونیزه خپروی.

دغه اونیزه د زورزیاتیو د مخنیوی لپاره یوه مخکی له مخکی خبرداری ورکونکی پروژه ده چی انګریزی مخفف یی EWVP دی. هغه د زورزیاتیو ریښی لټوی، هغه تشخیصوی او بیا د حل لاری چاری ورته لټوی او بیا سپارښتنی وړاندی کوی. د دی لپاره چی په قرغزستان کی وضعیت وڅارل شی دغی پروژی د ټول ولس په سطح د اړیکو یوه شبکه جوړه کړی چی د مدنی ټولنی د فعالینو څخه نیولی تر پوهانو، ژورنالستانو او د قانون د پلی کولو ادارو پوری په هغی کی شمولیت لری. دغه شبکه په اوسنی وخت کی ۳۲ څارونکی لری چی وضعیت له نژدی څاری. هغوی معلوماتونه ټولوی او د مخکی له مخکی خبرداری ورکونکی پروژی له مرکز(EWC) سره په تماس کی دی. د راټول شویو معلوماتو له مخی، EWC پر هغو کار کوی، د زورزیاتی د مخنیوی لپاره سپارښتنی برابروی او بیا هغه په خپله اونیزه کی په چاپ رسوی. EWC هڅه کوی ربښتینی او دقیق معلومات وړاندی کړی تر څو په خپل وخت د ستونزو د مخنیوی لپاره په اقدام لاس پوری شی.

EWVP اونیزی په ۲۰۰۵ کال کی په خپرولو پیل وکړ او مصرف یی په اروپا کی د امنیت او همکاری د کنفرانس OSCE، دملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام UNDP او د بلجیم د بهرنیو چارو د وزارت لخوا ورکول کیږی.

سرچینه:
http://www.fti.org.kg/eng/welcome.php

لنډه دا چی د څارنی هدف دا دی ترڅو د امنیتی سکتور په ادارو کی حساب ورکول، شفافیت او توانمندی پیاوړی شی .د دی لپاره چی دڅارنی بنسټ کینودل شی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د امنیتی سکتور په ځینو خاصو ساحو یا موضوعاتو کی په یو لړ څیړنو لاس پوری کړی، لکه د هغوی د استخدام او روزنی چارچلندونه، د بشری حقونو او نړیوال بشری قانون په پام کی نیول او په خپلو چلندونو کی د هغوی ګډول یا د کنترول بهرنی او کورنی میکانیزمونه.

## د څارنی د فعالیتونو مختلف ډولونه

ډیری وخت د څارنی پروژی چی له امنیتی سکتور سره بوختی دی دغو لاندی څلور اړخونو ته ځانګړی پاملرنه لری:

- د ديموکراتيکی نظارت ميکانيزمونه
- کفايت او توانمندی
- د امنيتی سکتور د پرسونل د بشری حقونو څخه سرغړونه
- د ولس په سطح د بشری حقونو سرغړونه

## د ديموکراتيک نظارت ميکانيزمونه

د ديموکراتيک نظارت څارونکی ميکانيزمونه غواړی چی هغه وسايل تأسيس کړی چی د امنيتی سکتور لوبغاړی د ديموکراتيکو تأسيساتو ته ځواب ورکونکی وی – په خاصه توګه پارلمان او خاصو کميتو ته. يا په بل عبارت، دغه ډول څارنه په دی لته کی ده چی روښانه کړی چی آيا د امنيت پوری اړوند وزارتونه د خپلواکو سياسی لوبغاړو په توګه عمل کوی او که هغوی اساسا ديموکراتيکی پلټنی تابع دی.

په عمل کی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی د امينتی سکتور د لوبغاړو د قانونی کاری چوکاټ چی د هغوی کار تنظيموی د څارنی له لاری د ديموکراتيک کنترول کچه وټاکی (دبيلګی په توګه وګوری چی آيا نوی قوانين د اساسی قانون، نړيوالو بشری حقونو منشورونو يا د نړيوال قانون له مخی دولتی مکلفيتونو سره جوړيږی که نه) او د پارلمانی کميتو کار او دا چی هغوی تر کومی کچی کولای شی د امنيتی سکتور د لوبغاړو اجرائاتو باندی نفوذ لری، وڅاری. په دی اړه يو ډير ښه مثال دا دی چی د مدنی ټولنی سازمان کولای شی د دفاعی بودجی په تنظيم کی د پارلمان او د دفاع وزارت د نقش او نفوذ وڅاری.

## د امنيتی سکتور د لوبغاړو کفايت او توانمندی

کفايت او توانمندی باندی څارنه په دی مقصد ده ترڅو وپلټل شی چی آيا پوځ، پوليس، سرحدی محافظين او د امنيت نور لوبغاړی توانيدلی دی چی هغو هدفونو ته ورسيږی چی د هغه لپاره دوی جوړ شوی دی: دخپلو خلکو امنيت خوندی ساتل. البته په دی اړه سړی کولای شی چی مختلفی ارزونی وکړی، يو دا چی د امنيت اړوند وزارتونو د کار اغيزه د خلکو په عمومی امنيت باندی څه ډول ده.[93]

د څيړنی هغه پوښتنی چی د دی ډول څارنی په نتيجه که پيدا کيږی عبارت دی له: آيا سرحدی محافظين د غيرقانونی کډوالو او د انسانی قاچاق په مخنيوی کی بريالیتوب ترلاسه کړی؟ آيا پوځ په بهر کی د سولی د ماموريت لپاره چمتو دی؟ آيا پوليس له جنايی جرمونو سره په مقابله او مخنيوی کی په اغيزمنه توګه کار کړی دی؟ د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی دغو پوښتنو ته د احصائيو او ارقامو له څارلو سره ځواب پيدا کړی، مثلاً د جرمونو د لوړوالی کچه، د زور پالونکود جرايمو د حل او فصل کچه او د غيرقانونی کډوالو اندازه.

په يقين سره چی د امنيتی سکتور د لوبغاړو توانمندی او کفايت يواځنی فکتور نه دی چی په دغو پديدو باندی اغيزی لری، بلکه نور زياتی نيمګړتياوی ډيری وخت د يو کمزوری امنيتی سکتور نښانی ګڼلی کيږی. د يادونی وړ ده چی د امنيتی سکتور کفايت او توانمندی په حقيقت کی د ديموکراتيکی څارنی لپاره يو مخکينی شرط دی. که چيری يواځی امنيت د يو عامه ښيګڼی په توګه ومنل شی او که چيری

[93]- داډ لاس ته راوړل چی آيا د پوځ، پوليسو او نور و امنيتی وزارتونو بودجی د حکومت د ړومبيتوبونو سره سم لګولوی شوی دی، د مدنی ټولنی سازمان کولای شی د بودجی په تحليل کی مداخله وکړی. د زيات معلومات لپاره د دی کتاب اتم فصل وګوری.

يوائې امنيتي سکتور د ديموکراتيک سکتور تابع وي، نو هغه وخت د څارنې توانمندۍ او کفايت يو معنى او مفهوم لري.

## د امنيتي سکتور د پرسونل له بشري حقونو څخه سرغړونې

د امنيتي سکتور د پرسونل د بشري حقونو د سرغړونو څارنه په دې هدف ده تر څو د هغو کسانو پرضد د ناوړه چارچلندونو بربنډول وشي چې په امنيتي وزارتونو کې کار کوي. د څېړنې هغه پوښتنې چې دغه ډول څارنه رامنځ ته کوي عبارت دي له: آيا امنيتي دستګاوې د خپل پرسونل ملکي او سياسي حقونو ته درناوی لري که نه؟ آيا پوځي جلبيانو سره سم چلند کيږي يا که له هغو څخه ناوړه استفادې کيږي او تهديد کيږي؟ آيا د نويو جلبيانو پرضد له جنسي تيريو څخه کار اخيستل کيږي؟

ډيري وخت د مدني ټولنې سازمانونه نشي کولای چې د امنيتي سکتور د پرسونل پرضد د بشري حقونو سرغړونې په مستقيمه توګه وڅاري. د دې پر ځای هغوی کولای شي چې هغه معيارونه وڅاري چې د ناوړه استفادو نښانې په اثبات رسوي. د بيلګې په توګه: د جلبيانو په منځ کې د انتحارونو د کچې څارنه کيدای شي د هغوی پرضد د ناوړه چالچلندونو نښانې په اثبات ورسوي. دغه راز د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې د پخوانيو جلبيانو ژوند سروې کړي ترڅو د وسلوالو ځواکونو د منسوبينو سياسي او مدني حقوق خوندي وساتل شي.

**۷ـ ۲ چوکاټ**
**په برما کې د لږ عمر لرونکو عسکرو د استخدام څارنه**

له ماشومانو يا لږ عمر لرونکو کسانو څخه د عسکرو په توګه استفاده په نړيوال کچه غندل کيږي. د ماشومانو د حقونو په هکله د ملګرو ملتونو منشورهم دغه چلند په کلکه توګه غندی او منع کوی يې.

برما په دې اړه يوه مثال ده. که څه هم د برما حکومت ادعا کوی چې د هغه هيواد ملي وسلوال پوځ، Tatmadaw، يو داوطلب پوځ دی چې د نويو جلبيانو حد اقل عمر يې ۱۸ کاله دی. خو د څارنې ډير خپلواک رپوټونه ښيي چې ډيرلږ عمر لرونکی عسکر د برما په پوځ کې ليدل کيږي: دا چې د برما په پوځ کې ډير لږ عمر لرونکی عسکر موجود دی د هغو مرکو څخه معلوميږي چې د ۲۰۰۷ کال د جولای او سپتمبر په مياشتو کې د تايلنيد او د چين سره په ګډه پوله کې له اوسنيو او پخوانيو لږ عمر لرونکو عسکرو، روغتيايي کار کونکو او د يو شمير خيريه سازمانونو له کار کونکو، د ملګرو ملتونو له استازو او سيمه ايزو څيړونکو سره په لاره اچول شوي ؤ.

مرکه کونکو د بشري حقونو د څارنې سازمان، Human Rights Watch ته په وار وار سره ويلي دي چې د برما د پوځ ډير منسوبين جلبيان دي نه داوطلب کسان او د لږ عمر لرونکو کسانو شمير ډير زيات دی. د هغوی عمر اکثر له ۱۸ کلونو څخه ټيټ دی. ډيرو ځوانکيو چې د بشري حقونو د څارنې له سازمان سره يې مرکې کړي، ويلي دي چې هغوی سره ناوړه چلند شوی، وهل شوی او ربړول شوی او د جلب او احضار پوځي چارواکو باندې پلورل شوي دي او بيا د جلب او احضار مرکزونو ته استول شوي دي. هغو کسانو چې د تيښتو هڅه کړې ده، سزا ورکړل شوي او وهل شوي دي.

په وروستيو وختونو کې د ملګرو ملتونو په رپوټونو او خپلواکو سرچينو کې هم د لږ عمر لرونکو

عسکرو په هکله اسناد او شواهد راټول شوی دی، په ۲۰۰۴ کال کی د برما پوځ، Junta په دی اړه نړیوالو نیوکو ته د ځواب په توګه د لږ عمر لرونکو عسکرو د جلب او احضار د مخنیوی کمیټه جوړه کړه. خو د بشری حقونو د څارنی دسازمان وروستی رپوټ ښیی چی دغی کمیټی د داسی کار د مخنیوی لپاره هیڅ نه دی کړی.

سرچینه: د بشری حقونو د څارنی سازمان، Sold to be Soldier ، Human Rights Watch: په برما کی جلب او احضار او له ماشومانو څخه د عسکرو په توګه استفاده، لندن د بشری حقونو د څارنی سازمان، ۲۰۰۷

## د ټولنی په سطح د بشری حقونو سرغړونی

د ټولنی په سطح د بشری حقونو د څارنی معنی دا ده چی پلټنه باید وشی چی آیا د امنیتی سکتور وزارتونو له عامو وګړو سره په خپل تعامل کی بشری حقونو ته درناوی کړی دی. څیړنیزی پوښتنی چی د دا ډول څارنی غوښتنه کوی په لاندی ډول دی:
آیا دولتی ارګانونه له جنایی مجرمینو څخه د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره له ربړی څخه کار اخلی؟
آیا پولیس د ټولنو د منحلولو لپاره له غیر ضروری وسایلو څخه کار اخلی؟ آیا داسی معلومات یا رپوټونه چی په پوځی یا پولیسی توقیفونو کی د افرادو د تری تم کیدو په هکله وی موجود دی؟

د مدنی ټولنی سازمان کولای شی چی په دی برخه کی چی آیا دولتی ارګانونه په خپلو ورځنیو چارو کی د ملی او نړیوالو بشری حقونو په وړاندی درناوی او پابندی لری که نه، مهم نقش ولوبوی. د څارنی دغه ډول پروژی عبارت دی: له زندانونو څخه لیدنه کتنه تر څو وکتل شی چی د بندیانو د ژوند شرایط څرنګه دی، په سترو مظاهرو او لاریونونو کی د پولیسو له چالچلندونو څخه څارنه، د استخباراتو لخوا د پخوانیو بندیانو څخه د معلوماتو د اخیستلو لپاره د ربړولو د میتدونو څارل.
۷- ۳ چوکاټ کی د مدنی ټولنی هغه یو سازمان تشریح شوی چی په زندانونو او نورو داسی ځایونو کی د بندیانو د ژوند شرایط څاری:

**۷- ۳ چوکاټ**
**په لاتویا کی د زندانونو او د ساتنی د دا ډول نورو ځایونو څارنه**

زندانونه او د ساتنی دا ډول نورو ځایونو پر امنیتی سکتور باندی د عامه څارنی لپاره محوری اهمیت لری، دا ځکه چی په دی ځایونو کی د بشری حقونو څخه سرغړونی ډیری زیات دی. په ټوله نړی کی د مدنی ټولنی یو زیات شمیر سازمانونه په بندیخانو کی د ژوند د شرایطو په هکله رپوټونه برابر کړی ترڅو د عامه خلکو پام ورته واړول شی او مسوول چارواکی مجبوره کړی تر څو په هغو کی بدلون رامنځ ته کړی.

په ۲۰۰۶ کال کی د بشری حقونو لپاره د لاتویا مرکز په دغه هیواد کی د ساتنی د ځایونو د شرایطو په هکله یو هراړخیز رپوټ چمتو کړ. له زندانونو، توقیفونو، د پناه وړونکو له کمپونو او د روحی ناروغانو د ساتنی له مرکزونو څخه د ۱۰۲ لیدنو کتنو پر بنسټ جوړ شوی رپوټ یو شمیر نیمګړتیاو و ته ګوته ونیوله چی په دغو ځایونو کی موجود ؤ.

په داسی حال کی چی تر ۲۰۰۶ کال پوری په دغو ځایونو کی یو لړ سمونوالو ته اشاره شوی، رپوټ

یو شمیر نورو ستونزو ته پام اړولی. په دی جمله کی غیرقانونی کډوالو ته د هغوی د حقونو په هکله لږ معلومات ورکول، د پولیسو په توقیفونو کی د نظافت ناخوال وضعیت، دغه راز د روانی ناروغیو په تأسیساتو کی د موجودو قوانینو او مقرراتو او د بشری حقونو د نړیوالو معیارونو ترمنځ نه همغږی او بیا خصوصاً د هغه یو میکانیزم نشتوالی چی غیر داوطلب بستر شوی ناروغان وکړای شی چی د خپلو حقونو په هکله عرض وکړی.

سرچینه:
Latvian Center for Human Rights, Monitoring Report on Closed Institution in Latvia Riga: LCHR, 2006

## د څارنی د فعالیتونو ډولونه او شاخصونه

دغه لاندی چوکاټ دهغو موضوعاتو، شاخصونو او د مدنی ټولنی د سازمانونو مثالونه ښکاره کوی چی د څارنی د څلورو مختلفو ډولونو لپاره د څارنی د پروژو سره سراوکار لری.

یوه مهم توپیر دلته د موضوعاتو او شاخصونو ترمنځ دی. موضوعات په خپل ذات کی په سختی سره تر څارنی لاندی نیول کیږی. داچی څارنه باید د «حقایقو» پر بنسټ ولاړ وی، سازمانونه باید موضوعاتو پوری اړوند معیارونه پیدا کړی. په بدل کی دغه معیارونه پر دغو موضوعاتو باندی یوی پراخی نتیجی ته د رسیدلو لپاره لاره برابروی.

د بیلګی په توګه، د نو جلبیانو سوکالی یوه مهمه موضوع ده چی باید په خپلواکه توګه تر څیړنی لاندی ونیوله شی، خو سازمانونه باید شاخصونه وټاکی چی د هغو پر بنسټ په څارنه لاس پوری کړی. د دی کار لپاره سازمانونه باید دغه موضوعات هغو شاخصونو پوری وتړی چی د نورو اړخونولخوا په آسانی سره د پخلی وړ وګرځی: چارواکو ته د رپوټ ورکړای شویو ناوړه چلندونو د قضیو شمیر او د جلبیانو په منځ کی د انتحاری پیښو کچی په دی اړه دوه مهم مثالونه دی. دغه راز جنایی قضیو ته د پولیسو د پام اړونی د توانمندی او لیاقت څارنی لپاره د مدنی ټولنی یو سازمان کولای شی تصمیم ونیسی چی شاخصونه وڅاری. د بیلګی په توګه په سل زرو اوسیدونکو کی د جرایمو کچه یا د جرایمو د حل فیصدی ته کتنه.

سربیره پر دی سازمانونه مختلف موضوعات چی امنیتی سکتور باندی اغیزه کوی، په پیژندو وړ شاخصونو باندی «سره وویشی»، هغه چی د حقایقو د موندلو لپاره دی او کیدای شی چی د نورو اړخونو لخوا هم بیا تولید شی. دغه لاندی چوکاټ د شاخصونو د پیژندلو لپاره د ښه پیل په خدمت کی دی.

د څارنی ځینی نوری پروژی کیدای شی چی په ټولیزه توګه د امنیت له سکتور سره ځان بوخت کړی، د بیلګی په توګه د امنیتی سکتور اړوند موضوعاتو په هکله د خلکو د نظریاتو د څیړلو او بی امنیتی د شاخصونو د ارزونی له لاری. کوم رپوټونه چی له دی لاری چمتو کیږی ښایی په دی مقصد وی تر څو پر پولیسو، پوځ او سرحدی محافظینو باندی د خلکو د باور او اعتماد کچه معلوم کړای شی؛ کوم شاخصونه چی د بی امنیتی په هکله د عامه خلکو د نظریاتو لپاره استعمالیږی، ډیری وخت د بی امنیتی احتمالی یا فرضی دلایلو ته اشاره کوی، مثلاً د رپوټ ورکړای شویو اختطافونو شمیر؛ د کوچنیو وسلو شته والی او یا د هغو خپرول؛ او د ټولنی په ټولو برخو کی د اداری فساد او اختلاس د پراخوالی کچه.

د ټول دغو اقداماتو هدف دا دی تر څو د مدنی ټولنی د اړوندو سازمانونو له نظره پر واقعیتونو باندی رڼا واچوله شی. څارنه په حقیقت کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو د ودانی د جوړولو لومړی خښته ده؛ پارلمانی غړی او عام خلک په عمومی توګه هغه وخت کولای شی په بدلونونو باندی نفوذ ولری چی له دقیقو او خپلواکو معلوماتو څخه برخمن وی، یا په بل عبارت، خلک یواځی هغه وخت د امنیتی سکتور په نیمګړتیاوو باندی پوهیږی چی په بریالیتوب سره د بدلون لپاره هڅونه وکړای شی.

**۷- ۴ چوکاټ**
**د څارنې د فعالیتونو ډولونه**

| تأسیسات | د څارنې ډولونه | موضوعات (خوښ کړای شوی مثالونه) | شاخصونه (خوښ کړای شوی مثالونه) | د مدنی ټولنی د سازمانونو مثالونه |
|---|---|---|---|---|
| پوځ | - د دیموکراتیکې څارنې میکانیزمونه | - پارلمانی څارنه (آیا پوځ پارلمانی څارنی ته تابع دی؟)<br>- دفاعی بودجه (آیا دفاعی بودجه د هغو رومبیتوبونو له مخی لګول کیږی چی د پارلمان یا جمهور رئیس له خوا ټاکل شوی دی؟)<br>- د تدارکاتو پالیسی (آیا مخکی له دی چی په پیریدلو پیل وشی یو تر بله سیال بدیلونه تر ارزونی لاندی نیول شوی دی؟)<br>- د پرسونل پالیسی (آیا پرسونل په بشپړه توګه خوښ کړای شوی دی؟) | - د پارلمانی کمیسیونونو موندنی (تر کومه ځایه چی مورد ولری)<br>- د پوځی شکایتونو د اوریدو د ادارو توانمندی او د نورو خپلواکو چارچلندونو پلټنه یا کتنه (تر کومه ځایه چی مورد ولری؟)<br>- د هغو اسنادو ډولونو او د معلوماتو حدودو ته د پارلمانی څارنی کمیټو لاس رسی (که چیری مورد ولری) | - Committee of Soldiers' Mothers (Russia)<br>- Madres de la Plaza de Mayo (Argentina)<br>- SPIRI (Sweden) Justice and Liberty (Georgia)<br>- Kontra S (Indonesia)<br>- Imparsial (Indonesia)<br>- Euromil (Netherlands<br>- African Security Dialog and Research, Ghana<br>- Institute for Security Studies, South Africa<br>- Centre for Policy Research & Dialogue, Ethiopia<br>-Transparency International |
| | - کفایت او توانمندی | - د سرتیرو مسلکی توب<br>- په تجارت کی د پوځ مداخله (آیا په تجارتی فعالیتونو کی پوځ مداخله لری؟)<br>- د اداری فساد او اختلاس سطح (آیا په پوځ کی اختلاس او اداری فساد پراخ دی؟) | - د پارلمانی کمیسیونونو موندنی (تر کومه ځایه چی مورد ولری)<br>- د سولی د کولو او د سولی د تأمین په عملیاتو کی د کفایت او توانمندی شاخصونه<br>- د جنګی چمتوالی لپاره شاخصونه | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | - د امنیتی سکتور د پرسونل پر بشری حقونو تیری | - د پوځ لخوا د لږ عمر لرونکو ځوانانو څخه استفاده<br>- ځورول او تحقیر (آیا د نویو پوځیانو استخدام له ځورولو او تحقیر سره جوخت دی؟)<br>- جنسی تیری چی نویو جلبیانو ته متوجه وی.<br>- په وسلوالو ځواکونو کی د نژادی او ژبنی لږ کیو سره چارچلند | - د جلبیانو په منځ کی د انتحارونو کچه<br>- له عسکرو سره د ناوړه چلند په هکله د رپوټونو شمیر<br>- د لږ عمر لرونکو ماشومانو شمیر په پوځ کی<br>- له اوسنیو او پخوانیو عسکرو سره مرکی | |
| | - په عمومی توگه د خلکو پر بشری حقونو تیری | - په پوځی توقیف کی د بندیانو لادرک کیدل<br>- د پوځ لخوا د نړیوالو بند کړای شویو وسلو څخه استفاده<br>- د حکومتی قواوو لخوا د جنسی تیریو ارتکاب<br>- د نړیوال بشری قانون په مطابق د بندیانو سره د چارچلند لپاره د ملی پالیسی تطابقت | - د عسکری افرادو لخوا د رپوټ ورکړای شویو جنسی تیریو د ارتکاب شمیر<br>- په پوځی توقیف کی د بندیانو لادرک کیدل<br>- د سوله ساتو ځواکونو لخوا پر ځایی خلکو د سرته رسیدلو جنسی تیریو د قضیو شمیر | |

| تأسیسات | د څارنې ډولونه | موضوعات (خوښ کړای شوې مثالونه) | شاخصونه (خوښ کړای شوې مثالونه) | د مدنې ټولنې د سازمانونوو مثالونه |
|---|---|---|---|---|
| پولیس | - د دیموکراتیکې څارنې میکانیزمونه | - پارلمانې څارنه (آیا پولیس پارلمانې څارنې ته تابع دی؟)<br>- پولیسې بودجه (آیا دفاعې بودجه د هغو ړومبیتوبونو له مخې لګول کیږې چې د پارلمان یا جمهور رئیس له خوا ټاکل شوې دی؟)<br>- د تدارکاتو پالیسې (آیا مخکې له د ی چې په پیریدلو پیل وشې یو تر بله سیال بدیلونه تر ارزونې لاندې نیول شوې دی؟)<br>- د پرسونل پالیسې (آیا پرسونل په بشپړه توګه خوښ کړای شوې دی؟) | - د پارلمانې کمیسیونونو موندنې (تر کومه ځایه چې مورد ولرې)<br>- د پوځې شکایتونو د اوریدو د ادارو توانمندې او د نورو خپلواکو چالچلندونو پلټنه یا کتنه (تر کومه ځایه چې مورد ولرې؟)<br>- د هغو اسنادو ډولونو او د معلوماتو حدودو ته د پارلمانې څارنې کمیټو لاس رسې (که چیرې مورد ولرې) | - Human Rights Watch<br>- ICMPD<br>- ALPE (Georgia)<br>- ICCN (Georgia)<br>- USIP (Nepal) |
| | - کفایت او توانمندې | - داخلې امنیت (آیا پولیس د سړکونو د امنیت په خوندې ساتنه کې بریالې دی؟)<br>- د پولیسې افسرانو مسلکې توب<br>- د جرایمو کچه | - د سترو جرایمو د حل و فصل کچه<br>- د سل زرو اوسیدونکو پر سر د جرایمو کچه | |
| | - د امنیتې سکتور د پرسونل پر بشرې حقونو تیرې | - ځورول او تحقیر (آیا د نویو پولیسو استخدام له ځورولو او تحقیرسره جوخت دی؟)<br>- آیا ښځینه پولیسې | - د نویو پولیسیو جلبیانو د ځورولو په هکله رپوټ ورکړای شوې قضیې<br>- له اوسنیو او پخوانیو پولیسې | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | منصبداری له مساوی حقونو څخه برخمنه دی او مساوی چلند ورسره کیږی؟ | افسرانو سره مرکی | |
| | - په عمومی توګه د خلکو پر بشری حقونو تیری | - د پولیسو په توقیف کی له بندیانو سره چلند (آیا هلته رېږونه عمومیت لری؟ آیا د تحقیق په وخت کی د مظنونو کسانو حقوق مراعات کیږی؟)<br>- د سترو احتجاجونو په وخت کی د احتجاج کونکو بشری حقونو ته درناوی<br>- له نړیوال قانون سره د پولیسو د مقرراتو تطابقت | - د پولیسو په توقیف کی د رېږونو رپوټ ورکړای شویو قضیی<br>- د پولیسو په توقیف کی د خلکو د رېږولو د رپوټ ورکړای شوی قضیی<br>- د پولیسو د تیریو په هکله د شاهدانو ویناوی<br>- د احتجاج په وخت کی د پولیسو د چالچلند په هکله د ساحی رپوټ | |
| سرحدی منجمنت | - د دیموکراتیکی څارنی میکانیزمونه | - پارلمانی څارنه (آیا سرحدی محافظین پارلمانی څارنی ته تابع دی؟)<br>- آیا سرحدی محافظین د دفاع په وزرت یا د قانون د اجراء په ادارو کی مدغم شوی دی یا هغوی پوځی کړای شوی دی او د وسلوالو ځواکونو یوه برخه جوړوی؟<br>- آیا پر سرحدی محافظینو باندی پارلمانی نظارت وجود لری؟ | - د اسنادو ډولونه او د هغو معلوماتو حدود چی د پارلمانی څارنی کمیټی ورته لاس رسی لری (ترکومه ځایه چی د تطبیق وړ وی)<br>- د پارلمانی کمیټو موندنی (که چیری مورد ولری) | - Institute for Security Studies (EU/BE)<br>- ICMPD (Austria) |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | - توانمندی او کفایت | - آیا سرحدی محافظین د غیرقانونی کډوالو په مخنیوی کی اغیزمن دی؟<br>- آیا اختلاس او اداری فساد روانه ستونزه ده؟ | - د مهاجرو او بیځایه شویو خلکو شمیر چی له پولو تیریږی<br>- د بډو شواهد چی سرحدی محافطین اخلی (که چیری مورد ولری) | |
| | - د امنیتی سکتور د پرسونل پر بشری حقونو تیری | - د پوځ لخوا د لږ عمر لرونکو ځوانانو څخه استفاده<br>- ځورول او تحقیر (آیا د نویو پوځیانو استخدام له ځورولو او تحقیر سره جوخت دی؟) | - د ځورولو او تحقیر رپوټ ورکړای شوی قضیی<br>- له اوسنیو او پخوانیو محافظینو سره مرکی | |
| | - په عمومی توگه د خلکو پر بشری حقونو تیری | - د غیرقانونی کډوالو لپاره په ځایونو کی چلند او لاری چاری<br>- د سرحدی محافظینو په توقیف کی له کډوالو سره چلند | - د سرحدی محافظینو په توقیف کی د ناوړه چلندونو په هکله رپوټ ورکړای شوی قضیی<br>- په سرحدی تانو کی د رشوت او بډو اخیستلو په هکله د شاهدانو بیانونه | |
| جزائی سیستم | - د دیموکراتیکی څارنی میکانیزمونه | - پارلمانی څارنه (آیا زندانونه تر پارلمانی څارنی لاندی دی؟)<br>- آیا په زندانونو کی شفافیت وجود لری؟<br>- پارلمانی څارنه (آیا د زندان سیستم د پارلمانی څارنی تر کنترول لاندی دی؟) | - هغه قانون چی د ملی زندان پر سیستم باندی څارنه لری<br>- د پارلمانی کمیټی موندنی (که چیری مورد ولری) | - Amnesty International<br>- Helsinki Foundation for Human Rights (Poland)<br>- ALPE (Georgia)<br>- Human Rights Watch |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | - توانمندی او کفایت | آیا جزائی سیستم دا کفایت لری چی له پخوانیو بندیانو څخه قانون ته پاپند اتباع جوړ کړی؟ | - د پخوانیو بندیانو د جرم د تکرار کچه<br>- د پارلمانی کمیټی موندنی (که چیری مورد ولری) | |
| | - د امنیتی سکتور د پرسونل پر بشری حقونو تیری | - آیا د زندان دنویو محافظینو سره د ځورولو یا تحقیر چالچلند وجود لری؟ | - د زندان د محافظینو پر بشری حقونو د تیری په هکله د عینی شاهدانو بیانونه<br>- د زندان له اوسنیو او پخوانیو محافظینو سره مرکی | |
| | - په عمومی توګه د خلکو پر بشری حقونو تیری | - آیا د زندانیانو د هوسایی وضعیت څارل شوی دی؟ (د روغتیایی خدماتو حد اقل معیار، خوراک او څښاک او داسی نور)<br>- آیا په زندان کی د وهلو، ټکولو یا ربړولو نښی نښانی او بیلګی وجود لری؟ | - د بشری حقونوله نړیوال قانون سره د زندان پر سیستم باندی د ملی قوانینو تطابقت<br>- د بندیانو د ژوند د شرایطو د کمیټی شاخصونه (په یوه کوټه کی د زندانیانو شمیر، په هر متر مربع کی د زندانیانو شمیر او داسی نور) او له نړیوالو معیارونو سره مطابقت<br>- له اوسنیو او پخوانیو بندیانو سره مرکی | |

| تأسیسات | د څارنې ډولونه | موضوعات (خوښ کړای شوی مثالونه) | شاخصونه (خوښ کړای شوی مثالونه) | د مدنی ټولنې د سازمانونو مثالونه |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| استخباراتی سکتور | - د دیموکراتیکی څارنې میکانیزمونه | - پارلمانی څارنه (آیا استخباراتی اداری پارلمانی څارنې ته تابع دی؟) | - د اسنادو ډولونه او د هغو معلوماتو حدود چې د پارلمانی څارنې کمیتې ورته لاس رسی لری (ترکومه ځایه چې د تطبیق وړ وی)<br>- هغه قانون چې د امنیتی سکتور پر څارنې باندی حاکم دی | - Privacy International<br>- Electronic Frontier Foundation<br>- Amnesty International<br>- State Watch Liberty (UK) |
| | - توانمندی او کفایت | آیا استخباراتی معلومات چې د استخباراتی ادارو لخوا تولیږی د اعتماد وړ ثابت شویدی؟ | - د پارلمانی کمیټو موندنی<br>- د استخباراتو له پخوانیو افسرانو سره مرکی | |
| | - د امنیتی سکتور د پرسونل پر بشری حقونو تیری | - آیا د هغو کسانو بشری حقونو ته درناوی کیږی چې استخباراتی ادارو سره کار کوی؟ | - د استخباراتی ادارو د داخلی کارکونکو د شواهدو پر بنسټ د اسنادو او شواهدو ټولول<br>- د استخباراتو له پخوانیو افسرانو سره مرکی | |
| | - په عمومی توګه د خلکو پر بشری حقونو تیری | - آیا د استخباراتی ادارو پالیسی بشری حقونه مراعاتوی؟<br>- آیا د څارنې د پالیسیو په اړه لکه غوږ نیولو او غږ ثبتولو په اړه ستونزی وجود لری؟<br>- غیر معمول تسلیمول (دریم هیواد ته چیرته چې ربړول | - د هغو بندیانو د ربړونې قضیی چې د استخباراتی سکتور لخوا تر تحقیق لاندی نیول شوی دی؟<br>- دریم هیواد ته چیرته چې د ربړونی چلند وجود لری د اتباعو د تسلیمولو قضیی | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | وجود لری، د اتباعو تسلیمول؟) | | |
| د قضاء او قانون نظام | - د دیموکراتیکی څارنی میکانیزمونه | - د امنیتی سکتور په اړه د ملی، سیمه ایزو او نړیوالو محکمو یا تریبونالونو لخوا د سترو قانونی تصمیمونو د نیولو قانونیت<br>- د انجمنونو او د بیان آزادی<br>- د اختلاس او اداری فساد ضد قوانیونو څارنه | | - Liberty (UK)<br>- Human Rights Watch |
| | - توانمندی او کفایت | - په خپلواکه توګه پرکړکیچنو قضیو باندی د کارکولو توانمندی<br>- غیر تبعیضی قضائی حکمونه<br>- د محکمو لپاره د انتظار مودی کمول<br>- آیا د حکومت او غیرحکومت په شمول ټول انفرادی اشخاصو او تأسیساتو باندی قانون یو شان تطبیق کیږی؟ | - د محکمی لپاره د انتظار موده ( په اوسطه توګه)<br>- د حکمونو پرتله کول تر څو د تبعیض او غیرتبعیض حکمونو ترمنځ توپیر وشی<br>- د بډو یا رشوت اخیستلو د عینی شاهدانو شهادت ورکول | |
| | - د امنیتی سکتور د پرسونل پر بشری حقونو تیری | - د قاضیانو خپلواکتوب<br>- مدافع وکیلانو ته نه مزاحمت پیدا کول | د مدافع وکیلانو د مزاحمت په هکله رپوټ ورکړای شوی قضیی | |
| | - په عمومی توګه د خلکو پر بشری حقونو تیری | - د تورنو کسانو ملکی او سیاسی حقونو ته درناوی | - د پخوانیو تورنو کسانوسره مرکی | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | - د ملی لږکیو او د ټولنی د تجرید شویو پرګڼو سره مساوی چلند | | |
| - Human Rights Watch<br>- Amnesty International | - له اوسنیو او پخوانیو سرتیرو سره مرکی<br>- په غیردولتی وسلوالو ډلو کی د لږ عمر لرونکی سرتیرو شمیر | - د لږ عمر لرونکو کسانو څخه د سرتیرو په توګه استفاده<br>- پر ښځینه سرتیرو له جنسی تیریو څخه کار اخیستل | - د پرسونل پر بشری حقونو تیری | غیردولتی لوبغاړی (خصوصی پوځی کمپنی، وسلوالی ډلی، یاغی ډلی) |
| | - د وسلوالو ډلو د غړو لخوا د جنسی تیرو د جرایمو په هکله د رپوټونو شمیر<br>- د وسلوالو ډلو لخوا د جنسی ارتکاب د قضیو شمیر<br>- د غیردولتی وسلوالو ډلو لخوا قصدی او پټو سترګو وژلو په هکله د عینی شاهدانو بیانونه | - د نړیوال بشری قانون مراعاتول<br>- په هغو سیمو کی چی یاغی ډلی کنترول لری د خلکو له بشری حقونو څخه سرغړونی<br>- د خلکو پرضد د جنسی تیریو څخه کار اخیستل<br>- له ویری او تهدید څخه کار اخیستل | - په عمومی توګه د خلکو پر بشری حقونو تیری | |

## ځارنه: میتودونه، د څیړنی طرح او له میتود څخه
## د کار اخیستلو لارښوونی

د امنیتی سکتور د ځارنی هدف ته سړی کولای شی چی د څیړنی د یو شمیر تخنیکونو او میتودونو څخه د کار اخیستلو د لارښوونی له لاری ورسیږی. دغه میتودونه ډیر زیات دی، خو ځینی یی په لاندی ډول دی:

- د قانونی چوکاټونو تحلیل؛
- د حکومتی پالیسیو تحلیل؛
- د بودجی تحلیل؛
- د اطلاعاتو تحلیل؛
- د عمل د ساحی ځارنه؛
- د اسنادو او شواهدو راټولول

له دی کبله چی د ټولنو د ځارنو موخه له یو شمیر مخکی له مخکی جوړ شویو قوانینو، مقرراتو، پالیسیو او معیارونو سره د دولت د چارچلندونو تطابقت دی، نو د ځارنی ټولی پروژی باید په لومړی سر کی ملی او نړیوال قانونی چوکاټ وړاندی کړی چی د هغه پر بنسټ یوه موضوع یا ساحه تر پلټنی او څیړنی لاندی نیول کیږی. په همدی ډول هغه باید اړوندی حکومتی پالیسی هم تر ارزونی لاندی ونیسی.

همدا راز ځارنه باید په دی هکله هم کتنه وکړی چی پالیسی څرنګه د عمل په ډګر کی پلی کیږی. دغه کار د عمل په ساحه کی د پیښو د مراقبت او د اړوند اسنادو او شواهد د ټولولو له لاری ممکن ګرځی، البته تر کومی کچی چی امکان ولری.

دغه لاندی ګامونه د ځارنی د فعالیتونو په اړه کی د لازمو میتودونو د لارښوونی مقدمه معرفی کوی. په داسی حال کی چی په دی کتاب کی په دی اړه نوری لارښوونی هم وړاندی شوی دی، دغه لاندی برخه په مشخصه توګه په همدی موضوع بحث کوی.

**لومړی ګام- د ځارنی یوه دنده خوښه کړی**

څه ډول پالیسی باید وڅارل شی؟ له کوم قانون، معیار او غوره چارچلند څخه د دولتی اجراآتو د ارزونی لپاره کار اخیستل کیږی؟ څرنګه یو قانون، پالیسی یا چلند د خلکو پر مختلفو ډلو اغیزه کوی؟ دا هغه ځینی پوښتنی دی چی د مدنی ټولنی یو سازمان د ځارنی د دندی په انتخاب یا خوښولو کی په پام کی نیسی.

د مدنی ټولنی سازمان ښایی هغه ساحی انتخاب کړی چی یوه یی په نسبی توګه پر بلی ګټوره ښکاری؛ دا په داسی حال کی چی ده له موضوع سره د هغی پیژندګلوی، پخوانی تجربه او اړیکی، هغی ته دا موقع ورکوی تر څو په هغه یو مطلب رڼا واچوی چی تراوسه پوری په کافی اندازه تر ځارنی لاندی نیوله شوی نه وه. د مطالعی لپاره د یوی په پام کی نیولی شوی موضوع خوښول په دی وجه ګټور دی چی د ځارنی دنده د لړو سرچینو او زیاتی مطالعی ته د پاملرنی غوښتنه کوی، له دی لاری کیدای شی چی په موضوع باندی یوه هر اړخیز نظر ورکړای شی. تر ټولو مهمه دا ده، کله چی د مدنی ټولنی سازمان څرګنده کړی چی په یوی ټاکلی موضوع کی له تخصص څخه برخمنه ده، د هغی د تمویل لپاره

امکانات زیاتیږي او په نتیجه کې په راتلونکې کې کولای شي چې په سترو مطالعاتو لاس پورې کړي.
د بیلګې په توګه که چیرې یو سازمان په یوه سیمه کې د بندیانو د ژوند شرایط او له هغو سره چارچلند تر مطالعې لاندې ونیسي، ډیر ژر په هغې ساحې کې د کارپوه په توګه پیژندل کیږي.

**دوهم ګام- د وضعیت او اړوند قانوني چوکاټ لومړني تشخیص وکړی**

د یوې مشخصې موضوع په هکله د لومړنیو معلوماتو ټولول، د غیررسمي او نه سازمان شویو مرکو کول او له پخوانیو څیړنو سره سلا مشوره د وضعیت د لومړني تشخیص بنسټ جوړوي. حتی که د یو ټولیز واقعیت یو مشخص اړخ مخکې له دې په هیواد کې حتی څیړل شوی هم نه وي، د معلوماتو نورې چاپ شوې سرچینې هرومرو شته چې له موضوع سره یو ډول ارتباط نیسي. د مدني ټولنې یو سازمان له دې سرچینو او په اړوندې موضوع باندې د نورو موجودو موادو په استفادې سره ګټه ترلاسه کوي.

دوهم، د څارنې پروژې باید اړوندو ملي قوانینو، نړیوالو تړونونو او د منل شویو غوره چارچلندونو سره چې د تر څیړنې لاندې موضوع د تنظیم لپاره اهمیت لري، تماس ونیسي. دغه مقررات او معیارونه به د عمل په ساحه کې د پیښو د مراقبت لپاره لارښونه وکړي.

**دریم ګام- د څیړنې مناسب میتودونه او د معلوماتو د ټولولو تخنیکونه وټاکی**

د اړوند قانوني چوکاټ او د یوې ټاکلې موضوع په ساحه کې د غوره چارچلندونو درلودلو سره د مدني ټولنې څارونکې سازمان باید وګوري چې په عمل کې اړوند قوانین او پالیسې تطبیق شوي او مقررات مراعات شوي دي.

د دې کار لپاره سړي باید د تر مطالعې لاندې موضوع لپاره مناسب وسایل او تخنیک خوښ کړي.
۷- ۵ چوکاټ کې هغو تخنیکونو ته اشاره شوې چې څرنګه د عمل په ساحه کې معلومات راټول کړای شي.

**۷- ۵ چوکاټ**
**د راټول کړای شویو معلوماتو پخلې: د ارزونې درې اصلونه**

د مدني ټولنې د یو څارونکې سازمان د رپوټ اعتبار او د ټولنیز بدلون لپاره د هغه د نفوذ ظرفیت تر زیاتې کچې د هغه شفافیت او ریښتینوالې پورې اړه لري. نو له دې امله، په هر څارونکې رپوټ کې یو مهم ګام باید دا وي چې د هغو اسنادو پخلې او تصدیق وشي چې د مرکو، سروې، اطلاعاتو ټولولو او نورو تخنیکونو له لارې لاس ته راغلي دي. درې مهم اصلونه چې د بشري حقونو په هکله د ناروې د انستیتوت لخوا د خپرې شوې «بشري حقونو د لارښونې» د رسالې څخه اخیستل شوي دي، د څارنې په فعالیتونو کې د دخیلو مدني ټولنې سازمانونو لپاره عملي لارښونې ټاکي:

**۱- وګورئ چې آیا ستاسو سرچینه د باور او د اعتماد وړ ده**

په لومړي سر کې وګورئ چې آیا ستاسو د معلوماتو سرچینه د لومړي لاس شاهده ده یا د بل چا لخوا یا د ګونګسو په حواله ده. آیا ستاسو د مرکې اړخ د پولیسو د ناوړه چلند قرباني دې یا هغه تاسو ته د

دوهم او دریم سړی له خولی معلومات درکوی؟ د یوی مرکی په ترڅ کی تاسی او ستاسی تیم باید د مرکی اړخ سره په خبرو کی همغږی او لړی خوندی وساتی. د دی کار لپاره یوه لاره دا ده چی د یوی ځانګړی پیښی په هکله د جزئیاتو پوښتنه وکړی. دغه راز هماغه پوښتنه له یوی بلی زاویی او جملو سره وړاندی کړی تر څو په ځواب کی همغږی وارزوی. د دی کار لپاره باید په پام کی ونیسی چی ستاسو معلومات ورکونکی، په خاصه توګه که چیری خپله د پیښی د قربانیانو له جملی څخه وی، ښایی د دی توان ونه لری چی ستاسو ټولو پوښتنو ته ځواب ووایی. پر سروی باندی د کنترول یوه لاره دا ده چی یوه پوښتنه په مختلفو جملو سره وشی او د ځوابونو لړی روښانه کړای شی. تر ټولو اساسی مسأله دا ده چی د یوی منبعی د اعتبار معلومول یو مهارت دی نه علم. آیا ستاسو منبع یا سرچینه د یو پیښی په هکله له رپوټ ورکولو سره لیوالتیا لری؟ آیا هغه یوه پټه اجندا لری؟

**۲- له نورو خپلواکو معلوماتو سره د تطابقت لپاره کنترول وکړی**

د خپلواکو معلوماتو سره تطابقت هغه یو تخنیک دی چی سړی کولای شی چی د یو پیښی د اعتبار ارزیابی کړی. که چیری یو یا دوه سرچینی د هماغه پیښی یا سرغړونی په هکله رپوټ ورکړی، دا کیدای شی چی د پیښی نښانه وګرځی، خو نه د معلوماتو د رښتینوالی لپاره یو قطعی ثبوت. د بیلګی په توګه، که چیری یو شمیر بندیان چی یو بل ونه پیژنی، رپوټ ورکړی چی د ربړونی هماغه میتودونه په زندان کی استعمال شوی دی، د هغوی معلومات کیدای چی د اعتماد وړ وګڼل شی. سر بیره پردی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د خپلو سرچینو څخه لاس ته راغلی معلومات د رښتینوالی په مقصد د نورو سازمانونو له رپوټونو سره پرتله او کنترول کړی.

**۳- وګوری چی آیا رپوټ له عمومی وضعیت سره مناسبت لری او ور سره جوړیږی**

آیا هغه معلومات چی تاسی ته رپوټ درکړل شوی دی د موضوع له عمومی ساحی سره چی تاسی څاری جوړیږی او مناسبت لری؟ آیا دا معلومات د نورو موجودو معلوماتو په رڼا کی مدلل او د باور وړ دی؟ که چیری نه وی، دا د دی معنی نه لری چی تاسی دا معلومات په بشپړه توګه لیری واچوی: کیدای شی دا هغه څه وی چی تاسی مخکی له دی کشف کړی نه وی. په دی صورت کی د ثبوت پیټی نور هم درنیږی او د معلوماتو د پخلی ایجاب کوی.

د یادونی خبره دا ده چی په اضطراری حالاتو او په سختو چاپیریالونو کی د دغو اصولو تطبیق ډیر سخت ښکاری؛ د بیلګی په توګه: که چیری ممکن نه وی، خو ډیره سخته ده چی په داسی حالاتو کی د اعتبار او رښتینوالی په مقصد له نورو خپلواکو معلوماتو سره خپل معلومات پرتله کړی. خو د مدنی ټولنی سازمانونه چی په داسی حالاتو کی کار کوی د دا ډول معلوماتو له خپرولو څخه دی ویره ونه لری او باید دا څرګنده کړی چی د نوموړو حالاتو له امله نوری خپلواکی سرچینی او معلومات وجود نه لری چی هغو سره پرتله شی، بلکه دا یواځنی دی.

سرچینه:

Norwegian Institute of Human Rights, 2002, Manual on Human Rights Monitoring. An introduction for Human Rights Field Officers. Oslo: Norwegian Institute of Human Rights.

**ځلورم ګام – د څارنې یوه مطالعه په لاره واچوی**

د هغو پروژو لپاره چې د امنیتي سکتور د قانونمندي په قانوني تحلیل باندي لګیا دي، د څارنې یوه مطالعه د قانون له چوکاټ سره د اړوندي قانونمندي او هدایاتو جوړښت تر پلټنې لاندې نیسي. د هغو پروژو لپاره چې پر غیرقانوني تحلیل باندي لګیا دي، د هغو لپاره د څارنې کار دا دی چې معلومات راټول او تحلیل کړي تر څو د هغو په مرسته د دیموکراتیکي څارنې لپاره میکانیزمونه تر آزموینې لاندې ونیول شي. د حکومتي لوبغاړو کفایت تر پوښتنې لاندې ونیسي چې آیا خلکو ته یې امنیت برابر کړی او آیا احتمالاً له بشري حقونو څخه سرغړونې کړې دي که نه.

له دې کبله چې د څارنې په یوه پروژه کې ډېرې وخت د بیلابیلو ډېرونکو همکاري مطرح دي، د مدني ټولني سازمان باید ډاډ لاس ته راوړي چې د معلوماتو د راټولو تخنیک د عمل په ساحه کې د ټولو ډېرونکو له خوا تطبیق کیږي او د ډېرنې د ټولو غړو ترمنځ د تفاهم او همکاري اړیکې موجودې دي.

**پنځم ګام- نتایج اعلان کړی**

کله چې د څارنې یو رپوټ په چاپ رسیږي، د مدني ټولني سازمان باید د هغو لارو چارو په لټه کې شي چې خپلې موندنې څرنګه اړوندو اړخونو او برخه والو ته لکه امنیتي سکتور، حکومت او عامو خلکو ته ورسوي. یواځې کله چې موندنې په ښې طریقې سره اړوندو تصمیم نیونکو او عامو خلکو ته ورسیږي، بیا نو د مدني ټولني سازمان هیله کولای شي چې په ټولنیز بدلون باندي مثبته اغیزه وکړي.

**د څارنې رپوټ**

د څارنې د رپوټ لومړنی هدف دا دی چې د یو ټولنیز واقعیت په هکله راټول کړای شوي شواهد او اسناد خپاره کړي. له دغه رپوټ څخه کیدای شي وروسته د تر ډېرنې لاندې وضعې باندې د اغیزې لپاره استفاده وشي.

د څارنې رپوټ ډېر ژر د مدني ټولني د یو سازمان د کار د څرنګوالي نښانه ګرځي او د هغه پر شهرت باندې پراخه اغیزه کوي. یو هراړخیز او مفصل رپوټ چې د ناوړه اعمالو او اجراآتو په هکله مشخص شواهد او اسناد وړاندې کوي کولای شي چې د ډله ایزو رسنیو، نړیوالو سازمانونو او د مدني ټولنو د نورو سازمانونو، د سیاستوالو او عامو خلکو پام راواړوي. بالمقابل د څارنې یو ضعیف او بې محتوی رپوټ چې د پیښو په هکله اسناد او شواهد ونه لري، کیدای شي چې د اړوند مدني ټولني سازمان شهرت ته تاوان ورسوي او له نړیوالې ټولنې سره د راشه درشه امکانات ضعیف وکړي او له احتمال څخه لیرې ښکاري چې په ټولنیز بدلون کې دې هم کوم اثر ولري.

د څارنې د رپوټ جوړونې لپاره کوم خاص معیار او مقررات وجود نه لري. دغه لاندې یادونې کیدای شي چې د لارښوونې او وړاندیزونو په توګه د دې مقصد لپاره وګڼل شي؛ د مدني ټولني یو سازمان کولای شي چې دا له محلي معلوماتو او پوهې سره یوځای کړي. په پای کې د مدني ټولني سازمانونه کولای شي چې د نورو مجربو سازمانونو سره چې مخکې له دې یې د څارنې رپوټونه خپاره کړي دي، د سلا مشورو له لارې د خپلې رپوټ جوړونې توانمندي اصلاح او بشپړ کړي. ۷- ۶ چوکاټ په دې هکله ځینې خوښ کړای شوي مثالونه وړاندې کوي.

## د څارنې د يو رپوټ جوړښت

د څارنې رپوټ بايد په لومړۍ سر کې تر څارنې لاندې موضوع په اړه د ملي قانون او نړيوالو تړونونو د معرفي کولو له لارې د مطالعې يا څېړنې هدف روښانه کړي. په خپلو پرانيستي برخو کې د څارنې رپوټ بايد د څارنې د پروسې د موندنو يو «عمومي لنډيز» شامل کړي، ځکه ډېرى خلک لکه سياستوالان، بسپنه ورکونکي او خبريالان، چې د مدني ټولنې يو رپوټ لولي، ډېرمصروف کسان دي. رپوټ بايد وکړاى شي چې د مؤجز ميتودلوجۍ، مهمو موندونو او سپارښتنوو له وړاندې کولو سره د لوستونکي پام ځان ته واړوي. همداراز که چېرې رپوټ په يو محلي ژبه ليکل شوى وي، دا ډېره ښه مفکوره ترهغه پورې چې په مفصل توګه په انګليسي ژبه ترجمه کيږي، د هغې ځينې مهمې برخې په لومړي سر کې په انګليسي ژبه کې وړاندې شي.

د رپوټ جوړښت بايد په منظمه او دقيقه توګه د څارنې د پروسې نتايج په تفصيل سره بيان کړي. په لومړي سر کې هغه يو ميتود چې د مدني ټولنې سازمان تری کار اخلي بايد شفافيت ولري. تر ټولو غوره خو دا ده، کله چې د همدې ميتود څخه يو بل شخص يا سازمان په اړوندې موضوع باندې د څېړنې لپاره کار اخلي، په پاى کې بايد هغې نتيجې ته ورسيږي چې تاسې رسيدلي ياست. دا کار اخيستل شوى ميتود ډېر ښه ثبوت دى. اساساً، رپوټ بايد نه يواځې په خصوصيت کې روښانه کونکې وی، بلکه تحليل هم بايد ځان سره ولري. د څارنې رپوټ بايد د ټولنيز واقعيت د يو اړخ، نه يواځي يو بيړنی انځور ښکاره کړي، بلکه د وخت په تيريدو سره د هغه وده هم: د دی کار لپاره د څارنې يو رپوټ بايد د نيمګړتياوو په هکله رپوټ ورکړي، او د هغو د اصلاح لپاره کال په کال وړانديزونه وکړي. يو اندول شوى رپوټ کولاى شي چې د عامه پام ځان ته زيات واړوي، نسبت هغه يوه ته چې د ځينو شواهدو د مختصرې ارزونې سره سره يواځې په يو اړخيزتوګه وړاندې شوى وى.

همداراز د څارنې يو رپوټ بايد ټولو اړوند برخوالو ته سپارښتنې ولري. سپارښتنې بايد د رپوټ د موندونو پر بنسټ ولاړې وی او څرګنده کړي چې د عمل په ساحه کې څرنګه کيداى شي سياسي، اقتصادي يا ټولنيز نيمګړتياوو ته پاملرنه وشي او د هغو مخه په راتلونکې کې ونيوله شي. دغه سپارښتنې بايد نه يواځې د مدني ټولنو د سازمانونو اجرآتو ته اشاره وکړي، بلکه بايد د رپوټ د سترې نتيجې په نسبت خپل ناپلويتوب ښکاره کړي.

---

**۷- ۶ چوکاټ**
**د امنيتي سکتور په هکله د څارنې د رپوټونو مثالونه:**

**د بشري حقونو د څارنې سازمان، Human Rights Watch**، د Get the Gun نومې رپوټ: د يوګندا د Karamaja په سيمه کې د يوګندا د پوځ د عملياتو په نتيجه کې پر بشري حقونو باندې تيرى، دغه رپوټ چې د څارنې د سازمان لخوا په ۲۰۰۷ کال کې جوړ شوى په لاندې انترنتي پاڼه کې موندلاى شي:

http://hrw.org/reports/2007/uganda0907

د قانون د اجراء د قوې په نامه دغه عمليات د يوګندا د «خلق د دفاع د ځواکونو» لخوا د ۲۰۰۶ کال د سپتمبر او ۲۰۰۷ کال تر جنورۍ پورې په لاره واچول شول. د څارنې د سازمان دغه رپوت د نوموړو عملياتو د ۵۰ شاهدانو او د سيمې څخه د ليدنې کتنې له مخې جوړ شو او په هغه کې د يوګندا د ملي پوځ لخوا د بشري حقونو څخه سرغړونې درج شوى دي.

د بښنې نړیوال سازمان، Amnesty International، نایجریا: د رپوټ نوم: Prisoners’s Rights systematically flouted، (د بندیانو بشری حقونه په منظمه توګه پښو لاندې شوی)، د بښنې نړیوال سازمان، لندن، ۲۰۰۸ .

دغه رپوټ چې د بندیانو د شهادتونو او د پیښې له اړوند برخه والو سره د مرکو پر بنسټ جوړ شوی دی بیانوی چې په نایجریا کې بندیان په منظمه توګه له بشری حقونو څخه بې برخې کړای شویدی. د نایجریا په ټول عدلی نظام کې د جنایی جرایمو مسوول چارواکې د دغه وضعیت لپاره مسوول ګڼل کیږی.

**د عامه قانونی زده کړو لپاره ټولنه (Association for Legal Public Education),** د رپوټ نوم: د پولیسو د اجراآتو په هکله عامه نظر:
Report, Tbilisis, 2005, avialblable online at
http://alpe.ge/nedit/assets/Patrol_Plice_eng-final.pdf

د Tblisi، Kutaisi، Batumi او Telavi په ښارونو کې له څه د پاسه سل مخامخ مرکو پر بنسټ دغه رپوټ هدف دا دی تر څو هغه ستری ستونزی وپیژندلی شی چې د پولیسو د ګزمې د اجراآتو په وړاندی خنډ پیدا کوی، د دی مقصد لپاره ددغو ګزمو په وړاندی د عامه دریځ او د عام خلکو په وړاندی د پولیسو د ګزمو پلټنه شوی ده.

Rodrigo Castro and Jose Francisco Garia/Instituto Libertad Desarallo ، د رپوټ نوم: په چیلی کی په ۲۰۰۴ کال کی د قضا اوعدل وضعیت: د امنیتی سکتور شاخصونه. د ټولنیز رپوټ ۹۵ لړی، Instituto Libertad y Desarallo, Santiage, 2005, available online at
http://www.lyd.com/english/noticias/95_social_report_series.pdf

دغه رپوټ د هغو احصائیو له مخی چې د چیلی محکمو لخوا په ۲۰۰۴ کال کی جوړ شوی، یو قضایی تحلیل وړاندی کوی.

لنډه دا چې د څارنې ټول رپوټونه باید یوه سریزه ولری، چې په هغی کی د څیړنی د هدف اړوند ټولنیزو مسألو ته اشاره شوی، د هغی میتودولوژی په هکله شفافیت موجود وی چې تری کار اخیستل شوی، ځانګړی رپوټ ورکړای شوی قضیې په کی شاملی وی او سپارښتنی ولری.

## د امنیتی سکتور د نظارت ستراتیژی او څارنه

د بیلابیلو امنیتی سکتورونو د چارچلندونو په هکله د معلومات راټولول په خپل ذات کی ښایی د امنیتی سکتور په چلندونو کی کوم بدلون رامنځ ته نه کړی. یواځی که چیری څارنه د مراقبت یا نظارت د څارنی له ستراتیژی سره جوخت کړای شی، لکه د حقونو د دفاع او د پوهی د سطحی د لوړلو کمپاین، دا کیدای شی چی په امنیتی سکتور کی دیلټنی او دقت لپاره لاره پرانیځی او په پای کی د مثبت بدلون سبب وګرځی.

خپلواکه څارنه د امنیتی سکتور په دیموکراتیکی څارنی کی ډیر مهم مقام لری، څکه د څارنی رپوټ د یو شمیر نورو لوبغاړو او تأسیساتو لخوا استعمالیږی ترڅو د امنیتی سکتور وزیران حساب او کتاب ته

کښېنوی. په دغو تأسیساتو کی پارلمانونه، سیمه ایزی شوراګانی او نړیوال سازمانونه شامل دی. په خاصه توګه د ملګرو ملتونو سازمان په وروستیو کلونو کی تر زیاتی کچی د مدنی ټولنی د سازمان پر رپوټونو تکیه کړی ترڅو په غړو دولتونو کی د بشری حقونو ژمنی خوندی وساتی. دغه راز، په ډېرو هیوادونو کی، د شکایتونو د اوریدو ملی اداری هم ډېر زیات د څارنی پر خپلواکو رپوټونو باندی تکیه کوی ترڅو د نیمګړتیاوو په هکله او د امینتی وزارتونو لخوا د احتمالی بشری حقونو د سرغړونو په هکله عمومی پوهاوی زیات کړی.

---

**۷- ۷ چوکاټ**

**نایجریا: د ټاکنو په وخت کی د پولیسو د کړووړو څارنه**

د قانون د اجراء د ښوونی لپاره مرکز چی د مدنی ټولنی یو نایجریایی سازمان دی، د پرانیستی ټولنی لپاره د عدالت نومی سازمان (Open Society Justice Intitiative) او د نایجریا د پولیسی خدماتو له کمیسیون (PSC) سره په ګډه د ۲۰۰۳ کال د جمهوری ریاست ټاکنو په ترڅ کی د پولیسو چلندونه تر څارنی لاندی ونیول.

دغی پروژی څلور برخی درلودی: د ټاکنو په ترڅ کی د پولیسو پر چارچلندونو باندی د واکمنو د بنسټیزو مقرراتو لپاره طرح جوړول؛ د نایجریا پولیسو او عامه خلکو ته د دغو مقرراتو په اختیار ورکول؛ د دغو مقرراتو څخه د سرغړونو څارل؛ او بالاخره د لاس لاندی نیول شویو فعالیتونو په هکله د عامه رپوټ خپرول.

د قانون د اجراء د د زده کړی لپاره مرکز او د هغه شریکانو په دی ډول یوه غیرحکومتی انتقالی څارنی ډله (TMG) جوړه کړه. TMG د ټاکنو لپاره ۱۸۵ څارونکی استخدام کړل، د نایجریا د هر سیمی لپاره ۵ تنه. څارونکو ته د څارنی په مقصد اساسی وسایل ورکړل شول او هر یوه له خپلی اړوند سیمی څخه د ټاکنو د بهیر په هکله دوه پاڼي لرونکی رپوټ وړاندی کړ. څارونکو همداراز یو تیلفون هم په اختیار کی درلوده چی د کومی خاصی پیښی په صورت کی د څارنی مقر ته یی سمدلاسه خبر ورکاوه.

لاس ته راغلیو نتایجو څرګنده کړه چی دغه پروژه د لارښوونو په اړه د پولیسو د خبرتیا او پوهاوی لپاره بریالی شوه؛ په عین وخت کی د PSC اعتبار یی د عامه خلکو په منځ کی زیات کړ؛ دا یی وښودله چی PSC کولای شی په مهارت او مسلکی ډول خپلی دندی تر سره کړی او د پولیسو لخوا د ډېرو بد ورګو زورزیاتیو او سرغړونو مخه ونیسی، هغه څه چی د نایجریا په تیرو ټاکنو باندی سختی اغیزی کړی وی.

سرچینه:
Open Society Justice Initiative, http://www.justiceinitiative.org/activities/ncjr/police/nigeria_psc

---

سربیره پر دی، د حقونو څخه د دفاع او د پوهاوی د سطحی د لوړولو کمپاینونه د حکومت د پالیسی د یوی ځانګړی برخی له کلنی تحلیل څخه تل ګټه ترلاسه کولای شی، دا ځکه چی د څارنی منظم رپوټونه د یوی موضوع د ساحی د اصلاحاتو عمومی انځور ترسیموی او په عین وخت کی د سرغړونو او تیریو مشخص مثالونه وړاندی کوی.

## نتیجه

د امنیتی سکتور د فعالیتونو په څارنه کی له مشغولتیا سره د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د امنیتی سکتور د تأسیساتو د حساب ورکولو او شفافیت په زیاتولو کی ونډه واخلی.

دغه راز تر ټولو مهمه دا چی، څارنه په امنیتی سکتور کی دیموکراتیکی څارنه او بریالی اصلاحات پیاوړی کوی، خصوصاً چی هغه د مدنی ټولنی او د دولت د دوو قواوو مقننی او اجرائیی ترمنځ د یوی ستراتیژیکی لیوالتیا یو برخه وی. د اغیزو د لوړولو لپاره غوره ده چی هغه معلومات چی د څارنی له لاری لاس ته راغلی دی بیرته د پوهی د سطحی د لوړولو، روزنی او د حقونو د دفاع په کمپاینونه کی تری کار واخیستل شی.

په پای کی د څارنی د فعالیتونو اغیزه تل د لاس ته راغلو اطلاعاتو او معلوماتو کیفیت او همداراز اعتبار او د څارونکی سازمان خپلواکتوب پوری هم اړه لری.

### د مدنی ټولنی د یو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

**په څارنه کی د ګډون لپاره د خپل مدنی ټولنی د سازمان ظرفیت جوړ کړی**

- د څارنی میتودونه او د معلوماتو د راټولو تخنیکونه وڅیړی
- د امنیتی سکتور په هکله د څارنی چاپ شوی رپوټونه ولولی او تری یی زده کړی
- د موضوع ساحه خوښه کړی، چیرته چی ستاسو د مدنی ټولنی سازمان نسبی ګټه ترلاسه کولای شی

**د امنیتی وزارتونو په دننه کی د اړیکو یوه شبکه جوړه کړی**

- د امنیتی سکتور له متقاعدو کسانو سره چی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په موضوعاتو کی لیوالتیا لری اړیکه ونیسی
- د مدنی ټولنی د سازمانونو له یوی شبکی سره چی د امنیتی سکتور سره په تړاو کی ده، یو ځای شی یا هغه خپله جوړه کړی

**د امنیتی سکتور د څارنی لپاره معیارونه او نښانی جوړی کړی**

- په خپل وطن کی اړوند ملی قوانین او مقررات وڅیړی
- اړوند نړیوال بشری تړونونه وڅیړی او د هغو په نسبت د دولت مکلفیت او پابندی تأمین کړی
- اړوند نړیوال لارښوونکی اصول او غوره چارچلندونه وڅیړی
- دغه مقررات او د تړونونو مکلفیتونه د امنیتی سکتور د څارنی لپاره په معیارونو او نښانو بدل کړی

**امنیتی سکتور وڅاری**

- په امنیتی سکتور کی د دیموکراتیکی څارنی میکانیزمونه وڅاری
- خلکو ته د امنیت د تأمین لپاره د امنیتی سکتور د ادارو کفایت او توانمندی وڅاری

- د امنیتی سکتور د کارکوونکو د بشری حقونو سرغړونی وڅاری
- د عامو خلکو د بشری حقونو سرغړونی وڅاری
- د څارنی په رپوټونو کی موندنی وخت په وخت چاپ او خپری کړی.

# ۸
# فصل

TEODORA FUIOR

# د بودجې تحلیل

Teodora Fuior

# ۸

# د بودجې تحلیل

دولتی بودجه د یوه حکومت د پالیسی د پیژندنی د مهمو وسیلو څخه شمیرل کیږی. هغه څرګندوی چی یو حکومت د خپل راتلونکی پرمختیا او د دولت تر اداری لاندی منابعو د ویشی، د پالیسیو او عمل ترمنځ د همغږیو لپاره څرنګه پلان جوړوی او هغه ارزښت چی دولت یی امنیت، عدالت، آزادی او هوسایی ته ورکوی او همداراز هغه شفافیت چی اجرائیه ورته د رسیدو هڅه کوی، په کومه سطح کی باید قرار ولری. دغه راز عامه خلکو ته د دی موقع ورکولو سره چی د حکومت له سیاسی خوښو (انتخاب) او ړومبیتوبونو څخه خبرتیا ولری، بودجه دا هم روښانه کوی چی د مالیی پیسی څرنګه مختلفو برخو ته ځانګړی کیږی او څرنګه د دولت د ادارو لخوا لګول کیږی. په یوی دیموکراسی کی عامه بودجه جوړونه باید هغه یوه پروسه وی چی مختلف اړخونه په هغی کی ګډون ولری، ځکه هغه د هر وګړی پر ژوند باندی اغیزه کوی.

د همدی دلایلو له امله د بودجوی موضوعاتو په هکله پوهه د مدنی ټولنی لپاره خورا ارزښت لری، هغی ته اجازه ورکوی چی د هغی دپالیسی په پروسه کی ګډون وکړی. که څه هم د بودجې اهمیت خورا زیات دی، خو یواځی په دی وروستیو وختو کی د هغی په وړاندی د عامه خبرتیا لپاره دروازه پرانیستله شوی ده.

د بودجې یو مناسب تحلیل د مدنی ټولنی سازمانونو ته اعتبار، روښانتیا او قدرت ور په برخه کوی. هغه یوه اغیزمنه وسیله ده ترڅو حکومت د پخوانیو او اوسنیو چارچلندونو په خاطر حساب او کتاب ته کش کړای شی او پر راتلونکو بودجو باندی د نفوذ موندولو لپاره ښه موقع په لاس ورکوی. د بودجې تحلیل باید یواځې د یو علمی کار یا د روښانفکری یو تمرین ونه ګڼل شی چی هدف د عامه کتابتونونو د الماری ډکول وی: د بودجې په هکله د مدنی ټولنی خپلواکی ارزونی او تحلیلونه د یوی غوره دیموکراتیکی حکومتوالی لپاره حتمی او ضروری دی، ځکه دا هغه عملی وسایل دی چی د پالیسی په هکله عامه بحث اصلاح کوی، د بحث د برخوالو شمیر او کیفیت ستروی او پر بودجوی پروسی باندی اغیزه کوی. دغه فصل کی هغه لاری چاری روښانه شوی دی چی څرنګه د مدنی ټولنی سازمانونه بودجې تحلیل کړی تر څو د امنیتی سکتور پر پالیسی او چلندونو باندی نفوذ پیدا کړی.

## امنیتي بودجه څه ته وايي

امنیتي بودجه د هغو پیسو اندازه ده چې یو هیواد یې د یو کال په موده کې د خپل داخلي او بهرنی امنیت د خوندی ساتنی لپاره په مصرف رسوی. د امنیتي بودجې ټول رقم د دولتی امینتی ادارو لپاره د کلنی تخصیص شوی بودجو مجموعه ده. د دغو ادارو روښانه مثالونه د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه دی، خو د یو ملی امنیت د بودجې په هکله د یوی هراړخیزی پوهی لپاره اړینه ده چې په دی برخه کې ځینی نور امنیتی فعالیتونه او تأسیسات هم په پام کی ونیول شی.

**۸- ۱ چوکاټ**
**د امنیتي بودجې له لاری څه شی تمویل کیږی؟**

| برخه | تأسیسات او نور فعالیتونه |
|---|---|
| دفاع | • وسلوال ځواکونه – د هغو په جمله کې په بهر کی سوله ساتی ځواکونه<br>• د پوځی سکتور ملکی اداری - پوځی دفاع او نوری حکومتی اداری چی په دفاعی فعالیتونو کی بوخت دی، لکه وسلوال تولیدات، واردات او صادرات<br>• نیمه پوځی ځواکونه – غیر منظم وسلوال قطعات چی د هغو د روزلو پریکړه کیږی، په وسایلو سمبالیږی او د عملیاتو لپاره چمتو کیږی، لکه سرحدی ژاندارم یا محافظین (دا کیدای شی په دفاعی بودجه یا د کورنیو چارو د وزارت په بودجه کی ښکاره شی) |
| د قانون د اجراء | • پولیس، نور ځواکونه چی د عامه نظم د ساتلو او د قانون د اجراء لپاره مسوولیت لری<br>• د پولیسو ملکی اداری او د عامه نظم نور ځواکونه / کورنی یا د وطن د داخلی چارو وزارت |
| سرحدی منجمنت/ ګمرکونه | • سرحدی محافظین، ګمرکی اداری |
| اصلاحی تأسیسات | • د زندانونو اداره (دا کیدای شی چی د کورنیو چارو یا د عدلیی د وزارت په بودجو کی ښکاره شی) |
| استخبارات | • استخباراتی خدمات / کیدای شی پوځی یا ملکی وی. معمولاً یو شمیر اداری استخباراتی فعالیتونه سرته رسوی، کیدای شی چی هغوی د دفاع، کورنیو یا عدلیی د وزارتونو په بودجه کی ښکاره شی او یا خپلواکی استخبارتی اداری چی مستقیماً د اجرائیه قوی تر امر لاندی عمل کوی. |
| ملکی بیړنی اداری | • هغه اداری چی په بیړنیو حالاتو کی مسوولیت لری، ځانګړی مخابرات، د ستراتیژیکی بنسټیزو تأسیساتو ساتل، د لوړپوړو چارواکو او داسی نور کسانو ساتل |
| د امنیت ستراتیژیکی منجمنت | • د دفاع عالی شورا یا د ملی امنیت شورا چی کیدای شی یو خپلواکه اداره وی یا د اجرائیی د قوی د رئیس تر امر لاندی یوه مشورتی اداره |

هر ملی امنیتی سکتور یو واحد دی چی څو برخی لری. د امنیتی بودجی د تحلیل لومړی ننګونه دا ده چی ټولی هغه اداری، خدمات او ځانګی وپیژنی چی په ملی امنیت کی یو نقش لوبوی او عامه پیسی مصرفوی – دا هماغه اداری دی چی په عین وخت کی صلاحیت لری ترڅو د ملی امنیت په پلمه

بشري حقونه او آزادی محدود کړی. د بېلګې په توګه، د یوی داسې دندی د ستونزو د سپړلو لپاره، کفایت کوی چې د یو شمېر هیوادونو د ملی استخباراتو مختلفو تأسیساتو ته کتنه وکړو: په امریکا متحده ایالاتو کی پنځلس استخباراتی اداری، په فرانسه کی دیارلس، په آلمان کی شپږ، رومانیا کی اوه او په ایتالیا کی یواځی دوه وجود لری؛ په ټوله نړی کی د دولتونو دشمیر څخه دری ځلی زیاتی استخباراتی اداری موجودی دی.[1]

سربیره پر دی، د اختلاس رپوټونه چی د دفاعی او امنیتی تړونونو سره تړلی دی وخت په وخت د نړی د ورځپاڼو غټ سرلیکونه جوړوی. په محلی سطح د قانون د اجراء لپاره د مسوولو چارواکو په منځ کی اختلاس، بډی اخیستل او اداری فساد د عام وګړو ورځنی ژوند له ستونزو سره مخامخ کړی دی، خو ډیری وخت د دغه ناورین یو لامل بنایی دا وی چی د امنیتی سکتور کارکونکی له یو معقول او کافی معاش څخه برخمن نه دی. د بودجی تحلیل د مدنی ټولنی سازمانونو ته دا امکان ورکوی تر څو اختلاس کشف کړی، په لاملونو یی ځان پوه کړی او هغه بربند کړی.

## د دولت له نورو ادارو سره د امنیت د بودجی توپیر څه دی؟

امنیتی سکتور د یو شمېر مقرراتو او لاروچارو هسی تابع دی لکه چی نور دولتی سکتورونه دی. د امنیتی سکتور د بودجی جوړونی پروسه باید د حکومت د نورو سکتورنو څخه توپیری ونه لری او نه له لږ شفافیت څخه بی برخی وی. په عین وخت کی د امنیتی سکتور د بودجی جوړونی د پروسی کړکیچنتوب او ځانګړی خصوصیت تحلیل او څارنه نوره هم له ننګونی سره مخامخوی.

د امنیتی بودجی جوړونی یو مهم توپیر په دی پروسه کی د هغی پر سیاسی خصوصیت باندی ټینګار دی. ټول عامه بودجوی تخصیص یو لړ مهمو سیاسی انتخابونو ته اشاره کوی، خو د امنیتی بودجی تخصیص په ځانګړی توګه یو د لیدو وړ او حساس سیاسی انتخاب دی. هغه اندازه پیسی چی یو هیواد یی په امنیت مصرفوی، سیاسی تصمیمونو پوری اړه لری چی په یوه ټولنه کی د ګواښ څخه برداشت منعکسوی (هم داخلی او هم خارجی) که هغه د یوی سیمی په سطح ده (جنایی جرمونه) یا نړیوال سطح (نړیوال تیری). دفاعی بودجه ډیری وخت د ملی صنایعو او استخدام لپاره مهمی پایلی لری او ځینی وختونه د کورنی سیاسی تأسیساتو په ګټه تماميږی. امنیتی بودجوی تخصیص په عین وخت کی د بهرنی پالیسی یوه وسیله ده: د پیسو مقدار چی په یو هیواد کی د دفاع لپاره لګول کیږی، په ښکاره توګه په بهرنی پالیسی کی د هغه د راتلونکو کشالو ښکاره نښانه ده، نو په دی وجه د نورو هیوادونو لخوا په دقیقه توګه تر څارنی لاندی ده. د امنیتی سکتور د بودجی جوړولو د سیاسی اهمیت له کبله د مدنی ټولنی فعاله مداخله تر ټولو مهمه ده.

د یو هیواد کورنی او بهرنی امنیت یوه عامه ښیګڼه ده چی اتباع باید د هغه لګښت په غاړه واخلی. امنیت حتی د هغو عامه مهمو ړومبیتوبونو له جملی څخه دی چی پرته له هغو څخه نوری ښیګنی لاس ته راتلای نشی. په بل عبارت، شخصی آزادی، ټولنیز عدالت، هوسایی او ښوونی او روزنی ته لاس رسی او نور داسی عامه ښیګنی یواځی په یو مصوون چاپیریال کی وده کولای شی، په داسی یو چاپیریال کی چی د هر وګړی امنیت ضمانت کوی.

---

[1]- د مختلفو هیوادونو استخباراتی ادارو فهرست او اړیکی په دغی انترنتی پاڼه کی موندلای شی:
http://www.intelligencesearch.com/intelligence-agencies.html;www.fas.org/irp/world/index.html;http://en.wikipedia.org/List_of_intelligence_agencies

خو د نورو عامه پالیسیو پرخلاف د یوی امنیتی پالیسی د اغیزمنتوب سنجش ډیری وخت ډیر سخت دی. د بیلګی په توګه، څه شمیر سرتیری، څه ډول وسلی یا څومره چمتووالی باید یو دفاعی دستګاه وړاندی کړی ترڅو اغیزمن ثابت شی؟ هغه دفاعی ظرفیت چی د جګړی په وخت کی ورته اړتیا ده د سولی په وخت کی څه ډول ارزیابی شی؟ کورنی امنیت هم ځینی خاصی ننګونی پیدا کوی: د هغو پیسو اغیزمنتوب چی د پولیسو او استخباراتی خدماتو لخوا لګول کیږی، څرنګه حساب شی؟ ربښتینی معلومات، او د بشری حقونو د سرغړونو ثبوت ښایی کله چی د پولیسو له درکه ویره او بی اعتمادی موجوده وی سخت کار وی او د دولت د تأسیساتو غیراغیزمنتوب د سرغړونو قربانیان د معلوماتو په ورکولو کی له خنډ سره مخامخ کړی. د حکومت د نورو پالیسی په پرتله (مثلا، د عامه ښوونی او روزنی په پالیسی کی هر کال د فارغ زده کونکو شمیر د یو شاخص په توګه استعمال شی) د اجراآتو په شاخصونو کی دغه نیمګړتیاوی د امینتی بودجی تحلیل ته نوری ننګونی هم پیدا کوی، خو دا یو غیرممکنه دنده نه ده.

سربیره پردی، د امنتیی حساسو ملی معلوماتو ساتل اکثر د شفافیت او حساب ورکولو میکانیزمونه چی په نورو عامه پالیسیو کی په پام کی نیول کیږی، د کار مخنیوی کوی. پټ پروګرامونه (هغه بودجه چی کیدای شی په مجموعی بودجه کی شامله کړای شی، خو جزئیات او د لګښتونو اړوند سندونه یی نه بربنډیږی) ډیری د دفاعی څیړنو، پرمختیایی، تدارکاتو، استخباراتی فعالیتونو یا پوځی عملیاتو لپاره په لاره اچول کیږی. د پټو عملیاتو هویت، هدف او حتی لګښتونه یی نه یوازی له عامو خلکو بلکه د پارلمان له اکثریت غړو څخه هم پټ ساتل کیږی. په دی وجه مدنی ټولنه او پارلمان دواړه باید د داسی فعالیتو د تعقیب لپاره د منلوړ یوی حساب ورکولو سطحی په لټه کی شی او اجازه ور نه کړی چی اجرائیه قوه پرته له یو معقول دلیل څخه د معلوماتو د پټولو په لټه کی شی.

د دی کار د کولو لپاره یو زیات شمیر هیوادونو د معلوماتو د آزادی یو تړون (FOIA) تصویب کړی دی چی په حقیقت کی د هغو قوانینو نوم دی چی د هغو له مخی وګړی کولای شی معلوماتو ته د لاس رسی حق ولری. د سری او محرمو معلوماتو ساتل د (FOIA) له تړون څخه استثناء کړای شوی دی او دا باید هم د قانون له مخی تنظیم او روښانه کړای شی چی کوم معلومات سری او محرم باید وګڼل شی، د چا لخوا او څوک هغو ته لاس رسی درلودلی شی او څرنګه. د FOIA قانونمندی د پارلمانی غړو او د مدنی ټولنی یو سازمان ته قانونی وسیله ورکوی تر څو اجرائیه قوه حساب او کتاب ته کش کړی او له دی لاری شفافیت خوندی وساتی. د پارلمان ځینی خاصو غړو لپاره چی محرمو معلوماتو ته د لاس رسی اجازه لری، باید قانونی میکانیزم وجود ولری ترڅو حتی د محرمو پروګرامونو او بودجو لپاره تر یوی کچی حساب ورکول خوندی وساتل شی.

یو بل جوړښت چی باید د یوی کلنی بودجی له تحلیل څخه مخکی تر نظر لاندی ونیول شی، دا دی چی امنیتی او دفاعی پالیسی د یوی اوږدی مودی پلان کولو او اصلاحاتو له لاری جوړیږی. په ډیرو هیوادونو کی د امنیتی سکتور تأسیسات د اصلاحاتو او رغولو د یوی متداومی پروسی یوه برخه ده. د وسلوالو ځواکونو کمول، مسلکی کول، بدلون راوستل، د تخنیکی وسایلو سریع بدلون، د ګرانو او پیچلو وسلو د سیستمونو تدارکات، خریداری او مراقبت، د یو لړ پوځی فعالیتنو اجاره ورکول او د خصوصی پوځی او امنیت شرکتونو پراخیدل دا ټول هغه موضوعات دی چی په دی وروستیو وختونو کی په ټوله نړی کی ټولنی ورسره مخامخ شوی دی. د قانون د اجرائیه قوی اداری ډیری وخت هڅه کوی چی د خپلو بودجو په تخصیص کی زیاتوالی راوړی تر څو پرمختللی تحقیقی وسایل، د اطلاعاتو بنستیز زیرمی او په اوسنی وخت کی د تروریزم ضد مبارزی تر شعار لاندی «پوځی» امکانات او ظرفیتونه ترلاسه کړی. په ټولیزه توګه بودجه ستره وسیله ده ترڅو دغه اصلاحات رهبری او تنظیم کړای شی. دغه اوږدمهالی پاملرنی د بودجو تحلیل پیچلی کوی؛ نو په دی وجه عمومی سپارښتنه دا ده چی د یوی یو کلنی بودجی ته د ځیر کیدو پر ځای څو کلنو بودجی تر غور او څیړنی لاندی ونیولی شی.

## د بودجوی دوران په هکله معلومات

د بودجي دوران هغه زماني چوکاټ دی چي په هغه کي د يوی يوکلني بودجي ټولي مهمی پيښی وده کوی: تصميم نيول، تطبيق او ارزونه. بودجوی تحليل بايد د بودجوی دوران څلور ستر پړاوونه سره توپير کړی: طرح، منظوری، اجراآت، ارزونه (مالي پلټنه يا محاسبه). په هر پړاو کي شامل نقشونه او لوبغاړی سره توپير لری او دا د مدني ټولني مسووليت دی چي دغه پروسه تر ارزوني او نفوذ لاندی ونيسی.




## د بودجي طرح

د بودجي طرح د اجرائيه قوی په دننه کي د خبرواترو هغه يوه پروسه ده چي د راتلونکي مالي کال لپاره موجوده بودجه څرنګه د وزارتونو په منځ او څرنګه د هغوی په دننه کي سره وويشي. اجرائيه اداری (وزارتونه) خپل بودجوی وړانديزونه يوی مرکزی اداری (د ماليی وزارت) ته وړاندی کوی. وزارتونه د حکومت د ملي موخو، د وزارت د خپل مشخص هدف او د هغو غوښتنو له مخي چي د هغه دبيلابيلي څانګو لخوا وړاندی کيږی، د لارښوونو له مخی، خپل بودجوی اړتياوی طرح کوی. هر وزارت معمولاً د بودجي د زياتوالي په لټه کي دی، چي معمولاً د ماليی وزارت يی د مالي کال د محدوديتونو او د ملي ړومبيتوبونو له مخی په هغی کي بدلون رامنځ ته کوی. هغه بدلون او سمونوالي چي رامنځ ته کيږی، نه يواځي د موجودو پيسو، بلکه د نورو مصرفي وزارتونو په پرتله د ماليی د وزارت په قوت پوری هم اړه لری. د دی پروسی په پای کی، يوه بودجه مسوده او د اجرائيي لخوا پری موافقه او پارلمان ته د وروستی منظوری لپاره وړاندی کيږی.

## مدنی ټولنه څرنګه کولای شی د بودجی طرح تر نفوذ لاندی ونیسی؟

د بودجی دوران - دغه پړاو اکثر د اجرائیی په دننه کی د تړلو دروازو ترشا صورت مومی اوپه اکثرو هیوادونو کی پارلمان هم په کی مداخله نه کوی. خو بیاهم پارلمانی او عامه بحثونه کولای شی سیاسی ګوندونه او د اجرائیی لوړپوړی چارواکی د بودجی د طرحی په پروسه کی تر نفوذ لاندی راوړی. څومره چی پارلمان زیات د امنیتی سکتور د ړومبیتوبونو او د اوږد مهال دفاعی پلان جوړونی په بحثونو کی (پوښتنی او ګرویڅنی، استیضاح، استماعیه او عمومی غونډی) دخیل وی، هومره مدنی ټولنه کولای شی چی هغو معلوماتو ته زیات لاس رسی ولری چی حکومت څرنګه بودجه جوړوی او دا امکانات پیدا کوی چی په دی اړه خپل وړاندیزونه او بدیل جوړښت وړاندی کړی.

امنیتی سکتور ته تخصیص شوی کلنی بودجه باید په یو څو کلن پلان کی طرح شی. دغه پروسه معمولاً په عامه سندونو لکه د ملی امنیتی ستراتیژیو، بنسټیزو کړنلارو او پالیسیو[1] کی چی د اجرائیی لخوا صادریږی او پری موافقه کیږی، قید کیږی – یا په ځینی هیوادونو کی د پارلمان لخوا مشورتاً طرح کیږی. دغه ډول سندونه ملی ګټی، هدفونه او ړومبیتوبونه تعریفوی او دولتی ادارو ته ځانګړی مسوولیتونه او امکانات ور په برخه کوی، یعنی په یوه منځ مهاله موده کی د ملی امنیتی پالیسی په هکله یو عمومی نظر وړاندی کوی. دغو اسنادو کی کیدای شی چی د دفاعی لګښت پلان شوی سطح، تشکیلاتی پالیسی، د وسلو تدارکات او د امکان په صورت کی د سولی په عملیاتو کی د برخی اخیستلو د شرایطو په هکله لاربښوونی موجودی وی. نو په دی وجه مخکی له دی چی کلنی تخصیص شوی بودجه تر ارزونی لاندی ونیوله شی، غوره ده چی د دغه اوږدمهاله پلان د جوړونی سندونه وڅیړل شی. د دغو اسنادو په تصویب کی د پارلمان ګډون او د هغی په تعقیب عامه بحث د امنیتی سکتور د کلنی بودجی د حساب ورکولو لپاره یو ضروری قدم ګڼل کیږی. د مدنی ټولنی سازمان کولای شی له پارلمان سره همکاری وکړی او همداراز له ډلیزو رسنیو سره، تر څو مهمو موضوعاتو باندی رڼا واچوی.

**۸- ۲ چوکاټ**
**د بودجی په هر قلم کی د کلنی لګښت د ټاکلو میتودونه**

- د لګښت په پام کی نیول شوی سطح د تیر مالی کال لګښتونو پوری تړاو لری.
- د لګښت سطح د ناخالص ملی عاید د یوی فیصدی پر اساس محاسبه کیږی.
- د لګښت سطح کیدای شی چی نړیوالو موافقو پوری هم تړلی وی، د بیلګی په توګه ناتو خپلو متحدینو ته سپارښتنه کوی چی د خپل ناخالص ملی عاید په سلو کی دوه د دفاع لپاره تخصیص کړی.
- د لګښت سطح بهرنیو معیارونو او نښانو پوری هم تړلی ده، د بیلګی په توګه نورو هیوادونو د عین سکتور لپاره په اعظمی توګه څومره مصرفوی، د اتباعو په سر یا د ناخالص ملی عاید د فیصدی له مخی.
- د لګښت سطح یواځی د نویو شرایطو په چوکاټ کی او د موافقه شویو ملی ړومبیتوبونو له مخی ټاکل کیږی، یعنی د نورو ړومبیتوبونو (لکه ښوونه او روزنه، روغتیا او حفظ و مراقبت) سره د پرتله کیدو له لاری.

[1]- نویو او تازه ملی امنیتی ستراتیژیو او نور دفاعی پلان سندونو ته اړیکه په دغی انترنتي پاڼه کی موندلای شی:
http://merln.ndu.edu/whitepapers.html

د بودجې کلنی طرح دوه بیلابیلې سطحې لري چې په هغو کې مختلف مختلفې علاقمندې برخې او اداري سره سیالي کوي
الف- د ملي ږومبیتوبونو ټاکل (امنیتي سکتور ته تخصیص کول)؛
ب- د امنیتي ږومبیتوبونو ټاکل (د امنیتي سکتور په دننه کې تخیصص کول).

د ملي ږومبیتوبونو ټاکل د وزارتونو ترمنځ د موجودو پیسو تخصیص ته اړه نیسي. دغه پړتله کیدل د ټولنې د سیالو سکتورونو(امنیت، روغتیا، اقتصادي وده) د راتلونکې پرمختیا لپاره د حکومت سیاسي انتخابونه څرګندوي. هغه لاره چې حکومت د «ټوپک یا د ډوډۍ د تمویل ترمنځ سیالۍ» [1] د حل لپاره وړاندې کوي په اکثرو هیوادونو کې د بودجې د تحلیل یوه ډیره مهمه موضوع ده. په دې اړه دری معیارونه کیدای شي په کار ولویږي:

۱- د پیسو اندازه چې امنیتي سکتور ته تخصیص کیږي، باید د امنیتي اداري د نقش، ماموریتونو او دندو پر بنسټ د ملي ګټو په مطابق وي؛ اوږد مهال مصارف هم باید په پام کې ونیول شي؛
۲- پلان شوي امنیتي لګښتونه باید د اقتصادي امکاناتو سره برابر وي؛ اوږدې مودې مصارف باید د منځنۍ مودې له اقتصادي وړاندوینې سره اړیکه ولري.
۳- د امنیتي سکتور مالي پیټي باید د ټولنې په سطح د منلو وړ وي.

د امنیتي سکتور ږومبیتوبونو ټاکل تر زیاتې کچې د ملي امنیتي سکتور جوړښت او د هرې اداري د جوړښت نفوذ پورې اړه لري. هغه ډیرې وخت د ادارو ترمنځ د مالي منابعو د تخصیص پر سر د سیالي سبب ګرځي.

## د بودجې منظوري

د بودجې د منظورۍ په پړاو کې پارلمان یو ډیر مهم نقش لري: هغې باندې کتنه کوي، بدلون په کې راوړي او هغې ته قانونیت ورکوي.[2] د ټول عامه لګښت او مالیاتو پارلماني صلاحیت ته په عامه مالیاتي جوړښت کې «د قانون واکمنۍ» وایي او د پارلماني دیموکراسۍ د محوري اصولو څخه شمیرل کیږي.

**۸- ۳ چوکاټ**
**د دولتي بودجو قانوني څارنه**

**په ډیرو هیوادونو کې دولتي بودجه یو قانون ده. پایلې یې څه دي؟**
۱- د یو قانون په توګه د بودجې صلاحیت باید د پارلمان لخوا ورکړ شي؛ نو په دې وجه د تصمیم نیولو په پروسه کې د پارلمان د ګډون ضمانت کیږي.
۲- یو قانون یو عامه وثیقه ده چې ټول وګړي ورته لاس رسی ولري. بودجوي سندونه په انټرنتي پاڼو یا کتابتونونو کې موجودي دي.

[1]- په اصطلاح د «ټوپک او ډوډۍ» تمویل ماډل د کلاسیک اقتصاد «د محصولاتو د امکان سرحد» مثال دی. کله چې لګښت خپل عاید څخه لوړ شي، یو هیواد باید خپله تصمیم ونیسي چې آیا په امنیت کې او که نورو مدني بنسټونو کې پانګې ږدي. یا پرې ټوپک رانیسي یا ډوډۍ او یا به دواړه. دغه ماډل همداراز د «لګښت موقع» نومې مفکوره چې په هر انتخاب کې وجود لري، تشریح کوي: تاسې یوائې هغه وخت زیات شی لاس ته راوړۍ چې یو بل شي څخه صرف نظر وکړی.
[2]- د نړۍ ډیر زیات هیوادونه د بودجې یو دولتي قانون لري چې هر کال یې تصویبوي. ځینې استثنایي هیوادونه وجود لري: کانادا له څلورو بودجوي قوانینو سره، هالند له ۲۳ قوانینو سره یا امریکا متحده ایالات له شپږو سره.

۳- د بودجې له قانون څخه د ملکې یا پوځې چارواکو سرغړونې د سزا وړ دی.

**د دولتې بودجوی قانون او د عادی قوانینو ترمنځ توپیر څه دی؟**

۱- یوائې حکومت کولای شي چې د بودجې وړاندیز طرح او وړاندی کړی.
۲- د بودجې د هرډول زیاتوالی غوښتنې لپاره د مالی منبع د ښودولو د ضرورت سره پارلمانی تعدیلات اکثر محدود دی.
۳- د ټولو سکتورونو کمیټې معمولاً د بودجې په پروسه کې ګډون لری؛ که چیری پارلمان دوه جرګې ولری، دواړه جرګې په یوه وخت کې د بودجې په وړاندیز باندی کار کوی.

پارلمانونه هرکال د بودجې د منظوری لپاره ښه زیات وخت ځانګړی کوی. له وخت سره سمه پروسه د پارلمان لخوا د بودجې د منظوری لپاره حتمی او ضروری ده. دغه پروسه باید له یوی تر دوو میاشتو پوری وخت ونیسی او دوه عنصرونه باید ولری:

- د بودجې د پیشنهاد وړاندی کول
- د تحلیل، بحث او رأی ورکولو لپاره کافی وخت.

په عمومی توګه د بودجې د تصویب لپاره پارلمانی پروسیجر په لاندی ډول دی:

- پارلمانی غړی د بودجې د اسنادو د مطالعې لپاره څو ورځې یا اونی لری؛
- د بودجې وړاندیز د مختلفو سکتورونو د کمیټو ترمنځ چې تر قانونی واکمنې لاندی د حکومت د ادارو لپاره پیشنهاد شوی مالی تخصیص په تفصیل سره بیانوی، ویشل شوی. وزیران او حکومتی چارواکی خپلی بودجې دغو کمیټو ته وړاندی کوی، د غوښتنې په صورت کې اضافی معلومات چمتو کوی او په عمومی توګه پارلمانی غړی د خپلی بودجې د غوښتنې په ضرورت باندی قانع کوی. کمیټې په خپل وارسره د بودجې د تعدیل لپاره اړینې سپارښتنې کوی؛
- د بودجې کمیټه د بودجې ټول وړاندیز تر غور لاندی نیسی، د کمیټو لخوا وړاندی شوی سپارښتنو باندی کتنه کوی (دا کمیټې مجبوری نه دی چې د بودجې پروسه تعقیب کړی)، د دولت د ټولې بودجې د استحکام په هکله یو ریپوټ وړاندی کوی او بیا بودجه د پارلمان غونډې ته وړاندی کوی؛
- د پارلمان عمومی غونډه د بودجې هر فصل ته رأیی ورکوی، د کمیټو لخوا وړاندی شویو تعدیلاتو باندی کتنه کوی. موافقه شوی متن د دولت د بودجې قانون ګرځی.

په دغه پړاو کې د پارلمان اجرائی توانمندی نقش اساساً دوو فکتورونو پوری تړی دی: د لاس ته راغلو معلوماتو کیفیت او معقولیت او حقیقی صلاحیت چې بودجې ته بدلون ورکړی.

د بودجې وړاندیز کیدای شي چې په اوږدوالی کې د یوڅو پاڼو څخه جوړ شوی سند وی چې په محتوی کې مختلفو ادارو ته د تخصیص شویو پیسو یوه عمومی مجموعه درج وی، خو هغه کیدای شي چې په سل ګونو پاڼی وی له پیچلو او تفصیلی معلوماتو سره. د بودجې سند په ځینو هیوادونو لکه د چک جمهوریت، هنګری، جاپان، نوی زیلاند او پرتګال کې د ۵۰۰ تر ۱۰۰۰ کرښو پوری بودجوی اقلام

لري. په اتریش، دنمارک، ایتالیا، ناروی، سویس او امریکا متحده ایالاتو کی تر ۲۰۰۰ کربنو پوری رسیږي او په آلمان، اسپانیې او ترکیې کی له ۲۰۰۰ کربنو څخه اوړي.[1]

دوهم، د بودجې په پروسه کې د پارلمان د اغیزې اړینه شاخص دی پوری تړلی دی چې هغه په کومه کچه د تعدیل په پروسه کې د بودجې په محتوی باندی نفوذ لري. د بودجې د منظوری په پړاو کې د پارلمانونو د قانوني صلاحیتونو د څرنګوالي لپاره دری ماډلونه وجود لري:[2] د بودجې د تعدیل لپاره نامقید صلاحیتونه، د بودجې د تعدیل لپاره نسبي مقید صلاحیتونه او د بودجې د تعدیل لپاره محدود صلاحیتونه.

د بودجې د تعدیل لپاره د نامقیدو صلاحیتونو معنی دا ده چې پارلمان کولای شي چې د بودجې وړاندیز ته بدلون ورکړي او خپله د لګښتونو نوی وړاندیزونه وکړي. له نظری لحاظه د تعدیل دغه ډول صلاحیتونه پارلمان ته اجازه ورکوی چې د حکومت لخوا ټوله پیشنهادی بودجه له سره ولیکي. د دفاعي بودجې په طرح کې د امریکا متحده ایالاتو د کانګرس صلاحیت حتی د اجرائیه قوی یعنی د جمهور رئیس لخوا وړاندی شوی بودجې څخه هم ډیر زیات دی، کانګرس دغه بودجه تحلیل او په تفصیل سره په هغې کې بدلون راوړي. د آلمان فدرالي شورا (Bundestag) او د هالند او دنمارک پارلمانونه هر کال په بودجوی تعدیلاتو باندی لاس پوری کوی. دغه راز په اتریش، بلجیم، فینلند، ایتالیا، ناروی، پرتګال او هنګری کې هم پارلمانونه له نامحدودو صلاحیتونو څخه برخمن دی. په دغو هیوادونو کې د مدنی ټولنی سازمانونه هم په بودجوی تعدیلاتو کې د پام وړ وزن لري.

هغه پارلمانونه چې له مقید صلاحیتونو څخه برخمن دی هم کولای شي چې تر هغې کچې پوری په بودجه کې تعدیلات راوړي چې د اجرائیې لخوا د وړاندی شوی عمومي بودجې د کسر یا مازاد له ټاکلې چوکاټ څخه بېنه وا نه اړوی. د تعدیل دغه ډول صلاحیت پارلمان ته اجازه ورکوی چې د حکومت په ړومبیتوبونو کې بدلون راوړي او د نوی تخصیص له مخې پر وروستي بودجوی ړومبیتوبونو باندی تصمیم ونیسي. د مجموعي کسر چې په کې بدلون رامنځ ته نشي، د خوندی ساتلو لپاره د مقید صلاحیت دلیل دا دی تر څو کلنی مالي انظباط او د سترو اقتصادی سکتورونو شاخصونه مراعات شي. په دی وجه پارلمان باید د بودجې په هر قلم کې د کموالي د راوستلو په مطابق د غوښتل شوی زیاتوالي لپاره مالي سرچینه ښکاره کړي او یا د زیاتولي لپاره نوی مالي سرچینې تأسیس کړي. پرته له دی چې د زیات مصرف او لږی مالیې درلودل په بودجه کې نه رغوونکی کسر رامنځ ته کوی. د چک په جمهوریت، فرانسې، مکسیکو، پولند، اسپانیا او رومانیا کې پارلمانونه دغه ماډل تعقیبوی.

په دیموکراتیکو هیوادونو کې ډیر لږ پارلمانونه شته دی چې د بودجې د تعدیل په پروسه کې له محدود صلاحیتونو څخه برخمن وی. دغه ډول پارلمانونه یواځې دومره کولای شي چې موجود لګښت کې کموالي رامنځ ته کړي، پرته له دی چې سپمول شوی بودجه د نورو ړومبیتوبونو لپاره بیا تخصیص کړي، یا دا چې هغوی خپله په بودجه کې هیڅ بدلون راوستلی نشي، یواځې د دولت لخوا وړاندی شوی بودجه یا منی او یا یې ردوی. د بریتانیا ډوله پارلمانونه د دغه ماډل نمونی دی. په ځینو هیوادونو کې بودجوی تعدیلاتو (د بریالیتوب په صورت کې) ته د اجرائیه قوی په وړاندی د نه اعتماد رأیې د ورکړی سره مساوی ده او حکومت مجبوره کوی چې استعفاء ورکړي (کانادا، بریتانیا، هند، نوی زیلاند، جنوبی افریقا او زیمبابوی د دغو ډول پارلمانونو بیلګې دی). د بودجې په منظوری کې د یو دا ډول قانوني صلاحیت نیمګړتیا کیدای شي چې د بودجې د طرحې د دوران په نورو پړاونو کې د پارلمانونو او مدنی ټولنی د یوی فعالی مداخلې سره تلافي شي.

---

[1] - OSCD, Budget Practice and Procedures Survey, Part III- Passing the budget, 2007, available online at http://webnet4.osced.org/budgeting/Budgeting.aspx

[2] Ibid

**مدنی ټولنه څرنګه کولای شی چی د بودجی منظوری تر نفوذ لاندی راوړی؟**

کله چی د بودجی سند پارلمان ته وړاندی شو هغه باید د عامه خلکو په اختیار کی کیښودل شی او حکومتی ړومبیتوبونه عامه بحث ته وړاندی شی. د بودجی د منظوری په پړاو کی د نفوذ موندلو لپاره د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی خپل نظریات او د بودجی د تخصیص په هکله خپل وړاندیزونه له دغو لارو پارلمان ته واستوی:

- پارلمانی غړو ته په مستقیمه توګه چی کیدای شی په خپلو دفترونو کی ورسره تماس ونیول شی؛
- د پارلمان اړوندو کمیټو ته لیکونه استول؛
- کله چی بودجه تحلیل کیږی، د کمیټو په غونډو کی ګډون کول؛
- له رسنیو څخه د خپلو غړونو د اوچتولو لپاره کار اخیستل.

**۸- ۴ چوکاټ**
**د بودجی د تعدیل لپاره د پارلمان صلاحیت**

| د صلاحیتونو کچه | هیوادونه (بیلګی) |
|---|---|
| غیرمقید | اتریش، بلجیم، دنمارک، فینلند، آلمان، هنګری، ایتالیا، هالند، ناروی، پرتګال، سلواکیا، سویډن، سویس، امریکا متحده ایالات |
| مقید (تعدیلات باید د کسر یا مازاد مجموعی ته بدلون ور نه کړی) | د چک جمهوریت، فرانسه، پولند، رومانیا، اسپانیا، سویډن، ترکیه |
| محدود (یوازی د بودجی د اقلامو د شمیر د کمول یا هیڅ بدلون نه راوستل) | کاناډا، بریتانیا، آیرلند، یونان |

سرچینه: OSCD, Budgeting Database 2002&2007, DCAF Survey 2006[1]

معمولاً پارلمان په بشپړه توګه د حکومت بودجوی معلوماتو پوری تړلی دی، خصوصاً د امنیتی موضوعاتو په هکله. ډیر لږ پارلمانونه د بودجی خپل ځانګړی څیړنیزی څانګی لری (په دی اړه ځینی هیوادونه لکه ایتالیا، جنوبی کوریا، بریتانیا او د امریکا متحده ایالات استثناء دی) او ډیری لږی پارلمانی کمیټی د بودجی د تحلیل لپاره مسلکی غړی لری. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی په دی اړه ښه خدمت وکړی، هغه دا چی خپل کارپوهتوب او کارپوه کسان ورته معرفی کړی او پارلمانی غړو ته سلا مشوری ورکړی چی څرنګه عامه پیسی په مصرف ورسیږی. خپلواک کارپوهان، څیړندویان، نظریاتی مرکزونه او لیوالی ډلی (لکه مسلکی انجمنونه یا مسلکی اتحادیی) کولای شی چی د پارلمانونو لپاره د ارزښت وړ معلوماتی سرچینو بدیل وګرځی.

څومره چی د بودجی په منظوری کی د پارلمان صلاحیتونه پیاوړی وی، هومره به په دی موضوع کی د مشوره ورکولو لپاره د مدنی ټولنی له قوت څخه برخمنی وی. نو له دی کبله د مدنی ټولنی په کټه ده چی هغسی یو ملی پارلمان ولری چی د ملی ګټو او ښیګنو له غوښتنی سره سم دبودجوی تعدیلاتو سره

[1] The OSCD budgeting Database, in OECD Journal on Budgeting Volum 1 No 3, 2002, pg 156-157, available at http://www.oecd.org/dataoecd/13/13/33657560.pdf OECD 2007 Budget Practices and Procedures Survey, Part III-Pasing the budget, table 8, available on line at http://webnet4.oecd.org/budgeting.aspx The DCAF survey collected responces fro, 27 Parliaments members of NATO PA, in response to a questionnaire on the role of parliament in defence budgeting.

نه یوائې لیوالتیا بلکه د بدلون راوستلو صلاحیت هم ولري. مدني ټولنه باید ومومي چې د بودجې د منظورۍ په پړاو کې پارلمان څه ډول صلاحیتونه لري او له دې صلاحیتونو څخه څرنګه کار اخلي. دا ځکه چې ډېرې وخت داسې پېښیږي چې د تعدیلاتو لپاره د پارلماني صلاحیت سره سره، په عمل کې نرم دریځ غوره کیږي او بودجه تر زیاتې کچې د اجرائیې تر کنترول لاندې پاتې کیږي. په دې وجه پر بودجې باندې د کمزورې پارلماني نفوذ وجه یوائې د هغه د قانوني صلاحیتونو نیمګړتیا نه، بلکه کمزوره سیاسي اراده ده چې د سیاسي ګوندونو او د هغوی د داخلي بې کفایتیو څخه سرچینه اخلي.

**۸- ۵ چوکاټ**

**په عمل کې د بودجوی تعدیل لپاره د پارلمان صلاحیتونه[1]**

| د بودجې په منظورۍ کې | هیواد |
| --- | --- |
| ستر او مهم بدلونونه راوړي | دنمارک، آلمان او امریکا متحده ایالات |
| کوچني بدلون راوړي | اتریش، بلجیم، دنمارک، فینلند، آلمان، هنګری، ایتالیا، آیرلند، هالند، ناروی، پرتګال، سلواکیا، سویدن، سویس، د چک جمهوریت، فرانسه، پولند، رومانیا، اسپانیا، سویډن، ترکیه |
| هیڅ بدون نه راوړي | کانادا، یونان، ایرلند، بریتانیا |

## بودجوی اجراآت

بودجوی اجراآت چې په حقیقت کې د بودجې د قانون پلي کول دي د حکومت د ادارو په دننه کې د دریم اړخ له مداخلې پرته یوه پرله پسې پروسه ده. کله چې بودجه تصویب شوه، د بودجې مرکزي اداره (معمولاً د مالیې وزارت) د دولت د هر اداری لپاره د یو ملي جاري حساب (Account) د پرانیستلو له لارې اړوندې ادارې ته د تخصیص شوې بودجې د لګښت څرنګوالی څاري. د هر ادارې د یوې داخلي څانګې لخوا مالي کنترول ډېر ضروري دی تر څو ډاډ لاس ته راشي چې آیا منظور شوې بودجه د ټاکلو هدفونو سره سم مصرفیږي؟ په ډېرو هیوادونو کې وزارتونه د کنترول یوه داخلي څانګه لري او د دغو څانګو تشکیلات او صلاحیتونه د قانون له مخې څرګند کیږي.

## د بودجې په اجراآتو کې مدني ټولنه څه نقش لوبولای شي؟

دا چې بودجوی اجراآت یوه اجرائیوی دنده ده، د مدني ټولنې سازمانونه د دغې دندې څارنې لپاره ډېر محدود ظرفیت لري. خو بیاهم د پارلماني مداخلې، عامه بحث او د مدني ټولنې د مداخلې لپاره یو شمیر نفوذي دروازې وجود لري. په هغو کې د تکمیلي بودجې په وخت کې بحث، د پارلماني کمیټو استماعیه غونډې او دفاعي تدارکات شامل دي.

تکمیلي بودجې له پیشنهادي تعدیلاتو څخه عبارت دي ترڅو تر کلني بودجه خوندي وساتله شي، دغه بودجه د حکومت لخوا پارلمان ته وړاندې کیږي. په مالي کال کې اداری هلې ځلې لري ترڅو هغه بودجه په مصرف ورسوي چې دوی په هغو شرایطو کې لاس ته راوړي چې د هغوی لخوا د طرح شوې بودجې سره توپیر لري. ډېرې وخت ځینې د نه وړاندوینې وړ مسائل او فعالیتونه پېښیږي لکه سوله ساتي عملیات او یا بیړني حالات، چې وزارت د هغو لپاره د یوې تکمیلي یا اضافي بودجې غوښتنه کوي. په نتیجه کې د بودجې ټول سیستمونه د بودجوی اجراآتو په پړاو کې د تصویب شوې

[1] OECD 2002, ibid.p.160

بودجې د بدلون لپاره د پیسو د لیږدولو، نوی پروګرام جوړولو، بیړنی فیصلی یا د تکمیلی نورو اضافی پیسو د غوښتنې لپاره ځینې ظرفیتونه وړاندی کوی. د نورو پیشنهادی قوانینو په څیر د عین پروسیجر څخه وروسته تکمیلی بودجه هم باید د پارلمان لخوا تصویب شی.

د کمیټو د استماعیه غونډو له لاری پارلمانی څارنی، د حکومت له استازو سره لیدنه کتنی او د امنیتی سکتور ځایونو او مقرونو ته ورتګ دا ټول زمینه مساعدوی چې په عمل کی بودجې څرنګه پلی کیږی. د ډیرو اروپایی پارلمانونو لخوا د دفاعی بودجې د اجراآتو چې د دفاعی کمیټو د استماعیه غونډو مهم موضوع جوړوی، رپوټ ورکول کیږی. دغه کمیټې د څارنې د فعالیتونو په وخت کی د وضعیت په هکله ډیری وخت مطبوعاتی اعلامیی (لکه په رومانیا کی) یا رپوټونه (لکه په بریتانیا کی) خپروی.

دفاعی تدارکات[1] ، هغه یو پروسه چې ملی امنیتی چارواکی وسایل او خدمات په هغې کی لاس ته راوړی، د عمومی دفاعی بودجې یوه ډیره مهمه برخه ده. دفاعی تړونونه ډیر زیات عامه پاملرنه ځان ته راواړوی، ځکه هغوی د عامه لګښت د یوی ډیری زیاتی برخې استازیتوب کوی او بل دا چې هغه د ملی صنعت د سیاست لپاره اهمیت لری او په عین وخت کی د اختلاس او بډو اخیستلو وړتیا لری.[2] دوه څیزونه د دفاعی تدارکاتو د حساب ورکولو لپاره اړین دی:

- یو ښکاره او څرګند قانونی چوکاټ چې د نورو مسائلو سربیره د یوی رقابتی تدارکاتی پروسی ضمانت وکړی. یواځنی سرچینه، یا غیررقابتی تدارکات باید د نورو عمومی مقرراتو او شرایطو څخه جلا تعریف شی، او که چیری دغسی یوه استثناء موجوده وی، باید په ښکاره توګه په قانون کی تشریح شی؛
- د څارنی د دودیز لارو چارو له لاری لکه پوښتنی، استیضاح، استماعیه، تحقیقات او داسی نور پارلمانی مراقبت، ترڅو د اختلاس[3] او د «ملی ګټو» په هکله د تعصب څخه د ډکو اندیښنو مخه ونیوله شی.

## د بودجې ارزونه

د بودجې ارزونه یوه تخصصی آزموینه ده چې وکتل شی آیا یو تطبیق شوی بودجه د قانونی، مالی او اجرائی معیارونو سره سم تطابقت لری که نه. بودجوی ارزونه کیدای شی چې د حکومتی ادارو په دننه او بهر کی سرته ورسیږی او دا د عامه کتنی لپاره د بودجوی دوران تر ټولو پرانیستی پړاو دی. د دغه پړاو مناسبت په هغې یوی لاری پوری تړلی دی چې حکومت د ارزونی د نتایجو لپاره مخکی له مخکی ټاکلی ده او د راتلونکی بودجې له وړاندیز سره جوخته کړی ده؛ دلته اغیزمن معیارونه کولای

---

[1]- د زیاتو معلوماتو لپاره په دفاعی تدارکاتو کی د پارلمان نقش په هکله د DCAF پسمنظری معلومات وګوری:
http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?lng=en&id=25266&nav1=4

[2]- د بډو ورکولو د نړیوال شاخص بین المللی شفافیت د دفاع سکتور تر ټولو زیات د بډو اخستلو وړ سکتور ګڼی، له هغی وروسته د تیلو سکتور او د مواصلاتو پروژی دی. د پوځي لګښتونو او اختلاس په هکله د نړیوال وجهی صندوق، IMF، رپوټ څرګندوی «تدارکات هغه یو مهم چینل دی چې احتلاس پر پوځی لګښتونو باندی اغیزه کوی». سر بیره پر دی د همدی رپوټ له مخی د وسلو د لاس ته راوړلو لپاره په لګښت باندی په سلو کی ۱۵ په بډو کی مصرف کیږی. د امریکا د متحده ایالاتو د تجارت وزارت په نړیوالو معاملو کی په سلو کی ۵۰ د بډو اټکل کوی چې د دفاعی قراردادونو لپاره تحویل کیږی؛ د عراق د عملیاتو لپاره ډیر زیات دفاعی قراردادونه ورکړای شول.
http://www.transparency.org/policy_research/surveys_indices/bpi

[3]- د دفاعی اختلاس د معلوماتو د اروزنی شتمنی سرچینی، د تدارکاتی پروسی او د بډو اخیستلو د وړتیا په موضوع کی معلومات کولای شی چې په دی لاندی انترنتی پاڼه کی ومومی.
http://www.defenceagainstcorruption.org/ and http://www.transparrency.org/

شی چی د حکومت پر تصمیم نیولو باندی نفوذ وکړی، نه یواځی په ملی، بلکه په نړیواله سطح کی هم، که چیری ناوړه چلند او نه اغیزمنوب تشخیص کړای شی.

## مدنی ټولنه د بودجی په ارزونه کی څه نقش لوبولای شی؟

پارلمان، غیرحکومتی سازمانونه، ډله ایزی رسنی او ملی مالی پلټنی تأسیسات ټول کولای شی چی په دغه پړاو کی نقش ولوبوی او ډاډ لاس ته راوړی چی آیا عامه مالی سرچینی په اغیزمنه توګه مصرف شوی دی که نه او بیا دغه لاس ته راغلی معلومات عامو وګړو ته واستوی.

د بودجی اجراآت باید د فعالیتونو د یو کلنی رپوټ او د محاسبی له رپوټونو سره پای ته ورسیږی، کوم چی د حکومت د ادارو لخوا د پیسو د مصرف د څرنګوالی په هکله د معلوماتو لومړی سرچینه ده. دغه رپوټونه اکثر پارلمان ته وړاندی کیږی او د عامو خلکو په اختیار کی هم ایښودل کیږی. د عامه علاقمندی د اړوندو پروژو د اغیزمنتوب او اجراآتو په هکله معلومات اوس کیدای شی چی لاس ته راشی.

له دی کبله چی د بودجی ارزونه او بیا په خاصه توګه د حسابی پلټنی مالی برخه یوه تخصصی هڅه ده، نو د ملی مالی حسابونو د پلټنی تأسیسات (چی د محاسباتو د دیوان په نامه هم یادیږی) په دی پړاو کی یو ډیر ستر نقش لوبوی. دا د دولت یو ارګان دی چی د قانون له مخی په لوړه سویه د دولت د عامه مالی پلټنی دنده په غاړه لری. هغه د ټولوحکومتی څانګو په مسلکی توګه د مالی حسابونو پلټنه کوی. د محاسباتو د دیوان رپوټ پارلمان ته وړاندی کیږی او بیا د عامو خلکو په اختیار کی ایښودل کیږی. د یوی اغیزمنی بودجوی ارزونه ښه مثال د بریتانیا د محاسباتو د دیوان کار دی؛ د حکومتی څانګو د مصارفو په هکله هغه هر کال په پوره تفصیل سره پنځوس رپوټونه تولیدوی. د بیلګی په توګه هغه د سترو پروژو یو کلنی رپوټ وړاندی کوی چی په هغه کی د دفاع وزارت د ۲۵ سترو تدارکاتی پروژو تفصیلات وجود لری.[1]

د بودجوی دوران په نورو پړاونو کی د پارلمانونو د صلاحیتونو سربیره هغوی کولای شی چی د دفاعی لګښتونو په پلټنو کی د استماعیه، پوښتنو او ګرویځنو او عامه ذهنیت ته د معلوماتو ورکولو د رپوټ له لاری یو ډیر خوځونکی نقش ولوبوی. په بدل کی دا کیدای شی چی د څیړنی او مدنی ټولنی د سازمانونو د هڅولو له لاری تر نفوذ لاندی ونیول شی.[2] که چیری د هغوی سپارښتنی د بودجی د طرحی په وخت په پام کی ونیولی شی، کیدای شی چی د بودجی د منظوری په وخت کی د زیات د تعدیل راوستلو مخه ونیسی.

په حقیقت کی د پارلمان او د محاسباتو د دیوان لخوا خپاره شوی رپوټونه عام وګړو ته باید موقع ورکړی ترڅو د حکومت د ادارو لخوا د لګول شویو پیسو قانونیت، اغیزمنتوب او ګټورتوب ارزونه وکړی. د بیلګی په توګه د RESDAL په نامه د لاتینی امریکا د مدنی ټولنی یو سازمان چی مقر یی په بوینس آیرس کی دی په خپلواکه توګه د ملی دفاع بودجی تر غور او ارزونی لاندی نیسی (۸- ۶ چوکاټ مطالعه کړی).

---

[1] - د بریتانیا د محاسباتو د دیوان رپوټونه په لاندی انټرنتی پاڼه کی موندلای شی.
http://www.nao.org.uk/publications/nao_reports/05-06/0506595_IIpdf

[2] - د بیلګی په توګه د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا یو تفصلی رپوټ چی غواړی د یو هراړخیز تحلیل له لاری په دفاعی سکتور کی د لګښتونو په هکله بحث تر نفوذ لاندی ونیسی، په دی اړه دا سرچینه وګوری:
Dian Kartika Sari (ed), Indonesia’s Defence Economy Reform, Infid&Pacivis, Jakarta, 2006.

### ۸- ۶ چوکاټ
### RESDAL: د بودجې په ارزونه کې د مدني ټولنې د عملي تجربې خاوند سازمان

له ۲۰۰۱ کال څخه راپدیخوا د لاتیني امریکا یوغیرحکومتي سازمان، Red de Seguridad y Defensa en Amlerica Latina، (RESDAL) چې له ۳۰۰ اکادیمکرانو او متخصصینو لخوا جوړ شوی دی په هراړخیزه توګه په امنیتي بودجو باندی کار کوي. د تجربې له لارې بودجوی تحلیل ثابته کړیده چې د کارپوهتوب ترڅنګ له مختلفو لوبغاړو سره د شخصي او تأسیساتي اړیکو په مرسته سړی نه یوازې معلومات، بلکه د بودجوی دوران په هکله د هغوی نظریات هم تر لاسه کولای شي.

RESDAL یوی میتودولوجي ته وده ورکړې چې د دفاعي بودجې د تصمیم نیولو پروسه تحلیلولی شي. دغه میتودلوجي د دفاعي پالیسي کاری چوکاټ، ملي قانوني اختیارات، د اجرائیه او مقننه قواوو نقش، کورني او بهرنې کنټرول او د مدني ټولنې د لوبغاړو کړه وړه سره ارتباط ورکوي. دغه میتودلوجي د ارجنتاین، بولیویا، برازیل، چیلي، کولمبیا، ایکوادور، ګواتیمالا، هوندوراس، مکسیکو، نیکاراګوا، پارګوای، پیرو او وینزویلا د هیوادونو د ملي دفاعي بودجو په برخه کې پلې شوی ده.
په لاتین امریکا کې د دفاع پرتله ایز اطلس د دغې سیمې په ۱۶ هیوادونو کې د دفاعي بودجې تحلیل وړاندی کوي. هغه د یوی پرتله ایزې میتود لوجې څخه لاس ته راغلې ارقام سره پرتله کوي چې د سیمه ایزو اطلاعاتو لومړی سرچینه ګڼله کیږی. دغه اطلس په دې انټرنتي پاڼه کې موندلای شي:
http://www.resdal.org/

لنډه دا چې دری بودجوی کلونه په هر وخت کې باید په پام کې ونیول شي: د راتلونکی بودجې د اټکلونو طرح، د رواني بودجې تطبیق او اجراء او د تیرکال د بودجې د تطبیق ارزونه.

## د بودجوی اسنادو لوستل

«دفاعي بودجه» او «پوځي لګښتونه» د امنیتي سکتور د بودجې پر سر بحثونو کې تر ټولو زیات معمول اصطلاحات دی چې استعمالیږی. دغه دواړه برخې د امنیتي سکتور د لګښتونو د وسایلو د لوړو بیو له امله یوه ډیرهستره برخه جوړوی. په داسې حال کې چې دفاعي بودجه د لاندی بحث مهمه موضوع ده، د امنیتي سکتور د ادارو د بودجې د مطالعې لپاره له همدغه ډول میتودولوجیو څخه کار اخیستل کیږی.

«دفاعي بودجه» هغه اطلاعات ښکاره کوي چې د دفاع وزارت د بودجې تر عنوان لاندی د حکومتونو لخوا وړاندی کیږی. «پوځي لګښتونه» د دفاعي تأسیساتو ټول کلني مصارفو ته وایي. پوځي لګښتونه ډیری وخت د غیردفاعي وزارتونو، د دفاعي بودجې کرښو ته علاوه کیږی، له بهرنی پوځي مرستو او نورو له بودجې بهر لګښتونو څخه جوړ شوی دی. د بیلګې په توګه پوځي جوړښت، د وسلو تدارکات، د پوځیانو تقاعدی مصارف، لاس ته راغلي پوځي مرستې او د نیمه پوځیانو لګښتونه دا ټول کیدای شي چې پرته د دفاع تر نامه لاندی تر نورو (لکه پرمختیا، اقتصاد، ټولنیز امنیت یا کورني چاری او داسې نور) عناوینو لاندی ونیول شي. دغه د بودجې څخه بهر مصارف په سختۍ سره د تشخیص وړ دی، په دی وجه هغه ځیني وختونه له غیرپوځي مصارفو سره ترڅاو نیسي او بیا نو توپیر یې ډیر سخت دی. ځیني وختونه په قصدی توګه هڅه کیږی چې دغه ډول لګښتونو باندی پرده واچوله شي. دغه راز

پوځی لګښتونه کیدای شی چی د اضافی بودجوی لګښتونو سره هم ډیر زیات لوړ لاړ شی. [1] په هغو هیوادونو کی چی د امنیتی سکتور اصلاحات وجود نه لری یا په بشپړه توګه تطبیق شوی نه دی، پوځ اکثر طبیعی زیرمی کنترولوی او فابریکی، کوپراتیفونه، دکانونه او نور دغسی تجارتی تأسیسات چلوی چی زیات عاید لاس ته راوړی. له دغه عایدات یا د لوړپوړو پوځی چارواکو د معاشونو د لوړولو لپاره او یا د وسلو د اخیستلو او داسی نورو توليزو لګښتونو لپاره کار اخیستل کیږی. [2]

د ټولو دفاعی لګښتونو د حسابولو لپاره بله غټه ستونزه د پوځی وسایلو د رانیولو له امله پورونه دی. د پوځی وسایلو واردات چی د بهرنیو پورونو له لاری تمویلیږی یو ستر اقتصادی فشار او پیټی دی او د هغو د سود او د پور د بیرته ورکړی لپاره چی کومی پیسی ورکولی کیږی، په ډیری سختی سره د دولتی بودجی په سندونو کی راوستل کیږی.

<table><tr><td>

**۸- ۷ چوکاټ**

**د «دفاع بودجی»له اصطلاح څخه مقصد څه دی؟**

د پوځی مقاصدو لپاره عامه تخصیص شویو لګښتونو په هکله د یو هراړخیز انځور د لاس ته راوړلو لپاره باید دغه لاندی ټکی تر آزموینی لاندی ونیول شی:

په دفاعی بودجه کی هغه لګښتونه چی **معمولاً شامل** دی:

- پرسونل (په اوسنی پرسونل باندی ټول لګښتونه، پوځی او ملکی: معاشونه، اعاشه، د پرسونل او د هغو د کورنیو لپاره ټولنیز خدمات)
- عملیات او مراقبت
- د وسلو تدارکات
- پوځی څیړنی اوپرمختیا
- پوځی مرستی (د مرسته کونکی هیواد په بودجه کی شکاره کیږی)

پوځ پوری اړوند برخی چی له دفاعی بودجی څخه **ډیری وخت ایستل** کیږی:

- ملکی دفاع
  - اقتصادی دفاع (د ستراتیژیکی بنسټیزو تأسیساتو، د تیلو د زیرمو، د خوراکی توکو د زیرمو او داسی نورو ساتل)
  - روحی – روانی دفاع (د دښمن د تبلیغاتو او پروپاګندونو په وړاندی دفاع)

</td></tr></table>

[1]- په چیلی کی د مسو د دولتی شرکت د عاید یو کوچنی فیصدی څخه د وسلو د وارداتو لپاره کار اخیستل کیږی، خو هغه هیڅکله د حکومت د منظمو حسابونو له لاری نه تیریږی. په ډیرو افریقایی او آسیایی هیوادونو کی د دولت د رسمی بودجی څخه بهر پوځ ستری بهرنی عایداتی سرچینی لری. په نایجریا کی د جنرال Sani Abacha تر واکمنی لاندی د تیلو له درکه د لاس ته راغلی عاید ډیر زیاته برخه د وسلو د رانیلو لپاره په کار لویدلی. او پر وسلوالو ځواکونو باندی مصرف کیدلی. دغه بهرنی سرچینی او همداراز د پوځ اضافی بودجوی فعالیتونه په عمومی توګه پوځ ته دا آزادی ورکوی چی څرنګه چی زړه یی غواړی هسی پوځی لګښت وکړی، پرته له دی چی پری کوم کنترول ټینګ وی. د UNDP د بشری حقونو د ۲۰۰۲ کال له رپوټ څخه اخیستل شوی معلومات، پاڼه ۸۹.

[2]- په اندونیزیا کی د دفاعی دستګاه یواځی په سلو دیرش لګښتونه په دولتی بودجه کی نیول کیږی. پاتی یی د نوموړو پوخی تجارتی فعالیتونو له درکه تمویل کیږی. پر داسی مالی عایداتو باندی هیڅکله کنترول وجود نه لری. په Beni Sukadis او Sukadis کی د پوځی تجارت اصلاحات تر کتنی لاندی نیول شوی دی، Toward Professional TNI Business Restructuring, FES& Lesperssi, Jakarta, 2005.؛ همدارا Beni Sukadis, Almanac on Indonesian Security Reform 2007, Jakarta,2007 چی په لاندی پاڼه کی دی وګوری:
http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?id=39772&nav1=4

- اوسنی لګښت د پخوانیو پوځی فعالیتونو لپاره (دا کیدای شی چی د غیردفاعی وزارتونو په بودجو کی ښکاره شی)
    - د پخوانی پوځیانو لپاره حقوق (تقاعد، اضافی معاش او نور داسی مالی امتیازات)
    - د وسلوالو ډلو ملکی کول او په عام ټولنه کی د هغوی ادغام لپاره پروګرامونه
    - د وسلو د تولیدی تأسیستو بنه بدلول
    - د وسلو ویجاړول

- د کورنیو چارو د وزارت د بودجی تر اقلامو لاندی دفاعی لګښت (د نیمه پوځی ځواکونو لکه ژاندارمری، داخلی محافظین)
- په پرمختیایی پروژو کی د پوځی کارکونکو لپاره معاشونه (لکه د سړکونو جوړول او داسی نور)
- پوځی ودانی (دا کیدای شی چی د پرمختیایی چارو د وزرات په بودجه کی ونیوله شی)
- بهرنی پوځی مرستی (دا د مرستی اخیستونکی هیواد په بودجه کی نه راځی)
- د وسلوالو ځواکونو د اقتصادی فعالیتونو څخه عایدات
    - د خصوصی کولو، پلورلو یا اجاره ورکولو له لاری د دفاعی تأسیساتو بدلول
    - د پوځ لخوا طبیعی زیرمو ته لاس رسی او د هغو استخراج
    - پوځی تجارتی فعالیتونه (چی کله مالیه پری نه راځي)

- د پوځی خریداریو له امله پورونه کول (د تمویل شویو پوځی وسایلو سود او د پورونو بیرته ورکړی د بهرنیو پورونو له لاری)
- جنس په جنس تجارت (د پوځی وسایلو په بدل کی نور جنسونه یا مالونه ورکول)
- احتیاطی مالی بودجه او د بیړنیو حالاتو بودجه (کیدای شی چی ځینی وختونه یواځی د بودجی په تصویب یا په اضافی او تکمیلی بودجه ښکاره شی.)
- «توره بودجه» - د پټو عملیاتو هدف او مصارف د دولتی بودجی په سندونو کی نه ښودل کیږی یا که چیری وشی نو نه په څرګنده توګه.

سربیره پر دی «توره بودجه» چی د پټو عملیاتو لپاره د اجرائیه قوی لخوا تصویب کیږی، یو ډول «سپین چک» دی چی حکومت یی له پارلمان څخه غواړی. د پارلمان ډیر لږ غړی د دغی بودجی د محتوی په هکله خبریږی او د خپلواکو کارپوهانو لپاره نا ممکنه ده چی دغه ډول بودجه تحلیل کړی یا پری نیوکی وکړی.

**۸ـ ۸ چوکاټ**

**په امریکا متحده ایالاتو کی توره بودجه**

د لاس رسی خاص پروګرامونه، Special Access Programmes (SAP) یا د لاس رسی خاصی بودجی، Special Access Budgets (SAB) د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت اصطلاحات دی چی «تورو پروګرامونو» او «تورو بودجو» ته استعمالیږی.[1] د ASP صلاحیت د جمهور رئیس لخوا ورکول کیږی. د پارلمان د یو فیصد څخه زیات غړی د توری بودجی د محتوی په هکله معلومات نه لری.

[1] See New York Times, February 28, 1989, „Washington Talk: Briefing; A Revision of Jargon”, at http://query.nytines.com/gst/fullpage.htm?res=950DEID81439F93BA15751COA96F948260

د تورو پروګرامونو په جمله کې ځینې داسې نور پروګرامونه چې ډېر حساس ګڼل کیږي او هغوی کانګرس ته د وړاندې شوي رپوټ څخه مطلقاً لیرې کیږي چې په اصطلاح «لیرې کړای شوي پروګرامونه» (waived Programmes) په نامه هم یادیږي. د کانګرس یوازې ۸ غړي (د استازو د مجلس او د سنا د مجلس د څلورو استخبارتي او دفاعي کمیټو مشران او لوړ پوړي غړو ته یوازې په شفاهي توګه د «لیرې کړای شویو پروګرامونو» د شته والي په هکله پرته له زیاتو معلوماتو څخه خبر ورکول کیږي.[1] دغه مسأله دوی مکلفوي چې که چیرې تري پوښتنه وشي، هغوی باید د داسې عملیاتوله شته والي څخه ډه ډه وکړي. یعنې په دې مسأله کې محرمیت خوندي وساتي. یو پروګرام چې تور وي او بیا په تور کې چې د نه خبرتیا او محرمیت خبره هم په کې ورګډه شي، نو هغه باندې د انګریزي په اصطلاح (Deep Black) یا «ژور تور» نوم اینبودل شوي دي. د CIA لخوا تر ټولو پټ استخباراتي او محرم عملیات همدا «ژور تور» عملیات دي.

په ۲۰۰۸ میلادي کال د متحده ایالاتو پوځ څه د پاسه ۳۲ ملیارد ډالره پیسې د پټو پروګرامونو لپاره یې وغوښتې: [2]

- پټې پوځي څیړنې او پراختیا ښایي ۱۷،۵ ملیارد ډالره لګښت ولري چې د دفاعي ټولو ادارو او خدماتو لخوا د ټولو څیړنې او پراختیا لپاره د پنتاګون د پلان شوي ۷۵،۱ ملیارد ډالرو د لګښت په سلو کې ۲۳ جوړوي.
- پوځ د پټو وسلو او نورو وسایلو د اخیستلو لپاره د ۱۴،۴ ملیارد ډالرو غوښتنه کړې چې د ۲۰۰۸ کال د تدارکاتي ۱۰۱،۷ ملیارد ډالرو ۱۴،۴ فیصد جوړوي.
- نوره اضافي پټ لګښت چې په یو جلا مالي پریکړه کې په پام کې نیوله شوي، د عراق او افغانستان د جګړو لپاره پیسې تحویلوي.
- د تورې بودجې یوه ستره برخه په بې پیلوټه هوایي وسیلو باندې مصرف کیږي. بې پیلوټه هوایي وسیلې په غیرمحرم بودجه کې د تر ټولو څخه ګرندیو پراختیايي پروګرامونو په جمله کې دي، خو په هغو باندې ډېرې زیاتې پیسې ښایي د غیرمحرم پروګرامونو په پرتله په پټو کې زیاتې مصرف شي.

همداراز د بودجو وړاندې کول ډېر پیچلې ښکاري او د پروسې په هکله پوهه نوره هم ستونزمنه کوي. اجرائیه کولای شي چې خپل بودجوي وړاندیز پارلمان ته په مختلفو شکلونو او جزئیاتو سره وړاندې کړي.

هر بودجه خپلې تخصیص شوې برخو ته یو ځانګړی عنوان لري او د هرې برخې لګښت معلوم وي. د دفاع بودجې تر عنوان لاندې پوځي پرسونل، عملیات، حفظ او مراقبت، تدارکات، دفاعي بدلون پروګرامونه او څیړنه او پراختیا راځي. بیا د تخصیص شوې برخې په نورو فرعي برخو او جزئیاتو باندې ویشل کیږي. د هرې برخې د تخصیص سطح ښایي له بلې توپیر ولري. او هر فرع او جزء بیا په اقلامو ویشل شوي چې په اصطلاح وایي یوه بودجه څو قلمه ده. د کرښې یا قلم پر بنسټ جوړه شوې بودجوي سیستم کې ستره پاملرنه دا ده چې د بودجې د تخصیص په پروسه د هغې په اصطلاح چتر

---

[1] See Page 26 of the Senate Commission Report, at http://www.access.gpo.gov/congress/commissions/secrecy/index.html

[2] Defence News; „Black“ U.S. R&D Budget Estimated At $17,5 Billion“ August 29., 2007/http://www./globalsecurity.org/news/207/970809-blackbudget.htm

مشخص کړی شی او ډاډ لاس ته راشي چې اداری له هغه څه څخه زیاتی پیسی نه مصرفوی چې ورته تخصیص شوی دی.

د اقلامو پربنسټ د جوړی شوی بودجې قوت د هغې په ساده توب کې دی او ابهام په کې لږ لیدل کیږی. د تیرو کلونو سره د پرتله کولو په وخت کی د هغی د لګښت کنترول آسانه دی. خو د اقلامو پر بنسټ جوړه شوی بودجه یوه ستونزه هم لری چې دا نه روښانه کوی چې ولی پیسی مصرف شوی او اغیزمنتوب او ګټه یی په څه کې ده. دغه راز دا سیستم د یو لندمهاله راتلونکی خواته لیوالتیا لری. خو لږ تر لږه په داسی یو سیستم کې وزیران باید د دی توان ولری چې د خپلی وړاندی شوی بودجې هر قلم باندی رڼا واچوی ترڅو د عامه غوښتنو قناعت تر لاسه شی.

## د پروګرام پر بنسټ ولاړه بودجه

بیلابیلو هیوادونو د بودجې جوړنې لپاره هغه سیستم ته وده ورکړی چې د یو پلان، پرو ګرام او بودجې د طرح کولو پروسه ولری. دغه ډول سیستم دفاعی اهداف د پیل د ټکی په توګه پیژنی او دفاعی پلان جوړونه د دفاعی بودجې جوړونې سره تړی. د پروګرام پر بنسټ ولاړه بودجه په حقیقت کی څوکلنیزه بودجه ده او په اصطلاح د «بودجوی محصلی یا نتیجی» په وړاندی مخه یی خلاصه ده. په دی سیستم کی د هر پروګرام لګښت، د عامه پالیسی هدفونه او هغه ګامونه چې څرنګه دغو هدفونو ته سړی ورسیږی، روښانه کړای شوی دی. دا ډول بودجې د خپلو نتایجو یا محصلو له مخی لکه ستراتیژیکی ځواکونه، خاص عملیات، سوله ساتی عملیات، مخابراتی سیستم او بیړنی مرستو په پام کی نیولو سره طرح کیږی، نه دا چې د وزارتونو یا د امنیتی سکتور د سازمانونو د خپلو غوښتنو له مخی وشی.

د پروګرام پر بنسټ ولاړه بودجې ښه والی دا دی چې درته وایی چې پیسی د څه لپاره تخصیص شوی دی، د دفاعی لګښتونو د بیی د تحلیل لپاره آسانتیاوی برابروی او پلانونه له موجودو مالی منابعو او هڅی او لاس ته راغلی نتیجی سره تړی. خو د پروګرام پر بنسټ ولاړه بودجې ځینی محدودیتونه هم ځان سره لری:

- دا ډیره سخته ده چې د بودجې تشکیلاتی موضوع شاته واچوله شی او خپله بودجه یواځی د پروګرامونو پر بنسټ تکیه کړای شی؛
- دا هم سخته ده چې د اغیزمنتوب پر بنسټ پروګرامونه پرتله کړای شی او په همدی بنسټ انتخاب وشی؛
- د اوږدمهاله پلان جوړنی لپاره د اړینی مالی منبعی وړاندوینه سخته ده. دغه راز د یوی ټینګی سیاسی اراده نشتوالی د دی لامل ګرځی چې د بودجوی اصلاحاتو د پلی کیدو مخه ونیوله شی.

**۸ـ ۹ چوکاټ**

**د اقلامو بر بنسټ ولاړه جوړه شوی بودجه ـ د ۲۰۰۹ کال لپاره پیشنهادی دفاعی بودجه**

| رمز | د لګښت قلم | ۲۰۰۷ (تحقق موندلی شوی) | ۲۰۰۸ (پروګرام شوی) | ۲۰۰۹ (وړاندیز شوی) | ۲۰۱۰ (اټکل شوی) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ـ | **پرسونل** | | | | |
| ۱ـ۱ | **معاشونه** | | | | |
| ۱ـ۱ـ۱ | تنخواه | | | | |
| ۱ـ۱ـ۱ـ۱ | پوځی پرسونل | | | | |

| رمز | د لګښت قلم | ۲۰۰۷ (تحقق موندلی شوی) | ۲۰۰۸ (پروګرام شوی) | ۲۰۰۹ (وړاندیز شوی) | ۲۰۱۰ (اټکل شوی) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ـ۱ـ۱ـ ۲ | ملکی پرسونل | | | | |
| ۱ـ۱ـ۱ـ ۳ | جلبیان | | | | |
| ۱ـ۱ـ۲ | امتیازات | | | | |
| ۱ـ۱ـ۲ـ ۱ | د جګړی سابقه داران | | | | |
| ۱ـ۱ـ۲ـ۲ | سوله ساتی سابقه دارن | | | | |
| ۱ـ۱ـ۲ـ ۳ | استحقاق | | | | |
| ۱ـ۱ـ۲ـ ۴ | رخصتی | | | | |
| ۱ـ۱ـ۲ـ ۵ | نور امتیازات | | | | |
| **۱ـ ۲** | **جنس او بیمه** | | | | |
| ۱ـ ۲ـ ۱ | یونیفورمونه | | | | |
| ۱ـ ۲ـ ۲ | خوراکی مواد | | | | |
| ۱ـ ۲ـ ۳ | تکت، پرسونل سفرونه | | | | |
| ۱ـ ۲ـ ۴ | اجتماعی تأمینات | | | | |
| ۱ـ ۲ـ ۵ | روغتیایی بیمه | | | | |
| ۱ـ ۲ـ ۶ | روغتیایی پالنه او تعلیم | | | | |
| **۲** | **عملیات او مراقبت** | | | | |
| ۲ـ ۱ | د جاری اړتیا لپاره مواد | | | | |
| ۲ـ ۲ | مراقبت او ترمیم | | | | |
| ۲ـ ۳ | پیریدل شوی خدمات | | | | |
| ۲ـ ۴ | د تقاعد مصارف | | | | |
| **۳** | **تدارکات او ودانی** | | | | |
| ۳ـ ۱ | تدارکات | | | | |
| ۳ـ ۱ـ ۲ | الوتکی او ماشینونه | | | | |
| ۳ـ ۱ـ ۳ | توغندی | | | | |
| ۳ـ ۱ـ ۴ | ستری بیړی او کوچنی بیړی | | | | |
| ۳ـ ۱ـ ۵ | زغروال نقلیه وسیلی | | | | |
| ۳ـ ۱ـ ۶ | توپخانه او مهمات | | | | |
| ۳ـ ۱ـ ۷ | الکترونیک او مخابرات | | | | |
| **۳ـ ۲** | **ودانی** | | | | |
| ۳ـ ۲ـ ۱ | هوایی هډی، هوایی ډګرونه | | | | |
| ۳ـ ۲ـ ۲ | سمندری هډی | | | | |
| ۳ـ ۲ـ ۳ | توغندی هډی | | | | |
| ۳ـ ۲ـ ۴ | روغتیایی آسانتیاوی | | | | |
| ۳ـ ۲ـ ۵ | تشکیلاتی آسانتیاوی | | | | |
| ۳ـ ۲ـ ۶ | نور تدارکات او ساختمانی لګښت | | | | |
| | او داسی نور | | | | |
| **۴** | **دفاعی بدلون پروګرامونه** | | | | |
| **۵** | **څیړنی او پراختیا** | | | | |
| **۶** | **نور لګښتونه او لیږدونی** | | | | |

## تشکیلاتی بودجه

بودجه کیدای شی چی په اداری یونیټونو باندی سره تونی شی: ځمکنی ځواکونه، هوایی ځواکونه، سمندری ځواکونه، دفاعی استخبارات، پوځی روغتیایی مرسته او اداری یونیټونه. دغه ډول دفاعی بودجه ټنیګار کوی چی څوک پیسی په مصرف ورسوی.

## د نه اجازه ورکړای شوی بودجی تحلیل

چیرته چی د امنیت سکتور په نه اجازه لرونکو فعالیتونو کی دخیل دی، لازمه ده چی د دخیلو لوبغاړو له خوا لاس ته راغلی عاید اټکل وشی، که دا د اختلاس وی یا نور فعال تجارتی کارونه. ځینی وختونه دا ممکنه ده چی له رسمی تجاری اسنادو څخه استفاده وشی ترڅو خاوندان وڅارل شی او د تجارت ګټی تصفیه شی. که چیری نه وی، نو لازمه ده چی د نه تصفیه شوی عاید شواهد انفرادی اشخاصو او د هغو د سازمانونو له شتمنیو سره ارتباط ورکړای شی. دغه ډول فعالیتونه د مستنطقینو په وړاندی د مخالفت او سرغړونی معنی ورکوی، خو په نړیواله سطح او په رسنیو کی ناوړه چارچلندونو ته د پام اړونی سره، ممکنه ده چی حکومت باندی فشار راوړل شی ترڅو په اصلاحاتو لاس پوری کړی او د سرغړونو مخه ونیسی.[1]

**۸- ۱۰ چوکات**

**د پرو ګرام پر بنسټ ولاړه جوړه شوی بودجه**

| هدف | پروګرام | مالی منابع | د اړتیا وړ کلنی مصرف |
|---|---|---|---|
| ۱- د خاوری له بشپړتیا څخه دفاع | ۱- دفاعی وسلوال ځواکونه | لس زره پیاده پرسونل<br>دری زره توپ خانه یی پرسونل | معاشونه دیارلس ملیون<br>خوراکی توکی یو ملیون |
| | | پنځه زره ترانسپورتی پرسونل<br>پنځه زره هوایی پرسونل | معاشونه لس ملیون<br>خوراکی توکی اته سوه زره |
| | | څلور سوه نقلیه وسیلی<br>۷۰ څرخی الوتکی | حفظ او مراقبت پنځه ملیون<br>تیل یو ملیون<br>نوی تدارکات شل ملیون |
| | ۲- سرحدی مراقبت | د مصنوعی قمر له لاری مراقبت<br>پنځوس کارپوه پرسونل<br>د رادار لپاره دوه سوه کارپوه پرسونل | د استخدام مصرف پنځه ملیون<br>معاشونه پنځه سوه زره<br>ترینینګ دوه سوه زره |
| | ۳- بیرنی مرستی | | بیرنی بودجه یو ملیون |

---

[1] See, for example: Lesperssi: „The Accountablity of the military budgets“ available at http://www.lesperssi.orid/report/workmilbudget.htm or in the almanac on IndonesianSecurity Reform 2007, http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?id=39772&nav1=4

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ۴- ستراتیژیکی مشری | سل پرسونل | |
| ۲- سیمه ایز امنیت لپاره ونډه | ۱- د اروپا د اتحادیی جنګی ډلی | زر ځانګړی ځواکونه | معاشونه یو ملیون او دری سوه زره وسایل دوه ملیون |
| | ۲- د ESDP ماموریتونه | پنځه سوه پیاده ځواکونه دوه زره پنځه سوه پولیس | معاشونه دوه ملیونه او شپږ سوه زره وسایل څلور ملیون د اروپا د اتحادیی بودجی سره ونډه یو ملیون |
| | ۳- د ناتو ماموریتونه | زر سرتیری دوه جنګی بیری پنځوس جنګی الوتکی دوه ترانسپورتی الوتکی | معاشونه یو ملیون او دری سوه زره وسلی دوه ملیونه مراقبت دوه ملیون، د ناتو بودجی سره ونډه نیم ملیون |
| | ۴- پوځی استخبارات | دری سوه زره کارپوه پرسونل | معاشونه او عملیات یو ملیون |

## د بودجی د شفافیت او حساب ورکولو په هکله نړیوال معیارونه او د معلوماتو سرچینی

د بودجی د شفافیت لپاره نړیوال منل شوی معیارونه او حساب ورکولو د آسانیتاو لپاره وسایل د مدنی ټولنی سازمانونو ته د نړیوالو سرچینو لخوا چمتو کیږی. ۸- ۱۱ چوکاټ هغه معیارونه او وسایل تشریح کوی چی د حکومت په امنیتی او نورو ځانګو کی د بودجوی پالیسی او چارچلندونو شفافیت خوندی وساتل شی.

**۸- ۱۱ چوکاټ**
**په بودجوی شفافیت کی تر ټولو غوره چارچلندونه**

OECD د بودجوی شفافیت[1] لپاره په موضوع کی د مختلفو هیوادونو د تجربو پر بنسټ د غوره چارچلندونو یوه مجموعه جوړه کړی ده. دغه غوره چارچلندونه د لاندو موضوعاتو په شاوخوا کی سره بندو بست شوی دی:

۱- بودجوی رپوټونه
۲- ځانګړی بربندونی
۳- بشپړتیا، کنټرول او حساب ورکول

نړیوال وجهی صندوق د مالی شفافیت په هکله یوه کتاب او د مالی شفافیت[1] په هکله د غوره چارچلندونو یوه لاربنود خپور کړی دی چی لاندو موضوعاتو پوری اړه نیسی:

[1] See OECD Journal on Budgeting Volume 1-No.3. pp, 7-14, online at http://www.oecd.org/dataoecd/13/13/33657560.pdf

۱- د نقشونو او مسوولیتونو روښانتیا
۲- ښکاره بودجوی پروسه
۳- د عامه خلکو په اختیار کی د معلوماتو ایښودل
۴- د بشپړتیا ډاډینه

سربیره پر نړیوالو منل شویو معیارونو، د مدنی ټولنی سازمانونه دغه راز کولای شی چی د سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو له غوره چارچلندونو او سپارښتنو څخه استفاده وکړی تر څو د بودجوی شفافیت لپاره هڅونه وکړی. ۸- ۱۲ چوکاټ په دی اړه ینځه مثلونه وړاندی کوی

**۸ – ۱۲ چوکاټ**
**نړیوال معیارونه چی د دفاعی بودجی شفافیت پوری اړه نیسی: له سیاسی لحاظه الزامی سندونه**

۱- د پوځی لګښتونو په هکله د نړیوال معیارونو سره سم د ریوټ ورکولو لپاره د ملګرو ملتونو قانونی ابزار - د ۱۹۸۰ کال د دسمبر په ۱۲ د ملګرو ملتونو عمومی اسامبلی 35/142B نومی پریکړه تصویب کړه چی عنوان یی دی «د پوځی بودجی کمول». دغه پریکړه د پوځی لګښتونو په هکله د نړیوال معیارونو سره سم د ریوټ ورکولو لپاره د ملګرو ملتونو قانونی سیستم تشریح کوی. دغه پریکړه سپارښتنه کوی چی د هغه سازمان ټول غړی دولتونه د ریوټ ورکولو لپاره له دغو معیارونو څخه کار واخلی او هر کال دی د خپلو پوځی بودجو په هکله عمومی منشی ته ریوټ ورکړی، هغه بیا په خپل وار سره مکلفیت لری چی په دی موضوع باندی هرکال د ملګرو ملتونو عمومی اسامبلی ته خپل ریوټ وړاندی کړی. دغسی نورو پریکړو د «پوځی لګښتونو[2] د شفافیت په شمول د پوځی موضوعاتو په هکله د ناپلوو معلوماتو» لپاره لارښوونی او سپارښتنی تصویب کړی او له غړو دولتونو څخه غواړی چی د اپریل تر ۳۰ پوری د خپل تیر کال د پوځی لګښتونو ریوټ وړاندی کړی. د ملګرو ملتونو عمومی اسامبله دغه راز نورو نړیوالو او سیمه ایزو سازمانونو ته سپارښتنه کوی چی په پوځی لګښتونو کی شفافیت ته وده ورکړی (د ۲۰۰۷ کال د دسمبر د ۱۳ نیټی ۶۲/۱۳ پریکړه مطالعه کړی).

۲- د OSCE د امنیت د سیاسی– پوځی[3] اړخونو په هکله دچارچلند لارښوونی سپارښتنه کوی چی د دفاعی برخو لپاره تخصیص شوی مالی منابع باید د عامه ژوند د نورو برخو او د عمومی اقتصادی پراختیا لپاره له تخصیص شویو منابعوڅخه زیاته نه وی. دغه لارښوونی همداراز په څرګنده توګه وایی چی غړی دولتونه خپل دفاعی لګښتونو د منظوری لپاره مقننی ته وړاندی کوی او د شفافیت د خوندی ساتنی او وسلوالو ځواکونو په هکله لازمو معلوماتو ته د عامه لاس رسی لپاره لاره هواروی، لکه چی وایی:

[1] Available online at http://imf.org/external/np/2007/eng/051507m.pdf

[2] - د پوځی لګښتونو په هکله د نړیوال معیارونو سره سم د ریوټ ورکولو لپاره د ملګرو ملتونو پریکړه په دغه انترنتی پاڼه کی موندلای شی:
http://disarmament.un.org/cab/milex.html

[3] - د OSCE د چارچلند مقررات چی په ۲۰۰۴ کال کی تصویب شول، په دغی انترنتي پاڼه کی وګوری:
http://osce.org/documents/sg/1994/12/702_en-pdf

«هر غړی دولت د دفاعی لګښتونو منظوری له مقننی څخه ترلاسه کوی. د خپلو ملی امنیتی غوښتنو سره سم هرغړی دولت د پوځی لګښت په برخه کی له سپما او لاس نیوی څخه کار اخلی، شفافیت خوندی ساتی او د وسلوالو ځواکونو په هکله معلوماتو ته د عامه لاس رسی لپاره زمینه مساعدوی.» (۲۲ ماده)

۳- د ناتو د مشارکت سندونه: د دفاعی تأسیساتو د جوړولو لپاره د مشارکت د عمل پلان د متحدینو او شریکانو د ژمنی څرګندوی دی ترڅو په دفاعی ساحه کی اغیزمن او شفاف مالی پلان جوړولو او د منابعو د تخصیص پروسیجر ته وده ورکړی او ستر اقتصادی توانمندی او استحکام په پام کی ونیسی.[1]

۴- په لویدیځه افریقا کی د وسلوالو او امنیتی ځواکنو لپاره د ECOWAS د چارچلند لارښوونه په دفاعی پلان جوړولو، بودجی جوړولو او تدارکاتو کی د شفافیت او حساب ورکولو لپاره غږ کوی. دغه سند د معلوماتو د برابرولو او غیرسری پروګرامونو او عملیاتو په هکله د عامه پوهاوی سپارښتنی کوی.[2]

۵- رسمی اسنادو[3] ته د لاس رسی په هکله د اروپا د سپارښتنی شورا (۲۰۰۲) /۲ سپارښتنه کوی چی غړی دولتونه باید د غوښتنی له مخی رسمی اسنادو ته چی د چارواکو لخوا ساتل شویدی د لاس رسی لپار ضمانت وکړی، او دا روښانه کړی چی څرنګه غوښتنه وړاندی شی.

## د ملی دفاعی بودجو په هکله عامه موجود معلومات

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د امنیتی سکتور د بودجوی پروسی د یوی اغیزمنی څارنی لپاره د عامه موجودو معلوماتو څخه استفاده وکړی.

په لومړی سر کی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د معلوماتو د آزادی له قانونمندی (FOIA) څخه، د امکان په صورت، استفاده وکړی. په څه د پاسه اویا وو[4] هیوادونو کی تصویب شوی د معلومات د ازادی وثیقه (FOIA) ټولو اتباعو ته دا حق ورکوی تر څو د عامه چاروکو لخوا ثبت کړای شوی معلومات لاس ته راوړی، دغه ډول یو حق د اجرائیه قوی په اړیکه کی مدنی ټولنه په مجموع کی پیاوړی کوی. د محرمو معلوماتو اود محرمیت قانونمندی ساتنه د معلوماتو د آزادی له اصل څخه یو استثناء ده. د محرمیت قانونمندی د معلوماتو ډولونه درجه بندی کوی چی کوم یی «محرم» او کوم یی «غیرمحرم» دی. مسوول چاروکی صلاحیت لری چی معلوماتو ته د محرمیت کچه وټاکی. د آزموینی او کنترول لپاره لارښوونی وټاکی؛ او دغیر مجاز بربندونو مخه ونیسی. ټول دغه احکام د نامحدود محرمیت مخه نیسی او له محرمیت سره د اجرائیه قوی د فعالیتونو ساحه محدودوی.

---

[1]- لطفاً د دفاعی تأسیساتو د جوړولو (PAP-DIB) په هکله د مشارکت عمل پلان 5.6 او 5.7 مادی وګوری. دغه پلان د استانبول د ۲۰۰۴ د ناتو په سرمشریزه په تصویب ورسید. http://www.nato.int/docu/basictxt/b040607e.htlm

[2]- لطفا د چالچلند د مقرراتو ۱۷ او ۲۱ ماده وګوری:
http://www.dcaf.ch/code_conduct-armed-forces-west-africa/WestAfrica_CoC.pdfhttp://www.un.org/News/Press/docs/1999/19991227.afr199dochtm

[3] available online at htttp://www.coe.int/T/E/Human_rights/rec(2002)2_eng.pdf

[4] National legislation on FOIA is available on line at www. Privacyinternational.com

دوهم، د نړیوالو سازمانونو رپوټونه ډیری وخت د دولت د بودجو په هکله اساسی معلوماتونه لری. د بیلګی په توګه، د ملګرو ملتونو د دارالانشاء رپوټونه د پوځی بودجو د موضوعاتو په هکله ناپلوی معلوماتونه لری چی په هغو کی د ملی کلنی دفاعی بودجی[1] او د لګښتونو شفافیت هم شامل دی. دغه راز د نړیوال وجهی صندوق IMF، «د حکومت مالی احصائیی کلنی کتاب» هم د خپلو ډیرو غړو هیوادونو لپاره د دفاعی بودجی او لګښت یو حد ټاکلی دی. د IMF د «حکومت مالی احصائیه کلنی کتاب» چی د هغی مؤسسی لخوا جوړ شوی دی، د غړو حکومتونو د مالی او کلنیو مالی پالیسیو په هکله جاری او د پرتله کیدو وړ نړیوال اطلاعات وړاندی کوی. دغه کلنی اطلاعات د حکومت په ټولو (محلی، سیمه ایز او ملی) سطحو کی د هغه کلنی عایدات (لکه د مالیاتو او اجارو له درکه) او لګښتونه (لکه په دفاعی چارو، ښوونی او روزنی او روغتیایی برخوکی) ښکاره کوی. [2]

دغه راز د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی له اسنادو څخه هم استفاده وکړی چی د نورو غیرحکومتی سرچینو لخوا خپریږی. په دی برخه کی بی شمیره غیرحکومتی سازمونه موجود دی چی د امنیت او بودجوی موضوعاتو په اړه خپرونی لری، خو دوه یی د خورا پاملرنی وړ دی: د ستاکهلم د نړیوالی سولی د څیړنیز انستیتوت (SIPRI) اطلاعاتی بنسټ (Database) او پوځی بیلانس چی د ستراتیژیکی مطالعاتو د نړیوال انستیتوت لخوا خپریږی.

د پوځی لګښت او د وسلو د تولید په هکله د SIPRI پروژه په ټوله نړی کی په پوځي لګښت کی بدلون او پرمختیا او د وسلو تولید ثبتوی او تحلیل کوی. د دی مقصد لپاره دغه پروژه دوه اطلاعاتی بنسټونه لری چی په نړیواله کچه رپوټ برابروی: یو یی د پوځی لګښت په هکله او یوه یی د وسلو د تولید د شرکتونو په هکله دی. د پوځی لګښت په هکله د SIPRI آنلاین (online) اطلاعاتی بنسټ د هغو مالی سرچینو کچه او اندازه چی د پوځ لخوا په مصرف رسیږی په ډیری آسانی او پوهیدو وړ په طریقی سره ښیی. په پوځی لګښتونو کی د وروستی بدلونونو یوه عمومی کتنه، د وسلو تولید او لیږدونه د SIPRI په کلنی کتاب کی وړاندی شوی دی. د SIPRI کلنی کتاب د انګلیسی تر څنګ په نورو ژبو لکه روسی، اوکراینی، چینایی او عربی ژبو ترجمه شوی دی.

**پوځی بیلانس** د ستراتیژیکی مطالعاتو د نړیوال انستیتوت د پوځی ظرفیتونو او د نړی د ۱۷۰ هیوادونو د دفاعی اقتصادونو یو کلنی ارزونه ده. [3] د نړی د وسلوالو ځواکونو د یو کلنی اعتباری رپوټ په توګه پوځی بیلانس د دفاعی بودجو، مجموعی تدارکات، د پوځی وسایلو زیرمو او داسی نورو اړوندو مسائلو په هکله نوی ارقام او معلومات وړاندی کوی.

## نتیجه

یوه پرانیستی دیموکراتیکه ټولنه نه یواځی د هغه یو حکومت غوښتنه کوی چی د کفایت او توانمندی خاوند، حساب ورکونکی او له شفافیت څخه برخمن وی، بلکه د یوی مدنی ټولنی د درلودو غوښتنه کوی، هغه چی په تصمیم نیولو کی د برخه اخیستلو او نفوذ موندلو توان ولری: د امنیتی بودجی تحلیل مدنی ټولنی ته توان ورکوی تر څو دغسی یو نقش ولوبوی.

---

[1] These documents are available at http://disarmament.un.org/cab/milex.html
[2] These documents are available at http://disarmament.imf.org/external/country/index.htm

[3] Not available online, but can be ordered at http://www.iiss.org/publications/the-military-balance

بودجوی موضوعات د ټولنی د غوښتنی سره سم د امنیتی سکتور د څارنی او اصلاحاتو لپاره اغیزمن وسایل دی. د بودجوی دوران څلور عمده پړاوونه د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره په دی پروسه کی بی شمیره امکانات برابروی.

مدنی ټولنه کولای شی چی پارلمانی ظرفیت سره مرسته وکړی او هغه ته وده ورکړی، ترڅو له بودجوی موضوعاتو سره لاس او پنجه نرمه کړی. په عین وخت کی پارلمانونه کولای شی هغو برخو ته پام واړوی چی ښایی د مدنی ټولنی لاس ورته ونه رسیږی:

- د بودجی په طرح کی ولسی ګټو او ړومبیتوبونو ته پام واوړی؛
- د منظوری په پړاو کی خپل تعدیلات تائید کړی؛
- د ملی مالی پلټنوله تأسیساتو(د محاسباتو دیوانونه) څخه د ځانګړو رپوټونو غوښتنه.
- د امنیتی سکتور د پټو (سری بودجو) څارنه کول.

د تیری لسیزی په موده کی د نظامونو دیموکراسی کیدو او غیرمرکزی کیدو بهیر د مدنی ټولنی سازمانونو ته ډیره ښه موقع ورکړه ترڅو د بودجو د پالیسیو په پروسو کی ونډه واخلی. دغه موقع په راتلونکی کی نوره هم پراخیږی، که چیری د بودجو تحلیل د ظرفیت پراخول یو حتمی امر وګرځی.

## د مدنی ټولنی د یو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### د اړوند امنیتی سکتور بودجی وپیژنی

- د خپل سازمان د ماموریت او فعالیتونو اړوند امنیتی سکتور برخی وپیژنی
- د دولتی بودجی په سندونو کی د هر امنیتی اداری لپاره بودجه وپیژنی

### په مقننه کی د اصلاحاتو د راوستلو لپاره هڅونی

- ډاډ لاس ته راوړی چی د مقننی هغه یو چوکاټ چی د امنیتی اداری او د هغوی د بودجی پروسه تنظیموی څرګند او د لاس رسی وړ وی
- په دی اړه که چیری په قانون کی نیمګړتیا او زاړه قوانین موجود وی، هغه وپیژنی او د بدلون لپاره خپل وړاندیزونه پارلمان ته وړاندی کړی
- ډاډ لاس ته راوړی چی آیا د معلوماتو د آزادی قانون ستاسو په هیواد کی نافذ دی
- حکومت قانع کړی چی شفافیت او حساب ورکول د هغه په ګټه دی: دغه دواړه د هغه په مشروعیت او دوام، د هغه د پالیسیو لپاره د عامه ملاتړ او د عام خلکو لخوا د مالیاتو د ورکړی لپاره د لازم زیاتوالی منلو سره مرسته کوی

### ناپلوی اطلاعات ټول کړی او ناپلوی او خپلواکه ارزونه وړاندی کړی

- د امنیتی سکتور د ستروالی او جوړښت، د پالیسیو او چارچلندونو په هکله ناپلوی اطلاعات ټول کړی
- د ناوړو چارچلندونو په هکله معلومات ټول کړی
- پلټنه وکړی چی آیا پالیسی، عمل او جوړښت دا ټول د تخصیص شوی بودجی سره جوړیږی

- د دی ارزونه هم وکړی چی آیا لاس ته راغلی نتیجه پیژندل شوی عامه امنیتی اړتیاوی پوره کوی
- پلټنه وکړی چی آیا د بودجی له چوکاټ څخه بهر کوم تمویل سرته رسیدلی یا له بدیلو مالی سرچینو لکه د غیرقانونی تجارت یا اختلاس څخه کار اخیستل شوی دی
- وګوری چی آیا پالیسی له عمل سره موافقت لری
- خپله ارزونه له څارونکو فعالیتونو سره وتړی
- د ځینو پروژو مالی پلټنه په تفصیل سره سرته ورسوی او خپلی نتیجی پارلمان او رسنیو ته وړاندی کړی
- د امنیتی بودجو په هکله د حکومت لخوا وړاندی شوی معلومات د هغو معلوماتو سره پرتله کړی چی د حکومتی او غیرحکومتی سازمانونو لخوا وړاندی کیږی.
- د هغو اجناسو او خدماتو چی ستاسو د حکومت لخوا په نړیوالو بازارونو کی تدارک کیږی، بیی تفتیش او پرتله کړی
- د بودجی په هکله معلومات په یو شکل سره خپاره کړی چی عام خلکو ته ورسیږی او پری پوه شی
- بودجه ساده خو بحث پری ژور کړی

**د بودجی په دوران کی په مختلفو پړاوونو کی د بودجی پالیسی تر نفوذ لاندی ونیسی**

- د بودجی په هکله خپل نظریات پارلمانی غړو ته ورسوی
- د مالی سرچینو د تخصیص لپاره د بودجی بدیل وړاندیزونه وکړی او خپلو پارلمانی غړو ته یی وړاندی کړی
- د عام وګړو او د لیوالو ډلو لخوا نوی معلومات تصمیم نیونکو ته ورسوی
- د بودجی او د بدیلی بودجی په هکله خپل وړاندیزونه د رسنیو غوږ ته ورسوی
- په داسی حال کی چی بودجی باندی غور کیږی د بودجی د کمیټو په غونډو کی ونډه واخلی
- د بودجی د تخصیص کولو لپاره پارلمان او وزارتونو ته خپلی سپارښتنی وړاندی کړی
- حکومت تشویق کړی چی د راتلونکی بودجی په وړاندیزونو کی د مالی حسابونو نتیجی په پام کی و نیسی
- په محلی او نړیواله سطح کی تر ټولو غوره چارچلندونه وپیژنی او پارلمان او حکومتی ادارو سره مرسته وکړی چی د حساب ورکولو لاری چاری پیاوړی کړی

**د یوی اغیزمنی خپلواکی مالی پلټنی یا مالی محاسبی لپاره غوښتنه وکړی**

- ډاډ لاس ته راوړی چی اساسی قانون او نور قوانین د یوی ملی مالی پلټنی د تأسیس (چی په ځینو هیوادونو کی د محاسباتو دیوان په نامه هم یادیږی) حکم کوی، دغه دیوان باید تر یوی کچی له لازمی خپلواکی، تخصص او مالی سرچینی څخه برخمن وی
- ډاډ لاس ته راوړی چی د ملی مالی پلټنی تأسیس یا دیوان محاسبات د قانونی صلاحیتونو په حدودو کی د امنیتی ادارو مالی او اجرائی پلټنی هم شاملی دی
- د ملی مالی پلټنی د تأسیس لخوا موندل شویو نتیجو په هکله عامو خلکو او رسنیو ته معلومات ورکړی.
- د ملی مالی پلټنی تأسیس رپوټونه خپاره کړی

**له پارلمان او رسنیو سره ستراتیژیکی ائتلافونه جوړ کړی**

- له پارلمان سره راشه درشه ولری
- د یو پیاوړی، ښه امکاناتو څخه برخمن او اغیزمن پارلمان لپاره غږ پورته کړی
- په پارلمان باندی فشار راوړی چی د بودجی د دوران په څلورو پړاوونو کی له مسوولیته ډک نقش ولوبوی
- د پارلمان د مسوولو امنیتی کمیټو سره چی څارنیز دندی په غاړه لری د اوږدی مودی اړیکی ټینګی کړی
- له کمیټو یا د مخالفو ډلو سره مرسته وکړی تر څو د حکومت د بودجی پیشنهادونو ته بدیل وړاندیزونه وکړی
- د پارلمانی کمیټو لپاره په بودجوی موضوعاتو کی د ناپلوو معلوماتو او بدیلو تحلیلونو لپاره د اعتماړوړ مرجع وګرځی
- له پارلمانی غړو څخه غوښتنه وکړی چی د محرمو یا پټو بودجو څارنه وکړی؛ د پارلمان ګمارل شوی غړی باید محرمو معلوماتو ته لاس رسی ولری او د محرمو یا پټو امنیتی پروګرامونو باندی د څارنی د حد اقل کنترول ژمنه وکړی
- د امنیتی بودجو موضوعاتو ته د رسنیو پام واړوی
- بودجوی تخصصی زده کړو ته وده ورکړی او د نورو مدنی ټولنی سازمانونو، پارلمانی غړو، پارلمانی منسوبینو او د رسنیو استازو ته د بودجوی زده کړو کورسونه دایر کړی تر څو هغوی د بودجی په تحلیل کی خپل پوهه اوظرفیت نور هم پراخ کړی

# ۹
# فصل

GEOFFREY PREWITT

# د سازمانی اعتبار رامنځ ته کول:
# د مدنی ټولنی د سازمان حکومتوالی او ارزونه

Geoffrey Prewitt

# ۹

# د سازمانی اعتبار رامنځ ته کول:
# د مدنی ټولنی د سازمان حکومتوالی او ارزونه

ملی او نړیوالی صحنی ته د مدنی ټولنی راوتل په تیرو دری لسیزو کی د ډیرو مهمو او سترو پرمختګونو څخه شمیرل کیږی.[1] په داسی حال کی چی د هیوادونو او سیمو ترمنځ ډول ډول توپیرونه موجود دی، هغه څه چی د دغه غورځنګ په زړه کی ځای لری د دولتونو او د هغوی د خلکو ترمنځ په اړیکو د یو بدلون نښانه ده. د دغه پراخ خوځښت لپاره دلیلونه بی شمیره دی: د دیکتاتورانو او سوسیالست نظامونو ړنګیدل، د نویو تکنالجیو او شبکه یی وسایلو لکه د انترنت ترویج او په هیوادونو لکه فلیپین، د چک په جمهوریت او پولند کی د نه زورپالنی د غورځنګ «د خلکو قدرت» بریالیتوب او دغه راز نړیوال کمپاینونه لکه د ځمکنیو مینونو بندول. د حقونو د دفاع غورځنګونو خصوصیت دا ګڼل شوی چی په هرڅه باندی، له څو اړخیز ارګانونو لکه نړیوال تجارتی سازمان څخه نیولی تر محلی ادارو پوری چی د حکومتوالی د اصلاحاتو لپاره هڅی کوی، تر نفوذ لاندی نیسی. سربیره پر دی هغوی د سولی د جوړولو او پخلاینی د راوستلو په مبارزو کی هم نوم لری. همداراز مدنی ټولنی د ښه خدمتونو د ترسره کولو د یوی وسیلی په توګه خپل ظرفیت پیاوړی کړی او د دولت له اوږو څخه د دندو د پیټی د کمولو سره (ډیری دولتی دندی شته دی چی د غیرحکومتی سازمانونو لخوا په ښه توګه تر سره کیږی) په پرمختللو اقداماتو لاس پوری کړی دی.

د دغو د پام وړ بریالیتوبونو پر بنسټ د مدنی ټولنی سازمانونو متی بډ وهلی، ترڅو په نړیوالو پرمختګونو کی د ارزښت وړ شریک او همکار په توګه وګڼل شی. په حقیقت کی د مدنی ټولنی

[1]- ډیری پوهان وروستی دری لسیزی د اکادمیک کارونو تمویل او د قانون پر بنسټ ولاړ منظمو فعالیتونوله نظره د مدنی ټولنی د ودی او پراخیدو دوره ګڼي، د بیلګی په توګه د غیرحکومتی نړیوالو سازمانو د کلنی کتاب د معلوماتو له مخی له ۱۹۹۰ کال څخه تر ۱۹۹۹ کال پوری د غیرحکومتی سازمانونو شمیر له ۶ زور ۲۶ زرو ته لوړ شوی دی.

سازمانونه هغه یو صنعت گرځیدلی چی ډیر غښتلی دی. د مدنی ټولنی سازمانونه د عایداتو د یو نسبی ستری برخی کار په غاړه لری او د کار د بازار د پام وړ شمیر د خپل خدمت لپاره استخداموی. [1] خو د دغه ستر نفوذ سره سره د مدنی ټولنی ډیر لږ سازمانونه د خپلو اجراآتو په خاطر تر یوی دقیقی هم لږ تر یوی دقیقی کتنی او څارنی لاندی نیول شویدی.

په تیرو څوو کلونو کی ځینی اصطلاحات لکه حساب ورکول، قانونیت، اعتبار، استازیتوب او کورنی حکومتوالی د مدنی ټولنی قاموس ته ورننوتی دی. که څه هم د ټولو د خوښی وړ اصطلاحات دی، خو پوښتنه دا ده چی هغه تر کومی کچی عملی جامه اغوندی؟

د مدنی ټولنی له سازمانونو څخه د دیموکراتیکی واکمنی د ودی او وګړو د ګټو د خوندی ساتنی لپاره د مهربانو مدافعینو په توګه معمولی ستاینی تر سختو ارزونی او پلټنو لاندی راغلی دی. څرنګه چی Anthony Adair استدلال کوی «غیرحکومتی سازمانونه چی د حکومتی، تجاری او نورو تأسیساتو له اشتباهاتو څخه کیسی او داستانونه جوړوی، دوی هم باید په عین درجه تر پلټنی او څارنی لاندی ونیول شی. دوی هم باید د خپلو کړو وړو ځواب ورکړی.» [2]

د۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یولسمی تروریستی حملو د مدنی ټولنی پر سازمانونو باندی اضافی څارنی رامنځ ته کړی. د رسنیو پاملرنی د مدنی ټولنی سازمانونو ته د تروریستی فعالیتونو د ممکنه «جبهو» په توګه ګوته ونیوله. دغه راز دا پوښتنی هم عنوان شوی چی د مدنی ټولنی سازمانونه د چا په وړاندی حساب ورکونکی دی؟»، «هغوی ته څوک پیسی ورکوی؟» او «څوک د مدنی ټولنی دغه سازمانونه سره سمبالوی او اداره کوی؟»

په دی وجه د امنیتی سکتور د اصلاحاتو او څارنی په اړه اعتبارتوب د حکومت او د مدنی ټولنی د سازمانونو ترمنځ په اړیکو د یو ستر خنډ په توګه پاتی شو. د دغی خلاء د له منځه وړلو لپاره یوه لاره دا ده چی د مدنی ټولنی سازمانونه په خپل ځان باندی ځینی مقررات وضع کړی [3] . لږ تر لږه د مدنی ټولنی ټول سازمانونه د واکمنی اساسی جوړښتونه ولری، د حساب ورکولو او شفافیت شرایط (د بیلګی په توګه مالی پلټنه او ریپوټ ورکول) پوره کړی او خپلو قانونی صلاحیتونو ته پابندی ولری او معیاری څارنی عملی کړی. نور وسایل عبارت دی له هغه لاربښوونو او مقرراتو څخه چی د مدنی ټولنی سازمانونه په خپله خوښه لاسلیک کړی او د هغو د تطبیق په نسبت ژمنی لری. اوسنی اټکلونه ښیی چی د «خپل ځانی مقرراتو» ابتکارونه د نړی په څه دپاسه ۴۰ هیوادونو کی د عمل صحنی ته وړاندی شوی دی .

په پای کی خو تر ټولو مهمه دا چی د مدنی ټولنی سازمانونه کله چی خبره د هغوی په اعتبارتوب باندی راځی، دوی باید دفاعی وضعیت اختیار نه کړی. په داسی حال کی چی په دی لیکنه کی یو شمیر منفی نتایجو ته چی د اعتبارتوب د خلاوو له امله رامنځ ته کیږی، اشاره شوی، د مدنی ټولنی ډیری سازمانونه اساساً قانون ته پابند او له شفافیت څخه برخمن دی او د متقابلو او عامه ګټو د ودی لپاره کار کوی. مهم ټکی دا دی چی سکتور که خصوصی دی، که عامه، که رضا کار دی یا امنیتی یا نور له نیوکو، تورنولو یا سزا ورکولو څخه معافیت نشی موندلای او هر یو باید د یو قانون بر بنسټ ولاړ وی

[1]- د John Hopkins د پرتله ایز غیرانتفاعی سکتور پروژه د ۱۹۹۵ تر ۱۹۹۸ کلونو په منځ کی په ۳۵ هیوادونو کی د غیرانتقاعی فعالیتونو یوه پراخه مطالعه لاس لاندی ونیوله. د دغی پروژی موندنو وښودله چی په دغو ۳۵ هیوادونو کی د مدنی ټولنی سازمانونو په اوسطه توګه د فعالو نفوس څخه ۴،۴ فیصده استخدام کړی دی یا د استخدام وړ خلکو له شلو څخه یو په کار ګمارلی دی. سربیره پر دی په دغو ۳۵ هیوادونو کی په تولیزه توګه د ۱،۳ تریلیون امریکایی ډالرو دغه صنعت د یو ډیر ستر لګښت او د نړی د اووم ستر اقتصاد په توګه ګڼل کیږی.

[2] Adair, Anthony, A Code of Conduct for NGOs: A Necessary Reform (Worling Paper), IFA, London, 1999, available online at http://www.iea.org.uk/env/NGO.ht

[3]- «خپل ځانی مقرراتو» باندی ټینګار باید له حد او حدود څخه ونه وځی. د بیلګی په توګه، د تروریستی ضد قانون په پلمه (مثلاً په زیمبابوی کی) حکومتونه تل د مدنی ټولنی د سازمانونو فعالیتونه محدودوی. حکومتونه باید د «اعتبارتوب» بحث څخه ناوړه استفاده ونه کړی ترڅو په خپل ځانی مقرراتو کی افراط ونشی.

او د هغه له مخې فعالیت ولري. ځینې سازمانونه استدلال کوي چې حساب ورکول باید د پرمختیا مرکزي هدف وګرځي.

په دې فصل کې بحث پر دې دی چې څرنګه کیدای شي د مدني ټولني سازمانونه د اعتبارتوب خلاء ډکه کړي ترڅو پر امنیتي سکتور باندې د هغوی د څارنې پر دندې باندې سازش ونشي. په لومړي سر کې د امنیتي سکتور دڅارنې په اړه د حساب ورکولو پر اهمیت باندې خبرې کیږي. بیا په دې فصل کې د مدني ټولني د سازمانونو پر مهمو سازماني شرایطو باندې چې د هغوی اعتبارتوب سره مرسته کوي، کتنه کیږي. له هغې وروسته د مدني ټولني د سازمانونو د فعالیتونو ستره څارنه او ارزونه تر آزموینې لاندې نیول کیږي. په پای کې هغو سپارښتنو ته اشاره کیږي چې د هغو په واسطه د مدني ټولني سازمانونه چې د امنیتي سکتور د څارنې په فعالیتونو او نور داسې فعالیتونو کې ونډه لري، وکړای شي د خپلو چارچلندونو په اړه حساب ورکړي.

## ولې د مدني ټولني د سازمان اعتبارتوب د امنیتي سکتور د څارنې لپاره مهم دی

د امنیتي سکتور د لوبغاړو لمن له امنیتي ځواکونو (پولیس، وسلوال ځواکونه، سرحدي محافظین) څخه نیولې تر منجمنت او د څارنې ارګانونه (مثلا د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه، مقننه، اجرائیه) تر عدلي او د قانون د اجراء ترتأسیساتو (محکمه، بندیخانې، د شکایتونو اداري) پورې پراخیږي. البته ځینې غیرقانوني امنیتي ځواکونه هم شته چې سړی باید په پام کې ونیسي، لکه چریکي ډلې او شخصي امنیتي شرکتونه. د امنیتي سکتور ډیرې برخې نسبتاً سري او محرم دي یا د خپلو عملیاتو په هکله د معلوماتو له ورکړې څخه احتیاط کوي. د دغه محرمیت لپاره البته ځینې قانوني دلایل وجود لري، خو څرنګه چې د دې کتاب په لومړي فصل کې په تفصیل سره بیان شول، د محرمیت او پټوالي لپاره باید دلیل وجود ولري او هغه باید توجیه شي.

د مدني ټولني سازمانونه له بیلابیلو لوبغاړو څخه عبارت دي – له ډیرو قانوني څخه نیولې تر کله ناکله تر پوښتنې وړ پورې. د شفافو فعالیتونواو پروسو د تعقیب په ضرورت کې د امنیتي سکتور او د مدني ټولني د سازمانونو ترمنځ بنسټیز توپیر موجود دی. هغه پوښتنې چې په دې اړه عنوان کیږي: آیا په مدني ټولني کې داسې ځانګړي حساس مسائل او موضوعات شته چې د ټینګ محرمیت غوښتنه وکړي او ښایي هم د دولت خپلواکمنۍ او مصونیت له خطر سره مخامخ کړي؟ آیا دغه حساس مسائل انفرادي اشخاص د تاوان له خطر سره مخامخ کوي؟ پرته له څوو لږو استثناآتو[1] ښایي ځواب «نه» وي. نو په دې وجه که چیرې د مدني ټولني سازمانونه غواړي چې ځینې نقشونه چې په دې کتاب کې تشریح شول لکه عامه څارنه، د حقونو د دفاع کمپاینونه او د خلکو د پوهې سطحې لوړول او داسې نور، ولوبوي ترڅو پر امنیتي سکتور باندې د څارنې دنده خوندي وساتي، نو دوی باید د هغو لوبغاړو په پرتله چې دوی پرې د څارنې اراده لري، پرته له ویرې او اندیښنې حساب او کتاب ته چمتو وي.

سربیره پر دې، سړی باید تل دا فکر ونه کړي چې ګواکې د مدني ټولني سازمانونه هرومرو مثبت او د ښوو ارزښتونو د خوندي ساتنې او زیاتولو سازمانونه دي. مدني ټولنه هم د بشري ټولني یوه برخه ده چې له مختلفو اشخاصو او جوړښتونو څخه جوړې شوې او په مختلفو ټاټوبونو کې یې ودې مختلفې دي. څرنګه چې ښکاره ده د یوې ټولني وګړي یو بل ته لاس ورکوي ترڅو په خپل ژوند کې اصلاحات رامنځ ته کړي، خپلې ګټې بیان او تعقیب کړي، یو بل ته معلومات تبادله کړي، اختلافات له

[1]- د یادونې وړ ده چې په ډیرو مطلق العنان رژیمونو کې د مدني ټولني د سازمانونو د بشري حقونو غړي او نور خپلواک سازمانونه لکه ډله ایزې رسینې د دولت د زور زیاتیو او ناوړه چالچلندونو د بربنډولو لپاره پر ځانونو ډیر زیات خطرونه مني. ډیرې داسې بیلګې شته دي چې په دغو دیکتاتورو رژیمونو کې هغوی ځورول کیږي، بندیان کیږي او حتی وژل کیږي. د سختو چاپیریالونو باندې د زیاتو معلوماتو لپاره د دې کتاب ۱۴ فصل ولولئ.

مینځه یوسی او ټینګی ټولنیزی اړیکی جوړی کړی، دغو موخو ته د رسیدو لپاره ټولنیز تأسیسات د مشوری د مراجعو په توګه جوړ شوی دی، خو دغه مراجع هم د همدی ټولنی له خلکو څخه عبارت دی. کیدای شی چی ځینی داسی کسان هم په مدنی ټولنو کی موجود وی چی له خپلو سازمانونو سره غیرډیموکراتیک، غیراخلاقی او یا غیرقانونی هدفونه تعقیب کړی. نو په دی وجه داسی سازمانونه باید تر څارنی لاندی ونیول شی. دا هم د یادونی وړ ده چی د مدنی ټولنی ټول سازمانونه خپلواک نه دی: ځینی مخففونه لکه GOVNGOs (د حکومت خپل غیرحکومتی سازمانونه) یا QUANGOs (غیرحکومتی سازمان ته ورته) نومونه اوس د پرمختګ بهیر ته داخل شوی دی. برخلاف د امنیتی سکتور د یونیټونو چی د دسپلین، نظم او مقرراتو پر بنسټ ولاړ دی، د مدنی ټولنی ډلی په دی اړه ډیر زیات سخت او ټینګ چوکاټ نه لری.

**چوکاټ ۹ـ ۱**
**د GOVNGOs (د حکومت خپل غیرحکومتی سازمانونه) مثالونه**

د میانمار یا د برما د ښځو فیدراسیون – دغه سازمان د برما د پوځی حکومت د لوړپوړو جنرالانو د ښځو لخوا چلول کیږی او اکثر د برما د حکومت د مخالفی Aung Suu Kyi چی د نوبل د سولی جایزی ګټونکی هم ده، پرضد خبری کوی.

په جاپان کی د کوریایی اوسیدونکو عمومی ټولنه (Chongryon)، عملاً دغه ټولنه د شمالی کوریا د رژیم استازیتوب کوی او د جاپانی چارواکو لخوا په دی تورنه شوی چی شمالی کوریا ته د وسلو د تکنالوجیو، دارو او درملو په قاچاق او د ملیونونو ډالرو په استولو کی لاس لری او د پیونګ یانګ د رژیم په استازیتوب پروپاګند کوی.

سرچینه: Naim, Moises, „What is a Gongo?) in Foreign Policy, May/June 2007

په دی وجه د مدنی ټولنی سازمانونه چی د امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی برخه لری، باید هغه نورمونه او ارزښتونه مراعات کړی چی د غوره حکومتوالی، شفافیت، اختلاس ضد او بنسټیزو بشری حقونو له نړیوالو اصولو سره سمونوالی ولری. د نړیوالی پرمختیا له نظره د بشری پرمختګ لپاره یو «مطلوب» مدنی ټولنی سازمان به دغه لاندی خصوصیتونه ولری:

- خپل ابتکار (په خپله خوښه)؛
- د حساب ورکولو سلوک درلودل او د حکومتوالی په سیستم کار کول؛
- د عامه مسوولیت څرګندول؛
- په پایښت لرونکو لارو پانګی اینودل؛
- د خپل سازمان د تمویل لپاره د هغه یو میکانیزم لټول چی په تصمیم نیولو کی د خپلواکتوب ضمانت وکړی؛
- په خپل کار کی دیموکراتیک او د تساوی اصل ساتل؛
- د خپلو ټاکل شویو پروژو په تحقق کی اغیزمنتوب او پیاوړتیا ثابتول؛
- د معقولو ملاحظاتو پر بنسټ د نورو په وړاندی خپل دریځ ساتل او دفاع کول یا له هغو سره همکاری او روغه جوړه کول.
- د خپل شاوخوا ، ټولنی، اقتصاد او سیاست د چارچلند څخه د پوره خبرتیا پر بنسټ کار کول

خو په عمل کی د دغو ټولو خصوصیتونو درلودل ډیر لږ لیدل شوی دی. په لاندو برخو کی هغه لاری چاری ښودل شوی چی څرنګه کیدای شی له دغوخصوصیتونو څخه د مدنی ټولنی سازمان برخمن شی.

## د اعتبارتوب لپاره سازمانی اصول

د بشری حقونو په تیوری کی له اصطلاحاتو څخه د الهام اخیستلو سره د حساب ورکولو یو پراخ تعریف د یو«حق لرونکی» یا د یوی قانونی ادعا (دبیلګی په توګه عامه ښیګڼی) او د مسوولو چارواکو یا ادارو ترمنځ یوه اړیکه ښکاره کوی چی خپل مسوولیت پر ځای یا د ځینی خاصو اقداماتو په سرته رسولو سره نوموړی حق ته درناوی وکړی یا له ځینو خاصو اقداماتو څخه لاس واخلی.[1] په نتیجه کی د حساب ورکولو د نړیوالو موضوعاتو له جملی څخه یوه د اړیکی د اصولو او د باوروړ (یا الزامی) «ماموریت د مقرراتو» لارښودل دی، بالاخره حساب ورکول د مختلفو اړخونو او سازمانونو ترمنځ او په منځ کی پر تأسیساتی اړیکو ولاړ دی.

د مدنی ټولنی د سکتور یوه توپیرکونکی نښانه «د حساب ورکولو خلاء» ده: هغه یو باور چی ګواکی د مدنی ټولنی سازمانونه د هیڅا په وړاندی حساب ورکونکی نه دی. دغه اعتراض په دا ډول مطرح کیږی: حکومتونه چی باید خپلی کړی ژمنی پوره کړی ځکه غواړی چی بیا وټاکل شی، پرته له دی ښایی د نه اعتماد اخیستلو له خطر سره مخامخ شی (که چیری عادلانه او آزادی ټاکنی یو هیواد کی موجودی وی) او تجاری سکتور هم دغسی د خپلو شریکانو په وړاندی ژمنی او مسوولیتونه لری چی باید ترسره یی کړی، خو د دوو دواړو سکتورنو پر خلاف د مدنی ټولنی سازمانونه د خپل بریالیتوب لپاره ډیر لږ وسایل په لاس کی لری، نو په دی وجه هغوی د خپلو اجراآتو لپاره ډیری لږی انګیزی یا لاملونه لری. دا د مدنی ټولنی د سازمانونو په وړاندی د حکومت د بدګمانی او شک یوه مهمه زیینه جوړوی او له هغی څخه په استفاده د هغوی د فعالیتونومختلفو برخو کی نفوذ کوی او ښایی دا د دی لامل وګرځی چی د هغوی شهرت تاوانی کړی. سربیره پر دی دا د ولسی څارنی ادعا هم کمزوری کوی او له دی سره پر امینتی سکتور باندی څارنی ته هم تاوان رسیږی.

د مدنی ټولنی د سازمان د حساب ورکولو په وړاندی یو سترخنډ د هغه په دننه کی د اداری مهارتونو کمزورتیا او د لیوالتیا نشتوالی دی. د لیوالتیا نشتوالی یا کمزوری دلیل ښایی دا وی چی په دغو سازمانونو کی ډیری ښایی په خپل ځان باندی د کنترول او مقرراتو وضع کولو پر اهمیت او ګټو باندی پوه نه وی. د مدنی ټولنی د سازمان په دننه کی د ستر توپیر (مختلف اړخونو شته والی) له امله ښایی پر خپل ځان باندی د کنترول او مقرراتو لګولو پروسه په لومړی سرکی ستونزی او ننګونی ځان سره ولری، خو ډیرو سازمانونو په دی لاری کی ګامونه اخیستی دی او د غوره اداری د چارچلندونو په تطبیق یی پیل کړی دی. د مدنی ټولنی یو سازمان باید د غوره اداری یا غوره حکومتوالی لږ تر لږه [2] څو بنسټیز اصول تطبیق کړی: منتخب رئیسه هیأت، حساب ورکولو ته غاړه ایښودل، د مالی محاسبو او پلټنی له لاری د شفافیت تأمین او کلنی ریوټ ورکول، د ناوړه چلندونو د مخنیوی لاری چاری (خصوصاً کله چی مختلف اړخونه خپلی ګټی تعقیبوی) او د دندو د تره سره کولو لپاره قانون او مقرراتو او هدایاتو ته پابندی.

---

[1] Theisohn, Thomas, „Using Accountablity Relationships to Support Capacity", at Capacity. Org, Issu 31; Augts 2007,p.5

[2]- لکه چی مخکی تری یادونه وشوه، د مدنی ټولنی سازمانونه مختلف شکلونه او ستروالی لری. په محلی سویه کوچنی سازمانونه ښایی د هغو په پرتله چی په پلازمینه کی په ښوو وسایلو سمبال دی، جوړښت یی دومره پیچلی نه وی. هغه سپارښتنی چی د حساب ورکولو په هکله په دی کتاب کی موجود دی، ډیر زیات هراړخیز دی او کیدای شی چی له هغو څخه استفاده وشی. دا د مدنی ټولنی اړوند سازمان پوری اړه لری چی پیښی په پیښی تصمیم ونیسی چی د دی اقداماتو څخه کوم یو یی د هغوی لپاره مناسب دی.

د دغه دولت اداري جوړښت یا حکومتوالی او چارچلند لپاره ډېرې زیاتې لارې چارې وجود لري. د اخلاقي سلوک د چلند د ودې سربیره د اصلاح شوی اعتبارتوب او د زیاتې عامه غوښتنې له لارې زیات کړای شوی مالي امکانات یوه دولت موقتي «خوږه (شیریني)» ده چې د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي وهڅول شي. سربیره پردې د «حساب ورکولو د یو چوکاټ د جوړولو له لارې چې دامنیتي سکتور د څارنې لپاره تر ټولو مهم دی، د مدني ټولنې سازمانونه د خپلې څارنې په دندو کې قانونیت لاس ته راوړي. اساساً د حساب ورکولو میکانیزمونه د دولت په وړاندې د سیاسي اعلامیو حیثیت لري: «مونږ خو خپله دوسیه تصفیه کړه، اوس ستاسو وار دی چې خپلې دوسیې تصفیه کړې.»

**۲-۹ چوکاټ: د One World Trust ( نړیوال اعتماد یا امانت) نومې مؤسسې د نړیوال حساب ورکولو پروژه: په ټولو سکتورونو کې د حساب ورکولو اصول**

د نړیوال حساب ورکولو پروژه (GAP) په ۲۰۰۱ کال کې د One World Trust نومې مؤسسې لخوا تأسیس شوه تر څو د حساب ورکولو اصولو او ارزښتونو ته ژمنې رامنځ ته کړي؛ د هغو سازمانونو په وړاندې د نړیوالو سازمانونو حساب ورکولو پیاوړی کول چې دوی اغیزمن کوي. د مدني ټولنې ظرفیت پیاوړی کول تر څو د تصمیم نیولو په پروسه کې په ښه توګه ورداخل شي. دغې پروژې یو کاري چوکاټ طرح کړ او د یوې نړیوالې حساب ورکولو لپاره یې یو شاخص یا معیار وټاکه. د هغې د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کلونو نړیوالې حساب ورکولو رپوټ د نړۍ د ۳۰ پیاوړو سازمانونو حساب ورکونه څېړلې او د حساب ورکولو څلور محوري میکانیزمونه یې تشریح کړي دي (شفافیت، ګډون، ارزونه او د شکایتونواو هغو ته د ځوابونو میکانیزمونه)، کوم چې یو سازمان ته اجازه ورکوي ترڅو د مختلفو اړخونو د حساب ورکولو ادعاوې سره تنظیم کړي. په داسې حال کې چې د میکانیزمونو پر شکل باندې کله چې د مدني ټولنې کوچنیو سازمانونو په برخه کې تطبیق کېږي زیات پوهاوي ته اړتیا ده، محوري اصول د کوچنیو او سترو، د کمزورو او پیاوړو سازمانونو په برخه کې د تطبیق وړ دي.

سرچینه:

Source: One World Trust, Global Accountabilty Project
http://www.oneworldtrust.org/?display=project&pid=10

د مدني ټولنې ډېر نړیوال سازمانونه لکه CIVICUS چې په Johannesburg کې د مدني ټولنې یوه نړیواله شبکه ده او One World Trust چې مقر یې په بریتانیا کې دی (۹- ۲ چوکاټ مطالعه کړی) هڅه کوي ده ترڅو د مدني ټولنې د سازمانونو حساب ورکولو میکانیزمونه سره اصلاح کړي. نویو کمپاینونو د نویو چارچلندونو په ودې کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. په هرصورت، د مدني ټولنې سازمانونه باید خپل تصمیم ونیسي چې د خپلو ملي او محلي چاپیریالونو په چوکاټ کې د حساب ورکولو کومې کچې ته اړتیا لري. ملي او محلي چاپیریالونه له دې امله هم د اهمیت وړ دي چې حکومت یا دولتي قانون او داسې نور اړوند مقررات کولای شي چې د مدني ټولنې سازمانونو په دننه کې د حساب ورکولو کچه راټیټه کړي. یو حکومت چې خپلواکو سازمانونو ته د شک په سترګه ګوري، ښایي د دې لامل وګرځي چې د مدني ټولنې سازمانونه هسې شفافیت ښکاره نه کړي چې ترې انتظار کېږي. د بېلګې په توګه د مدني ټولنې ځینې سازمانونه ښایي دې ته زړه ښه نه کړي چې د دیموکراسۍ پلو نړیوالو سازمانونو سره خپل اړیکې بربندې کړي، ځکه ښایي ویره ولري چې نشي د داسې اړیکو له امله د غیردیموکراتیک رژیمونو د ناوړو چلندونو سره مخامخ شي.

که څه هم حساب ورکول ډېر زیات تعریفونه او تفسیرونه او په عین سویه ډېر زیات نتایج لري د ساده بیان [1] لپاره دغه فصل دوو موضوعګانو ته ځیر شوی دی چې د اعتبارتوب د سمونوالی لپاره اهمیت لري:

- کورنی منجمنت یا سازمانی یا تشکیلاتی حکومتوالی
- بهرنی فکتورونه لکه حکومتی مقررات او عامه حیثیت او اعتبار

## کورنی منجمنت

د دی لپاره چی کورنی منجمنت د اعتبار وړ وی د مدنی ټولنی سازمانونه باید د «دیموکراسی تشکیلات» نومی منجمنت شکلونه چی پر مسلکی دریځونو، ارزښتونو او اصولو باندی ولاړ وی، جوړ کړی. په دی مضمون کی د کورنی منجمنت په اړه دری طرحی او چارچلندونه د یادونی وړ دی: الف – حکومتوالی او پلان جوړول؛ ب – رپوټ ورکول؛ ج – د چارچلند لارښوونه.

حکومتوالی – که چیری پراخ تعریف تری وشی – دی پوره اړه لری چی څرنګه تصمیم ونیول شی او څرنګه تنظیم شی؛ ښه حکومتوالی د حساب ورکولو غوره ډول پوری اړه نیسی. یو سازمان ښه حکومتوالی (اداری چلند) هغه وخت تأمینولای شی چی د کنترول یو کورنی (داخلی) سیستم او اندول ولری ترڅو عامه ګټی او ښیګڼی خوندی وساتل شی. [2] په دی وجه د مدنی ټولنی یو سازمان چی د ښه حکومتوالی په لټه کی دی باید یو منظم جوړښت ولری له مناسب منجمنت، ستراتیژیو او ماموریتونو سره.

د یو هیواد د قانونی لارښوونی سربیره (چی تر ډېر بریده د سازمانی یا تشکیلاتی جوړښت هدایت ورکوی) د مدنی ټولنی ټول سازمانونه باید بنستیز وثیقی ولری کوم چی د هغوی د چارچلندونو، تشکیلاتی جوړښت، غړیتوب، مدیره هیأت ، تصمیم نیولو او رپوټ ورکولو په هکله لازمی لارښوونی وکړی. دغه تشکیلاتی او کاری لارښوونی باید روښانه او پرته له ابهامه وی. دا د پیل ټکی دی او باید له اړینو صلاحیتونو څخه برخمن او مرعی الاجراء وی (۹- ۴ چوکاټ مطالعه کړی).

د بنستیزو عملیاتو د چارچلند په هکله د تصمیمونو څخه وروسته د یو مدیره هیأت جوړول حتمی دی. دغه هیأت د تصمیم نیولو لوړه مرجع ده او د نورو منسوبینو څخه باید توپیر ولری ترڅو د بیلابیلو ګټو د ټکر مخنیوی وشی. یو مدیره هیأت کیدای شی چی مختلفی دندی ولری. ځینی یی عبارت دی له: ستراتیژیکی تصمیم نیول (خصوصاً هغه مسائل چی قانونی او مالی موضوعاتو پوری اړه ونیسی)؛ د تمویلی سرچینو موندل؛ عامه اړیکی ټینګول؛ پروګرام منجمنت. د مدیره هیأت غړی باید د خپل خدمت لپاره معاش تر لاسه نه کړی. په بل عبارت مدیره هیأت د مدنی ټولنی د سازمان په چارچلندونو باندی کنترول او څارنه لری. البته د هیأتونو په دننه کی کله هم ستونزی پیدا کیږی. په همدی وجه د هغوی ټاکل یا سلب اعتماد د مدنی ټولنی د غړو په اختیار کی باید وی.

---

[1]- څلور مختلفی لاری چاری موجودی دی ترڅو د حساب ورکولو څخه یو انځور باندی سړی پوه شی: الف – د مدنی ټولنی سازمانونه کیدای شی چی پورته خواته د بسپنه ورکونکو حکومتونو او مؤسسو په وړاندی حساب ورکونکی وګڼل شی – هغه چی هغوی ته مالی او قانونی بنسټ ورکوی؛ ب - د مدنی ټولنی سازمانونه کیدای شی چی کښته خواته د خپل ګټه اخیستونکی په وړاندی حساب ورکونکی وی؛ ج- د مدنی ټولنی سازمانونه کیدای شی چی په دننه کی د خپل سازمان د ماموریت، ارښتونو او منسوبینو په وړاندی حساب ورکونکی اوسی. د مدنی ټولنی سازمانونه کیدای شی په افقی توګه د نورو سازمانونو په وړاندی حساب ورکونکی وګرځی. سرچینه:
Source: Lloyd, Robert, The Role NGO Self-Regulation icreasing Stakeholder Accountiblity; One World Trust, London, 2005, available online at http://www.un-ngls.org/cso/cs09/Self-Regulation

[2] Wyatt, Marlyn, A Handbook of NGO Governance; European Center for Not-for-profit Law (RCNL), Budapest, 2004, available online at http://www.ecnl.org/dindocuments/18_Governance%20Handbook.pdf

**۹- ۳ چوکاټ**
**په فعالیتونو کی د مدیره هیأت د برخی اخیستلو لپاره ځینی لاربنوونی**

- د خپل هیأت غړی پیاوړی کړی. په خپل وخت غونډي پیل او پای ته ورسوی او د موخو په هکله د لیدلوری پرمختګونه ښکاره کړی. تعلیمی غونډی دایری کړی ترڅو موضوعات روښانه کړی او د ځینو خاصو مهارتونو تدریس وکړی.
- کلنی غونډي دایری کړی ترڅو سازمانی سرچینی پراخی کړی او پر فعالیتونو باندی کتنه وکړی.
- په خپل ټولنه کی د لیدلوری وګرځی. د خپل هیأت له غړو څخه غوښتنه وکړی ترڅو په خپلو مدنی ډلو کی د ویناوو او خبرو کولو لپاره زمینه برابره کړی. هغوی دی ته وهڅوی چی لیکونه او مقالی ولیکی یا د ورځپانو په نظریاتی پاڼه کی خپل نظریات خپاره کړی.
- خپل سازمان د محلی او ملی چاروکو سره مطرح کړی. هغوی ته بلنه ورکړی چی ستاسو مدیره هیأت یا په نورو کمیتو کی خدمت وکړی. د مدیره هیأت غړو ته یادونه وکړی چی خپل منتخب استازو ته د هغو موضوعاتو په هکله چی ستاسو د سازمان لپاره اهمیت لری ولیکی.
- د مدیره هیأت غړو او رضاکارانو په هکله څیړنه وکړی چی هغوی چیرته خپل بانکی مسائل سرته رسوی یا چیرته خپل خرید کوی یا چیرته سوادګری کوی او داسی نور ورځنی فعالیتونه. له دغو معلوماتو څخه د نویو تمویل کونکو د موندولو لپاره د یوی ستراتیژیکی وسیلی په توګه استفاده وکړی.
- کله چی د مدیره هیأت لپاره نوی غړی لټوی، ستر او لوړانتظارونه وټاکی چی تاسی څه تری هیله لری. داډ لاس ته راوړی چی هغوی سمدلاسه د کار لپاره متی بډ وهی او په پروژو کی سمدلاسه په کار پیل کوی.
- د شخصیت درناوی. د مدیره هیأت د غړو له خدمتونو څخه په عامه سطحه کی ستاینه وکړی او هرډول نیوکه چی پری لری، هغه په شخصی توګه ورته یاده کړی.

سرچینه:
Srinivas, Hari, Constitution on NGO Board: Creating a Strong Baseline for an NGO's Activities, http://www.gdrc.org/ngo/ngo-boards.html

ښه حکومتوالی او اعتبارتوب په یو ښه او مناسب پلان جوړنی پوری هم اړه لری. تجربی ښودلی ده چی یو معقول پلان کولای شی چی د لوړو نتایجو لاس ته راوړلو، د منابعو او امکاناتو څخه په ښه توګه د کار اخیستلو او د یو روښان هدف د درلودلو له لاری د یو سازمان توانمندی پیاوړی کیږی. تر ټولو مهمه دا چی یو پلان د ګډی ارزونی او کتنی لپاره لاره هواروی او دا د ډله ایز کار د پیاوړتیا سبب ګرځی. په داسی پلان کی عامه وګړی هم ګډون کولای شی او دا د حساب ورکولو پروسه غښتلی کوی. د یو ستراتیژیکی پلان د طرحی لپاره ډیری تحلیلی لاری چاری وجود لری، خو دری سترو پوښتنو ته باید ځواب وویل شی: سازمان په اوسنی وخت کی چیرته دی (څه حالت کی قرار لری)؟ چیرته غواړی لاړشی (هدف او موخه یی څه ده)؟ څرنګه کیدای شی سری دغه هدف ته ورسیږی؟

### ۹ـ ۴ چوکاټ
### د مدنی ټولنی د سازمان د حکومتوالی (اداری چلند) په هکله بنسټیزی وثیقی څه باید ووایی؟

د مدنی ټولنی د یو سازمان بنسټیزی وثیقی (د جوړښت، قانونی موقف اود چارچلندونو لاربښوونی مصوبه) د واکمن ارګان یا ارګانو په هکله د لاندو معلوماتو په پام کی نیولو سره کولای شی چی د یو ښه حکومتوالی (اداری چلند) لپاره بنسټ جوړ کړی (سر بیره په نورو معلوماتو چی قانون د هغو غوښتنه کوی)

- د واکمن ارګان یا ارګانو نوم؛
- له نورو سازمانو یا تشکیلاتی تأسیساتو سره د تر ټولو لوړو حاکمه ارګانونو اړیکی؛
- بنسټیزمسوولیتونه او صلاحیتونه؛
- د مدیره هیأت د غړو دندی، وفاداری او اعتبارتوب؛
- د غړیتوب مقررات (د ورتیا، تعلیق او اخراج یا ایستل)؛
- د ماموریت دوره (د ماموریت موده، د بیا انتخاب لپاره محدودیت)؛
- په کال کی د مدیره هیأت د غونډو حد اقل شمیر؛
- د غونډو د دایرولو میتود (څوک باید د غونډو د دایریدو د نیتی د ټاکلو مسوولیت ولری، څوک د غونډی اجنداء جوړ کړی او داسی نور)
- د تصمیم نیولو پروسیجر(د اړتیاوړ نصاب ، څرنګه رایی ورکړای شی، تصمیمونه پروتوکول کی ثبت شی)؛
- د ګټو د ټکر یا تصادم احکام.

سرچینه:

Wyatt, Marlyn, A Handbook of NGO Governance; European Center for Not-for-profit Law (RCNL), Budapest, 2004, available online at http://www.ecnl.org/dindocuments/18_Governance%20Handbook.pdf

خوستراتیژیکی پلانونه کیدای شی د وخت په تیریدو سره بدل شی او دا کار باید وشی؛ دغه پلانونه باید د شرایطو او چاپیریال په مطابق جوړ کړای شی. دا مسأله په خاصه توګه د امنیتی سکتور د څارنی په برخه کی د تطبیق وړ دی، خصوصاً د جګړی څخه په وروسته دوره کی چی حالات ډیر زیات تغییر مومی. د مدنی ټولنی سازمانونه لکه نور سازمانونه ثابت نه دی، بلکه د بدلون او ودی په حال کی دی او وخت په وخت باید خپل جوړښت ته تغییر ورکړی.

ستراتیژیکی پلانونه ډیر وخت زمانی چوکاټ پوری اړه نیسی او د ټاکل شویو فعالیتونو په هکله د ریوټ ورکولو لپاره شرایط برابروی. په داسی حال کی چی د حساب ورکولو او شفافیت لپاره ډیری لاری چاری وجود لری، د متحدالمالو ریوټونو له لاری د معلوماتو بربنډول د عامه اعتماد د لاس ته راوړلو لپاره ستونزمن کیږی. د بسپنه کونکو یا حکومتونو لخوا د مالی پلټنو څخه پرته د مدنی ټولنی د سازمانونو په اړه د ریوټ ورکولو شرایط ډیر زیات الزامی نه دی. په دی وجه دا هغوی ته پریښودل شوی چی څه ډول او په کومه طریقه د خپل کار او فعالیت په هکله ریوټ ورکوی.

د مدنی ټولنی د سازمان د حساب ورکولو د پراخولو یوه بله مهمه ساحه د«چارچلند د لاربښوونی» طرح کول دی. د «چارچلند لاربښوونه» د مدنی ټولنی سازمانونه توان ورکوی ترڅو په خپلو کړووړو، فعالیتونو او کورنی حکومتوالی (اداری چلند) باندی کنترول ولری او هغه تنظیم کړی. له دغه سندونو څخه د مدنی ټولنی د شبکو یو بل سره د تړاو په مقصد هم کار اخیستل کیږی. د خپلو ځینو انتخاب

کړای شویو غړو د مشورو له مخې د مدنې ټولنې سازمانونه باید لږترلږه په دو برخو کې د خپل منشور مسوده وکړي: د چارچلند معیارونه او د لارښوونې مراعات. د معیارونو د برخې په فهرست کې د خپلې خوښې کارونو اصول او ارزښتونه راځي لکه د ټولنې برخه اخیستل، مساوات او انصاف، اخلاقي شفافیت او حساب ورکول، حکومتوالي، خپلواکتوب، مفاهمه او د جنسیت مساوات، د مراعات د برخې په فهرست کې پرته ایز مقررات او د شکایتونو د رفع کولو لارې چارې راځي.

**۹- ۵ چوکاټ**
**په حبشه کې د یو غیرحکومتي سازمان د چارچلند لارښوونه**

د ۱۹۹۷ کال د مارچ په ۱۴ د سترو غیرحکومتي سازمانونو غړو «د غیرحکومتي سازمان مشورتي کاري ډلې» په نامه یو ارگان تأسیس کړ ترڅو په حبشه کې د غیرحکومتي سازمانونو لپاره د پخواني راټول کړای شویو نظریاتو او مشورو پر بنسټ د «چارچلند د لارښوونې» یوه مسوده جوړه کړي. د دغې ډلې یو شمیرکارونه په دې ساحه کې تر آزمویني لاندې ونیول او په نورو هیوادونو کې د غیرحکومتي سازمانونو له تجربو څخه استفاده وکړه. په دې ترتیب په حبشه کې د غیرحکومتي سازمانونو لپاره د «چارچلند د لارښوونو» لومړي مسوده جوړه شوه او بیا د ۱۹۹۸ کال په فبرورۍ او سپټمبر کې په دوو نورو ملي غونډو کې دغه مسوده ترغور لاندې ونیوله شوه او هغې ته وده ورکړای شوه. د سپټمبر په غونډه کې د غیرحکومتي سازمانونو ۲۰۰ استازو گډون وکړ او د خپل ځان باندې د کنترول او څارنې د مقرراتو وروستي مسوده تصویب کړه.

د «چارچلند لار ښوونه» د لومړي ځل لپاره د پخوانیو نامنظمو فعالیتونو لپاره معیارونه جوړ کړل. هدف دا ؤ تر څو خلک د کار کولو ډیرو اغیزمنو او عملي لارو چارو ته تشویق کړای شي او د حکومتي سازمان د سکتور، حکومت او شخصي سکتور ترمنځ همکاري اصلاح کړای شي. په نتیجه کې له دې لارې هسې یو چاپیریال برابر کړای شي چې ټول سکتورنه په کې کار وکړای شي او د حبشې د خلکو لپاره گټور پرمختیایي کارونه سرته ورسوي.
سرچینه:
Christian Relief and Development Association (CRDA) www. Crdaethiopia.org/

او د وروستي خبرې په توگه: که څه هم د مدنې ټولنې سازمانونه باید د خپل ځان د تمویل لپاره ستراتیژي جوړې کړي ترڅو په تصمیم نیولو کې خپله خپلواکې وساتي، د یادونې وړ ده چې د مدنې ټولنې د سازمانو لپاره د مالي سرچینو د موندلو په مقصد په ځینو ستراتیژیو کې ذاتي ابهامات موجود دي. د یو معیاري تعریف له مخې، د مدنې ټولنې سازمانونه (د دولت د یوې رسمي برخې په توگه نه دي) انتفاعي او ټولنیز انتفاعي سازمانونه دي. په دې وجه د مالي توانمندۍ په رابطه د مدنې ټولنې اصلي خنډ دا دی چې څرنگه له عامه مالي منابعو څخه استفاده وشي پرته له دې چیې په خپل خپلواکتوب باندې معامله یا په تجارتي معاملو کې گډون وکړي، هغه څه چې د هغوی اخلاقي دریځ خوسا کوي. په حقیقت کې هغه څه چې ډیر لږ د عمل په ډگر لاس ته راځي، دا دی چې غوره به وي ترڅو ډیرې منابع د انفرادي بسپنو او یا د سازمانونو له حق العضویتونو څخه لاس ته راشي.

که چیرې د مدنې ټولنې سازمانونه بریالي شي چې پرهغو ذاتي ناخوالو چې پاس تري یادونه وشوه، لاس برتوب وموميي نو د مالي سرچینو د موندلو ستراتیژیو لپاره یو گڼ شمیر بنسټیزو اصولو ته اړتیا ده. لومړی د مدنې ټولنې سازمانونه باید خپلو ماموریتونو او یا اختیاراتو ته درناوی و لري، هغه څه چې اکثرا د هغوی د عامه گټو مقصدونو (دریځونو) پوري اړه نیسي. که په ساده توگه وویل شي، دغه ماموریت باید د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي پرمختیا د ارزښتونو د زیاتولو لپاره قانوني دندې تعقیب او

سرته ورسوي. دوهم، د مدني ټولنې سازمانونه باید د غیرانتفاعي دریځ پر بنسټ کار وکړي (مثلاً ګټې باید د سازمان پر غړو یا مدیرانو ونه ایشي او نه هم غیردولتي سازمانونه په تجارتي فعالیتونو کې برخه واخلي). دریم، څرنګه چې په دې فصل کې به تری یادونه وشي، سازماني ظرفیت او شفافیت د مدني ټولنې د سازمان د بیلابیلو مالي منابعو د موندلو لپاره د بنسټ ډېره جوړوي. دیموکراتیک واکمن مدیره هیأتونه، په منظمه توګه مالي پلټنې، د خدمتونو د عرضه کولو لپاره اغیزمن عمل او اوږد مهالي ستراتیژۍ درلودل د عامه خلکو د اعتماد او د یو مضبوط مالي بنسټ د درلودلو سبب ګرځي. او په پای کې د مدني ټولنې سازمان باید تر یوې کچې قانوني چاپیریال ولري ترڅو اقتصادي فعالیتونه، له ځینو عایداتو څخه د مالیې د ګرځولو امکانات، حکومتي قراردادونه، له عامه مالي منابعو څخه استفاده یا د مدني ټولنې د سازمان د نورو شکلونو مالي سرچینې تعریف او تنظیم کړي.

**۹- ۶ چوکاټ**
**د مدني ټولنې د خپل منځي حساب ورکولو د میکانیزمونو نور مثالونه**

**InterAction: خپل ځان ته خپله تصدیق ورکول**

انتر اکشن نومي سازمان چې په امریکا متحده ایالاتو کې د مدني ټولنو د څه د پاسه ۱۶۰ نړیوالو سازمانونو د اتحاد یو ډول میکانزم ته یې وده ورکړې چې نوم یې دی «خپل ځان ته خپله تصدیق ورکول». د دې میکانیزم څخه هدف دا دی تر څو د مدني ټولنې د سازمانونو او د هغوی د خدمتونو څخه د ګټو اخیستونکو ترمنځ هغسې د اعتماد فضا رامنځ ته شي لکه چې د مدني ټولنې د سازمانونو او دهغوی د بسپنه ورکونکو ترمنځ موجود ده. که چیرې د مدني ټولنې د سازمانونو غړي ونه توانیږي چې د یو ټاکلي معیار سره سم عمل وکړي، انتر اکشن له هغوی څخه غواړي چې د عمل یو پلان چمتو کړي تر څو وښیي چې څرنګه کولای شي د یو کال په موده کې له دغو معیارونو سره سم عمل وکړي. بیا د کتنې یوه پروسه پلان کیږي ترڅو نتایج تر ارزونې لاندې ونیسي. هغه ستر هدف چې د دې هڅې ترشا پروت دی دا دی ترڅو د انتر اکشن د سازمان ټول غړي یو ګډ پلان ولري او هغه لارې چارې پیدا کړي چې د هغو په مطابق د مدني ټولنې د سازمانونو له معیارونو سره سم د عمل لپاره یو ډول خپل منځي کنټرول یا تنظیم ته وده ورکړي. په پای کې د انتر اکشن سازمان هیله من دی چې د هغه غړي سازمانونه د حساب ورکولو او شفافیت د یوې لوړې سطحې په لور سم او روغونکي ګامونه واخلي.

سرچینه: InterAction (www.interaction.org)

**FEMENET: د سلوک او عملي چلند لارښوونه**

The African Women's Development and Communication Network یا د افریقایي ښځو د پرمختیا او د اړیکو شبکه (FEMNET) چې مقر یې د کینیا د نایروبي په ښار کې ده، په ۲۰۰۳ کال کې یې د افریقا د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره د سلوک اوعملي چلند لپاره ځینې لارښوونې تدوین کړې. په دغو لارښوونو کې په افریقا کې د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره هغه اصول او هدفونه بیان شوي دي چې څرنګه د مدني ټولنې سازمانونو د منل شویو معیارونو په مطابق عمل وشي او په عین وخت کې همدې لارښوونو میکانیزمونوته پابند پاتې شي.

سرچینه:
FEMNET (www.femnet.org.ke)

د خپل منځی حساب ورکولو د میکانیزمونو لپاره نور مثالونه کولای شی چی د CIVICUS د قانونیت، شفافیت او حساب ورکولو په نامه انترنتی پاڼه (www.civicus) کی ولولی، په دی پاڼه کی یو فهرست د نړیوالو موافقو یا تړونونو، منشورونو او عملی چلند لپاره د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا د وده ورکړای شویو لاربښوونی او دغه راز د قانونیت، شفافیت او حساب ورکولو په هکله اعلامیی چی په ټوله نړی کی د منل شویو ملی غیرحکومتی سازمانونو (NGOs) او د مدنی ټولنی د سازمانو (CSOs) لخوا طرح او تدوین شوی دی، موندلای شی.

## بهرنی فکتورونه

بهرنی فکتورونه چی د ستر او پراخ «مدنی چاپیریال» په نامه هم یاد شوی دی د مدنی ټولنی د سازمان د اعتبارتوب د پیاوړتیا لپاره هم خورا اهمیت لری. که څه هم اکثر د مدنی ټولنی د سازمانونو د مستقیم کنترول له حدودو څخه بهر د څارنی په هڅو کی د مدنی ټولنی عمومی او ملی سازمانونه فکر کوی چی د مدنی ټولنی د سازمانونو استازی موجود دی او د قانونی برخه لرونکو په توګه منل شوی دی، خو که چیری داسی یوه څه وی یا نه وی، دا موضوع دغو ټکو پوری هم ارتباط نیسی: الف – د ملکی چاپیریال کیفیت، کوم چی د یو شمیر رسمی قواعدو، غیررسمی مقرراتو، فرهنګی نورمونو او پالیسیو او د اقتصادی هڅولو د یو ګډ ترکیب څخه عبارت دی؛ ب – عامه حیثیت؛ یا په بل عبارت د مدنی ټولنی سازمانونه باید یو هویت او یوه معقوله منل شوی فضا ولری ترڅو د امنیتی سکتور په شمول له نورو پرمختیایی لوبغاړو سره راشه درشه وکړای شی.

په لومړی سر کی او تر ټولو مهم دا چی د مدنی ټولنی سازمانونه یو معقولی قانونمندی او منظم چوکاټ ته اړتیا لری ترڅو له قانون سره سم عمل وکړی. دولت د عمل لپاره چاپیریال برابروی: د مدنی ټولنی د سازمانونو د عملیاتو او د عامه ګټو د خوندی ساتنی او منابعو لپاره یو قانونی چوکاټ. د دی کار لپاره، دولت د حساب ورکولو لپاره ځینی شرایط ټاکی او د حساب ورکولو د میکانیزمونو د تنظیم او تطبیق لپاره وسایل او امکانات لری، د بیلګی په توګه د اداری فساد اړوند مسائلو پر ضد. خو دولت باید د مدنی ټولنی د سازمانونو له داخلی تشکیلاتواو مسائلو سره ارتباط ونه لری. سربیره پر دی دولت باید له قانون څخه د استفادی په پلمه د مدنی ټولنی د سازمانونو پر خوځښتونو باندی محدودیت ټیینګ نه کړی، څرنګه چی د مطلق العنان رژیمونو تر واکمنی لاندی یی وینو.

د مدنی ټولنی لپاره د یو معقول قانونی چوکاټ درلودل کولای شی چی یو ګڼ شمیر موضوعاتو ته پام واړوی. لومړی، هغه باید د مدنی ټولنی د جوړښت او عمل لپاره شرایط چمتو کړی اوبل دا چی د قانون سره سم اهداف وټاکی او هغه تعقیب کړی. [1] دوهم دا چی هغه باید د مدنی ټولنی د سازمانونو په دننه کی حساب ورکول او شفافیت تشویق کړی. او بالاخره دا چی د مدنی ټولنی سازمانونه انتفاعی هدفونه نه تعقیبوی او یا لاس ته راغلی ګټی په خپلو منځو کی نه ویشی، ځینی ضمانتونه حتمی او ضروری دی، لکه هغو کسانو ته چی بسپنی ورکوی په مالیاتو کی ځینی تیریدنی، یعنی هغوی وکړای شی دولت ته د مالیی په ورکړه کی خپل بسپنی د مصارفو په جمله کی ونیسی. په بدل کی د مدنی ټولنی سازمانونه د مالیاتی رپوټ په ورکولو کی حساب ورکول او شفافیت خوندی وساتی، که څه هم دغه وروستی موضوع د ملی قوانینو په چوکاټ کی تل تنظیم شوی نه ده. هغه موضوعات چی په قانون کی ورته صراحت شوی دی هغه د مدنی ټولنی د یو سازمان تعریف، تشکیل، هدف، ثبت، فعالیت، د فعالیت د پیل او ختم موده او یا د سازمان د منحلیدو له شرایطو څخه عبارت دی .

[1] - یا په بل عبارت د مدنی ټولنی سازمانونه له کوم خاص امتیاز څخه برخه من نه دی چی د ملی اساسی قانون یا د نورو قوانینو له چوکاټ څخه بهر عمل وکړی. د ټولنی جوړولو په آزادی باندی په دغسی قانونی محدودیتونو کی د نژادی، قومی یا مذهبی دښمنیو د لمسونو منع (لکه په بلغاریا، استونیا او مقدونیه کی) او د سیاسی هدفونو سره د وسلوالو سازمانو(لکه په هنګری) هم شامل دی.

**۹- ۷ چوکاټ**
**په مرکزی او ختیځه اروپا کی د تمویل لپاره ابتکاری قوانین (CEE)**

په مرکزی او ختیځه اروپا کی د مدنی ټولنی سازمانونه بریالی شوی دی ترڅو د هغو قوانینو په تصویب کی مرسته وکړی چی د هغوی تمویلی پایښت خوندی ساتی. په ۱۹۹۷ کال کی هنګری په سیمه کی لومړی هیواد ؤ چی هغه یو قانون یی تصویب کړ چی هر مالیه ورکونکی ته اجازه ورکوی تر څو د خپل تیر کال د شخصی مالیی یو فیصده د خپلی خوښی مدنی ټولنی سازمان ته چی په ټولنه کی په عامه خدماتو بوخته ده، بسپنه کړی. د هنګری «یوفیصده په نامه قانون» یو ځنځیری غبرګون یی را وپاراوه: پولند، سلواکیا او رومانیا دغه «یو فیصده قانون» په مختلفو بڼو سره تصویب کړ. لتوانیا او سلواکیا «دوه فیصده» قانون تصویب کړ چی د هغه له مخی مالیه ورکونکی کولای شی د خپل شخصی عایداتی مالیاتو په سلو کی دوهمه برخه د مدنی ټولنی سازمانونه ته بسپنه کړی.

په عمومی توګه د مدنی ټولنی د سازمان د قانون اصلاحات مثبت ؤ. خو په یو شمیر نورو هیوادونو کی دغه قانون ستونزمن پاتی شوی دی. د راجیستریشن تکتیکونه په خاصه توګه د یوی سیاسی وسیلی په توګه عصری کړای شوی دی، هم په موجودو قانونمندیو کی او هم د هغو د تطبیق په څرنګوالی کی. که چیری د مدنی ټولنی سازمان ثبت نشی، په حقیقیت کی هغه قانونی شته والی نه لری. یعنی هغه نشی کولای چی په بانک کی جاری حساب پرانیځی، کارکونکی استخدام کړی، یوه ودانی په کرایه واخلی او داسی نور مسائل چی د هغه د شتوالی لپاره ضروری دی سرته ورسوی. د بیلګی په توګه کله چی په آذربایجان کی د ثبت یا راجستریشن رسمی شرایط عملاً وځنډول شول. په تیرو دوو کلونو کی د مدنی ټولنی څو محدود سازمانونه وتوانیدل چی په بریالیتوب سره راجستر شی. سربیره پر دی که یو معقول قانونمندی له یوی خوا اهمیت لری، له بلی خوا د تطبیق او د څارنی د یوی لوړی سطحی غوښتنه هم کوی، ځینی هیوادونه ښایی د یوی ډیری لوړی سویی قانونی بنسټ ولری، خو کیدای شی چی تطبیق او تنظیم یی ډیر کمزوری وی.

دوهم، د مدنی ټولنی د سازمان عامه حیثیت د څارنی د میکانیزمونو لپاره خورا اهمیت لری. د هغه سکتور لپاره چی پایښت او بقا ولری، حکومت، امنیتی ځواکونه او محلی ټولنی باید د مدنی ټولنی د سازمانونو یو مثبت انځور ولری. دا په دی معنی چی داسی یوچاپیریال باید موجود وی چی د مدنی ټولنی سازمانونه وکړای شی په آسانی سره د یو هیواد په پرمختګ کی مثبته ونډه واخلی. د عامه حیثیت معنی دا ده چی رسنی په سمه توګه په رپوټ ورکولو کی ونډه ولری، د غړو جلب او جذب او رضاکارو کسانو استخدام لپاره آسانتیاوی موجودی وی او د عامه پوهاوی لپاره شرایط برابر وی.

## د څارنی، ارزونی او رپوټ ورکولو اهمیت

څارنه او ارزونه (M&E) د اعتبار او حساب ورکولو د مقصدونو لپاره محوری حیثیت لری. څارنه او ارزونه د مدنی ټولنی د سازمانونو د کار د پرمختګ یا شاتګ نښانه ده اود هغو په مرسته کولای شی چی د اغیزمنو مداخلو لپاره طرح او پلان جوړ کړی. د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره د څارنی او ارزونی پر بنسټ د روانو نتایجو موخی په لنډه توګه دلته بیانیږی: [1]

[1] Adopted from UNDP, Handbook on Monitoring and Evaluating for Results, UNDP, New York, 2002, available online at http://www.undp.org/eo/documents/HandBook/ME-HandBookpdf

- د سازمانی پرمختګ او زده کړو زیاتیدل
- د خبرتیا څخه برخمن، د وړاند وینی وړ او په خپل وخت د تصمیم نیولو لپاره شرایط برابرول
- د ماهیت لرونکو حساب ورکولو او سازمانی حیثیت لپاره ملاتړ
- د ټولنی د خلکو یوی پراخی برخی ته د مدنی ټولنی د سازمانونو د کار د ارزښت ښکاره کول
- په ټولو دغو ساحو او په عمومی توګه د څارنی او ارزونی په کارونو کی د سازمانی ظرفیت جوړول

څارنی او ارزونی ته ډیری وخت د یوی عادی دندی په توګه کتنه کیږی او په همدی وجی ډیری سازمانونه هغه په دقیقه توګه نه عملی کوی. خو څارنه او ارزونه یوه مهمه او ستره ننګونه ده چی د سازمانی مهارت غوښتنه کوی.

په حقیقت کی سړی باید داسی فکر وکړی چی د مدنی ټولنی سازمانونه د امنیت سکتور هنداره ده. خو امنیتی سکتور په خپله باید د خپلو فعالیتونو د څارنی او ارزونی یو داخلی میکانیزم ولری. د بیلګی په توګه، کله چی بیګناه ولسی وګړی د امنیتی ځواکونو له خوا وژل کیږی، دغه ډول عملونه باید د امنیتی سکتور له چوکاټ څخه بهر د یو خپلواک ارګان لخوا د کتنی او غور وړ وګرځی. دغه راز پوځی لګښتونه باید له نژدی وڅارل شی ترڅو داډ لاس ته راشی چی هغه د ملی بودجی په چوکاټ کی پاتی کیږی. او په پای کی د مدنی ټولنی سازمانونه باید خپل فعالیتونه، خپلی بودجی او پرسونل دی ته ورته ارزونی لاندی ونیسی. پرته له دی دوی باید انتظار ونه لری چی امنیتی سکتور دی کار وکړی؟

که څه هم دغه فصل د څارنی او ارزونی د پلان جوړولو لپاره کوم مشخص بحث نه وړاندی کوی، خو د دی کار یوه بنسټیزه پوهه حتمی او ضروری ده. OECD څارنه او ارزونه په لاندی ډول تعریفوی:

څارنه یوه «پرله پسی یا دوام لرونکی دنده ده چی پر خاصو شاخصونو کی له سیستماتیکو راټول کړای شویو معلوماتو څخه استفاده کوی ترڅو منجمنت تأمین او د اړوند سکتور برخه لرونکی د پرمختګ او لاس ته راغلو نتایجو او دا چی په څه ډول له تاکل شوی بودجی څخه استفاده شوی ده خبر کړی.»

ارزونه «د یوی جاری یا بشپړ شوی پروژی، پروګرام، پالیسی (طرح، تطبیق او نتایجو) سیستماتیک ارزول دی. هدف دا دی ترڅو د موخو توانمندی، اغیزمنتوب او پایښتوب یو تر بله اړوندتوب او تحقق مشخص کړای شی. یوه ارزونه باید هغه معلومات وړاندی کړی چی د اعتباروړ او ګټور وی او اړوند سازمان وتوانیږی چی د هغو په مرسته د تصمیم نیولو په پروسه کی (هم د مرستو تر لاسه کونکو او هم مرسته ورکونکو یا بسپنه ورکونکو په اړوند) له تجربو څخه زده کړه وکړی.»[1]

د دغو تعریفونو پایښت لرونکی اهمیت دری ډوله دی: لومړی، څارنه او ارزونه دوام لرونکی او ثابته پدیده ده نه یو ځلی یا ناڅاپی او سمدلاسه. دوهم، د څارنی او ارزونی ستر سیستمونه د تصمیم نیولو لپاره لاره اواروی. دریم، څرنګه چی په ۹- ۸ چوکاټ کی تشریح شوی ده څارنه او ارزونه یو تر بله سره اړیکه لری، نه دا چی مجرد یا ځانګړی پدیده وی.

[1] OECD, Glossary of Terms in Evaluation and Results Based Mangement, (OECD, Paris, 2002, pp.21, 27, available online at http://www.oecd.org/dataoecd/29/21/2754804.pdf

**۹- ۸ چوکاټ**
**د څارنې او ارزونې د نتايجو پر بنسټ بشپړکونکې نقشونه**

| څارنه | ارزونه |
|---|---|
| د سازمان او د پروګرام هدفونه روښانه کوي | د پام کې نيول شويو نتايجو د نه لاس ته راوړلو وجه تحليلوي |
| فعاليتونه او د هغوی هدفونه يو تر بله سره تړي | نتايجو ته د فعاليتونو د خاصو ونډو ارزونه کوي |
| هدفونه د عمل په شاخصونو اړوي او د نوښت يا سازمان لپاره هدفونه ټاکي | د تطبيق (د اداری او مالی ساحی په شمول) پروسه تر آزموينې لاندې نيسي |
| په منظمه توګه د دغو شاخصونو په هکله اطلاعات راټولوي، نوی نتايج له هدفونو سره پرتله کوي | نه ټاکل شوی نتايج څيړی |
| منيجرانو ته د پرمختګ رپوټونه ورکوي او له ستونزو څخه هغو ته خبرداری ورکوي | تجربې چمتو کوي، مهمو لاس ته راوړنو باندی رڼا اچوي او د سمونوالی لپاره د سپارښتونو وړانديز کوي |

سرچينه:
Adapted from Zall Kusek, Jody and Ray C. Rist, Ten Steps to a Results-Based Monitoring and Evaluation System, World Bank, Washington, 2004 p. 14

د څارنې او ارزونې لپاره يو ګڼ شمير[1] ګامونه شته دی چې بايد واخيستل شي. د هغوی لمن پر نتايجو او شاخصونو باندی له هوکړې، د معلوماتو او اطلاعاتو د لاس ته راوړلو څخه نيولې تر د هغو د استفادی د څرنګوالی او رپوټ ورکولو پورې پراخيږي. وروستي يې په ځانګړې توګه دلته د يادونې وړ دی: خپاره شوی نتا يج او د هغو په مطابق عمل د حساب ورکولو او اعتبار په موخه د چارواکو او عام وګړو غوښتنو ته ځواب وايي. سربيره پر دی، کيدای شی د دی نتايجو سره پر امنيتی سکتور باندی فشار راوستل شی ترڅو دغه ډول ورته نتايجو په هکله رپوټ ورکړي، ځله ايزی رسنۍ د يوی مهمی وسيلی په توګه کولای شی چې په دی هکله رپوټ ورکړي چې آيا سازمانونه او حکومت (د امنيتی سکتور د ادارو په شمول) د خپلو ژمنو سره سم عمل کړی دی که نه.

څارنه او ارزونه کيدای شی چې د ميتود او پايښت له نظره له ډيرو ننګونو سره مخامخ شی. هغه د مالی او وخت د لګښت غوښتنه کوي، خو په عين وخت کې هغوی د «رښتينوالی» د څراغ په توګه ګڼل کيږي. ډيری سازمانونه او سکتورونه له دی ويری چې د هغوی کمزورتيا، اختلاس او اداری فساد بربند شی، د څارنې او ارزونې له پروسی څخه ويره لري او د هغې مخالفت کوي. خو پر ستونزو اعتراف او هغو ته پام اړول د حساب ورکولو او اعتبارتوب يوه کليدی اړخ دی. که چيری د امنيتی سکتور د اصلاحاتو لپاره غوښتنې عنوان کيږي، د مدنی ټولنې سازمانونه بايد خپله هم دغه ډول اصلاحاتو ته غيږ پرانيځی.

لنډه دا چې څارنه او ارزونه د معلوماتو او مفاهمی د ستر چينل فرعی اړخونه دی. رپوټ ورکول او مالی پلټنې هم په دی پروسه کې مهم ګامونه دی. دغه دواړه د مرسته کونکو يا بسپنه کونکو او نورو

[1]- په انټرنټي پاڼو کې د څارنې او ارزونې يو ګڼ شمير ښه مثالونه شته دی لکه:
UNDP, Handbook on Monitoring and Evaluating for Results, UNDP, New York, 2002, available online at http://www.undp.org/eo/documents/HandBook/ME-HandBook.pdf, World Bank, Monitoring and Evaluation (M&E): Some Tools, Methods and Approach, World Bank, Washington, 2004, available online at http://www.worldbank.org/ieg/ecd/tools/and CIVICUS Monitoring and Evaluations, available online at http://www.civicus.org/new/media/Monitoring%20Evaliation.pdf

برخه والو د اعتماد په پیاوړتیا کې مرسته کوي. کلني رپوټونه (یا دی ته ورته اسناد) باید د غوښتنې له مخې وړاندې شي او یا په انترنتي پاڼو کې د عامه استفادې لپاره کېښودلې شي. هغه مهم ټکې چې په کلنې رپوټ کې باید په پام کې ونیول شي عبارت دي له: د سترو او مهمو فعالیتونو سلسله، د مدیره هیأت د غړو او نورو مهمو کارکونکو یو فهرست، د شتمنیو فهرست، پلټلې شوې مالي بیانونه، د چارچلند لارښوونه او له اړوندو اړخونو (لکه مؤسسینو) [1] سره دمدنې ټولنې د سازمانونو د تړونونو یوه نسخه. خو څرنګه چې مخکې له دې یادونه وشوه، ځینې ټکې چې پرسونلي یا تشکیلاتي موضوعاتو پورې اړه لري یا حقوقي خبرې، ښایي تر یوې کچې د محرمیت غوښتنه وکړي.

## نتیجه او سپارښتنې

که څه هم د سازماني اعتبارتوب لپاره استدال په همدې فصل کې تشریح او بیان شو، خو د هغو مهمو موندنو او نتایجو یو لنډیز وړاندې کول، چې د مدني ټولنې د سازمان حساب ورکولو او اعتبارتوب سره مرسته کولای شي، د ارزښت وړ دي: په لنډه توګه د مدنې ټولنې سازمونه باید دغه لاندې موخې تعقیب کړي:

- د مدنې ټولنې سازمانونه باید خپله په عمل لاس پورې کړي تر څو د خپل منځنې پلټنې او کتنې، خپل منځې تنظیم، د خپلې خوښې د چارلچلند لارښوونې او نریوالو کچو له لارې خپل حساب ورکول او اعتبارتوب پیاوړې کړي؛
- د انتفاعي ټولنو او نورو برخه والو پیاوړې کول تر څو د حساب ورکولو لپاره د خپلو پروژو او د خپل پرمختګ په هکله «رښتیني او سمې پوښتنې» عنوان کړي او پرمختیایي لوبغاړو سره ملکې اړیکې ټینګې کړي؛
- د دیموکراتیکو جوړښتونو درلودل او د اساسي قانون تر سیورې لاندې عمل کول. د مدنې ټولنې د سازمانونو په منځ کې د دې بحث تودول چې څرنګه د حساب ورکولو پروسه نوره هم پیاوړې شي؛
- د شفافي او هر اړخیز تصمیم نیونې د پروسې تطبیقول (د بیلګې په توګه د ټولنیز پلټنې او عامه استماعیه غونډې له لارې) او د پروژو د پرمختګ د څارنې او ارزونې لپاره په فعالیتونو کې ونډه اخیستل؛
- د کارکونکو غړو او د اوطلبانو د ظرفیت پراختیا ته ځیر کیدل ترڅو په تحلیل، پلان جوړولو او څارنې کې اصلاحات ته رامنځ ته شي؛
- د یو سیستماتیکې قاعدې له مخې د څارنې او د ارزونې د پروسې تعقیبول؛
- د هغو غړو جلب او جذب چې د حساب ورکولو د پیاوړتیا لپاره د مهارتونو او تجربو څخه برخمن وي؛
- د اړوندو برخه والو لپاره د منظمو مالي پلټنو او کلنې رپوټونو چاپول او یا د هغوی په اختیار کې کیښودل.

حساب ورکول او اعتبارتوب د ډیرو معلوماتو د جریان او د تبادلې د نورو شکلونو غوښتنه کوي. په نتیجه کې دولت او امنیتي سکتور هم مسوولیتونه لري. دغه مسوولیتونه عبارت دي له:

- د مدنې ټولنې د سازمانونو د فعالیت او د هغوی د حساب ورکولو لپاره د یو قانوني چوکاټ جوړولو په موخه د یو آزاد چاپیریال چمتو کول، کوم کې چې د هغوی پر فعالیتونو باندې

[1] Stillman, Grant B, NGO Law and Governance: A Resource Book, Asian Development Bank Institute, Tokyo, 2007, p.47

کنترول وضع نشی (مطلق العنان رژیمونه غواړی چی د حساب ورکولو د اصل څخه د استفادی په پلمه د مدنی ټولنی د سازمانونو د تمویل مخه ونیسی او پرهغو باندی قانونی محدودیتونه ولګوی)؛

- د امینتی ځواکونو په شمول د ټولو عامه او شخصی سکتورنو لپاره د حساب ورکولو د چوکاټ د برابرولو په موخه سیاسی ارداه درلودل؛
- د دولت، امنیتی سکتور او د مدنی ټولنی د سازمانونو ترمنځ د دیالوګ او سلامشورو لپاره د یوی رښتینی فضاء پراخول (هغه چی مدنی ټولنی سازمانونه دی ته واړوی ترڅو خپل ظرفیت پراخ او د اساسی قانون په نسبت د هغوی د حساب ورکولو مکلفیت پیاوړی کړی)؛
- د حساب ورکولو او پرمختیا ترمنځ د اړیکو په هکله په دیالوګ او د حقونو ددفاع په موضوع کی ونډه اخیستل.

په نتیجه کی سړی ویلای شی چی د حساب ورکولو، اعتبارتوب او څارنی او ارزونی موضوعات د مدنی ټولنو لپاره د زیاتی پاملرنی غوښتنه کوی، د هغو په جمله کی هغه سازمانونه هم شامل دی چی د امنیتی سکتور په څارنه کی لیوالیتا لری. لنډه دا چی: د مدنی ټولنی د سازمانونو مسلکیتوب یو کلیدی موضوع ده، که چیری هغوی وغواړی چی د دولت د لوبغاړو د یو پایښت لرونکی شریک او د عام وګړو د یو اعتباروړ اړخ په توګه ورته وکتل شی. شفافیت او حساب ورکول د سترو داعیو د تعقیب لپاره ترټولو د مخه ړومبیتوب لری، خصوصاً په حساسو ساحو لکه د امنیت د سکتور د اصلاحاتو په برخه کی. څرنګه چی وویل شول، هغه همداراز د نورو شخصی او عامه سکتورنو لپاره د یوی ارزښت لرونکی موډل په توګه ګڼل کیږی.

## د مدنی ټولنی د یو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### د حساب ورکولو د پروسی پیاوړتیا

- د سازمان او د پروکرام هدفونه روښانه کړی
- د کتنی د خپل منځی میکانیزمونو له لاری د حساب ورکولو پروسه پیاوړی کړی
- د خپل منځی مقررات پیاوړی کړی
- په خپله خوښه د چارچلند لارښوونی طرح او هغه له نړیوالو معیارونو سره یو ځای تطبیق کړی

### د څارنی او ارزونی میکانیزمونه تطبیق کړی

- د یوی منظمی قاعدی له مخی د څارنی او ارزونی پروسه تعقیب کړی
- د کارکونکو غړو او د داوطلبانو پرمختیایی ظرفیت ته ځیر شی ترڅو په تحلیل، پلان جوړولو، څارنی او د اغیزو په ارزونی کی سمونوالی رامنځ ته کړی.
- د اړتیا په صورت کی د اړوندو مهارتونو او تجربه لرونکو غړو جلب او جذب ته پاملرنه وکړی

### دیالوګ تشویق کړی

- اړوندو برخوالو ته په منظمه توګه مالی حسابونه او کلنی رپوټونه خپاره یا د هغو په اختیار کی کیږدی

- انتقاعی ټولنی او نور برخه وال پیاوړی کړی ترڅو «ربنتینی او سمی پوښتنی» عنوان کړای شی
- د مدنی فعالیتونو لپاره لیوالیتا پراخه کړی
- د مدنی ټولنی د سازمانونو په دننه کی دا بحث تود وساتی چی څرنګه د حساب ورکولو پروسه پیاوړی کیدای شی
- د تصمیم نیولو شفاف اوهر اړخیزه پروسه تطبیق کړی (د بیلګی په توګه د ټولنیز مالی پلټنی او د عامه استماعیه غونډو له لاری) او په پروژو کی د پرمختګ د څارنی او ارزونی لپاره په فعالیتونو کی ونډه واخلی.

# ۱۰
# فصل

KRISTIN VALASEK

# جنسیت او دیموکراتیک امنیتی حکومتوالی

Kristin Valasek

# ۱۰

# جنسیت او دیموکراتیک امنیتی حکومتوالی

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د امنیتی سکتور په پالیسیو او پروګرامونو کی د جنسیت د موضوعاتو د شاملولو په برخه کی یو مهم نقش ولوبوی. په امنیتی ساحه کی د جنسیت د موضوعاتو د شاملولو ګټه دا ده چی دغه ساحه نوره هم هراړخیزه، اغیزمنه او پایښت لرونکی کیږی. سر بیره پر دی د دی ضمانت کوی چی امنیتی سکتور د ټولنی ټولو وګړو ته که نارینه دی که ښځی، نجونی دی که هلکان امنیتی ډاډ ورکړی او همداراز په امنیتی سکتور کی د ښځی ګډون نور هم پراخ کړی. د دی ترڅنګ چی په ټولنه کی د تبعیض او د بشری حقونو د سرغړونو پرضد مبارزه کیږی په امنیتی سکتور کی د جنسیت د شاملولو د موضوع پام کی نیولو سره امنیتی سکتور نورهم له دیموکراتیکو جوړښتونو څخه برخمن کیږی. دغه فصل د جنسیت او امنیتی موضوعاتو په هکله بحث کوی او د هغو لارو چارو په هکله مشخصی سپارښتنی وړاندی کوی چی د مدنی ټولنی سازمانونه وکړای شی د امنیتی سکتور په څارنه کی په اقداماتو لاس پوری کړی.

### جنسیت، ښځی او امنیت: ولی اهمیت لری

جنسیت ټولنیزو نقشونو او د نارینه او ښځینه ترمنځ په اړیکو باندی بحث کوی. بیولوژیکی توپیر ته نه پاملرنی سره جنسیت په حقیقت کی زده کړای شوی سلوک دی چی کیدای شی د وخت او زمان په تیریدو سره بدلون ومومی او دغه سلوک د کلتورونو په دننه او د هغو ترمنځ یو بل سره توپیر لری. دا چی د جنسیت موضوع د ښځینه او نارینه پر ټولنیزو نقشونو باندی اغیزی لری، د هغی اغیزی په امینتی تجربو، اړتیاوو، ړومبیتوبونو او چارچلندونو کی د توپیر لامل ګرځی. (۱۰- ۱ چوکاټ) مطالعه کړی. د جنسیت پر بنسټ ولاړ د یوه پلان طرح کول دغه توپیرونه بربنډوی او امنیتی سکتور دی ته اړوی چی د نارینه، ښځینه، نجونو او هلکانو د مختلفو امنیتی اړتیاوو د پوره کولو لپاره په مناسبو اقداماتو لاس پوری کړی. په همدی دلیل کله چی د «جنسیت» موضوع مطرح کیږی، هدف یوازی ښځی نه دی.

**۱۰ – ۱ چوکاټ**
**د جنسیت پر بنسټ ولاړ ناامنی: د افریقا په نیمه صحرا کی کډوال**

د دارفور او چاد په شمول د افریقا په نیمه صحرا کی نارینه او ښځینه کډوال (مهاجر) له مختلفو امینتی ګواښونو سره مخامخ دی. دغه مختلف امینتی ګواښونه کیدای شی چی د سون موادو (لرګی، وچوکی، خس او خاشاک) د ټولو د مثال له لاری تشریح شی.

د ډوډی د پخه کولو لپاره باید د سون مواد ټول کړای شی. د جنسیت د سنتی نقشونو په پام کی نیولو سره دغه دنده او مسوولیت ښځو ته سپارل شوی ده. نارینه او هلکان که چیری د کډوالو د کمپونو له دایری څخه ووځی د مرګ له خطر سره مخامخ کیږی او یا د جبری عسکری خدمت ته لیږدول کیږی، حال دا چی ښځینه د جنسی تیریو او جنسی سرغړونو له خطر سره مخامخ کیږی.

د دی فکتورونو په پام کی نیولو سره ښځی لا تراوسه مسوولیت لری چی د سون مواد راټول کړی. په همدی وجه هغوی لا تراوسه د جنسی تجاوزونو او تیریو قربانیانی دی. د دی لپاره چی د ښځو جسمی امنیت او په عین وخت ټول کمپ کی د خوراکی توکو امنیت خوندی وسائل شی، تصمیم نیونکو له ښځو سره په سلا مشورو لاس پوری کړ او دا یی غوره وګڼله، کله چی هغوی د سون موادو ټولو ته ځی، هغوی سره امنیتی محافظین ملتیا وکړی.

سرچینه:
Human Rights Watch, No Protection: Rape and Sexual Violance Following Displacement
http://hrw.org/backgrounder/africa/darfur0505/3.htm

د یورتنی ساده مثال په پام کی نیولو سره د امنیتی سکتور په څارنی کی د جنسیت د نظر شاملولو معنی یواځی دا نه ده چی په دغه سکتور کی دی زیاتی ښځی شاملی کړای شی. که څه هم د ښځو بشپړ او مساوی استازیتوب په دغه سکتور کی د مساوات په لور لومړی ضروری ګام دی، خو دا د دی ضمانت نه کوی چی د جنسیت نظر په پام کی نیول شوی دی. د جنسیت د موضوعاتو شاملول یوه پروسه ده چی څانګړی تعریف لری:

« دا په حقیقت کی د قانونمندیو، پالیسیو یا پروګرامونو په شمول په ټولو سطحو او ټولو ساحو کی د ښځینه او نارینه لپاره د هر ډول پلان شوی عمل او اقدام د اغیزو د ارزونی پروسه ده. دا یوه ستراتیژی ده چی هدف یی د پالیسیو او پروګرامونو په ټولو پړاوونو: طرح، تطبیق، څارنی او ارزونی کی د ښځینه او نارینه تجربی او نظریی په پام کی نیول دی، ترڅو ښځی او نارینه دواړه په مساوی توګه له هغو څخه ګټه ترلاسه کړی او نامساوات دایمی بنه پیدا نه کړی.» [1]

د نارینه توب او ښځینه توب تعصب کیدای شی چی د جنسیت مفکوری او په امنیتی سکتور کی د ښځو د برخه اخیستلو په وړاندی خنډ پیدا کړی او دا کیدای شی چی د دایمی نا امنی سبب وګرځی. ښځی ته تل د یو کمزوری، اړین، بیګناه قربانی او نارینه ته د غښتلی، خپلواک او امنیت ساتونکی یا د ناوړه چلند مرتکب موجود په سترګه کتل کیږی. په واقعیت کی ښځی هم کیدای شی د امنیت ساتونکی او یا د ناوړه چلند مرتکب وګرځی او ډیری یی د امنیتی سکتور په برخه کی کار پوهانی دی. د نوموړی کلیشه یی نظر سره چی ګواکی د امنیت پیتی په بشپړه توګه د نارینه په اوږو بار دی، په نارینو باندی

[1]- د ملګرو ملتونو اقتصادی او ټولنیزه شورا، د عمومی منشی د ۱۹۹۷ کال ریوټ. د ملګرو ملتونو د سیستم د متخصصو ادارو او نورو ارګانونو د پالیسیو او فعالیتونو همغږی: د ملګرو ملتونو د ټول سیستم د پالیسیو او پروګرامونو په ټولو برخوکی د جنسیت د نظر شاملول.

منفی اغیزه لری. دغه کلیشه یی نظر چی نارینه د پیاوړو ساتونکو په توګه د ښځو او ماشومانو په خدمت کی دی د پوځ د منسوبینوڅخه نیولی تر د وسلو د تولید د صنعت د کسانو لخوا عنوانیږی. د وسلو د تولید د صنعت په اړه باید دا هم وویل شی چی د نارینتوب نظر په دی ساحه کی ژوری ریښی لری او دا مفکوره حاکمه ده چی ټوپک د نارینه ملکیت دی (۱۰- ۲ چوکاټ مطالعه کړی). د کوچنیو وسلو زیاتوالی په حقیقت کی د زورزیاتیو او نا امنیو د کچی له لوړیدو سره تړلی دی.

**۱۰- ۲ چوکاټ**
**نارینه، نارینتوب او ټوپک**

د وسلو او د نارینه د «نارینتوب» ترمنځ بربنډی اړیکی هرچیری لیدل کیږی. د هالیود د سینماوو د جګړی د موادو او انقلابی پوسترونو څخه نیولی تر د ماشومانو د لوبو هټیو پوری.

څرنګه چی د بی وسلی کولو د ټولنی د نشریی په یوه خپری شوی مقاله کی راغلی دی، د کوچنیو وسلو د خپریدو په هکله وروستی څیړنی ښیی چی «څرنګه کوچنی وسلو له یوی خوا د نارینه د سمبول په توګه ګڼل کیږی او له بلی خوا د اقتصادی او ټولنیز ګټو د لاس ته راوړلو وسیله ګرځیدلی دی. په عام محضر کی د خپلی وسلی د ښودلو سره نارینه هڅه کړی چی ګواکی خپل ناریتتوب ښکاره کړی او په ټولنه کی خپل نقش تعریف کړی».

نارینتوب او د وسلی څښتن توب یو شی ګڼل، د جنسیت هغه یوه ایدولوژی ده چی وایی: وسله د نارینه ملکیت دی. که چیری دغه زورپالونکی فکر او د نارینتوب زورپالنه شهرت پیدا کړی او لمن یی پراخه او ومنل شی، کیدای شی چی د ښځو او هغو نارینه وو لپاره چی د زورپالنی مخالف دی، ستر امنیتی ګواښ وګرځی.

سرچینه:
Myrttinen, Henri, 2003, „Disamring Masculinities in Disarmament Forum Vol. 4, pp. 37-46

راتلونکی برخی په ډیری پراخی ژورتیا سره څیړنه کوی چی څرنګه د جنسیت د نظر شاملولو سره د امنیتی سکتور په اصلاحاتو او څارنی کی د ښځو ونډی له پراخولو او **د کلیشه یی نارینتوب** د نظر د محدودولو سره مرسته کوی.

## د نارینه او ښځینه امنیتی اړتیاو ته په اغیزمنه توګه پاملرنه

دا چی نارینه او ښځی د جنسیت له نظره په ټولنه کی مختلف نقشونه لوبوی، هغوی یو تربله سره مختلفی امنیتی اړتیاوی لری. په یوعادلانه او دیموکراتیک امینتی سکتور کی دغه امنیتی اړتیاو په مساوی توګه سره درجه بندی کیږی. چیرته چی د ښځو امنیتی ګواښونو ته سم پاملرنه نه ده شوی، هلته د ښځو پرضد زورزیاتی هم پراخ دی، دغه ډول وضعیت په ښځو، کورنیو، ټولنو او په مجموع کی په ټولی ټولنی باندی ناوړه اغیزه لری.

د جنسیت پر بنسټ ولاړ امنیتی ګواښونو څخه یو هم ناوړه چلند دی چی په ټوله نړی کی د ښځو پرضد تری کار اخیستل کیږی. د دغه ناوړه چلند او زورزیاتی لمن د کور له چاپیریال څخه نیولی تر په عام محضر کی تعقیب، ځورولو، بشری قاچاق، جنسی تیری اوقتل پوری رسیږی. سربیره پر دی په

ورځنیو زورزیاتیو کی چی د نړی په ګوټ ګوټ پیښیږی، ښځی تر ټولو نورو خلکو د هغو قربانیانی دی او یا له ګواښونو سره مخامخی دی. د یوی احصائیی له مخی له هر دریو ښځو کیدای شی چی یوه یی د زورزیاتیو قربانی وګرځی. [1] د ښځو پرضد زورزیاتی د کورنیو په پایښت او جوړښت باندی ناوړه اغیزه کړی او د دی کورنیو ماشومان له سالم روزنی څخه بی برخی کیږی او وروسته له روحی ناروغیو سره اخته کیږی. روحی ناروغی هغه یوه ستر مالی تاوان هم ځان لری چی وروسته د ټولنی په اوږو بار کیږی: د بیلګی په توګه د امریکا په متحده ایالاتو، چیرته چی هر کال ۱،۳ ملیون ښځی د خپلو میړو یا د ژوند د محرم شریکانو لخوا پری جسمی تیری کیږی، د هغوی کلنی روغتیایی مصارف تر ۵،۸ ملیارد ډالرو پوری رسیږی.[2] دا چی امنیتی سکتور په خاصه توګه پولیس او عدلی ارګان د ښځو پرضد د زورزیاتی د مخنیوی مسوولیت لری، هغوی دا توان هم لری چی د ښځو پرضد د زورزیاتی په مقابل کی اغیزمنه مبارزه وکړی.

**۱۰ ـ ۳ چوکاټ**

**د ښځو پرضد د زورزیاتیو پر بنسټ د جنوبی آسیا د قضائی سیستم د ظرفیت جوړول**

په ټوله نړی کی د ښځو سازمانونه زیار باسی تر څو د امنیتی سکتور تأسیسات د ښځو پرضد د زورزیاتیو مخه ونیسی، هغو ته پام واړوی او مرتکبینو ته سزا ورکړی.

Sakshi په هند کی د یو غیرحکومتی سازمان نوم دی چی په قضایی نظام کی د ښځو د حقونو په هکله څیرنه کړی ده او له هغی څخه د لاس راغلو موندنو څخه په استفادی سره یی د جنسیت په موضوعاتو کی د قاضیانو په روزلو لاس پوری کړی دی. قاضیان د ښځو لپاره ځانګړی پناه ځایونو ته ورل کیږی او هلته د زورزیاتیو له قربانیانو سره له نژدی مخامخ وینی او د هغوی د جسمی او روحی دردونو په هکله بیانونو ته غوږ نیسی. سر بیره پر دی روزونکی له خپل منځی دیالوګ، د ستونزو د حل لپاره له کوچنیو ګروپونو او د غیرحکومتی سازمانونو سره له لیدنو کتنو څخه استفاده کوی تر څو قاضیان د ښځو له وضعیت او اړتیاوو څخه سمه خبرتیا پیدا کړی .

له غیرحکومتی سازمانونو او قاضیانو سره په مشارکت کی Sakshi نورو هیوادونو لکه بنګلدیش، نیپال، پاکستان او سریلانکا ته هم د خپلو روزنیزو پروګرامونو لمن پراخه کړی ده . هغوی همداراز د حقوقو له پوهنځی او د قاضیانو د روزنی له انستیتوتونو سره هم همکاری پیل کړی ده.

سرچینه:
UNIFEM, Not a Minute More: Ending Violence Against Women, UNIFEM, New York, 2003, p.45.

نارینه هم د جنسیت له لحاظه خپل امنیت ته ګواښ وینی. هغوی په سلو کی د ۷۷ انسان وژنی قربانیان ګڼل کیږی؛[3] یا د جبری عسکری، د داړو اړوند زورزیاتیو قربانیان دی. دغه راز نارینه د ښځو په پرتله زیات په ځان وژنی لاس پوری کوی (۱:۳). په اروپا او جنوب ختیځی آسیا کی د ځان وژنی کچه

[1] UNIFEM, Not a Minute More: Ending Violance against Women, UNIFEM, New York, 203, p.6.
[2] Vlachova, Marie and Lea Biason (eds), Women in an Insecure World: Violance against Women,Facts, Figures and Analysis, SRO Kundig, Geneva, 2005, pp. 57.81
[3] World Health Organization, World Reprot on Violance and Health, WHO Genvea, available online at http://www.who.int/violence_injury_prevention/violence/world_report/ed/

د قتلونو له کچې څخه ډېره لوړه ده. د ځان وژنې ډېر لوړ رقم په ختیځه اروپا کې لیدل کیږي (په سپینه روسیه په لس زرو کې ۴۱،۵ او لتوانیا کې په لس زرو کې ۵۱،۶).[1]

د دې لپاره چې د جنسیت پر بنسټ ولاړ تهدیدونو باندې سړی پوه شي او په اغیزمنه توګه ورته پام واړوي د عمر، طبقې، مذهبي، قومي، توانمندي او جنسي میلان (ښځو یا نارینه خواته) هغه موضوعات دي چې باید په پام کې ونیول شي. د بیلګې په توګه په ۱۹۹۹ کال د امریکا په متحده ایالاتو کې د امریکا افریقایي تبره نارینه ځوانانو د قتل کچه چې عمرونه یې د ۱۵ تر ۲۴ پورې رسیدل، د قفقازي غیر اسپانوي یا سپین پوستو (هندو اروپایي) د عین عمر لرونکو ځوانانو په نسبت دوالس برابره زیاته وه.[2]

## د جنسیت موضوعاتو ته ځواب ورکونکې امنیتي تأسیسات او پرسونل

د امنیتي سکتور د تأسیساتو او پرسونل خپل سلوک، د سازمان کلتور او چارچلند کیدای شي چې د نارینه او ښځینه امنیت ته ګواښ وګرځي، هغه چې د امنیتي سکتور منسوبین دي او یا ملکي کار کونکي. پولیس، پوځیان، سرحدي محافظین، ګمرکي چارواکي، د جزائي تأسیساتو او د محکمو منسوبین، سوله ساتي عسکر او حکومتي پرسونل هر یو کیدای شي چې د کار په ساحه یا حتی په خپلو کورونو کې په تبعیضي سرغړونو، ځورولو او جنسي تیرو باندې لاس پورې کړي. دا چې د یو بل په وړاندې او د ملکیانو په وړاندې د یوه سازمان د پرسونل او د هغه د داخلي کلتور او چارچلند ترمنځ ټینګې اړیکې موجودې دي، باید په داخلي اقداماتو لاس پورې شي، تر څو د جنسیت پر بنسټ ولاړ تبعیضونو، ناوړه چارچلندونو او زورزیاتیو مخنیوی وشي او هغو ته پام واړول شي.

د جنسي میلان په وجه د پوځي پرسونل په منځ کې ځورونه، چې ډېري قربانیان یې نارینه دي، د په امریکا په متحده ایالاتو کې ډېر زیات عمومیت لري. د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت لخوا یوه څیړنه چې په ۲۰۰۰ کال کې د ۷۱۵۷۰ پوځي منسوبینو په منځ کې تر سره شوه، وموندله چې په سلو کې اتیا ځواب ورکونکو د کار او خدمت په ساحه کې توهین شوي، په سپکه سترګه ورته کتل شوي، د نارینه همجنس بازو او ښځینه همجنس بازو په هکله توهین آمیزې ټوکې اوریدلي او په سلو ۳۷ وویل چې هغوی د نارینه همجنس بازو د ځورولو شاهدان ؤ او یا خپله د داسې ځورولو قربانیان شوي دي.[3] د امنیتي تأسیساتو څخه بهر ملکي نارینه همجنسبازان ښایي د نوموړي سکتور د پرسونل د نژادي توپیرپالنې، د کرکې درلودلو او د پولیسي تیریو سره مخامخ شي.

د جنسیت پر بنسټ نا امني چې د امنیتي سکتور ښځینه کارکونکي د کار په ساحه کې ورسره مخامخ کیږي عبارت دي له تبغیض، جنسي ځورول او جنسي تیري او داسې نور. د امریکا د متحده ایالاتو د یوې پوځي اکادمۍ د زده کونکو د ۲۰۰۶ کال یوه څیړنه ښیي چې په سلو کې شل ښځینه زده کونکو د جنسي تیریو څخه رپوټ ورکړ او په سلو کې ۶۸ د جنسي ځورولو څخه یادون وکړ.[4]

---

[1] Ibid, pp. 187-188.
[2] Ibid, p.11.
[3] Human Rights Watch, 2003, Uniform Discrimination: The „ Don't Ask, Don't Tell" Policy of the U.S. Military. London: Human Rights Watch, available online at http://www.hrw.org/reports/2003/usa0103
[4] National/Organization for Women, 2006, From the Citadel to Military Recruting- Sexual Harassment in Military More Perversive Than Ever, http://www.now.org/press/0906/09-01.html

**۱۰ – ۴ چوکاټ**
**د ښځینه بندیانو امنیت ته ګواښونه**

نارینه او ښځینه بندیان دواړه په ځانګړی توګه د ربړولو، توهین او غیرانسانی چلند له ګواښونو او همداراز د جسمی او جنسی تیریو او ناوړه استفادو له خطرونو سره مخامخ دی.

هغو ناامنیو سره چی ښځینه بندیانی مخامخ دی عبارت دی له:

- د جنسیت اړوند ربړونی عبارت دی: د حامله داری او د ماشوم د زیږیدو په وخت کی جنسی تیری، د ښځینه و سینو او د شرم ځایونو کی برقی شوکونو ورکول، جنسی تجاوز او داسی نور جنسی تیری؛
- ممنوعه جنسی څورونی لکه د پلټنی په وخت کی جنسی څورونی، د جامو اغوستو، ځان اینځلو یا د تشناب څخه د استفادی په وختونو کی ورته کتل؛
- د امیدواری په وخت کی د پالنی نشتوالی، د ښځینه ناروغیو ستونزی او د مور او ماشوم نه پالنه (هغه میندی چی کوچنی ماشوم لری، ډیری وخت ماشوم یی ورسره یو ځای بندی کیږی، پرته له دی چی د هغه ځانګړی پالنه وشی)؛
- د حامله داری، مورتوب، سقط جنین (په قصد یا غیر قصدی توګه) موضوعات او هغو پوری اړوند احساساتی لګښتونه؛
- د جنسی تیریو او داسی نورو زورزیاتیو څخه وروسته روحی ناروغی چی ډیر وخت له پام څخه غورځول کیږی.

د ۲۰۰۸ کال په جنوری کی د بشری حقونو د شورا اوومی غونډی ته په خپل عمومی رپوټ کی د ربړونو په هکله د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی د ښځو ربړونی موضوع ته خاص پام اړولی دی. ځانګړی استازی ټینګار پر دی کړی چی د ښځو پرضد د جنسیت پر بنسټ زورزیاتیو په حالاتو کی د ربړونی ضد منشور له مخی دغه ډول زورزیاتی ذاتاً تبعیضی بڼه لری. هغه وویل چی د نوموړی منشور مواد کفایت نه کوی چی د داسی تبعیضو مخه ونیوله شی. هغه په دی برخه کی په دغه منشور کی د نورو موادو یا احکامو د ضمیمه کولو غوښتنه وکړه، تر څو د تیریو مخه ونیوله شی.

سرچینه:


Quaker United Nation Office, Submission to the Study of the Secretary General of the United Nation on Violence against Women: Violence against Women and Girls in Prison, OUNO, Geneva, 2005.
Roy, Mallarika,'Bare and Vulnerable Behind the Bars: Women in Need of Psychiatric Care in Indian Jails' in Feminism & Psychology, Vol.14(2) (2004).
Nowak, Manfred, "Report of the Special Rapporteur on Torture and other creul on degrading treatment or punishment", Doc. A/HRC/7/3(2008). Available at http://www2ohchr.org/english/issues/torture/rapporteur/


ښځینه ملکیانی هم د امنیتی سکتور د پرسونل لخوا د تبعیض، جنسی څورونی او تیری او دغه راز کورنی زورزیاتیو، جبری فاحشه توب او جبری نکاحو له ګواښونو سره مخامخ دی. د امریکا په متحده

ایالاتو کې د پوځ او پولیسو په منځ د کورنی زورزیاتیو ډیره لوړه کچه تثبیت شوی ده.[1] په بوزنیا، کمبودیا، موزنبیق او کوزوو کې د وسلوالو کړکیچونو څخه وروسته د پوځیانو او د سوله ساتو ځواکونو د پرسونل لخوا د ملکی ښځو پرضد له جنسی تیریو څخه کار اخیستل شوی دی.[2] که څه هم د داسی زورزیاتیو مسوولیت په لومړی سر کې د هر شخص په خپله غاړه دی، خو د امنیتی سکتور ډیر تأسیسات یو ډول تبعیضی او جنسی پالنی جوړښت کلتور لری چی د اړوند تأسیس په اغیزمنتوب او کار باندی منفی اغیزه لری.

## جنسیت ته ځواب ورکونکی امنیتی پالیسی د ټولو لپاره امنیت زیاتوی

د جنسیت د موضوعاتو په پام کی نیولو سره امنیتی پالیسی له تعادل او پایښت څخه برخمن کیری. جنسیت ته ځواب ورکونکی امینتی پالیسی د تصمیم نیولو په ډیری لوړی سطحی کی د جنسیت د مساویتوب په نسبت د ژمنی ښکارندوی دی او د جنسیت د موضوعاتو د داعیی د بریالیتوب لپاره خورا اهمیت لری. د جنسیت په وړاندی حساسه امنیتی پالسی باید پالیسی ته د نارینه او ښځو لپاره د مساوی لاس رسی شرایط برابر کړی؛ د پالیسی د طرحی، تطبیق او ارزونی په پروسه کی د مساوی حق او استازیتوب خوندی وساتی؛ دغه راز په پام کی نیول شوی پالیسی څخه د مساوی ګټی او هدفونه خوندی وساتی.[3]

په پالیسی کی د جنسیت اړوند موضوعاتو د شاملولو لپاره یوه ډیره ښه وسیله د جنسیت پر بنسټ ولاړه یوه ارزونه ده.
په بریتانیا کی د ښځو ملی کمیسیون (Women's National Commission)، Thmes Valley Police او د سروی پوهنتون په ګډه د Thmes Valley Police په اړه د جنسیت پر بنسټ یوه ارزونه ترسره کړه. د دغی ارزونی له مخی د پولیسو کړه وړه تر څارنی لاندی ونیول شول چی څرنګه هغوی «په سختو حالاتو کی له ښځو» سره تعامل کوی او د مختلفو کلتورونو، مذهبونو، قومونو او مختلف عمر لرونکو اشحاصو څخه له ښځو سره کاری ډلی جوړی کړی، ترڅو د پولیسی منصبدارانو چارچلند په عمل کی تر آزموینی او څیړنی لاندی ونیسی. د دغی څیړنی او ارزونی په پای کی یو ریوټ خپور شو چی په هغه کی د پالیسی لپاره سپارښتنو، د حل احتمالی لاروچارو او د مثبتو پرمختګونو مثالونو ته ځای ورکړ شوی ؤ.[4]

---

**۱۰ – ۵ چوکاټ**
**په جنوبی افریقا کی دفاعی اصلاحات: د جنسیت د کیفیت لپاره تأسیساتی میکانیزمونه**

د نژاد پالنی د زمانی څخه وروسته دبدلون د یوی اوږدی مودی پروسی د یوی برخی په توګه د مدنی ټولنی سازمانونه په خاصه توګه د ښځو سازمانونه فعال شوی دی، ترڅو په نویو حکومتی جوړښتونو کی د ښځو لپاره مساوی ونډه او د جنسیت د موضوعاتو په پام کی نیول تأمین کړی. د جنوبی افریقا د جمهوریت لپاره په دفاعی چارو او د دفاعی چارو د کتنی د پراخی پروسی په بنسټیز سند کی د جنوبی افریقا په امنیتی پالیسی کی د جنسیت موضوعات په بشپړه توګه په پام کی نیول شوی دی. نوموړی

---

[1] National Centre for Women and Policing. Police Family Violence Fact Sheet, http://www.womenandpolicing.org/violencefs.asp
[2] Fetherston, Anne Betts, 1995, UN Peacekeepers and Cultures of Violence, Cultural Survival Quarterly. Vol. 19(1)
[3] Status of Wmen Canada, Gender-Based Analysis: Performent of ist Applcation, Status of Women Canda, Ottawa, 2003, available online at http://www.swc-cfc-gc-ca/pubs/gbaperformance/gbaperformance_e.pdf
[4] Women and Equality Unit, UK Department of Trade and Industry, Gender Impact Assessment, 2002, pp.12.13.

سند د غیرجنسیت پالنی او د ښځو او نارینه د بشپړو مساوی حقونو لپاره غږ کوی او ښځو ته هماغسی حق ورکوی لکه چه نارینه وو ته ورکوی، ترڅو د ټولنی په ټولو برخو کی کار وکړی. د دفاعی چارو کتنه غوښتنه کوی چی جنسی ځورونی ته باید ګوته ونیوله شی او هغه یو چاپیریال باید جوړ شی چی ښځی یی ومنی او ورته درناوی وشی.

د جنسیت د موضوعاتو په پام کی نیولو او د ښځو د ونډی د پراخوالی لپاره په ځینو خاصو نوښتونو لاس پوری شوی دی:

- ښځی د دفاع وزارت او د دفاع په دارالانشاء کی لوړو مقامونو کی ټاکلی شوی دی ترڅو د جنسیت د تساوی لپاره ژمنه وشی ؛
- د جنسیت د موضوعاتو په هکله د دفاع وزارت پرسونلو ته په ټولو سطحو کی روزنه شوی ده؛
- نارینه او ښځینه ته په ګده توګه روزنه شوی ترڅو د مساوی چلند او د نه جنسیت پالنی لپاره ټینکار وشی؛
- پرسونلی پالیسیو ته چی پر ښځو مستقیماً اغیزی کوی بدلون ورکړ شوی دی، لکه هغو ښځو لپاره رخصتی چی په امینتی ځواکونو کی خدمت کوی اوبیا مور ګرځی، د هغو د کورنی نارینه او ښځینه غړو ته حقوق ورکول او داسی نور؛
- د ښځینه او نارینه د حقونو د خوندی ساتنی لپاره په ریاست کی د جنسیت موضوعاتو ته د پاملرنی په موخه د یو ځانګی پرانیستل؛
- د جنسیت یوه جرګه ګی تأسیس شوه ترڅو د دفاع وزارت په ټیټو سطحو کی د جنسیت اړوند پالیسی پلی کړی؛
- د شکایتونو د اوریدو لپاره یو تیلفونی کرښه پرانیستله شوه تر څو د دفاع وزارت په دننه کی د ښځینه جنسی ځورونو او یا د ښځو پرضد د نورو زورزیاتیو په هکله رپوټ ورکړی؛
- «ښځی د سولی میز شاته» نومی کلنی سازمان (په کال کی یو ځل د وسلوالو ځواکونو ښځینه غړی سره ټولیږی) او مدنی ټولنه په هغی یوی غونډی کی خبری کوی چی کوربه توب یی د دفاع وزیر د مرستیال په غاړه دی.

سرچینه:

Anderlini, Sanam Naraghi and Camille Pampell Conaw, Negotiating the Transition to Democracy and Reforming the Security Secor: The Vital Contributions of the South African Women, Women Waging Peace Policy Commission, Washington DC, 2004.

## د ښځو له ونډی سره تساویتوب او امنیت زیاتیږی

د دی لپاره چی د امنیت سکتور دیموکراتیک او بشپړ وګرځي، اړینه ده چی د امنیتی سکتور تأسیسات د هغو خلکو چی د هغو په خدمت کی دی، سم استازیتوب ولری. دا چی د امنیتی سکتور په تأسیساتو کی د نارینه ونډه له حد څخه وتلی ده، لازمه ده چی د ښځو د ونډو پراخوالی ته ځانګړی پاملرنه وشی. ښځی نه یوازی حق لری چی په مساوی او بشپړه توګه په امنیتی سکتورونو او د اصلاحاتو په پروسه کی برخه ولری، څرنګه چی نړیوال تړونونه حکم کوی ( ۱۰ – ۶چوکاټ ووینی) ، بلکه د هغوی ونډه د امنیت په سکتور کی مثبتی اغیزی لری.

**۱۰ – ۶ چوکاټ**
**د جنسيت د موضوعاتو په اړه نړيوال تړونونه**

د جنسيت د موضوعاتو په هکله نړيوالې ژمنې او قوانين د ښځو او نارينه ترمنځ د مساوي حقوقو د خوندي ساتنې لپاره کليدي وسايل دي:

**د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا ۱۳۲۵ پريکړه «ښځې، سوله او امنيت (۲۰۰۰)»** د سولې او امنيت او سوله ساتنې، سولې خبرو اترو او د شخړې څخه وروسته زماني بيارغاونې په ټولو هلوځلو کې د ښځو د مساوي ونډې او برخې لپاره سپارښتنه کوي.

**د Windhoek نومې اعلاميه او د ناميبيا د سولې د عمل پلان (۲۰۰۰)** د سولې د پروسې او سوله ساتنې په ټولو اړخونو کې د جنسيت د موضوعاتو د شاملولو لپاره غږ کوي.

**د پيکينګ اعلاميه او د عمل منشور (۱۹۹۵)** هدف دا دی : په نړيوالو عدلي ارګانونو کې د جنسيت پر بنسټ انډول ټينګول؛ د جنسيت په موضوعاتو کې د قاضيانو، څارنوالانو او نورو قضائي چارواکو لپاره روزنه؛ د پوځې لګښتونو کمول او د وسلو د عرضې کنټرول؛ د سوله ساتو ځواکونو لپاره د جنسيت پورې اړوند حساسو موضوعاتو روزنه.

**د ښځو پرضد د زورزياتيو د له منځه وړلو لپاره اعلاميه (۱۹۹۳)** په ديموکراتيکې قانونمندي کې د جزائي تحريماتو لپاره غوښتنه کوي ترڅو د ښځو پرخلاف زورزياتيو ته ګوته ونيوله شي؛ د هغو اقداماتو لپاره غږ کوي چې د قانون د اجراء چارواکې او عامه چارواکې د ښځو د اړتياوو په هکله روزنه ومومي؛ او د تعصب او پيش قضاوتيو او د د ښځو سره د کليشه يي دښمنيو د له منځه وړلو لپاره د عملې اقداماتو غوښتنه کوي.

د ضميمه يې پروتوکول په شمول د ښځو پرضد د ټولو ډولونو د توپيرپالنې د له منځه وړلو منشور (۱۹۷۹) غوښتنه کوي: د حکومت د ټولو پاليسيو په طرح او تطبيق کې بايد ښځې برخه ولرې؛ د حکومت په ټولو سطحو کې په عامه دندو کې د ښځو ټاکل؛ د ښځو د قانونې حقونو خوندي ساتل؛ د عامه چارواکې او تأسيساتو لخوا د ښځو پرضد د هر ډول توپيرپالنې او ناوړه چلند څخه مخ اړول؛ او د ملې قانون د ټولو هغو جزائي مادومنسوخول چې د ښځو پرضد د توپيرپالنې حکم کوي.

د امنيتې سکټور د اصلاحاتو په اړه د جنسيت د اختياراتو په هکله د زياتو معلوماتو لپاره لطفاً په DCAF, UN-INSTRAW,OSCE/ODIHR, GENDER and Security Reform Toolkit,2008، کې د امنيتې سکټور د اصلاحاتو او جنسيت اړوند په اړه نړيوال او سيمه ايز قوانين او ابزار مطالعه کړې.

سرچينه:
UN-INSTRAW, Gender and Security Reform: International Agreements.
http://www.un-instraw.org/en/index.php?option=conten&task=blogcategory&id=159&Itemid=218

په امنيتې سکټور کې د ښځينه کارکونکو د شمير زياتول د يو بشپړ او ديموکراتيک امنيتې سکټور د رامنځ ته کيدو سبب ګرځې او په نتيجه کې هغه کولاي شي چې ښه امنيت عرضه کړي. په ۲۰۰۳ کال

د امریکا په متحده ایالاتو کې د ښځو او پولیسو چارو ملی مرکز د ښځو په هکله د پلټنې موجودې لاری چاری په بشپړه توګه تر کتنې لاندې ونیولی. [1] د نوموړی مرکز څېړنې په لاندې ډول دی:

- ثابته شوی ده چې ښځینه منصبدارانې د خپلو نارینه همکارانو په څیر له کفایت او توانمندی څخه برخمن دی؛
- ډیر لږ احتمال لری چې ښځینه منصبدارانې له قوی څخه په کار اخیستلو زیاتې وکړی؛
- ښځینه منصبدرانې د ټولنې له خوښې او غوښتنې سره سم پولیسی چارې سرته رسوی.

ډیری ښځینه منصبدارانې ښایی د ښځو پر ضد د زورزیاتیو د ځواب په موخه د قانون اجرآت تر ارزونې لاندې ونیسی او په هغو کې د ضرروت په صورت کې اصلاحات راوړی. د قانون په اجرائی ادارو کې د ښځینه منصبدارانو لوړ شمیر د جنسی توپیرپالنې د ستونزو او د جنسی ځورونو مخه نیسی.

د بیلګې په توګه، په ۲۰۰۲ کال کې د امریکا د متحده ایالاتو په ۷ سترو پولیسی څانګو کې یوی مطالعې وښودله چې ښځینه منصبدارانې یواځې په سلو کې دوه تورن شوی چې په قوی کې له کاراخیستلو څخه یې زیاتې کړی دی (د هغو پولیسو چې د خپلې دندې د ترسره کولو لپاره لوړه کړی په سلو کې ۱۲ ښځې جوړوی). حال دا چې د نارینه منصبدرانو شمیر چې له قوی څخه په کار اخیستلو باندې تورن دی دښځو په پرتله اتیا ځله زیات دی. سربیره پر دی، ښځینه منصبدران د ستاینې وړ ارزونې څخه برخمنې دی او د ټولنې د غړو لخوا د نارینه په پرتله غوره والی ورکول کیږی. [2]

۱۰ – ۸ چوکاټ
په پوځ کې ښځې ۲۰۰۶[4]

| هیواد | ښځینه (٪-) |
| --- | --- |
| لاتویا | ۱۸،۲ |
| امریکا متحده ایالات | ۱۰،۵ |
| ترکیه | ۳.۱ |
| پولند | ۰،۵ |

۱۰ – ۷ چوکاټ[3]
په پولیسی ځواک کې ښځې

| هیواد | نارینه (٪) |
| --- | --- |
| ترکیه | ۸،۹۶ |
| امریکا متحده ایالات | ۹۰ |
| مالیزیا | ۸۹.۹ |
| سویډن | ۶۶ |

څرنګه چې نن لیدل کیږی په پولیسو، پوځ، سرحدی محافظینو، عدلی، حکومتی چارو او د امنیت په نورو سکتورونو او د څارنې په تأسیساتو کې نارینه د ښځو په پرتله ډیر زیات دی.

دا مسأله د نورو امنیتی تأسیساتو په برخه کې هم صدق کوی. د ملګرو ملتو په سوله ساتو عملیاتو کې ښځې د پوځی پرسنول په سلو کې دوه جوړوی او په سلو کې له پنځو کې په پولیسی خدماتو کې ګمارل کیږی. [5] په پارلمانانو کې د ښځو فیصدی له پخوا څخه لوړه شوی ده، څرنګه چې په ۲۰۰۶ کال کې

---

[1] National Center for Women and Policing, Hirting&Retaining more Women: the Advantage to law enforcement agencies, 2003, http://www.womenandpoliicing.org/pdf/NewAdvantagesReprot.pdf
[2] Ibid. PP 4-7
[3]- د ملګرو ملتونو د سوله ساتو عملیاتو څانګه، د سوله ساتو عملیاتو لپاره د جنسیت د منابعو طرح، ملګری ملتونه، نیویارک ۲۰۰۴، پانه ۱۴۶
[4] NATO, Percentage of Military Service Women 2006 http://www.nato.int/issues/wmen:nato/perc:fem_soödiers-2006.jpg

[5] Guethenno, Jean-Maria, Statement to the Security Council Open Debate on the Imlementation of Resolution 1325 (2000) on Women, Peace and Secuirty. Un Secretariat, New York 2006, available online at http://www.ipu.org/wm-e/world.htm

په سلو ۱۶،۹ ته ورسيد ( که څه هم بياهم لږه ده) [1] ډيری لږی ښځی د دفاع يا د عدليی د وزيرانو په توګه ټاکلی کيږی. د نړی په ۲۹ هيوادونو کی ښځه د عدليی د وزيری په توګه ټاکلی شوی ده چی فيصدی يی په سلو کی ۱۸،۸ ته رسيږی. [2]

حتی که ښځی د بيلګی په توګه په پوليسی ځواک کی ګډون هم وکړی، اکثرا هغوی يواځی ښځينه موضوعاتو لکه « کورنی زور زياتی» يا «ښځينه بنديان» کی ګمارل کيږی. په بديل کی په نورو برخو کی هغو ته ټيټ پوړی دندی سپارلی کيږی يا ښځينه کليشه يی کارونه، لکه د کتابت او سکرتری کارونه. په سيراليون کی د بيلګی په توګه د ټيټ پوړو دندو لپاره د ښځو د استخدام او جنسيت اړوند ښوونی او روزنی سر بيره، له ښځينه پوليسو څخه انتظار کيږی چی د خپلو نارينه افسرانو لپاره پخلی هم وکړی. [3] دا د دی ويندوی دی چی نه يواځی ډيری ښځی بايد استخدام شی، بلکه ډاډ بايد لاس ته راشی چی هغوی تصميم نيونکو مقامونو ته هم ټاکلی کيږی.

## ښځينه ملکی کارکونکی او د ښځو سازمانونه

ښځينه ملکی کارکونکی، د ښځو سازمانونه او هغه سازمانونه چی د جنسيت په موضوعاتو باندی کار کوی په عامه، ملی، سيمه ايزو او نړيواله سطح د امنيت د خوندی ساتنی لپاره ستر لوبغاړی شميرل کيږی. د سپکو او کوچنيو وسلو په کمولو او له مينځه وړلو او يا د هغو په ټولولو کی ښځی ستر نقش لوبوی. د البانيا د ګرامش په سيمه کی ښځو دنده اخيستی چی د ملګرو ملتونو د پرمختيايی پروګرام په بدل کی د وسلو د ټولولو په کارونو لاس پوری کړی او په دی برخه کی ستره ونده اخيستی ده. د ۶۰۰۰ وسلو او ۱۳۷ ټنو ګوليو په بدل کی هغوی د ملګرو ملتونو له پرمختيايی پروګرام څخه هغوی د يو مليون ډالرو په ارزښت مرستی او يا د مرستی پروژی ترلاسه کړی دی . [4]

په ټوله نړی کی د مدنی ټولنی سازمانونه د ښځو او نارينه ترمنځ او د هغو د امنيتی اړتياوو او په ملی او نړيوالو سطحو کی د پاليسی جوړونو کی ترمنځ د يو پل په توګه خدمت کوی. د مدنی ټولنی سازمانونه کله ناکله د ولسی ټولن شبکی لری چی د هغو په مرسته د محل په سطح امنيتی اړتياوی تشخيصوی. د بيلګی په توګه د ښځو او د ښځو د سازمانونو له لاری هغه معلومات راټوليدل چی نه يواځی دقيق به ؤ بلکه د شخړو د احتمالی پيښيدو مخکی له مخکی خبرداری به يی هم ورکاوه. د ښځو سازمانونه همداراز د ټوپيرپالنی او د ښځو پرضد د زورزياتيو د پيښو د تشديد او د رسنيو د تبليغاتی موضوعاتو په تثبيت کی مخکښ نقش لوبولی دی. دغه ډول تشديد کيدای شی چی د زورپالونکو شخړو مستقيمه نتيجه وی، لکه په کوزوو کی د ښځو پر ضد د جنسی تيری پيښی، د متقابل ويرولو د يو ډول په توګه، په ۱۹۸۹ کال کی مخ پر زياتيدو وی. [5]

د ښځو دمدنی ټولنی سازمانونه همداراز د نارينه امنيت په خوندی ساتنه کی هم فعال دی، د بيلګی په توګه په جنوبی افريقا کی د ۱۹۸۰ لسيزی په پای کی د عسکری د اجباری خدمت د پای ته رسولو لپاره د مبارزی له لاری. د دغی مبارزی مخکښتوب د ښځو په غاړه ؤ او د ښځو د سازمانونو لخوا يی

---

[1] Inter-Parliamentary Union, Women in National Parliaments, 2006 http://www.ipu.org/wmn-e/world.htm
[2] Inter-Parliamentary Union, Women in Politic s 2005. IPU and UN DPI, Geneva, 2005, http://www.ipu.org/pdf/publications/wmnmap05_en.pdf

[3] Naraghi, Sanam and Camille Pampell Conaway. "Security Sector Reform in Inclusive Security, Sustainable Peace: A Toolkit for Advocacy and Action, International Alert, London, 2004, p.35.
[4] Ibid, p 37
[5] Schmeidl, Ssan and Eugene Piza- Gender and Conflict Early Warning: A Framwork for Action; International Alert, 2002, p.13.

ملاتړ کیده او په خاصه په میندو باندی یی غږ وکړ ترڅو په عمل لاس پوری کړی او وغواړی چی حکومت د هغوی زامنو ته یو چانس ورکړی.[1] د ښځو سازمانونه لکه په اسرائیلو کی « New Profile او Women in Black» او په روسیه کی د عسکرو د میندو د کمیټو اتحادیه د جلبیانو د بشری حقونو د ساتنی دفاع کوی او سربیره پر دی د توپیرپالنی، ځورونی او د اجباری عسکری خدمت پرضد مبارزه کوی.

دغه ډول چی د ښځو سازمانونه کیدای شی د امنیتی موضوعاتو په اړه مهم نقش ولوبوی، هغوی کولای شی چی د امنیتی سکتور په څارنه کی هم ښه همکار وګرځی، لکه د څارنی په رسمی او غیررسمی عامه میکانیزم کی.

## د مدنی ټولنی سازمان څه کولای شی؟

د امنیتی سکتور د اصلاحاتو پروسه او د امنیتی سکتور د څارنی اقدام ډیر ښه امکانات دی ترڅو د امنیت په سکتور کی د جنسیت د موضوعاتو څخه د دفاع او د هغو په څارنه کی په ابتکارعمل لاس پوری کړی.[2]

## د جنسیت د موضوعاتو څیړنه او ثبت

په اوسنی وخت کی د جنسیت او د امنیی سکتور د څارنی د موضوعاتو په هکله ډیری لږی څیړنی شوی دی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی په ابتکارعمل لاس پوری کړی ترڅو د امنیتی سکتور د اصلاحاتو د پخوانیو پروسو څخه لاس ته راغلی تجربی سره ټولی کړی او خپله په دی برخه کی په ژور څیړنو لاس پوری کړی. سربیره پر دی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی د بشری حقونو سرغړونی (خصوصاً د ښځو او نجونو) چی د امنیتی سکتور لخوا سرته رسول کیږی، ثبت کړی. دغه ډول معلومات او احصائیی، کله چی د پالیسیو د اصلاحاتو لپاره تبلیغ کیږی، خورا اهمیت لری.

د څیړنی او سند کولو یا ثبت کولو نور ډولونه چی لاس لاندی نیول کیدای شی، عبارت دی له:

- په امنیتی تأسیساتو کی د کارکونکو ښځو د شمیر او د هغوی د کار د سطح او ډول په هکله د احصائیو راټولول؛
- د امنیتی سکتور د تأسیساتو په اړه د جنسیت د موضوعاتو پلټنه او ارزونه (۱۰ – ۱۰ او ۱۰-۱۱ چوکاټونه وګوری)؛
- د جنسیت په اړه بودجوی مسائل تحلیل کړی: معنی دا چی په دی هکله معلومات پیدا کړی چی آیا د جنسیت اړوندو موضوعاتو لپاره کافی بودجه او مالی منابع ځانګړی شوی دی که نه.

[1] Anderini, Sanam Naraghi and Camille Pampell Conaway, Negotiating the Tranaction to Democracy and Reforming the Security Sector: The Vital Contributions of South African Women Waging Peace Policy Commission, Washington DC, 2004.p.8.

[2]- د جنسیت به موضوعاتو او د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په اړه (خصوصاً د امنیتی سکتور په څارنه کی د مدنی ټولنی د سازمانونو د نقش په هکله) د زیاتو معلوماتو لپاره د DCAF، UN-INSTRAW او 2008 OSCE/ODHIR د جنسیت او د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په اړه رسالی مطالعه کړی. دغه ریفرینسونه موندلای شی: http://www.dcaf.ch/gssrtoolkit

**۱۰ ــ ۹ چوکاټ**
**ستاسو په څېړنه کې د جنسیت د موضوع د شاملولو لپاره لارښونه**

- ټل د جنسیت، عمر، قومیت یا نژادی او نورو اړوندو فکتورونو په واسطه معلومات درجه بندی کړی.
- د نارینه، ښځینه، نجونو او هلکانو د امنیتی غوښتنو ترمنځ توپیر په پام کی ونیسی.
- ټول کلیدی لوبغاړی او په پام کی نیولی شوی ډلی او د سروی نمونی تر کومه ځایه چی امکان ولری په مختلفو ډولونو سره شامل کړی.
- د څېړنی یوه صلاحیت لرونکی پروسه جوړه کړی. له خلکو سره په ګډه په څېړنه لاس پوری کړی، نه دا چی د هغوی په هکله څېړنه وکړی.
- د څېړنی «غیرمرسوم یا غیرسنتی» میتودونه په پام کی ونیسی چی له کیفیت څخه برخمن وی: د ژوند کیسی، شخصی پسمنظرونه.
- د ټولنیزو اغیزو په مقصد څېړنه طرح کړی ترڅو پالیسیو او پروګرامونو ته بدلون ورکړی، د بدلون موخه باید د ښځو او نجونو د امنیت د خوندی ساتنی بنه والی وی.

د زیاتو معلوماتو لپاره د ملګرو ملتونو "UN-INSTRAW" د جنسیت د موضوعاتو د څېړنی لارښونه مطالعه کړی. دغه لارښونی موندلای شی:
http://www.un-instraw.org/en/index.php?option=content&task=view&id=1051&Itemid=247

## ستاسو په خپل سازمان کی د جنسیت موضوعات

د مدنی ټولنی تجربه لرونکی او نه تجربه لرونکی سازمانونه چی د جنسیت پر موضوعاتو باندی کار کوی ښایی په لومړی سر کی د خپلو سازمونو په دننه کی دا موضوعات تر څېړنی لاندی ونیسی چی آیا د ښځینه او نارینه غوښتنو ته ځواب ورکونکی دی. د دی کار لپاره لومړی ګام د خپل سازمان په دننه کی د جنسیت د مساوی حقوقو موضوع پلټنه ده. په دی معنی چی د مدنی ټولنی هر سازمان خپلی داخلی پالیسی، روان پروګرامونه اوکارکونکی تر کتنی لاندی ونیسی چی آیا له دغو لاندو ځانګړتیاوو څخه برخمن دی که نه:

- د سازمان په ټولو سطحو کی د نارینه او ښځینه ترمنځ د مساوی حقوقو استازیتوب؛
- د بشری منابعو پالیسی او چارچلندونه چی د ښځو استخدام، د هغوی پالنه او پرمختګ تشویق کړی؛
- د جنسی ځورولو، توپیرپالنی او زورزیاتیو د مخنیوی لپاره پالیسی او میکانیزمونه؛
- د جنسیت د موضوعاتو په هکله د کار کولو لپاره تخنیکی ظرفیت
- خپلو ټولو کارکونکو او منسوبینو ته د جنسیت د موضوعاتو بنسټیز روزنه ورکول؛
- په پالیسیو، پروګرامونو او نوښتونو کی د جنسیت اړوند مهم موضوعاتو په پام کی نیول؛
- د جنسیت اړوند نوښتونو لپاره د کافی مالی سرچینو ټاکل.

**۱۰ – ۱۰ چوکاټ**
**د جنسيت د موضوعاتو د پلټنو او ارزونو لاری چاری**

دغه لاندی لاری چاری د يوی ستراتيژی د جوړولو اوقدم په قدم لارښوونی دی چی کيدای شی د خپل ارزونی او دغه راز د امنيتی سکتور د تأسيساتو د جنسيت د موضوعاتو د پلټنی لپاره تری کار واخيستل شی:

- **د جنسيت پر بنسټ ولاړ د ارزونی رساله** – دا د جنسيت پر بنسټ ولاړ د پلټنی په مقصد يوه لارښوونه ده چی هدف يی د نارينه او ښځينه ترمنځ د مساوی حقوقو د تأمين په پام کی نيولو سره د سازمان اصلاح کول دی (دا رساله په انګليسی، فرانسوی، هسپانوی او پرتګالی ژبو موندلی شی)؛
- http://www.snworld.org/cds/rgGsa/
- **د جنسيت پر بنسټ ولاړ د پلټنی د ميتودلوجی سريزه:**

(Ist design and Implementation in DFID Malawi-Written by Caroline Moser)، دغه ليکنه د جنسيت پر بنسټ ولاړ د پلټنی لپاره د يوی ميتودلوجی ښودنه کوی، په لارښوونه کی دا د پوښتنه ايز څيړنی او نورو داسی څانګړو اقداماتو لپاره بيلګی او مثالونه ښودلی شوی دی؛
http://odi.org.uk/PPPG/publications/papers_reports/ODI_Moser_gender_audit_metodlogy.pdf

- **د جنسيت تدقيق:**

Questionnaire Handbook and Gender Audit Faciltitor's Guide CD-
دغی رسالی کی يو تحليلی چوکاټ وړاندی شوی چی د هغه څخه په استفادی سره يو سازمان کولای شی د خپل ځان په هکله تحليل وکړی او د عمل په پلان لاس پوری کړی.
http://www.interaction.org/pub/index.html#Gender

## د جنسيت د موضوعاتو د يوی ځواب ورکونکی امنيتی پاليسی لپاره مبارزه

د مدنی ټولنی سازمان کولای شی چی د امنيتی پاليسيو د څارنی له لاری او د جنسيت د موضوعاتو د شاملولو لپاره يو مهم نقش ولوبوی.

د مدنی ټولنی سازمان کولای شی چی د جنسيت پر بنسټ ولاړ د يوی ارزونی لپاره هڅونه وکړی او يا خپله په لاره واچوی ترڅو د ټولنی پر مختلفو وګړو – نارينه، ښځينه، نجونو او هلکانو – باندی د امنيتی پاليسيو اغيزی وڅيړی (۱۰- ۱۱ چوکاټ وګوری). ارزونی کيدای شی چی پر روانو يا پيشنهادی پاليسيو باندی او دغه راز د امنيتی سکتور پر خپله تأسيساتو باندی ترسره شی. خو يوه ارزونه هغه وخت ډير بريالی ده چی په لومړی پړاو کی ترسره شی ترڅو په پاليسی کی بدلون راوستل شی او يا له سره پری غور وشی.

بله لاره چاره دا ده چی د پاليسی د کتنی يا د سلامشورو په پړاو کی د جنسيت پر بنسټ ولاړو اصلاحاتو لپاره غږ پورته شی. په فيجی کی د حکومت د ملی امنيت او د دفاع د کتنی کميټه (NSDR) د ښځو له غيرحکومتی سازمان سره د ۲۰۰۳ کال د پروسی د يوی برخی په توګه وليدل. د هغوی بحث لاندی مسائلو ته ځير ؤ:

- د کتنی پروسه څرنګه په لاری واچوله شوه؛
- خلکو سره سلا مشوری وشوی؛

- هغه موضوعات چې امنيت ته ګواښ پيدا کوی تشخيص شوی؛
- څرنګه نړيوال معيارونه او نورمونه (د جنسيت د موضوعاتو په اړه د نړيوالو موافقو په شمول) په دفاعی پروګرامونو کی ګډ يا ادغام شول.

**۱۰ ــ ۱۱ چوکاټ**

**د جنسيت د موضوعاتو له مخی د امنيتی پاليسی ارزونه[1]**

| ګامونه | پوښتنې |
|---|---|
| لومړی ګام ـ موضوع او هدف وټاکی | • هغه پاليسی چې تاسو هغی ته د رسيدو هدف لری کومه ده او څوک تری ګټه اخلی او چاته ګټه رسوی؟<br>• آيا دا پاليسی د نارينه، ښځينه، هلکانو او نجونو امنيتی اړتياوی پوره کوی؟ آيا په هغی کی د جنسيت پر بنسټ ولاړ زورزياتی لکه کورنی زورزياتی او د انسانی قاچاق مسائلو ته پاملرنه شوی ده؟ آيا د دی زورزياتيو د مخنيوی مسائل هم په دی پاليسی کی شامل کړای شوی دی؟<br>• آيا دا پر ملی او بشری امنيت باندی هم اغيزه لری؟<br>• آيا دغه پاليسی د جنسيت د موضوعاتو په اړه له نړيوالو، سيمه ايزو او ملی قوانينو سره جوړيږی؟<br>• آيا دغه پاليسی په دی موخه ده چی د جنسيت پر بنسټ نابرابريو باندی لاس برتوب وشی؟ که چيری داسی وی، آيا د جنسيت اړوندو موضوعاتو کی بايد برابری او مساوات په پام کی ونيول شی؟<br>• آيا د جنسيت اړوند او د جنسيت لپاره حساس مسائل په دی پاليسی کی شامل کړای شوی دی؟<br>• نارينه او ښځی او د ښځو د مدنی ټولنی سازمانونه او د ښځو د چارو وزارت د دغو موضوعاتو او نتايجو په هکله څه وايی؟ |
| دوهم ګام - معلومات او اطلاعات ټول کړی | • څرنګه د اړوندو موضوعاتو په هکله له مينه والو او د نارينه او ښځينه له بيلابيلو ډلو سره سلامشوری کوی؟<br>• آيا نماينده سازمانونه په رښتيني توګه د هغو ښځو او نارينه وو غږ پورته کوی چی انتظار کيږی له دی پاليسی څخه ګټه واخلی؟ که چيری نه کوی، د حل لاره څه ده؟ څرنګه کيدای شی هغو ته لاس رسی وشی؟<br>• د هغو خلکو چی له دی پاليسی سره اغيزمن کيږی د جنسيت پر بنسټ ولاړ جوړښت څرنګه دی؟<br>• څرنګه کيدای شی چی د جنسيت، قوميت، جسمی توانمندی، عمر، دين او جنسی تمايلاتو پر بنسټ ولاړ اطلاعات او احصائيوی معلومات راټول کړای شی؟<br>• پرته د جنسيت موضوعاتو اړوند نور کوم معلوماتو ته اړتيا ده چی بايد راټول کړای شی؟<br>• د لومړی پړاو د سلامشورو په وړاندی کوم خطرونه موجود دی؟ څرنګه کيدای چی هيلی او يو تر بله سره مختلفی ګټی ترتيب او تنظيم شی؟ |

---

[1] Adapted fro: Women and Equality Unit, UK Department of Trade and Industry, National Committee for the Advancement of Women in Viet Nam, Gender Mainstreaming Gaidlines in National Policy and Implementation: towards gender equality in Viet Nam through gender-respomsive national policy and planning. Hanoi, 2004, pp47-48.
http://vietnam.unfpa.org/docments/GenderManinstreamingGaidlinesInNationalPolicyformulationAndImplemetation.pdf

| | |
|---|---|
| | |
| دریم ګام - د پرمختیا لاری چاری | • هره سپارښتنه یا لاره چاره پر ښځینه او نارینه باندی څه ډول مثبت یا منفی اغیزی کوی؟<br>• آیا سپارښتنی یا هره لاره چاره د ښځو او نارینه وو سنتی یا کلیشه یی نظریات نورهم پیاوړی کوی او که هغو سره مقابله کوی؟<br>• کومه لاره چاره نارینه او ښځو ته رښتینی انتخاب په لاس ورکوی او موقع ورته برابروی ترڅو په ټولنه کی خپل ټول ذاتی قوت ته ورسیږی؟<br>• که چیری په یوی بلی ډلی باندی د بلی په نسبت منفی اغیزی وکړی آیا په پالیسی کی د بدلون اړتیا لیدله کیږی او په څه اقدام لاس پوری کیدای شی ترڅو د منفی اغیزی مخه ونیوله شی او یا داسی پالیسی جوړه شی چی د جنسیت تعادل په کی خوندی وساتل شی؟ |
| څلورم ګام - د مفاهمی او پوهاوی لاری چاری | • څه ډول یو پیغام ته اړتیا ده چی پالیسی د پوهیدو وړ وګرځی؟<br>• دغه پیغام څرنګه کیدای شی چی په آسانی سره نارینه او ښځو ته ورسیږی؟<br>• آیا نورو ځانګړو لاروچارو ته هم اړتیا شته؟<br>• دغه پالیسی د مساوات په وړاندی د حکومت ژمنه څرنګه منعکسوی او آیا د مساوات په هکله کوم ځانګړی پیغام هم وجود لری چی په کی شامل کړای شی.<br>• آیا د جنسیت لپاره حساسه ژبه، سمبولونه او بیلګی په هغو مطالبو کی استعمال شوی ده چی دغه پالیسی د پوهاوی وړ ګرځوی؟<br>• هغه نارینه او ښځی چی په نورو ژبو خبری کوی یا سواد نه لری، هغو سره تاسی څه ډول مفاهمه کوی؟ |
| پنځم ګام - د تطبیق لاری چاری | • آیا  دغه پالیسی یا خدمت د یوی ښځی یا نارینه لخوا تجربه کیږی او مخکی له دی چی عمل ډګر ته وړاندی شی آیا د یوی ښخی او نارینه لخوا په مختلف ډول لاس رسی وجود لری؟ او آیا دغه اختلاف د قومیت، جسمی توانمندی، دین، جنسی تمایلات له وجی اغیزمن شوی؟ او څه بندو بست نیول شوی ترڅو هغو کسانو ته لاس رسی وشی چی ښایی له پام څخه غورځول شوی وی؟<br>• آیا کیدای شی چی په پام کی نیول شوی خدمت په ګډه توګه نارینه او ښځو ته عرضه شی؟ او آیا د حکومت نوری اداری او څانګی یا محلی، ملی او نړیوال سازمانونه کولای شی چی نارینه او ښځو ته د دی خدمت په عرضه کولو کی مرسته وکړی؟ آیا ښځی د دی خدمت په تطبیق کی په مساوی کچه برخه لری؟<br>• آیا د جنسیت د مساواتو موخو ته د رسیدو لپاره ځانګړی یا کافی مالی سرچینی ځانګړی شوی دی؟<br>• آیا تطبیق کونکی د جنسیت پر بنسټ ولاړو موضوعاتو ته پاملرنه لری او آیا هغوی د جنسیت اړوندو موضوعاتو څخه خبر دی؟ |
| شپږم ګام - څارنه | • آیا  ښخینه او نارینه چی له دی خدمت یا پالیسی ځخه ګټه ترلاسه کوی په مساوی توګه د څارنی په پروسه کی برخه لری؟<br>• آیا د څارنی په شرایطو کی دا هم شامل دی چی د جنسیت مساوات باید خوندی وساتل شی او د ګټه اخیستونکو د قناعت لپاره شرط هم په پام کی نیول شوی دی او آیا دغه شرایط هغه حد او حدود هم ټاکی چی څرنګه په بریالیوب سره د نارینه او ښځینه مختلفو اړتیاوو ته پاملرنه وشی؟<br>• څرنګه کیدای شی چی بهرنی سازمانونه په ټولنه کی د پالیسی د څارنی په نتایجو کی مرسته وکړی؟ |

| | |
|---|---|
| | • که چیرې لاس لاندې نیول شوی پالیسي د نارینه او ښځینه ترمنځ په ټولو برخو کې د مساوي حقوق ژمنه ونه شي کړای،آیا داسې اقدامات شته دي چې د پالیسي د پلټنې لپاره لاره هواره کړي یا هغې ته بدلون ورکړي؟ |
| اووم ګام - ارزونه | • آیا دغه پالیسي د ښځو او نارینه وو تر منځ د مساوي حقوقو د ودې لپاره او هغو ته د مساوي چانسونو د برابرولو لپاره لاره هواروي؟ ایا د ښځو او نارنیه وو لپاره ټاکلې شوې غوښتنې پوره کوي؟<br>• آیا یوه ډله د بلې په پرتله زیاته ګټه ترلاسه کړې ده؟ او که د پالیسي د بدلون لپاره اړتیا ده ځکه چې د پروژې په سر کې د نارینه او ښخینه ترمنځ د مساوي حقوقو د خوندي ساتنې هدفونه نه دي ترسره شوي؟<br>• په عمومي توګه د نارینه او ښځینه پر ژوند باندې دغو پالیسیو څه اغیزې کړې؟<br>• آیا په دې پروسه کې نارینه او ښځې دواړه برخه لري؟ آیا دغې پروسې د هغوی د نظر غوښتنې په لټه کې شوي او د هغوی نظر ته یې اهمیت ورکړی دی؟<br>• آیا د نورو معلوماتو د ټولولو لپاره اړتیا لیدله کیږي؟ او آیا ټاکل شوي هدفونه او نښانې د دې غوښتنه کوي چې باید د لاس ته راغلې تجربې په رڼا کې په هغو کې اصلاحات راوستل شي؟<br>• کومې نورې تجربې لاس ته راغلې چې په راتلونکو پالیسیو او خدماتو کې باید په پام کې ونیولې شي؟ د هغو په هکله چاته باید معلومات ورکړ شي او دا معلومات څه ډول وړاندې شي؟ |

په نتیجه کې د ښځو سازمانونو د ملي امنیت د شورا لپاره د ښځو د چارو د وزارت د دایمي مسوول او د ولایاتو او محلاتو په سطح امنیتي کمیټو په شمول NSDR ته سپارښتنې وړاندې کړې.[1]

**۱۰ _ ۱۲**

**د جنسیت د قوانینو لپاره مبارزه او له هغو څخه پلویتوب: بوزنیا او هرزګووینا**

د ښځود سازمانونو په برخه کې د حقوقو د مبارزې لپاره د یوې مستقیمې نتیجې په توګه د بوزنیا او هرزګووینا د جنسیت د مساواتو قانون په ۲۰۰۳ کال کې په تصویب ورسیده.

دغه قانون د ښځینه او نارینه لپاره په شخصي او عامه سکتورونو کې د مساوي حقوقو حکم کوي، د جنسیت پر بنسټ توپیرپالنه او د جنسیت پربنسټ جنایي زورزیاتی منع کوي. د جنسیت د مساواتو په توګو دغه قانون په توله نړۍ کې نمونه ګرځیدلی دی.

د دغه قانون مسوده تر زیاتې کچې یو کورنی نوښت ؤ، که څه هم له مالي لحاظه د فنلیند حکومت مرسته وکړه. د بشري حقونو او کډوالو لپاره د وزیر مرستیال، او د جنسیت د موضوعاتو لپاره دوه مرکزونه د دغه قانون د مسودې په پروسه کې ونډه درلوده.

[1] Naraghi, Sanam and Camille Pampell Conaway, „Security Sector Reorm’ in Inclusive Security, Sustainable Peace: A Toolkit for Advocacy and Action, International Alert, London, 2004, p.37

سرچینه:
Kvinna till Kvinna, To Make Room for Changes- Peace Strategies from Women Organisations in Bosnia and Herzegovina, Kvinna, Stoockholm, 2006, p39.

د مدنی ټولنی سازمانونه دغه راز کولای شی:

- د جنسیت د پالیسیو او قوانینو د جوړولو او تطبیق لپاره هڅه وکړی چی د جنسیت پر بنسټ ولاړو تیریو او توپیرپالنی ته پام واړوی (۱۰ – ۱۲ چوکاټ مطالعه کړی)؛
- د مدنی ټولنی د سازمانونو یو ائتلاف جوړ کړی چی د جنسیت او امنیتی سکتور پر موضوعاتو باندی کار وکړی (۱۰ – ۱۳ چوکاټ وګوری) او په ګډه د پالیسی جوړونکو پام ځان ته راواړوی؛
- له ډله ایزو رسنیو سره د همکاری له لاری د ښځو په هکله د امنیتی پالیسی د ځانګړی اغیزی په هکله عامه پوهاوی زیات کړی؛
- د عامه غونډو چی په هغی کی پالیسی جوړونکی او د ښځو له سازمانونو څخه استازی سره ټولیږی، بندو بست وکړی ترڅو امنیتی پالیسی او د ښځو د امنیت په ړومبیتوبونو باندی وغږیږی؛
- له هغو وزارتونو سره همکاری وکړی چی د ښځو او د جنسیت موضوعاتو ته پام اړوی. په امنیتی موضوعاتو هغوی ته روزنه ورکړی او د ګډو کمپاینونو بندو بست وکړی؛
- د مختلفو سیاسی ګوندونو ښځینه پارلمانی استازی سره ټول کړی، هغوی ته د امنیتی سکتور د څارنی او دا چی څرنګه د جنسیت موضوعات امنیتی پالیسی ته داخلیږی، روزنه ورکړی؛
- د مهمو امنیتی او دفاعی کمیټو د غړو لپاره (د نارینه او ښځینه په شمول) د جنسیت او امنیتی پالیسیو په هکله معلوماتی غونډی یا ورکشاپونه دایر کړی؛
- د پالیسی جوړونکو لپاره هغه مواد برابرکړی چی د امنیت په پالیسی کی دجنسیت موضوعاتو ته خورا اهمیت لری؛
- د ښځو د حقونو او د جنسیت د مساواتو په هکله د نړیوالو، سیمه ایزو او ملی قوانینو تطبیق وڅاری.

**۱۰ – ۱۳ چوکاټ**
**د جنسیت، سولی او امنیتی موضوعاتو په هکله د مدنی ټولنی د سازمانونو ائتلاف**

د دی لپاره چی په اغیزمنه توګه د جنسیت او امنیت په اړه د پالیسیو د تطبیق څارنه وشی په نړی کی د مدنی ټولنی سازمانونه سره یو ځای شوی تر څو شبکی سره جوړی کړی، په دغو شبکو کی ډلی او سازمانونه تر یو چتر لاندی کار کوی.

د بیلګی په توګه د ښځو، سولی او امنیت کاری ډله یو غیرحکومتی سازمان دی چی له یوولس نړیوالو او غیرحکومتی سیمه ایزو سازمانونو څخه یو ائتلاف جوړ کړی دی. دغه ائتلاف دومره غښتلی دی چی بریالی شوه تر څو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دی ته واړوی چی ۱۳۲۵ پریکړه صادر کړی او د هغی تطبیق تر څارنی لاندی ونیسی.

د ښځو، سولی او امنیتی موضوعاتو لپاره ملی ائتلافونه په کانادا، ناروی، سویدن، بریتانیا او کانادا کی

وجود لري. په کانادا کې د ښځو، سولې او امنيت لپاره کميټه کې پارلماني غړي، د کانادا د حکومت او مدني ټولنې استازي ګډون لري.

سرچينه:
Valasek, Kristin, Securing Equality, Engendering Peace: a guide and planning on women, peace and security (UNSCR 1325), UN INSTRAW, Santon Domingo, 2006, p.32.

## د جنسيت د موضوعاتو لپاره روزنه

د جنسيت موضوعاتو ته د پاملرنې په خاطر تأسيساتي او پرسونلي يا تشکيلاتي ظرفيت ته وده ورکول، د جنسيت مساوات له مهمو بنسټونو څخه شميرل کيږي. د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ښځو سازمانونه او د مدني ټولنې نور سازمانونه د امنيتي سکتور کارکونکو او د هغوی اړوند څارونکو جوړښتونو (لکه اجرائيه، پارلمان، د څارنې خپلواک ارګانونه لکه د شکايتونو د اوريدو اداري او د څارنې تأسيسات او ډله ايزو رسنيو) ته د جنسيت اړوند موضوعاتو ښوونه کوي او د روزنې کورسونه دايروي.

په نيپال کې له ۲۰۰۳ کال څخه را پديخوا، د ښځو يو سازمان د پوځ کابو دوه سوو لوړپوړو چارواکو ته د نړيوال بشري قانو ن او د ښځو او ماشومانو د حقونو اړوند منشورونو په هکله زده کړې ورکړې دي. هغوی يوه پروګرام جوړ کړ چې په هغه کې پوځي پرسونل او کليوالي خلکو ګډون وکړ ترڅو د پوځي ځورونو او زورزياتيو اغيزو باندې رڼا واچوي او له دې لارو پوځيانو ته ښکاره کړي چې څرنګه کيدای شي د ملکي وګړو ساتنه وشي.[1]

د کډوالو د پاليسي د پراختيا مرکز چې يو بين الحکومتي اروپايي سازمان دی، د اروپا په اتحاديه کې د پوليسو، سرحدي محافظينو او ګمرکي چارواکو لپاره د لارښوونې يو تعليمي کتاب تأليف کړی او ځينې معيارونه يې ټاکلي دي. د دغې پروژې يو هدف دا دی چې د پوليسو، سرحدي محافظينو او غيرحکومتي سازمانونو ترمنځ په ملي او سيمه ايزه کچه همکاري پراخه شي. نوموړی سازمان له دغو ميتودونو څخه په استفادې سره په جنوب ختيځه اروپا کې يوه بريالۍ پروژه عملي کړې.[2]

**۱۰ ــ ۱۴**

**د جنسيت اړوند موضوعاتو د ښوونې لپاره وسايل او پروګرامونه**

د جنسيت اړوند مسائلو او د امنيتي سکتور د اصلاحاتو په پروګرام کې پرامنيتي سکتور او جنسيتي مسائلو باندې د مدني ټولنې په هکله هغه يو ځانګړی لارښوونه مقصد ده چې د مدني ټولنې سازمانونو ته تفصيلي معلومات ورکوي. په دې پروګرام کې د امنيتي سکتور د پرسونل لپاره د جنسيتي موضوعاتو په هکله يو روزنه ايز ځانګړی پلان هم شامل دی چې هدف يې دا دی: څرنګه د جنسيت

[1] Naraghi, Sanam and Camille Pampell Conaway, „Security Sector Reform“ in Inclusive Security, Sustainable Peace: A Toolkit for Advocacy and Action, International Alert, London, 2004, p.36.
[2] International Center for Migration Policy Development, „Awareness Training on Trafficking in Human Beings for Police, Border Gaurds and Customs Officials in EU Member States, Accession and Candidate Countries and Development of a European Curriculm”, Conference Summary Report, 2006, available online at http://www.icmpd.org/fileadmin/IIMS-documents/ICMPD/Seminar_Report_ist_seminar.pdf

اړوند روزنه ایز او ښوونه ایز پروګرامونه تطبیق کیدای شی او تر ارزنی لاندی نیول کیږی.

نور وسایل او پروګرامونه:

له نارینه او هلکانو سره د کار په یو پروګرام کی چی څرنګه د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو مخه نیوله کیږی، لوستل، د پیښو مطالعه، د خبرتیایی پاڼو خپرول او تمرینونه شامل دی. دا په دی پاڼه کی موندلای شی:
http://toolkit.endabuse.org

د انسانی قاچاق او غیرقانونی لیږدونو په مقابل د مبارزی ه په پروګرام کی د نورو وسایلو ترڅنګ نړیوال قوانین، ارزونی، ساتنه او عامه ښوونه او څارنه شامل دی. دا وسایل یا ابزار په دی پاڼه کی موندلای شی:
http://www.unodc.org/pdf/Trafficking_toolkit_Oct06.pdf

د سوله ساتو عملیاتو لپاره د جنسیت اړوند منابعو پروګرام کی پسمنظری معلومات او عملی امکانات شامل دی او د جنسیت په اړوند موضوعاتو باندی رڼا اچوی. دا په دی پاڼه کی موندلای شی:
http://pbpu.unlb.org/pbpu/genderpack.aspx

د امنیتی سکتور پرسونل ته د جنسیت اړوند موضوعاتو د ښوونی سر بیره د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی امنیتی سکتور ته ستراتیژی، وسایل او میکانیزمونه وړاندی کړی ترڅو د جنسیت اړوند مسائلو ظرفیت ته وده ورکړی. د بیلګی په توګه:

- د جنسیت د یو ښوونه ایز پروګرام د یو معیاری نساب طرح
- د هغو پالیسیو لپاره هڅونه چی د جنسیت اړوند ښوونه ایز پروګرامونو امر ورکوی
- د جنسیت اړوند لارښوونو او دغه راز د رسالو، لاسی کتابونو او داسی نور معلوماتی موادو د خپرولو په مقصد زیار او د دغو موادو د چمتو کولو لپاره خپله په فعالیتونو کی ګډون کول تر څو د امنیتی سکتور پرسونل د خپل کار په وخت د ریفریس او لارښوونی په توګه تری کار واخلی
- د جنسیت اړوند موضوعاتو لپاره یو واحد مرکز جوړول ترڅو هغه لاس لاندی نیول شویو پروګرامونو کی همغږی رامنځ ته کړی او د هغو تطبیق وڅاری.

**۱۰ – ۱۵ چوکاټ**
**د جنسیت اړوند موضوعاتو ښوونه ایز پروګرامونو لپاره لنډی لارښوونی**

- د ښځو له سازمانونو سره چی د جنسیت اړوند موضوعاتو په ښوونه ایز پروګرامونو کی تجربه لری همکاری کول.
- که چیری د ښوونی د کورس ډیری برخه وال نارینه وی غوره ده چی د هغه ښوونکی یوه ښځه وی.
- فرهنګی مسائل او د کورس د برخه والو پسمنظر په پام کی ونیسی.

- هڅه وکړی چې د کورس فضا له ملګرتیا څخه برخمنه وی. هغه فلمونه ښکاره کړی او یا هغه ربوټونه وړاندی کړی چې د زورزیاتیو په هکله وی ترڅو له هغی وروسته برخه وال پری وغږیږی او خپله د زورزیاتیو د مخنیوی لپاره د حل لاری چاری پیدا کړی.
- یواځی په نظریاتی ساحه باندی بسیا مه کوی، نظریات، وړاندیزونه او سپارښتنی چې د جنسیت اړوند موضوعاتو پوری اړه نیسی، عملی کړی او د خپل ورځنی کار برخه وګرځوی. په کورس کی کوچنی تمثیلی صحنی جوړی کړی.
- نارینه او ښځینه برخه والو ته په ګډه روزنه ورکړی. هر سړی چې ښوونی ته اړتیا لری، هغه

ته کورس دایر کړی. خصوصاً هغه کسانو ته چې د یوی مؤسسی په لوړو مقامونو او څوکیو کی کار کوی.
- د ښوونی او روزنی کورسونه تر ارزونی لاندی ونیسی. د لاس ته راغلو نتایجو له مخی په هغو کی بدلون رامنځ ته کړی.

## د امنیتی سکتور د څارنی لپاره د ښوونی کورسونه دایر کړی

ښځی او د ښځو سازمانونه اکثر د امنیتی اړتیاوو په برخه کی تخصص لری او د ټولنی، محلاتو او کلیو او باندو په سطح کی د امنیتی ظرفیتونو د پیاوړی کیدو د څرنګوالی په باره کی ډیری ښی تجربی او معلومات لری. خو کله کله دوی د امنیتی پالیسی په ژبه سم نه پوهیږی او معلومات نه لری چې د امنیتی سکتور د تصمیم نیولو جوړښت څه ډول دی. د دی لپاره چې ښځی وکولای شی د امنیتی سکتور په اصلاحاتو او څارنی کی په اغیزمنه توګه برخه واخلی، کیدای شی چې د امنیتی سکتور د څارنی په برخه کی ښځو ته د اړتیا وړ ښوونی وشی.

د کورس برخه وال کیدای شی چې دغه لاندی کسان وی:

- ښځینه پارلمانی غړی؛
- د عدلیی، دفاع او امنیت د وزارتونو کارکونکی؛
- د ښځو د چارو د وزارت او نورو حکومتی ادارو چې د جنسیت له موضوعاتو سره سر او کار لری؛
- د ښځو د سازمانونو پرسونل؛
- د مدنی ټولنی ښځینه مشرانی.

که څه هم هر ښوونه ایز کورس باید د هغه اړوندو برخه والو لپاره مناسب وی، خو په یو داسی کورس کی دغه مسائل په پام کی ونیسی: د امنیتی سکتور د څارنی د اصطلاحاتو په هکله معرفی او بنسټیزه تیوری؛ د امنیتی سکتور پالیسی؛ د جنسیت اړوند نړیوال موضوعات او امنیتی موافقی؛ د امنیتی سکتور تأسیسات؛ د هغوی صلاحیتونه او تصمیم نیولو پروسه؛ د جنسیت موضوعات، د امنیتی سکتور څارنی او اصلاحاتو موضوعات؛ د صلاحیت لرونکو او تصمیم نیونکو کسانو د پام اړونی لپاره اغیزمن مهارت؛ د جنسیت د موضوعاتو د اغیزو ارزونه؛ او د بودجی د تحلیل مهارتونه (د زیات معلومات لپاره د دی کتاب اتم فصل وګوری).

**۱۰ ـ ۱۶ چوکاټ**
**د سولې او امنيتي موضوعاتو په هکله د ښځو د سازمانونو لپاره د ښوونې کورسونه**

په ۲۰۰۴ کال کې د International Alert and Initiative for Inclusive Security په نامه د

مدني ټولنې دوو سازمانونو په نړيواله سطح زيار وايست ترڅو يو ګډ کاري پروګرام سره جوړې کړي چې نوم يې دی:Inclusive Security, Sustainable Peace (هراړه اخيز امنيت او پايښت لرونکې سوله)، دا د جنسيت اړوند مسائلو لپاره د پلويتوب او عمل يوه پروګرام دی. International Alert and Initiative د وينا له مخې نوموړی پروګرام د سولې د فعالينو، په ځګړه ځپلو سيمو او هيوادونو

کې د حقوقو د مدافعينو اومبارزينو او په ځو اړخيزو تأسيساتو کې د پاليسي جوړونکو او کار کونکو، د بسپنه ورکونکو هيوادونو او نړيوالو غيرحکومتي سازمانونو د کار لپاره ډيره ښه سرچينه ګڼله کيږي.

په دغه پروګرام کې دغه مسائل شامل دي: د شخړو مخنيوی، فيصلې او بيارغاونې په مقصد يوه سريزه؛ امنيتي موضوعات (د امنيتي سکتور د اصلاحاتو په شمول)؛ عدليه، حکومتوالي او مدني ټولنه؛ او د ژوبليدو وړ ډلې. د دغو مسائلو هره برخه يوه سريزه لري، دلايل وړاندې کوي چې ولې ښځې بايد په فعاليتونو کې ګډون ولري او مثالونه او پيشنهادونه وړاندې کوي چې د سولې د ټينګښت ښځينه فعالين څرنګه په ستراتيژيکي اقداماتو لاس پورې کوي. د دغو پروګرامونو پر بنسټ ښوونه ايز کورسونه په افغانستان، کولمبيا، نيپال او جنوبي سودان کې داير شوي دي.

سرچينه:
International Alert and Women Waging Peace, Inclusive Security, Sustainable Peace: A Toolkit for Advocacy and Action, International Alert, London, 2004, available online at http://www.international-alert.org/our_work/themes/gender_training.php

## د جنسيت او امنيتي موضوعاتو په هکله پوهاوی او خبرتيا پراخه کړی

دا چې د امنيت پر سر بحثونه اکثر د ښځو اويا جنسيت اړوند مسائلو ته زيات اشاره نه کوی، د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي په نوبت لاس پورې کړي ترڅو د جنسيت له موضوعاتو څخه پوهاوی او خبرتيا پراخه کړي.

د اکتوبر په ۳۱ چې د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د ۱۳۲۵ پريکړې کاليزه ده په ټوله نړۍ کې د جنسيت اړوند، سولې او امنيتي مسائلو په هکله غونډې او ټولنې جوړيږي. د بيلګې په توګه په ۲۰۰۶ کال کې دغه لاندې لمانځنې سرته ورسيدې:
- په فيجي کې د سولې اعتکاف،
- په نيويارک کې د امنيت د شورا د ټولو په مخ پرانيستې غونډه،
- د ښځو په هکله يو کنفرانس،
- په سان دييګو، کاليفورنيا کې د سولې او امنيت پاليسي،
- په نيويارک کې د ملګرو ملتونو پر سوله ساتو ماموريتونو کې د ښځو په هکله بحثونه،

- او په بوروندی، لایبریا، فلیپین او یوګندا کی د ۱۳۲۵ په نامه نشراتی کمپاین.[1]

**د پوهی د سطحی د لوړولو لپاره نوی اقدامات:**

- د رسنیو له لاری د عامه پوهی د سطحی لوړول؛
- د جنسیت او امنیت په موضوعاتو کی د ژورنالیستانو روزل؛
- د پالیسی جوړونکو، پوهانو او د مدنی ټولنی د استازو لپاره د جنسیت او د امنیتی سکتور د اصلاحاتو او د څارنی په موضوعاتو کی د ورکشاپونو او سیمینارونو دایرول؛
- د ګردی میز په بحثونو، سیمینارونو یا د ښاری سالونونو په غونډو کی د ملکی مامورینو او د امنیتی سکتور د پرسونل راټولول، ترڅو د جنسیت او امنیت او د اعتماد د رامنځ ته کولو په برخو کی بحثونه وکړی؛
- د جنسیت او امنیت په موضوعاتو کی د کمپاینونو په لاره اچول؛ د جنسیت او د امنیتی سکتور د څارنی په موضوعاتو کی د څیړنو کفالت په غاړه اخیستل او دهغو خپرول.

**۱۰ ــ ۱۷ چوکاټ**
**د جنسیت پر بنسټ ولاړ زور زیاتیو پر ضد د فعالیت ورځی**

دغه نړیوال کمپاین له ۱۹۹۱ څخه را پدیخوا پیل شوی دی او هر کال د نومبر د ۲۵ (د ښځو پرضد د زورزیاتیو د له مینځه وړلو د نړیوالی ورځی) او د دسمبر لسمی (د بشری حقونو نړیواله ورځ) ترمنځ په لاره اچول کیږی. د دغه کمپاین یوه موخه دا ده تر څو په محلی، ملی، سیمه ایز او نړیواله سطح کی د جنسیت پر بنسټ ولاړو زور زیاتیو په هکله پوهاوی او خبرتیا زیاته شی.

هغه فعالیتونه چی په ۲۰۰۶ کال کی په لاره واچول شول عبارت دی له:

- د ارمنستان په پلازمینه ایروان کی د کورنیو زورزیاتیو په هکله نړیوال کنفرانس؛
- په آلمان کی د ښځو پرضد د زورزیاتیو څخه د کار اخیستلو په هکله د یو تیاتر جوړول؛
- په هنګری کی د چوپتیا نندارتون ترڅو په نوموړی هیواد کی وژل شویو ښځو یادون او د هغوی په هکله پوهاوی لوړ کړای شی.
- په صربستان کی د پوهنتونونو په سطح د ګردی میز بحثونه او په سړکونو کی اجراآت؛
- په تاجکستان کی د کورنیو زورزیاتیو په هکله د قانون د مسوده کولو په اړه یو تلویزونی پروګرام؛
- په بریتانیا کی ۱۳۰ زره سپینی ربتاړی، ۲۰۰۰ پوسترونه او ۵۰ ستر شعارونه د «سپینی ربتاړی نومی کمپاین» د یوی برخی په توګه وویشل شول، نوموړی د نارینه هغه نړیوال غورځنګ دی چی د ښځو پرضد د نارینه وو د زوزیاتیو مخالفت کوی او د له مینځه وړلو په لټه کی دی.

سرچینه:
Center for Women's Global Leadership.... 2006 International Calendar of Campaign Activites, 2006, http://www.cwgl.rutgers.edu/16days/kit06/europe.html

[1] Peace Women, October 2006:, Women, Peace and Security Events, http://peacewomen.org/un/6thAnniversary/Oct06calandar.html

**د ښځو ونډه پراخه کړی**

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د هغو پالیسیو او چارچلندونو په غوښتنو کی فعال نقش واخلی چی د امنیتی سکتور په تأسیساتو او د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په پروسه کی د ښځو ونډه پراخه کړی.

د ښځینه استازیتوب د ناځاپی پراخوالی یوه ښه بیلګه د ۱۹۹۵ کال د «ښځو لپاره د ځای د کار» په نامه پروژه ده چی د امریکا په متحده ایالاتو کی د تکسن د پولیسو په اداره کی پلی شوه. وروسته له دوو کلونو د پولیسو په اکادمی کی د ښځینه داوطلبانو شمیر په سلو کی له لسو څخه سلو کی ۲۵ ته لوړ شو او په پولیسو کی د ښځو استخدام د هغو د نارینه همکارانو تناسب ته ورسید. [1]

د هغی پروژی د یوی برخی په توګه په دغو لاندو فعالیتونو لاس پوری شو:

- د کار د چاپیریال ارزونه او په نامعلومه توګه پرته د مخکی له مخی خبرتیا څخه د کار د فضا سروی، ترڅو جنسی ځورونی وڅیړل شی؛
- د ښځو فعالانه جلب او جذب او استخدام اود ښځو او پولیس د مسلک لپاره له مختلفو لارو تبلیغات، لکه ډله ایزو رسنیو، پوسترونو، چاپی پاڼو، کارتونونو، رسالو او داسی نورو؛
- د استخدام د ټاکلو په پروسه کی د ښځینه منصبدارانو شاملول؛
- د جنسی ځورولو په وړاندی هیڅ ډول خغم نه کول؛
- د جنسی تیریو اوځورولو په موضوع باندی پولیسو ته ښوونه (په دی هکله لږ ترلږه اته ساعته جبری درس)
- په یونیفورم، وسایلو او د تجهیزاتو په شمول د معیاری عملیاتو په پروسه، د ښوونی او د روزنی په نظام کی سمونوالی راوستل.

**په عمومی توګه د مدنی ټولنی سازمان د دغو لاندی مسائلو لپاره هڅونی کولای شی:**

- د بشری قواوو د پالیسی اصلاح کول ترڅو پولیسی نظام ته د ښځو جلب او جذب، استخدام او په دی نظام کی د هغوی ساتل پیاوړی شی؛ که چیری هغوی د ماشومانو خاوندان وی، د هغوی ماشومانو د پالنی لپاره شرایط برابرول؛ د کار د ساعتونو په ټاکلو کی چی څه وخت راتلای شی، هغوی ته آزادی ورکول؛ د حامله داری په صورت کی هغو ته د رخصت ورکولو تضمین او داسی نوری کاری آسانتیاوی؛
- د ښځو لپاره په لوړو او مخکښو مقامونو کی لاری پرانیستل.
- په ټولو لیکو کی د هغو د خدمت لپاره لاره اوارول، حتی جنګی ساحه.
- دغه راز د همجنس بازو نارینه یا ښځینه پولیسو پرضد له تعصب څخه نه کار اخیستل او هغوی ته حق ورکول چی په ټولو مقامونو کی خدمت وکړی.

**د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د دغو لاندو لارو څخه په استفاده په عمل لاس پوری کړی:**

- د ګردی میز په بحثونو، کنفرانسونو، اشتهاراتو او نورو داسی فعالیتونو کی د ښځینه کارپوهانو شاملول؛
- د ښځینه محصلینو تشویقول تر څو امنیتی ساحو کی کار وکړی؛

1

- د پوهنتون د امنیتي پروګرامونو په هکله ښځینه محصلینو ته معلومات برابرول؛
- د اوسنیو پوهنتونونو په پروګرامونو کې د جنسیت اړوند مسائلو د شاملولو لپاره هڅول؛
- د ښځو لپاره سکالرشپونه؛
- د امنیتي سکتور د تأسیساتو په دننه کې د ښځینه محصلینو لپاره د داخلي پروګرامونو جوړول؛
- د امنیتي ساحې په دننه کې د استخدام په هکله د نړیوالو غونډو کوربه توب کول؛
- د مدني ټولنې هغه سازمانونه چې امنیتي سکتور ته ځیر شوي دي کولای شي چې په فعاله توګه د ښځو په استخدام کې پوره ونډه واخلي او یا یې په خپلو سازمانونو کې جذب کړي.

## د توپیرپالنې او د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو ته پاملرنه

د دې لپاره چې امنیتي سکتور یو نه توپیر پالونکی کار ورکونکی وګرځي او د دې لپاره چې د ښځو او دغه راز د نارینه وو پرضد د زورزیاتیو مخنیوی او ورته پاملرنه وشي او مرتکبینو ته یې سزا ورکړای شي، د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي په برخه کې د ځانګړو میکانیزمونو د جوړولو لپاره هڅه وکړي.

**۱۰ ــ ۱۸ چوکاټ**
**د ښځینه پولیسو ماموریتونه**

د نړۍ په ډیرو هیوادونو لکه بنګلدیش، برازیل، هند او تایلند کې د ښځو د ماموریتونو د جوړولو یا لږ ترلږه د پولیسو په ماموریتونو کې د ښځو لپاره د یو ځانګې د جوړولو بندو بست شوی دی. په دغه کار وروسته له هغې لاس پورې شو چې پولیسو ونه شی کړای چې په مسلکي توګه د ښځو پرضد د زورزیاتیو قضیو ته پاملرنه وکړي.

د ښځینه پولیسو ماموریتونه یا ځانګې د زورزیاتیو قربانیانو ته ځانګړي خدمات وړاندې کوي او ښځې کولای شي چې له ښځینه پولیسو سره چې د زورزیاتیو په برخه کې مسلکي زده کړې کړې دي، د خپل زړه حال بیان کړي. نوی مقررات او لارې چارې په دغو ماموریتونو کې لاس په لاس تطبیق کیږي ترڅو د زورزیاتیو د قضیو په پلټنو کې له ګرندیتوب څخه کار واخیستل شي او د پیښو د قربانیانو مصونیت خوندي وساتل شي.

سرچینه:
UNIFEM, Not a Minute More: Ending Violance against Women, UNIFEM, New York, 2003, available online at
http://www.unifem.org/attachments/products/312_book_comlete_eng-pdf

سربیره پر دې د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې لاندو مسائلو ته هم پاملرنه وکړي:

- د توپیر پالنې، جنسي ځورونې او د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو په وړاندې نه زغم درلودل
- د جنسیت د ځورنې د مخنیوی د ښوونې کورسونه دایرول او د هغو تعقیب مکلفیت ګرځول؛
- د مالي سرچینو، پروسیجرونو او کار کونکو درلودل ترڅو د توپیرپالنې، جنسي ځورلو او د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو په هکله ریپوټونه ترغور لاندې ونیسي؛
- توپیرپالنه، جنسي ځورول او زورزیاتي محراقي موضوعات ګرځول؛

- د پولیسو او د جنایي جرمونو د قضا لپاره مالي سرچینه، پروسیجرونه او کارکونکي درلودل ترڅو په اغیزمنه توګه په ټولنه کې د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو ته ځواب ووایي او هغو ته سزا ورکړای شي؛
- د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتو لکه کورني زورزیاتي او د بشري قاچاق پرضد د مبارزې لپاره د پروسیجرونو د زده کړې جبري کورسونه.

**۱۰ ــ ۱۹ چوکاټ**
**په زندان کې د ښځو او نجونو د امنیتي وضعیت د ښه کولو لپاره تأسیساتي اقدامات**

دولتونه باید په بندیخانو کې د ښځو او نجونو د امنیت په خوندي ساتنه کې په عمل لاس پورې کړي. دغه اقدامات عبارت دي له:
الف - د داسې پالیسیو او پروسیجرونو تدوین او تطبیق چې د هرډول جسمي او جنسي یا رواني زورزیاتیو چې د نورو بندیانو یا زندانونو د کار کونکو لخوا تر سره کیږي، مخه ونیول شي او له تحقیق څخه وروسته مرتکبینو ته دې سزاء ورکړای شي؛
ب ــ د نورو بندیانو یا زندانونو د کار کونکو لخوا د سرته رسیدلو زورزیاتیو په هکله د رپوټ ورکولو لپاره د پروسیجرونو تدوین
ج ــ د هغو کسانو چې د زورزیاتیو په هکله رپوټ ورکوي د ګواښونو او غچ اخیستلو په مقابل کې خوندي ساتل؛
دال - د زندانونو د هغو کارکونکو روزل چې د ښځینه بندیانو سره د نور بندیانو یا د زندان د کارکونکو لخوا د ناوړه چلند سره د مقابلې لپاره ګمارل کیږي، هغوی ته د لارو چارو ښودل چې څرنګه د داسې ناوړه چلندونو مخه ونیسي؛
هـ - د بندیانو سره د چلند په هکله د ملګرو ملتونو د (8 a) قانون له مخې د نارینه او ښځینه بندیانو جلا کول؛
و - د بندیانو سره د چلند په هکله د ملګرو ملتونو د (8 a) قانون له مخې د غټانو او د ځوانو بندیانو جلا کول؛
ز ــ د بندیانو سره د چلند په هکله د ملګرو ملتونو د (53) قانون له مخې د نجونو او ښځینه بندیانو د څارنې لپاره یواځې د ښځینه محافظینو ګمارل.

که چیرې مخکې له دې پر نجونو او ښځینه بندیانو باندې تیرې شوې وي، دولت باید داډ ورکړي چې:

الف ــ هغو زندانونو ته چیرته چې د جسمي، جنسي یا روحي تیریو سابقه لري، د مسلکي او نوموړو ستونزو ته د ځواب ورکونکو پرسونل ټاکل؛
ب - د زندان د کار کونکو لپاره چې دهغو موضوعاتو سره سر او کار لري چې په زندان کې د جسمي، روحي او جنسي تیریو د سابقې څخه او د زندان لخوا د وړاندې شویو خدماتو څخه راپیدا کیږي؛
دال ــ د هغو کسانو سره چې له زندان څخه لیدنه کتنه کوي بشپړې سلامشورې

دولت باید ضمانت وکړي چې هغه ښځې او نجونې چې د تیریو او زورزیاتیو قربانیان دي او هغه ښځې او نجونې چې د تیریو له خطر سره مخامخ دي باید له خپلو آزادیو محرومې پاتې نه شي، هغوی باید په داسې ځای کې خوندي وساتل شي چې بیا د تیریو له خطر سره مخامخ نه شي.

سرچینه:
Quaker United Nation Office, 2005, Submission to the Study of the Secretary General of the United Nations on Violence against Women: Violence against Women and Girls in Prison, Quaker United Nations Office, Geneva

وروسته له هغې چې وڅېړل شوی چې د جنسیت د موضوعاتو په اړه د «عمل وړ» کارونه کوم دي په عین سویه دا هم اهمیت لري چې په دې برخه کې ضعفونو او کمزورتیاوو ته هم پام واړول شي. د جنسیت اړوند موضوعاتو لپاره د «نه عمل وړ» کارونه دا دي:

- کله چې د جنسیت څخه خبره کیږي، مقصد یواځې «ښځې» نه دي. فکر مه کوئ چې یوه ښځه د دې لپاره چې ښځه ده، نو د جنسیت له موضوعاتو سره علاقه لري. ښځې هم د جنسیت اړوند مسائلو کې روزنې ته اړتیا لري.
- فکر مه کوئ چې د جنسیت اړوند حساسو موضوعاتو یوه دوه ساعته روزنه د جنسیت د مساواتو لپاره شرایط برابروي. روزنې باید پراخې او ژورې وي او وخت په وخت نوي کورسونه دایر شي، څارنه او ارزونه باید له پالیسیو او تشکیلاتي بدلونو سره څنګ په څنګ سرته ورسیږي.
- د دا ډول ویاړنو چې ګواکې یو څوک وایي «نارینه یم» یا «ښځه یم» مخه ونیسئ. فکر مه کوئ چې ښځې هرومرو طبیعتاً د نارینه په پرتله «سوله خوښونکې» دي. او نه نارینه طبیعتاً د ښځو په پرتله «تیري کونکې» دي.
- د جنسیت اړوند مسائلو ته په ګوته نیولو کې د «ښځینه او ماشومان» جمله مه استعمالوئ. ځکه هرومرو د هغو تیریو چې ښځې قربانیانې دي، ښایي ماشومان او زاړه خلک نه وي.
- یواځې له ښځو سره کار مه کوئ. د جنسیت اړوند مووضوعاتو کې د مساواتو رامنځ ته کول ایجاب کوي چې نارینه سره کار وشي، د بیلګې په توګه د دې لپاره چې د ښځو پرضد د تیریو مخه ونیوله شي او یا د جنسیت د ټولنیز نقش په هکله د پوهې او خبرتیا سطح لوړه شي.
- د دې لپاره چې د جنسیت اړوند موضوعاتو ته ځانګړې پاملرنه وشي، له ښځو سره د کار لړۍ مه غوځوئ. ځینې پروژې چې خاص د ښځو لپاره په پام کې نیولې شوي دي، د جنسیت د مساواتو د تأمین لپاره ښه شرایط برابروي.

## نتیجه

د دې لپاره چې د متحدالمالو خدماتو د ترسره کولو څخه وړاندې ګام واخیستل شي او د دې لپاره چې په امنیتي سکتور کې د جنسیت اړوند موضوعاتو ته ځانګړې پاملرنه وشي، دا ټول د سیاسي هوډ او امکاناتو او منابعو ایجاب کوي. خو څرنګه چې د دې فصل په سر کې ترې یادونه وشوه، د دا ډول زیارونو ګټې زیاتې دي. د مدني ټولنې سازمانونه خپله، د امنیتي سکتور تأسیسات او عام وګړي په دې هڅه کې دي چې د جنسیت اړوند موضوعاتو د مخ پر زیاتیدو پوهاوي څخه ګټې تر لاسه کړي او په دې هڅه کې دي چې د جنسیت پر بنسټ ولاړ تیریو کې کموالی رامنځ ته شي.

ډیرې لارې چارې او امکانات وجود لري چې د مدني ټولنې سازمانونه یې لاس لاندې ونیسي ترڅو ضمانت وکړي چې د هغوی کارونه د جنسیت اړوند موضوعاتو ته ځواب ورکونکي دي: د امنیتي سکتور د څارنې په هکله د ګردې میز بحثونو ته د ښځینه کارپوهانو بلنه او د ملي امنیت د یوې پیشنهادي پالیسي د جنسیت پر بنسټ ولاړ اغیزو ارزونه او داسې نور. د دې لپاره چې یو ربښتینې

ديموکراتيک او حساب ورکوکی امنيتی سکتور جوړ شی بايد يواځې په دی بسيا ونه شی چی د امنيتی سکتور په څارنی کی ځينی جنسيت اړوند موضوعات ورزيات شی يا ورته پاملرنه وشی، بلکه د جنسيت موضوعات بايد د نوموړی څارنی يو مهمه او پريکړنه برخه وګرځی.

## د مدنی ټولنی د يو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### د جنسيت اړوند موضوعاتو څيړنه او ثبت

- د امنيتی سکتور تأسيسات يا د امنيتی سکتور د اصلاحاتو پروسه جنسيت پر بنسټ ولاړ پلټنی او ارزونی لاندی ونيسی
- امنيتی سکتور يا نور انفرادی تأسيسات تر ارزونی لاندی ونيسی چی آيا د جنسيت پر بنست ولاړ بودجه لری او هغه څرنګه چی د جنسيت تساوی غوښتنه کوی تطبيقوی که نه
- د جنسيت او امنيتی موضوعاتو په هکله چی کومی تجربی او غوره چارلندونه مو زده کړی دی، هغه په يوه رساله کی سره راټولی کړی، د بيلګی په توګه د جنسيت پر بنست ولاړ زورزياتی
- د امنيتی سکتور په څيړنه کی د جنسيت موضوعات شامل کړی، د بيلګی په توګه د عمر، جنس (نارينه او ښخينه) او نژاد او قوميت پر اساس اطلاعات سره بيل کړی او مختلف څيړنه ايز سمپلونه سره جوړه کړی.

### د خپل سازمان په جوړښت کی هم د جنسيت موضوعات په پام کی ونيسی

- د جنسيت د موضوعاتو پر اساس د ظرفيتونو د جوړولو په لټه کی شی، مثلاً د جنسيت د موضوعاتو لپاره د زده کړی د کورسونو دايرول، د هغو کارکونکو استخدام چی د جنسيت په موضوعاتو کی تخصص لری
- د خپل سازمان په دننه کی د جنسيت بربنسټ ولاړ پلټنه په لاره واچوی

### د جنسيت پر بنسټ ولاړ ستونزو ته د ځواب ورکولو په موخه د امنيتی پاليسيو پلويتوب وکړی

- د امنيت د پيشنهادی او يا اوسنی پاليسيو په هکله د جنسيت پر بنسټ ولاړه ارزونه په لاره واچوی
- امنيتی پاليسيو باندی د کتنی په وخت کی يا د سلامشورو د پروسی په وخت کی د جنسيت موضوعاتو باندی رڼا واچوی. په دغو پروسو کی د ښځو د سازمانونو د شموليت څخه دفاع او پلويتوب وکړی
- د مدنی ټولنی د سازمانونو يو ائتلاف جوړ کړی چی د جنسيت او امنيت پر موضوعاتو کار وکړی او په ګډه د پاليسی جوړونکی پام دغو موضوعاتو ته راواړوی.
- له ډله ايزو رسنيو سره د همکاريو له لاری د امنيت په پاليسيو کی د جنسيت د موضوعاتو د شاملولو د ضرورت په هکله عامه نظر وغواړی.

**د جنسیت اړوند موضوعاتو په هکله د ښوونی او روزنی کورسونه دایر کړی**

- د امنیتی سکتور د څارنی د ارګانونو او د امنیتی سکتور د تأسیساتو د پرسونل لپاره د جنسیت اړوند موضوعاتو په هکله د زده کړی کورسوونه دایر کړی
- د ښځینه پارلمانی غړو، د ښځو د سازمانونو، د حکومت ښځینه منسوبینو او د مدنی ټولنی ښځینه مشرانو ته د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په هکله کورسونه دایر کړی.

**د جنسیت د موضوعاتو او امنیتی پالیسیو په هکله د پوهاوی سطح لوړه کړی**

- د جنسیت او امنیتی موضوعاتو په هکله ژورنالستانو ته ښوونه وکړی
- د دی لپاره چی ملکی خلک او د امنیتی سکتور پرسونل د جنسیت او امنیتی موضوعاتو په هکله بحثونو ته سره کښینی، د ورکشاپونو، ګردی میز بحثونواو سیمینارونو یا په ښاری سالونونو کی د غونډو او ټولنو کوربه توب په غاړه واخلی
- د امنیتی سکتور او د جنسیت د موضوعاتو په هکله کمپاینونه په لاره واچوی، لکه د وسلوالو زورزیاتیو چی د ځوانانو لخوا سرته رسول کیری، پرضد مبارزه.

**د ښځو ونډه پراخه کړی**

- د ښځو د استخدام، په کار کی د هغوی د ساتلو او د پرمختګ لپاره د امنیتی سکتور د تأسیسات د بشری قواوو د پالیسیو او چارچلندونو د اصلاخاتو لپاره په عمل لاس پوری کړی
- د ښځو له سازمانونو سره همکاری وکړی
- په فعاله توګه د ښځینه کارکونکو په استخدام لاس پوری کړی ترڅو د امنیتی سکتور په موضوعاتو باندی کار وکړی
- د هغو غونډو او محفلونو چی تاسی یی بندوبست کوی ښځینه امنیتی کارپوهانی شامل کړی
- ښځینه محصلینی تشویق کړی چی د امنیت په ساحه کی کار وکړی.

**توپیرپالنی او د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو ته پام واړوی**

- د امنیت په سکتور کی د جنسیت پربنسټ ولاړ د زورزیاتیو، جنسی ځورونی او توپیرپالنی د هیڅ ډول ځغم نه درلودلو پالیسیو لپاره هڅه وکړی
- د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو د مخنیوی او هغو ته د ځواب ورکولو په موخه په ځینو ځانګړو اقداماتو لاس پوری کړی، لکه د ښځو لپاره د پولیسو خاص ماموریتونو جوړول
- د امنیتی سکتور د پرسنول لپاره د جنسیت پر بنسټ ولاړ زورزیاتیو په هکله د ښوونی او روزنی د کورسونو په دایرولو کی مرسته وکړی.

# ۱۱
# فصل

JOHANNA MENDELSON FORMAN

# بشری حقونه او د
# امنیتی سکتور څارنه

Joahnna Mendelson Forman

# ۱۱

# بشری حقونه او د امنیتی سکتور څارنه

عامه امنیت د بشری حقونو یوه موضوع ده. عامه امنیت د یو دولت محوری مسوولیت دی چی د هغه د سرحداتو په دننه کی ټولو میشت وګړو ته امنیت په داسی یو ډول تأمین کړی چی د هغوی له نړیوالو حقونو او دیموکراتیکو نورمونو سره جوړ شی. بشری حقونو او د قانون واکمنی ته درناوی باید د هر هغی یوی هڅی یوه برخه وی چی هدف یی د امنیت د سکتور د جوړولو ا اصلاح کول دی. البته به دی اړه خبره آسانه خو عمل پری سخت دی. د دی لپاره چی د وګړو مدنی او بشری حقونو ته درناوی خوندی پاتی شی د بشری حقونو سازمانونه له حکومت او د مدنی ټولنی له نورو سازمانونو سره په کار کولو کی مهم نقش لری.

په دی فصل کی د بشری حقونو او د امنیتی سکتور څارنی ته ځانګړی پاملرنه شوی ده. په دی فصل کی بحث پر دی شوی چی څرنګه بشری حقونه او امنیت یو بل سره وتړل شی او هغه لاری چاری ولټول شوی چی د بشری حقونو سازمانونه په ملی او نړیواله سطح وکړای شی په دی ساحه کی د ښوو او بدو توپیر وکړی. په داسی حال کی چی د بشری حقونو ډلی دنده لری چی د دولت په دننه کی د نړیوالو بشری حقونو مراعاتول تر څارنی لاندی ونیسی، هغوی دغه راز کولای شی چی د اصلاحاتو په برخه کی هم ونډه واخلی. په همدی وجه په دی فصل کی بحث پر دی باندی هم شوی چی د بشری حقونو ډلی او فعالین څرنګه کولای شی په امنیتی سکتور کی د بشری حقونو نورمونو ته وده ورکړی.

## بشری حقونه او امنیت

د سړی جګړی څخه وروسته د امنیت مفهوم او معنی یوه نوی ریښه پیدا کړه، هغه یو مفهوم چی ډیر زیات پر بشری امنیت ټینګار کوی، نسبت ودی ته چی پر دولتی امنیت یی وکړی. که څه هم دا به صحیح نه وی چی سړی ووایی چی د بشری ارزښتونوپر بنسټ ولاړ امنیت نن له ننګونو سره مخامخ نه دی، خو د یادونی وړ رښتیا خبره دا هم ده چی نه یواځی په نړیواله ټولنه، بلکه په ډیرو هیوادونو کی د دولت د ساتنی پر محور ولاړ امنیتی ډکتورین کی ژور بدلونونه راغلی دی. دغه سپیڅلی او بی مثاله

بدلون د مدني ټولني د هڅو او زيارونو له برکته لاس ته راغلي چې په دې موده کې يې د بشري امنيت لپاره ټينګار کړی او زيار يې ايستلی چې فردي امنيت د هرې امنيتي پالیسي وروستی هدف وګرځي. په نړيواله سطح د ۱۹۹۴ کال د بشري پرمختيا رپوټ يو د هغو لوړ سويه پيغامونو څخه شميرل کيږي چې د دولتونو ملي امنيت څخه د بشري امنيت په لور مخ اړولو پر ضرورت باندي ټينګار کوي.[1]

بشري امنيت او ملي امنيت يو د بل ضد يا متقابله پديدې نه دي. بالمقابل هغوی د يو بل بشپړ کونکي دي او يو بل باندي تکيه کوي. خو هغه پاليسي چې د دولتي امنيت د خوندي ساتني لپاره جوړيږي په اتوماتيکه توګه د خلکو د امنيت د تأمين سبب نه ګرځي. د عامه پاليسيو لپاره د بشري حقونو پر بنسټ ولاړ يو اقدام کې د بشري حقونو سازمانونه له يوې خوا د فرد او ډلو ترمنځ او له بلې خوا د دولت ترمنځ اړيکي ټاکي. د بشري حقونو بر بنسټ ولاړ اقدام فرد او ډلې د حقونو د درلودونکو او دولت د دغو حقونو د خوندي ساتني لپاره دنده لرونکي ګڼي. دولت مسووليت لري چې د حق لرونکو حقوق او قانوني غوښتني پوره کړي. که څه هم د بشري امنيت او د بشري حقونو ترمنځ د توپيرونو په هکله بحث تل موجود دی او دغه دواړه مفکوری په عمومي توګه د يوبل بشپړ کونکي دي، نسبت ودې ته چې هغوی يو شی وګڼل شي، د بشري حقونو چوکاټ پرته له شکه هغه يو پرمختللی چوکاټ ګڼل کيږي چې د بشريت د امنيت غوښتني تعريفوي او ښيي چې انسان تر کومې کچې د ژوبل کيدو وړ يو موجود دی. د بشري امنيت د کميسيون له نظره بشري حقونه د بشري امنيت زړه اجنداء جوړوي.[2] په خپل يو بې ساري رپوټ کې چې نوم دی «د آزادی په پراخه لمنه کې» د ملګرو ملتونو پخوانی عمومي منشي، کوفي عنان د دغو دوو مفکورو پر خپلواکتوب باندي رڼا اچولې: «پرته له امنيت څخه پرمختيا ممکنه نه ده، دغه راز پرته له پرمختيا څخه امنيت ممکن نه دی، خو بشري حقونو ته د درناوی څخه پرته دغه دواړه ممکن نه دی.»[3]

**۱۱ – ۱ چوکاټ**
**بشري حقونه څه ته وايي؟**

- نړيوال قانوني ضمانتونه
- ملکي، سياسي، اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي
- د بشري ارزښتونو (لکه آزادي، مساوات، انساني کرامت) د خوندي ساتني لپاره نړيوال منل شوی نورمونه
- فرد او په لازمو حالاتو کې د ډلو (د بيلګې په توګه لږکيو) حقونه
- په نړيوالو اعلاميو او تړونونو کې نغښتي حقونه
- دولتونه د هغو په نسبت د قانون له لحاظه ملزم دي.

د ښه حکومتوالي تر فرمان لاندې له قوې څخه په قانوني توګه کار اخيستل يواځې د دولت په انحصار کې يو اصل دی، خو دا هغه وخت په ښه وجه د عمل وړ دی چې د وګړو بشري حقونه هم په پام کې ونيول شي. د دولت لخوا د قوې څخه د کار اخيستلو حدود د بشري حقونو د قانون په منظم چوکاټ کې تصريح شوی دي.

[1]- UNDP, New Dimension of Human Development Report 1994, Oxford University Press, Oxford/New York, 1994, Chapter 2.
[2] -„Respecting human rights is at the core of protecting human security. “Commission on Human Security (2003): Human Security Now. Protecting and Empowering People, New York, p.10.
[3] - See UN Doc.A/59/2005: In Larger Freedom: Toward Development, Security and Human Rights for All: Report of the Secretary-General, New York 21 March 2005: Para 17.

## د بشری حقونو لپاره قانونی چوکاټ

ملی اساسی قانونونه هغه یو چوکاټ ټاکی چی د هغه په دننه کی حکومت د عمل کولو لپاره توان پیدا کوی. د نړی ډیری هیوادونه د یو یا څو نړیوالو تړونونو یا موافقوغړی دی چی د هغو په نسبت د هر وګړی حقوق خوندی ساتل شوی دی. د بشری حقونو نړیوال قانون د هغو مقرراتو لاربښونه کوی چی یو دولت له خپلو وګړو سره څه ډول چارچلند وکړی. د ملګرو ملتونو د بشری حقونو نړیواله اعلامیه چی د قانونی جوړښت په زړه کی ځای لری د بشری بنسټیزو حقونو ضمانت کوی. سربیره پردی اعلامیی د بشری حقونو تر ټولو اړوند قوانین د بشری حقونو اوه تړونونه او د اړوند تړون ارګانونه د دی لاسی کتاب په نظر د یادونی وړ دی.

## د بشری حقونو نړیواله اعلامیه

د ملګرو ملتونو د منشور د متن له حدودو څخه بهر نړیواله اعلامیه (UNDHR) بنسټیز بشری حقونه تعریفوی او څرګندوی چی کوم دی. UNDHR د نړیوال الزامی قانون لاندی نه راځی، که څه هم ځینی مواد یی لکه د «ربړولو او د مریتوب منع» یی نن په یو نړیوال الزامی قانون بدل شوی دی. په دغی اعلامیی کی دغه حقونه څرګند او تصریح شوی دی چی د نړی هر وګړی د هغو څخه باید برخمن وی: ملکی او سیاسی حقونه لکه د قانون له مخی د مساوی محافظت څخه برخمن کیدل، د ژوند کولو حق او د ربړولو منع، د کار کولو، روغتیایی خدماتو د برخمن کیدو او په ټولنه کی په فرهنګی فعالیتونو کی د برخه اخیستلو د حقونو سره بیره اقتصادی، ټولنیز او فرهنګی حقونو درلودل. دغه اعلامیه دغه راز منی چی دولتونه کولای شی چی نوموړی یاد شوی حقونه په دی موخه محدود کړی ترڅو حقونه او د یوی «دیموکراتیکی ټولنی عمومی سوکالی» تأمین کړی.[1]

د بشری حقونو نړیواله اعلامیه د معیاورنو د اعلامیی په توګه چی د ملګرو ملتونو غړی دولتونه هغوی ته درناوی باید ولری، مقرراتی اغیزه لری. دا چی دغه اعلامیه قانوناً الزامی نه ده د ملګر ملتونو د بشری حقونو تړونونو د دولتونو لپاره الزامی مکلفیتونه ټاکلی دی چه هغه تصویب کړی او منلی دی.

## د بشری حقونو نړیوال تړونونه

تر اوسه پوری د بشری حقونو ۷ نړیوال تړونونه وجود لری چی په ۱۱ – ۲ چوکاټ کی فهرست او بیان شوی دی چی څه وخت هغه نافذ شوی او کوم هیوادونه د هغوی غړی دی. دغه تړونونه د نړیوالی اعلامیی سره په ګډه د بشری حقونو د قانون بنسټ جوړوی. ټول دغه تړونونه د هغو هیوادونو لپاره چی لاس لیک کړی او تصویب کړی دی الزامی بنه لری. [2] دوه نور تړونونه (د معلولونو او معیوبینو او جبری لادرک کیدو په هکله) لا تر اوسه نافذ شوی نه دی. د دولت په سطح قانون او چارچلندونه چی له دغو اصولو څخه سرغړونی کوی په حقیقت کی د نړیوالو معیارونو د ماتولو معنی لری. دغه قانونی مکلفیتونه د مدنی ټولنی سازمانونو ته قانونی وسیله په لاس ورکوی ترڅو د بشری حقونو د سرغړونو پرضد احتجاج وکړی.

---

[1]- Buergenthal, T.and H.G. Maier, Public International Law, Minnesota University; St. Paul, 1990, p121.

[2]- نور معلومات کولای شی چی په دغی پاڼی کی ومومی:http://www.ohchr.org/

دغه راز د بشري حقونو ځیني سیمه ایز تړونونه هم وجود لري چې ځیني یې له یو ډول تطبیقي میکانیزمونو څخه برخمن دي چې له پورتنیو تړنونو څخه وړاندې ګام اخلي. د بیلګې په توګه د اروپا شورا د یوې خپلواکې او نړیوالې محکمې په وړاندې د فردي شکایت اوعرض لپاره ځانګړې لارې چارې لري چې محکمې ته صلاحیت ورکوي ترڅو په یوه وروستي پریکړه کې فیصله وکړي چې آیا اړوند دولت د هغو بشري حقونو څخه چې د «بشري حقونو لپاره د اروپا په منشور» (ECHR) کې تصریح شوي دي سرغړونې کړې دي که نه. دغه راز د «بشري حقونو په هکله د امریکایي منشور (۱۹۷۸)» چې د امریکایي دولتونو سازمان لخوا مسوده شوي دي، د بشري حقونو یو خپل منځې امریکایي هیأت لري چې شکایتونه تر لاسه کوي او یوه هم د بشري حقونو محکمه لري؛ افریقایي اتحادیې هم د «بشري حقونو او د خلکو د حقونو» تر نامه لاندې یو منشور جوړ کړی دی.[1]

**چوکات ۱۱ – ۲**

**د بشري حقونو ستر نړیوال قانوني وسایل (تړونونه)**

| **اعلامیې** | **د نافذیدو تاریخ** | |
|---|---|---|
| د بشري حقونو نړیواله اعلامیه | ۱۹۴۸ | |
| د فردي حقونو او مسوولیتونو په هکله د ملګرو ملتونو اعلامیه | ۱۹۹۹ | |
| **نړیوال تړونونه** | **د نافذیدو تاریخ** | **د تصویب کونکو دولتونو شمیر** |
| د عام قتل یا ولس وژنې جرم د مخنیوي او سزا ورکولو په هکله منشور | ۱۹۵۱ | ۱۳۰ |
| د نژادي توپیرپالنې ټولو ډولونو د له مینځه وړلو په هکله نړیوال منشور | ۱۹۶۹ | ۱۷۳ |
| د ملکي او سیاسي حقونو په هکله منشور | ۱۹۷۶ | ۱۶۰ |
| د اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقونو په هکله منشور | ۱۹۷۶ | ۱۵۶ |
| د ښځو پرضد د توپیرپالنې د ټولو ډولونو د له مینځه وړلو په هکله منشور | ۱۹۸۱ | ۱۸۵ |
| د ربړونې او د بیرحمیو، غیرانساني او د سپکاوي چلند د نورو ډولونو پرضد منشور | ۱۹۸۷ | ۱۴۴ |
| دټولو کډوال کارګرانو او د هغوی د کورنیو د حقونو د ساتنې لپاره منشور | ۲۰۰۳ | ۳۷ |
| د ماشومانو د حقونو په هکله منشور | ۱۹۹۰ | ۱۹۳ |
| **سیمه ایز تړونونه** | **د نافذیدو تاریخ** | **د تصویب کونکو دولتونو شمیر** |
| د بشري حقونو په هکله اروپایي منشور | ۱۹۵۰ | ۴۷ |
| د بشري حقونو په هکله امریکایي منشور | ۱۹۷۸ | ۲۴ |
| د بشري او د خلکو د حقونو په هکله افریقایي منشور | ۱۹۸۶ | ۵۳ |

[1]- د زیات معلومات لپاره چې څرنګه د بشري حقونو د سرغړونو په هکله شکایت او عرض وړاندې شي دغې پاڼې ته مراجعه وکړئ:
http://www.unesco.de/c_humanrights/

د نړیوال پیژندل شویو بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو د ودی لپاره د ټولنی د فرد، ډلو او ارګانونو حقونو او مکلفیتونو په هکله د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۹ کال اعلامیه هم د بشری حقونو په وده او ساتنه کی د مدنی ټولنی د سازمانونو پر مرکزی نقش باندی اعتراف لری. هغه حقونه چی په دی سند کی قید شوی دی د بشری حقونو د ودی او ساتنی په موخه - هم ملی او هم په نړیواله سطح - د مدنی ټولنی د سازمانونو د نقش لپاره یو مهم بنسټ ګڼل کیږی. هغوی د بشری حقونو نړیواله اعلامیه او د بشری حقونو نور وسایل (ابزار) پیاوړی کوی. که څه هم دغه اعلامیه قانونی الزام نه لری، هغه له دی وجه خورا مهمه ده چی پر هغه نقش باندی اعتراف لری چی د ټولنی هر وګړی یی د بشری حقونو څخه په دفاع کی لوبوی. په خاصه توګه د هغی ۱۸ ماده (دوهم بند) چی وایی:

«د ټولنی افراد، ډلی، تأسیسات او غیرحکومتی سازمانونه د دیموکراسی د ساتنی، بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو د ودی لپاره مهم نقش او مسوولیت لری او له دی سره هغوی د دیموکراتیکو ټولنو، تأسیساتو او پروسو په ودی او پرمختګ کی ونډه اخلی.»[1]

## د بشری حقونو ډلی او دولت

د بشری حقونو ډلی معمولاً د امنیتی سکتور د دښمنانو په توګه ګڼلی کیږی. په ډیرو ځایونو کی دغه مخالفت مدلل دی، ځکه چی د زورزیاتیو یا د سرغړونو ستر مرتکبین همدا د ملی امنیت ځواکونه دی. نو له دی امله د بشری حقونو د ټولنی لپاره په امنیتی سکتور کی د اصلاحاتو په موخه د سترو ننګونو څخه یوه دا ده ترڅو د بشری حقونو د ډلو او د امنیتی سکتور د تأسیساتو ترمنځ د اعتماد د ټینګولو لپاره لاری چاری ولټولی شی. په دی لاره کی د وګړو د امنیت په هکله اندیښنی او د نړیوال قانون په مطابق د هر وګړی د حقونو خوندی ساتل د منجمنت او د امینتی سکتور د اصلاحاتو په هکله د پراخ دیالوګ یو برخه ګرځی.

د امنیتی سکتور اصلاحات یوه سیاسی پروسه ده. د هغی بندوبست د دولت لخوا کیږی چی د دی اصلاحاتو ګټی ټاکی. دا حکومت دی چی د اصلاحاتو د ګرندیتوب کچه ټاکی او د هغو بدلونو متن چی هغه یی د امنیت په سکتور کی غواړی برابروی. د مدنی ټولنی سازمانونه، خصوصاً هغه چی خپل کار او فعالیت یی د بشری حقونو ساتنی ته وقف کړی دی، د دی اصلاحاتو د نتایجو په شکل ورکولو کی مهم نقش او مسوولیت لری. دا چی د بشری حقونو ډلی تر کومی اندازی کولای شی چی د اصلاحاتو پر پروسه باندی اغیزه ولری، لاندو مسائلو پوری تړلی ده:

- د حکومت قوت یا کمزورتیا؛
- اصلاحاتو په هکله اختیار او صلاحیت چی آیا د سولی د یوی موافقی له مخی او که د پارلمان د پریکړی له مخی ټاکل شوی دی؛
- آیا د اصلاحاتو د پروسی د څارنی لپاره غیرحکومتی ډلو لپاره سیاسی فضا شته دی.

د بشری حقونو ډلی چی د مدنی ټولنی د یوی برخی په توګه کار کوی دری مهمی موخی لری:

- امنیتی سکتور باندی د څارنی له لاری حکومت حساب ورکولو ته اړول؛
- د وګړو لپاره دا وسایل او امکانات برابرول چی خپلی دعواوی او عرضونه وړاندی کړای شی؛

[1] http://www.unhchr.ch/huridocda/hunridoca.nsf/symbol/A.RES.53.144.En

- د مخنیوی میکانیزمونو جوړول چی اجازه ور نه کړی چی امنیتی ځواکونه د وګړو پرخلاف زورزیاتیو ته دوام ورکړی.

په هغو دولتونوکی چی له جګړی څخه د سولی په لور انتقالی دوره کی دی، د مدنی ټولنی کورنی سازمانونه اکثر له نړیوالی ټولنی سره خپلی هڅی یو ځای کوی ترڅو ملی میکانیزمونو ته وده ورکړی او د بشری حقونو قانون نافذ کړی. دغه راز هغوی په ټولنه کی له مشرانو سره هم کار کوی ترڅو عام وګړی له خپلو بشری حقونو څخه خبر کړی او هغوی یو بل سره همکاری ته وهڅوی.

**۱۱ – ۳ چوکاټ**
**د مراکش د بشری حقونو مشورتی شورا**

د بشری حقونو نړیوال او کورنیو سازمانونو په دی برخه کی مهم نقش ولوباوه چی د مراکش حکومت دی ته واړوی ترڅو د تیرو کلونو د بشری حقونو سرغړونو باندی اعتراف وکړی. دغو ډلو نه یواځی د مراکش حکومت باندی فشار راوړ چی د تیرو کلنو بشری سرغړونو پلټنه وکړی، بلکه د تیرو سرغړونو په هکله د رپوټونو رښتیوالی او کیفیت هم تر ځارنی لاندی ونیوه. د دغو فشارونو نتیجه دا شوه چی د دوهم ملک حسن (د مراکش پادشاه) په امر د بشری حقونو مشورتی شورا په ۱۹۹۰ کال کی جوړه شی. دغی شورا مسوولیت په غاړه واخیست چی په مراکش کی د تیرو کلونو د بشری حقونو سرغړونی وپلټی. د مدنی ټولنی سازمانونو لخوا د هغی شورا د رپوټونو ځارنی وښودله چی د شورا د معلوماتو له مخی ۱۱۲ تنه د تری تم کیدو قربانیان دی. د بشری حقونو سازمانونو ډیر دغه ډول معلومات تر انتقاد لاندی ونیول او اعلان یی وکړ چی د قربانیانو شمیر کابو ۶۰۰ ته رسیږی او نور معلومات په لاس کی نه شته چی څرنګه دغه کسان لادرک شوی دی.

د بشری حقونو د سازمانونو او قربانیانو د فشارونو په دوام کی حکومت محبوره شوه چی د بشری حقونو سرغړونو ته د پام لرنی لپاره په نورو اقداماتو هم لاس پوری کړی. ملک محمد څلورم یو میاشت وروسته له هغی چی د پادشاهی تخت باندی کښیناست په تیرو کلونو کی د لادرک شویو په اړه یی نه یواځی د حکومت په مسوولیت اعتراف وکړ، بلکه د بشری حقونو د مشورتی شورا ترڅنګ یی د لادرک شویو د پیښو قربانیانو او د هغوی خپلوانو ته د اخلاقی او مادی تاوانونو د اوښتو د جبران لپاره یو خپلواک کمیسیون وټاکه. د دندی په درلودلو سره چی له قربانیانو څخه عریضی ترلاسه کړی او هغوی ته د خساره کچه وټاکی چی څومره پیسی ورکړای شی، خپلواک کمیسیون ۵۱۲۷ عریضی ترلاسه کړی، د ۴۷۰۰ په برخه کی یی ورستی تصمیم ونیو او ۳۷۰۰ ته یی تاوان ورکړ. د بشری حقونو ډلو بیاهم په نوموړی خپلواک کمیسیون نیوکی وکړی او وی ویل چی قربانیانو ته یواځی د مادی تاوان په ورکولو سره موضوع نه حل کیږی، هغه باید د بشری حقونو په سرغړونو کی د حکومت د نقش حقایق بربنډ کړی. پر خپلواک کمیسیون له دی وجی هم نیوکی زیاتی شوی چی د خساری د کچی په تصمیم نیولو کی یی شفافیت نه درلود او بله نیوکه دا وه چی دغه کمیسیون له هغو کسانو جوړ شوی چی مستقیما د پادشاه په خدمت کی دی. د دغو نیمګړتیاو له امله د مراکش د مدنی ټولنی سازمانونو له هغه څخه را په دی خوا هڅه کوی چی په دغه هیواد کی یو رښینی خپلواک کمیسوین جوړ کړی.

## د بشری حقونو نړیوال سازمانونه

د بشری حقونو د نړیوالو سازمانونو وروستی زیاتوالی د بشری حقونو هغو سرغړونو ته پام ځیر کړی چی د امنیتی سکتور لخوا تر سره شوی دی. د دولت لخوا د ترسره شویو جنایی اعمالو د مستند کولو او ملګرو ملتونو کی د مدنی ټولنی د سازمانونو د ونډی اخیستلو سره د دغو جنایی اعمالو په هکله د

ځبرتیا کچه په نړیواله سطح ورځ په ورځ زیاتیږي. د شخړو او جګړو څخه وروسته دوره کې د امنیتي سکتور په بدلون عامه څارني هم یو غښتلی نقش لوبولی دی.

دغه راز د بشري حقونو نړیوالې ډلې د محلي سازمانونو لخوا وړاندې شوي شکایتونو ته قانونیت ورکوي او هغو ته د غور نیولو پروسه پیاوړې کوي. ډیرې ډلې په دې نظر دي چې د بشري حقونو نړیوال غیرحکومتي سازمانونو له ملاتړ سره هغوی توانیدلي چې د خپلو مبارزو غږ په نړیواله سطح اوچت کړي او په دې ترتیب محلي سازمانونه توانیدلي دي چې د بشري حقونو غوښتني په ملي کچه عنوان کړي. په هغو مرکو کې چې د Carter Centere لخوا تر سره شوي دي، محلي سازمانونو ویلي دي چې «اړوند حکومت یواځې هغه وخت ویریږي چې د هغه ناوړه چلندونه او بشري ضد اعمال په نړیواله سطح بربنډ شي.»[1]

د سړې جګړې څخه وروسته زمانه کې پر بشري حقونو باندې د تیریو لمن ډیره پراخه شوه. دا په حقیقت کې د شوروي اتحاد د انحلال او کمزورو دولتونو د رامنځ ته کیدو نتیجه ده چې په هغو کې عدلي او حکومتي څارني لا تراوسه د ودې په حال کې دي. د بشري حقونو نړیوالو ډلو ته لاره ورکړ شوه چې رسنیو ته لاره پیدا کړي او د نړۍ مشرانو ته لاس اوږد کړي او له دې لارې هغوی هغه نظریات عنوان کړل چې څه ډول اصلاحاتو ته اړتیا ده. دغه لاندې چوکاټ کې د بشري حقونو ځیني ډلې ښودلې شوي دي چې د امنیتي سکتور په اصلاحاتو کې لاس لري.

**۱۱ – ۴ چوکاټ**
**د بشري حقونو د ډلو او سازمانونو مثالونه:**

- د ښښني نړیوال سازمان
- د بشري حقونو د وکیلانو انجمن
- د نړۍ د بومي مطالعاتو مرکز
- د نړیوالې جنایي محکمې ائتلاف
- د نړیوالې قضا ائتلاف
- فرهنګي ژغورنه
- د آزادۍ کور
- په لومړي سر کې بشري حقونه
- د بشري حقونو څارنه
- د بشري حقونو د اتحاد نړیوال فیدراسیون
- د بشري حقونو لپاره د هلسنکي نړیوال فیدراسیون
- د بشري حقونو لپاره د مینیسوټا مدافع وکیلان
- د کډوالو او د مهاجرو د حقونو نړیواله شبکه
- د بشري حقونو لپاره طبي ډاکتران
- د ټولنیز مسوولیت لپاره طبي ډاکتران
- د ربړوني د له منځه وړلو او د ژوندي پاتې شویو لپاره د مرستې ائتلاف
- د نړیوال توحید د خدماتو کمیته
- د ربړوني ضد نړیوال سازمان

[1] Pitanguy, Jacqueline, „Human Rights NGOs in Latin America“, in Human Rights, The United Nation and Non-Governmental Organizations, The Carter Center, Atlanta, 1998.p.15

## د مدنی ټولنی د سازمانونو د نړیوالو بشری حقونو چی د امنیت له سکتور سره کار کوی، لارښوونه

د مدنی ټولنی د نړیوالو بشری حقونو د سازمانونو لپاره چی د امنیت له سکتور سره کار کوی، دغه لاندی عمومی لارښوونی د پام وړ دی:

- له ځایی سازمانونو سره په ګډه توګه کار کول. د مدنی ټولنی ډلی د هغو اقداماتو په څارنه کی مهم نقش لوبوی چی په هر یو هیواد کی د امنیتی سکتور د لوبغاړو لخوا لاس لاندی نیول کیږی. هغوی له ځایی سازمانونو، د پیښو قربانیانو او ډله ایزو رسنیو سره په ګډه کار کوی ترڅو دوی نورو خلکو ته لارښونه وکړی چی په یوه ټولنه کی د هغوی نقش څه دی او د حکومت مسوولیتونه څه دی؛
- د امنیتی سکتور د حکومتی پالیسیو او فعالیتونو په هکله درپوټونو خپرول. د بشری حقونو نړیوال سازمانونه ډیری وخت دا توان لری چی د حکومتونو کړو وړو ته پام واړوی، دا کار په دی وجه دوی کولای شی چی د اړوند حکومت څخه بهر عمل کوی؛
- د مدنی ټولنی د سازمانو د حساسو بومی بشری حقونو ته درناوی. هغوی د نړیوالو ډلو ملاتړ ته اړتیا لری، خصوصاً کله چی هغوی په تحقیقاتو او څارنه لاس پوری کوی؛
- په هغه یو چوکاټ کی پاتی کیدل کوم چی د بشری حقونو ډلی فعالیت کوی. که چیری د بشری حقونو د نورمونو په هکله د بحث په وړاندی یو پسمنظر او یا محرمیت او حساسیت وجود ولری، دغه ډول شرایط باید په پام کی ونیول شی او ورته درناوی وشی. خو په عین وخت کی هغو ته دی د نړیوال اجرائی ماموریت پام واړول شی؛
- تاوان او ضرر مه اړوی. د بشری حقونو نړیوالی ډلی ځینی وختونه د بشری حقونو ځایی مدافعین په خطر کی اچوی کله چی هغوی په هغه یو چاپیریال کی کار کوی چی هلته د امنیتی سکتور څارنه ډیره زیات دوام پیدا کوی. دا خورا مهمه ده چی د «تاوان مه اړوه» مقوله د نړیوالو ډلو د هر ډول مداخلی لپاره لارښوونه وګرځی. دا په دی معنی کله چی نړیوالی ډلی په یو ځانګړی هیواد کی په پولیسو یا پوځ کی کوم سړی بربنډوی، دوی باید د خپل معلومات سرچینی پټی وساتی. د بشری حقونو ځایی مدافعین چی د حکومتوالی د دیموکراتیکی پروسی په پرمختګ کی مرسته کوی، کله چی هغوی د خبر رسونکو یا د مخالف اړخ د غړی په توګه وپیژندل شی، ډیر له خطرونو سره مخامخ کیږی. دغه پیښی په خاصه توګه په انتقالی دیموکراسیو کی رامنځ ته کیږی، چیرته چی قضائی او عدلی سیستمونه لا ډیر کمزوری دی یا امنیتی سکتور د خپلو پخوانیو ناوړه چارچلندونو څخه لا تراوسه دفاع کوی.

## د بشری حقونو د ځایی مدنی ټولنی سازمانونو ته چی له امنیتی سکتور سره کار کوی لارښوونی

د بشری حقونو ځایی کارپوهان اوسازمانونه په خپلو اړوندو هیوادونو کی د بشری حقونو د نړیوالو معیارونو په تطبیق کی نقش لری. هغوی د دغو معیارونو د تطبیق لپاره د مختلفو میکانیزمونو څخه برخمن دی:

- د نړیوالو قانونی مکلفیتونو په هکله د امنیتی سکتور د غړو روزل؛
- له ځایی مرستندویو ډلو سره په دی موخه کارکول چی هغوی پیښنی مستندی کړی او د ځایی قضایی نظام پر بنسټ هغه قوانین تدوین او تصویب کړی چی د بشری حقونو سرغړونو ته پام اړوی؛

- د ښځو او د لړکیو له ډلو سره کار کول تر څو هغوی سره د وګړو د حقونو په پیژندنی او ساتنی کی مرسته وشی؛
- د امنیتی خدماتو د چارچلندونو څارنه او د بشری حقونو د سرغړونو د قربانیانو په هکله د معلوماتو د تصفیی لپاره د ادارو جوړول؛
- پلټونکو او نړیوالو حقوقی ټولنی لپاره معلوماتو ته د لاس رسی شرایط برابرول؛
- د هغو حکومتی منابعو څخه د استفادی څارنه چی د بشری حقونو د تطبیق او د لړکیو، ښځو او د ژوبلیدو وړ ډلو د خوندی ساتنی لپاره ځانګړی شوی دی؛
- د بشری حقونو له نظره پر موجودو قوانینو یا مسودو باندی کتنه.

په عمل کی ښایی دغه کار بیلابیل تأسیساتی بڼه او شکل غوره کړی. د بشری حقونو د ځایی مدنی ټولنی سازمانونه باید په ډیری ځیرتیا سره د خپلو فعالیتونو ستراتیژی طرحه کړی ترڅو وکړای شی چی د خپل کار لپاره ښکاره سیاسی او تأسیساتی جوړښت چمتو کړی. البته د نړی ټولو هیوادونو د بشری حقونو د خوندی ساتنی لپاره خپل ځانګړی تأسیسات نه دی جوړ کړی، کوم چی وکړای شی د بشری حقونو د ځایی سازمانونو لپاره د یوی هستی په توګه وګڼل شی. د یوی اغیزمنی ستراتیژی لپاره دغه دوه بنسټیز جوړښتونه (سیاسی او تأسیساتی) ضروری او حتمی دی ترڅو له یوی خوا هری خوا ته د لاس رسی امکانات برابر شی او په عین وخت کی خپلواکتوب خوندی وساتل شی.

د کړکیچ په وخت یا د کړکیچ په وروسته موده کی د بشری حقونو ځایی سازمانونه باید په لاندی پروسو یا تأسیساتو کی د هڅو په لټه کی شی:

- د بېنښنی سیستمونه
  - o د دیالوګ د یوی پروسی له لاری په وضعیتونو او حالاتو کی ګډون کول؛
  - o د مقننی او اجرائیی له څانګو سره د نورو هیوادونو په تجربو بحث کول؛
- د هدف وړ پلټنه:
  - o له قضائی سیستم سره کار کول ترڅو د جګړی مجرمین وپیژندل شی؛
  - o د تیریو له قربانیانو سره کار کول ترڅو له جنایی پروسو سره مرسته وشی؛
- د پخوانیو جنګی سرتیرو په هکله د ټولنی زده کړی؛
  - o له ځایی ټولنو سره کار کول ترڅو ټولنی ته د پخوانی جنګی سرتیرو د بیرته راوستلو لپاره لاری چاری وموندلی شی؛ یعنی د خلکو په منځ کی د هغوی بیرته ادغام.
  - o له وګړو سره کار کول ترڅو د پخلاینی لپاره ګډ اساس پیدا کړی؛
- د مدنی ټولنی د سازمانونو د یو ائتلاف له لاری له یو ټاکلی ماموریت سره د امنیتی سکتور قانونی څارنه؛ [1]
- د رښتیا ویلو او پخلاینی کمیسیونونه؛
  - o د اسنادو او شواهدو ټولول او د شاهدانو پیژندل؛
  - o د محاکمو لپاره د شهادت ورکولو لاره برابرول.

چیرته چی د رښتیا ویلو او د پخلاینی کمیسیون موجود وی د بشری حقونوځایی سازمانونه کولای شی چی د هغه په شا او خوا کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په ګټه په فعالیت لاس پوری کړی. دغه ډول کمیسیونونه د بشری حقونو سازمانونو ته یوه وسیله په لاس ورکوی ترڅو یو وګړی د قدرت د دستګاه په وړاندی رښتیا ووایی. سر بیره پر دی د جګړو یا شخړو څخه په نویو ژغورل شویو ټولنو کی دغه

---

[1] - لطفا مطالعه کړی : UNDP/DCAF, Democratizing Security in Transition States, UNDP, Bratislava, 2006

کمیسیونونه د پوځ، پولیسو او د قضائی سیستم په اصلاحاتو کی د خدمت لپاره لومړی گام گڼل کیږی. په خاصه توگه د بشری حقونو ډلی دغو ارگانونو سره دغه لاندی ارزښت لرونکی مرستی کولای شی:

- له قربانیانو سره د هغوی د کیسو په چمتو کولو کی مرسته؛
- د کمیسیون د کار د تیاری لپاره دعامه استماعیه غونډو نیول؛
- له قربانیانو سره په دی نیت کار کول چی هغوی سره د ناوړه چلندونو له امله د حقوقو د اعاده کولو په لټه کی شی؛
- د نورو قربانیانو چی یا وژل شوی او یا له خپلو ټاټوبو تیښتو ته مجبوره شوی، پیژندل؛
- ژوندی پاتی شویو کسانو ته د راتولیدو د شرایطو برابرول او د هغوی د کورنیو لپاره د یو شبکی جوړول؛
- د هغه یو کمیسیون د سپارښتونو په تطبیق کی مرسته کول چی د حکومت او ټولنی ترمنځ د منځگړی په توگه عمل کوی.

## د ساتنی لپاره مسوولیت

د ساتنی لپاره مسوولیت هغه یوه نظریه ده چی په ۲۰۰۱ کال د «دولت د خپلواکمنی په هکله د نړیوال کمیسیون» لخوا مطرح شوه ترڅو د یو دولت په دننه کی د ملکی وگړو پرضد د ډله ایزو زورزیاتیو مخه ونیسی. هغه د نړیوالی ټولنی دنده څرگندوی تر څو د زورزیاتیو مخه ونیسی، که چیری د ساتنی اقدامات کار ونکړی، خپله عملاً په کار لاس پوری کوی او د زورزیاتیو د پای ته رسیدو څخه وروسته د بیارغاونی کارونه پیل کوی. که چیری یو دولت د خپلو دندو د ترسره کولو په مسوولیت کی پاتی راشی، نړیواله ټولنه دنده لری چی مداخله وکړی ترڅو بیگناه ولسی وگړو ته د ځانی او مالی تاوان د رسیدو مخه ونیسی. د قوی او زور څخه کار اخیستل هغو حالتو ته محدود شوی دی چی په هغو کی ولس وژنه، قومی تصفیی یا عام قتل گوابښونه موجود دی.[1]

د ولس وژنی د مخنیوی لپاره د بشری مداخلی طرحه وروسته له هغی عنوان شوه چی نړیواله ټولنه په روندا کی د دغه ډول ناورین په مخنیوی کی پاتی راغله. له هغه وخت را پدیخوا د ساتنی مسوولیت له یو پراخ ملاتړ څخه برخمن دی او د ملگرو ملتو د عمومی منشی د ۲۰۰۵ کال د پراخی آزادی تر نامه رپوټ کی سپارښتنه وشوه.

د ساتنی مسوولیت د عمل له دری پړاوونو څخه برخمن دی. لومړی دولت باید خپله د سختو زورزیاتیو او ولس وژنی مخه ونیسی. دوهم که چیری دولت له دی کار عاجز شی او زورزیاتی پیښ شی بیانو د نړیوالی ټولنی دنده ده چی په عمل لاس پوری کړی. او دریم کله چی جگړه او نښتی پای ته ورسولی شوی، بیارغاونه د عدالت او د قانون واکمنی ته د پام اړولو غوښته کوی.

د مخنیوی په پړاو کی د مدنی ټولنی د بشری حقونو سازمانونه یو مهم نقش لوبوی. هغوی د څارنی د ظرفیت د پراختیا، له امنیتی سکتور سره د دیالوگ د پیل لپاره او د ورکشاپونو د بندوبست کولو سره ولسی وگړو ته د تاوان اوښتو مخه نیولای شی. د ورکشاپونو له لاری امنیتی سکتور د خپلو دندو او مسوولیتونو په هکله خبرتیا پیدا کوی.

---

[1]- Holt, Victoria and Tobias C. Berkman, The Impossible Mondate? Military Preparedness, the Responsibilty to Protect and Modern Peace Operations, Victoria Washington, D.C. 2006, p.2.

کله چې مداخلې ته اړتیا پیدا شي، د بشري حقونو نړیوالې ډلې باید د بېګناه ولسي وګړو د ژوند د ساتنې لپاره د نړیوالې ټولنې د فعالولو په موخه فعال نقش ولوبوي. په عین وخت کې هغوی باید په پوره ځیرتیا سره وڅاري چې آیا د نړیوالې ټولنې پوځې مداخله، که چیرې پرې لاس پورې شي، د خپل ماموریت د ترسره کولو لپاره له اړین ظرفیت څخه برخمنه ده او آیا د هغې عملیات د بشري حقونو او بشري قانون له معیارونو سره برابر دي که نه. د بشري حقونو د اغېزمنې ساتنې په خاطر غوره ده چې د سوله ساتو ځواکونو او د بشري حقونو د ډلو ترمنځ بنسټیزې کاري اړیکې ټینګې کړای شي. د بیلابیلو نړیوالو کلتورونو او په عین وخت کې د ناوړه طرحو له امله بنسټیزې دا ډول ماموریتونه له ننګونو سره مخامخ شي. په دې لاره کې یو مهم قدم دا دی چې د مفاهمې چینلونه او د بشري حقونو د سرغړونو پر سر د بحثونو لپاره منظمې غونډې جوړې شي.

وروسته له هغې چې یو دولت د قومي تصفیو یا ولس وژنې له ناورین څخه وژغورل شو، بیا د بیارغاونې دوره پیل کیږي. د عدالت بیرته اعاده کول په اوږده موده کې د دیموکراتیک جنایي عدالت د سیستم په لور د لیږدیدو لپاره خورا اهمیت لري او په عین وخت کې د روحي او ټولنیز درملنې سره مرسته کوي، کوم څه ته چې وروسته له شخړې او د حکومتي والي له بدلون سره اړتیا لیدله کیږي. د مدني ټولنې د بشري حقونو ډلې د محلاتو په سطح د کار کولو له لارې د عدالت د بیرته اعاده کولو لپاره مهم نقش لوبوي. په دې موضوع باندې د زیات بحث لپاره پنځلسم فصل ته مراجعه وکړی، کوم چې د زورزیاتي د مخکې، د زور زیاتیو په جریان او وروسته دورو باندې بحث شوی دی.

**۱۱ – ۵ چوکاټ**
**د ساتنې لپاره د مسوولیت په هکله د مدني ټولنې عمل**

د ساتنې د مسوولیت لپاره د مدني ټولنې نړیواله شبکه

د ساتنې د مسوولیت د طرحې څخه مخکې د مدني ټولنې سازمانونو د دغې مفکورې لپاره ډیرې زیاتې هڅه کړې دي. اوس هغوی د دغې مفکورې د تطبیق لپاره هڅه کوي. د ۲۰۰۷ کال په سپتمبر کې د نړۍ فدرال پال غورځنګ (The World Fedralist Movment) چې د نړیوالې پالیسي لپاره یو انستیتوت دی، د ساتنې د مسوولیت لپاره (Responsibility to Protect) یا (R2P) د مدني ټولنې یوه نړیواله شبکه جوړه کړه. دغه نوښت د نړیوالو بشري حقونو د غیرحکومتي سازمانونو لکه د بشري حقونو د څارنې (Human Rights Watch)، د نړیوال کړکیچ ډله (International Crisis Group)، Oxfam International او نړیوالو کډوالو د ډلو له خوایې ملاتړ کیږي او هدف دا دی ترڅو د ځمکې د شمال او جنوب څخه د غیرحکومتي سازمانونو د استازو سره یو نړیواله شبکه جوړه کړي. دغې شبکې تر اوسه پورې په ټوله نړۍ کې د غیرحکومتي سازمانونو سره د ګردې میز بحثونه جوړ کړي ترڅو دغو هدفونو ته ورسیږي: ۱- د ساتنې د مسوولیت په هکله پوهاوي زیات کړي او دا چې دغه پوهاوي څرنګه په یوه شحره لرونکې سیمې کې عملي شي، ۲ - د ساتنې د مسوولیت سره د مرستې لپاره د سیمه ایزو او نړیوالو میکانیزمونو د پیاوړتیا لارې چارې، ۳ – له غیرحکومتي سازمانونو سره چې د یوې غیرحکومتي سازمان د شبکې د جوړولو لپاره له یوې هستوې ډلې سره د یو ځای کیدو لیوالیتا لري، د مشارکت طرحه کول.

http://responsibilitytoprotect.org/

**د دارفور د مصونیت ائتلاف**

د دارفور د مصونیت ائتلاف په ۲۰۰۴ کال کې تأسیس شو او په دارفور کې یې د خلکو لپاره د سولې او امنیت غوښتنه کوي. دا اوس د څه د پاسه ۱۸۰ خیریه، بشري حقونو او بشري سازمانونو اتحاد باندې بدل شوی چې په دار فور کې د نړیوالې مداخلې لپاره غوښتنه کوي، ترڅو په دارفور کې ولس

وژنې ته خاتمه ورکړي. د دغه ائتلاف ښه نمونه د څه د پاسه یو ملیون پوستکارتونو ټولول ؤ چې د امریکا د متحده ایالاتو د هغه وخت له جمهور رئیس څخه وغوښتل ترڅو په دارفور کې د یوې نړیوالې پوځي مداخلې ملاتړ وکړي. په دې لاره کې بل اقدام د چین حکومت ته متوجه ؤ ترڅو د سودان پر حکومت باندې له خپل نفوذ څخه کار واخلي. د ۲۰۰۸ کال په فبرورۍ کې د دارفور د مصونیت ائتلاف د حقونو د دفاع له نورو سازمانونو سره په ګډه یوه اعلامیه خپره کړې چې په هغې کې یې غوښتنه وکړه چې چین د سودان پر حکومت باندې د شخصي فشار سربیره په څلورو نورو اقداماتو باید لاس پورې کړي ترڅو په سودان کې د ولس وژنې پای ته رسولو سره مرسته وشي. دغه راز د دارفور د مصونیت ائتلاف د اولمپیک د نړیوالو لوبو په درشل کې چې په چین کې په لاره واچولې شوې، په مخکښو اروپایي، آسیایي، افریقایي او امریکایي نشراتو کې د اعلانونو د تمویل له لارې د چین د بشري حقونو پالیسیو ته د عامه پام اړونې څخه استفاده وکړه. د دغو اعلانونو مهم شعار دا ؤ: «هغه لوبې چې پیکینګ یې کوربه توب کوي، نشي کولای په هغو نورو لوبو پرده وغوړوي چې په دارفور کې کوي.»

http://www.savedarfur.org/

## له قربانیانو سره نژدیوالی

بنایي د مدني ټولنې د بشري حقونو سازمانونه هغه ستره ونده چې د امنیتي سکتور د څارنې په کړکیچنه دنده کې اخیستلای شي د هغو بشري حقونو د سرغړونو د یو تحلیل وړاندې کول او د عام وګړو په اختیار کې کیښودل دي چې په یو هیواد یا یو ځای کې امنیتي سکتور لخوا سرته رسیدلي دي. د بشري حقونو فعالین معمولاً د پېښو له قربانیانو سره له نژدې اړیکې لري او یواځینې کسان دي چې کولای شي د سرغړونو د قربانیانو د شهادتونو په حواله لومړۍ درجه رپوټ برابر کړي. د سرغړونو په هکله د معلوماتو د راټولو لپاره په اکثرو حالاتو کې مهمه دا ده چې له قربانیانو سره له نژدې او په ډیر مهارت سره مرکې وشوې، څرنګه چې په هغو کې قربانیانو ته درناوی او رښتیوالی څرګند شي. دغه لاندې ټکې د بشري حقونو د یوې مرکې لپاره باید په پام کې ونیول شي:[1]

## د شاهدانو پیژندل

- په دې اړه چې له چا سره مرکه وکړې باید فعال اوسې.

[1]- دغه لنډیز د بشري خقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیسارۍ د دفتر د یوې مفصلې رسالې پربنسټ جوړ شوی دی: د دغې رسالې نوم دی: .Training Manual Rights Monitoring, United Nations, New York and Geneva, 2001 د دغې رسالې بشپړ متن په دغې پاڼې کې موندلای شې: http://www.unhchr.ch/pdf/train7_a.pdf

- دی ته چمتو شی چی د مرکی لپاره له خپل دفتر څخه ووځی.
- د شهادت ورکولو لپاره هیڅا ته پیسی مه ورکوی.

## د شاهدانو څخه ساتنه

- که چیری ممکن وی له حکومت سره دی موافقی ته ورسیږی چی د شاهدانو پر خلاف په غچ اخیستونکی عمل لاس پوری نه کړی.
- یو ځای وټاکی چی هلته حکومتی مراقبت ډیر لږ وی.
- کله چی له یوی شاهد سره مرکه کوی هیڅکله هغو څرګندونو ته صریحاً اشاره مه کوی چی د بل لخوا شوی وی.
- د هغو امنیتی اقداماتو پوښتنه وکړی چی د شاهد په نظر باید لاس لاندی ونیول شی.
- دا هم شاهد ته روښانه کړی چی تاسی د هغه د مصونیت ضمانت نشی کولای.
- ټول لاس ته راغلی شواهد او اسناد تل په یو خوندی ځای کی وساتی؛ دوسیی د عینی شاهدانو د نوم پر اساس نه، بلکه د شمیرو پر اساس ترتیب کړی.
- په فیته یا ویدو کی د شاهدانو د ویناو له ثبت څخه ډډه وکړی، ډاډ ترلاسه کړی چی د پیښو د قربانیانو هویت پردیو ته بربنډ نشی.

## له شاهدانو سره مرکی

- خپل دنده او مسوولیت هغو ته روښانه کړی.
- شاهد ته ډاډ ورکړی چی هغه معلومات چی دی یا دا یی ورکوی له تاسو سره محفوظ پاتی کیږی او د معلوماتو د ساتنی څرنګوالی ورته بیان کړی.
- د مرکی د کولو لپاره اجازه واخلی او له دغو معلوماتو څخه یو بل باندی د اعتماد پربنسټ د شاهد د موافقی سره سم استفاده وکړی.
- په لومړی سر کی اجازه ورکړی مرکه کونکی خپله کیسه خپله وکړی.
- د یوا ړخیز قضاوت کولو مخه ونیسی.
- د یو شخص په توګه د شاهد له ژوند سره لیوالتیا ښکاره کړی او څرګنده کړی چی تاسی هغه ته درناوی لری.
- که چیری شاهد نه غوښتل چی په خپلی خوښی خپل کیسه بیان کړی ،زغم ولری، ځکه هغه ښایی زړه ونه کړی چی پرځینو حساسو مسائلو باندی خبری وکړی.
- خپلی پوښتنی د پوهیدو وړ جملو سره بیان کړی.
- د مخکښو پوښتنو مخنیوی وکړی، خو خپلی پوښتنی مشخصی کړی چی تاسی څه غواړی.
- احتیاط وکړی چی د پوښتنی په وخت کی له ځان څخه داسی حرکات او سکنات ښکاره نه کړی چی شاهد پوه نشی چی تاسی څه پوښتنه کول غواړی.
- د عینی شاهد د هویت او دغه راز د جرم د مرتکبینو د هویت په هکله ځان سره یاداشت ونیسی. که چیری شاهد سواد ولری، له هغه څخه شخصاً وغواړی چی د هر نوم املا وکړی.
- د پیښو تاریخچه او د پیښو ځای روښانه کړی – د امکان په صورت کی ځان سره نقشه ولری.
- دوه ځلی کنترول وکړی چی آیا رپوټ ورکړای شویو پیښو د شاهدانو خپله د سترګو لیدلی حال دی او که دوی هم اوریدلی دی.

- د مرکی په پای کی له شاهدانو څخه پوښتنه وکړی چی آیا نور داسی یو څه لری چی پوښتنه یی نه وی شوی او دی غواړی پری وغږیږی یا نور څه معلومات لری چی غواړی تاسی ته ووایی.
- د راتلونکی ګام په هکله ور سره خبری وکړی، مثلاً روغتیایی معاینه که چیری لازمه وی.
- د اړیکی ټینګ ساتلو لپاره یوه لاره چاره پیدا کړی؛ مثلاً د یوی نوی لیدنی کتنی لپاره وخت وټاکی.
- د دی خبری تصدیق وکړی چی له شوی مرکی سره شاهد موافق دی او هغه څه چی تاسو ته ویلی دی، هغه پری پوه دی (شاهد حق لری د معلوماتو څخه د کار اخیستلو د ډول په هکله خپل نظر بدل کړی. هغه معلومات باید استعمال شی چی دی یی غواړی.)

## د یو سند په قید کی د مرکی او نورو پوښتنو او ګرویځنو راوستل

- سمدلاسه د مرکی یو بشپړ رپوټ چمتو کړی.
- د سرته رسیدلی مرکی د خبرو رښتنیوالی معلوم کړی، ښه لاری یی دا ده چی د پیښی سره د یو نه تړاو لرونکی شاهد نظر وغوښتل شی.
- په یاد ولری چی د پیښو قربانیان اکثر له روحی لخاظه ځپل شوی دی، نو له دی کبله د وخت او زمان د لړی په هکله ډیری وخت هغوی دقت نه لری.
- راټول کړای شوی معلومات د نورو مناسبو کسانو لخوا تصدیق کړی (مثلا د کورنی غړو، ملګرو، ګاونډیو، نورو عینی شاهدانو، خپلواکو کارپوهانو، عامه رپوټونو).
- وګوری چی کوم بشری حق یا حقونه د دی پیښی یا دوسیی په برخه کی د تطبیق وړ دی او هغه حقوق معلوم کړی چی تری سرغړونه شوی ده او ولی؟
- له اړوند او لازم چاراواکو څخه معلومات ترلاسه کړی.

په عمومی توګه د بشری حقونو د مدنی ټولنی سازمانونه د بشری حقونو د سرغړونو د ملکی قربانیانو په هکله ځانګړی پاملرنه کوی. خو دا هم خورا اهمیت لری چی د پوځی پرسونل بشری حقونو ته هم په عین سویه پاملرنه وشی. د ټولنی د اتباعو او د انسانانو په توګه هغوی هم حق لری چی د هغو حقوقو څخه برخمن وی چی نور دی. که چیری د پوځی منسوبینو بشری حقونه په اغیزمنه توګه خوندی وساتل شی، انتظار کیږی چی هغوی د ملکی خلکو د حقونو په ساتنه کی هم ځانګړی پاملرنه وکړی. که چیری د بشری حقونو د مدنی ټولنی سازمانونه د وسلوالو ځواکونو په دننه کی د بشری حقونو سیستماتیکی سرغړونی کشف کړی او پرهغو باندی د لاس برتوب لپاره د حل لاره پیدا کړی، په حقیقت کی هغوی له دی کار سره نه یواځی د بشری حقونو د زیات درناوی په لور یو مهم ګام اخیستی بلکه د اصلاحاتو د هڅو په وړاندی خنډونه هم شنډ کړی دی.

## امنیتی سکتور سره اړیکی نیول

له امنیتی سکتور سره د یو دیالوګ پیل کول د بشری حقونو د مدنی ټولنی د سازمانونو د اندیښنو په وړاندی یو لړ حساسیتونو ته د پاملرنی غوښتنه کوی: ځکه اکثرا خپله د بشری حقونو مشران یا هغوی د کورنی غړی د هغو تیریو قربانیان دی چی د امنیتی سکتور لخوا سرته رسیدلی دی. پوځ او یا پولیس چی د بشری حقونو دمدنی ټولنی له سازمانونو سره سر او کار لری، اندیښنه لری چی نشی په جنایی جرم باندی هغوی تورن شی. دغه ډول اندیښنی پر ځای دی، خو باید پر هغو لاس برتوب وموندل شی. دغه لاندی لارښوونی ښیی چی څرنګه دیالوګ پیل شی:

**د امنیتی سکتور د پخوانیو غړو څخه مرسته وغواړئ چې هغوی د حکومتي تأسیساتو سره چې د امنیتی سکتور برخه جوړوی د یو رابط سړی په توګه کار وکړی.** د بشری حقونو د مدنی ټولنی د سازمانونو ځینی غړی کیدای شي چې د پولیسو یا د پوځ پخوانی منسوبین وی. دغه کسان امنیتی سکتور ته اعتبار لری او کولای شی چې د دیالوګ د پیل لپاره ښه خدمت وکړی او د دواړو اړخونو د مشری په وړاندی د ناستی لپاره دروازه پرانیځی.

**د نړیوالو بشری حقونو د سازمانونو له تماسونو څخه استفاده وکړئ، خو د امنیتی سکتور سره د یوی اوږدمهالی د اجندا درلودلو په موخه ډیر زیات پر هغوی تکیه مه کوئ.** که چیری په ځینو حالاتو کی پخوانی پوځیان یا پولیس ونه موندل شی چې له امنیتی سکتور سره د دیالوګ دپیل لپاره مرسته وکړی، د بشری حقونو د مدنی ټولنی نړیوال سازمانونه د یو داسی دیالوګ د پیل لپاره مثبت نقش لوبوی. خو انتظار مه کوی چې دغه سازمانونه دی د یوی اوږدی مودی په موخه ستاسو په هیواد کی پاتی شی.

**د ځایی مدنی ټولنی له نورو سازمانونو سره په ائتلاف کی کار کول**

کله چی د امنیتی سکتور سره د تعامل موضوع مطرح کیږی، غوره ده چی ډلی یوبل سره ګډ کار وکړی. یو مشترک اقدام چی د موضوعاتو په تصفیه کی پری بحث وشی او د دوه ګونو کارونو په مخنیوی کی مرسته کوی.

**د لومړنی بحث لپاره یواځی یو څو مهم موضوعات تشخیص کړی. که چیری تاسی په امنیتی سکتور کی د بشری حقونو له وضعیت سره پیل کوی، دا به د بحث د پرمخ بیولو لپاره ډیر سخت وی.** د موضوعاتو د چوکاټ د جوړولو لپاره ډیره ښه او مناسبه لاره دا ده چی د اکادمی یا د پالیسی د ټولنی غړی په دی هکله بحث وکړی چی څرنګه ملکی- پوځی اړیکی سمونوالی پیدا کړی. د بیلګی په توګه، د وسلوالو ځواکونو او یا د پولیسو د نقش او ماموریتونو باندی بحث غوره ده نسبت ودی ته چی سمدلاسه پر پخوانیو سرغړونو باندی بحث پیل شی. په هر صورت مهم ټکی دا دی چی د امنیتی سکتور سره د اعتماد فضاء د جوړولو لپاره هغو موضوعاتو ته په لومړی سر کی پام واړول شی چی هغوی د هوسایی احساس کوی.

**د دیالوګ د دوام لپاره له امنیتی سکتور او د بشری حقونو د مدنی ټولنی د سازمانو له مشرانو سره د یوي ګډی کاری ډلی جوړول.** یواځی یودیالوګ نشی کولای چی د اړوند امنیتی سکتور پالیسی یا کړنلاری ته بدلون ورکړی. دا د وخت غوښتنه کوی او ښایی کلونه پکار وی ترڅو د دواړو اړخونو ترمنځ د اعتماد فضا جوړه شی. د یو میکانیزم جوړول (د یوی کاری ډلی یا د یوی دایمی کمیتی) چی د اضطراری حالاتو سربیره په منظم ډول سره غونده وکړی هغه یوه لاره ده چی ښکاره کوی چی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په هکله جدی پاملرنه کیږی.

**د امنیتی سکتور ملکی څارنه.** د پوځ ملکی کنترول د حکومت د رسمی چینلونو څخه بهر یو کار دی. د ملکی کنترول د لاس ته راوړلو لپاره لازمه ده چی د عام وګړو اعتماد لاس ته راشی، هغه دا چی پوځ او پولیس د ټولنی هروګړی ته درناوی لری او هغوی سره سم چلند کوی. دغه اړیکه وخت نیسی چی ټینګه کړای شی. د ملکی څارنی د هڅو د بریالیتوب لپاره د یوی محلی په سطح د اعتماد د رامنځ ته کولو په موخه د مدنی ټولنی سازمانونه دغه لاندی لاری چاری په پام کی نیولای شی:

- له پوځ او پولیسو سره په ګډه کار کول ترڅو د پوځی او پولیسی پرسنول د روزنی په نساب کی د بشری حقونو اصول او معلومات داخل کړای شی؛

- د امنیتی سکتور په دننه کی د میکانیزمونو جوړول چی په هغو کی د مدنی ټولنی د سازمان غړی د مشورتی هیأت دغړو په توګه شامل وی. دا په دی برخه کی مرسته کوی چی د حقونو په هکله هره ډله څه فکر کوی او سربیره پر دی د عامه او خصوصی سکتورونو ترمنځ د پراخ اعتماد په رامنځ ته کولو کی هم مرسته کوی؛
- په ټولنه کی د هغو خلکو د مرستو په لټه کی شی چی کولای شی له امنیتی سکتور سره د یو رابط په توګه کار وکړی. دا د ټولنی د غړو او د امنیتی سکتور د وزارتونو ترمنځ د اعتماد د رامنځ ته کیدو سبب ګرځی؛
- د امنیتی سکتور د دریځ د بدلولو په لور زیار وباسی. په امنیتی سکتور کی د اصلاحاتو یو مهم جوړښت د هغی یوی مفکوری بدلول دی چی هدف یواځی د حکومت یا دولت څخه ساتنه ده. د عام وګړو ساتنه باید اصلی هدف وګرځی. په داسی حال کی چی په دغه ډول یو دریځ کی بدلون راوستل وخت او د یوی اوږدی مودی روزنی ته اړتیا ده. د بشری حقونو ډلی کولای شی چی د یوی بهرنی په توګه په دی پروسه کی ونډه واخلی او ښکاره کړی چی څرنګه دغه نوی نقش یعنی د عام وګړو ساتنه د امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی دخیل کړای شی.

## د پولیسو د بشری حقونو پلټنه

په امنیتی سکتور کی د بشری حقونو په موضوعاتو کی د مداخلی یوه عملی لاره دا ده چی د بشری حقونو سازمانونه د پولیسو د بشری حقونو د وضعیت په هکله په پلټنه لاس پوری کړی. د یو داسی اقدام لپاره د اروپا د شورا د «۱۹۹۷ - ۲۰۰۰ د پولیسو او بشری حقونو» نومی پروګرام لخوا د «د پولیسو د حقونو په هکله د یوی مشورتی کاری ډلی» په نامه یو مفصله لارښوونه وړاندی شویده. د کاری ډلی دغه کار د دی سبب شو چی په دغی لارښونی باندی «په یو دیموکراتیکه ټولنه کی پولیسی دنده – آیا ستاسو پولیس د بشری حقونو اتل دی؟» نوم کینودل شی. په دغی لارښوونی کی ۷ اساسی ټکو ته پاملرنه شوی: بنسټیز ارزښتونه، منسوبین، روزنه، منجمنت، عملیاتی پولیسی دندی، جوړښت، حساب ورکول. سربیره پر دی هغه د پوښتنو او د ارزونی د معیارونو لپاره د لارښوونی یو هراړخیز فهرست وړاندی کوی.

که څه هم دغه لارښوونه په لومړی سر کی د پولیسی منصبدارانو او د هغوی د تأسیساتو لپاره د هغوی د بشری حقونو اجراآتوته په انتقادی توګه د کتنی لپاره وړاندی شوه، هیڅ دلیل وجود نه لری چی ولی د مدنی ټولنی سازمانونه له دغو لارښوونو څخه د یوی خپلواکی کتنی لپاره استفاده ونه کړی. په ځینو حالاتو کی غوره ده چی دغه ډول کتنه په ډله ایز توګه یعنی د پولیسو او د خپلواکو کار پوهانو د یوی ډلی لخوا سرته ورسیږی. دا کار هم د یو ښتینی ګډکار او یا یو تر بله جلا هڅی په توګه دی ژمنی ته په پام لرنی سره چی په موندونو باندی به په رغوونکی توګه بحث کیږی، ترسره شی. په هرصورت دغه موندنی باید د هغوعملی پالیسی سپارښتنو سبب وګرځی چی څرنګه د بشری حقونو په نسبت پولیس پابند پاتی شی.

۱۱ – ۶ چوکاټ کی د دغی لارښوونی یوه برخه درج شوی، خصوصاً د میتودولوجی لومړی برخه: بنسټیز ارزښتونه. خو د یادونی وړ ده چی دغه برخه باید په یواځیتوب سره په پام کی ونه نیوله شی، بلکه ټولی برخی د یو بل د بشپړکونکی په توګه. دغه لارښوونه په بشپړه توګه په دغی انترنتی پاڼه کی موندلای شی:

http://www.coe.int/T/E/Human_rights/policedemosoc_eng.pdf

## ۱۱ ـ ۶ چوکاټ
## آیا ستاسو پولیس د بشری حقونو یو اتل دی؟ د پولیسو د بنسټیزو ارزښتونو ارزونه

| متن | نښانی یا معیارونه |
|---|---|
| **بشری حقونه** | |
| الف – بشری حقونه څرنګه د پولیسو له کار سره تړاو پیدا کوی؟ تر کومی کچی تاسی او ستاسو افسران له بنسټیزو بشری حقونو څخه خبرتیا لری | • بشری حقونه په دغو لاندو وثیقو کی ذکر شوی دی:<br>o د پولیسو په ملی قانون کی<br>o د پالیسیو په رسمی بیانونو کی<br>o د ماموریت په بیانونو کی<br>o د چارچلند په لارښوونو کی<br>o تشکیلاتی سندونو کی<br><br>• هغه انځور چی په ښوونه / روزنه کی ښودل شوی<br>• هغه شفاهی ژمنی چی آمرین یی کوی<br>• د بشری حقونو څخه خبرتیا د پرمختګ لپاره یو اجرائی معیار دی |
| ب – ستاسو پولیسی خدمات د صلاحیتونو څخه د ناوړه استفادی پرضد څه ضمانتونه لری؟ | • په ساحه کی لارښوونه، ترینیګ او څارنه<br>• داخلی او خارجی تحقیقات<br>• په ساحه کی قضایی تفتیش<br>• د قوی څخه د کار اخیستلو په اړه د پولیسو ریکارد<br>• د قوی څخه د کار اخیستلو په صورت کی (خصوصاً که چیری د هغی په نتیجه مرګ / ژوبله) رامنځ ته شی، په اتوماتیکه او خپلواکه توګه د پلټنی پیل<br>• په ساحه کی وقایوی اقدامات تر څو د ناوړه چلند او ربړونو مخه ونیوله شی |
| ج – تر کومی کچی بشری حقونو ته په اغیزمنه توګه درناوی کیږی، او تری ملاتړ کیږی؟ | • له قدرت څخه د ناوړه استفادی او د بشری حقونو د سرغړونو د نورو ډولونو شمیر<br>• د لګول شویو جزایی اقداماتو (قضایی او انضباطی) شمیر او ډولونه<br>• مخالف مطبوعاتی رپوټونه<br>• د غیرحکومتی سازمانونو لخوا نیوکی<br>• د پولیسو د نیمګړتیاو یا اشتباهاتو له امله د خوشی کړای شوو تورن کسانو فیصدی |
| دال – په کومو اقداماتو لاس پوری کیږی ترڅو له ټولو وګړو سره د مساوی چالچلند ضمانت وشی، پرته له دی چی نژادی، جنسیتی، مذهبی، ژبنیو رنګ یا سیاسی نظریاتو توپیر وشی | • د ټولنی د ټولو پرګنو څخه د امنیتی افسرانو استخدام<br>• د نه توپیر پالنی لپاره د ښوونی او روزنی کورسونو دایرول |
| **د قانون حاکمیت** | |
| هـ - د پولیسی هدفونو او چارچلندونو لپاره کوم قانونی اساس وجود لری؟ | • د هغو دوسیو شمیر چی د پولیسو پرضد وړاندی شوی دی<br>• د هغو نتایجو یا قضایی امرونو شمیر چی د پولیسو لخوا د قوی څخه کار اخیستل ښیی.<br>• د غیر مجازو پلټنو فیصدی او د غیرقانونی نیولو قضیو فیصدی چی د پولیسو پرضد عنوان شوی دی |
| و - د یو خپلواک مقام لخوا د قانونیت او د قانون د تفسیر آزموینه څرنګه ده؟ | • د محکمی فیصلی او اړوندو قضیو لپاره قانون<br>• علمی بحثونه او لیکنی<br>• قانونی نظریاتو او د کارپوهانو مشورتو ته لاس رسی |

سرچینه: د پولیسو او بشری حقونو په هکله ګډ مشورتی کار، پولیس په یوی دیموکراتیکه ټولنه کی – آیا ستاسو پولیس د بشری حقونو اتل ګڼل کیږی؟ د اروپا شورا، ۲۰۰۱ کال. په دی هکله پوره لاربسوونی په دغی پاڼي کی موندلای شی:
http://www.coe.int/T/E/Human_rights/policedemosc_eng.pdf

**نتیجه:**

په دی فصل کی د بشری حقونو د قانون په هکله یوه کتنه وشوه او بیا هغه نقش ته خبره ځیر شوه چی د بشری حقونو ډلی او سازمانونه یی کولای شی د امنیتی سکتور د څارنی په اصلاحاتو کی ولوبوی. په وروستیو څو لسیزو کی د بشری حقونو د سازمانونو د ډلو زیاتوالی په حقیقت کی یو نوی نړیوال غورځنګ رامنځ ته کړ چی د امنیتی سکتور لخوا سرغړونو ته یی نړیوال پام واړاوه. د دغو ډلو په مرسته نړیوالی ټولنی، نړیوالو سازمانونو او د مدنی ټولنی سازمانونو د بشری حقونو سرغړونی تشخیص او دهغو مخنیوی او د حقونو د تلافی لپاره یی میکانیزمونه جوړ کړل. د هغو کسانو چی د دولت په دستور یی بشری حقونه پښو لاندی شوی او تیری پری شوی دی، د حقونو د تلافی کولو سره دغو سازمانونو د خپلی پخوانی څارنی دندی څخه یو ګام وړاندی کیښود او له دی کارسره د بشری حقونو د خوندی ساتنی په موخه د یو نوی خدمت لپاره ملا وتړله.

د بشری حقونو د نړیوالو ډلو او محلی سازمانونو ترمنځ اړیکی د نړیوالو ډلو لخوا د ملی غوښتنو د تأمین او قانونی کولو له لاری په ډیره ښه توګه څرګندی شوی دی. د بشری حقونو ډیری محلی ډلی باور لری چی د مدنی ټولنی د بشری حقونو نړیوالو سازمانونو هغوی سره مرسته کړی ترڅو په نړیواله سطح د هغوی غږ پورته شی او له دی لاری د هغوی محلی صلاحیتونه پیاوړی او په ملی سطح کی د هغوی غوښتنی اوریدلی شوی دی. د محلی بشری حقونو د ډلو زړور اقدامات په حکومتوالی اود امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی اړین پاتی دی. دا هم ښکاره خبره ده چی د عمل په ډګر کی اقدام کیدای شی ډیری وخت د بهر څخه په ملاتړ سره بشپړ شی، خو دغه هڅی هغه وخت بریالی دی چی د لانجو لپاره محلی حل ولټول شی، هغه یو حل چی په هغه کی کلتوری، ټولنیز او سیاسی اړخونه په پام کی ونیول شی.

## د مدنی ټولنی د یو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### د بشری حقونو د سرغړونو پر ضد د دعواوو لپاره وکړو ته امکانات برابر کړی

- له محلی کمکی ډلو سره کار وکړی ترڅو هغوی وکړای شی چی د بشری حقونو د سرغړونو په اړه د محلی قضایی سیستم پر اساس قضیی تعقیب او دعواوی محکمی ته وړاندی کړای شی
- له ښځو او د لږکیو له ډلو سره کار وکړی ترڅوهغوی وکړای شی چی د ښځو او د لږکیو حقوق وپیژنی او خوندی وساتی.

### د بشری حقونو د سرغړونو په هکله امنیتی سکتور فعال کړی

- د امنیتی سکتور د پخوانیو غړو څخه استفاده وکړی ترڅو د هغو حکومتی تأسیساتو سره چی د امنیتی سکتور یوه برخه جوړوی د یو رابط په توګه عمل وکړی
- د اړیکو د ټینګولو او پراخولو لپاره د بشری حقونو له نړیوالو سازمانونو سره اړیکی ټینګی کړی
- د مدنی ټولنی د محلی سازمانونو سره په ګډه کار وکړی

- له امنیتی سکتور او دغه راز د مدنی ټولنی د بشری حقونو د سازمانونو له مشرانو سره کاری اړیکی ټینګی کړی ترڅو په امنیتی سکتور کی د بشری حقونو په هکله د پوهی او خبرتیا سویه لوړه کړی

**د بشری حقونو په هکله حکومت حساب او کتاب ته کښینوی**

- د بشری حقونو له نظره جاری قوانین او نور مسوده شوی قوانین تر کتنی لاندی ونیسی
- د هغو بشری حقونو د سرغړونو په هکله چی ستاسو په سیمه کی د امنیتی سکتور لخوا سرته رسیدلی دی یو تحلیل په لاره واچوی او د عامو خلکو په اختیار کی یی کیږدی.
- د حکومت د امنیتی سکتور د پالیسیو او فعالیتونو په هکله رپوټونه جوړ کړی او د عام وګړو په اختیار کی کیږدی
- د امنیتی خدماتو چارچلند ترڅارنی لاندی ونیسی او د بشری حقونو د سرغړونو د قربانیانو په هکله د اطلاعاتو د چڼ کولو یو اداره جوړه کړی.

# ۱۲

# فصل

MARK GUTHRIE AND SIPHOSAMI MALUNGA

# قانونی مرسته او
# د قانون اصلاحات

Mark Guthrie and Siphosami Malunga

# ۱۲

# قانونی مرسته او د قانون اصلاحات

په دی فصل کی د مدنی ټولنی د سازمانونو نقش چی کولای شی د حقونو د دفاع د هڅو له لاری د امنیتی سکتور په څارنه کی ولوبوی او دا موضوع چی د امنیتی سکتور د غړو لخوا د سرته رسیدلو سرغړونو د قربانیانو سره څرنګه قانونی مرسته وشی، تر مطالعی لاندی نیولی شوی دی. په دی ساحه کی د مدنی ټولنی د سازمان فعالیت کیدای شی چی دغه بڼی پایلی ولری: د قانون د چوکات اصلاح چی د امنیتی سکتور شفافیت او حساب ورکولو ته مجبوروی، د پالیسیو او د هڅو د پلی کولو باندی کتنه چی آیا د قانون سره سم عمل کوی که نه او د نړیوالو معیارونو سره سم د بشری حقونو د سرغړونو د قربانیانو ته د تاوان ورکولو لپاره د غوره چارچلندونو تثبیتول.

په دغو موضوعاتو کی اغیزمنه مداخله د هغو مهارتونو د ترکیب ایجاب کوی چی په تیرو فصلونو کی د څارنی، پلټنی، د حقوقو د دفاع او د پوهی او خبرتیا د سطحی د لوړلو په بڼه تری یادون وشو. پر امنیتی سکتور باندی د څارنی د تأمین لپاره هڅی باید د پراخو هڅو او زیارونو اصلی برخه وګڼله شی ترڅو د قانون واکمنی او حاکمیت خوندی وساتل شی. د «قانون حاکمیت» ښایی د مختلفو خلکو لپاره مختلفی معناوی ولری. قانون پوهان او د حقونو مدافع وکیلان ښایی هغه له قانونیت سره مساوی، د کار وړ یو قانونی چوکاټ او یو خپلواک قضایی سیستم په توګه وګني. د پرمختیایی مرستو اداری ښایی د قانون حاکمیت دا وګنی چی دیموکراسی یا د آزاد بازار اقتصاد وده وکړی. عادی وګړی ښایی ووایی چی د قانون حاکمیت دا دی چی ملی تأسیسات باید حساب او کتاب ته کښینوی، سړی عدالت ته لاس رسی ولری او د قانون له مخی د هغوی حقوق خوندی وساتل شی. په حقیقت کی دا ټولی انګیرنی صحیح دی، دا ټول مسائل د قانون په حاکمیت کی راځی. له حقوقی او قانونی لحاظه د قانون د حاکمیت تعریف دری اړینواو بنسټیزو مسائلو پوری اړه نیسی:[1]

- هیڅوک له قانون څخه لوړوالی نه لری؛
- ټول انسانان یا ټول خلک په مساوی کچه د قانون له ساتنی څخه برخمن دی؛

---

[1] - د بیلګی په توګه دغی پاڼی ته مراجعه وکړی:
http://www.icj.org/article.php3id_article=3088&id_rubriqze=118&lang=en

- عدالت د ټولو لپاره د لاس رسي وړ دی.

سربیره پردی د قانون حاکمیت دا هم وایي چی د یو هیواد هر وګړی او تأسیسات د حکومت په شمول د قانون په وړاندی مساوی حق لری او یو شان پری تطبیق کیږی او بشری حقونو ته درناوی کیږی، او دولتی تأسیسات د هغو په مطابق عمل کوی. د قانون د حاکمیت د پیاوړتیا لپاره هر ډول فعالیت او هڅه باید د لاندی هدفونو د تأمین په مقصد وی:

- د قضایی نظام خپلواکتوب؛
- عدالت او قضاء ته په مساوی کچه لاس رسی؛
- د ټولنی له ټولی پرګنو سره (د امنیتی سکتور په شمول) د عین قوانینو له مخی یو شان چارچلند کیږی؛
- د امنیتی سکتور په شمول د دولت د ټولو تأسیساتو لخوا بشری بنسټیزو حقونو ته درناوی کیږی.

هرهغه فعالیت ته چی په دی فصل کی پری بحث کیږی کیدای شی په دی نظر وکتل شی چی کولای شی د نوموړو څلورو هدفونو په بریالیتوب کی ونډه ولری. د مدنی ټولنی هر سازمان د خپل پام وړ موضوع ته ځیر کیږی. ځینی کیدای شی چی په عمومی توګه د بشری حقونو د سرغړونو څارنی او تثبیت ته او ځینی نور ښایی ځینی خاصو موضوعاتو لکه کورنیو او جنسی تیریو ته پام اړولی وی. د مدنی ټولنی ځینی نور سازمانونه کیدای شی چی د ځینو ډلو (لکه بندیانو) د حقونو په استازیتوب عمل وکړی او ځینو نور ښایی وګړو ته قانونی سلامشوری ورکړی: هر دغه هڅه کولای شی چی پر امنیتی سکتور باندی د څارنی لپاره یو اساسی ونډه واخلی.

دری پراخی ساحی وجود لری چی په هغو کی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی په قانون کی د اصلاحاتو د راوستلو او قانونی مرستو لپاره مهم نقش ولوبوی:

- د حقونو دفاع او پلویتوب: پر امنیتی سکتور باندی د څارنی په موخه د یو قانونی چوکاټ لپاره مبارزه کوی، د اصلاحاتو لپاره ځینی خاصی ساحی تثبیتوی او د پالیسو او د چارچلندونو د ښه تطبیق لپاره هڅه کوی؛
- په انفرادی دوسیو کی مرسته؛
- تخنیکی مرستی.

## د قانون اصلاحات: غوره پالیسی او غوره چارچلندونه

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د هغو قوانینو چی پر امنیتی سکتور باندی واکمن دی او د هغو پالیسیو او چارچلندونو په اصلاحاتو او بدلون کی مهم نقش ولوبوی. دوی دغه کار د اصلاحاتو د ساحو د تشخیصولو، قوانینو، پالیسیو او چارچلندونو کی د اصلاحاتو د راوستلو لپاره د پلویتوب او خپلواکو او دولتی تأسیساتو او ارګانونو سره د تخنیکی مرستو د برابرولو له لاری کوی. د مدنی ټولنی سازمانونه باید د قانون د چوکاټ او د امنیتی سکتور د پالیسو او چارچلندونو اړوندو موضوعاتو سره پیژندګلوی ولری. هغوی باید دغه موضوعات د عام وګړو غوږ ته ورسوی او د هغو د حل لپاره وړاندیزونه وکړی. د دی کتاب په دی برخه کی ځینو دغو موضوعاتو ته اشاری شوی چی کیدای شی  د مدنی ټولنی د سازمانونو حقونو د دفاع موضوع وګرځی. دغه راز د تخنیکی همکاری ځینی مثالونه چی په دی ساحه کی کیدای شی د مدنی ټولنی سازمانونه سرته ورسوی، بیان شویدی.

ځینې موضوعات چې د مدنې ټولنې سازمانونه کولای شی د هغو دفاع لپاره راولاړ شی او د تحقق لپاره یې هڅې وکړی په لاندی ډول دی:

- د امنیتی سکتور د څارنې لپاره د یو قانونی چوکاټ جوړول؛
- د شفافیت، حساب ورکولو او اغیزمن امنیتی سکتور لپاره په قانون کې اصلاحات راوستل؛
- د امنیتی سکتور اصلاح شوی پالیسی او چارچلندونه؛
- د بشری حقونو د سرغړونو څارنه، کوم چې د امنیتی سکتور پرسونل مرتکب شوی دی؛
- د امنیتی سکتور په څارنه، پالیسیو او چارچلندونو کې د جنسیت اړوند موضوعاتو شاملول؛
- د قضاء د خپلواکتوب پیاوړی کول.

ټول دغه موضوعات د مدنی ټولنی د سازمانونو لکه ملکی انجمنونه، بشری حقونو ډلی، د ښځو ډلی، د بندیانو د بشری حقونو ډلی، د قانون د اصلاحاتو ډلی، د نارینه او ښځینه عسکری پرسونل د حقونو ډلی یا هغه ډلی چې د انسانی قاچاق پرضد مبارزه کوی او داسی نورو ته د مداخلی لپاره موقع برابروی.

**د دیموکراتیک امنیتی سکتور د حکومتوالی لپاره د یو قانونی چوکاټ جوړول**

په هر دولت کی لازمه ده چې پر امنیتی سکتور باندی د ملکی څارنی لپاره یو قانونی چوکاټ جوړ شی. د جګړی او وسلوالو شخړو څخه وروسته دولتونو او انتقالی دیموکراسیو کی بنایی په لومړی سر کی د دی اړتیا وی چې د دیموکراتیکی څارنی اصول او د هغوی په اساسی قوانینو کی لاربښونی رامنځ کړای شی.

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چې حکومت دی ته وهڅوی چې د یو داسی اصل د جوړولو لپاره خپل موافقت څرګند کړی او پر امینتی سکتور باندی د ملکی څارنی لپاره د ولسی وګړو ذهینت روښانه کړی. دا یوه لاره ده چې د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی په خپل هیواد کی د بشری حقونو د فرهنګ د رامنځ ته کولو لپاره یوه مهمه ونډه واخلی.

**۱۲ – ۱ چوکاټ**
**پر امنیتی سکتور د پارلمانی څارنی د قانون نمونه**

په ۲۰۰۲ کال کی د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا مرکز (DCAF) او د خپلواکو دولتونو مشترک المنافع (CIS) پارلمانی اسامبلی پر امینتی سکتور باندی د پارلمانی څارنی لپاره په ګډه د قانون یو نمونه طرح وکړه تر څو د پخوانی شوروی له جمهوریتونو سره د ملی قوانیونو په جوړولو کی مرسته وکړی، کومو کی چې د امنیتی سکتور د دیموکراتیکی څارنی صراحت شوی دی. دغه مادل یا نمونه یې قانون د ۱۹۹۴ کال د امنیت د سیاسی – پوځی اړخونو په هکله په اروپا کی د امنیت او د همکاری د کنفرانس (OSCE) د چارچلند د لاربښوونو پربنسټ جوړ شو. نوموړی لاربښوونی ټینګار پر دی لری چې پر پوځی، نیمه پوځی او د کورنیو چارو پر ځواکونو او دغه راز پر استخباراتی ادارو او پولیسی ځواکونو باندی دیموکراتیک سیاسی کنترول د امنیت او ثبات یو حتمی او ضروری عنصر ګڼل کیږی.
دغه نمونه ای قانون کولای شی په دی پانه کی ومومی:
http://www.dcaf.ch/_docs/bm_fluri_niktin_cis_model.pdf (په انګلیسی ژبه)
http://www.dcaf.ch/_docs/bm_fluri_niktin_cis_model_ru.pdf(په روسی ژبه)

د ۲۰۰۳ کال په جون کې د نوموړی نمونه یی قانون پربنسټ د اوکراین پارلمان پر پوځ او د قانون اجرائی سازمانونو باندی د دیموکراتیکی ملکی اداری د کنترل قانون ومانه.[1] پر امنیتی سکتور د ملکی څارنی د یو قانون د منلو بیلګه په قرغزستان کې هم موندلای شی، چیرته چی ۲۰۰۷ کال د جنوری په میاشت کې دغسی یو قانون تصویب شو.[2] په عین وخت کې قرغزستان په دی لټه کې هم شو چی د پولیسی چارو په برخه کې خپل قوانین له نړیوالو نورمونو سره برابر کړی.[3]

## شفافیت او حساب ورکول

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د هغو قوانینو په طرح او تصویب کې زیار وباسی چی د امنیتی سکتور په برخه کې شفافیت او حساب ورکول خوندی وساتی. پر امنیتی سکتور باندی د دیموکراتیکی څارنی د مرستی لپاره دغه لاندی مسایل خورا د پاملرنی وړ دی او باید د هغوی پلویتوب وشی:[4]

- د پوځ، پولیسو او د زندانونو منسوبین پارلمان او پارلمانی تأسیساتو ته ځواب ورکونکی دی تر څو د هغوی کړه وړه په منظمه توګه تر څارنی لاندی ونیسی؛
- د پولیسو د چاراکو جوړښت چی په هغی کې د وګړو استازیتوب هم شامل دی او هغه مسوولیت لری چی د پولیسو چارچلند او پالیسی تر څارنی لاندی ونیسی؛
- له دی ناحیی ډاډه کیدل چی پوځ، پولیس او د زندانونو منسوبین په هغه صورت کې چی له قانون څخه سرغړونی وکړی او یا پر بشری حقونو تیری، د ملکی محکمو په وړاندی ځواب ورکونکی دی؛
- د بشری حقونو تأسیساتو جوړول له دی صلاحیت سره چی د امنیتی سکتور لخوا د بشری حقونو د سرغړونو پلټنه و کړای شی؛
- د ربړونی او نورو ناروا، بشری تحقیر او ناوړه چلندونو پرضد د ملګرو ملتونو د ضمیمه پروتوکول د دولتونو له خوا تصویبول، د دغه پروتوکول په موادو او احکامو کې دا هم شامل دی چی د ربړونی پرضد د ملګرو ملتونو فرعی کمیټه د پلټنی صلاحیت لری او د بندیخانو او توقیفونو د پلټنی لپاره د یو ملی میکانیزم جوړول؛
- د دولت لخوا د هغی یو اداری جوړول چی د بشری حقونو د سرغړونو قربانیان تلافی کړی؛
- د قضایی هیأتونو د ټاکولو جوړښت چی په هغه کې د ټولنی استازی هم شامل وی او په یو آزاده او عادلانه پروسه کې قاضیان وټاکل شی؛
- د هغو انجمنونو جوړښت چی په هغو کې د مدنی ټولنی د سازمانونو او د امنیتی سکتوراستازی وکړای شی برخه واخلی تر څو خپلمنځی مسائلو باندی بحث او خبری وکړی.

## د امنیتی سکتور د چارچلندونو او پالیسی له اصلاحاتو سره مرسته

د مدنی ټولنی سازمانونه معمولاً د امنیتی تأسیساتو د چارچلندونو او عملیاتی لارو چارو په هکله د ټولنی لومړی درجه تجربه لری، خصوصاً د پوځی، پولیسو او د زندانونو د منسوبینو په هکله. د مدنی

[1]- د اوکراین د امنیتی سکتور د مسوده شوی قانون د یوی بشپړی مقایسی لپاره دغه لیکی وګوری:
Colston, Fluri and Piroshkov, „The Security Secror Legislation of Ukraine', 2006, in particular pp. 163-175; available at http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?Ing=en&nav1=4

[2] http://www.eurasianet.org/departments/insight/articles/eav011107.shtml

[3] See www.osce.org/item/13866.html

[4]- د حقونو دفاع او پلویتوب په موضوع کې د زیات معلومات لپاره د دی کتاب پنځم فصل ته مراجعه وکړی.

ټولنې سازمانونه په ځينو خاصو موضوعاتو (لکه د ماشومانو حقوق، داخلي او د جنسيت پربنسټ ولاړ زورزياتی، نارينه او ښځينه همجنس بازو، د جنسيت له حدودو بهر موضوعاتو، انسانی قاچاقونو، روانی معيوبتوب، د نژادی لږکيو حقوق، د بنديانو حقوق، څارنه، د ښځو حقوق) باندی کار کوی او د بشری حقونو د سرغړونو په هکله رپوټ ورکول. هغه ښايی ممکن وګرځی ترڅو د هغوی کارپوه توب او تخصص ته پام واړول شی. په دغو ټولو حالاتو کی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د خپلو پلويانو او د حکومت ترمنځ مينځګړيتوب وکړی. د مدنی ټولنی د سازمانونو ځينی هدفونه چی د امنيتی سکتور په چارچلندونو او پاليسيو کی اصلاحات اغيزمن کوی په لاندی ډول دی:

- عملياتی پاليسی او چارچلندونه چی د بشری حقونو درناوی کوی، خصوصاً د ژوند حق، د آزادی حق او جسمی بشپړتيا، د عادلانه محاکمی حق، د شتمنی د درلودلو حق او د شخصی ژوند حق؛
- د امنيتی قواوو لخوا د اصل احترام چی د قوی څخه په ډيره لږه کچه کار واخيستل شی؛
- د امنيتی سکتور په دننه کی د عادلانه انضباطی او جزائی پروسيجرونو درلودل؛
- د امنيتی سکتور په دننه کی د ناوړه اداری د ادعاوو په هکله د پلټنی لپاره د يوی تينګی او عادلانه پروسيجر درلودل؛
- په امنيتی سکتور کی د ښځو د استازيتوب د کچی لوړول؛
- هغه چارچلندونه چی د تجريدی ډلو او د ژوبليدو وړ اشخاصو، روانی معيوبينو، د جنايتونو، د جنسی تيريو او کورنی زورزياتيو د قربانيانو د ضرورتونو په وړاندی په خاصه توګه حساس دی.

د مدنی ټولنی سازمانونه يو لړ چانسونه په مخکی لری ترڅو د امنيتی سکتور په اړوند د چارچلندونو او د کړو وړو د لارښوونوعملياتی اغيزی تر څارنی لاندی ونيسی. دغه چانسونه کيدای شی چی انفرادی دوسيو د حقايقو د بربنډولو له لاری ممکن وګرځی، کوم چی د مدنی ټولنی سازمانونو هغه ثبت کړی او يا د پيښو قربانيان سره د قانونی يا روانی مرستو له لاری موندلی دی. د بيلګی په توګه انفرادی دوسيی ښايی هغه شواهد او اسناد بربنډ کړی چی وسلوالو ځواکونو تر کومی اندازی د ولسی وګړو پر ضد له قوی څخه کار اخيستی دی.

د محاکمی څارنه، خصوصاً د محاکمی څخه مخکی د پوليسی تحقيقاتو په لومړنيو پړاونو کی څارنه ښايی د پوليسو د چارچلندونو په هکله د معلوماتو ډيره شتمنه سرچينه وی. د بيلګی په توګه د محاکمی څخه مخکی کله چی پوليس له نيول شوی تورن شخص څخه پوښتنی کوی، د پوليسو چارچلند بايد تر څارنی لاندی ونيول شی چی آيا د قانون په مطابق عمل کوی او يا که نه، او آيا بشری حقونو ته درناوی لری او يا که نه. د مدنی ټولنی سازمانونه چی د انسانی قاچاق پرضد مبارزه کوی د پيښو له قربانيانو او پوليسو سره د تعامل له لاری کولای شی چی د هغو معيارونو ارزونه وکړی، د کومو له مخی چی پوليس د انسانی قاچاق له قربانيانو سره څه ډول چلند کوی. د بيلګی په توګه د مدنی ټولنی سازمانونه چی د ربړونو او ناوړه غيرانسانی سلوک او سپکاوی ضد تړون د اختياری پروتوکول پر اساس د ملی وقايوی ميکانيزم د يو برخی په توګه بنديخانو او زندانونو څارنه کوی، له دی لاری ښه امکانات په لاس کی لری ترڅو وګوری چی له تاکل شويو معيارونو او کچو سره سم عمل کيږی که نه.[1] د مدنی ټولنی سازمانونه کيدای شی ځينی خاص محافل هم وڅاری، کومو چی پوليس له قوی څخه د کار اخيستلو لپاره اجازه لری، مثلاً د عامه ټولنو د ګډوډولو لپاره پوليس مؤظف کيږی. د پوليسو دغه ډول مداخله بايد تر څارنی لاندی ونيوله شی چی تر کومی کچی له قوی څخه په کار اخستلو، معيارونه

---

[1] - په دی اړه د ربړونو د مخنيوی د انجمن، خصوصاً د زندانونو څخه د ليدنی کتنی لارښونی مطالعه کولای شی:
http://www.apt.ch/component/option,com_doc-man/task,cat_view/gid,58/Itemid,59/lang,en/;
او د بشری حقونو د څاري لپاره د ملګرو ملتونو د روزنی رساله (په انګليسی، فرانسوی، روسی او هسپانوی ژبو)
http://www.unhchr.ch/html/menu6/2/training.htm

او بشری حقوق مراعاتوی. ۱۲ ــ ۲ چوکات نړیوال بشری قوانین او لارښوونی بیانوی کوم چی د امنیتی سکتور په څارنه کی د قانونی مرستو او قانون ملاتړ لپاره لارښوونی کوی.

**۱۲ ــ ۲ چوکاټ**
**د بشری حقونو نړیوال قانونی وسایل، د پالیسی نړیوال سندونه او پر امنیتی سکتور د څارنی لپاره اړوندی لارښوونی**

**د بندیانو او د هغو کسانو چی زندان ته ورته ځایونو کی بندیان دی محافظت**

- د بندیانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو د معیارونو حد اقل مقررات
- د بندیانو سره د چلند لپاره بنسټیز اصول
- د ټولو هغو کسانو لپاره چی په توقیفونو یا زندان ته ورته ځایونو کی ساتل کیږی د محافظت د اصولو ارګان
- د غیرتوقیفی اقداماتو لپاره د ملګرو ملتونو د معیارونو حد اقل مقررات (د توکیو مقررات)

**د ماشومانو او نا بالغو مجرمینو محافظت**

- د نابالغو مجرمینو چی له خپلی آزادی څخه بی برخی شوی دی، د محافظت لپاره د ملګرو ملتونو مقررات
- د نابالغو مجرمینو په برخه کی د عدالت د خوندی ساتنی لپاره د ملګرو ملتونو د معیار حد اقل مقررات (د پیکنګ مقررات)
- د جنایی جرمونو په قضائی سیستم کی د ماشومانو په هکله د عمل لارښوونی
- د نابالغو د مجرم کیدو د مخنیوی لپاره د ملګرو ملتونو لارښوونی (د ریاض لارښوونی)

**د ربړونی او نورو غیرانسانی چلندونو یا د انسان د سپکاوی یا انسانی سزا پرضد محافظت**

- د ربړونی او نورو غیرانسانی چلندونو یا د انسان د سپکاوی یا انسانی سزا په وړاندی د ټولو انسانانو د محافظت اعلامیه
- د ربړونی او نورو غیرانسانی چلندونو یا د انسان د سپکاوی یا انسانی سزا پرضد منشور (CAT)
- د ربړونی او نورو غیرانسانی چلندونو یا د انسان د سپکاوی یا انسانی سزا پرضد د منشور ضمیمه یی اختیاری پروتوکول (OP-CAT)
- د ربړونی او نورو غیرانسانی چلندونو یا د انسان د سپکاوی یا انسانی سزا په هکله د اغیزمنی پلټنی او مستند کولو لپاره اصول

**د بیرحمانه، پرته له پوښتنی او ګرویځنی او د صحرایی اعدامونو مخنیوی او تحقیق**

- د قانون له حدودو څخه بهر، بیرحمانه او صحرایی اعدامونو د اغیزمنی مخنیوی او تحقیق اصول

**د قانون د اجراء کونکو چاراوکو لپاره د چارچلند معیارونه او لارښوونې**

- د قانون د اجراء کونکو چاراوکو د چارچلند لپار لارښوونې
- د قانون د اجراء کونکو چاراوکو لخوا د قوی او وسلې څخه د کار اخیستلو بنسټیز اصول

**د قضاء او مدافع وکیلانو محافظت**

- د قضاء د خپلواکتوب لپاره بنسټیز اصول
- د مدافع وکیلانو د نقش په هکله بنسټیز اصول
- د څارنوالانو د نقش په هکله لارښوونې

**د قوی د کار اخیستلو د نورو شکلونو په وړاندې محافظت**

- د جرایمو او د قدرت څخه د ناوړه استفادې د قربانیانو لپاره د عدالت د بنسټیزو اصولو اعلامیه
- د جبری لادرک کولو په وړاندی د ټولو انسانانو د ساتنې لپاره اعلامیه
- د جبری لادرک کولو په وړاندی د ټولو انسانانو د ساتنې لپاره نړیوال منشور (خو د دې کتاب تر لیکلو پورې نافذ شوی نه دی)

**د عدالت لپاره حقوق**

- د حقوقو د اعادې او د تلافی کولو د حق په هکله بنسټیز اصول او لارښوونې

**د سیمه ایزو سازمانونو لخوا لارښوونې او سپارښتنې**

- د امنیت د سیاسی – پوځی اړخونو په هکله د چارچلند لارښوونې (OSCE/Special Committee of the CSCE Forum for Security Co-Operation)[1]
- د اروپا د پارلمانی اسامبلې د شورا «۱۷۱۳سپارښتنه» (۲۰۰۵) [2]

سرچینې:

http://www.2ohchr.org/english/law/index.htm#instruments
http://www.osce.org/documents/fsc/1994/12/4270_en-pdf
http://assembly.coe.int/main.asp?Link=/documents/adoptedtext/ta05/erec1713.htm

کوم معلومات چې په دې ډول سره تولیرې کیدای شی چې له هغو څخه پر امنیتی سکتور باندی د ملکی څارنې او د پالیسیو او چارچلندونو د اصلاحاتو د مبارزې د یو قانونی چوکاټ د جوړولو په موخه د بنسټیزو موادو په توګه کار واخیستل شی. دغه ډول هڅې کیدای شی په لاندې شکلونو سره سرته ورسیږی:

[1] http://www.osce.org/documents/fsc/1994/12/4270_en-pdf
[2] http://assembly.coe.int/main.asp?Link=/documents/adoptedtext/ta05/erec1713.htm

- د رپوټونو خپرول یا په هغو کی ونډه اخیستل؛
- د رسنیو له لاری کمپاین؛
- د پارلمان له غړو سره کار کول؛
- د پارلمان استماعیه غونډو او کمیټو ته وړاندیزونه؛
- په مشورتی پروسو کی ونډه اخیستل؛
- د قانون په مسودو باندی تبصره کول.

### د جنسیت مسأله له پام څخه مه غورځوی

د جنسیت د موضوعاتو څخه د خبرتیا لپاره د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی د څارنی د هغه یو سیستم په جوړولو کی ونډه واخلی چی د ټولنی د یوی پراخی برخی څخه استازیتوب وکړی او هغه یو امنیتی سکتور رامنځ ته کړی چی بشری حقونو ته درناوی ولری او په هغه کی د ټولنی د ټولو برخو استازی غړیتوب ولری. له موضوعاتو څخه د هغوی پوهه او تجربه کولای شی چی د مدنی ټولنی سازمانونو ته صلاحیت ورکړی ترڅو ځانګړی امنیتی ګواښ ته د نورو پام واړوی، هغه یو ګواښ چی تر زیاتی کچی د ټولنی د ژوبلیدو وړ غړو ته متوجه دی. سربیره پر دی هغوی کولای شی هغه پالیسی او چارچلندونه تشخیص کړی چی د ټولنی د دغو ډلو څخه استازیتوب وکړی. په هغو ټولنو کی چی تازه له جګړی یا شخړی څخه ژغورل شوی دی او هلته د جنسیت پربنسټ ولاړ زورزیاتی ډیر پراخ دی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د نویو قوانینو انفاذ لپاره پلیوب وکړی. دغسی یو مثال سری کولای شی چی په لایبریا کی ومومی. هلته د ښځینه انجمنونو مدافع وکیلانو پر ښځو باندی د جنسی تیریو د یو نوی جنایی قانون په جوړولو کی مهم نقش ولوباوه، دغه قانون په ۲۰۰۶ کال کی توشیح شو.[1]

د دی کتاب په لسم فصل کی ۱۰ – ۶ چوکاټ د امنیتی سکتور او د جنسیت د موضوعاتو په هکله د مدنی ټولنی سازمانونو ته د یو شمیرنړیوالو قوانینو او قانونی ابزارونو فهرست وړاندی کیږی ترڅو د هغو په مرسته وکړای شی د څارنی په مقصد د یو قانونی چوکاټ د جوړولو لپاره د جنسیت د موضوعاتو مسأله هم شامله کړی او وتوانیږی چی په بریالیتوب سره پالیسی او چارچلندونه د عمل په ډګر کی پلی کړی.

### د قضائیه خپلواکتوب پیاوړی کول

لکه چی مخکی له دی یادونه وشوه د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د یو قضائی خپلواک سیستم د رامنځ ته کولو لپاره چی په هغه کی د ټولنی هراړخیز استازیتوب وشی، مبارزه وکړی ترڅو په قضائی هیأت کی د هغو کسانو د غړیتوب ژمنه وشی چی د بشری حقونو د ودی او خوندی ساتنی توان لری. له جګړی او وسلوالو شخړو څخه ژغورل شویو او همدارزا انتقالی دولتونو کی چیرته چی د جګړی د جنایی مجرمینو څارنی صورت مومی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی په دی لاره کی مبارزه وکړی ترڅو د جګړی د جرایمو د ادعاو او د هغو کسانو چی په دی جرمونو تورن دی د ګرندیو محاکمو، په نا پلوی توګه پلټنه وکړی.

[1] http://www.iss.co.za/index.php?ink_id-3806&link_type=12&tmpl_id=3

۱۲ ــ ۳

**په گرجستان کې قضائی اصلاحات: د قانون په هکله د عامه پوهاوی انجمن (ALPE)**

له خپلواکۍ څخه مخکې گرجستان هغسې یو قضائی نظام درلود چې نه عادلانه ؤ او نه هم خپلواک.

کله چې دغه هیواد د ۱۹۹۰ لسیزې په پیل کې په یو لړ اصلاحاتو لاس پورې کړ تر څو د قضائی نظام خپلواکتوب پیاوړی کړی، د قانون د پوهاوی انجمن چې انگریزی مخفف یې (ALPE) دی او د گرجستان د مدنی ټولنې د سازمانونو له جملې څخه گڼل کیږی، متې بډ وهلی او د محکمو او د عامه خلکو ترمنځ د تشې د له منځه وړولو لپاره یې پل جوړ کړ او سربیره پر دې قضائی سیستم یې دې ته واړاوه ترڅو د خپل ورځنی کار حساب ورکړی.

ALPE په گرجستان کې د قضائی سیستم د پیاوړتیا لپاره په یو گڼ شمیر پروژو باندې کار وکړ. په دغو فعالیتونو کې پر قضائی موضوعاتو باندې د اونیزو تلویزونی خپرونو، د هیواد په یوې معتبرې ورځپاڼې کې د قانون د وثیقو خپرول او د ښونځیو د ماشومانو لپاره د قضایی نظام په هکله تعلیمی ښوونې د یادونې وړ دی.

تر ټولو مهمه دا چې ALPE په محکمو کې د هغو دفترونو په جوړولو کې مرسته وکړه چې وگړو ته لارښوونه وکړی ترڅو خرنگه شخړی سره حل او فصل کړی. همدا راز دغې مدنی ټولنې د قضاء اخلاقی لارښوونې خپاره کړل او د قانون په تأسیساتو کې د شفافیت او حساب ورکولو میکانیزمونو ته یې وده ورکړه.

سرچینه: http://siteresources.worldbank.org/EXTDEVCOMMENG/Resources/KGB.pdf

## د اصلاحاتو د راوستلو لپاره د مدنی ټولنې د سازمان ونډه

د اصلاحاتو لپاره د مدنی ټولنې د سازمان مبارزه کیدای شی مختلف شکلونه ونیسی. د یوې موضوع په پام کې نیولو سره دغه مختلف شکلونه کیدای شی دغه لاندې ډولونه غوره کړی:

- د پارلمان استماعیه غونډو یا کمیټو ته وړاندیزونه
- د اصلاحاتو په گټه د پارلمان د غړو، سیمه ایزو یا محلی مشرانو راخپلول؛
- د تحقیقاتو د کمیسیونونو وړاندیزونه؛
- د قانون په مسودو باندې تبصرې کول؛
- په ملی سوله او د اساسی قانون د مسودې په پروسه کې ونده اخیستل؛
- د بشری حقونو له ملی تأسیساتو سره په گډه کار کول؛
- د ربړونې ضد منشور د اختیاری پروتوکول پر بنسټ د ملی وقایوی میکانیزمونو په جوړولو کې برخه اخیستل؛
- د گردی میزونو په بحثونو کې ونډه اخیستل؛
- د غیرحکومتی سازمان په جرگو کې ونډه اخیستل؛
- د رسنیو کمپاینونو په لاره اچول او یا په هغوی کې برخه اخیستل؛
- د رپوټونو، پالیسیو او عامه پوهاوی موادو تولیدول؛
- د عرایضو او غوښتنو بندوبست کول؛

- په انفرادی قضیو باندی کار کول ترڅو د اصلاحاتو لپاره ټینګار وشی؛
- د عامه مظاهرو په لاره اچول.

په عامه بحثونو، د پوهاوی د سطحی په لوړولو او د حقونو په دفاع کی د مدنی ټولنی د سازمانونو د ونډو پر مثالونو باندی د دی کتاب په تیرو فصلونو کی رڼا واچوله شوه. په دی اړه یو بل ډیر ښه مثال په جنوبی افریقا کی سړی موندلای شی، چیرته چی د ملی امنیتی چوکاټ د جوړولو د تیاری په موخه د امنیتی ګواښونو او د هغو په اړوند د عامه وګړو د نظریاتو په هکله د عمومی سلامشورو په نتیجه کی «د دفاع پربنسټ د امنیت» تعریف د «بشر د ساتنی پربنسټ د امنیت» په تعریف بدل شو.[1]

په خاصه توګه د قانون د اصلاحاتو او پالیسیو باندی د کتنی په پام کی نیولو سره چی هدف یی په امنیتی سکتور کی د بشری حقونو خوندی ساتنه ده، د بشری حقونو ملی تأسیسات او د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی یو بل سره په همکاری کی د بشری حقونو په وده کی ونډه واخلی. ۱۲ – ۴ چوکاټ په جنوبی افریقا کی د دغسی یوی همکاری بیلګه بیانوی:

**۱۲ – ۴چوکاټ**

**«ډیردیو له ویری» او د وسلوالو زور زیاتیو پرضد له مدنی ټولنی سره ګډ کار: د جنوبی افریقا د بشری حقونو کمیسیون**

د نه سند لرونکو بهرنیانو، پناه وړونکو او کډوالو پرضد د بشری حقونو تیری په جنوبی افریقا کی یوه ډیرهستره ستونزه ده چی د پردیو څخه د ډار او ویری او د وسلوالو زورزیاتیو سره ورته لمن وهل کیږی. د جنوبی افریقا د بشری حقونو کمیسیون د خپل جوړښت له لومړی سر څخه د خپلو منابعو د پام وړ برخه د بهرنیو کډوالو او پناه وړنکو د بشری حقونو د خوندی ساتنی او د هغوی پرضد د تیریو څارنی او مستند کولو ته ځیر کړی وی. د ادعاو له مخی د پولیسو لخوا د زورزیاتیو څخه کار اخیستل او پر بشری حقونو باندی تیری او دغه راز په یو خصوصی زندان کی له بشری حقونو څخه سرغړونی هغه ستری پیښی وی چی بهرنی کډوال او پناه وړونکی ورسره لاس او ګریوان ؤ.

د خپل ځیرنیز ظرفیت د پراخولو او د اړوندو اطلاعاتو د راټولولو لپاره د جنوبی افریقا د بشری حقونو کمیسیون د ۱۹۹۸ کال په فبروری کی په دغه هیواد کی د حقوق او قوانینو له یو شمیر تعلیمی مرکزونو سره د ګډ کار لپاره ملا وتړله. د «قانون د تطبیق د مطالعاتو مرکز»، د Witwatersran د پوهنتون د قانون له پوهنځی او د بشری حقونو مدافع وکیلانو انجمن (یو غیرحکومتی سازمان) سره د همکاریو له لاری نوموړی کمیسیون وتوانید چی له قربانیانو سره په مرکو کی معلومات راټول کړی. له دغو معلوماتو سره کمیسیون وغوښتل چی د بهرنیو کډوالو او پناه وړنکو پر ضد د بشری حقونو تیریو ته عامه پام واړول او د هغو لپاره د حل لاری چاری ولټول شی. هغه ټرینینګ چی په دی پروژه کی د برخه والو لپاره وړاندی شو، هغه هم په اوږده موده کی ډیر ګټور ؤ، ځرنګه چی د قانون او د حقوقو په تعلیمی مرکزونو کی یی د محصلینو ترمنځ د بشری حقونو په برخه کی لیوالتیا پراخه کړه.

د دی کار په نتیجه کی هغه یو کدر وروزل شو چی د بشری حقونو د خوندی ساتنی لپاره پوره تجربه لری.

[1] Kenkel, Kai Michael, „Civil Society Participation in Defence Policy Formulation: Academics Experts and South Africa's Post- Apartheid Defence White Paper" in Journal of Security Management Vol.4, No.1, 2006, http://www.ssronline.org/jofssm/issues/jofssm_0401_kenkel_civl_society.pdf?CFID=813174&CFTOKEN=5670795

سرچينه:
Human Rights Watch, „Government Human Rights Commissions in Africa“,
http://www.hrw.org/reports/2001/africa/overview/contributions.html

## د اصلاحاتو د راوستلو لپاره تخنيکی مرستی

د مدنی ټولنی سازمانونه ډيری وخت د ښه تجربو او تخصصونو څخه برخمن دی چی کولای شی له امنيتی سکتور سره يی شريک کړی ترڅو هم د امنيتی سکتور د څارنی لپاره په قانونی چوکاټ او هم د امنيتی سکتور په پاليسيو او چارچلندونو کی اصلاحات رامنځ ته کړی. دغه تخنيکی مرستی کيدای شی چی په لاندی ډول سره صورت ومومی:

- د پارلمان کميټو او استماعيه غونډو ته اسناد او شواهد وړاندی کړی؛
- د قانون په مسوده کی مرسته وکړی؛
- د امنيتی سکتور د پرسونل لپاره په عمومی او خاصو موضوعاتو کی د بشری حقونو ښوونه او روزنه (د بيلګی په توګه: د جنسيت پربنسټ زورزياتی يا د انسانی قاچاق او داسی نورو موضوعاتو په هکله)؛
- د پوځ، پوليسو، د زندانونو د محافظينو او د قضائی ارګان د کارکونکو لپاره پر ځينو ټولنو باندی د امنيتی سکتور د پاليسيو د اغيزو د روزنيز سمينارونو دايرول؛
- د بشری حقونو د سرغړونو د پيژندنی لپاره د آزماينتی څارنی پروژو په لاره اچول او د قانون د اصلاحاتو د ساحو تشخيصول.
- پاليسی جوړونکو او قانون جوړونکو ته معلومات ورکول؛
- د ګردی ميز په بحثونو کی ګډون کول ترڅو د امنيتی سکتور د قانون او چارچلندونو په هکله بحث وکړی؛
- نړيوالو پلټونکو ارګانونو ته معلومات ورکول (د بيلګی په توګه: د ربړونو د مخنيوی لپاره د دملګرو ملتونو فرعی کميټه او د ربړونی د مخنيوی لپاره د اروپا د اتحاديی کميټه)، د اړوند هيواد څخه د ليدنی کتنی څخه مخکی او د ليدنی کتنی په ترځ کی؛
- د امنيتی سکتور او د ځواکونو او د ژوبليدو وړ ډلو ترمنځ د مينځګړی په توګه عمل وکړی؛
- په هغو ډلو کی شموليت پيدا کړی چی د امنيتی سکتور په اړه د قانون او چارچلندونو د تطبيق په برخه کی کار کوی (د بيلګی په توګه: هغه ډلی چی د قانون په نظام کی د اصلاحاتو څارنه کوی)؛
- د جګړو او وسلوالو شخړو څخه وروسته او انتقالی دولتونو کی اړوندو چارواکو ته د پخوانيو قاضيانو د کړو وړو په هکله معلومات ورکړی، دا ځکه چی په دغو دولتونو کی ښايی اړتيا وی ترڅو د نوی قضائی نظام په جوړولو کی د قاضيانو په انتخاب کی له احتياط څخه کار واخيستل شی؛
- د قضائی کميسيونونو په ټاکلو کی برخه واخلی.

## په انفرادی دوسیو کی د مدنی ټولنی د سازمانونو د مرستی نقش

په دی برخه کی د مدنی ټولنی د سازمانونو پر هغه نقش باندی بحث کیږی چی څرنګه هغوی کولای شی په انفرادی دوسیو کی مرسته وکړی او دولت خپل مکلفیتونه سرته ورسوی او د بشری حقونو د سرغړونو قربانیانو ته د تلافی کولو په مقصد تخنیکی مرستی ورکړای شی.

## وړیا خدمتونه – قانونی مرسته او قانونی مشوره

د مدنی ټولنی ډلو په اثبات رسولی چی هغوی اړینو خلکو او ډلو ته د مرستو او قانونی سلامشورو په ورکولو کی خورا د ستاینی وړ دی. دغه اړینی دلی عبارت دی له: کډوال، قومی یا نژادی لږکی، بی وطنه یا بی کوره خلک، کورنی بی ځایه شوی خلک یا مهاجر، معلولین او معیوبین او یا هغه خلک چی د مختلفو دلایلو له امله هغو مرستو ته لاس رسی نه لری چی ورته اړتیا لری. دغو خلکو ته کیدای شی چی د مرستی دفترونه او اداری جوړی شی، البته په هغو سیمو او ځایونو کی چی هغوی ورته لاس رسی ولری او هغوی ورته مراجعه وکړای شی، خدمات باید وړیا وی. له داسی مرستو سره هغوی د دی توان پیدا کوی چی له خپلو حقونو څخه دفاع وکړی، که څه هم هغو د پیښو قربانی دی او که یا خپله د پیښو عامل. البته د دغو دفترونو او ادارو قانونی حدود او صلاحیتونه له یو بل سره توپیر لری.

په سریلانکا کی د ۲۰۰۴ کال د مسیحی میلاد د اختر یا کریسمس په ورځ یو سمندری توپان له ۳۰ زرو خلکو څخه ژوند واخیست او په سل ګونو زره کورونه یی ویجاړ کړل. ډیرو خلکو د خپل هویت تذکری، د زیږیدو سندونه، نکاح خطونه، د شتمنیو او ځمکو اسناد له لاسه ورکړل. د دغو اسنادو د بیا جوړولو لپاره د مرستو قانونی دفترونه جوړ شول ترڅو د ملی بشری حقونو د کمیسیون او ملی او نړیوالو ټولنی او غیرانتفاعی سازمانونو په مرسته دغو خلکو ته د اړتیا وړ اسناد له سره ورکړی. په دغه هیواد کی چی امنیتی وضعی د خرابیدو پرمخ روانه وه او د سونامی یا سمندری توپان د مصیبت سره نور هم وځپل شو، د مرستی د فترونو ته ترزیاتی کچی هغو کورنیو مراجعه وکړه چی ماشومان یی تښتول شوی ؤ او یا په زور تری د وسلوالو سرتیرو په توګه کار اخیستل کیده او یا پلرونه او یا د کورنی نور غړی یی لادرکه شوی ؤ. په یو شمیر صنعتی هیوادونو او تر زیاتی کچی په پرمختیایی هیوادونو کی ملی انجمنونو، پوهنتونونو او د مدنی ټولنی نور سازمانونو یو بل سره د مشارکت او همکاری شبکی جوړی کړی دی، ترڅو اړینو خلکو او ډلو ته په وړیا توګه خدمتونه عرضه کړی.[1]

د امریکا په متحده ایالاتو کی دغه ډول همکاری په ډیره مسلکی توګه سرته رسول کیږی، سربیره پر دی د شریکو تأسیساتو لپاره د امتیاز ورکولو معیارونه او پر وسیجرونه چوړوی او د غیرمسلکی کسانو لخوا ورکړای شوی حقوقی خدمات تر څارنی لاندی نیسی.

[1] UNDP, Civil Society and UNDP in Seri Lanka: Partnership in Crisis Situations, 2007, http://www.undp.org/partners/cso/publications/Civil_Society_and_UNDP_in_Sri_Lank_parnerships_in_crisis_situations.pdf

## د قانون مشورتی کلینیک یا دفتر جوړول

په خاصه توګه په ځینو هیوادونو یا سمیو کی چی قضاء او عدالت ته لاس رسی محدود دی یا ځینی قانونی اړتیاوو ته سمه پاملرنه نه کیږی، د قانون مشورتی کلینیک «دفتر» کولای شی چی د قربانیانو د حقونو د خوندی ساتنی لپاره یو مهم نقش ولوبوی. خو قانونی مشوری او مرستی ډیر زیات مسوولیتونه لری. قانونی مشوری ورکول نه یواځی د قانون او قانونی لارو چارو په هکله د زیاتو معلوماتو د درلودلو، بلکه د قضائی تجربو غوښتنه هم کوی. هر قضیه او دوسیه خپلی ځانګړی حقایق لری چی اړوندی موضوع تشخیص او د نتیجی په هکله یی تر یوی کچی وړاندوینه کوی. د مدنی ټولنی هر سازمان چی غواړی قانونی مشورتی دفتر جوړ کړی، باید په پام کی ونیسی چی آیا رښتیا د دی کار لپاره ظرفیت لری او آیا هغه چاپیریال چی هغه په کی فعالیت لری، ورته مناسب دی. ځینی لاندی موضوعات په دی اړه په پام کی ونیسی:

### عملیات او چاپیریال:

- د قانون د یو مشورتی دفتر لپاره څه اړتیا ده؟ د قانون دغسی یو مشورتی دفتر څرنګه کولای شی چی د قانون د خدماتو یوه بله اداره تکمیله کړی؟
- د عرضه شوی خدماتو او مرستی حدود څه دی؟ آیا دا یواځی مشوری ورکوی یا په محکمو یا نورو تریبونالونو کی استازیتوب کوی، یا دا دواړه؟ یواځی ملکی موضوعاتو کی که جنایی کی یا دواړو کی؟
- د مشورتی دفتر د پام وړ وګړی څوک دی؟ آیا دغه دفتر یواځی د ټولنی د ژوبلیدو وړ ډلی په پام کی نیولی او که د ټولنی پراخی برخه ته هم ځیر دی.
- د قانون دغه مشورتی دفترد خپل ځان په هکله څرنګه تبلیغ کوی او څرنګه کولای شی د خپلو پام وړ خلکو په منځ کی له شهرت او اعتبار څخه برخمن شی؟
- د دغه دفتر د فعالیت جغرافیایی ساحه څومره پراخه ده؟ آیا هغه ګرځندوی خدمات هم لری؟ آیا ټول وخت کار کوی او که د کار وخت یی معین دی؟
- آیا د هغه د مشتریانو یا مراجعینو جسمی مصونیت ته کله چی هغه دفتر سره همکاری وکړی خطر وجود لری؟ دفتر څه ډول امنیتی اقدامات ورته نیولای شی؟
- د هغه د کاری عملیاتو لګښت څومره دی؟ د دفتر د کارونو د ترسره کولو او انفرادی قانونی اجراآتو لپاره څومره مالی منابع په اختیار کی لری؟
- آیا دفتر د خپلو مشورو د ورکولو په خاطر د کوم ملکی مسوولیت خطر په غاړه اخلی؟

### ظرفیت او شریکان

- د قانون د مشورتی دفتر کار کونکی څه ډول تخنیکی مهارتونو ته اړتیا لری (مرکه کول، لیکل او د قانون د مسائلو مهارتونه)؟ آیا ماهر مسلکی قانون پوهان یا نیمه مسلکی کسان د دفتر په اختیار کی دی؟
- آیا دفتر کولای شی چی په مشورو کی محرمیت او لاس ته راغلی معلومات ځان سره خوندی وساتی؟ آیا د دوسیو او قضیو په ترتیب کی توانمندی لری؟
- آیا دفتر د قضیو او دوسیو په پرمختګ کی چټکتیا بنودلی شی؟
- له بشری حقونو سره د خواخوږو مدافع کیلانو یا د وکیلانو ډلو سره د همکاری امکانات څه دی ترڅو د هغو له تخصص او تجربو څخه استفاده وشی؟

- آیا د بشری حقونو سره خواخوږی طبی ډاکتران وجود لری تر څو د پیښو قربانیان ورته مراجعه وکړی او د هغوی د جسمی ټپونو تشخیص او تصدیق وکړی؟
- آیا دفتر کولای شی چی خپلو مراجعینو ته روحی او اخلاقی مرستی چمتو کړی او که هغوی نورو سازمانونو ته د داسی خدماتو په مقصد معرفی کوی.
- له نړیوالو حکومتی او غیرحکومتی سازمانونو سره څه ډول ائتلاف جوړیدلای شی ترڅو د مشورتی دفتر د شهرت سطح لوړه کړای شی، نړیوال محافظت څخه برخمن شی، بهرنیو تخصصونو ته لاس رسی ممکن وګرځی او د دفتر له مسلکی پرمختیا سره مرسته وشی؟

د دی لپاره چی د مدنی ټولنی سازمانونه وکولای شی د قانون دغسی مشورتی دفترونه جوړ کړی، دغه لاندی عملی لاری چاری کیدای شی چی په پام کی ونیول شی:

**فزیکی ساحه (دفترونه یا ګرځندوی):**
دی ته ضرروت دی ترڅو اړ کسان وکړای شی د مشورو لپاره مراجعه وکړی او په محفوظ ځای کی هغوی لازمی مشوری تر لاسه کړی. سربیره پر دی د مدنی ټولنی سازمانونه باید داسی یو ځای ولری چی مشوره غوښتونکی په کی انتظار وایستلی شی، پرته له دی چی چاته بربنډ او افشاء شی.

**د خپل شهرت لپاره تبلیغ:**
د مدنی ټولنی سازمانونه باید د خپل ځان او د خپلو خدماتو په هکله تبلیغ وکړی، د دی کار لپاره کولای شی چی ځینی کوچنی اعلانونه یا معلوماتی پانی چی په هغو د هغوی پته او د تماس نیولو لاری چاری او خدمات درج وی، خپری کړی. دغه معلوماتی پانی کیدای شی چی په ښاروالیو، د کډوالو په خدماتی دفترونو، روغتیایی مرکزونو یا د کورنیو د پالنو په مؤسسو کی کیښودلی شی. دغه راز هغوی کولای شی د راډیو او ورځپاڼو له لاری داسی تبلیغات په لاره واچوی.

**تر هدف لاندی ډلو ته لاس رسی:**
که چیری ترانسپورتی امکانات محدود وی او تر هدف لاندی وګړی ونشی کړای چی مشورتی دفترونو ته لاس رسی پیدا کړی، د مدنی ټولنی سازمانونه باید ګرځندوی ډلی په پام کی ونیسی؛ که چیری امکان ولری او زمینه برابره وی، د ټولنیزو خدماتو اداری یا روغتونونه کولای شی چی دغسی نماینده مشورتی دفترونه پرانیځي او په منظمه توګه د مراجعینو پرمخ خلاص وی ترڅو وکړای شی لازمی سلامشوری ترلاسه کړی.

**تخصص:**
د مدنی ټولنی سازمانونه باید د بشری حقونو له تأسیساتو، محلی او ملی انجمنونو، پوهنتونونو او د حقوق او قانون له پوهنځیو سره د همکاری او مشارکت اړیکی ټینګی کړی ترڅو وکړای شی د هغو په مرسته خپلو مراجعینو ته مختلف خدمات وړاندی کړی او مختلفو اړتیاو ته ځواب ووایی.

**د قانونی مشورتی دفتر د کار څرنګوالی:[1]**
- د خپلو مراجعینو د اړتیاو د تشخیص لپاره یوه روڼه پروسه جوړه کړی ترڅو له مشورو سره د هغوی ستاسنه وشی او یا نور خدماتی مؤسسو ته معرفی شی؛

---

[1] The Wester Canada Society to Acess Justice, www.ascessjustice.ca/lawyer/client_issues.asp There are a number of resources on the internet on these issues. See: A Basic Guide to Legal Standards and Practice, Human Rights first, http://www.humanrightsfirst.org/pubs/descriptions/fair_trail.pdf; UK National Occupational Standards for Legal Advice, http://www.ukstandards.co.uk/Find_Occupational_Standards.aspx?NosFindID=4&Suit-eID=796andwww.accesjustice.ca/Lawyers/procedure.asp

- له خپلو مراجعینو سره د مسوولیتونو په رڼا کی د تعامل روښان شرایط وټاکی (اسناد او شواهد د هغه یا هغی په اړه په اکثرو حالاتو کی غوره دی چی له دوی سره پاتی شی، د تعامل شرایط کیدای شی چی یوی مشورتی غوندی پوری تړلی وی، البته له مشورتی دفتر سره اړیکه دوامداره پاتی کیدای شی، حتمی نه ده چی له یو وکیل سره پاتی شی)؛
- د غونډو څخه یاداشت برابرول: د مدنی ټولنی سازمانونه باید یو لیک چمتو کړی چی په هغه کی تر کومی کچی چی امکان لری تفصیلی معلومات قید شی، خصوصاً چی مراجعه کوونکی (چی په دی صورت مؤکل هم ګڼل کیږی) ته مشوره ورکوله کیږی، د دغه لیک یو نسخه باید هغه ته او یو نسخه د هغه په دوسیه کی وساتل شی، خصوصاً کله چی محکمی ته دعوا کوی، دغه نسخه ضروری ده چی ورسره ضمیمه شی؛
- د اسنادو چمتو کول ترڅو «مؤکلین» تشویق شی چی ستاسو په مرسته خپله کیسه خپله ولیکی؛ که چیری یو مؤکل په لیکلو کی ستونزه ولری، کیدای شی تری پوښتنه وکړی چی په بله غونډه کی ځان سره خپل یو اعتمادی دوست راولی.

د مشورتی دفتر د فزیکی وجود سربیره، که چیری امکان ولری، هغه کولای شی چی د انترنت له لاری هم خپلو مراجعینو ته مرستی برابر کړی، البته دغسی مرستی د هر هیواد مخابراتی امکاناتو پوری تړلی دی. ۱۲ – ۵ چوکاټ د داسی مرستی یو بیلګه وړاندی کوی:

> **۱۲ – ۵ چوکاټ**
> **ستاسو حقوق: د لیبرتی لخوا د بریتانیا لپاره د معلوماتو ویب پاڼه**
>
> د لیبرتی په نامه د بریتانیا یو غیرحکومتی سازمان، NGO، په یوه ویب پاڼه کی د مختلفو حالاتو لپاره د خلکو فردی حقوق تشریح کړی دی، خصوصاً د هغو کسانو لپاره چی د بشری حقونو د سرغړونو قربانیان دی، یا عینی شاهدان او یا تر شک لاندی راغلی یا په کوم جرم تورن شوی دی. په دغی پاڼی کی د رسمی چارواکو صلاحیتونه، مکلفیتونه او په مقابل کی د وګړو فردی حقونه بیان شوی دی. له دی حقونو څخه په استفادی سره هغوی کولای شی چی د ناوړو چارچلندونو مخه ونیسی.
> http://www.yourrights.org.uk/

## د دولت مکلفیتونه

دولتونه یوه عمومی دنده لری چی باید بشری حقونه په اغیزمنه توګه خوندی وساتی.[1] دغه مکلفیتونه یا دندی عبارت دی له:

- پر بشری حقونو د تیریو مخنیوی؛
- پر بشری حقونو د تیریو د تلافی لپاره کورنی اقدامات؛[2]
- پر بشری حقونو د تیریو د ادعاو پلټنی؛
- د هغو کسانو تعقیب چی پر بشری حقونو باندی د تیریو له امله تورن شوی دی؛
- هغو کسانو ته سزا ورکول چی پر بشری حقونو باندی د تیریو له امله مجرم ګڼل شوی دی.

[1] ICCPR Article 2(1) (http://www.unhchr.ch/html.mem3/b/a_ccpr.htm)
[2] Universal Declaration of Human Rights Article 8.

دغه برخه د هغه نقش په هکله بحث کوی چې د مدنی ټولنی سازمانونه یی د فردی حقونو د خوندی ساتنې په موخه، دولتونه دی ته اړوی چې نوموړی مکلفیتونو ته د عمل جامه واغوندی او د بشری حقونو د سرغړنو قربانیانو ته د تلافی لپاره تخنیکی مرستی برابری کړی.
خو په لومړی سر کی د دغو دوو مسألو ترمنځ باید توپیر وشی:

- «پر بشری حقونو تیری»: هغه اعمال یا نیمګړتیاوی چی د دولت یا د هغه د کارکونکو لخوا ترسره کیږی؛
- «له بشری حقونو څخه ناوړه استفاده یا هغو ته نه درناوی»: هغه اعمال یا نیمګړتیاوی چی د غیرحکومتی امنیتی ځواکونو یا ملکیانو لخوا د نورو د بشری حقونو پرضد سرته رسول کیږی.

د یادونی وړ ده چې دولت یواځې پر بشری حقونو باندی د تیریو لپاره مسوولیت په غاړه لری نه دا چې له بشری حقونو څخه یو څوک ناوړه استفاده کوی یا هغو ته درناوی نه لری. خو دولت مکلفیت لری چې خپل وګړی د غیردولتی اړخونو لخوا د تیریو په مقابل کی وساتی او هغه کسان چې بشری حقونه یی پښو لاندی یا ناوړه استفاده تری کوی تر تعقیب او څارنی لاندی ونیسی.

دوهم، دا هم مهمه ده چې سړی پوه شی چې چا ته د بشری حقونو د سرغړونو «قربانی» ویل کیږی. د ملګرو ملتونو د جرایمو او د قدرت څخه د ناوړه استفادی د قربانیانو لپاره د عدالت د بنسټیزو اصولو اعلامیه (۱۹۸۵) [1] د «جرمونو قربانیان داسی تعریفوی»:

«... هغه کسان دی چې په انفرادی یا ډله ایزه توګه ورته تاوان اړول کیږی، دغه تاوان کیدای شی جسمی، روحی یا اقتصادی وی او یا هغوی له خپلو بنسټیزو انسانی حقونو څخه د هغو اعمالو یا نیمګړتیاوو په نتیجه کی بی برخی شی چې په غړو هیوادونو کی د جرایمو د جاری قوانینو او یا د قدرت څخه د جنایی استفادی د قوانینو سره په تناقض کی واقع شی»

خو د بشری حقونو څخه سرغړونی یواځی د جنایی قوانینو څخه د سرغړونو پوری محدود نه دی، بلکه د هغو لمن د مدنی قوانینو پوری هم پراخیږی. نو له دی امله هغه چاته هم د بشری حقونو د سرغړونو«قربانی» ویل کیدای شی چې د هغه ملی او نړیوال منل شوی بشری حقونه او بنسټیز آزادی د حکومت د اعمالو یا نیمګړتیاوو له امله پښو لاندی شوی وی.

که چیری د دولت د امنیتی سکتور غړی په دی تورن وی چې پر بشری حقونو باندی تیری کړی، د مدنی ټولنی سازمانونه په دی اړه مهم نقش لوبولی شی، ترڅو د د ی سرغړونو مرتکبین سزا ته ورسول شی او د بشری حقونو د سرغړونو د قربانیانو حقوق اعاده شی او تاوان ورته ورکړای شی. د مدنی ټولنی د سازمانونو نقش چې له قربانیانو سره د مرستی لپاره یی لوبوی د پورتنی اعلامیی په ۱۸ پراګراف کی په رسمیت پیژندل شوی دی چې وایی:

> «قربانیانو سره باید د حکومتی، رضاکارو، ټولنیزو او نورو بنسټیزو تأسیساتو له لاری مادی، طبی، روحی او ټولنیز مرستی وشی»

په انفرادی دوسیو کی د مرستو سره د مدنی ټولنی سازمان کولای شی چې د بشری حقونو د خوندی ساتنی او ودی لپاره نورې ارزښت لرونکی ونډی واخلی.

[1] http://www2.ohchr.org/english/Law/pdf/victims.pdf

**د بشری حقونو سرغړونکو ته قانونی سزاوی او د قربانیانو د حقونو اعاده**

په ټولو وختونو کی د امنیتی سکتور غړی چی عبارت دی له پوځ، پولیس او د زندان محافظین او کار کونکی، د خپل دندو په ترسره کولو کی د قانون په وړاندی مکلفیت لری. د عامه چارو د نورو کارکونکو په پرتله هغو ته ډیر زیات صلاحیت ورکړ شوی دی (د بیلګی په توګه د یو چا د نیولو صلاحیت)، خو د دغو صلاحیتونو ترسره کول هم د قانون تابع دی. له قوی ځخه استفاده باید تر لازمی کچی پوری محدوده وی او معقول دلیل باید وجود ولری چی ولی یو څوک له خپلی آزادی ځخه بی برخی کیږی.

د دغه اصل له مخی د امنیتی سکتور د ځواکونو غړی چی دقانون پر خلاف عمل وکړی باید د جنایی یا مدنی محکمو په وړاندی عدالت ته ځواب ورکړی. خو د مدنی محکمو د قضاء او د پوځی محکمو د قضاء ترمنځ اړیکی کړکیچنی دی او په دولتونو کی یو تربله سره توپیر لری. بشری حقونو باندی تیری هم د عادی جنایی قانون او هم د پوځی قانون خلاف عمل دی. کابو په هر دولت کی د هغه اړوندو پوځی منسوبینو باندی د هغه پوځی قانون تطبیق کیږی. په دی اړه یو تعریف داسی وایی:

« په خپل عادی او محدود مفهوم سره پر پوځ باندی د یوی جلا ټولنی په توګه خاص قانون واکمن دی. په پراخ مفهوم سره په نورو حالاتو لکه د عملیاتو په وخت کی یا د جګړی یا بیړنیو حالاتو کی په داسی حال کی چی نوموړی قانون پر پوځ واکمن دی، ځینو نور قوانین او مقررات دی چی د دښمنانو د وضعیت په پام کی نیولو سره د حکومت یا پوځی چارواکو لخوا جوړیږی.» [1]

نو په دی وجه د پوځی قانون لومړنی هدف باید د منسوبینو په منځ کی د دسپلین ساتل وی او جنایی او ملکی قانون باید تل هغه وخت ړومبیوب پیدا کړی چی کومه سرغړونه صورت ومومی. خو ځینی هیوادونه غوره ګڼی چی پوځی منسوبین د کوم جرم په صورت کی یواځی په پوځی محکمه کی محاکمه شی، نه دا چی د عادی جنایی جرایمو په محکمو کی. داسی یوه محاکمه کیدای شی چی په یو اړخیزه توګه د مجرم په ګټه تمامه شی او یا حتی ورته برائت ورکړ شی. پوځی تریبونال ښایی هغه عادلانه معیارونه چی په ملکی محکمو کی په پام کی نیول کیږی، مراعات نه کړی. د بیلګی په توګه: محاکمه ښایی علنی نه وی، قاضیان ښایی د پوځ خپله منسوبین وی او ښایی ډیر لږ امکان وجود ولری چی شاهدان وغوښتل شی او شواهد او اسناد تر پلټنی لاندی ونیول شی. سربیره پردی تصمیمونه او د محاکمی بهیر ښایی د ملکی محکمو لخوا تر کتنی او غور لاندی ونه نیول شی. دا په داسی حال کی ده، که چیری د امنیتی سکتور پرسونل د ملکی وګړو پرضد جرم مرتکب شوی وی، هغوی باید تل د ملکی جنایی محکمو لخوا تر تعقیب لاندی ونیول شی.

په ملکی محاکمو کی د سرغړونو د پیښو قربانیانو ته د تاوان ورکولو فیصلی هم کیږی، کوم چی د امنیتی سکتور لخوا شویدی او جنایی جرم نه ګڼل کیږی (په ناحقه د یو چا نیول یا په ناحق د یو چا تعقیب او څارنه). پولیس او د زندانونو محافظین ژمنه لری چی د خپلو دندو په ترسره کولو کی له احتیاط ځخه کار واخلی او هڅه باید وکړی چی قانون تر پښو لاندی نه کړی (مثلاً د ناروغی په حالت کی یو چا ځخه د درملنی مخنیوی جرم ګڼل کیږی).

په هغو هیوادونو کی چی قانون اجازه ورکوی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولی شی په ملکی دعواو کی د «محکمی د ملګری» (amicus curiae) په توګه عمل وکړی. په دی ترتیب هغوی کولای شی چی په یوی اړوندی موضوع کی محکمی ته د تخصصی همکاریو په وړاندی کولو سره مرسته وکړی. د

[1] Reid v. Covert, 354 US1, 19 n.38 (1957)

بیلګی په توګه په بریتانوی محکمو کی په ۱۹۹۸ او ۱۹۹۹ کلونو کی د چیلی د پخوانی دیکتاتور جنرال پینوچیت چیلی ته د تسلیمولو لپاره ترڅو د بشری حقونو د سرغړونو په خاطر محاکمه شی، د بښنی نړیوال سازمان، Amnesty International، «د محکمی د ملګری» په توګه عمل وکړ. په هغو دوسیو یا قضیو کی چی د «محکمی د ملګری» په توګه امکانات نه شته یامناسبت نه لری، د مدنی ټولنی استازی چی له کافی تخصص او تجربو څخه برخمن دی کولای شی د محاکمی له یو اړخ سره د یو شاهد متخصص په توګه عمل وکړی.

ډیری وخت لیدل شوی، کله چی د بشری حقونو د سرغړونو یوه قضیه جنایی یا ملکی محکمی ته وړاندی شی، که چیری په کافی اندازی شواهد او اسناد وړاندی شی چی قضاء پری قانع شی، تورن باندی د سزا حکم جاری کیږی او یا د پیښی قربانی ته د تاوان ورکولو فیصله کیږی. په همدی وجی مهمه ده چی په جنایی قضیو کی هغه څوک چی د پلټنی لپاره ګمارل کیږی هڅه وکړی چی ژر تر ژره لازم شواهد او اسناد راټول کړی او د محکمی په اختیار کی پریږدی. د دی لپاره چی د یو عادلانه محکمی لپاره ژمنه وشی، د مدنی ټولنی سازمانونه هم کولای شی چی د خپلو معلوماتو او قانونی تخصص او د بشری حقونو د اسنادو په وړاندی کولو، محکمی سره مرسته وکړی.

## د بشری حقونود تیریو مستند کول

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د بشری حقونو د تیریو د ثبتولو سره د عدالت په وړاندی د مرتکبینو د درولو لپاره مرسته وکړی. سندونه د هرډول بشری حقونو د تیریو شهادت ورکوی او د دی لامل ګرځی چی مرتکبین وپیژندل شی. د دی کار خصوصیت تر زیاتی کچی ځانګړو شرایطو پوری تړلی دی. په هغو هیوادونو یا سیمو کی چی د بشری حقونو د تیریو د پلټنی لپاره سیاسی اراده وجود نه لری یا ډیری لږ منابع د دی کار لپاره شته دی، هلته د تیریو مستند کول په ځانګړی توګه اهمیت لری. په داسی حال کی چی د بشری حقونو د تیریو د پلټنی لپاره دولت هیڅکله له خپل مسوولیت څخه خلاصیدای نشی، د مدنی ټولنی د سازمان فعالیت د دی سبب ګرځی چی پولیس یا قضائی ارګان دی ته وهڅول شی ترڅو په دی ساحه کی په پلټنو لاس پوری کړی. د دی لپاره چی اسناد بالاخره د یوی قانونی محاکمی لپاره لاره هواروی، د اسنادو جوړول باید په منظم ډول د مسلکی او روزل شویو کارکونکو لخوا صورت ومومی.

د مستند کولو او څارنی میتودلوجی باندی په اووم فصل کی مفصل بحث وشو. خو د بشری حقونو د ځینو خاصو تیریو او سرغړونو د سند کولو یوه لاربښوونه په ۱۲ – ۶ چوکاټ کی بیان شوی ده.

**۱۲ـ ۶ چوکاټ**
**د بشری حقونو د تیریو مستند کول**

- دا مسأله معلومه کړی چی آیا مستند کول د بشری حقونو ځینو خاصو سرغړونو ته ځیر ده (مثلاً ربړونه، د جنسیت پر بنسټ ولاړ سرغړونه او داسی نور) یا عمومی ده.
- دا مسأله هم معلومه کړی چی آیا مستند کول د ژوبلیدو وړ ځینو خاصو ډلو ته ځیر ده (لکه بومی خلک، د جنسیت پر بنسټ ولاړ د تیرو قربانیان).
- د هغه پرسونل چی د مستند کولو دنده په غاړه اخلی د ښوونی او روزنی اړتیاوی معلومی کړی (د بیلګی په توګه، په دی هکله پوهه چی د بشری حقونو سرغړونی څه ته وایی او کوم حقایق باید تثبیت کړای شی، د مرکی کولو او لیکلو مهارت، د ثبت د ساتلو لاری چاری).

- په مستند کولو کې رښتینوالی، اعتبار، نا پلویتوب او حساس توب خوندی وساتی.
- د ثبت شویو مسائلو د خوندی ساتنې لپاره یو سیستم جوړ کړی او د تیریو درجه بندی وکړی.
- د ثبت د خوندی ساتنې ډاډ ورکړی.
- د کنترول یو فهرست جوړ کړی ترڅو د بشری حقونو د تیریو ادعاوی تشخیص کړی.
- د ځینو خاصو ادعاو د معلومولو لپاره هم د کنترول یو فهرست جوړ کړی، لکه ربړول، غیرقانونی وژل، د پولیسو لخوا له قوی څخه په کار اخیستلو کې زیاتی.
- د قربانیانو سره د مرکو لپاره معیاری پوښتنې جوړی کړی (د ملګرو ملتونو د OHCHR پیشنهادی موډل په دی اړه په دغی پاڼی کی موندلای شی: http://www1.umn.edu/monitoring/chapter20-appendix1.html
- د پیښو معیاری ریوټ ورکولو یو شکل ته وده ورکړی (په دی اړه پیشنهادی موډل په دغی پاڼی کی موندلای شی: http://www1.umn.edu/monitoring/chapter20-appendix4.html
- د هغه امنیتی خطر ارزونی وکړی چې ګمان کوی د سند کولو په وخت کی بنایی رامنځ ته شی – هم د پرسونل لپاره چې دغه دنده په غاړه اخلی او هم د هغه چا لپاره چې ورسره مرکه کیږی.
- د بشری حقونو له ملی او نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو سره اړیکی ټینګی کړی.
- د بشری حقونو له ملی او نړیوالو تأسیساتو سره اړیکی ټینګی کړی.

سربیره پر دی، د مدنی ټولنی سازمانونو ته چی د بشری حقونو د سرغړونو او تیریو په ریوټ ورکولو کی ونډه لری یو لړ منابع په اختیار کی ایښودلی شویدی. د دغو منابعو ځینی یی په ۱۲ – ۷ چوکاټ کی فهرست شویدی .

**۱۲ – ۷ چوکاټ**
**د بشری حقونو د سرغړونو او تیرو په هکله د مستند کولو لپاره ځینی غوره کړای شوی منابع**

**د بشری حقونو د څارنی په هکله د OHCHR رساله** http://www.unhchr.ch/pdf/train7_a.pdf

**په افریقا کی د بشری حقونو څارنه او ریوټ ورکونه: د کلیو او بانډو په سطح د فعالیتونو د لارښونی لپاره کتاب** http://www.protectionline.org/IMG/pdf/spa_handbook.pdf(د بېننې نړیوال سازمان)

**پوهنتون (Minnesota د بشری حقونو د څارنی په هکله د ښوونی او روزنی رساله (د** http://www1.unm.edu/humanrights/monitoring/

**د بشری حقونو د سرغړونی په توګه د وژنو د ریوټ ورکولو لاسی کتاب** http://www.essex.ac.uk/reportingskillingshandbook/

**د ربړونی پرضد د ملګرو ملتونو تر منشور لاندی د دولت د مکلفیتونو په هکله لاسی کتاب (د ربړونو د مخنیوی لپاره انجمن)** http://www.apt.ch/comonent/option.com_docman/task,cat_view/gid.92/Itemid,9999999/lang.en/

**د ربړونو او نورو بیرحمیو، غیرانسانی یا سپکاوی چارچلند یا سزا په هکله د اغیزمنی پلټنی او ریوټ ورکونی په اړه رساله (د استانبول پروتوکول)**

http://physiciansforhumanrights.org/library/documents/reports/istanbul-protocil.pdf

د ربړونې په هکله د رپوټ ورکولو لاسی کتاب http://www.essex.ac.uk/torturehandbook/

د ربړولو طبی تحقیقات او استناد: د روغتیایی چارو کار کونکو لپاره یو لاسی کتاب
http://www.fco.uk/KFile/MidtHb.pdf

د بندیخانو او توقیفونو څخه څارنه: د غیرحکومتی سازمانونو لپاره یوه عملی لاربښوونه (د ربړولو د مخنیوی لپاره انجمن) ( په انګلیسی، فارسی، مغلی او روسی ژبو موجود دی)
http://www.apt.ch/component/option,com_docman/task,cat_view/gid,85/Itemid,59/Lang,en

بشپړ امنیت، پاینټ لرونکی سوله: د حقوقو د دفاع او عمل لپاره یوه لاربښوونه (نړیوال بدلون)،
http://www.international-alert.org/our_work/themes/gender_5.php

د پولیسی چارو څخه پوهاوی: د بشری حقونو د فعالینو لپاره یو منبع (د ببښنی نړیوال سازمان)
http://www.amnesty.nl/bibliotheek_vervolg/police_and_human-rights#artikel1338

د محاکمو څارنه:د پرکتیکرانو یا ستاژیرانو لپاره یوه رساله (OSCE)
http://www.osce.org/publications/odihr/2008/04/30849_1119_en.pdf

د عادلانه محاکمو رساله (د ببښنی نړیوال سازمان)
http://www.org/en/liberty/asset/POL30/002/1998/en/domPOL300021998en.pdf

د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په هکله د OECD DAC لاسی کتاب: د امنیت او عدالت سره مرسته (OECD)
https://www.oecd.org/dataoecd/43/25/38406485.pdf

ASP Briefung Note 2 - د SPT د لیدنی کتنی په چمتووالی کی د مدنی تولنی تناوبی کار
http://www.apt.ch/content/view/46/86/lang,en/APT_SPT_BN2en.pdf

د مارشونو د مقرراتو په هکله لاسی کتاب (ILGA)
http:/www.ilga-europa.org/
.

د بشری حقونو د سرغړونو د مستند کولو یو بل مهم اړخ چی د محکمی په وړاندی د شواهدو او اسنادو په توګه تری کار اخیستل کیدای شی او د محرمیت اغیزی تشریح کوی، په ۱۲ – ۸ چوکاټ کی بیان شوی دی.

**۱۲ – ۸ چوکاټ**
**د یادداشتونو یا ثبت کړای شویو سندونو بربندول**

دغه تصوری سناریو د هغو ننګونو یو لنډیز دی چی د بشری حقونو د سرغړونو د مستند کولو د محرمیت سره رامنځ ته کیږی او هغه ستونزی بیانوی چی له دغو سندونو څخه وروسته د تحقیقاتو په وخت پیدا کیږی.

**سناریو:**

د مدنی ټولنی یو سازمان د بشری حقونو د سرغړونو چی ویل کیږی، د یوی وسلوالی شخړی په وخت کی د امنیتی ځواکونو لخوا سرته رسیدلی دی، لیکی او مستند کوی. په دی سندونو کی د پیښو د قربانیانو نومونه، د زیږیدو نیټی، د هستوګنی پتی او د هغوی د سترګو لیدل حال ثبت شوی دی. د دغو اسنادو او شواهدو له مخی د مدنی ټولنی سازمان د مستندو سرغړونو یو رپوټ لیکی. په دی رپوټ کی د پیښی د قربانیانو یا شاهدانو نومونه نه لیکل کیږی. خو په دی شرط چی د محرمیت خوندی ساتنی ته درناوی وشی، د مدنی ټولنی سازمان کولای شی چی له قربانیانو او شاهدانو سره د مرکو اصلی یاداشتونه له اړوندو چارواکو سره شریکی کړی.

په نتیجه کی څارنوالان خپله په تحقیقاتو پیل کوی او له ځینو قربانیانو او شاهدانو سره غږیږی او له هغو څخه نوی بیانونه ترلاسه کوی. تورن مرتکبین پیژندل کیږی او د هغوی پرضد جنایی دعوا محکمی ته وړاندی کیږی.د دی لپاره چی د خپلی دفاعیی لپاره تیاری ونیسی مدافع وکیلان له څارنوال څخه غوښتنه کوی چی هغه اصلی بیانونه بربنډ کړی چی د مدنی ټولنی د سازمان له خوا له قربانیانو او شاهدانو څخه لاس ته راغلی دی. په دفاعیه کی استدلال کیږی چی له نوموړو بیانونو سره د تورنو په هکله رڼا اچوله کیږی او یا لږتر لږه د پیښو په هکله د قربانیانو او عینی شاهدانو لومړی درجه معلومات وړاندی کیږی. د دی لپاره چی محرمیت خوندی وساتل شی، څارنوالی دا ردوی چی د مدنی ټولنی لخوا لاس ته راغلی بیانونه بربنډ کړای شی. په دفاعیه کی محکمی ته وړاندیز کیږی چی له څارنوال څخه وغواړی دغه بیانونه بربنډ کړی ترڅو په محاکمه کی دواړه اړخونه (مدعی او مدعی علیه) له مساوی امکاناتو څخه برخمن وی، پرته له دی یو عادلانه محاکمه خوندی پاتی کیدای نشی. محکمه موافقه کوی او څارنوالی ته امر کوی چی دغه بیانونه بربنډ کړی.

که څه هم څارنوالی له قربانیانو او شاهدانو څخه بیانونه ترلاسه کړی دی، خو د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا لاس ته راغلی بیانونه د قربانیانو او شاهدانو عمومی اعتبار اغیزمن کوی او د محکمی د حکم معنی دا ده چی هغوی نه شی کولای قربانیان او شاهدان راوغواړی ترڅو د خپلو لومړنیو بیانونو له بربنډولو پرته د محکمی په وړاندی شهادتونه ورکړی. څارنوالی تصمیم نیسی د محرمیت د خوندی ساتنی د ړومبیتوب لپاره له دغسی یو دعوا څخه لاس واخلی. په نتیجه کی تورن کسان برائت پی پیدا کوی.

دغه راز هغه معلومات چی په رسمی توګه د څارنوالی له چارواکو سره شریک کړای شوی نه دی ، خو معلومه شوی چی دغسی معلومات د یوی مدنی ټولنی د سازمان د یوی ډلی سره موجود دی، ښایی د تورنو کسانو مدافع وکیلان له محکمی وغواړی چی هغه بربنډ کړی. د قربانیانو او د شاهدانو د ساتنی لپاره ځینی خاص قوانین باید وی تر څو د دغو اسنادو او بیانونو د بربنډولوجریان او منابع تنظیم کړی (په ۱۲ – ۹ چوکاټ کی د بوزنیا – هرزګووینا قضیه مطالعه کړی).

**شاهدان**

په هر قضیه کی شاهد یو ډیر مهم او حیاتی اهمیت لری. هغوی باید تر کومه ځایه چی امکان ولری ژر تر ژره وپیژندل شی او ځای یی معلوم شی. دغه مسأله په ځینو خاص ډول قضیو کی خورا اهمیت لری، د بیلګی په توګه د رهبرونی په قضیه کی او د جګړی د مجرمینو د تعقیب په قضیو کی. په داسی حالاتو کی شاهدان کیدای شی چی د ژوبلیدو وړ ډلو پوری اړه ولری او د هغوی مصونیت ته ګواښ

موجود وي. په ډیرو حالاتو کې د قانون له مخې شاهد مجبور دی چې د محکمې په وړاندې شهادت ورکړي او محکمه هغه مجبوروي چې دا کار وکړي. خو کیدای شي چې دا له یو شاهد سره بې عدالتي وي چې شهادت ورکولو ته مجبوره شي، نو په دې وجه هغه باید ډاډ پیدا کړي چې د شهادت ورکولو سره د هغه ژوند ته خطر موجود نه دی او نه هم هغه ته ګواښ کیږي. د شاهدانو د خوندي ساتنې اهمیت په یو شمیر نړیوالو سندونو او وثیقو کې روښانه شوی دی. د جنایي قانون په چوکاټ او پروسیجر کې د یوې پیښې د یو قرباني د موقف په هکله د اروپا شورا سپارښتنه (85) R وایي:[1]

«په مناسب، قانوني او عملي اقدام باید لاس پورې شي ترڅو شاهدان او د عدالت همکاران وکړای شي پرته له دې چې له کوم ګواښ کوونکې عمل سره مخامخ شي، د محکمې په وړاندې شاهدي ورکړي.»

په سازمان شویو جنایي قضیو کې له ګواښونو څخه د شاهدانو او قربانیانو د محافظت لپاره اقدامات د اروپایي شورا په ۹۷ سپارښتنه (R 97) په لاندې ډول بیان شوي دي:[2]

- د یو چا لخوا د ثبت یا ریکارډ کولو معنی هغه بیانونه دي چې د محاکمې څخه مخکې تحقیق په وخت د شاهدانو لخوا ورکړل شوي دي؛
- د شاهدانو لخوا د محاکمې څخه مخکې د ورکړل شویو بیانونو استفاده د محاکمې څخه مخکې پړاو کې؛
- د محاکمې د جریان په ورستي ممکنه پړاو یا د شاهدانو د هویت بربنډول یا د خپلې خوښې تفصیلاتو بربنډول؛
- د محاکمې د ټولو یا د یوې برخې څخه د ډله ایزو رسنیو یا عامو وګړو بیرون ساتل؛
- په ځینې خاصو حالاتو کې د شاهد د هویت مجهول ساتل.

**۱۲ ــ ۹ چوکاټ**

**د ګواښ سره د مخامخ شاهدانو د ساتنې او د ژوبلیدو وړ شاهدانو په هکله د بوزنیا ــ هرزګووینا د دولت قانون**

په ۱۹۹۵ کال کې د بوزنیا او هرزګووینا د جګړې له پای ته رسیدو سره د جنایي محاکمو قضیو او د یوګوسلاویا لپاره د نړیوال جنایي ټریبونال د جګړې د جرایمو لپاره محاکمو د قضایي ارګان تأسیساتي ظرفیتونو ته یوه جدي کتنه او د هغه یو قانون چوکاټ د جوړولو لپاره یې لمسونه وکړه چې د نوموړو قضیو سره د یو اغیزمن تعامل لپاره ضروري دی. د شاهدانو او د پیښو د قربانیانو محافظت د جګړې د جرایمو په تعقیب کې ډیر ژر د پام وړ موضوع وګرځیده. د دې لپاره د پیښو د قربانیانو او شاهدانو ته د یو اغیزمن محافظت لپاره د بوزنیا - هرزیګووینا دولت په ۲۰۰۶ کال یو قانون په تصویب ورساوه: دغه قانون حکم کوي چې:[3]

- د شاهدانو لپاره محافظتي اقدامات که هغوی یې غوښتنه وکړي؛
- روحي او ټولنیزو مرستو ته لاس رسي او د استماعیه غونډو څخه مخکې، د هغو په جریان کې او وروسته له هغو مسلکي مرستې؛

[1] http://www.legislationline.org/legislation.php?tid=99&lid=4845
[2] http://www.coe.int/t/e/legal_affairs/legal_cooperation/combating_economic_crime_crime_standard_settings/Rec_1997_13pdf
[3] http://www.sudbih.gov.ba/files/docs/zakoni/en/BH_LAW-ON_PROTECTION_OF_WITNISSES_Conslisdated_text-pdf

- د هغو شاهدانو څخه چې تر ګواښ لاندې دي او يا هغه شاهدان چې د ژوبلېدو وړ دي په بېړه شاهدي اخيستل؛

- د پوښتنو په وخت کې د شاهدانو څخه ډېره ښه پالنه ترڅو هغوی له ځورولو او روحي فشارونو څخه وژغورل شي. له شاهد څخه د پوښتنې په وخت کې له انځوريز(ويډيو) يا غږيز (اوډيو) څخه کار اخيستل او دتورن شخص د مدافع وکيل په استازيوب قاضي مستقيما له هغه څخه پوښتنه کول او يا د تورن شخص په جسمي غيابت کې تری پوښتنې کول (د دې لپاره کيدای شي چې د ويډويي يا اوډيويي وسايلو له لارې مستقيماً د محکمې جريان ته مخابره شي او يا ثبت تری واخيستل شي او محکمې ته وړاندې شي)؛
- د تورنو او د دعوا د صورت حال په اړه دوسيې او سندونو ته د تورن شخص د مدافع وکيل او د مدعی عليه په لاس رسي کې محدوديت راوستل ترڅو د ځينې سندونو د بربنډونو مخنيوی وشي هغه څه چې ښايي د شاهدانو د هويت د بربنډولو لامل وګرځي اود محاکمې څخه ورسته دوره کې چې تر ۳۰ کلونو پورې دوام کوي د محرميت ژمنې تاوان ورسوي.

## د پيښې له قربانيانو سره مرسته

د پيښو له قربانيانو څخه اخلاقي او روحي ملاتړ د مدني ټولنې د سازمانونو تر ټولو مهم نقش ګڼل کيږي. دغه نقش د جرايمو او سرغړونو د قربانيانو لپاره دملګرو ملتونو د عدالت د بنسټيزو اصولو د اعلاميې په ۱۴ پراګراف کې بيان شوی دی:

«قربانيانو سره بايد د حکومتي، غيرحکومتي، محلي او رضاکارو مؤسسو له لارې مادي، معنوي، روغتيايي، روحي او ټولنيزې مرستې وشي.»

له قربانيانو سره د مرستې يوه ښه نمونه په بنګلديش کې د «د روحي – رواني قربانيانو لپاره د بنګلديش د پالنې مرکز» په خدماتو کې موندلای شو چې يوه برخه په ۱۲ – ۱۰ چوکاټ کې بيان شوې ده.

**۱۲ – ۱۰ چوکاټ**
**د روحي – رواني قربانيانو لپاره د بنګلديش د پالنې مرکز (BRCT)**

**کور کې مشورې**

مستقيمې سلامشورې د ربړونو د قربانيانو او د هغوی په خپلوانو او ګاونډيانو باندې مستقيمې اغيزې لري. د BRCT ټولنيز کارکونکي، مشاورين يا نور مسلکي کسان د پيښو د قربانيانو سره په خپلو کورونو کې ليدنې کتنې او پالنه کوي. د BRCT کارکونکي حتی ليرې پرتو سيمو ته ځي او له قربانيانو سره څو شپې او ورځې تيروي، له هغوی سره، د هغوی د کورنيو غړو او ملګرو سره، ګاونډيانو سره او يا نورو اړوندو کسانو سره تماس نيسي او خبرې کوي. هغوی سره سلامشورې کوي اود ژوند په ټولو ناخوالو، خصوصاً هغه څه چې قربانيانو د ربړونو او يا نورو زورزياتيو او سرغړونو په وخت کې ليدلي او تجربه کړي، غږيږي او خبرې کوي. له دې لارې هغوی (د BRCT فني کارکونکي) څخه غواړي چې د قربانيانو ستونزو ته عملي لارې چارې پيدا کړي او هڅه کوي چې اړوند خلک د قربانيانو شکايتونو ته غوږ ونيسي.

اړیکی ټینګی کړی. په خپل کور کی له قربانیانو سره د BRCT د کارکونکو د لیدنی کتنی هدف دا دی چی د هغوی د ژوند په ټولو شرایطو باندی پوه شی. له دی لاری فنی کار کونکی د قربانیانو د روحی

او روانی درملنی لپاره معقولی لاری چاری لټوی. BRCT دغه رازهڅه کوی چی په خپلو کورنیو، چاپیریال او ټولنه کی د قربانیانو د بیرته ادغام لپاره لاری چاری پیدا کړی.

په عمومی توګه په کورونو کی له قربانیانو سره د لیدنی کتنی هدف په لاندی ډول دی:

- د قربانیانو د روغتیا د بیرته اعادی کولو په موخه هغوی ته مشوری ورکولی کیږی، درملنه ایز خدمات وړاندی کیږی ترڅو د هغوی د روانی حالت د لا زیات خراپیدو مخه ونیوله شی؛
- د ربړونو د قربانیانو روحی – اجتماعی او اجتماعی – اقتصادی شکایتونو د مناسب حل موندل؛
- د اقتصادی رغاونی لپاره د قربانیانو د قضیو په استفاده د یو خیرنی په لاره اچول؛
- په ډله ایزه توګه د سلامشورو ورکول او د کورنی درملنه؛
- د راتلونکی روحی روانی فشارونو د مخنیوی لاری چاری؛
- د هغو روغتیایی او بیا رغاونه ایز خدماتو چی مخکی له دی د BRCT لخوا ترسره رسیدلی دی، څارل؛
- BRCT او د هغه له خدماتو سره د قربانیانو پیژندګلوی ترڅو هغوی جرأت پیدا کړی د BRCT له خدماتو څخه استفاده وکړی؛
- په کورونو کی د لیدنی کتنی د فعالیتونو له لاری د عمومی پوهاوی او خبرتیا د سطحی لوړول.

سرچینه: http://www.brct.org/index.php

## قانونی اقدامات: عمومی ننګونی او خنډونه

که څه هم قانونی اقدامات ښایی موجود وی ترڅو مرتکبین عدالت ته وړاندی شی او د قربانیانو حقوق اعاده کړای شی، خو په دی لاره کی ځینی خنډونه هم ښایی موجود وی. په برخه کی ځینی مثالونه په لاندی ډول ښودول شوی دی:

## د امنیتی سکتور د پرسونل پر ضد د الزام لګولو په وړاندی خنډونه

د جګړی په وخت کی یا نورو عامه بیړنیو حالاتو کی چی د ولس ژوند له ګواښ سره مخامخ وی، دولتونه ښایی د بشری حقوقو د خوندی ساتنی په وړاندی په خپلو مکلفیتونو کی نیمګړتیا ښکاره کړی او یا قصدا د هغو د پوره کولو څخه تنازل وکړی. د بیلګی په توګه د ملکی او سیاسی حقوقو په هکله نړیوال منشور او د بشری حقوقو په هکله د اروپا منشور دواړه دولتونو ته اجازه ورکوی چی د ځینو بشری حقوقو په مکلفیتونو کی تنازل وکړی.[1]

---

[1] د زیات معلومات لپاره د دی کتاب څلورلسم فصل ته مراجعه وکړی، په دی فصل کی دبیړنیو حالاتو د فعالیت څرنګوالی بیان شوی دی.

خو دغه دواړه وثیقې د مکلفیتونو د تنازل حد او حدود تعین کړی دی، هیڅ یوه یې هم د ژوند کولو په بشري حق کې تنازل نه مني (پرته هغه یو ځوک چې د ECHR (د بشري حقونو لپاره د اروپا محکمه) د ژمني له مخې د جګړې د قانوني عملیاتو په نتیجه کې وژل کیږي)، دغه راز د فکر، وجدان او دین د آزادي حقونو او د ربړونو او د مریتوب د منع حقونو کې تنازل ته اجازه نه ده شوې. ځینې دولتونو ښایي له دې ورآندې ګام واخلي او د خپلو امنیتي ځواکونو او چارواکو لپاره د جګړې یا بیړنیو حالاتو کې د هر ډول سرغړونو او تیریو د ارتکاب په وړاندې د مصونیت ورکولو په لټه کې شي. بیل مثال یې، د ملي سولې او روغې جوړې پروسه ده چې له پوځ څخه ملکي حکومت ته د سیاسي قدرت د لیږدولو سره هغو امینتي او پوځي چارواکي ته چې له بشري حقونو څخه سرغړونې کړې، مصونیت ورکول کیږي ترڅو د هغو پر خلاف له قانوني اقداماتو او دعوا څخه مخ واړول شي. دغه راز ځینې دولتونه ښایي د بشري حقونو د محدویتونوپه اړه ځینې قوانین یا مقررات ولري چې وروسته له یوې مودې د ځینو جرمونو (لکه ربړول) پر ضد د قانوني اقدام مخه نیسي. ځینې نور دولتونه ښایي خپلو وسلوالو منسوبینو ته په جنایي تورنو او دعواوو کې د «لوړ پوړو صلاحیت لرونکو اوامرو دفاع ته اجازه ورکړي.

## کمزوری قضایي سیستم

په خاصه توګه د جګړې او وسلوالو شخړو څخه په نوو ژغورل شویو ټولنو یا انتقالي دولتونو کې ښایي ډیر سخت وي چې د امنیتي سکتور د منسوبینو پرضد دعوا وشي او عدالت ته وړاندې شي. قاضیان ښایي ونه شي کړای چې له خپل ځان څخه خپلواکمتوب یا ناپلویتوب څرګنده کړي او یا ښایي تر فشار لاندې ونیول شي چې ترڅو حساسي قضیو باندې له غور څخه ډډه وکړي. محکمې ښایي له منابعو او امکاناتو څخه بې برخې وي او د محاکمو په دایرولو کې ډیر ځنډ کړي. پولیس او څارنوالان ښایي لازم امکانات ونه لري چې په تحقیقاتو او څارنو لاس پورې کړي اوښایي د سیاسي ګواښونو له امله خپله دنده په سمه توګه اجراء نه شي کړای. له بلې خوا ، داسې خطر هم شته چې پولیس د خپلو همسلکو کسانو په تعقیب لاس پورې کړي او یا ښایي له دې وجې له څارنې او تعقیب څخه لاس واخلي چې تورن شخص د هغوی قومې، نژادي یا ژبني ډلې پورې تعلق لري. دغسې حالتونه په خاصه توګه هغو هیوادونو کې موندل کیږي چې د جګړې مجرمینو پسې په کورني سطح تعقیب روان دی. په داسې شرایطوکې ښایي د ښینو قربانیان مدافع وکیلانو ته لاس رسی ونه لري ترڅو د هغوی له حقونو څخه دفاع وکړي. له بلې خوا ښایي کافي شمیر وکیلان وجود ونه ولري، هغه چې موجود دي هغوی ښایي له کافي تجربې او مسلکي زده کړو څخه برخمن نه وي. دغه راز د ښینو قربانیان ښایي مالي امکانات ونه لري چې خپله قضیه عدالت ته وړاندې کړي.

## نړیوالو محکمو ته د عرض کولو حق

د بشري حقونو په هکله د بین الامریکایي نومي کمیسیون او د بشري حقونو لپاره د اروپا محکمې ته د عرض پر بحث کولای شې د دې کتاب په ۱۳ فصل کې مطالعه کړې.

د بشري حقونو په هکله د اروپا محکمې ته عرض کولو سره دریم اړخ هم اجازه پیدا کوي چې اړوند قضیه کې مداخله وکړي[1]، له دا ډول یو امکان څخه غیرحکومتي سازمانونه کولای شي محکمې سره

---

[1] ECHR Article 15(1), http://echr.coe.int/ECHR/EN/HEADER/Basic+Text/The+European+on+human+Rights-and+its+protocols

په اړونده قضیه کې د اسنادو برابرولو له لارې مرسته وکړي او یا لږ ترلږه د ﭙیښنو دقربانیانو په ﭙلوی په محکمه کې حضور ﭙیدا کړي.[1]

## د بشري حقونو د ملي تأسیساتو نقش

د بشري حقونو ملي تأسیسات یا National Human Rights Institutions (NHRIs) چې په ډیرو هیوادونو کې شته دي، د بشري حقونو د سرغړونو د ﭙیښنو د تحقیق دنده په غاړه لري او د هغو د حل لپاره سپارښتنې کوي. NHRIs په مختلفو هیوادونو کې په مختلفو نومونو یادیږي چې ځینې ورته هم Ombudsman یا Ombudsperson یا د شکایتونو د اوریدو اداره هم وایي. په ګرجستان کې هغې ته د عامه دفاع دفتر او په ستونیا کې د عدالت د چارواکي دفتر نوم ورکړ شوی، یا په ځینو کې بنایي د بشري حقونو د کمیسیون په نامه کار وکړي. د NHRIs صلاحیتونه له هیواد څخه تربله توﭙیر لري. په ځینو هیوادونو کې دغه اداره یا دفتر کولای شي چې په خپل صلاحیت په تحقیقاتو لاس ﭙورې کړي، په داسې حال کې چې په ځینو نورو کې تحقیقات باید د یو چا د شکایت پر بنسټ په لاره واچول شي. په ځینو کې بنایي د هغوی په صلاحیت کې دا هم شامل وي چې د وسلوال ﭙوځ، ﭙولیسو او د زندانونو د محافظینو لخوا د بشري حقونو سرغړونې تحقیق وکړي. په نورو هیوادونو کې دغه ډول صلاحیت بنایي نورو ادارو ته ورکړ شوی وي.

په هغو هیوادونو کې چې د بشري حقونو ملي تأسیسات دغسې یو صلاحیت ولري، هغوی کولای شي چې د امنیتي سکتور د چارچلندونو په کنترول کې مهم نقش ولوبوي. په داسې حال کې چې د یوې ستونزې د حل لپاره د نوموړو تأسیساتو کارونه د ستاینې وړ دي، خو د هغوی نقش د هغه څه لپاره تکمیلي بڼه لري چې محکمو ته ورکړ شوی. که چیرې یوه موضوع لا مخکې د قانوني اقداماتو تر څارنې لاندې نیوله شوې وي، NHIRs یواځې هغه وخت مداخله کولای شي چې موضوع د محکمې لخوا فیصله شي. سره له دې هم په هره قضیه کې چې NHIRs د شکایتونو پلټنه کوي او د بشري حقونو سرغړونه تشخیص کړي، هغوی کولای شي چې اړوند ادارو او ارګانونو ته چې د حل او فصل لپاره دندې لري، سپارښتنې وکړي. NHIRs د محکمو پر خلاف داسې صلاحیت نه لري چې خپله پریکړه یا فیصله په زور پلې کړي: هغوی دې ﭙورې تړلې دي چې دولتي ارګانونه د هغوی نقش ته درناوی ولري، بشري حقونه مراعات کړي او په خپلو قوانینو کې د تعدیلاتو لپاره چمتو اوسي. په هغو هیوادونو کې چیرته چې NHIRs له پیاوړتیا څخه برخه من دي، چیرته چې د بشري حقونو فرهنګ وجود لري او د عامه حساب ورکولو ذهنیت شته دي، هلته بنایي د NHIRs هڅې زیاتې بریالۍ وي.

د NHIRs لپاره سپارښتنې چې څرنګه کولای شي خپل نقش د امنیتي سکتور په څارنو کې پیاوړی کړي په لاندې ډول دي (۱۲ – ۱۱ چوکاټ).

> **۱۲ – ۱۱ چوکاټ**
> **پر امنیتي سکتورباندې په څارنه کې سمونوالی: د شکایتونو د اوریدو تأسیساتو ته سپارښتنې**
>
> - هڅه وکړئ ملي قانون چې دشکایتونو د اوریدو اداره یا تأسیسات جوړوي هغو ته لازم صلاحیتونه ورکړي ترڅو هغوی وکړای شي د نړیوالو نورمونو پر اساس کار وکړي. چیرته چې لازمه ده په قانون کې د تعدیلاتو لپاره هڅه وکړئ تر څو کومه قانوني نیمګړتیا چې د

[1] ECHR Art. 36(2), ECHR Rule of Court, Rule 44.

شکایتونو د اوریدو د ادارو په صلاحیتونو کی موجوده ده، ډکه شي، خصوصاً کله چې هغوی د امنیتی سکتور باندی د څارنی په برخه کی کار کوی.

- په امنیتی تأسیساتو کی د لاس رسی وړ میکانیزم جوړ کړی ترڅو د هغو کسانو لپاره چې د خپل خوښی پرخلاف بندیان شوی دی شکایت وړاندی کولو لپاره آسانتیاوی موجودی وی.

- ستراتیژیکی پلان جوړونی د یوی برخی په توګه یو لړ رومبیتوبونو ته ودی ورکړی ترڅو د
- هغو له مخی منابع او امکانات په لومړی سر کی د هغو سترو بشری حقونو د سرغړونو تحقیقاتو ته تخصیص کړای شی چې د امنیتی سکتور د تأسیساتو لخوا ترسره شوی دی. هغو موضوعاتو ته چې ژوند، روغتیا او مصونیت یی اغیزمن کړی په تحقیقاتو کی د ټولو په سر کی ځای ورکړی.
- د نقض شویو بشری حقونو د اعادی لپاره د امنیتی سکتور ادارو ته سپارښتنی وکړی، ترکومه ځایه چې ممکن وی، او هغه تلافی کړی.
- د شکایتونو د اوریدو د تأسیساتو یا اداری د کلنی رپوټ یوه برخه د امنیتی سکتور په اړه د بشری حقونو د وضعیت او په امنیتی سکتور کی د شکایتونو د اوریدو د تأسیساتو لوړوالی تشریح او څیړنی ته ځانګړی کړی.
- د امنیتی سکتور لپاره پیشنهادی قانون تر ارزونی لاندی ونیسی ترڅو ډاډ پیدا کړی چې هغه له ملی قانون سره چې د شکایتونو د اوریدو تأسیسات جوړوی، همغږی لری او د بشری حقونو د خوندی ساتنی او ودی لپاره نړیوال مقررات مراعاتوی. مخکی له دی چې د قانون مسوده معرفی شی حکومت ته سپارښتنی وکړی او کله چې دا مسوده پارلمان ته وړاندی شی، هغه ته سپارستنه وکړی ترڅو دبشری حقونو په مراعات او د شکایتونو د اوریدو د تأسیساتو په صلاحیتونو کی لازم اصلاحات راوستل شی.
- د شکایتونو د اوریدو د اداری یا تأسیساتو د استازو د نقش، وظیفو او صلاحیتونو په هکله د امنیتی سکتور د منسوبینو لپاره د زده کړی یو پروګرام جوړ کړی.
- په امنیتی سکتور کی د شکایتونو د اوریدو د تأسیساتو د نقش په هکله د معلوماتو او غوره چارچلندونو د تبادلی لپاره د دوه اړخیزو، سیمه ایزو او نړیوالو اړیکو پر بنسټ په نورو هیوادونو کی د شکایتونو د ا وریدو تأسیساتو سره همکاری وکړی.

سرچینه: UNDP/DCAF د امنیت په برخه کی څارنه او تحقیق، ۲۰۰۷
http://www.dcaf.ch/publications/kms/details.cfm?Ing=en&id=27755&nav1=4

## د پولیسود شکایتونو ارګانونه

ځینو هیوادونو خینی ارګانونه ګمارلی دی چې د امنیتی سکتور پرضد شکایتونو تحقیق وکړی. د دغو له جملی څخه تر ټولو عام او مشهور یی د پولیسو د شکایتونو خپلواک کمیسیونونه چې انګریزی مخفف یی (PCCs) کیږی، د یادونی وړ دی.

د PCCs تحقیقات او موندنی تل د محکمو قضایی پلټنو ته بشپړکونکی بڼه لری او هیڅکله په دی مقصد باید نه وی چې د محکمی صلاحیتونه تر فشار لاندی ونیسی. د هغوی موندنی بنایی د د دسپلین د ساتنی او پولیس د چارچلند د اصلاح لپاره ارزښت لرونکی وی، خو هغوی باید خپل دا امکان له لاسه ور نه کړی چې د بشری حقونو سرغړونکی محکمی ته معرفی کړی او د قربانیانو لپاره د تاوان غوښتنه

وکړی. یو پولیسی رسمی شکایت غوښتنه کوی چی محکمه د هغه په هکله تصمیم ونیسی. ۱۲ ـ ۱۲ چوکاټ د یو پولیسی شکایت ارګان صلاحیتونه تشریح کوی:

**۱۲ ـ ۱۲ چوکاټ**
**د انګلند او ویلز د پولیسو د شکایتونوخپلواک کمیسیون (IPCC)**

د پولیسو د شکایتونو خپلواک کمیسیون (IPCC) په انګلند او ویلز کی د پولیسو پرخلاف د ټولو شکایتونو لپاره مسوولیت لری. IPCC له حکومت او پولیسو څخه خپلواک دی. هغه صلاحیت لری چی د شکایتونو یا د پولیسو لخوا د ناوړه چارچلندونو پرضد د ادعاوو پلټنه وکړی. دغه راز هغه مسوولیت لری شکایتونو ته د رسیدګی په اړه د محلی پولیسو چارچلند وڅاری.

IPCC د پولیسو د شکایتونو د پخوانی اداری سره په خپلواکتوب او صلاحیتونو کی چی څه ډول تحقیقات په لاره واچوی، ترتیب کړی او څارنه یی وکړی، توپیر لری. د IPCC اتلسم خپلواک کمیسیون د قانون له مخی اجازه نه لری چی د پولیسو لپاره کار وکړی. د IPCC مستنطقین په تحقیقاتو کی له ډیر زیات صلاحیت څخه برخمن دی او کولای شی په ډیری آسانی سره د پولیس قرارګاوو، سندونو او نورو دوسیو او معلوماتو ته لاس رسی ولری. یو شخص کولای شی چی IPCC ته عرض وکړی چی پولیسو ورته کافی معلومات نه دی ورکړی او د پولیسو د تحقیقاتو د نتایجو څخه راضی نه دی.

## د پولیسو د شکایتونو د خپلواک کمیسیون ګټی

- هغه د پولیسو او حکومت څخه جلا دی او په خپلواکه توګه عمل کوی؛
- د پیښو د قربانیانو سربیره هر څوک کولای شی چی ورته شکایت وکړی؛
- د شکایت کولو په خاطر څوک نه تورن کیږی.

## د پولیسو د شکایتونو د خپلواک کمیسیون ضررونه

- د شکایتونو له نوی سیستم څخه د هغو شکایتونو لپاره کار اخیستل کیدای نه شی چی د ۲۰۰۴ کال د اپریل له لومړی څخه مخکی شوی دی، پر دغو شکایتونو باندی د زاړه سیستم له مخی کار شوی دی. خو له نوی سیستم څخه د هغو شکایتونو لپاره کار اخیستل کیدای شی چی د ۲۰۰۴ کال د اپریل له لومړی نیټی څخه وروسته د هغو پیښو په هکله شوی چی د ۲۰۰۴ کال د اپریل د لومړی نیټي څخه مخکی رامنځ ته شوی دی.

## کوم شکایتونه د اوریدو وړ دی؟

د شکایتونو د نوی سیستم له مخی IPCC کولای شی چی د هر پولیسی منصبدار (پرتله له دی چی د هغوی د رتبی او مقام تر منځ توپیر وشی) او د پولیسو د منسوبینو پرضد د عنوان شوی شکایت پلټنه وکړی. په هغو دغه نور پولیس هم شامل دی:

- خاص پولیسی منصبداران؛
- د پولیسی کمکی کارکونکی؛

- محلی کمکی پولیس؛
- قراردادی محافظین.

**د شکایتونو ساحه ډیره پراخه ده چې ځینې په لاندې ډول دي:**

- ناوړه چارچلند؛
- تبعیض کول یا ناوړه چلند؛
- شډلوالی او بې ادبی؛
- دوکه کاری یا جنایی فعالیت.

د پولیسو د شکایتونو د پخوانی صلاحیت پرخلاف، IPCC کولای شی چې خپله په عمل لاس پوری کړی او په تحقیقاتو پیل وکړی، حتی که چیری یو نوی شکایت د چا لخوا عنوان شوی وی او که نه وی شوی. مقررات پیښی هغسی ترتیبوی چې پولیس باید IPCC ته خبر ورکړی حتی که چیری شکایت هم تری نه وی شوی، لکه:

- د پولیسو له تماس څخه وروسته د مرګ پیښه؛
- ناوړه ترافیکی ټکر چې د پولیسو موټر به کی دخیل وی؛
- هر هغه یوه پیښه کی چې د عامه ژوند یو غړی په کی سخت ټپی شوی وی؛
- د یو پولیسی منصبدار لخوا د وظیفی په وخت له وسلی څخه کار اخیستل؛
- د تبعیضی ناوړه چارچلند د ادعاو په صورت کی؛
- هغه ادعاوی چې وایی: د پولیسو یو منبصدار د دندی په وخت کی یوه ډیره سخته سرغړونه کړی چې له قانونی لحاظه باید تر څارنی لاندی ونیول شی.

IPCC دغه راز د محلی پولیسو په څارنه کی مهم نقش لوبوی چې هغوی څرنګه یو شکایت سره چلند کوی – دی ته د «څارنتوب» نقش ویل کیږی.سربیره پر دی IPCC کولای شی د پولیسو د هغه یو اقدام پر ضد عرض ته غوږ ونیسی چې د تحقیقاتو په نتیجه کی وړاندیز کړی دی یا د شکایتونو د پروسی په هکله عرض وکړی که چیری د بیلګی په توګه پولیس:

- تصمیم ونیسی چې یو شکایت ثبت نه کړی؛
- د شکایت د ثبتولو په اړه له نیمګړتیا څخه کار واخلی؛
- شکایت کونکی ته له خبر ورکولو څخه ډه وکړی؛
- د محلی پروسی د فیصلی له مخی مناسب چارچلند تعقیب نه کړی؛
- د تحقیقاتو د موندونو په هکله کافی معلومات ورنه کړی.

پرته له قربانیانو څخه نور کسان هم حق لری چې خپل اړوند شکایتونه وړاندی کړی. هر هغه څوک چې له یو پیښی څخه په یو ډول اغیزمن شوی وی. دغه شکایت کونکی کیدای شی، د پیښی یو شاهد وی، په پیښه کی د دخیل شخص ملګری یا خپلوان وی.

سرچینه: http://www.ipcc.gov.uk

### د تحقیقاتو کمیسیونونه

دولتونه ښایی د بشري حقونو د سرغړونو په هکله د تحقیقاتو لپاره کمیسیونونه وټاکی. خو د سرغړونو سره د هغوی د تعامل اغیزمنتوب ښایی محدود وی. مخکی له دی چی کوم یو کمیسیون سره همکاری وشی، د مدنی ټولنی سازمانونه باید د کمیسیون د همکاری شرایط مطالعه کړی، مثلاً: د هر ډول سرغړونی لپاره د کمیسیون د تحقیقاتو موده، د کمیسیون جوړښت، د شاهدانو د احضار لپاره د کمسیون صلاحیتونه، آیا پوښتنی او ګرویځنی په عام محضر کی صورت مومی او آیا د هر ډول موندنی مقصد دا دی چی بشری حقونو د سرغړونو مسوول کسانو پرضد قانونی اقدام مخه ونیوله شی. یو کمیسیون ښایی دومره صلاحیت ولری چی یواځی سپارښتنی وکړی او د دی صلاحیت ونه لری چی حکومت د کوم اقدام ملزم او مکلف وګڼي.

## د مدنی ټولنی د یو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### د بشری حقونو څارنه

- د بشری حقونو د سرغړونو هر قضیه وڅاری او د سند په قید کی راوړی او چیرته چی مناسبه ده تفصیلات یی له څارونکو چارواکو سره شریکی کړی؛
- د بشری حقونو د اروپایی محکمی او د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د تړون د ارګانو په وړاندی د دریم اړخ د مداخلو لپاره لاره اواره کړی؛
- د بشری حقونو ملی تأسیساتو (NHRIs) ته قضیی وړاندی کړی او د اړوندی قضیی پوری پسمنظری او ځانګړو معلوماتو ورکولو سره له NHRIs سره مرسته وکړی؛
- که چیری اجازه وی او چیرته چی مناسب وی په ملکی قضیو کی د پسمنظری معلوماتو ورکولو سره د محکمو ملګری اوسی.

## هر چا ته قانونی مرستی چمتو کړی

- چیرته چی امکانات وی او شرایط اجازه ورکړی د قانون په اړه مشورتی دفترونه یا اداری جوړی کړی؛
- د پیښو قربانیانو ته قانونی مشوری او مرستی چمتو کړی (چیرته چی مناسب وی، البته د اړوند سازمان د صلاحیت او مهارت پر اساس)؛
- د شاهدانو د ځای د معلومولو لپاره هڅه وکړی؛
- قربانیانو و شاهدانو ته روحی او اخلاقی مرستی ورکړی؛
- چیرته چی اجازه او امکان ولری په قانونی دعواوو کی د کارپوه شاهد په توګه وروړاندی شی؛
- د بشری حقونو د سرغړونو قربانیانو ته اخلاقی او روحی مرستی برابری کړی.

## د قانون د اصلاحاتو لپاره هڅی وکړی

- د امنیتی سکتور د دیموکراتیکی حکومتوالی لپاره د یو قانونی چوکات د جوړولو په موخه راولاړ شی؛
- د نړیوالو معیارونو سره سم د عملیاتی پالیسیو او چارچلندونو دمعرفی لپاره راولاړ شی او د هغوی تطبق پروسه وڅاری؛

- د امنیتی سکتور په څارنه، پولیسی چارو او چارچلندونو کی د جنسیت (د نارینه او ښځینه د مساوی حقوق) مسأله په پام کی ونیسی؛
- د قضاء د خپلواکتوب د پیاوړتیا د اقداماتو پلوی وکړی؛
- په مشورتی پروسو کی ونده واخلی چی هدف په قانون، پالیسو او چارچلندونو کی د اصلاحاتو راوستل دی:
- د ربړولوضد منشور د اختیاری پروتوکول (OP-CAT) پر بنسټ د ملی میکانیزمونو په جوړولو کی ونډه واخلی

د امنیتی سکتور د څارنی او عملیاتو په ساحه کی د اړوندو موضوعاتو په اشتهاراتو لاس پوری کړی.

# ۱۳
# فصل

AMREI MÜLLER

# له نړیوالی ټولنی سره د اتحادونو جوړول

Amrei Müller

# ۱۳

# له نړیوالې ټولنې سره د اتحادونو جوړول

څرنګه چې په تیرو فصلونو کې یادونه وشوه مشارکت او همکاري د مدني ټولنو د سازمانونو د بریالیتوب لپاره ستر اهمیت لري ترڅو په امنیتي سکتور کې د شفافیت او حساب ورکولو لمن پراخه کړي. په دې برخه کې مختلف مشارکتونه د مختلفو مقصدونو لپاره وجود لري. د بیلګې په توګه، یو مشارکت دا دی چې د مدني ټولنې یو سازمان په هماغه سیمه یا په ورته موضوعاتو کې له نورو سره جوړوي تر څو د اصلاحاتو لپاره یو خوځښت رامنځ ته کړي؛ له ډله ایزو رسنیو سره مشارکت کولای شي چې په یو ځانګړي موضوع کې د عامو خلکو د پوهې او معلوماتو سطح لوړه کړي؛ له پارلمان سره مشارکت کولای شي په دې برخه کې مرسته وکړي چې د پارلمان اړوندې کمیټې د څارنې دندې په جدي توګه تعقیبوي؛ له حکومت سره مشارکت کیدای شي پر پالیسو باندې د نفوذ موندلو سره مرسته وکړي. د خپل هیواد له سرحدونو بهر د مشارکت جوړول او په نړیواله سطح فعالیدل په نني عالمي شوي نړۍ کې یو غښتلې پالیسي ده. له قاعدې څخه د فشار او له سر څخه د فشار له یو ځای کولو سره د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې په ملي سطح کې خپل نفوذ او د خبرو اترو قدرت پیاوړي کړي.

د امنیتي سکتور په څارنه او صلاحاتو کې د مدني ټولنې دخیل سازمانونه باید د مشارکتونو د جوړولو لپاره زیار وباسي او له نړیوالو لوبغاړو سره دې اتحادونه جوړ کړي، ځکه دغه ډول مشارکتونه د مدني ټولنې د سازمان غوښتنو ته مشروعیت ورکوي اود فعالیتونو اغیزې زیاتوي. همداراز دا مشارکتونه کولای شي چې د مدني ټولنې سازمانونو سره د بنسټیز پالیسو په وده کې مرسته وکړي. دا په داسې حال کې ده چې له دې لارې هغوی له نورو سازمانونو سره خپل تجربې شریکوي ترڅو ووینې چې کومه لاره ګټوره ده. سربیره پر دې د مدني ټولنې د سازمان د دریځونو د پیاوړتیا او د عمل او پالیسې د یو چوکاټ د جوړولو په مقصد له نړیوالو سازمانونو سره مشارکتونه هغوی ته یو ډول محافظت هم ور په برخه کوي. په هغو فعالیتونو کې برخه اخیستل چې موخه یې پر امنیتي سکتورباندې د دیموکراتیکې څارنې وده ده، کیدای شي چې د مدني ټولنې سازمانونه او د هغوی منسوبین په مختلفو ډولونو سره له ګواښونو او ګړولو سره مخامخ کړي (البته دا سیاسي چاپیریال پورې هم اړه لري په کوم

چې د مدنی ټولنی اړوند سازمان فعالیت کوی،)؛ مشارکتونه کولای شی چې د داسی ځورولو خطر د «ګډ پیټي د لیږدولو» له لاری تر یوی کچې له منځه یوسی.

## د ملګرو ملتونو د بشری حقونو له سیستم سره مشارکت

### د ملګرو ملتونو د تړون د ارګان سیستم

لکه چې په ۱۱ او ۱۴ فصلونو کی وویل شول، هر دولت لږ ترلږه د بشری حقونو یو نړیوال تړون تصویب کړی دی.[1] د بشری حقونو د نړیوالو تړونونو پلی کول اکثر پر امنیتی سکتور باندی د دیموکراتیکی څارنی ودی سره مرسته کوی. د بشری حقونو دغه تړونونه عبارت دی له: د ملکی او سیاسی حقونو په هکله نړیوال منشور (ICCPR)، د ربړولو ضد منشور (CAT) او د هغه اختیاری پروتوکول (OP-CAT)، د ښځی پر ضد د تبعیض د ټولو ډولونو له منځه وړلو منشور (CEDAW)، د نژاد پالنی او توپیر پالنی د ټولو ډولونو د له منځه وړلوو منشور (ICERD) او د ماشومانو د حقونو منشور (CRC).

د بشری حقونو د هر نړیوال تړون لاندی د کارپوهانو یو کمیته ګمارل شوی ده چې د هغه پلی کیدل وڅاری.[2] هغو دولتونو چې اړوند تړونونه یی لاس لیک کړی، مکلف دی چې وخت په وخت د هغو د تطبیق په هکله نوموړو کمیټو ته خپل رپوټ واستوی.[3] په دغو رپوټونو کی باید د اړوند تړون د تطبیق لپاره د نیول شویو اقداماتو قانونی، اداری ، قضایی او د پالیسو اړوند معلومات او په دی لاره کی رامنځ ته شوی ستونزی تشریح کړای شی.[4] وروسته له هغی چې کمیټو دولتی رپوټونه لاس ته راوړل، هغوی د تړونونو د غړو دولتونو له استازو سره کښیني او په ګډه پری کتنه او بحث کوی. له هغی وروسته کمیټی خپل ملاحظات او د کتنی نتایج څرګندوی او دولتونو ته سپارښتنه کوی ترڅو د اړوند تړونونو په تطبیق کی اصلاحات رامنځ ته کړی.[5]

ټولو کمیټوداسی مکانیزمونه جوړکړی چې د هغو له لاری هغوی کولای شی د ملګرو ملتونو د نورو ادارو، غیرحکومتی سازمانونو، علمی مؤسسو، مطبوعاتو او د مدنی ټولنی د ورو لوبغاړو څخه بدیل معلومات لاس ته راوړی چې وګوری ترکومی اندازی د اړوند دولت رپوټ په رښتنیولی ولاړ دی او قناعت وړ دی. د مدنی ټولنی سازمان چې د امنیتی سکتور لخوا یا د هغه په دننه کی د بشری حقونو د سرغړونو په هکله تخصصی معلومات په اختیار کی لری کولای شی چې دغه معلومات د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیساری (OHCHR) دفتر ته واستوی. دغه دفتر په حقیقت کی د

---

[1]- نن سبا د بشری حقونو اته نړیوال تړونونه نافذ دی، په هغو کی اختیاری پروتوکولونه هم شامل دي: د ملکی او سیاسی حقونو په هکله نړیوال منشور او د هغه دوه اختیاری پروتوکولونه: د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنګی حقونو په هکله نړیوال منشور؛ د نژاد پالنی او توپیر پالنی د ټولو ډولونو د له منځه وړلو منشور؛ د ربړرولو ضد منشور او د هغه احتیاری پروتوکولونه؛ د ښځو پر ضد د هر ډول تبعیض د له منځه وړولو منشور؛ د ماشومانو د حقونو منشور او د هغه دوه اختیاری پروتوکولونه؛ د ټولو کډوال کارګرانو او د هغوی د کورنیو د غړو د ساتنی حقونو په هکله نړیوال منشور؛ او د معلولینو او معیوبینو د حقونو د خوندی ساتنی منشور او د هغه اختیاری پروتوکول. ټول دغه نړیوال تړونونه د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د عالی کمیساری په انترنتی پاڼه کی موندلای شی: http://www2.ohchr.org/english/law/index.htm

[2]- د ملګروملتونو د تړون د ارګان د سیستم د کاری چلند په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره کولای شی چې د ملګرو ملتونو د تړون د ارګانونو پاڼه وګوری: http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/Pages/HumanRightsBodies.aspx

[3]- د دولتونو د رپوټ ورکولو د مکلفیتونو او د تړون د ارګان د سیستم په هکله د زیات معلومات لپاره د OHCHR د معلوماتو دیرشمه پاڼه وګوری: http://www2.ohchr.org/english/bodies/docs/OHCHR-FactSheet30.pdf

[4]- کله چې دولتونه خپل رپوټونه لیکی، هغوی باید هغه لارښوونی په پام کی ونیسی چې د تړون د ټولو ارګانونو له خوا صادر شوی دی. د تړون ارګانونه وخت په وخت خپلی لارښوونی نوی کوی. په دی اړه یوه وروستی لارښونه تر دی نامه لاندی کتلای شی:
Compilation of Guidelines on the Form and Content of Reports to be submitted by States Parties to International Human Rights Treaties, UN Doc.HRI/GEN/2/Rev.4, 21 May 2007.

[5]- د ټولو دولتونو د رپوټونو په هکله وروستی ملاحظات کولای شی چې د تړون د ارګانونو د Database په اړه د OHCHR په پاڼه کی ومومی: http://tb.ohchr.org/default.aspx

بشري حقونو په هکله د ملګرو ملتونو د تړون د ارګانونو د دارلانشاء حيثيت لري.[1] د تړون غړي بيا موقع لري چې د اړوند دولت له استازو څخه د هغو بديلو معلوماتو پربنسټ چې د مدني ټولني سازمانونو لخوا ورکړل شوي پوښتني وکړي او غړو دولتونو ته د تړون د ارګانونو سپارښتني كيداى شي چې د مدني ټولني د سازمانونو لخوا د بديلو معلوماتو له لارې خبر ورکړاى شي. په نتيجه کې په خپلو اړوندو هيوادونو کې د امنيتي پاليسيو په پام کې نيولو سره کيداى شي د مدني ټولني د سازمانونو غوښتني نړيوال رسميت پيدا کړي او په مقابل کې د امنيتي سکتور د ديموکراتيک کيدو په پروسه کې له هڅو سره مرسته وشي.

کله چې د مدني ټولني سازمانونه غواړي د تړون اړوند ارګانونو ته بديل معلومات ورليږي، هغوى بايد دا ډاډ ورکړي چې دغه معلومات په اړوند تړون کې ځانګړو حقونو پورې اړه لري.[2] معلومات چې د هغوى لخوا استول کيږي د هغوى د تجربو ساحو پورې اړه نيسي. د امنيتي سکتور د هر اړوندي موضوع په هکله د مدني ټولني د سازمانونو معلومات د ملګرو ملتونو د تړون ارګانونو ته کله چې د تړون د معياورنو او اصولو سره د تطابقت له لحاظه د امنيتي سکتور د پاليسو، چارچلندونو او قوانينو په هکله کتنه کوي، ګټور دي. سربيره پر دې د مدني ټولني سازمانونه بايد ډاډ ورکړي چې د هغوى معلومات ربنتيني او تر ممکنه اندازې له معيارونو سره برابر دي. د مدني ټولني سازمانونه دغه راز کولاى شي چې په دغو معلوماتو کې هغه سپارښتني هم ورزياتي کړي چې څرنګه کيداى شي د امنيتي سکتور پاليسې کې سمونوالي رامنځ ته شي او د بشري حقونو له نړيوالو معيارونو سره همغږي کړاى شي. د مدني ټولني د سازمانونو لخوا ورکړل شوي معلومات چې څومره دقيق وي، هومره د تړون د ارګان غړي په ښه توګه کولاى شي چې د امنيتي سکتور لخوا سرغړونو په وجه د تړون د غړو دولتونو ا ستازي حساب ورکولو ته کښينوي او هغوى ته لارښونه وکړي ترڅو په اړوند برخو کې اصلاحات رامنځ ته کړي.[3]

**۱۳ – ۱ چوکاټ**

**د ګرجستان د غيرحکومتي سازمان «د بشرى حقونو د معلوماتو او سندونو مرکز» لخوا د ملګرو ملتونو د بشرى حقونو کميټي ته بديل رپوټ**

په ۲۰۰۷ کال کې د ګرجستان يوى غيرحکومتي مؤسسې په بريالیتوب سره د بشرى حقونو د کميټي پام هغو زورزياتيو ته راواړاوه چې د قانون د اجرائي چارواکو لخوا سرته رسيدلي ؤ او د ICCPR د ۶ او ۹ مادې پرخلاف يې عمل کړى دى.

د خپلې ۹۱ غونډې په ترڅ کې د بشرى حقونو کميټي د ګرجستان رپوټ ترغورلاندې ونيو. د «بشرى حقونو د معلوماتو او سندونو مرکز» په نامه د ګرجستان غيرحکومتي مؤسسې په نوموړي هيواد کې د

---

[1]- د امنيتي سکتور په اړه تر ټولو مهمو کميټي عبارت دي له : د بشري حقونو کميټه چې د ICCPR تطبيق څاري؛ د ربړولو ضد کميټه چې د CAT تطبيق څاري؛ او د ښځو پر ضد د تبعيض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کميټه چې د CEDAW تطبيق څاري.

[2]- معمولاً د مدني ټولني د سازمانونو لپاره غوره وي چې د ملګرو ملتونو د تړون ارګانونو ته بديل معلومات وړاندى کړي، ترڅو له دې لارې د کميټو د رپوټ ورکولو له لارښونو سره ځان آشنا کړي؛ په دې اړه دغې منبع ته مراجعه وکړي:
Compilation of Guidelines on the Form and Content of Reports to be submitted by States Parties to International Human Rights Treaties, UN Doc.HRI/GEN/2/Rev.4, 21 May 2007.

[3]- په دې هکله چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د تړون ارکانونو ته رپوټونه څرنګه استول کيداى شي، د زياتو معلوماتو لپاره د مدني ټولني سازمانونه کولاى شي چې د OHCHR انترنتي پاڼه وګوري: www.ohchr.org , يا دا پاڼه وګورى:
Bayefsky, Ann F, How to Complain to the UN Human Rights Treaty System, Martinus Nijhoff Publishers, The Hague, 2002

بشری حقونو د وضعیت په هکله یو بدیل رپوټ وړاندی کړ چې په هغه کی د نورو مسائلو سربیره د قانون د اجرائی چارواکو لخوا، بیا په خاصه توګه «خاصو عملیاتو» په ترڅ کی او په زندانونو کی تیریو ته ګوته نیوله شوی وه.

د بشری حقونو د کمیټی د کتنی د پایلو له مخی د ګرجستان له حکومت څخه وغوښتل شول چې د «قانون د اجرائی چاراکو لخوا د زورزیاتیو د ټولو ډولونو د مخنیوی لپاره دی په ټینګو اقداماتو لاس پوری کړی. سربیره پر دی هغی کمیټی د ځینو ګامونو یادونه وکړه چې د ګرجستان حکومت باید زورزیاتیو ته د پای ټکی کیښودلو په موخه یی واخلی.

سرچینه: د «بشری حقونو د معلوماتو او سندونو مرکز» ته لاس رسی د دغی انترنتی پاڼی له لاری ممکن دی: http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrc/docs/ngos/hridcgeorgia.pdf

د ګرجستان په هکله د بشری حقونو د کمیټی د ملاحظاتو پایلی په دغی پاڼي کی موندلای شی:
http://daccessdds.un.org/doc/UNDOC/GEN/G07/453/20/PDF/GO745320.pdf?OPenElement

که چیری د مدنی ټولنی سازمان په کافی اندازی منابع ولری، هغوی کولای شی چې جینوا ته کله چې هغوی د دولت په رپوټ باندی غور کیږی، سفر وکړی او د کمیټو په غونډو کی برخه واخلی. د مدنی ټولنی هر سازمان کولای شی د نندارہ کونکی په توګه د کمیټی په غونډو کی ګډون وکړی.[1] هغوی همدا راز د ټرون د ارګانونو له غړو سره د لیدنی کتنی له لاری ډیر فعال نقش لوبولای شی. د ټرون ارګانونه د مدنی ټولنی سازمانونو ته د خپلو غونډو په ترڅ کی یا د خپلو کاری غونډو څخه مخکی وخت ورکوی ترڅو په لنډه توګه معلومات وړاندی کړی.[2] د مدنی ټولنی سازمانونه چې د امنیتی سکتور په اړه د بشری حقونو په مسایل کی تخصص لری کولای شی چې په دی غونډو کی برخه واخلی، خپل نظر څرګند کړی او د کمیټی غړو ته د حل لاری وړاندیز وکړی.[3] د ټرون د ارګان یو شمیرغړی هم د مدنی ټولنی له سازمانونو سره په غیر رسمی توګه د غرمی ډوډی یا سبا ناری په وخت کی سره ګوری.

د مدنی ټولنی سازمانونه چې د امنیتی سکتور د دیموکراتیک کولو اړوند فعالیتونو کی بوخت دی کولای شی د کمیټو له خوا صادر شوی وروستیو نتایجو څخه د خپل کارد یو بنسټ په توګه کار واخلی. د بیلګی په توګه هغوی کولای شی له هغو څخه دحقوقو د دفاع په کمپاینونو کی کار واخلی او یا له حکومت سره د دغو سپارښتنو په اړه د امنیتی سکتور د پالیسیو په هکله یو دیالوګ په لاره واچوی. د کارپوهانو د یوی پیژندل شوی نړیوال ارګان له خوا صادر شوی نتایج په حقیقت کی د مدنی ټولنی د سازمانونو فعالیتونو ته نورهم صلاحیت ورکوی او په دی دول د هغوی اغیزی زیاتوی.

دغه راز د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چې څارنه وکړی چې د امنیتی سکتور د پالیسیو او قوانینو په اړه د ټرون د ارګانونو سپارښتنی د دولتونو له خوا تطبیقیږی او کولای شی چې د هغو د تطبیق یا نه تطبیق په هکله بیرته کمیتو ته رپوټ ورکړی. کمیتی کولای شی چې بیرته له حکومتونو سره تماس ونیسی او هغوی خپلو دندو ته متوجه کړی او یا د راتلونکی د کتنی غونډی په ترڅ هغه ورته بیا عنوان کړی چې په خپلو مکلفیتونو کی یی نیمګړتیاوی کړی دی.

---

[1]- د مدنی ټولنی هغه سازمانونه چې غواړی د ټرون د ارګان په غونډو کی د نندارہ کونکی په توګه ګډون وکړی، باید د اړوندی کمیتی له دارلانشاء څخه دی غوښتنه وکړی چې ورته اجازه نامه ورکړی.

[2]- د ټرون ډیری ارګانونه له غونډو څخه مخکی کاری ډلی جوړوی ، د کومو په ترڅ کی چې د کمیتو غړی په دی هکله بحث کوی چې له اړوند دولت سره په غونډه پر کومی موضوع باندی خبری وشی.

[3]- د کمیتو د غونډو د ثابت نوی مهال ویش لپاره د OHCHR انترنتی پاڼه وګوری:
http://www.ochchr.org/EN/NewsEvent/Pages/Meetings.aspx

## د بشری حقونو د تړون د ارګانونو د تحقیق پروسی

د ربړولو ضد کمیته او د ښځو پر ضد د تبعیضونو د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کمیته کله چې په CAT یا په CEDAW کی له منل شوو حقونو څخه د سرغړونو په هکه د اعتماد وړ معلومات لاس ته راوړی، سمدلاسه د تحقیقاتو لپاره په عمل لاس پوری کوی. دغه کمیتی معمولا د مدنی ټولنی د سازمانونو څخه دغه ډول معلومات تر لاسه کوی. د دغو معلوماتو پر بنسټ او د تړون د اړوند غړی دولت په موافقه کمیتی کولای شی د خپلوغړو یو تن یا څو تنه وګماری تر څو په یوی اعتمادی پلټنی لاس پوری کړی. [1] د دغی تحقیق نتیجه بیرته د کتنی لپاره کمیتی ته رپوټ ورکول کیږی. کمیټه په خپل وار سره پر هغو غو رکوی او لازم تبصری پری کوی او بیا د تړون غړی دولت ته خپله سپارښتنی وړاندی کوی. [2] دغه سپارښتنی ډیری مفصلی دی او په اړوند هیواد کی د بشری حقونو سیستماتیکو او نورو خاصو سرغړونو ته ځواب ورکوی، د هغو په جمله کی هغه سرغړونی هم شاملی دی چی د امنیتی سکتور لخوا ترسره شوی دی. نو په دی وجه د هغوی تطبیق د امنتی سکتور د دیموکراتیک کولو لپاره یوه فوق العاده مهمه وسیله ده.

**۱۳ _ ۲ چوکاټ**
**د «Agustin Pro Juarez د بشری حقونو مرکز» تر نامه لاندی د مکسیکو یو غیرحکومتی سازمان په بریالیتوب سره د ربړولو ضد کمیتی څخه یی وغوښتل ترڅو په مکسیکو کی د ربړولو د سیستماتیک چارچلند ادعا شوی پیښنو په هکله پوښتنه او ګرویځنه وکړی.**

په ۱۹۹۸ کال کی د «Agustin Pro Juarez د بشری حقونو مرکز» تر نامه لاندی د مکسیکو یو غیر حکومتی سازمان (PRODH) د ربړولو ضد کمیتی ته یو مفصل رپوټ تردی عنوان لاندی «په مکسیکو کی د حکومتی تأسیساتو له خوا د ۱۹۹۷ کال د اپریل تر ۱۹۹۸ کال سپتمبر تر سره شوی زور زیاتی او سرغړونی» واستاوه. په دغه رپوټ کی PRODH په اسنادو او شواهد سره څرګنده کړه چی په مکسیکو کی ربړول په سیستماتیک توګه عمل شوی دی او له کمیتی څخه وغوښتل چی په دی برخه کی په تحقیق لاس پوری کړی. هغی کمیتی دغه معلومات د اعتبار وړ وګڼل او د ربړول ضد منشور د ۲۰ مادی له مخی یی په تحقیقاتو لاس پوری کړ. د مکسیکو د حکومت په موافقه هغی کمیتی خپل دوه غړی نوموړی هیواد د ۲۰۰۱ کال د اګست او سپتمبر په میاشتو کی واستول.

د خپلی لیدنی کتنی په وخت کی د کمیتی غړو د مدنی ټولنی له سازمانونو سره ولیدل. د کمیتی له غړو سره په خپلو خبرو کی PRODH هغه معلومات د کمیتی غړو ته ورکړل چی په مکسیکو کی د سیستماتیکو ربړولو څخه یی ویندویی کوله. دغه معلومات عبارت ؤ: له قانونی سزاء څخه د هغو پولیسی منصبدارانو مصونیت چی په ربړولو یی لاس پوری کړی، په جنایی دوسیو کی د ربړولو څخه لاس ته راغلی شواهد، د ښه نه روزل شویو پولیسی او پوځی منصبدارانو په هکله شواهد او د لوی څارنوالی د طبی متخصصینو د نه خپلواکتوب په هکله معلومات. د نوموړی مدنی سازمان لخوا ورکړ شوی معلومات د هغو معلوماتو سره پرتله او بشپړل شول چی د مکسیکو د ملی او سیمه ایزو بشری حقونو د کمیسیونونو، د ادعا شویو قربانیانو او د هغوی د خپلوانو د شهادتونو او حکومتی چارواکو لخوا ورکړای شول.

د PRODH لخوا ورکړای شویو معلوماتو د کمیتی له هغو سپارښتنو سره زیاته مرسته وکړه چی په

[1] Art.8OP-CEDAW; Art.20 (3)CAT; and CAT (2002): Rules of Procedure of the Committee against Torture. UN DOC.CAT/C/3/Rev.4,9 August2002, rule 80.

[2] - ټوله پروسه محرمه ده. خو سپارښتنی کیدای شی چی بربنډ شی، البته د اړوند غړی دولت په موافقت سره.

هیواد کی یی له خپلی لیدنی کتنی څخه وروسته د مکسیکو حکومت ته وسپارل. د کمیتی سپارښتنو ته په ځواب کی د مکسیکو حکومت تصمیم ونیو چی څرنګه دغه سپارښتنی د عمل په ډګر کی پلی کړی. مثلا حکومت له د «بشری حقونو ډاکترانو» څخه غوښتنه وکړه تر څو د لوی څارنوال روغتیایی کار پوهانو وروزی چی څرنګه د ربړولو په هکله سندونه ارزیابی کړی او ربړونی څرنګه د سند په قید کی راوړی.

سرچینه: د ربړولو ضد کمیته، د ربړوو ضد منشور د ۲۰ مادی له مخی د کمیتی له خوا د مکسیکو په هکله ریوټ او د مکسیکو د حکومت ځواب.
UN Doc.CAT/C/75, 2003, available at
http://daccessdds.un.org/doc/UNDOC/GEN/GO3/421/02/PDF/GO342102.pdf?OpenElment

څرنګه چی په ۱۳ – ۱۲ چوکاټ کی مثال څرګندوی، د مدنی ټولنی سازمانونه چی د امنیتی سکتور په اړه د بشری حقونو په موضوعاتو کی لاس لری کولای شی په بریالیتوب سره د نوموړی سکتور د دیموکراتیک کولو لپاره له نړیوالو پروسیجرو سره همکاری وکړی. هغوی کولای شی چی یاد شوو کمیتو ته معلومات واستوی کوم چی ښایی د یوی پوښتنی او ګریځنی لامل وګرځی. کله چی یوه تحقیق په لاره واچول شی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د کمیتی له غړو سره د هیوادڅخه د لیدنی کتنی په وخت وګوری. خو د مدنی ټولنی سازمان باید په یاد ولری چی دغسی یوه تحقیق یا پوښتنه او ګرویځنه هغه وخت په لاره لویدای شی چی کمیتی د باور وړ معلومات ورکړ شی، هغه معلومات چی په رښتینی توګه د ترون پخه غړی دولت کی د ربړولو د پیښی ثبوت پری وشی.[1] یو تحقیق هغه وخت کیدای شی چی چی د سیسماتیک ربړونی ادعا وشی، خو نه دا چی نور غیر انسانی چلندونه، تحقیر یا سپکاوی ، سزا صورت ومومی.

## د ملګرو ملتونو د بشری حقونو شورا

د ملګرو ملتونو د بشری حقونو شورا چی د بشری حقونو په هکله د ملګرو ملتونو د کمیسیون ځای نیونکی ده، د ملګرو ملتونو په دننه کی د حکومتونو تر منځ یو خپلمنځی ارګان دی او صلاحیت لری چی په عالمی سطح د ټولو بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو ساتنه وکړی. د بشری حقونو شورا دغه راز کولای شی چی د بشری حقونو د سرغړونو وضعیت ته ګوته ونیسی، لکه د بشری حقونو سیستماتیک نقضونه او کولای شی چی د هغو د سمونوالی لپاره سپارښتنی وکړی.[2]

ډیری هغه موضوعات چی د بشری حقونو د شورا د غونډو په ترڅ کی پر بحث شوی دی د امنیتی سکتور د څارنی او د امنیتی پالیسیو پوری اړه درلوده. دغه راز د بشری حقونو شورا په منظمه توګه ځینو نورو موضوعاتو لکه غیر قضایی محاکمی، صحرایی محاکمی او اعدامونو ته هم اشاره کوی، د بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو ساتنه او وده او په عین وخت کی د تروریزم ضد مقابله؛ انتقالی عدالت؛ او په زور او د خپلی خوښی خلاف لا درک کیدل، او هر کال د خپلو دری منظمو غونډو په ترڅ کی د پریکړو صادرول.[3] شورا دغه راز د هر دولت په اړه چی د بشری حقونو وضعیت یی د پوښتنی وړ

---

[1]- د CAT شلمه ماده ( ۱) بند. د خپل تحقیق په لومړی پایله کی، CAT څرګندوی چی په یو غړی دولت کی سیستماتیک ربړونه څه ته وایی. لطفا دا هم وګوری: CAT (2003): د ربړولو ضد کمیتی ریوټ. د عمومی اسامبلی رسمی ثبت، ۵۸ غونډه، تکمیلی شمیر ۴۴ ، Add.1, UN Doc. A/58/44/Add.1 2003, para.39.
[2]- د بشری حقونو د شورا د بشپړ صلاحیت په هکله لطفا د ملګکرو ملتو د عمومی اسامبلی د ۲۰۰۶ کال د اپرایل د یماتشی ۶/۲۵۱ پریکړه مطالعه کړی:http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrcouncil/docs/A.RES.60251_En.pdf

[3]- د بشری حقونو د شورا د وروستی شپږمی غونډی اجنداء لپاره دغه پاڼه وګوری:
http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrcouncil/6ssision/index.htm

وی صلاحیت لري چې پریکړې صادر کړي او تصمیم ونیسي او د اړتیا په صورت کې د غړو دولتونو په غوښتنه ځانګړې غونډه دایره کړي.[1] په دې وروستیو وختوکې د بشري حقونو شورا په منظمه توګه د بشري حقونو د نړیوال وضعیت باندې د کتنې لپاره یو لړ تفصیلي نمونې جوړې کړې دي چې د لومړي ځل لپاره یې د ۲۰۰۸ کال د اپریل په میاشت کې ترې کار واخیست.[2] تر دې میکانیزم لاندې شورا دهرغړي دولت د بشري حقونو وضعیت د هغو معلوماتو له مخې چې د اړوند دولت، OHCHR، د بشري حقونو ملي تأسیساتو، غیر حکومتي سازمانونو او د مدني ټولنې د نورو لوبغاړو له خوا ورته وړاندې کیږي، څیړي.
د مدني ټولنې هغه سازمانونه چې د امنیتي سکتور د څارنې په موضوعاتو کې دخیل دي کولای شي چې بشري حقونو د شورا په منظمو یا خاصوغونډو کې ګډون وکړي او کولای شي چې د اړوند دولت د بشري حقونو په اړه د امنیتي سکتور د پالیسو په هکله معلومات ورته وړاندې کړي. د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې د مختلفو لارو څخه د هغو بشري سرغړونو چې د امنیتي سکتور له خوا تر سره شوې دي، په نړیواله سطح بربنډونه وکړي. له دې لارې پردولتونو باندې فشاورنه زیاتیږي ترڅو د امنیتي سکتور په دیموکراتیک کولو لاس پورې کړي. خو د ترون د ارکان په پروسه کې د ګډون پر خلاف د مدني ټولنې سازمانونه باید له اقتصادي او ټولنیزې شورا سره د یو ډول مشورتي موقف ترلاس کړي مخکې له هغې چې د هغو په عادي غونډو یا د بشري حقونو د شورا د نړیوالو کتنو میکانیزمونو کې ګډون وکړي.[3]

## د بشري حقونو د شورا منظمې غونډې

غیرحکومتي سازمان چې له ECOSOC سره مشورتي موقف لري کولای شوي چې د بشري حقونو د شورا اړوندې غونډې ته د ECOSOC د ۱۹۶۱/۳۱[4] پریکړې پربنسټ لیکل شوې بیانونه وړاندې کړي. د غیرحکومتي سازمانو لپاره چې غواړي تحریري بیانونه وړاندې کړي د بشري حقونو د شورا انټرنتي پاڼه کې لارښوونې موجودې دي[5]. د هغې شورا دارالانشاء د غونډې ټولو برخه والو ته وړاندې شوې بیانونه وویشي. په دې ترتیب، د مدني ټولنې د سازمانونو بیانونه کولای شي چې په یو ځانګړې موضوع باندې د بشري حقونو د شورا د بحث خبرتیا ورکړي او بنایي د هغې شورا په پریکړو او تصمیمونو کې چیرته ځای پیدا کړي. دا کولای شي چې د امنیتي سکتور د ادارو لخوا د بشري حقونو سرغړونو ته د پای ټکی کیږدي او د هغه سکتور په دیموکراتیک کیدو کې مرسته وکړي.

---

[1]- د دې کار لپاره، شورا باید د خپلو غړو د دریمې برخې ملاتړ له ځان سره ولري. د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې ۶۰/۲۵۱ د پریکړې لسم پاراګراف وګورئ چې د هغې له مخې دغه شورا جوړه شوې ده.
[2]- د زیاتو معلوماتو لپاره د بشري حقونو د شورا ۵/۱ پریکړه وګورئ چې په دغې پاڼې کې موندلای شئ:
http://ap.ohchr.org/documents/E/HRC/resolutions/A.HRC_RES_5_1_doc

[3]- د اقتصادي او ټولنیزې چارو لپاره دملګرو ملتونو د څانګې وېبپاڼه څرګندوي چې د مدني ټولنې سازمانونه څرنګه کولای شي چې په اقتصادي او ټولنیزو چارو کې له ECOSOC سره مشورتي موقف پیدا کړي. لطفاً وګورئ: http://www.un.org/esa/coordination/ngo/
[4]- دغه پریکړه هغه اصول تعینوي چې د بشري حقونو د شورا او د غیرحکومتي سازمانو ترمنځ پر اړیکو باندې ټینګار کوي. د ECOSOC پریکړه په دغې پاڼې کې لوستلی شئ:
http://www.un.org/documens/ecosc/res/1996/ecosoc/res/1996-31.htm
د تحریري وړاندیزونو لپاره لارښوونې کولای شئ په دغې پاڼي کې وګورئ:
http://www2.ohchr.org7english/bodies/hrcouncil/docs/6session/hrc6guidlinesngo.doc
[5] - دغه لارښونې کولای شئ په دې پاڼه کې وګورئ:
http://www.2ohchr.org/english/bodies/hrcouncil/docs/6session/hrc6guidelinesngo.doc

هغه غیرحکومتی سازمانونه چی د ECOSOC سره مشورتی موقف لری، هم کولای شی چی د خپلو سازمانو استازو ته د بشری حقونو د شورا په غونډو کی د ګډون اجازه واخلی. د دی مقصد لپاره هغوی باید د ګډون د اجازی لیک واستوی چی په هغه کی د غیر حکومتی سازمانونو لپاره د بشری حقونو د شورا په هکله په ویب پاڼی کی معلومات ولری.[1] هغه غیرحکومتی سازمانونه چی د ګډون اجازه ورته شوی، کولای شی د غونډی په ترڅ کی شفاهی بیانونه وړاندی کړی، موازی غونډی دایری کړی، د دولتونو له استازو سره بحث او خبری وکړی او د پریکړی په مسوده کی ونډه واخلی. دا دمدنی ټولنی د سازمانونولپاره چی د امنیتی سکتور دځارنی په مسائلو کی لګیا دی ډیره ښه موقع ده چی په یو نړیواله غونډه کی خپلی اندیښنی عنوان کړی. سربیره پر دی، په غونډه کی د یو ګڼ شمیر مدنی ټولنو د سازمانونو او نورو لوبغاړو شته والی د همنظرو سازمانونو، خپلواکو کارپوهانو اود نورو هیوادونو څخه د حکومتی چاروکو ترمنځ د شبکه یی کارونو لپاره ښه موقع برابروی.

## د دورانی کتنی په نړیوالو میکانیزمونو کی ګډون

نړیواله دورانی کتنه (UPR) د بشری حقونو د شورا تر لاربښوونی لاندی تأسیس شوی میکانیزم دی چی د هغه له لاری د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی خپلی اندیښنی د امنیتی سکتور د پالیسیو په هکله څرګندی کړی. د دی میکانیزم هدف دا دی چی د مدنی ټولنی سازمانونو ته موقع ورکړی ترڅو ترکتنی لاندی هیواد په هکله معلومات ورکړی. په دی اړه د بشری حقونو شورا په دی وروستیو وختونو کی د غیرحکومتی سازمانونو لپاره په یوه یاداشت کی ځینی لاربښوونی د UPR د میکانیزم په اړه طرح او تصویب کړل چی د شورا په ویبپاڼه کی موندلای شی.[2]

په دغه یاداشت کی د UPR د میکانیزم د هدفونو په هکله ارزښت وړ پسمنظری معلومات موجود دی. سربیره پر دی د نړیوال دورانی کتنی په هکله د بشری حقونو شورا یو بریښنا لیکی پته هم لری، کومی ته چی معلومات استول کیدای شی.[3] په پام کی دی چی د مدنی ټولنی سازمانونه د نړیوالی دورانی کتنی او پلټنی په هیأت کی ګډون وکړی کوم چی د بشری حقونو د شورا د کاری ډلی لخوا ټاکل کیږی. د مدنی ټولنی سازمانونه چی غواړی په دی هیأت کی ګډون ولری، باید پوه شی چی د بشری حقونو د شورا ویبپاڼی ته وخت په وخت مراجعه وکړی. ځکه دغه هیأت نوی جوړ شوی او میکانیزم ښایی تغییرموندلی وی یا وومی.

## د بشری حقونو شورا د ځانګړو هیأتونو سره د مدنی ټولنی د سازمانونو همکاری

د مدنی ټولنی سازمانونه چی خپلو ملی امنیتی سکتورونو دیموکراتیک کولو ته ودی ورکوی دغه راز کولای شی چی د بشری حقونو شورا ته په ځانګړو هیأتونو کی ځان ته پیاوړی متحدین پیدا کړی. ځانګړی هیأتونه اصلاً د بشری حقونو د کمیسیون څخه چی د بشری حقونو د اوسنی شورا خلف ؤ، جوړ شول او معمولاً دنده یی درلوده تر څو د بشری حقونو د وضعیت پلټنه وکړی، وڅاری او لازمی مشوری ورکړی او په یو ځانګړی هیواد کی د بشری حقونو د وضعیت په هکله رپوټ ورکړی او خپور کړی.[4] د ځانګړو هیأتونو کار چی په ۱۳ – ۳ چوکاټ کی درج شوی دی په خاصه توګه هغو

---

[1] - http://www2.ohcchr.org/english/bodies/hrcouncil/ngo.htm

[2] - دغه لاربښوونی په دی ویبپاڼه کی موندلای شی:
http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrecouncil/upr/noteNGO_041007.htm

[3] - تر اوسه پوري ( ۲۰۰۸)، دا بریښنا لیکي پته: civilsocietyunit@ohchr.org

[4] - په دغو ځانګړو هیأتونو کی ځانګړی رپوټ ورکونکی، استازی، خپلواک کارپوهان او کاری ډلی هم شاملی دی.

موضوعاتو پورې اړه ونیسي چې د امنیتي سکتور په څارنې او اصلاحاتو پورې اړه نیسي. د هغوی د صلاحیتونوپه اړه زیات تفصیلات کیدای شی اړوند انترنتي پاڼو کی چی هغه هم په لاندی چوکات کی معرفي شوی دی، ومومی.

**۱۳ ــ ۳ چوکاټ**

**د بشری حقونو د شورا ځانګړی هیأتونه چی د مدنی ټولنی سازمانونو نه سره د امنیتی سکتور په څارنه کی بوخت دی، کولای شی یو اغیزمن مشارکت سره جوړ کړی**

ځانګړی هیأتونه له موضوعی صلاحیتونو سره
د بشری حقونو د ودی او ساتنې په هکله ځانګړی ریوټ ورکونکی چی په عین وخت د تروریزم ضد مقابله هم کوی:
http://www2.ohchr.org/english/issues/terrorism/rapporteur/srchr.htm

د ربړولو او نورو بیرحمیو او غیرانسانی چلند او تحقیر یا سزا پرضد ځانګړی ریوټ ورکونکی:
http://www2.ohchr.org/english/issues/terrorism/rapporteur/index.htm

د قصدی ګرفتاریو په اړه کاری ډله:
http://www2.ohchr.org/english/issues/detention/rapporteur/index.htm

د جبری یا د خپلی خوښی پر خلاف لادرک کیدل:
http://www2.ohchr.org/english/issues/disappearances/index.htm

د صحرایی، لنډو محکمو یا قصدی اعدامونو په هکله ځانګړی ریوټ ورکونکی:
http://www2.ohchr.org/english/issues/executions/index.htm
د نظر او بیان د آزادی د حقونود ساتنی او ودی په هکله ریوټ ورکونکی
http://www2.ohchr.org/english/issues/opinien/index.htm
د هیواد په سطح له صلاحیتونو سره ځانګړی پروسیجرونه
د ځانګړو هیأتونو فهرست چی د هیوا د په سطح صلاحیت ولری په دغه پاڼی کی موندلای شی
http://www2.ohchr.org/english/bodies/spesial/countries.htm

دا چی ځانګړی هیأ تونه خپلی دندی او ماموریتونه څرنګه ترسره کړی مختلفی لاری چاری وجود لری. هغوی کولای شی چی حکومتونو ته د هری موضوع په هکله لیک واستوی؛ له اړوند هیواد څخه لیدنه کتنه وکړی؛ د بحث وړ موضوعاتو باندی ریپوټونه خپاره کړی؛ له دغو فعالیتونو سره هغوی کولای شی چی د خلکو د پوهاوی سطح لوړه کړی او د امنیتی سکتور لخوا د سرته رسیدلو بشری حقونو سرغړونو په شمول پر بشری حقونو باندی تیری بربنډ کړی. ځانګړی هیأتونه دغه راز کولای شی چی د کار د څرنګوالی په هکله لارښونی طرحی کړی او د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی له هغو څخه استفاده وکړی. د بیلګی په توګه د ربړولو او نور و بیرحمیو، غیرانسانی چلندونو یا سزاوو په هکله ځانګړی ریوټ ورکونکی عمومی سپارښتنی صادری کړی چی کیدای شی د مدنی ټولنی د هغو سازمانو لخوا تری استفاده وشی چی د زندانونو او یا توقیفونو د پرسونل په روزلو بوخت دی. په دغو سپارښتنو کی په وضاحت سره څرګنده شوی ده چی خپلواک غیرحکومتی سازمانونه په بشپړه توګه ټولو بندیخانو او هغو ځایونو کی چی انسانان بندیان ساتل شوی دی، لاس رسی ولری. دهغو په جمله کی د روانی ناروغیو د درملنی مرکزونه هم شامل دی ترڅو ولیدل شی چی هلته له ساتل شویو کسانو سره څه ډول چلند کیږی.[1]

[1]- د ربړولو په هکله د ځانګړی ریوټ ورکونکی سپارښتنی په دغی پاڼی کی کتلی شی:
http://www2.ojchr.org7english/issues/docs/recommendations.doc

## اړیکی نیول یا تماسونه

کله چې ځانګړی هیأتونه د بشری حقونو د سرغړونو د ادعاوو په هکل د باوروړ معلومات ترلاسه کړی، هغه کولای شی چې سمدلاسه د OHCHR له لاری حکومت سره تماس ونیسی او د ادعاو په هکله د وضاحت او تبصرو غوښتنه وکړی او دغه راز د مخنیوی او پلټنی په اقداماتو لاس پوری کړی. د مدنی ټولنی سازمانونه چې په امینتی اړوند موضوعاتو باندی کار کوی اکثر د بشری حقونو د سرغړونو د ادعاوو په هکله دغسی مستند معلومات په اختیار کی لری، کولای شی چې ځانګړی هیأت ته یی وړاندی کړی.[1] د ځانګړی هیأت هڅی چې د اړتیاوړ صلاحیت څخه برخمن وی کیدای شی په اړونده قضیه یا پیښه کی دبشری حقونو د سرغړونو مخه ونیسی. هغوی په دی اړه د اړوند دولت له چارواکو سره په مستقیمه توګه تماس نیسی او په خپلو کلنیو رپوټونو یا مطبوعاتی خبری ناستو کی په دی موضوع او لاس ته راغلو ځوابونو باندی رپوټ ورکوی. د ځانګړو هیأتونو ویبپاڼی نمونه یی فورمی لری چې د هغو په استفادی سره غیرحکومتی سازمانونه کولای شی له ځانګړی هیأت سره تماس ونیسی[2]

## له هیواد څخه لیدنه کتنه

یو ځانګړی صلاحیت لرونکی کولای شی چې د یو هیواد له چارواکو څخه وغواړی ترڅو ځانګړی رپوټ ورکونکی ته د یوی لیدنی کتنی اجازه ورکړی. کله چې دغسی یو منظوری ترلاسه کړای شی، ځانګړی صلاحیت لرونکی هیأت کولای شی چې له دغه هیواد څخه د بشری حقونو د وضعیت د پلټنی لپاره لیدنه کتنه وکړی، البته په هغو حدودو کی چې ملی قانون اجازه ورکوی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چې دغه صلاحیت لرونکی هیأت ته یادونه وکړی چې له کومو ځایونو څخه لیدنه کتنه وکړی او همدغه راز هغوی له ستونزو څخه خبروی.

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چې له لیدنی کتنی څخه مخکی ځانګړی صلاحیت لرونکی هیأت ته د اندیښنی وړ موضوعاتو په هکله معلومات ورکړی، ترڅو کله چې هغه له سیمه ایزو او محلی چارواکو سره وینی دا موضوعات ورسره مطرح کړی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چې له ځانګړی صلاحیت لرونکی هیأت سره له هیواد څخه د لیدنی کتنی په وخت کی وګوری (یا که چیری شرایط په خپل هیواد کی ورته اجازه ورنه کړی، په دریم هیواد کی) او همدارازد اندیښنی وړ موضوعاتو باندی ورسره خبری وکړی. دغسی خبری او بحثونه کیدای شی چې په هغه رپوټ کی هم منعکس شی چې صلاحیت لرونکی هیأت یی د خپلی لیدنی کنی په پای کی خپروی. دا ډیره ښه وسیله ده چې د مدنی ټولنی سازمانونه د هغو بشری حقونو سرغړونی بربنډی کړی چې د امنیتی سکتور له خوا تر سره شوی دی او نړیوال کارپوهان دی ته اړوی چې حکومت ته سپارښتنه وکړی چې په څه ډول د بشری حقونو د سرغړونو مخه ونیسی او په خپل چارچلند کی اصلاحات رامنځ ته کړی. کله چې صلاحیت لرونکی هیأت خپل رپوټ خپور کړ او سپارښتنی وکړی دمدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چې په ملی سطح دغه سپارښتنی عملی کړی.

[1]- البته دا هم د یادونی وړ ده چې هر ځانګړی هیأت د دی صلاحیت نه لری چې په هری قضیی او مسألی باندی معلومات ترلاسه کړی. دا په هغو انترنتی پاڼو کی چې په ۱۳ – ۳ چوکاټ کی درج شوی دی، کولای شی پیدا کړی.
[2]- دغه فورمی په دی پاڼه کی موندلای شی http://www2.ohchr.org/english/bodies/chr/special/communications.htm

## رپوټونه، موضوعي مطالعات او مطبوعاتي خپروني

ځانګړي صلاحيت لرونکي هيأت د خپلو فعاليتونو يا د خپلو صلاحيتونو اړوند موضوعي مطالعاتو يا د ځانګړو پوښتنو په هکله په منظمه توګه رپوټونه خپروي. دغه راز ځيني وختونه هغوی د ځينو موضوعاتو يا خاصو حالاتو او نړيوالو نورمونو په هکله چي بايد په يو خاص حالت کي مراعات شي، مطبوعاتي پاڼي خپروي.

د مدني ټولني سازمانونه چي امنيتي اړوند موضوعاتو باندي کار کوي ښايي د موضوعي يا بحث وړ مسائلو لپاره اړوند معلومات يا رپوټونه ولري او ښايي ليوالتيا ولري چي صلاحيت لرونکي هيأت يي وړاندي کړي ترڅو هغه خپاره شي او يا له نورو همنظرو مدني سازمانونو سره شريکي کړي.

## نړيواله جنايي محکمه

نړيواله جنايي محکمه (ICC) د روم د پريکړي پر اساس جوړه شوه او د ۲۰۰۲ کال د جولای په لومړي نيټه يي قانونيت پيدا کړ. تر اوسه پوري ۱۰۴ هيوادونو دغه پريکړه لاس ليک کړي او تصويب کړي يي ده.[1] که څه هم دغه محکمه د ملګرو ملتونو د ارګانونو څخه نه شميرل کيږي خو د هغوی ترمنځ د همکاري اړيکي موجودي دي. دا محکمه عدالت ته د ولس وژني مجرمين، د بشريت پرضد جرايمو او د جګړي مجرمينو د کش کولو لپاره وروستي مرجع ده. دغه محکمه هغه کسان چي په مستقيمه توګه د داسي جناياتو مرتکبين يا مسوولين وي او يا يي ورسره مرسته کړي تر محاکمي لاندي نيسي، که دا پوځي يا سياسي مشران وي او که د چارو نور مسوولين.[2] دا چي دا محکمه ملي عدلي محاکمو ته تکميلي حيثيت لري، نو که چيري يو قضيه د يو ملي حکومت د محاکمو لخوا تعقيب شوي وي، بيا حاجت نشته چي په نړيواله محکمه کي پري غور وشي.

انفرادي اشخاص او غيرحکومتي سازمانونه کولای شي چي د څارنوال د دفتر له لاري محکمي سره تماس ونيسي. د څارنوال دنده دا ده چي تحقيقات په لاره واچوي او هغه کسان تر تعقيب لاندي ونيسي چي د جګړي په جنايتونو، ولس وژني او يا د بشريت پرضد په جنايت باندي تورن وي.[3] څارنوال ښايي د غړي دولت يا د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا او ښايي هم د انفرادي اشخاصو او غيرحکومتي سازمانونو لخوا لاس ته راغلو معلوماتو له مخي په پلټني لاس پوري کړي، البته په دي شرط چي دغه معلومات هغو جنايتونو په اړوند وي چي محکمه د هغو د تعقيب صلاحيت لري.[4]

وروسته له هغې چي د لاس ته راغلو معلوماتو يوه لومړني پلټنه سرته ورسيدله، څارنوال کولای شي چي د محاکمي څخه مخکي د قضاء له اړوندي څانګي څخه غوښتنه وکړي ترڅو د پلټني امر صادر کړي. البته په دي شرط چي څارنوالي ډاډه وي چي د پلټني لپاره يو معقول دليل شته دی. د رښتيا او حقيقت د موندلو لپاره په دي تحقيقاتو کي ټل اسناد تر پلټني لاندي نيول کيږي، هغه چي تورن باندي جرم ثابتوي او يا هغه ته برائت ورکوي. د محاکمي څخه مخکي څانګه د دي صلاحيت لري چي د تورن سړي د نيولو امر صادر کړي. خو اصلي محاکمه د محکمي لخوا ترسره کيږي چي د فيصلي صلاحيت لري. اصلي محکمه د دي صلاحيت هم لري چي د جرمونو قربانيانو ته د حقوقو د اعاده کولو او تاوان ورکولو پريکړه وکړي. کيدای شي چي د پيښي قربانيان د محاکمي په بهير کي په مستقيم يا غير مستقيم ډول ګډون ولري.[5]

---

[1] http://www.cc-cpi.int/statesparties.html.

[2] - د روم د پريکړي ۷ ماده وګوری، http://www.icc-cpi.int/about/ataglance/structure.html

[3] http://www.icc-cpi.int/about/ataglance

[4] Ibid

[5] http://www.icc-cpi.int/about/ataglance/works.html

## له نړیوالو غیرحکومتي سازمانونو او شبکو سره مشارکت

په داسي حال کي چي له في مابین حکومتي سازمانونو سره همکاری د مدني ټولني سازمانونو لپاره چي د امینتي سکتور پر څارني باندي کار کوی، ډیر ښه امکانات برابروی، دغه راز دا هم د هغوی لپاره خورا اهمیت لري چي له نورو سازمانونو سره د نړۍ په سطح تماسونه ټینګ کړی.

د دی همکاری لپاره ډیر مهم پلټفورم کمپاینونه دی. د کمپاینونو له لاری د ټولنیز بدلون لپاره عامه ملاتړ ترلاسه کیدای شی. کمپاینونه ښایی بیلابیلی موخي تعقیب کړی کوم چي ځایی، ملی، سیمه ایزو او نړیوالو اندیښنو ته ښایی پام واړوی. د امنیتي سکتور د حکومتوالی په اړه د کمپاینونو په پام کی نیولو سره سازمانونه په هغه فعالیتونو لاس پوری کوی چي وکړای شی د یو زیات شمیر لوبغاړو پام واړوی لکه ځایي چارواکی، حکومتونه، رسني او نړیواله ټولنه، دا ټول په یو ډول د تصمیم نیونکو سره ارتباط لری. کمپاینونه ډیر وخت تر دی حده پوری رسیږی چي دولتونه مجبوروی ترڅو په اړوندی مسألی باندی تصمیم ونیسي او تر کومه ځایه چي امکان ولری، نوی قوانین وړاندی کړی. د بیلګي په توګه د نړیوالی محکمي تأسیس د هغو کمپاینونو نتیجه ده چي د دی محکمي د جوړولو لپاره یی هڅي کړی او په پای کی یو ائتلاف جوړ کړ. په لومړی سر کی په ۱۹۹۵ کال یواځی یوه کوچنی غیرحکومتي مؤسسه وه چي د داسي یوی محکمي لپاره یی غوښتنه کوله. د وخت په تیریدو سره د نړیوالی محکمي د تأسیس ائتلاف جوړ شوی چي کابو ۲۰۰۰۰ سازمانونه یی غړی شول. هغوی په مختلفو پړاونو کی یو بل ته لاس ورکړ. له لومړنی چمتو کونکی کمیټي څخه نیولی تر د روم کنفرانس پوری او د نړیوالی محکمي لپاره د ملکرو ملتونو د چمتو کونکی کمیسیون څخه نیولی ترد غړو دولتو اسامبلی پوری (دغه پاڼه وګوری: (http://www.iccnow.org) . دغه راز د ځمکنیو مینونو د له منځه وړلو لپاره نړیوال کمپاینونو د اوټاوا د تړون لپاره یی لاره اواره کړه (http://www.icble.org.) او د ماشومانو څخه د سرتیرو په توګه د استفادی ضد ائتلاف د هغو خبرواترو ملاتړ وکړ چي په نتیجه کی یی د ماشومانو د حقونو د منشور سره اختیاری پروتوکول ضمیمه شو. له دغه پروتوکول سره په وسلوالو شخړو کی د ماشومانو حقوق نور هم پیاوړی شول (د زیات معلومات لپاره دغه پاڼه وګوری:http://www.child-soldiers.org).

د یو نړیوال کمپاین غړیتوب معمولاً د زیاتو هڅو او زیارونو غوښتنه کوی. په عین وخت کی دغه ډول غړیتوب په یوی ځانګړی موضوع کی د پوهي او تجربی د تبادلی لپاره یو ډیر ښه پیل دی. نو په دی وجه دغه ډول مشارکت د دواړو اړخونو په ګټه دی. نړیوال غیرحکومتي سازمانونه کولای شی چي د مدني ټولني ځایي سازمانونو سره د هغوی د ظرفیت په سترولو کی مرسته وکړی، هم د ماهیت او هم د اداری لحاظه. دا خصوصاً په هغو هیوادونو کی چي مدني ټولنه ډیره کمزوری ده په خاصه توګه اهمیت لری. د مدني ټولني ځایي سازمانونه باید د مدني ټولني له نړیوالو سازماونو سره د خپلو اړیکو څخه استفاده وکړی او په دی خبری وکړی چي هغوی ته د څه ډول یو ملاتړ ضمانت کیدای شی، آیا یواځی د هغه کمپاین په حدودو کی او که له هغه څخه بهر هم مرستي ورسره کوی.

---

**۱۳ ـ ۴ چوکاټ**
**د وسلو د کنترول کمپاین**

د وسلو د کنترول هغه یو کمپاین دی چي په ګډه د نړیوال عفوی سازمان، IANSA او Oxfam نومو سازمانونو لخوا په لاره اچول کیږی. دغه کمپاین د وسلو نړیوالی سوداګری ته ځیر شوی دی.

---

نن په ټوله نړۍ کې څه د پاسه ۶۰۰ مليونه کوچنۍ او سپکې وسلې وجود لرئ. وسلو او د وسلو سوداګرۍ په نړۍ کې د بې شميرو وسلوالو شخړو، جنايي جرمونو، کورنيو او دولتي زورزياتيو لامل ګرځيدلې دي. که چيرې پر وسلو ټينګ کنټرول ونه لګول شي، بنايي نويو زورزياتيو ته لمن ووهي چې په نتيجه کې نه يوازې پر بشري حق تيري صورت مومي، بلکه د بشري ژوند په بيه هم تماميږي. د جګړې په وخت کې په غيرقانوني وژلو لاس پورې کيږي او د داسې زورزياتيو لمن د پراخيدو په حال کې ده؛ پوځي او امنيتي وسايلو څخه د عسکرو، مليشو او پوليسولخوا ناوړه استفاده کيږي، هغوی حتی د سولې په وخت کې د ملکي خلکو په وژلو، ټپي کولو او نورو جنايي جرمونو لاس پورې کوي.

په نړيواله سطح له وسلو څخه ناوړه استفاده يو سخت کړکيچن ټکي ته رسيدلې ده. په ۲۰۰۲ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي (پخواني) کوفي عنان په يوې وينا کې وويل: «د بيشميرو کوچينو وسلو انبارونو او د هغوی غيرقانوني سوداګريو نړيوالې سولې او امنيت ته ګواښ پيدا کړې دی، د ټولنيزی او اقتصادي پراختيا لپاره هيلې له خاورو سره برابر کړې دي او د ديموکراسي او بشري حقونو راتلونکې يې له خطر سره مخامخ کړې دي.»
له ډيرو کلونو راپديخوا دغه کمپاين د وسلو د خرڅلاو د سختولو لپاره يې هڅه کړې او د حکومتونو پام ورته اړولی، څکه دا دوی دي چې د خپلو اتباعو د امنيت او د بشري حقونو د خوندي ساتنې مسووليت په غاړه لري، په دې موخه دوی بايد د غيرقانوني وسلو د خپريدو مخه ونيسي. د وسلو د کنټرول کمپاين د وسلو د سوداګرۍ د يو نړيوال، الزامي تړون لپاره غږ کوي ترڅو د وسلو د غيرقانوني ليږدولو او قاچاق مخه ونيوله شي. دغسې يوتړون بايد هغسې يو قانوني وسله وګرځي چې هغو سيمو ته د وسلو د استولو مخه ونيسي، چيرته چې پر بشري حقونو باندې د ډيرو ناوړو تيريو خطر موجود دی. دغسې يو تړون د نړۍ له هيوادونو څخه غواړي کله چې د وسلو په سوداګرۍ لاس پورې کوي، نړيوال بشري حقونو او نړيوال بشري قانون ته درناوی ولري.

وروسته له پنځو کلونو مبارزې څخه د وسلو کنټرول په نړۍ کې د يو مليون خلکو ملاتړ ترلاسه کړی دی. دغه مبارزه د خپل برياليتوب لومړې پړاو ته هغه وخت ورسيده چې حکومتونو په ۲۰۰۶ کال کې په ملګرو ملتونو د هغې پريکړې په پلوي رائې ورکړې چې د وسلو د سوداګرۍ د کنټرول لپاره د يو تړون په مسوده کولو باندې پيل وکړي.
سرچينه: http://www.controlarms.org/

## له سيمه ايزو سازمانونو سره مشارکت

د مدني ټولنې سازمانونه چې د امنيتي سکتور له اصلاحاتو سره سراوکار لرئ کولای شي چې په سيمه ايزه سطح کې هم متحدين پيدا کړي. د دې کتاب په دې برخه کې د مدني ټولنې د سازمانونو او سيمه ايزو سازمانونو ترمنځ د ممکنه همکارۍ په هکله نظر اچول شوی، لکه د اروپا د شورا، په اروپا کې د امنيت او د همکارۍ کنفرانس، د اروپا اتحاديه، د امريکايي دولتونو سازمان او د افريقا اتحاديه.

# اروپا

## د اروپا شورا

په ۱۹۴۹ کال کې د خپل تأسیس څخه لږ څه وروسته د اروپا شورا نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو ته په هغې شورا کې د ګډون د موقع ورکولو سره همکاري پیل کړه. [1] البته یوازې د غړو هیوادونو څخه نړیوال غیرحکومتی سازمانونه کولای شي چې په نوموړي شورا کې د ګډون کولو غوښتنه وکړي. کله چې د مدني ټولنې د سازمانونو غوښتنه ومنل شوه، هغوی کولای شي چې د هغې شورا له مختلف ارګانونو سره تعامل ولري، لکه د وزیرانو کمیټه، پارلماني اسامبلي او د ځایي او سیمه ایزو چارواکو کانګرس او دغه راز د اروپا د بشري حقونو له محکمې سره.

**د همکاري څرنګوالي عبارت دي له:**

- د مدني ټولنې نړیوال سازمانونه کولای شي چې په یوې ځانګړې موضوع کې د پارلماني اسامبلې پام نظریاتو ته واړوي، دا معمولاً د پارلماني اسامبلې په مختلفو کمیټو کې د شفاهي یا تحریري بیانونو له ورکولو سره صورت مومي. د قانوني موضوعاتو او د بشري حقونو کمیټه او دغه راز د سیاسي موضوعاتو کمیټه بنایي تر ټولو لومړې کمیټې وي چې د مدني ټولنې نړیوال سازمانونه، خصوصاً هغه چې د امنیتي سکتور د څارنې سره تعامل لري، یوبل سره ارتباط ونیسي. د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې هر پارلماني غړي ته معلومات وړاندې کړي. پارلماني اسامبله هم کولای شي چې په منظمه توګه د مدني ټولنې له نړیوالو سازمانونو څخه د مشورو اومعلوماتو غوښتنه وکړي؛
- د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې د بشري حقونو په اروپایي محکمه کې مشوري وړاندې کړي او یا د انفرادي اشخاصو څخه چې د بشري حقونو د اروپایي محکمې پر بنسټ د هغوی حقوق د امنیتي سکتور لخوا نقض شوي وي، استازیتوب وکړي. ځینې وختونه کیدای شي چې د مدني ټولنې نړیوال سازمانونو ته بلنه وشي چې په اړوندو موضوعاتو کې معلومات او تحلیلونه وړاندې کړي؛
- د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې د ربړولو د مخنیوي اروپایي کمیټې ته معلومات واستوي، خصوصاً کله چې هغه کمیټه له اړوند هیواد څخه د لیدنې کتنې اراده ولري. په اړوند هیواد کې د بندیخانو او زندانونو د وضعیت او شرایطو په هکله معلومات ورکول هغې کمیټې ته خورا اهمیت لري او ورته هرکلي وایي. [2]
- د مدني ټولنې سازمانونه د اروپا د شورا د ډیرو منشورونو په چمتووالي او طرح کې لاس لري، لکه د ربړولو د مخنیوي لپاره د اروپایي کانونسیون او په دې وروستیو وختو کې په اروپا کې د غیرحکومتي سازمانونو د موقفونو په هکله غړو دولتونو ته سپارښتنو کې، کوم چې د ۲۰۰۷ کال په اکتوبر کې د وزیرانو د کمیټې لخوا تصویب شول. دغه کانونسیونونه امنیتي پالیسیو سره په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه اړیکه لري؛
- د مدني ټولنې سازمانونه په سترو کنفرانسونو، غونډو او سمینارونو کې چې د اروپا د شورا لخوا يې بندوبست کیږي، فعاله ونډه لري.

د اروپا شورا د مدني ټولنې له نړیوالو سازمانونو سره د همکاري دایمي اړیکې ټینګې کړي کومې چې هغوی ته په شورا کې د ګډون اجازه ورکوي. د مدني ټولنې ټول سازمانونه کولای شي چې د

[1]- د زیاتو معلوماتو لپاره چې په هغې شورا کې د ګډون کولو شرایط څه دي دغه ویبپانه مطالعه کړئ:
http://www.coe.int/T/E/NGO/pubic/participatory_status/Application_from/Applying.asp

[2]- د ربړولو د مخنیوي لپاره د اروپایي کمیټې په هکله زیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبپانه مطالعه کړئ:
http://www.cpt.coe.int/en/default.htm

غیرحکومتی سازمانونو په کلنی عمومی غونډه کی چی د راتلونکی کال لپاره د عمل عمومی تګ لاره ټاکی برخه واخلی. د مدنی ټولنی سازمانونه چی امنیتی سکتور د څارنی مسائلو سره سراوکار لری کولای شی چی د خپلی اندیښنی وړ موضوعات د نوموړی غونډی اجنداء ته وړاندی کړی.[1]
د مدنی ټولنی نړیوال سازمانونه چی په اروپایی شورا کی د ګډون اجازه لری په مختلفو ډلو تقسیم شوی دی، لکه د بشری حقونو ډله، د جنسیت د تساوی لپاره ډله، روغتیا او د غربت او ټولنیزو ستونزو سره د مبارزی ډله او داسی نور. د مدنی ټولنی سازمانونه چی ګډی ګټی او ګډ تخصصی معلومات لری او غواړی چی خپلی تجربی او نظریات او قوت سره شریک کړی په همدی ډلو کی سره ویشل شوی دی. دغه راز نوموړی ډلی د اروپایی شورا له مختلفو ارګانونو سره تماس لری، د کومو کار چی تر زیاتی کچی اړوندو موضوعاتو پوری ارتباط نیسی. د مدنی ټولنی هغه سازمانونه چی د امنیتی سکتور له موضوعاتو سره اخته دی، ښایی د بشری حقونو په ډله کی ځان ته ځای پیدا کړی. د بشری حقونو ډلی د امنیتی سکتور اړوند موضوعاتو کی پریکړی صادر کړی دی لکه د هغو کسانو چی د وجدانی لحاظه د عسکری د خدمت مخالفت کوی او یا د وسلوالو ځواکونو منسوبینو ته حق ورکول چی ځان ته انجمنونه ولری، یا په ځینو نورو مسائلو لکه د چچینستان او کوزوو په هکله یی خپلی پریکړی صادری کړی دی.[2]

**۱۳ – ۵ چوکاټ**

**د بشری حقونو ډله د وزیرانو په کمیټه باندی غږ کوی چی د عسکری مکلفیت پرضد د وجدانی مخالفت حق په اروپا کی د بشری حقونو په ضمیمه پروتوکول کی شامل کړی**

په ۲۰۰۱ کال کی د نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو د بشری حقونو ډلی چی د اروپا په شورا کی د ګډون کونکی موقف څخه برخمن ؤ د وجدانی مخالفت په هکله یی یوه پریکړه تصویب کړی چی په هغی کی غوښتل شوی دی:

- د اروپا د شورا غړی دولتونه باید د جبری عسکری خدمت پرضد وجدانی مخالفت په خپلو قوانینو کی د اروپا د شورا د پارلمانی اسامبلی او د وزیرانو د کمیټی له سپارښتنو سره سم شامل کړی او هغه وجدانی مخالفین چی بندیان یا تر څارنی لاندی دی، هغو ته د ښپنی ضمانت وکړی؛
- د وزیرانو کمیټه دی وجدانی مخالفت د بشری حقونو په هکله د اروپا کانونسیون په ضمیمه یی پروتوکول کی د اروپایی شورا د اسامبلی له پریکړی سره سم شامل کړی او د اروپا د غړو دولتو په شورا کی د یو حق په توګه د وجدانی مخالفت د بشپړی رسمیت پیژندنی لپاره دی غیرحکومتی سازمانونو له هغو څخه ملاتړ وکړی.

که څه هم د وزیرانو کمیټی د بشری حقونو د اروپایی کانونسیون په ضمیمه یی پروتوکول کی د عسکری جبری خدمت پرضد د وجدانی مخالف حق شامل نه کړ، خو دغی موضوع ته پاملرنه بی حده زیاته وه. د اروپا د شورا د بشری حقونو عمومی ریاست یو رساله خپره کړه چی عنوان ؤ «د عسکری جبری خدمت پرضد وجدانی مخالفت» ترڅو د دغی ستونزی په هکله چی په ډیرو هیوادنو

---

[1]- د غیرحکومتی سازمانونو د کلنی غونډی په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره دغه پانه وګوری:
http://www.coe.int/T/E/public/INGO_Conference/

[2]- د بشری حقونو د ډلی په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره دغه پانه وګوری:
http://www.coe.int/T/E/NGO/public/Grouping/Human_rights/index.asp#TofofPage

کی موجوده وه، د عامه خبرتیا او پوهاوی سطح لوړه کړی. په دی رساله کی د وجدانی مخالفت حق د خوندی ساتنی لپاره د اروپا شورا اصول هم تشریح شوی دی او په هغی کی له ملی چارواکو څخه غوښتل شوی دی چی د وجدانی مخالفت د حق په ساتنه کی له غیرحکومتی سازمانونو سره دی مرسته وکړی.[1]

سرچینه: د بشری حقونو د ډلو د ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۳ کلونو د غونډو په هکله د هغوی رپوټونه، په خاصه توګه د ۲۰۰۱ کال د جون د ۲۱، د سپمتبر د ۲۵ او د ۲۰۰۳ کال د اپریل د لومړی غونډی. دغه رپوټونه په دغی پاڼی کی موندلای شی:
http://www.coe.int/T/E/NGO/public/Grouping/Human_rights/index.asp

د اروپا د شورا او د مدنی ټولنی د نړیوالو سازمانونو د همکاریو د زیاتو معلوماتو په هکله چی د امنیتی سکتور په فعالیتونو کی بوخت دی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی دغی پاڼی ته مراجعه وکړی:http://www.coe.int/T/E/NGO/public/ یا اروپایی شورا سره دی په دغی لاندی پتی تماس ونیسی:
Council of Europe, NGOs Unit, Directorat of Political Affaors F-67075 STRASBOURG cedex, Fax: 0033 3 90 21 47 66

## په اروپا کی د امنیت او همکاری سازمان (OSCE)

د ۱۹۷۰ لسیزی په سر کی په اروپا کی د امنیت او همکاری د کنفرانس له پیل سره د OSCE لپاره امنیت دری اړخونه درلودل: سیاسی – نظامی اړخ، اقتصادی او چاپیریالی او بشری اړخ. د سیاسی – نظامی اړخ څخه مقصد دا دی چی د غړو هیوادونو په منځ کی په پوځی موضوعاتو کی د زیاتو پرانیستیو، شفافیت او همکاری له لاری پوځی امنیت غښتلی کړای شی.[2] په ویانا کی د امنیتی همکاری لپاره جرګه ځای (Forum) د OSCE هغه ستر ارګان دی چی د پوځی – سیاسی اړخ سره بوخت دی. بشری اړخ د OSCE د غړو دولتونو سیاسی مکلفیت تشریح کوی ترڅو بشری حقونه او بنسټیزی آزادی، د قانون حاکمیت او دیموکراسی اصول تأمین کړی.[3] د بشری اړخ ستر ارګان مقر چی د دیموکراتیکو تأسیساتو او د بشری حقونو دفتر (ODIHR) په نامه یادیږی په وارسا کی دی.

د مدنی ټولنی سازمانونه چی د امنیتی سکتور د څارنی په موضوعاتو کی بوخت دی کولای شی چی په ۱۳ – ۶ چوکاټ کی تشریح شویو اړخونو له مخی له OSCE سره همکاری ټینګه کړی.

**۱۳ – ۶ چوکاټ**
**د سیاسی – پوځی او بشری اړخونو له لحاظه د مدنی ټولنی د سازمانونو او OSCE د فعالیتونو ترمنځ مشارکت**

د مدنی ټولنی سازمانونو د OSCE د «یونیفورم لرونکی اتباع: په وسلوال پوځ کی د بشری حقونو

---

[1] - د دغی رسالی متن کولای شی چی له دغی ویبپانی څخه راکښته کړی: www.coe.int/T/E/Human_rights/objcone.pdf

[2] - د سیاسی – پوځی اړخ په هکله زیات معلومات لپاره دغه پاڼه وګوری: http://www.osce.org/activites/18803.htmal
[3] - پوځی اړخ په هکله زیات معلومات لپاره دغه پاڼه وګوری: http://www.osce.org/odihr/13371.htmal

ساتنه» تر عنوان لاندی پروژه کی برخه واخیستله چی  د ۲۰۰۶ کال د سپتمبر په میاشت کی په لاره واچوله شوه. دغه کنفرانس چی د OSCE او د DCAF لخوا نیول شوی ؤ، د جګړی او سولی په وختونو کی د وسلوالو ځواکونو د منسوبینو د بشری حقونود خوندی ساتنی په لارو چارو باندی بحث وکړ. دغه بحث د دی مفکوری پر بنسټ ولاړ ؤ چی که چیری د وسلوالو ځواکونو د منسوبینو بشری حقونه د هغوی په خپلو ملی پوځونو کی خوندی وساتل شی، هغو بنایی د نورو عسکرو او ملی خلکو حقونو ته درناوی ولری. په دی هکله دغه پاڼه وګوری:
http://www.osce.org/item/20641.html

دمدنی ټولنی ښځینه سازمانونه د ODHIR په پروګرام کی برخه لری ترڅو پولیس ورروزی او په ګرجستان او آذربایجان کی له کورنیو زورزیاتیو سره په مقابله کی خپل چلند ته بدلون ورکړی: دا چی د یوی اوږدی مودی څخه را په دیخوا کورنی زورزیاتی یواځی شخصی موضوع ګڼل کیدله، ډیر هیوادونه د کورنیو زورزیاتیو د مرتکبینو د تعقیب او د قربانیانو د ساتنی لپاره له قانونی مقرراتو څخه بی برخی ؤ. نو په دی وجی د مدنی ټولنی محلی سازمانونو د ODIHR په پروګرام کی برخه واخیستله ترڅو: پولیس او نور عامه چارواکی دی ته متوجه کړی او پوه یی کړی چی کورنی زورزیاتی هم یو جرم دی؛ د کورنیو زورزیاتیو په مخنیوی کی د فعال نقش لوبولو لپآره پولیسی منصبداران ورروزی؛ او د دغو موضوعاتو په هکله د قانون د اجرائیی ادارو او د مدنی ټولنی د سازمانونو ترمنځ ښوو همکاریو ته وده ورکړی. دغه پاڼه وګوری:
http://www.osce.org/odihr/itm_2_27443.html

په مونتینګرو کی د مدنی ټولنی سازمانونو د OSCE له ماموریت سره په ګډه د مونتینګرو له حکومت سره مرسته کوی، ترڅو د زندانونو د څارنی لپاره د زورزیاتیو د مخنیوی یو ملی میکانیزم جوړ کړی، څرنګه چی د ملګرو ملتونو د ربړولو ضد منشور په اختیاری پروتوکول (OP-CAT) کی غوښتل شویدی: OP-CAT له هر دولت څخه غواړی د زور زیاتی د مخنیوی لپاره یو ملی میکانیزم له دی صلاحیت سره جوړ کړی چی د ربړولو  د مخنیوی له نړیوال فرعی کمیټی سره په همکاری د تولو بندیخانو څارنه وکړی. په مونتینګرو کی  له OSCE سره په همکاری کی د اجرائیی ادارو، د روغتیا، کورنیو چارو، عدلیی وزارتونو او د شکایتونو د اوریدو د ملی تأسیساتو او د مدنی ټولنی د بیلابیلو سازمانونو استازو تر ۲۰۰۶ کال پوری په پر له پسی توګه غونډی سره وکړی تر څو په مونتینګرو کی د OP-CAT د پلی کولو لپاره د زور زیاتیو د مخنیوی یو مناسب ملی میکانیزم جوړ کړی. دغه پاڼه وګوری:
http://www.osce.org/ite/22951.html

## د امریکا وچه
## د امریکایی دولتونو سازمان (OAS)

د امریکایی دولتونو سازمان یا (OAS) د مدنی ټولنی سازمانونه هم د خپل متحد او هم د خپل انتقاد کونکی په توګه په رسمیت پیژنی. د OAS په ټولو فعالیتونو کی چی ځینی د امنیتی سکتور دڅارنی او دیموکراتیک کولو پوری اړه نیسی، د مدنی ټولنی د سازمانونو د برخی اخیستلو لپاره دری میکانیزمونه جوړ شوی دی. لومړی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی له OAS سره ځان ثبت کړی. دوهم، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د OAS په عمومی اسامبلی او د دغه سازمان په نورو ارګانونو کی د «خاصو میلمنو» په توګه برخه واخلی. دریم، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی د OAS له دارالانشاء او نورو ارګانونو سره موافقی وتړی.

## ثبت کول

د امریکایی دولتونو له سازمان (OAS) سره د ثبتیدو څخه وروسته د مدنی ټولنی د سازمانونو پر مخ د همکاری ډیری دروازی پرانیستی دی. د بیلګی په توګه دغه ډول ثبت د مدنی ټولنی سازمانونو ته اجازه ورکوی ترڅو د OAS د عمومی اسامبلی د پریکړی په مسوده باندی تبصره وکړی، د هغی یوه نسخه ترلاسه کړی او د هغی په تطبیق کی همکاری وکړی. معمولاً ډیری پریکړی د امنیتی پالیسی اړوندو موضوعاتو پوری اړه نیسی، نو له دی امله د پریکړو په مسوده کی د مدنی ټولنی د سازمانونو ګډون دا لاره هواروی چی په سیمه ایزه سطح کی د امینتی سکتور د څارنی اړوند مسائلو په هکله د پوهای او خبرتیا سطح لوړه کړی. د بیلګی په توګه OAS د خپلی ۲۰۰۷ کال عمومی اسامبلی کی په ګڼ شمیر مسائلو کی پریکړی او اعلامیی په تصویب ورسولی: د وسلو کمول او د وسلو د پوهی نه خپرول، په ایکوادور او پیرو کی د پرسونل ضد مینونو له مبارزه څخه ملاتړ، د متعارفو وسلو په لاس ته راوړلو کی د امریکایی دولتونو ترمنځ شفافیت، امریکایی هیوادونه د پرسونل ضد ځمکنیو مینونو څخه پاکول، د بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو خوندی ساتل، په عین وخت کی د تروریزم سره مقابله، د هغو کسانو حقوق ساتل، چی په بندیخانو او نور داسی ځایونو کی ساتل شوی دی، د کوچنیو او سپکو وسلو قاچاق او غیرقانونی سوداګریو ته ګوته نیول، د وسلو د انبارونو منجمنت او امنیت او دغه راز هغه پریکړی چی د بشری حقونو نړیوال قانون او نړیوال بشری حقونو ته درناوی ولری.[1]

د مدنی ټولنی ثبت شوی سازمانونه کولای شی چی د OAS د دایمی شورا او نورو کمیټو په غونډو کی ګډون وکړی او کولای شی چی تحریری بیانونه، البته د نوموړو ارګانونو د موافقی سره خپری کړی.[2] د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره چی د امنیتی سکتور د څارنی، بشری حقونو، تروریزم، عدالت او نمونه دیموکراسیو په موضوعاتو اخته دی، غوره ده چی د عدلیی او سیاسی چارو د کمیټو په غونډو کی ګډون وکړی.[3] سربیره پر دی د ځمکی د نیمه کری د امنیت په اړه کمیټه چی د پرسونل ضد مینونو، د متعارفو وسلو د تر لاسه کولو د شفافیت په هکله د فی مابین امریکایی هیوادونو د منشور د پلی کیدو او د پوځی لګښتونو او د وسلو د ترلاسه کولو په هکله د شفافیت پر مسائلو باندی کار کوی، بنایی د مدنی ټولنی د سازمانو لپاره چی امنیتی موضوعاتو سره بوخت دی د پاملرنی وړ وی.[4]

د مدنی ټولنی سازمانونه چی غواړی له OAS سره ثبت شی باید هغه لارښوونی تعقیب کړی چی د مدنی ټولنی د سازمانونو د ثبتولو ترنامه لاندی د OAS د دایمی شورا لخوا په CP/RES نومی پریکړه کی په تصویب رسیدلی دی.[5] د مدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی چی له OAS سره ځان ثبت کړی، نور زیات معلومات د OAS په ویبپاڼه کی موندلای شی.[6]

---

[1]- د OAS عمومی اسامبلی پریکړی او تصمیمونه چی د ۲۰۰۷ کال د جون په میاشت کی په ۳۷ منظمه غونده کی په تصویب ورسیدل په دغی پاڼی کی موندلای شی: http://www.oas.org/dil/AGO3738E14.doc

[2]- د دایمی شورا او د هغی د نورو کمیټو د کار د څرنګوالی په هکله معلومات په دغی پاڼه کی موندلای شی: http://www.oas.org/consejo/

[3]- د زیات معلومات لپاره د عدلی او سیاسی چارو د کمیټی ویبپاڼه وګوری: http://www.oas.org/consejo/CAJP

[4]- د ځمکی د نیمه کری امنیت نومی کمیټی د کار په هکله زیات معلومات په دی پاڼه کی لوستلی شی: http://www.oas.org/csh/english/

[5]- دا پریکړه کولای شی په دی پاڼه کی پیدا کړی: http://www.civil-society.oas.org/permanent%20Council/CP-RES-759.htm

[6]- http://www.civil-society.oas.org/Pages/Registeration_1_ENG.htm

**۱۳ – ۷ چوکاټ**
**« د نیمی کری امنیت د پیاوړتیا په موخه د سختی بی وزلی، نامساوات او ټولنیز تجرید ته د پام اړولو» تر عنوان لاندی د نیمی کری امنیت نومی کمیټی یو سمینار دایر کړ**

د ۲۰۰۷ کال د مارچ په میاشت کی د OAS د دایمی شورا د نیمی کری امنیت نومی کمیټی یو سمینار دایر کړ چی هدف یی له ستراتیژیکی نظره دی موضوع ته ځیری شوی ؤ چی څرنګه سخته بی وزلی اوغربت د ټولنیزو ناکراریو سبب ګرځی او د دولتونو امنیت له خطر سره مخامخ کوی. د حکومتی کارپوهانو او د نړیوالو سازمانونو ترڅنګ د مدنی ټولنی سازمانونو په دی سمینار کی په فعاله توګه برخه اخیستی وه.

د سمینار په ترڅ کی بحث دوو فرعی عناوینو ته ځیر شوی ؤ: « د لوږی او غربت سره مبارزه او د امنیت تینګښت» او د سیمی – مخصوص عنوان « د غربت سره مبارزه او د امنیت تینګښت»: د هاییتی او مینوسوتا د پرمختیا لپاره نړیوال پلانونه.»

د سمینار په هکله رپوټ په دی پاڼه کی موندلای شی:
http://scm.oas.org/doc/_public/ENGLISH/HIST_07/CP18032E07.doc

## د مدنی ټولنی سازمانونه د «ځانګړو میلمنو» په توګه

که چیری د مدنی ټولنی سازمانونه ونه غواړی چی په OAS کی ځان ثبت کړی، خو لیوالتیا لری چی د OAS د عمومی اسامبلی او یا د نورو ارګانونو په غونډو کی ګډون وکړی، هغوی کولای شی چی د OAS دارالانشاء ته ۴۵ ورځی د غونډی له دایریدو څخه مخکی د یو لیک له استولو سره د ګډون کولو غوښتنه وکړی او په دی ترتیب ورته اجازه ورکول کیږی چی د «خاصو میلمنو» په هغی غونډی کی ګډون وکړی. له لیک سره باید د اړوند مدنی ټولنی د سازمان منشور، موقف، ورستی کلنی رپوټ او مرامنامه (موخه لیک) ضمیمه وی. هغه سازمانونه چی له OAS سره ثبت دی هغوی هم باید په غونډی کی د ګډون کولو لپاره لیک واستوی، خو نورو اسنادو ته اړتیا نه شته.[1]

## د همکاری موافقی

دغه راز د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د OAS د عمومی دارالانشاء سره موافقی وتړی. دغسی موافقی هغوی ته اجازه ورکوی ترڅو له عمومی دارالانشاء سره د خپلو ګټو ګډو ساحو کی مشترکی پروژی په لاره واچوی، حتی د امنیتی سکتور اړوند ساحو کی هم. که چیری د مدنی ټولنی سازمانونه له عمومی دارالانشاء سره د داسی یو تړون لپاره لیوالتیا ولری، هغوی ته سپارښتنه کیږی چی د دارالانشاء له اداری ځانګی سره تماس ونیسی، کوم چی د بیلابیلو پروژو لپاره مسوولیت لری. د همکاری یوه موافقه باید د OAS د عمومی منشی لخوا تر غور لاندی ونیول شی او منظور شی.[2]

---

[1]- د «ځانګړو میلمنو» د موقف په هکله د نورو زیاتو معلوماتو لپاره دغی پاڼی ته مراجعه وکړی:
http://www.civil-society.oas.org/Pages/Registeration_2-ENG.htm
[2]- د همکاری د موافقو په هکله نور زیات معلومات

د OAS په هر ډول نورو فعالیتونو کې د برخې اخیستو لپاره د مدني ټولني سازمانونه  کولای شي د OAS د مدني ټولني د همغږیو اداري ته په دغې لاندې پتې ولیکې:

Civil Society Coordinator
Department of the Americas Secretariat
Organization of American States
1889 F Steet NW
Washington, D.C.20006
Telephone:001-202-458-3081
Fax:001-202-458-3665

## کله چې د مدني ټولني سازمانونه تر فشار لاندې وي مشارکت څرنګه ورسره مرسته کولای شي

د امنیتي سکتور د څارنې اړوند موضوعاتو کې مداخله اکثر له نه بربنډ شویو بشري حقونو نقضونو سره تړواو لري چې د امنیتي سکتور اداري یې مرتکب کیږي. لازمه ده چې دغسې جرمونه بربنډ کړای شي او د هغو مرتکبین د عدالت په وړاندې ودرول شي. د مدني ټولني د سازمانونو هدف کیدای شي دا هم وي چې انفرادي اشخاص چې د امنیتي سکتور د پالیسو له امله په منفي توګه اغیزمن شوی دي وهڅوي او یا ور سره مرسته وکړي ترڅو د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې د خپلو بنسټیزو حقونو د اعادې لپاره دعوا وکړي. دغه ډول فعالیتونه ښایي د چارواکو او د مدني ټولني د سازمانونو ترمنځ د تاوتریخوالي لامل وګرځي. او ښایي د مدني ټولني سازمانونه تر فشار لاندې راوستل شي؛ چارواکي ښایي له مختلفو لارو سره د مدني ټولني سازمانونه یا انفرادي اشخاص سکوت کولو ته مجبوره کړي، لکه د سختو قوانینو جاري کول، تعقیب، بندي کول او یا نظربند کول، د مدني ټولني د سازمانونو د مخابراتو لپاره خنډ پیدا کول، یا هغوی مجبوره کول چې خپل فعالیتونه ودروي او یا د هغوی منابع پرې غوځې کړي. تر ټولو سخت حالت کې هغوی د مرګ په سزا محکومیږي، یا ویرول کیږي، ربړول کیږي، او یا تښتول کیږي او حتی په قتل رسول کیږي.

په داسې حال کې چې هیڅ میکانیزم وجود ونه لري چې د مدني ټولني سازمانونه او انفرادي اشخاص له دا ډول فشارونو او تاوانونو څخه وژغورل شي، یو شمیر نور میکانیزمونه چې د نړیوالو سازمانونو لخوا جوړ شوي دي، شته دي ترڅو تر فشار لاندې سازمانونو سره مرسته وکړي. په لاندې برخو کې هغه میکانیزمونه بیان شوي دي چې د سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو، نړیوالو غیرحکومتي سازمانونو لخوا جوړ شوي دي ترڅو د بشري حقونو مدافعین او د هغوی غړي خوندي وساتل شي.

## نړیوال میکانیزمونه

### د بشري حقونو د مدافعینو په هکله د ملګرو ملتونو اعلامیه او د بشري حقونو د مدافعینو د وضعیت په هکله د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی

په ۱۹۹۸ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د بشري حقونو د مدافعینو په هکله یوه اعلامیه تصویب کړه.[1] دا اعلامیه په حکومتونو باندې غږ کوي چې د هغو حقونو ساتنه وکړي کوم چې د

[1] ـ دغه اعلامیه په دې ویبپاڼه کې موندلای شي:
http://dacessdds.un.org/doc/UNDOC/GEN/N99/770/89/PDF/N9977089.pdf?OpenElment

بشری حقونو د مدافعینو د کار لپاره اهمیت لری، لکه د بیان د آزادی حق، په سولیزه توګه د ټولنی جوړولو د آزادی حق، په ټولیزه توګه د فعالیتونوپه لاره اچول، د معلوماتو لاس ته راوړل او خپرول او نړیوالو او ملی لوبغاړو سره اړیکی نیول. دا ټول د مدنی ټولنی د سازمانونو د کار لپاره اړوند مسائل دی، خصوصاً هغه چی د امنیتی سکتور د دیموکرا تیک کولو لپاره هڅه لری. او د حکومتونو لخوا د دوی د حقونو محدودول د فشار او اختناق لومړی نښی نښانی دی.

په ۲۰۰۰ کال کی د ملګرو ملتونو د عمومی منشی لخوا د بشری حقونو د کمیسیون (چی اوس د بشری حقونو د شورا په نامه یادیږی) په غوښتنه د بشری حقونو د مدافعینو په هکله یو ځانګړی استازی وټاکل شو. د کمیسیون تصمیم دا ؤ ترڅو د دی مقام د جوړولو لپاره د بشری حقونو د مدافعینو په هکله اعلامیی ته نور هم اهمیت ور په برخه شی.
د ځانګړی استازی د صلاحیت یو اړخ د مدنی ټولنی د سازمانونو د غړو لپاره چی په امنیتی پالیسیو کی د مداخلی له امله تر مستقیم فشار لاندی پروتی دی، په خاصه توګه اهمیت لری: ځانګړی استازی د دی امکانات لری چی د بشری حقونو د مدافعینو د انفرادی کسانو، ډلو او سازمانونو پرضد د بشری حقونو د سرغړونو قضیی راواخلی او اړوندو چارواکو ته د « بیړنیو اقداماتو» یا د «تورونو» لیکونه واستوی ترڅو د بشری حقونو دمدافعینو حقوق او بشری حقوق خوندی وساتل شی. «د بیړنیو اقداماتو لیکونه» هغه وخت استول کیږی چی د بشری حقونو د مدافعینو د مدنی ټولنی د سازمانونو حقونه د سرغړونو له خطر سره مخامخ وی یا سرغړونی یی دوام ولری. له دولتونو څخه غوښتل کیږی چی له سرغړونو څخه لاس واخلی او یا د هغوی مخنیوی وکړی. د «ادعاو لیکونه» هغه وخت استول کیږی چی سرغړونی مخکی ترسره شوی وی او هغه اغیزه چی په انفرادی اشخاصو او د مدنی ټولنی په یو سازمان کی ده، هغه د بدلون وړ نه ده. ځانګړی استازی مخکی له دی چی حکومتونو ته لیک واستوی، د باوروړ معلوماتو ته اړتیا لری. [1]

کومو حکومتونو ته چی د بیړنیو اقداماتو یا تورونو لیکونه استول کیږی د ځانګړی استازی لخوا تری غوښتل کیږی ترڅو هغه یا هغوی ته د خپل لاس لاندی نیول شویو اقداماتو په هکله معلومات ورکړی.
د ځانګړی استازی لیکونه او د حکومت ځوابونه عمومی اسامبلی ته د ځانګړی استازی په کلنی رپوټ کی بربنډیږی، دا هغه یوه لاره ده ترڅو حکومتونه تر فشار لاندی ونیول شی چی د ځانګړی استازی له غوښتنو سره سم عمل وکړی. [2]

د بشری حقونو د مدافعینو په هکله ځانګړی استازی وخت په وخت د بشری حقونو د شورا د نورو صلاحیت لرونکو هیأتونو سره حکومتونو ته د بیړنیو لیکونو په تسوید کی همکاری کوی. نور صلاحیت لرونکی هیأتونه چی د انفرادی اشخاصو او د مدنی ټولنی له سازمانونو څخه د شکایتونو د اوریدو صلاحیت لری، کولای شی چی دغه لاندو ډلو ته هم مخ واړوی:

- د قصدی نیولو په هکله کاری ډله؛[3]
- د جبری یا غیراختیاری لادرک کیدلو په هکله کاری ډله؛[4]
- د بشری حقونو د ودی او ساتنی او د بیان د آزادی او د نظر آزادی په هکله ځانګړی رپوټ ورکونکی؛ [5]
- د ربړولو او نورو بیرحیمو، غیرانسانی چلندونو یا سزا په هکله ځانګړی رپوټ ورکونکی. [1]

---

[1]- د ځانګړی استازی ویبپاڼه ټول هغه تفصیلات بیانوی چی تر ګواښ لاندی د مدنی ټولنی سازمانونه یا انفرادی اشخاص ورته اړتیا لری، ترڅو ځانګړی استازی ته یی وړاندی کړی: http://www2.ohchr.org/english/issues/defenders/comlaints.htm

[2]- کلنی رپوټ کولای شی چی د ځانګړی استازی په ویبپاڼه کی مطالعه کړی:
http://www2.ohchr.org/english/issues/defenders/anual.htm

[3]- http://www2.ohchr.org/english/issues/detention/indexhtm

[4] http://www2.ohchr.org/english/issues/disapear/indexhtm

[5]- http://www2.ohchr.org/english/issues/opinion/indexhtm

## د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د تړون ارګانونو سره انفرادی اړیکی یا تماسونه

د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د اوسنیو شپږو تړونونو ارګانونه دا صلاحیت لری تر څو له انفرادی اشخاصو او یا ډلو څخه د بشری حقونو د سرغړونو په هکله شکایتونه ترلاسه کړی.[2] دغه کمیټی کولای شی که چیری شرایط اجازه ورکړی دغسی اړیکی په پام کی ونیسی. یوازی هغه انفرادی اشخاص چی حقوق یی د ادعا له مخی د هغو دولتونو د چارواکو لخوا تر پښو لاندی شوی وی چی د اختیاری پروتوکولونو (لکه د ربړولو ضد کمیټه چی مستقیماً اجازه ورکوی ترڅو د انفرادی اشخاصو شکایتونو ته غوږ ونیول شی) غړی دی، کولای شی چی انفرادی شکایتونه وړاندی کړی. دغه محدودیت د ځانګړو هیأتونو په برخه کی د تطبیق وړ نه دی چی یو نړیوال صلاحیت لری.

په اوسطه توګه دوه یا دری کاله وخت نیسی چی د تړون ارګانونه د انفرادی اشخاصو په قضیو باندی د خپل وروستی تصمیم پریکړه صادره کړی. خو د تړون ارګانونه کولای شی چی په بیړنیو قضیو کی د اغیزمن شویو کسانو پر ضد د تاوان د دوام د مخنیوی لپاره په بیړنیو اقداماتو لاس پوری کړی. دغه بیړنی اقدامات تر هغه وخته په خپل ځای پاتی کیږی چی د تړون ارګان خپل وروستی تصمیم اعلان کړی. دا په خاصه توګه بنایی د مدنی ټولنی د سازمانونو یا انفرادی اشخاصو لپاره چی دفعتاً له خطرونو سره مخامخ دی، اهمیت ولری.

د انفرادی شکایتونو د پروسیجر، د شکایت د څرنګوالی او د شکایت د کولو د شرایطو په هکله نور معلومات چی د تړون د ارګان د غور څخه مخکی باید ترلاسه شی، کولای شی چی د بشری حقونو د عالی کمیساری په ویبپانه کی ومومی.[3]

**۱۳ – ۸ چوکات**
**د OMCT د لاسی کتاب لړی**

د ربړولوضد نړیوال سازمان د لاسی کتاب د لړی (OMCT) له څلورو ټوکونو څخه جوړ شوی دی، هره ټوک د سیمه ایز او نړیوال میکانیزمونو چی د ربړولو او ناوړه چلند د مطلق بندولو څخه د سرغړونو اړوند انفرادی شکایتونو ته غوږ نیسی، د عمل، پروسیجر او قضائی حدودو په هکله تفصیلی لاربښوونی لری. دغه کتابونه په دغی انترنتی پاڼي کی موندلای شی: http://www.omct.org/
(په دی پانه کی په لومړی سر کی د ملګرو ملتونو د تړون ارګانونو ته او بیا نشراتو ته مراجعه وکړی.)

-[1] http://www2.ohchr.org/english/issues/torture/rapporteur/indexhtm
-[2] د بشری حقونو کمیټه، د نژادی توپیرپالنی د له منځه وړلو کمیټه، د ربړولوضد کمیټه، د ښځو پرضد د تبعیض د له منځه وړلو کمیټه، د تولوکډوالو کارګرانو او د هغوی د کورنیو د ساتنی کمیټه او د معلولینو د حقوقو د ساتنی کمیټه هم کولای شی چی دغسی اړیکی په پام کی ونیسی.
[3] http://www2.ohchr.org/english/pettions/individual.htm

## سیمه ایز میکانیزمونه

### د افریقا وچه

#### په افریقا کی د بشری حقونو د مدافعینو په هکله ځانګړی رپوټ ورکونکی

د بشری حقونو او د خلکو د حقونو په هکله د افریقا د بشری حقونو کمیسیون په ۲۰۰۴ کال کی د بشری حقونو د مدافعینو په هکله یوه پریکړه تصویب کړه کومه چی له افریقایی حکومتونو څخه غوښتل شوی دی تر څو د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د ملګرو ملتونو اعلامیه پلی کړی. په همدی کال کی افریقایی کمیسیون د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د ځانګړی رپوټ ورکونکی مقام په افریقا کی په دی موخه چی د افریقا په وچه کی د بشری حقونو  په ودی کی سمونوالی رامنځ ته شی تصویب کړ.[1] تر فشار لاندی انفرادی اشخاص کولای شی چی ځانګړی رپوټ ورکونکی ته مراجعه وکړی، بیا هغه خپله تصمیم نیسی چی حکومت ته د یو دیالوګ د پیل لپاره لیک واستوی او که په اړوندی موضوع باندی یو خبری پاڼه خپره کړی. په ۲۰۰۷ کال کی ځانګړی رپوټ ورکونکی د انګولا، د مرکزی افریقا له جمهوریت، د کانګو برازاویلا، د کانګو له دیموکراتیک جمهوریت، جیبوتی، مصر، سومالیا او زیمبابوی سره دیالوګ په لاره واچاوه. د بشری حقونو د تیرو قضیی ډیری زیاتی وی چی لمن یی په زور نیول شویو بندیانو او د بشری حقونود فعالینو د وژلو څخه نیولی تر غیرحکومتی سازمانو ته د ګواښونو کولو سره چی خپل دفترونه وتړی، پراخیدله.[2]

د افریقا د مدنی ټولنی سازمانونه کله چی په خپلو هیوادونو کی د بشری حقونو د فعالیتونو او د امنیتی سکتور د دیموکراتیک کولو د هڅو له امله له چاروکو سره ستونزه پیدا کوی کولای شی چی د افریقایی کمیسیون د دارالانشاء له لاری ځانګړی رپوټ ورکونکی سره په دغی لاندی پتی اړیکی ونیسی:

Afrian Commission on Human and Peoples' Rights
48 Kairaba Avenue
P.O.Box 673
Banjul, The Gambia
Tel: +220 439 2962/437 7721
Fax: +220 439 076

### د امریکا وچه

#### د بشری حقونو په هکله بین الامریکایی کمیسیون

د بشری حقونو په هکله د بین الامریکایی کمیسیون د نورو صلاحیتونو سربیره دا صلاحیت هم لری چی د انفرادی اشخاصو شکایتونو ته غوږ ونیسی یا د مدنی ټولنی د سازمانونو پرهغو بشری حقونو

[1]- په افریقا کی  د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د ځانګړی رپوټ ورکونکی ویب پاڼه  دغه ده:
http://www.achpr.org/org/english/_info/index_hrd_en.html

[2]- په افریقا کی د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د ځانګړی استازی ۴۱ رپوټ وګوری:
http://www.achpr.org/english/Special%20Mechanisms/HRD/Activity%20Report_eng_pdf

باندی د تیریو پلټنه وکړی چی د بشری حقونو په هکله د امریکایی منشور او د بشری حقونو او د نارینه د دندو په هکله په امریکایی اعلامیی کی خوندی ساتل شوی دی.[1] بین الامریکایی کمیسیون دغه راز کولای شی چی حکومتونو ته امر وکړی په عاجلو قضیو کی انفرادی اشخاصو ته د تاوان د رسیدو د مخنیوی لپاره په ځینو خاصو اقداماتو لاس پوری کړی. ډیری وخت، کله چی د مدنی ټولنی د سازمانونو انفرادی غړی د ملی چاروکو لخوا تر فشار لاندی نیول کیږی، دا په حقیقت کی د هغوی پر بشری حقونو باندی تیری دی. نو له دی امله بین لامریکایی کمیسیون ته عرض کول هغوی لږترلږه دا ګټه ښایی وکړی چی د هغوی حقوق بیرته اعاده شی او د راتلونکو تاوانونو مخه ونیوله شی.

د بین الامریکایی کمیسیون یا د بشری حقونو د بین الامریکایی محکمی لخوا په امر ورکړای شویو احتیاطی اقداماتو کی انفرادی اشخاصو یا مدنی ټولنی سازمانونو ته د ګواښونو یا د هغوی د بشری حقونو د سرغړونو د پیښو پلټنی هم شاملی دی. له دولتونو څخه انتظار کیږی چی د احتیاطی اقداماتو د پلی کولو په هکله کمیسیون ته بیرته رپوټ ورکړی.[2]

## د اروپا وچه

### د بشری حقونو اروپایی محکمه

انفرادی اشخاص او د مدنی ټولنی سازمانونه چی له خطر سره مخامخ دی کولای شی چی د خپلو دولتونو پرضد د اروپایی بشری حقونو محکمی په وړاندی انفرادی شکایتونه وړاندی کړی، البته که چیری د هغوی له حقونو څخه چی د بشری حقونو په هکله د اروپا په منشور او هغه سره په تړل شوی پروتوکول کی تصریح شوی دی، سرغړونی وشی.[3] د هغو دولتونو پرضد چی شکایتونه کیږی، هغوی باید د بشری حقونو په هکله د اروپایی منشورغړی وی.

د بشری حقونو محکمه معمولاً چاروکو سره چی د مدنی ټولنی سازمانونو یا انفرادی اشخاصو تری شکایت کړی دی مستقیما تماس نه نیسی. یواځی په اضطراری حالاتو کی هغه له هغو دولتونو څخه چی تری شکایت شویدی غواړی چی په بیړنیو اقداماتو لاس پوری کړی. محکمه یواځی هغه وخت د بیړنیو اقداماتو امر صادروی چی د یو عرض کونکی ژوند له خطر سره مخامخ وی یا جسمی تاوان ورسیږی، البته هغه هم په دی شرط چی د دغسی یو تاوان د مخنیوی امکان وی. محکمه کولای شی چی له دولتونو څخه وغواړی ترڅو د بیړنیو اقداماتو په هکله د خپلو اجراآتو په هکله بیرته محکمی ته رپوټ ورکړی.

---

1- دغه منشور او اعلامیه په دغی پاڼی کی موندلای شی: http://ww.oas.org/juridico/english/ga-res99/eres1635.htmand http://www.hrcr/American_Convention/oashr.html

2- پر دغو پروسیجرونو باندی په دغی پاڼي کی په تفصیل سره رڼا اچوله شوی ده: http://www.cidh.oas.org/cidh_apps/instrcutions.asp?gc_language=E

3- د بشری حقونو په هکله اروپایی منشور او د هغه ضمیمه یی پرتوکول کولای شی په دغی پاڼه کی وګومی: http://www.echr.coe.int/ECHR/EN/Header/Basic+Texts/Basic+Texts/The+European+Convention+on+Rights+and+its+Protocols/.
نور معلومات چی سړی څرنګه کولای شی محکمی ته خپل عرض وړاندی کړی او دغه راز د بیړنیو اقداماتو په هکله معلومات کولای شی د محکمی په ویبپاڼه کی مطالعه کړی:
http://www.echr.coe.int/ECHR/EN/Header/Applicants/Information+for+applicants/Frequently+asked+questions/

## د اروپا اتحادیه

د اروپا اتحادیې د ۲۰۰۴ کال د جون په میاشت کې د بشری حقونو د مدافعینو په هکله لارښوونې تصویب کړې.[1] دغه لارښوونې هغه لارې چارې ښیې چې د اروپا اتحادیه د هغو په مرسته غواړي په دریم هیواد کې د بشری حقونو د مدافعینو حقوق خوندي وساتي او وده ورته ورکړي. د دغو لارښوونو له مخې د مدنی ټولنې سازمانونه او انفرادی اشخاص چې د امنیتی سکتور د دیموکراتیک کولو د فعالیتونو له امله فشار لاندې راځي، کولای شي چې په خپل هیواد کې د اروپا د اتحادیې له استازو څخه عامه ملاتړ ترلاسه کړي او یا د اروپا اتحادیې څخه وغواړي چې له خپل نفوذ څخه کار واخلي.

**۱۳ ــ ۹ چوکاټ**

**د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د لارښوونې له مخې د اروپا اتحادیې فعالیتونه د مدنی ټولنې د سازمانونو او انفرادی اشخاصو لپاره په خاصه توګه د پاملرنې وړ دي**

په ټولو هیوادونو کې د اروپا اتحادیې استازي مکلف دي چې په خپلو اړوندو هیوادونو کې د بشری حقونو د وضعیت په هکله رپوټ ورکړي. دغه رپوټونه معمولاً د بشری حقونو د مدافعینو په هکله معلومات لري چې په هغو کې د هغوی پرضد هرډول ګواښونه او یا حملې او د اروپا د اتحادیې د

سپارښتونو له مخې احتمالی اقدامات هم شاملې دي، لکه د بشری حقونو دمدافعینو پرضد د ګواښونو غندل یا د هغو پالیسو د بدلون لپاره غوښتنه چې د بشری حقونو مدافعین له خطر سره مخامخوي. د اروپا اتحادیه په منظمه توګه په خپلو اعلامیو او پالیسو کې بدلون تعقیبوي.

هرکله چې د اروپا د اتحادیې ریاست، د اروپا د بهرنیو او امنیتی ګډو پالیسیو لپاره استازی، د اروپا د اتحادیې ځانګړی استازی او سفیران یا اروپایی کمیسیون یو هیواد ته په سفر وځي له اړوند هیواد سره په خپلو خبرو اترو کې بشری حقونو وضعیت ته اشاره کوي، دغه دول یو یادون ښایي چارواکي دې ته واړوي ترڅو د مدنی ټولنې د سازمانونو یا انفرادی اشخاصو پرضد د فشارونو د زیاتولو مخه ونیسي.

د اروپا د اتحادیې د غړو هیوادونو هیأتونه د بشری حقونو د مدافعینو او د هغو فعالینو چې د امنیتی سکتورونو لخوا د زورزیاتیو د پای غوښتنه کوي، په محاکمو کې برخه اخلي او هغه څاري. په داسې محاکمو کې د هغوی حضور ښایي یو دولت دې ته واړوي چې د غیرعادلانه محاکمې مخه ونیسي او د بشری حقونو د مدافعینو پرضد د ناوړه او نامناسبو سزاو له ټاکلو څخه مخ واړوي.

**سرچینه**: دغه لارښوونې، «د مصونیت تأمین ــ د بشری حقونو مدافعینو په هکله د اروپا د اتحادیې لارښوونې» کولای شي په دغې پاڼې کې پیدا کړي: http://ue/.eu.int/uedocs/cmsUpload/GuidlinesDefenders.pdf
او د بشری حقونو مدافعینو په هکله د اروپا د اتحادیې لارښوونو د تطبیق د لومړی کتنې په هکله د شورا نتایج په دې پاڼه کې موندلای شي: http://www.consilium.europa.eu/ueDocs/cms_Data/docs/hr/news67.pdf

په ۱۳- ۹ چوکاټ کې له معلوماتو څخه معلومیږي چې ترفشار لاندې مدنی ټولنې سازمانونه او انفرادی اشخاص باید د هر هغه خطر سره چې دوی ورسره مخامخ کیږي، د اروپا ټولنه خبر کړي. د اروپا اتحادیه یوازې هغه وخت کولای شي چې په دې اړه عام بیان ورکړي او د پالیسیو د بدلون

[1] - دغه لارښوونې، «د مصونیت تأمین ــ د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د اروپا د اتحادیې لارښوونې» کولای شي په دغې پاڼې کې پیدا کړي: http://ue/.eu.int/uedocs/cmsUpload/GuidlinesDefenders.pdf

غوښتنه وکړی، په یو سیاسی دیالوګ کی د مدنی ټولنی د سازمانونو او د انفرادی اشخاصو وضعیت ته ګوته ونیسی یا هیأت واستوی چې له لازمو معلوماتو څخه برخمنه وی. د مدنی ټولنی سازمانونه په ډیره ښه توګه کولای شی چې د خپل اړوند هیواد یا سیمی د بشری حقونو د وضعیت په هکله د اروپا اتحادیی ته معلومات ورکړی. د اروپا د اتحادیی د هیأتونو سره تماس نیولو یو لست په دغی پاڼی کی موندلای شی: [http://ec.europa.eu/external_relations/delegations/inro/web.htm](http://ec.europa.eu/external_relations/delegations/inro/web.htm)

د مدنی ټولنو د سازمانونو لپاره سپارښتنه کیږی چې د اروپا د اتحادیی له هیأتونو سره ښیی اړیکی وساتی، حتی که چیری هغوی تر فشار لاندی هم نه وی. دا ډول اړیکی هغوی لپاره آسانتیاوی برابروی ترڅو د اندیښنی وړ هرتحول او پرمختګ په هکله د اروپا اتحادیی ته معلومات وړاندی کړی او په دی هکله ورسره بحث وکړی چې دغه اتحادیه په کومو برخو کی هغوی سره مرسته کولای شی.

## د نړیوالوغیرحکومتی سازمانونو لخوا جوړ شوی میکانیزمونه

د یاد شویو میکانیزمونو سربیره یو زیات شمیرغیرحکومتی سازمانونه د بشری حقونو د مدافعینو او د هغوی د حقونو د ساتنی لپاره کار کوی. د امنیتی سکتور اړوند موضوعاتو کی د مداخلو له امله د مدنی ټولنی د سازمانونو تر فشار لاندی غړی کولای شی چې له دغو میکانیزمونو څخه کار واخلی.

**له خطر سره مخامخ شویو انفرادی اشخاصو لپاره د ښښنی د نړیوال سازمان طرح**
له خپل تأسیس څخه راپدیخوا د ښښنی نړیوال سازمان د بشری حقونو د فعالینو او ډلو چې د خپلو فعالیتونو له امله تل له خطر سره مخامخ دی، د ساتنی او هغوی سره د مرستو لپاره مبارزه کوی.

کله چې یو څوک سمدلاسه د بشری حقونو د تیریو سره مخامخ شی او یا ژوند ته یی ګواښ وشی د ښښنی نړیوال سازمان د «بیړنیو نومو اقداماتو» څخه استفاده کوی ترڅو په ټوله نړی کی خپل فعالین تر کومه ځایه چې امکان ولری ژر بسیج کړی. کله چې یو بیړنی اقدامات پیل شی، د ښښنی د سازمان په زرګونو فعالین، چارواکو یا غیردولتی کنټرول لرونکو لوبغاړو ته چې د بشری حقونو د تیریو د مخنیوی کنټرول په لاس کی لری لیکلونه او برېښنا لیکونه استوی.

**۱۳ ــ ۱۰ چوکاټ**
**د ښښنی د نړیوال سازمان د «بیړنی اقدام» په نتیجه کی د ۲۰۰۸ کال په جنوری کی د سپینی روسیی د بشری حقونو یو ځوان مبارز د نړیوال فشار په نتیجه خوشی شو**

د سپینی روسیی د حکومت د مخالفو ځوانانو سازمان چې د «ځوانی جبهی » په نامه یادیږی، د هغه مشر، Zmitser Dashkevich د۲۰۰۶ کل په نومبر کی د «یوغیرراجستر شوی مظاهری د بندوبست کولو» له امله په ۱۸ میاشتی بند محکوم شو.

د ښښنی سازمان د ۲۰۰۷ کال په پسرلی کی «بیړنی اقدام» په لاره واچاوه. د ښښنی نړیوال سازمان د نړی په ګوټ ګوټ کی خپلو زرګونو فعالینو ته لیکونه واستول ترڅو د سپینی روسیی د نړیوالو چارو وزارت ته د بشری حقونو د سرغړونو، د بیان د آزادی د ټکولو پرضد د احتجاج په توګه څه د پاسه لس زره کاغذی کرنونه واستوی او د Zmitser Dashkevich د خوشی کولو غوښتنه دی وکړی.
Zmitser Dashkevich د نړیوال فشار په نتیجه کی د ۲۰۰۸ کال په جنوری کی خوشی شو.

سرچینه:
http://www.amnesty.org/en/news-and-updates/good-news/belarusian-youth-actvist-freed-20080125

د مدنی ټولنی سازمانونه او انفرادی اشخاص چی هڅه کوی ترڅو د امنیتی سکتور لخوا یا د هغه په دننه کی بشری حقونه خوندی وساتل شی او د بشری حقونو د فعالیتونو له امله تر فشار لاندی دی، کولای شی چی د بښنی له نړیوال سازمان څخه وغواړی ترڅو د یو «بیړنی اقدام » لپاره امر صادر کړی.[1]

## د سولی نړیوالی لواوی

د «سولی نړیوالی لواوی» یو نړیوال غیرحکومتی سازمان دی چی د بشری حقونو د فعالینو (د هغو په جمله کی هغه فعالین چی د بشری حقونو او امنیتی سکتور باندی کار کوی) د ساتنی لپاره یی یو ځانګړی میکانیزم جوړ کړی دی. د سولی نړیوالی لوا له هغو سازمانونو، ډلو او انفرادی اشخاصو سره چی په نړی کی د بشری حقونو د ودی او خوندی ساتنی لپاره کار کوی او له خطرونو سره مخامخ کیږی د ملتیا په موخه د نړیوالو رضاکارانو تیمونه استوی.
د نړیوالو رضاکارانو شتون چی د سولی د نړیوالی لوا لخوا استول شوی دی، له خطر سره مخامخ انفرادی اشخاص او محلی سازمانونو ته د کار په ساحه کی یوه ستره ډاډینه ده. د هغوی شتون کیدای شی چاړواکی (غیرحکومتی لوبغاړی) له دی څخه واړوی چی د امنیتی سکتور پر غړو باندی فشار راوړی او یا هغوی باندی حمله وکړی، ځکه که چیری نړیوال شهادت موجود وی د داسی عملونو سیاسی تاوان ډیر لوړ دی او چاړواکی او د زور خاوندان له خپل اعتبار څخه ویره پیدا کوی. سربیره پر دی له انفرادی اشخاصو یا د مدنی ټولنی محلی سازمانونو سره چی دبشری حقونو په خطر لرونکو ماموریتونو بوخت دی، نړیواله ملتیا یو ډول معنوی ملاتړ هم ګڼل کیږی.[2]

د سولی نړیوالی لوا په لومړی سر کی د لاتینی امریکا په هیوادونو لکه مکسیکو، ګواتیمالا او کولمبیا کی د خطر سره مخامخ مدنی ټولنی سازمانونو سره ملتیا کوی، خو په نیپال او اندونیزیا کی هم فعال دی. ډیری هغه سازمانونه او انفرادی اشخاص چی د سولی نړیواله لوا ورسره ملتیا کوی د امنیتی سکتور اړوند بشری حقونو په فعالیتونو کی بوخت دی.

## د بیړنی مرستی د جبهی لومړی کرښه

د The International foundation Front Line یا د جبهی لومړی کرښه نړیواله مؤسسه هغه یو سازمان دی چی له خطر سره مخامخ بشری حقونو مدافعینو سره ۲۴ ساعته مرسته کوی. د دغی مؤسسی د ټیلفون شمیره دا ده: (489 00 121 353+) چی د بشری حقونو مدافعین کولای شی ورسره تماس ونیسی او په عربی، انګلیسی، فرانسوی او روسی ژبو خپله ستونزه بیان او د مرستو غوښتنه وکړی. د جبهی لومړی کرښه په بیړنیو حالاتو کی سمدلاسه په نړیواله سطح په عمل لاس پوری کوی:

[1]- له خطر سره مخامخ شویو انفرادی اشخاصو لپاره د بښنی د نړیوال سازمان طرح او د «بیړنیو اقداماتو» په هکله زیات معلومات د بښنی د سازمان په ویبپانه کی موندلای شی: http://www.amnesty.org/en/individuals-at-risk

[2]- د سولی د نړیوالو او د ملتیا په هکله نور زیات معلومات په دغی پاڼه کی موندلی شی: http://www.peacebrigades.org/1165.html

اړوندو چارواکو سره تیلفونی تماس نیسی یا فکس ورلیږی، یا موضوع د اروپا د اتحادیی او یا د حکومتی استازو سره مطرح کوی. له دی لارو هغوی لومړنی عملی مرستی برابروی، مثلاً د فعالینو لیږدول یو بل ځای ته یا طبی او حقوقی مرستی.[1]

**۱۳ ـ ۱۱ چوکاټ**
**د نورو نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو لخوا د محافظت طرحی او نقشی**

سربیره پر یاد شویو، یو شمیر نور نړیوال غیرحکومتی سازمانونه موجود دی چی د بشری حقونو په فعالیتونو کی د بوختیا له امله له خطرونو سره مخامخ شویو انفرادی اشخاصو او سازمانو سره مرسته کوی او له هغوی څخه محافظت او ساتنه کوی. د یو څو محدودو نومونه و د هغوی اړوندی مرستی دلته د نمونی په توګه اخیستل کیږی:

بی سرحده خبریالان: مطبوعاتی خبرپانی او حفاظتی سفارشی مکتوبونه
http://www.rsf.org/article.php3?id_article=9594 .

د ښځو د حقونو د مدافعینو د عمل اقدام:
http://www.defendingwomen-defendingrihts.org/index.php

د بشری حقونو د مدافعینو د محافظت لپاره د څارنی مؤسسه: د بشری حقونو لپاره یو نړیوال فیدراسیون (FIDH) او د ربړولو ضد نړیوال سازمان ګډ پروګرام (OMCT) :
http://www.fidh.org/artivle.php3?id_article=4627

بشری حقونه په لومړی سر کی: د بشری حقونو د مدافعینو پروګرام:

http://www.humanrightsfirst.org/defenders/hrd_intro/hrd_intro.htm

له خطر سره د مخامخ شویو پوهانو شبکه: تیارسی او کمپاینونه:

http://scholarsatrisk.nyu.edu/Beta/Activites/Alerts-Campaigns

د امنیتی سکتور له ادارو سره د خپلی بوختیا او په خپلو اړوندو هیوادونو کی د عمومی وضعیت په پام کی نیولو سره تر فشار لاندی مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی خپله تصمیم ونیسی چی کوم یو پورتنی سازمان ته د مرستی په موخه مخ اړوی.

دولتی میکانیزمونه

**د بشری حقونو ملی سازمانونه**

د نړیوال بشری حقونو د قانون له مخی دولتونه مکلفیت لری چی د امنیتی سکتور دځواکونو لخوا د بشری حقونو کومی سرغړونی چی شوی دی او فرد یا ډله تری تاوانی شوی ده، پلټنه وکړی. د دغه

[1] - http://frontlinedefenders.org/emergency

مکلفیتونو د پوره کولو او په عمومی توګه د هیواد په دننه کی د بشری حقونو د خوندی ساتنی او ودی لپاره اکثرو دولتونو د بشری حقونو خپلواک کمیسیونونه تأسیس کړی دی. د بشری حقونو خپلواک تأسیسات په مختلفونو شکلونو سره سر راپورته کړی دی، لکه د بشری حقونو ملی کمیسیونونه، د شکایتونو د اوریدو اداری، د عامه دفاع دفترونه یا د بشری حقونو مشورتی تأسیسات. ډیری دغه تأسیسات دنده لری ترڅو د انفرادی اشخاصو د بشری حقونو څخه د سرغړونو شکایتونو او عرضونو ته غوږ ونیسی او د هغو په هکله پلټنه وکړی. خو هغوی د خپلو پلټنو د نتایجو په هکله الزامی تصمیمونه نشی نیولای، خو بیاهم کولای شی چی موضوع د اړتیا په صورت کی قضاء ته وړاندی کړی.

د بشری حقونو ملی تأسیسات له حکومت څخه خپلواک دی، نو له دی کبله کولای شی چی د حکومتی ارګانونو لخوا تر فشارلاندی د مدنی ټولنی سازمانونو یا د هغو سازمانونو د انفرادی غړو په ساتنه کی ستره ونډه واخلی. په ټوله نړی کی د بشری حقونو د ټولوملی تأسیساتو پتی کولای شی چی د بشری حقونو د ملی تأسیساتو په فوروم کی وموومی:
http://www.nhri.net/nationaldattalist.asp

## نتیجه

د دی کتاب په تیرو فصلونو کی د مدنی ټولنی د سازمانونو هغو مهارتونو باندی بحث وشو چی هغوی یی د امنیتی سکتور د حکومتوالی د دیموکراتیک کولو ودی ته اړتیا لری، لکه څارنه، بودجوی تحلیل او د حقوقو دفاع او داسی نور. د دغو مهارتونو سربیره د مدنی ټولنی سازمانونه باید وکړای شی له نړیوالو شریکانو سره اړیکی ټینګی کړی او له نړیوالی ټولنی سره اتحادونه جوړ کړی ترڅو پر امینتی سکتور باندی عامه څارنی ته نوره هم وده ورکړی.

مختلف میکانیزمونه چی په دی فصل کی معرفی شول له نړیوالی ټولنی سره د تعامل لپاره د پیل مهم ټکی دی: د ملګرو ملتونو د بشری حقونو په سیستم کی برخه اخیستل، له سیمه ایزو سازمانونو سره اړیکی ټینګول او د غیرحکومتی نړیوالو سازمانونو او شبکوسره مشارکت ترڅو ګډ هدفونو ته ورسیږی او کله چی تر فشار لاندی راشی د مرستو غوښتنه وکړای شی.

خو کوم میکانیزمونه چی په دی فصل کی وړاندی شول له نړیوالی ټولنی سره د تعامل او بوختیا لپاره د یوی بشپړی لارښوونی د امکان په توګه ونه ګڼل شی. نړیوال او سیمه ایز ارګانونه له مدنی ټولنی سره د تعامل لپاره نوی میکانیزمونه جوړوی تر څو د مدنی ټولنی سازمامونه وکړای شی له هغو څخه په استفادی سره په امنیتی سکتور کی د اصلاحاتو لمن پراخه کړی. دغه راز دا هم د مدنی ټولنی سازمانونو پوری اړه لری ترڅو له خپلو همنظرو سازمانونو سره په محلی او نړیواله سطح کی ګډو هدفونو ته د رسیدو لپاره همکاری وکړی.

## د مدنی ټولنی د یو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

### د ملګرو ملتونو د بشری حقونو له سیستم سره مشارکت

- د ملګرو ملتونو د تړون د ارګان له سیستم سره همکاری
- د ملګروملتونو د تړون ارګانونو ته د بدیلو ریپوټونو استول
- د ملګرو ملتونو د تړون د ارګانونو د خاصو تحقیقاتو غوښتنه کول

- د ملګرو ملتونو د تړون د ارګانونو د خاصو تحقیقاتو غوښته ( CAT او CEDAW ) د بشری حقونو د سیستماتیکو سرغړونو په حالت کی
- د بشری حقونو د شورا د څانګړی رپوټ ورکونکی سره همکاری.

له نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو او شبکو سره مشارکت

- ګدو هدفونو ته د رسیدو په موخه له همنظرو غیرحکومتی سازمانونو او د مدنی ټولنی له سازمانو سره مشارکت
- له نورو غیرحکومتی سازمانونو او د مدنی ټولنی له سازمانونو سره په نړیوال کمپاین کی مشارکت

**له سیمه ایزو سازمانونو سره مشارکت**

- د اروپا د شورا د مدنی ټولنی له سازمانونو سره د همکاری په دایمی جوړښت کی برخه اخیستل
- د دیموکراتیکو تأسیساتو د بشری حقونو لپاره د OSCE له دفترونو سره همکاری
- د امریکایی دولتونو له سازمان سره همکاری
- د بشری حقونو له نورو سیمه ایزو سارمانونو سره همکاری

د فشارونو په وخت کی له نړیوالو شریکانو څخه د مرستی غوښتنه

- د ملکرو ملتونو د بشری حقونو د تړون ارګانونو ته د انفرادی لیکونو استول
- د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د ملګرو ملتونو له ځانګړو استازو اود ملګرو ملتونو د بشری حقونو د شورا د نورو ځانګړو هیأتونو سره همکاری
- د بشری حقونو د مدافعینو په هکله د افریقا د ځانګړی رپوټ ورکونکی، د بشری حقونو په هکله د بین الامریکایی کمیسیون، د بشری حقونو له اروپایی محکمی یا د بشری حقونو د مدافعینو سره د مرستی لپاره د اروپا د اتحادیی د غړو هیوادونو له استازو سره همکاری
- د نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو لخوا د جوړ شویو میکانیزمونو څخه د مرستی غوښتنه

# ۱۴ فصل

RIZAL DARMA PUTRA

# اضطراری یا بیړنی حالات او تنګ یا محدود چاپیریالونه

Rizal Darma Putra

# ۱۴

# اضطراری یا بیړنی حالات او تنګ یا محدود چاپیریالونه

د یوی غښتلی او خپلواکی مدنی ټولنی شتوالی اوس د دیموکراسی یو پراخ منل شوی اصل ګرځیدلی دی. د ملکی ورځنیو جاری چارو کی د خپلواکو وګړو فعال ګډون چارواکو ته د معلوماتو سرچینی دی او د ټولنی د اړتیا پر بنسټ ورته تخصصی خدمات برابروی او سربیره پردی د قدرت له تمرکز او ناوړه استفادی څخه مخنیوی کوی.

خو په بیړنیو حالاتو[1] او محدودو چاپیریالانو کی د مدنی ټولنی کار تر بل هر وخت څخه ډیر زیات اهمت لری، ځکه چی په ټولنو او د بیان پر آزادیو بندیز د ولسی وګړو توان او قدرت مطلقاً محدودوی چی نشی کولای ټولنی جوړی کړی او حکومتی چارواکو باندی نفوذ ټینګ کړی.

په دغه فصل کی په هغو لارو چارو بحث شوی او هغه لارښوونی شوی دی چی د مدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی چی په داسی حالاتو کی امنیتی سکتور حساب او کتاب ته کښینوی. دا فصل په دوو برخو ویشل شوی دی. لومړی برخه د تاریخی نظرله لحاظه بیړنی حالات معرفی کوی او بیا په بیړنیو حالاتو کی د اضطراری یا فوق العاده صلاحیتونو څخه د استفادی منطق باندی رڼا اچوی او وروسته په ملی اساسی قوانینو او د بشری حقونو په نړیوالو تړونونو کی د بیړنیو صلاحیتونو څخه په استفادی د اوسنیو قانونی محدودیتونو په هکله خبری کیږی. په دوهمه برخه کی هغه لارښونی وړاندی شوی دی چی د مدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی په بیړنیو حالاتو کی مسوول وزیران حساب ورکونکی وګرځوی او وکړای شی چی بشری حقونو ته وده ورکړی. په دی برخه کی په دی

[1]- هغه اقدامات چی د یو حقوقی پروسیجر پر اساس د چارواکو صلاحیت پراخوی او پر مدنی آزادی محدودیت لګوی، هغو ته قانونی بیړنی حالات ویل کیږی. خو بیړنی حالات چی د هغه یو وضعیت څخه را پیدا کیږی چی دولت د یوی اوږدی مودی لپاره یو تنګ او محدود چاپیریال جوړوی او مدنی آزادی محدودوی، پرته له دی چی رسماً د بیړنیو حالاتو اعلان وکړی، دا په حقیقت کی فعلی یا غیررسمی بیړنی حالات دی. البته سپارښتنی او ملاحظات په عمومی توګه د دواړو حالاتو په برخه کی د تطبیق وړ دی. خو په ورستی ډول کی د بیړنی حالت نه اعلان د یو استثنایی حالت معنی لری چی ښایی د چارواکو له خوا تر پوښتنی لاندی راشی.

هکله هم بحث شوی چی د مدنی ټولنی سازمانونه څرنګه کولای شی د خپل پرسونل او خپلو غړو ته ګواښونه محدود کړی؛ البته د بشری حقونو د مدافعینو د ساتنی لپاره نړیوالو قوانینو باندی په یولسم او دیارلسم فصلونو کی بحث وشو.

دغه فصل مشخصاً هغه نقش تر ارزونی لاندی نیسی چی د مدنی ټولنی سازمان یی کولای شی د ټولنیزو شرایطو څخه د راپیدا شوو بیړنیو حالاتو کی د امنیتی سکتور په څارنی کی ولوبوی. البته په دی فصل کی د هغو بیړنیو حالاتو اغیزو ته مستقیماً اشاره نه کوی چی د طبیعی ناورینونو یا د ساری ناروغیو له امله رامنځ ته کیږی.

## په تاریخ کی بیړنی حالات

په استثنایی حالاتو کی له فوق العاده صلاحیتونو څخه کار اخیستل د نړی په تاریخ کی کومه نوی پدیده نه ده. له ډیری پخوا زمانی څخه واکمنان د بیړنی حالاتو تر نامه لاندی له فوق العاده صلاحیتونو څخه کار اخیستی دی – څرنګه چی لړی حتی د لرغونی یونان[1] تاریخ ته رسیږی، کوم وخت چی یو واکمن به وټاکل شو ترڅو د کړکیچ او نابودی سره د مخامخ شوی مدنی – دولت[2] د ژوند د ژغورنی لپاره له یو ستر او پراخ صلاحیت سره حکومت وکړی. نوری بیلګی: د منځنی پیړیو انګلند کی د پوځی قانون وضع کول، د ملکی قانون پر بنسټ د بیړنیو صلاحیتونو څخه استفاده د De létat de SiŹge طرح – په فرانسه کی د ۱۷۹۱ کال د کورنی جګړی په وخت کی، د دوهمی نړیوالی جګړی په وخت کی په Hawaii کی پوځی قانون لګول او فلیپین کی په ۱۹۷۱ کی د Marcos د دیکتاتوری په وخت کی د ناحقو توقیف کولو پر ضد د دعوا د حق تعلیقول.

له بیړنیو صلاحیتونو څخه وخت په وخت ناوړه استفادی شوی او لمن یی له هغه څخه هم زیاته پراخه شوی چی په حقیقت کی د بیړنیو حالاتو لامل ګرځیدلی دی. سیاسی مشرانو تل پرته له دی چی د دولت د ارګانونو د عادی چلند په پام کی ونیسی، د بیړنیو حالاتو په بیړنتوب باندی استدلال کړی. دغه راز تل په همداسی شرایطو کی پر بشری حقونو باندی سخت تیری شوی دی. خصوصاً مطلق العنان واکمنانو د بیړنیو حالاتو د اعلان څخه په اصطلاح د «قانونی وسیلی» په توګه تل کاراخیستی، ترڅو بشری حقونه وټکوی او خپل سیاسی مخالفین له منځه یوسی.

خو په شلمه پیړی کی د هغه سنتی نقش څخه جلا چی دولتونو د فردی حقونو د تصور په وړاندی په نړیوال قانون کی لوبولی دی، تدریجی بدلون او ورسره موازی په نړیواله او سیمه ایزه سطح کی د بشری حقونو یو شمیر قوانینو تصویب، د ملی کړکیچونو په وخت کی د قدرت څخه په استفادی باندی ځینی محدودیتونه ولګول. دغسی یو تحول په بیړنیو حالاتو کی د مدنی ټولنی نقش ته یو بل اهمیت ور په برخه کړ ترڅو حکومتونه حساب او کتاب ته کښینوی او د عامه نړیوال قانون عالمی اصول مراعات کړی.

## بیړنی صلاحیتونه: منطقی او لاربنودونکی اصول

ځینی داسی استدلال کوی چی هرڅومره چی وضعیت کړکیچن او ناخوال او ګواښونه حتمی هم وی، فردی حقوق باید په ټولو حالاتو کی خوندی وساتل شی. دغسی یو دریځ یا نظر یواځی یوه غوښتنه ده،

[1] Reinach, Théodore, De létat de SiŹge – Etude historique et juridque, F. Pichon, 1885, p.12.
[2] د ارسطو له نظر دغه ډول واکمنان په حقیقت کی « منتخب مستبدین » ؤ. -Aristotle, The Politics, Penguin Classics, New York, 1992, p.136

خو په عمل کې غیرعملي ثابت شوي دي. ملي تأسیسات چې د بشري بنسټیزو حقونو د ساتنې لپاره مسوولیت په غاړه لري، کله چې له یو حتمي خطر سره مخامخ شي، نشي کولای چې لاس تر زنې کښېني او خپله نابودي په خپلو سترګو ووینې. د Paul Mahoney د خبرې په مصداق چې د بشري حقونو په هکله په اروپايي منشور کې د بیړنیو صلاحیتونو پر استدلال او توجیه باندې خبرې کوي وايي: «دولتونه باید د محتومو ګواښونو سره د مقابلې لپاره کافي وسلې (وسیلې) په لاس کې ولري، غیر له دې په دې منشور کې د کومو حقونو او آزادیو ضمانت چې شوی غیراغیزمن کیږي.»[1] که چیرې په عمل کې ټول فهرست شوي فردي حقونو ته درناوی د حکومت شنډ کیدولامل وګرځي، هغه سیاستوالان چې د فردي حقونو د قرباني کولو پلوي کوي د عامو خلکو په منځ کې ملاتړ پیدا کوي او په دې ډول د بشري حقونو د فعالینو دریځ سره سازش ځغمل کیږي. دې مسألې ته یوه ډېره حساسه لاره دا ده ترڅو د یوې لنډې مودې په مخ څرګند تعریف شوي بیړنۍ صلاحیتونو ته اجازه ورکړ شي او په عین وخت کې د دایمي محدودیتونو مخنیوی وشي.

دغسې یوه فکر او باور د ډیرو هیوادونو په ملي قوانینو کې د بیړنیو صلاحیتونو د استفادې په هکله بیان شوي دي: ډیری قانوني سیستمونه د بشري حقونو له مکلفیتونو څخه د تنازل لپاره په بیړنیو حالاتوکې ځینې مقررات لري، خو د بیړنیو صلاحیتونوڅخه استفاده یو شمیر لارښودونکو اصولو پورې تړلې دي، لکه د اعلام اصول، عدم تبعیض، استثنايي ګواښ، مناسبت او محدودیت. دغه اصول په ۱۴ ــ ۱ چوکاټ کې نورهم په جزئیاتو سره بیان شوي دي.

**۱۴ ــ ۱**

**په نړیوال قانون کې بیړنی حالات**

**د بشري حقونو او د بیړنیو حالاتو په هکله د ملګرو ملتونو د ځانګړی ریوټ ورکونکی، Leandro Despouy لخوا لارښودونکی اصول او سپارښتنې**

په ۱۹۸۵ کال کې د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزي شورا ښاغلی Leandro Despouy موظف کړ، ترڅو د نړۍ د حکومتونو لخوا د لګول شویو بیړنیو اقداماتو اغیزې وڅیړي او د نړیوال قانون په رڼا کې د دولت د مختلفو مکلفیتونو لپاره د درناوي ضمانت په پام کې نیولو سره د ځینې اقداماتو سپارښتنه وکړي. د نوموړي ځانګړي استازي وروستی ریوټ په ۱۹۹۷ کال خپور شو چې پر ځینو اصولو رڼا اچوي کوم چې په نړیوال قانون کې د بیړنیو صلاحیتونو پر استفادې باندې واکمن دي او د ملي نورمونو د جوړولو لپاره لارښووني وړاندې کوي.

**دقانونیت اصل**

د قانونیت اصل له یوې خوا مخکنې نورمونه چې د یوې قانوني پروسې په توګه پر بیړنیو حالاتو واکمن دي بیانوي او له بلې خوا د څارنې له کورنۍ او نړیوالې پروسې څخه خبرې کوي چې د ملي او نړیوالو نورمونو او مقرراتو د تطابقت پخلې کوي. «د دې لپاره چې د اتفاقي یا ناڅاپي قانوني

صلاحاتو مخنیوی وشي، هغه مقررات چې پر بیړنیو حالاتو حاکم دي باید په اساسي قانون کې اساس او بنسټ ولري او په ټولو بیړنیو حالاتو باندې (هر شکل او هر ډول چې وي) باید د تطبیق وړ وي.

[1] Mahone, Paul, „Judicial Activism and Judicial Self-Restraint in the European Court of Human Rights: Two Sides of the Sae Coin“Human Rights Law Journal 57 (58), 1990.

**د اعلام اصل**
د اعلام اصل په عامه توګه خلکو ته د اعلانولو پوری اړه نیسی چی د یوی رسمی اعلامیی په خپرولو سره یو بیړنی حالت ټولو ته اعلان شی. دغه اعلان مخکی له دی چی بیړنی حالت نافذ کیږی، باید وشی.

**د خبرتیا اصل**
د خبرتیا اصل له دولتونو څخه غوښتنه کوی نورو غړو دولتونو، د ملګرو ملتونو عمومی منشی او د دوو سیمه ایزو سازمانونو یعنی د امریکایی دولتونو د سازمان عمومی منشی او د اروپا د شورا عمومی منشی ته د یو بیړنی حالت د شته والی څخه خبری ورکړی. د بیړنی حالت اعلان باید هغه دلایل روښانه کړی چی ولی په دی اقدام لاس پوری شو، په کومه سیمه کی هغه نافذ کیږی او څه مودی لپاره، د هغه حدود او صلاحیتونه کوم دی او بل چی د نړیوال قانون پر اساس له کومو مکلفیتونو څخه تنازل صورت مومی.

**د وخت د ټاکلو اصل**
د بیړنی حالت د قانونی لارښودونکی معیارونه غوښتنه کوی چی بیړنی حالت د وخت له لحاظه باید محدود وی او استثنایی مقررات یواځی او یواځی په همدی ټاکلی موده کی د تطبیق وړ دی. د دی لپاره چی د دی اصل د مقرراتو مناسب ضمانت وشی، ځانګړی رپوټ ورکونکی سپارښتنه کوی چی ملی قانون کی باید صراحت موجود وی چی هیڅ بیړنی حالت د اړتیا وړ مودی څخه زیات دوام ونه کړی. سربیره پر دی قانونی احکام باید اړوند څارونکو ارګانونو ته صلاحیت ورکړی ترڅو په هرو دریو میاشتو کی د بیړنی حالت د دوام لپاره دلایلو باندی کتنه صورت ومومی.

**د استثنایی ګواښ اصل**
د هغه خطر خصوصیت چی د بیړنی حالت د اعلان سبب شوی باید جاری او حتمی وی. هغه د وخت د غنیمت ګڼلو، اټکل ایز یا خیالی دلایلو له امله باید ونه لګول شی. د دی لپاره چی دغه اصل د نړیوال قانون له نورمونو سره جوړ شی، د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی رپوټ وړاندیز کوی چی په قانون کی باید هغه وضعیتونه بیان شی چی د بیړنی حالت د اعلان غوښتنه کوی. دغه مقررات باید یواځی «د قانون تر رڼا لاندی د خلکو او د هغوی د حقونو د خوندی ساتنی او د عامه تأسیساتو د چلند لپاره په کار ولویږی.»

**د تناسب او تعادل اصل**
د تناسب او تعادل اصل غوښتنه کوی هغه مقررات چی د بیړنیو حالاتو لپاره ټاکل کیږی باید یواځی او یواځی د کړکیچ د تشدد سره سمون ولری. د ملګرو ملتونو ځانګړی رپوټ ورکونکی سپارښتنه کوی، کله چی یو بیړنی حالت د تنازل وړ بشری حقونه اغیزمن کړی، اداری او قضائی اقدامات باید لاس لاندی ونیول شی ترڅو تاوانی شوی حقوق اعاده کړی

**د نه ـ تبعیض اصل**
د یو اعلان شوی بیړنی حالت په وخت کی د ځینی بشری حقونو څخه تنازل په هیڅ ډول او حالت کی د نژاد، رنګ، جنسیت، ژبی، دین او یا ټولنیز موقف پر بنسټ توپیر ته اجازه نه ورکوی. د دی لپاره چی دغه اصل په سمه توګه تعریف او تنظیم شی ځانګړی رپوټ ورکونکی سپارښته کوی چی قوانین

باید په صراحت سره بیان کړی چی د نه تبعیض اصل د هیڅ ډول محدودیت او تنازل تابع نه دی.

سرچینه: د بشری حقونو او د بیړنی حالت په موضوع کی د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی، Leandro Despouy، رپوټ په دغی پاڼی کی موندلای شی:
www.derechos.org/nizkor/excep/despouy97en.html

نن عامه نړیوال قانون او ډیری ملی اساسی قوانین په دی اعتراف لری چی د کړکیچ په حالاتو کی چارواکی ښایی ځینی مدنی آزادی غوڅی کړی ترڅو نظم او قانون بیرته اعاده کړی او د بشر بنسټیز حقونو پلی کول بیرته ممکن وګرځوی. دغه تناقض د بیړنیو صلاحیتونو د قانونی بنسټ اصلی زړه دی: «د ځینیو حقونو تعلیق د تر ټولو بنسټیز حق د اعمال د خوندی ساتنی یواځنی وسیله ده». [1] د دی خبری یوه ښه بیلګه د وسلوالی شخړی په وخت کی لیدل کیږی، د دی لپاره چی د ژوند کولو حق خوندی وساتل شی، د خلکو په تګ او راتګ باندی محدودیت لګول کیږی. یا په بل عبارت: د بیړنی حالت د صلاحیتونو منطق په حقیقت کی باید ساتونکی بڼه ولری نه ځپونکی.

## هغه شرایط چی په دیموکراسی لرونکو هیوادونو کی د بیړنیو حالاتو د صلاحیتونو څخه د استفادی سبب ګرځی

هغه شرایط چی کیدای شی د بیړنیو صلاحیتونو څخه د استفادی لامل وګرځی هم په ملی اساسی قوانینو او هم د بشری حقونوپه نړیوالو تړونونو کی نه تعریف شوی پاتی دی. له تاریخی لحاظه د سترو ټولنیزو ستونزو له امله رامنځ ته شوی شرایط چی په مدرنو دیموکراسیو کی د بیړنیو صلاحیتونو د استفادی لاره پرانیځی عبارت دی له:

## جګړه

کله چی د دوو دولتونو ترمنځ جګړه رامنځ ته شی، ډیری وخت حکومتونه د بیړنیو صلاحیتونو څخه کار اخیستلو ته لاس اوږد کړی دی. په نړیوال قانون کی د بشری حقونو د خوندی ساتنی سربیره د بشری قانون د لازبنودونکی اصول او په خاصه توګه د دنهاګ د ۱۹۰۷ کال منشور او د جینوا د ۱۹۴۹ او لومړی ضمیمه یی پرتوکول ټولو په دغو حالاتو کی د تطبیق وړ دی. [2]

- د امریکا د متحده ایالاتو حکومت د دوهمی نړیوالی جګړی په وخت کی له بیړنیو صلاحیتونو څخه استفاده وکړه. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۴۵ پوری متحده ایالاتو د تګ او راتګ په آزادی باندی سخت محدودیتونه ولګول او د د ځینو قومی ډلو په مدنی آزادیو باندی محدودیت ولګاوه.

## کورنی وسلواله شخړه

حکومتونو اکثر د کورنیو وسلوالو شخړو په وخت کی د بیړنیو صلاحیتونوڅخه کار اخیستی دی. د کورنیو وسلوالو شخړو په وخت کی کله چی یاغیان په نسبی توګه سره سازمان شوی وی او د هیواد په

[1]- د بشری حقونو او د بیړنی حالت په موضوع کی د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی، Leandro Despouy، رپوټ په دغی پاڼی کی موندلای شی: www.derechos.org/nizkor/excep/despouy97en.html
[2] ICRC, Customary International Humanitarian Law, Cambridge University Press, Cambridge, 2005.

یوی برخی کنترول ولری، هغه نورمونه چی د جینوا د ۱۹۹۴ کال د منشور په ضمیمه یی دوهم پروتوکول کی درج دی، په دی حالاتو کی د تطبیق وړ ګڼل کیږی.

- په ۱۹۹۲ کال کی مولداوی د خپلی خپلواکی څخه یوائځی لږ څه موده وروسته په جلا غوښتونکی Trans-Dniester نومی سیمه کی د یو وسلوال پاڅون د نښتو له امله د بیړنیو صلاحیتونو په اقداماتو لاس پوری کړ.

**د وسلوالی شخړی ګواښ**

دولتونه کله چی د نړیوال او یا کورنی شخړی له عینی یا ذهنی خطرونو سره مخامخ شی نو له بیړنیو صلاحیتونو څخه کار اخیستلو ته مخ اړوی.

- اسراییل په ۱۹۴۸ کال کی د خپل تأسیس څخه راپدیخوا یو ډول بیړنی حالت کی قرار لری. دغه بیړنی حالت اسراییلی حکومت ته اجازه ورکوی چی د نورو مسائلو ترڅنګ د عربی اتباعو ځینی مدنی حقونه محدود کړی او دولت ته صلاحیت ورکوی چی له هیواد څخه د ملکی خلکو د وتلو مخه ونیسی. اسرائیلی حکومت د دغه دایمی بیړنی حالت لپاره د بهرنی امنیت د ګواښونو او د کورنی امنیت اړتیا دلیل راوړی او اعتراف کوی چی دغه «استثنایی حالات» له ۱۹۴۸ کال څخه راپدیخوا تر اوسه پوری وجود لری. د اسراییلو اساسی قانون اسراییلی پارلمان «کنیست» ته صلاحیت ورکوی چی هر کال په دغه بیړنی حالت باندی کتنه وکړی.

**تروریستی حملی**

تروریستی حملو او له هغو وروسته تروریستی ګواښونو حکومتونه مجبوره کړی ترڅو یو شمیر مدنی آزادی په دی موخه چی ګواکی په راتلونکی کی د داسی حملو مخه ونیسی، محدودی کړی.

- د بریتانیا پارلمان په ۲۰۰۱ کال کی بیړنی اقدامات تصویب کړ او له هغه وخت څخه راپدیخوا رسماً بیړنی حالت ټینګ دی. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټي له تروریستی حملو څخه وروسته د برتانیا پارلمان د تروریزم ضد، د جرایمو او امنیت قانون تصویب کړ او د نورو صلاحیتونو سربیره حکومت ته یی صلاحیت ورکړ ترڅو بهرنی اتباع ونیسی.

**اقتصادی کړکیچ او ملکی نا کراری**

جدی اقتصادی کړکیچ او ملکی ناکراریو چاروکی دی ته اړوی ترڅو بیړنی حالات اعلان کړی او یو ګڼ شمیر ملکی آزادی وځنډوی.

- په ۲۰۰۱ کال کی ارجنټاین د یو بی ساری اقتصادی کړکیچ په ترڅ کی د نښتو له امله بیړنی حالت اعلان کړ. بیړنی فرمان په لومړی سر کی حکومت ته خاص صلاحیت ورکړ چی عسکر او نور پوځی ځواکونه د سترو ښارونو سړکونو ته وباسی او په مؤقتی توګه پر عامه غونډو بندیز ولګوی.

## نور شرایط

یو شمیر نور د انسان په لاس جوړ شوی شرایط دی چی حکومتونه دی ته اړوی ترڅو د نظم د اعاده کولو لپاره په بیړنی حالت باندی لاس پوری کوی. دغه عبارت دی له ورانکاری، د یوی سیاسی ډلی لخوا احتمالی کودتا، عمومی کورنی ناکراری، قومی ناکراری او سیاسی اختطافونه.

- یو شمیر سیاسی اختطافونو د کانادا حکومت مجبوره کړ چی په ۱۹۷۰ کال کی په بیړنی حالت لاس پوری کړی. د ۱۹۷۰ کال په اکتوبر کی د کوبیک آزادی بښوونکی نومی افراطی ډلی د کوبیک یو وزیر، Pierre Laporte اویو بریتانوی دیپلومات، James Cross وتښتول او په بدل کی یی د یو زیات شمیر بندیانو د خوشی کولو او په عامه توګه د جلا غوښتنی د اعلامیی د له منځه وړلو غوښتنه وکړه.

د اختطافونو څخه دری ورځی وروسته د کانادا حکومت بیړنی حالت اعلان کړ او د جنګ د اقداماتو قانون نافذ کړ، مدنی آزادی یی تعلیق کړی او پولیس او پوځ ته یی بی ساری صلاحیتونه ورکړل ترڅو په تحقیقاتو او نیولو لاس پوری کړ. پوځ د مونتریال په سړکونو کی موضع ونیوله او یو کڼ شمیر کسان د محکمی له حکم څخه پرته ونیول شول. د یوی تروریستی شبکی له نیولو او د James Cross له خوشی کولو وروسته او کیوبا ته د پاتی اختطاف کونکو د تګ د ضمانت کولو په بدل کی بیړنی حالت بیرته لیری کړای شو.

## په ملی قانون کی د بیړنی حالت صلاحیتونه: یو پرتله کونکی لیری لید [1]

په ډیرو اساسی قوانینو کی د بیړنیو حالاتو د صلاحیتونو څخه د کاراخیستو لپاره واضح او څرګند احکام وجود لری. په داسی حال کی چی د دغو قانونی احکام له مخی هغه موده چی له دغو صلاحیتونو څخه تری کال اخیستل کیږی واضحاً محدوده کړای شوی، خو د دیموکراتیکی واکمنی د بیرته اعاده کول یادون په کی نه دی شوی. که څه هم په یو شمیر محدودو هیوادونو کی د بیړنی حالاتو لپاره په اساسی قانون کی ځای نه دی ورکړی شوی، خو ځینی احکام لری چی په نورو ملی بیړنیو حالاتو کی تری کار اخیستل کیږی.

د بیلګی په توګه په آسترالیا. دنمارک، ناروی او سویدن کی په پراخه کچه اجرائیه قوی ته د قدرت انتقال موجود دی، که چیری پارلمان ونشی کړای چی د یوی اوږدی مودی لپاره د غونډی کولو توان ولری. په سویدن کی، که چیری د جګړی یا داسی حالاتو ته ورته شرایطو کی پارلمان د غونډي کولو توان ونه لری، د هغه پر ځای یو ۵۱ کسیزی «د جګړی هیأت» صلاحیت په غاړه اخلی. او که چیری دغه هیأت هم ونه توانیږی چی غونډه وکړی، د دولت اجرائیه قوه بشپړ صلاحیت په غاړه اخلی ترڅو نظم او قانون بیرته اعاده کړی. د امریکا په متحده ایالاتو کی اساسی قانون فدرالی حکومت ته د بیړنیو حالاتو په وخت کی خاص قانونی صلاحیت نه ورکوی. د دی پر ځای په یو ډیر خاص حالت کی اساسی قانون جمهور رئیس ته صلاحیت ورکړی چی له فدرالی اردو څخه د کورنی ګډوډی په وخت

[1]- د مختلفو هیوادونو په ملی قوانینو کی د بیړنی حالت د صلاحیتونو په هکله دغه لنډه سروی د دیموکراسی لپاره د اروپا یی کمیسیون د تحقیقاتو پر اساس ولاړه ده (Venice Commission). د هیوادونو بیلګی هغو تحقیقاتو پوری محدود دی چی د ۱۹۹۵ کال د رپوټ پر اساس دهغوی د بیړنیو حالاتو د صلاحیتونوپه هکله ترسره شوی دی.
Source: Venice Commission, Emergency Powers, CDL.STD,1995, available online at http://www.vince.coe.int/docs/1995/CDL-STD(1995)012-e-asp

کی د نظم او قانون اعاده کولو لپاره کار واخلي. خو دغه مقررات  هغه ته اجرائیه قدرت نه ورکوی چې د حکومت د نورو قواوو دندی او صلاحیتونه وځنډوی.

په دیموکراتیکو ټولنو کی د یوی عمومي مقررې په توګه د استثنایي یا بیړني حالاتو اعلان د اجرائیه قوی د صلاحیتونو له جملې څخه دی او وروسته بیا مقننې ته وړاندی کیږی تر څو هغه تصویب او منظور کړی. په کانادا کی صدراعظم او د فدرالي کابینې وزیران کولای شي چې د بیړنیو حالاتو اعلان وکړی، خو د نافذیدو لپاره باید باید د پارلمان لخوا منظور شی. په لاتویا کی اجرائیه قوه د بیړنی حالت صلاحیت لری خو که چیری پارلمان هغه د ۴۸ ساعتونو په موده کی تصویب نه کړی، هغه بی اعتباره اعلانیږی. د هنګری او قرغزستان په شمول په ځینو نورو دیموکراتیکو سیستمونو کی د بیړنی حالت اعلان د پارلمان د صلاحیتونو له جملی څخه شمیرل کیږی. د ډیرو نورو هیوادونو اساسی قوانین د وخت له لحاظه د بیړنی صلاحیت څخه استفاده محدودوی او د اړتیا په صورت کی هغه تمدیدوی. په پرتګال کی دغه وخت ۱۵ ورځی روسیه کی د ۳۰ تر ۶۰، په فنلند کی دری میاشتی او په لاتویا کی شپږ میاشتی ټاکل شوی دی.

په ځینو نورو هیوادونو لکه قبرس او سلواکیا کی یواځی یو ډول بیړنی قانون وجود لری. خو دغه نورم چې په اکثرو ملی قوانینو کی نغښتی دی د مختلفو استثنایی حالاتو په مطابق د مختلفو بیړنیو صلاحیتونو لپاره په پام کی نیول شوی دی. په اسپانیا کی په بیړنیو صلاحیتونو کی «د خبرداری حالت»، «بیړنی حالت» او د « محاصری حالت» هم شامل دی. په هنګری کی اساسی قانون د «محاصری حالت»، «بیړنی حالت» او د «عامه خطر حالت» ته اشاره کوی. په ترکیه کی د څلورو مختلفو «بیړنیو مقرراتو» نوم اخیستل شوی دی: د جګړی حالت، د طبیعی مصیبت حالت، د ساری ناروغی حالت یا جدی اقتصادی کړکیچ، یو بل ډول حالت «هغو زور پالونکو عملونو سره مقابله کول دی چې هدف یې د آزاد دیموکراتیک نظم ګډوډول دی» او وروستی د «محاصری حالت دی» دی چې دا په قانون کی د اړتیایی « بیړنیو حالاتو» څخه هم ډیر زیات خطرلرونکی څرګند شوی دی. په ډیرو نورو هیوادونو لکه پرتګال، روسیه اوپولند کی اساسی قانون یواځی د دوو استثنایی حالاتو څخه یواخی یوه حالت احکام لری: بیړنی واکمنی او د محاصری حالت. په ټولو دغو دولتونو کی د بیړنی حالت مختلف ډولونه د مختلفو بیړنیو اقداماتو لپاره قانونی امرونه وجود لری.

د ډیرو اساسی قوانینو چوکاټ د بیړنیو صلاحیتونو څخه استفاده د سختو محدودیتونو پوری تړی ده. د بیلګی په توګه په رومانیا کی اساسی قانون مدنی آزادیو باندی محدودیت یواځی په ښکاره تشریح شویو شرایطو کی وضع کولای شی خو هرمرو باید هغه وضعیت سره چې د مدنی ازادی د محدودیت لامل ګرځی  تناسب ولری.

د یو شمیر هیوادونو په اساسی قوانینو کی د نړیوالو موافقو لپاره درناوی په څرګندو الفاظو سره بیان شوی دی. د بیلګی په توګه د لاتویا په اساسی قانون کی راغلی دی چې «د بیړنیو حالاتو لپاره اقدمات باید له نړیوالو موافقو سره او د بشری حقونو په ساحه کی د نړیوالو حقونو له وثیقی سره چې لاتویا لاس لیک کړی دی یا (۱۶) مادی پوری تړلی دی، جوړښت ولری. د ترکیی اساسی قانون د بشری حقونو لپاره د اروپایی منشور ۱۵ ماده تکرار کړی ده.[1]

| |
|---|
| ۱۴ – ۲ چوکاټ<br>Martial Law یا پوځی حکومت<br>Martial Law یا پوځی حکومت هغه دی چې په ټاکلی خاوره یا سیمه کی حکومت پر خلکو پوځی |

[1]- د *قانون له لاری د دیموکراسی لپاره اروپایی کمیسیون*: http://www.venice.coe.int/docs/1995/CDL-STD(1995)012-2-asp

قوانین جاری کړی. پوځی حکومت د بیړنیو حالاتو په څیر مدنی حقوق او آزادی محدودوی او د حکومت د چارواکو د صلاحیتونو لمن پراخوی. خو ستر توپیر په دی کی دی چی په هیواد کی ملکی واکمنی په بشپړه توګه پای ته رسیږی، پر ځای یی پوځی واکمنی ټینګیږی او د قضایی محکمو پر ځای پوځی محکمی موظف کیږی. پوځی حکومت یا پوځی واکمنی ډیری وخت واضح او روښانه نه وی، د هغه څرنګوالی چی د بیړنی حالت د دغه ډول واکمنی لامل ګرځیدلی، په دوام کی شکل نیسی. په پوځی حکومت کی پوځ لکه چی معمول دی د ملکی اداری ترکنترول لاندی نه وی، بلکه په حقیقت کی هغه د دولت په اداری چارو کی د ملکی حکومت ځای نیسی. پوځی حکومت اکثر د جګړی، اشغال او ملکی ناکراری په وخت کی رامنځ ته کیږی. له تاریخی لحاظه پوځی تریبونال ډیری سختی سزاوی ټاکی، د هغو په جمله کی د مرګ سزا هم شامله ده او سربیره پر دی په منظمه توګه بنسټیزبشری حقوق محدودوی.

## نړیوال قانونی نورمونه او بیړنی حالات

نړیوال عامه قانون هم له ځینو مدنی آزادیو څخه احتمالی تنازل منی، کله چی «عامه بیړنی حالات د ولس ژوند له خطر سره مخامخ کړی وی.»، خو ځینی محدودیتونه لګوی او د ځینو نه تنازل وړ حقونو فهرست وړاندی کوی. د بیړنی قدرت څخه استفاده په نړیواله سطح د مدنی او سیاسی حقونو (ICCPR)، په اروپا کی د بشری حقونو په هکله د اروپا د بشری حقونو په منشور (ECHR) په امریکایی هیوادونو کی د بشری حقونو په هکله په امریکایی منشور کی تنظیم شوی دی.

## د ملکی او سیاسی حقونو نړیوال منشور (ICCPR)

د ملکی او اساسی حقونو نړیوال منشور غړو دولتونو ته اجازه ورکوی چی په ملی بیړنیو حالاتو کی د اړتیا په صورت کی په خپلو ځینو مکلفیتونو کی تنازل وکړی. خو ځینی قانونی اصول بیاهم په هیڅ صورت سره د نړیوال قانون له مخی د تنازل وړ نه دی، هغه څه چی مدنی ټولنی ته مهم حدود ټاکی تر څو په یو بیړنی حالت کی عمل وکړی.

لومړی، بیړنیو اقداماتو ته تر هغی کچی اجازه ورکوله کیږی چی «شدیداً د وضعیت د اړتیاوو غوښتنه کوی.» په بل عبارت، د حقونو د محدودولو تشدد، دوام او جغرافیایی وضعیت باید مستقیماً له هغو ګواښونو سره تړاو ولری چی ولس ورسره مخامخ دی.

دوهم، په بیړنیو وختونو کی دحقوقو څخه تنازل باید تر نړیوال قانون له نورو مکلفیتونو سره تطابقت ولری. تر ټولو مهمه دا چی یو بیړنی حالت بنایی د ربړولو د توجیه لپاره په لاره وانه اچول شی. [1]

دریم، له حقونو څخه تنازل چی په بیړنیو حالاتو کی صورت مومی بنایی د محکمی په وړاندی د نژاد، رنګ، ژبی او دین یا ټولنیز اصلیت پر بنسټ په توپیر پالنی د لاس پوری کیدو سبب ونه ګرځی. سر بیره پر دی د ملګرو ملتونو د بشری حقونو کمیټی روښانه کړی ده چی یو شمیر بشری حقونه په استثنایی حالاتو کی خوندی پاتی دی. د ټولو هغو کسانو بشری حقونو ته چی له خپلو آزادیو څخه بی برخی شوی دی، درناوی باید وشی؛ د یرغمل نیولو او غیرقانونی بندی کولو منع؛ د جګړی، ملی،

[1]- د ربړولو او نور بیرحمیو، غیر انسانی چلند، سپکاوی او یا سزا پر ضد منشور ، ۲/ ۲ ماده.

نژادی یا قومی کرکی لپاره د تبلیغاتو او پروپاګند منع؛ او قانونی ضمانتونه تر څو د بیړنیو حالتو په تعقیب د قضایی ارګان بشپړتوب او خپلواکتوب خوندی وساتل شی. د بشری حقونو کمیټې ټینګار کړی دی چی د ځینی مدنی حقونو او آزدیو تعلیق یا ځنډول باید مؤقتی بڼه ولری.[1] دا ځکه چی دا خطر شته دی چی په لومړی سر کی یو قانونی بیړنی حالت د وخت په تیریدو سره په قانونی بیړنی حالت باندی بدل شی.

او په پای کی، د بیړنیو حالاتو په وخت کی د حقونو محدودول باید غړی هیوادونو ته خبر ورکړ شی. په خبرتیا کی باید د تنازل یا د حقونو د محدودیت کچه او خصوصیت روښانه کړای شی.[2]

**۱۴ – ۳ چوکاټ**
**د مدنی او سیاسی حقونو په هکله په نړیوال منشور (ICCPR) کی د نه تنازل وړ یا د نه محدودولو وړ حقونه**

د ICCPR په ۴ (۲) ماده کی د هغو حقونو یو فهرست وړاندی شوی چی د هغو په مراعاتو کی هیڅ ډول تنازل او محدودیت ته اجازه نه ده شوی. په لنډه توګه هغه عبارت دی له:

**۶ ماده:** هر انسان د طبیعی ژوند حق لری. دغه حق په قانون کی خوندی پاتی دی. هیڅوک په قصدی توګه له خپل حق څخه نه بی برخی کیږی.
**۷ ماده:** هیڅوک نه ربړول کیږی او نه هم ورسره غیرانسانی چلند کیږی، نه هم سپک کیږی اونه په غیرقانونی توګه سزا وینی. په خاصه توګه هیڅوک د خپلی خوښی پرخلاف تر طبی یا علمی تجربو لاندی نه نیول کیږی.
**۸ ماده (۱):** هیڅوک په مریتوب نه نیول کیږی؛ مریتوب یا د مریانو سوداګری په خپلو ټولو شکلونو سره منع دی. (۲) هیڅوک په زور یو خدمت ته نه ګمارل کیږی.
**۱۱ ماده:** هیڅوک یوازی د یو قراردادی مکلفیت د نه ترسره کولو له امله نه بندی کیږی.
**۱۵ ماده:** هیڅوک د یوی سرغړونی د ترسره کولو او یا نیمګړتیا له امله چی په ملی یا نړیوال قانون په خپل وخت کی جنایی جرم نه ؤ، مجرم نه ګڼل کیږی.
**۱۶ ماده:** هر څوک هر چیری د قانون په وړاندی د یو شخص په توګه پیژندل کیږی.
**۱۷ ماده:**هرڅوک د بیان، وجدان او د دین آزادی لری.

لږ ترلږه د دغو ۷ مادو څخه دری یی (ژوند، ربړول، مریتوب) د نړیوال قانون د نورم قطعی او پریکړنی مادی ګڼل کیږی، معنی دا چی د ICCPR غړی دولتونه نه یوازی د هغو د محدودولو صلاحیت نه لری، بلکه په ټولو حالاتو کی د هغوی د تطبیق مکلفیت لری.

سرچینه:
Richards, David L. and K. Chad Clay, Government Respect for Non-derogable Human Rights During Declared States of Emergency,1996-2004, paper prepared fort he 2008 Annual Meeting of the International Studies Association, 26-30 March 2008, San Frencisco, p.6.

[1] - GAOR, A/39/40 Report HCR, p.84 para.270
[2] UN Human Rights Committee, General Comments 29 (States of Emergency)

## د بشری حقونو په هکله اروپایی منشور (ECHR)

د بشری حقونو په هکله اروپایی منشور (ECHR) په بیړنیو حالاتو کی د بنسټیزو بشری حقونو د خوندی ساتنی لپاره اضافی قانونی ضمانتونه وړاندی کړی دی. د دغه منشور ۱۵ ماده غړو دولتو ته یوائی د جګړی یا نورو عامه بیړنیو حالاتو کی چی د ولس ژوند له خطر سره مخامخ کیږی، د منشور په وړاندی په خپلو ژمنو کی د تنازل اجازه ورکوی. د یوعامه بیړنی حالت عمومی معنی د بشری حقونو د اروپایی محکمی لخوا د «یو استثنایی، ناڅاپی یا د یو کړکیچ یا بیړنی حالت تعریف شوی چی ټول خلک یا ولس یا یوه برخه تری اغیزمن شی». [1] اروپایی کمیسیون ټینګار کړی چی «کړکیچ یا خطر په نومړو اقداماتو کی باید استثنایی وی یا د منشور لخوا د عامه مصونیت، روغتیا او د عامه نظم د کمزورتیا په خاطر اجازه ورکړ شوی وی». [2] که چیری یو دولت د ECHR پر اساس په خپلو ژمنو کی تنازل رامنځ ته کوی باید اروپایی شورا ته خبر ورکړی او دغه ډول یوه خبرتیا باید وخت په وخت نوی کړای شی. د ECHR ۱۵ ماده په هیڅ صورت سره غړو دولتونو ته اجاره نه ورکوی چی له خپلو بنسټیزو مکلفیتونو څخه تنازل وکړی: ټولو اتباعو ته د ژوند کولو د حق ضمانت، د ربړونی منع، له مریتوب څخه آزادی او د بیان، وجدان او دین آزادی.

## د بشری حقونو امریکایی منشور (ACHR)

د بشری حقونو امریکایی منشور (ACHR) په بیړنیو حالاتو کی د حقونوڅخه د تنازل په اړه تر ټولو یو هر اړخیز قانونی وسیله ده. د مدنی او سیاسی حقونو په هکله د نړیوال منشور او د بشری حقونو د اروپایی منشور د ضمانتونو د درلودلو سر بیره د امریکایی منشور ۲۷ ماده په بیړنی یا استثنایی حالاتو کی له حقونو څخه د تنازل د دغه ډول ضمانت لمن نوره هم پراخه کړی چی په هغی کی ۱۹ ماده د ماشومانو حقونه، ۱۷ ماده د کورنی ساتنه، ۲۳ ماده په حکومت کی د برخی اخیستلو حق او قضائی ضمانتونه چی د نومړو حقونو د خوندی ساتنی ضمانت کوی، شاملی دی. سربیره پر دی د بین الامریکایی بشری حقونو محکمه په OC-8/87 تر نامه لاندی په یو مشورتی نظر کی څرګندوی: په داسی حال کی چی یو دولت ته صلاحیت ورکړ شوی چی د اړتیا په وخت په یو بیړنی حالت کی ځینی مدنی آزادی په موقته توګه وځنډوی، خو هیڅکله دا حق نه لری چی د قانون حاکمیت په تعویق واچوی او نه هغه کسان چی په قدرت کی دی صلاحیت لری چی د قانونیت اصل، چی د هغه په نسبت په ټولو وختونو کی د ژمنی مکلفیت لری، له پام څخه وغورځوی. [3]

لنډه دا چی یو شمیر نړیوال ضمانتونه موجود دی ترڅو هغه صلاحیتونه محدود کړی چی دولت له هغو څخه په استفادی سره غواړی په بیړنیو حالاتو کی خپل مسوولیتونه او مکلفیتونه هسی تر سره نه کړی چی په عادی حالتونو کی تر سره کوی. تر ټولو مهمه دا چی د نړیوال قانون په اوسنی جوړښت کی د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کی په اصطلاح د نه لاس وهنی د اصل کمزوری کیدل او د«ټولو لپاره آزادی» تر نامه لاندی د بشری حقونو مکلفیتونه د هغه یو نقش د پیاوړتیا سبب ګرځی چی مدنی ټولنه یی په بیړنیو حالاتو کی لوبولای شی. د بشری حقونو د تړونونو او منشورونو نورمونه ټول دوه ګونی خصوصیت لری: له موافقی سره سم عمل کولو مکلفیت او که چیری نور له هغی څخه سرغړونه کوی، اعتراض کول. په نتیجه کی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی له نړیوال قانون سره د

---

[1] European Court of Human Rights, Lawless v. Ireland, 3 Eur. Ct.H.R. (Ser.A) at 56 (1960).
[2] Svensson-McCarthy Anna-Lena, The International Law of Human Rights and States of Exception: With Special Refrence to the Travaux Préparatoires and Case-Law of the International Monitoring Bodies, Springer, London, 1998, p.464.
[3] Report by UN Special Rapporteur, Mr. Leandro Despouy, on the question of Human Rights and States of Emergency, §48; available at www.derechose.org/nizkor/excep/despouy97en.html

دولتونو د سم عمل کولو لپاره هڅو، په نړیوال قانون کی د دولت د مکلفیتونو په هکله د معلوماتو خپرولو او نورو دولتونو ته د بشری سرغړونو او نورو ناوړو چلندونو د رپوټ ورکولو سره د بشری حقونو د تیریو په مخنیوی کی یو مهم نقش لوبوی.

**۱۴ ـ ۴ چوکاټ**
**په یو بیړنی حالت کی د بشری حقونو د نورمونو په هکله د پاریس حد اقل معیارونه**

په یو بیړنی حالت کی د بشری حقونو د نورمونو په هکله د نه وضاحت له امله د مدنی ټولنی یو سازمان په خپل نوښت د داسی نورمونو په هکله د حد اقل معیارونو د مراعاتولو لپاره یوی صلاحیت لرونکی لارښوونی ته وده ورکړه. د نړیوال قانون د انجمن یوی خاصی فرعی کمیټی دغه موضوع ۶ کاله مطالعه کړه. د بشری حقونو د قانون د تطبیق لپاره د بشپړی کمیټی لخوا د دغه لارښوونی کتنی دوه کاله نور وخت ونیو تر هغه پوری چی د ۱۹۸۴ کال د اګست له ۲۶ څخه د سپتمبر تر لومړی نیټی پوری په پاریس کی د نړیوال قانون د انجمن ۶۱ کنفرانسونه دایر شول او د رائیو په اتفاق سره یی دغه حد اقل معیارونه تصویب کړل.

دغه حد اقل معیاورنه د بیړنی حالاتو چی د یو ولس ژوند ته ګواښ کوی پر اعلامیی او اداری باندی واکمنی لری او په ۱۶ مادو کی خلاصه شوی دی چی د حقونو او آزادیو نه محدود کول تشریح کوی. په خاصه توګه دغه معیارونه په بیړنی حالاتو کی د انفرادی اشخاصو د ساتنی لپاره عمومی اصول په څرګنده توګه بیانوی.

**په یو بیړنی حالت کی د بشری حقونو د نورمونو په هکله د پاریس حد اقل معیارونه**

**ب ـ برخه: بیړنی صلاحیتونه او د انفرادی اشخاصو ساتل: عمومی اصول**

۱ - عامه بیړنی حالت په وخت کی اړوند دولت کولای شی په داسی اقداماتو لاس پوری کړی چی له هغو سره په خپله خاوره کی د هر فرد په نړیوال قانون کی د پیژندل شویو بشری حقونو او آزادی د خوندی ساتنی په مکلفیتونو کی تنازل رامنځ ته کړی، خو کولای شی په هغو نړیوال څرګند کړای شویو حقونو په وړاندی مکلفیت کی چی په خپلی اصطلاح د «نه تعلیق وړ» او د نه تنازل وړ دی، تنازل ونه کړی.

۲- تنازل لپاره د اقداماتو صلاحیت څرنګه چی مخکی تری یادونه وشوه څلورو عمومی شرطونو پوری تړلی دی:

الف - هر دولت چی د نړیوال یا سیمه ایز بشری حقونو د تړون غړی وی د خبرتیا له اصل سره سم عمل کوی، څرنګه چی د اړوند تړون لخوا هدایت شوی دی.
ب - دغه اقدامات باید د موجودی وضعی سره تناسب ولری.
ج - دغه اقدامات باید د نړیوال قانون له مخی د دولت له نورو مکلفیتونو سره تناقض ونه لری.
دال - دغه اقدامات باید د نژاد، رنګ، جنسیت، ژبی، دین، ملیت یا ټولنیز اصلیت د توپیر پالنی پر اساس نه وی.
هـ - د نړیوال قانون له مخی بنسټیز حقونه او آزادی د نه محدودیدو وړ دی حتی په بیړنی حالاتو کی. د حد اقل معیار په توګه اساسی قانون باید ضمانت وکړی چی په نړیوال قانون کی د نه تنازل وړ په توګه په رسمیت پیژندل شوی حقونه دبیړنی حالاتو سره نه اغیزمن کیږی.

۳- که چیری یو دولت په بیړنی حالت لاس پوری کول غواړی او یا د هغه په اجراء کولو بوخت وی باید دغه لاندی اصول مراعات کړی:

الف – د اجرائیه قوی د صلاحیتونو د پراخیدو سره سره د مقننی بنسټیز فعالیتونه باید خوندی پاتی شی. نو په دی وجه مقننه باید عمومی لاربښوونی وکړی ترڅو د اجازه ورکړای شویو اقداماتو په رڼا کی اجرائی فرمانونه تنظیم کړی.

ب – د مقننی ځانګړی صلاحیتونه، مصونیت او امتیازونه باید پر خپل ځای خوندی پاتی شی.

ج – د قضائیه قوی د خپلواکتوب ضمانت او د قضاء دنده باید پر خپل ځای خوندی پاتی شی. په خاصه توګه له بیړنی صلاحیتونو څخه استفاده چی قاضیان له خپلی دندی ګوښه کړی یا د قضائی ارګان جوړښت کی بدلون رامنځ ته کړی او یا د قضاء په خپلواکتوب کی محدویت رامنځ ته کړی، باید شدیداً منع وی.

۴ - الف – د حقونو په ټولو محدودیتونو کی ټول بیړنی اقدامات د هغه قانون تر واکمنی لاندی ملاتړ کیږی، چی په خپل وخت کی د خلکو د استازو لخوا جوړیږی.

ب – د عمل هغه نورمونه چی د بیړنی حالت لپاره په کار لویږی باید په هغه وخت کی چی بیړنی حالت وجود ونه لری جوړ شی.

ج – دولتونه (اجرائیه او مقننه) وخت په وخت بیړنی حالاتو باندی کتنه کوی او حتی د اړتیا په صورت کی بدلون په کی رامنځ ته کوی تر څو په معقوله توګه د بیړنیو صلاحیتونو څخه د ناوړه استفادی مخنیوی وشی.

۵ – قضائیه باید صلاحیت او د قضاء لپاره حدود ولری: لومړی باید وکتل شی چی آیا بیړنی قانون د دولت له اساسی قانون سره سمون لری که نه؛ دوهم باید وکتل شی چی آیا د بیړنی صلاحیت اجراآت د بیړنی حالت له قانون سره سمون لری که نه؛ دریم باید ډاډ لاس ته راشی چی د نه تنازل وړ حقونو باندی تیری نه کیږی او ډاډ لاس ته راشی چی د تنازل اقدامات چی نور حقونو کی محدودیت رامنځ ته کوی انډول ولری. او څلورم، چیرته چی ښاری او محلی قوانین او نظم وجود ولری هغه باید په تعلیق کی را نه اوستل شی، قضاء باید هغه نافذ او جاری وګڼی؟ د قانون محکمه باید بشپړ صلاحیت ولری چی هر هغه اقدام (اجرائی یا تقنینی) چی د یاد شویو آزموینو سره سمون ونه لری، باید هغه بی اعتبار او ناچل اعلان کړی.

سرچینه:

Lillich, Richard B, „The Paris Minimum Standards of Human Rights Norms in a State of Emergency" in The American Journal of International law, Vol, 79, No. 4(Oct. 1995).

څرنګه چی په تیره برخه کی بیان شول چی ډیری ملی اساسی قوانین او یو شمیر نړیوال تړونونه د بیړنی حالت په وخت کی له صلاحیتونو څخه د ناوړه استفادی د مخنیوی لپاره محافظتی احکام لری. البته دغه محافظتی احکام په خپل سره نه تطبیق کیږی، دلته د مدنی ټولنی د سازمان دنده ده چی خپل نقش په دی برخه کی ولوبوی: یوائی د دولت له کنترول څخه خپلواک سازمانونه کولای شی چی د دولتی ارګانونو لخوا د سرته رسیدلو بشری حقونو د سرغړونو په هکله رپوټ ورکړی او حکومت دی ته واړوی چی د بیړنیو حالاتو په وخت کی خپلو نړیوالو مکلفیتونو ته درناوی ولری. دغه راز خپلواک سازمانونه په هغه موقف کی دی چی کولای شی د ملی قوانینو او هدایاتونو په طرح کی تخصصی مرسته وکړی ترڅو خپل نړیوال مکلفیتونه پر ځای کړی. له تاریخی لحاظه د بشری حقونو ډیری سرغړونی هغه وخت رامنځ ته کیږی چی پوځ د ملکی اداری ترکنترول لاندی نه وی. بالمقابل له

بیړنیو صلاحیتونوځخه کار اخیستل هغه وخت په سمه توګه صورت مومی چی استثنایی یا بیړنی حالات په صراحت سره او مخکی له مخکی په دایمی اساسی قانون کی تشریح شوی وی.

**۱۴ ـ ۵ چوکاټ**
**نړیوال قانونی نورمونه او بیړنی حالات**

**د ملکی او سیاسی حقونو په هکله نړیوال منشور**

۴ ماده: د عامه بیړنی حالت په وخت کی چی د یو ولس ژوند او شتون ته ګواښ کیږی د اوسنی منشور غړی دولتونه ښایی په هغو اقداماتو لاس پوری کړی چی د اوسنی منشور په وړاندی په خپلو مکلفیتونو کی تر هغی کچی تنازل وکړی چی د بیړنی حالت وضعیت یی غوښتنه کوی، البته په دی شرط چی دغسی اقدامات د نړیوال قانون په وړاندی د هغوی د مکلفیتونو سره په تناقض کی نه وی او د نژاد، رنګ، ژبی، دین یا ټولنیز اصلیت پر بنسټ توپیر پالنی په کی ونه شی.

۶ ماده: هر انسان د ژوند کولو لپاره ذاتی حق لری. د دغه حق ضمانت په قانون کی شوی دی. هیڅوک په قصدی توګه له خپل ژوند ځخه بی برخی کیدای نشی. په هغو هیوادونو کی چی د مرګ سزا یی بنده کړی نه ده، دغسی سزا یواځی د یو ډیر سخت جرم لپاره د جاری قانون په مطابق ټاکله کیږی، البته په دی شرط چی د اوسنی منشور او د عام قتل د مخنیوی او سزا د منشور سره په تناقض کی نه وی. دا سزا یواځی د یوی صلاحیت لرونکی محکمی لخوا د یوی وروستی فیصلی له مخی تطبیقیږی.

۷ ماده: هیڅوک د ربړولو یا د بیرحمانه، غیر بشری یا سپکاوی وړ چارچلند وړ نه ګرځی. په خاصه توګه هیڅوک د خپلی خوښی پرخلاف د طبی یا علمی تجربی لاندی نه نیول کیږی.

سرچینه: http://www2.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

**د بشری حقونو په هکله اروپایی منشور**

۱- د ژوند کولو لپاره د هر انسان حق په قانون کی ضمانت شوی. هیڅوک په قصدی توګه له ژوند کولو ځخه نه بی برخی کیږی، مګر دا چی د کوم جرم مرتکب شی او د قانون له مخی د محکمی له خوا ورته د مرګ سزا وټاکله شی.
۲- له ژوند ځخه بی برخی کول د همدی مادی سره په تناقض کی نه ګڼل کیږی، کله چی د قوی ځخه د کار اخیستلو لپاره په لاندی شرایطو کی مطلقاً اړتیا ولیدله شی:
الف – د یو شخص ځخه د یو غیرقانونی زور زیاتی په مقابل کی دفاع؛
ب – د تیښتی د مخینوی په وخت کی په یو جرم باندی د یو تورن سری نیول؛
دال – د یوی اله ګولی یا ناکراری په وخت کی د قانون په مطابق د قوی ځخه د کاراخیستلو په وخت.

۱۵ ماده:
۱ – د جګړی په وخت یا نورو بیړنیو حالاتو کی چی د یو ولس ژوند له ګواښ سره مخامخ کوی د تړون هر غړی دولت کولای شی په اقداماتو لاس پوری کړی چی د دی منشورپه وړاندی له خپلو مکلفیتونوځخه تنازل وکړی . البته په دی شرط چی دا اقدامات د بیړنی وضعیت سره تینګ اړول

ولری او په دی شرط چی د نړیوال قانون په وړاندی د هغه د نورو مکلفیتونو سره تناقض ونه لری.
۲ – له دوهمی مادی څخه ، مګر دا چی د جګړی د قانونی چلند په نتیجه کی رامنځ ته شی، له دریمی مادی «دربړولو منع»، ۴ (لومړی پاراګراف) «د مریتوب منع» او له ۷ مادی «له قانون څخه پرته د سزاء منع» هیڅ ډول تنازل مجاز نه دی.

۳- د دی منشور هر غړی دولت چی د تنازل له حق څخه استفاده کوی باید د اروپاد شورا عمومی منشی ته د خپلو اقداماتو څخه په بشپړه توګه خبر ورکړی. دغه راز کله چی د دغو اقداماتو څخه لاس اخیستل کیږی یا په کی آسانتیاوی رامنځ ته کیږی او د منشور احکام بیرته جاری کیږی باید د اروپا د شورا عمومی منشی ته خبر ورکړ شی.

سرچینه:http://conventions.co.int/treaty/en/Treaties/Html/005.htm

**د بشری حقونو په هکله امریکایی منشور**

۲۷ ماده د ضمانتونو ځنډول
۱ – د جګړی په وخت یا نورو بیړنیو حالاتو کی چی د یو ولس ژوند له ګواښ سره مخامخ کوی د تړون هر غړی دولت کولای شی په هغو اقداماتو لاس پوری کړی چی د دی منشورپه وړاندی له خپلو مکلفیتونوڅخه تنازل وکړی. البته په دی شرط چی دا اقدامات د بیړنی وضعیت سره تینګ انډول ولری او په دی شرط چی د نړیوال قانون په وړاندی د هغه د نورو مکلفیتونو سره تناقض ونه لری او د نژاد، د پوست رنګ، جنسیت، ژبی، دین یا ټولنیز اصلیت د توپیر پالنی پر بنسټ ولاړ نه وی
۲- پورتنی حکم د دغو لاندو مادو د هیڅ یوی د تعلیق اجازه نه ورکوی: دریمه ماده (دحقوقی شخصیت حق)، څلورمه ماده (د ژوند حق)، پنځمه ماده (د بشری چلند حق)، شپږمه ماده (له مریتوب څخه د آزادی حق) نهمه ماده (د قانون د ماتقدم له حکم څخه برائت، دوالسمه ماده (د وجدانی او دینی آزادی)، اولسمه ماده (د کورنی آزادی)، ۱۹ ماده (د ماشوم حقونه)، شلمه ماده (د تابعیت آزادی) او درویشتمه ماده (په حکومت کی د شمولیت حق) یا د داسی حقونو د خوندی ساتی لپاره د اړتیا وړ قضائی ضمانتونه.
۳ – هر غړی دولت چی د دی حق څخه د تعلیق لپاره استفاده کوی غړو دولتونو ته د تعلیق د احکامو د کار اخیستلو په هکله اود هغی نیتی چی هغه تعلیق پای ته رسیږی د امریکایی دولتونو د سازمان د دارالانشاء له لاری خبر ورکوی.

سرچینه: http://www.oas.org/juridico/English/treaties/b-32.html

**د ربړولو او نورو ظالمانه، غیرانسانی یا سپکاوی کونکی چلند پر ضد منشور**

۲.۲ ماده - استثنایی شرایط یا داسی نور څرګندوی چی آیا د جګړی یو حالت، کورنی سیاسی بی ثباتی یا عامه بیړنی حالت کولای شی چی د ربړولو څخه استفاده توجیه کړی.

سرچینه: http://www.unhchr.ch/html/menu3/b/h_cat39.htm

## د بیړنی حالاتو په وخت کی ستراتژیکی عمل

د بیړنی حالاتو په وخت کی د دی لپاره چی امنیتی سکتور دی ته واړول شی چی بشری حقونه مراعات کړی د مدنی ټولنی سازمانونه دوه لاری په مخکی لری. لومړی، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی

چې د غوره معیارونو او قانوني محافظت د طرحې او تصویب لپاره هڅوني وکړي ترڅو د یو بیړني حالت لګول تنظم کړي او روښانه کړي چې د کومو شرایطو له مخې هغه بیرته لیرې کیږي یا اوږدیږي. دوهم، د مدني ټولني سازمانونه کولای شي چې د امنیتي سکتور ناوړه چلندونه ثبت کړي او بهرني نړۍ ته د خپلو موندونو په هکله معلومات ورکړي.

## د بیړني حالت له لګولو څخه مخکې

د یوې بیړني حالت د چمتو کولو لپاره د مدني ټولني د سازمانونو پر مخ یو ګڼ شمیر لارې چارې پرانیستې دي. ځیني په لاندې ډول دي:

- روزنه
- قانوني اصلاحات
- د پوهې د سطحې لوړول

معمولاً د بیړني حالاتو په وخت کې د خوځښت په آزادیو باندې محدودیت لګول کیږي. په دغو حالاتو کې پولیس او وسلوال ځواکونه اکثر سرکونه بندوي، سیاسي غونډې ګډوډوي او د بیړني حالاتو مقررات جاري کوي، په خاصه توګه په انتقالي دولتونو کې چې د مطلق العنان واکمنیو څخه سر راپورته کړي، امنیتي سکتور له اتباعو سره د چارچلند په برخه کې په دیموکراتیکو اصولو باندې سم نه پوهیږي او په تطبیق کې هم له نیمګړتیاو سره مخامخ کیږي. دبیلګې په توګه وسلوال ځواکونه له تروریزم سره د مقابلې لپاره روزل شوي دي، نه په ښارونو کې د قانون او نظم د ساتلو لپاره. په دې برخه کې د مدني ټولني سازمانونه کولای شي چې د امنیتي سکتور په وزارتونو کې د ظرفیتونو د جوړولو لپاره هغوی ته په اساسي موضوعاتو کې روزنه ورکړي. دغه راز د یو بیړني حالت لګول ډیرې وخت چاروکو ته دا صلاحیت ورکوي ترڅو مشکوک کسان پرته له یو قانوني امر څخه ونیسي. پخوا پولیسو د توقیف په دوره کې اکثر له ربړوني څخه کار اخیست ترڅو له مشکوک شخص څخه معلومات ترلاسه کړي. په دې برخه کې بیاهم د مدني ټولني سازمانونه د پولیسو او د امنیتي سکتور د نورو ادارو په روزلو کې مهم نقش لوبولی شي چې څرنګه پرته له ربړولو څخه معلومات لاس ته راوړي.

معنی دا چې د نړۍ په یو شمیر هیوادونو کې د بیړني صلاحیت څخه کاراخیستل سم تعریف او څرګند شوي نه دي او د بشري حقونو او د نورو داسې تړونونو له ژمنو سره تناقض لري. څرنګه چې پورته یادونه وشوه یو شمیر خاص نورمونه شته دي چې د بیړني حالاتو لپاره صلاحیتونه تنظیموي، لکه د ربړولو څخه آزادي، د دین حق او د نژاد، رنګ او نسب پر بنسټ نه توپیر کول. د دې نورمونو څخه د سرغړونو د مخنیوي لپاره د مدني ټولني سازمانونه کولای شي چې د قانوني اصلاحاتو لپاره هڅوني وکړي ترڅو له نړیوال او د بشري حقونو له قانون سره د راتلونکو بیړني حالاتو تطابقت تأمین کړي. په نورو حالاتو کې هغه مقررات چې پر بیړنیو صلاحیتونو باندې واکمن دي وجود نه لري، هغه حالات چې ډیرې وخت د بشري آن تر ټولو بنسټیز حقونو ته د نه پاملرنې سبب ګرځي، دا ځکه چې د بیړنیو حالاتو په وخت کې د امنیتي سکتور د نقش په هکله څرګند محدویتونه وجود نه لري. په داسې حالاتو کې د مدني ټولني سازمانونه کولای شي چې د نړیوالو معیارونو او غوره چارچلندونو پر بنسټ چې مخکې له دې نړۍ یادون وشو، خصوصاً د ۱۹۸۴ کال د پاریس د حداقل نومو معیارونو (۱۴ – ۴ چوکاټ وګورئ) پر اساس، د بیړني حالاتو د قانون د جوړولو لپاره هڅې وکړي.

لنډه دا چې د مدني ټولنې سازمانونه د بېړنيو حالاتو په وخت کې د نړيوال محافظتي احکامو او د نه تنازل وړ بشري حقونو په هکله د خلکو په پوه کولو کې مهم نقش لوبوي. يوازې هغه وګړي چې له خپلو حقونو څخه خبر وي کولای شي چې د يو معقول بدلون لپاره په عمل لاس پورې کړي. بېړني حالات او بېړني صلاحيتونه هغه موضوعات دي چې د هغوی په هکله د پوهې د سطحې د لوړولو لپاره بايد زيار وايستل شي.

## د بېړني حالاتو په وخت کې

که چېرې د مدني ټولنې د يو سازمان چارچلندونه او خبرې د يو استبدادي حکومت د نيوکو او مداخلې سره مخامخ کيږي، دغه سازمان مجبور دی چې پرته له دې چې د خپل سازمان بشپړتيا باندې سازش وکړي او د خپلو غړو په بربنډونه لاس پورې کړي بايد خپل کار ته په اغيزمنه توګه دوام ورکړي. د بېړني حالاتو په وخت کې د مدني ټولنې سازمانونه د معلوماتو يوازېنۍ خپلواکې سرچينې دي. په همدې وجه تر ټولو د مخه هغوی د زور زياتيو او اختناق قربانيان ګرځي. البته په دغو حالاتو کې د مدني ټولنې د سازمانو د کار لپاره کوم ځانګړې لاره چاره وجود نه لري. خو بيا هم کيدای شي چې دغه لاندې يادونې د لارښوونو په توګه وړاندې شي؛ په عمل کې د مدني ټولنې سازمانونه بايد دغه لارښوونې له ښه قضاوت او له خاصو محلي شرايطو سره ګډ کړي:

- تر کومه ځايه چې امکان ولري د مدني ټولنې سازمانونه بايد د بېړني حالاتو په وخت کې د قانون په چوکاټ کې عمل وکړي ترڅو د دولتي چارواکو لخوا په آسانۍ سره تر هدف لاندې ونه نيول شي؛
- د مدني ټولنې سازمانونه بايد له ټولو موجودو قانوني امکاناتو څخه کار واخلي ترڅو د دولتي چارواکو لخوا د خنډونو او ځورولو په هکله ريپوټ ورکړي. په خاصه توګه هغوی دغه ريپوټ د بشري حقونو او د شکايتونو د اوريدو ملي تأسيساتو ته، که چېرې موجود وي، خبر ورکړي؛
- د بېړني حالاتو په وخت کې حکومتونه احتمالاً ډېر زيات هغو مدني ټولنې سازمانونو ته ځواب ورکړي چې هغو سره يو ځای کار کړي او د هغوی خپلواکتوب په رسميت پيژندل شوی دی. دا د هغوی د تشکيلاتي اعتبارتوب د ودې اهميت ته اشاره کوي.؛[1]
- د اوږد کړای شويو بېړني حالاتو په وخت کې د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې له نړيوالو شريکانو سره همکاري وکړي او په نړيوالو کمپاينونو لاس پورې کړي تر څو په خپل هيواد کې سرغړونو ته نړيوال پام واړوي.
- په هغو هيوادونو کې چې جلاوطنې خلک ډېر زيات دي د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې په بهر کې له خپلو ميشت هيوادوالو سره اړيکې ټينګې کړي ترڅو د سرغړونو په هکله بهرنۍ نړۍ ته ريپوټ ورکړي او له دې لارې نړيوال پام ځان ته واړوي. دا چې په دروازه تړلو چاپيريالونو کې د مدني ټولنې سازمانونه اکثر د اختناق او زورزياتيو قربانيان دي، هغوی کولای شي چې د هغو بشري حقونو د سرغړونو او ځورلو په هکله چې د دوی د غړو په برخه کې د چارواکو لخوا سرته رسول کيږي په مستقيمه توګه ريپوټ ورکړي؛
- ډېری وخت محدود چاپيريالونه په دې موخه جوړيږي چې په ملي سطح د ډلو او ائتلافونو څخه د ملاتړ د ودې مخه ونيوله شي، کوم چې د دولت واکمنۍ ته ننګونه پيدا کوي. په داسې شرايطو کې د مدني ټولنې سازمانونه بايد په داسې اقداماتو لاس پورې کړي چې حکومت تر فشار لاندې ونيسي او قانع کړي چې ځينې آزادۍ ته درناوی ولري؛
- که چېرې تر فشار لاندې وي، نو د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي چې له نړيوالو قانوني وسايلو څخه کار واخلي ترڅو په خپلو اړوندو هيوادونو کې د بشري حقونو مدافعينو څخه چې

[1]- د تشکيلاتي اعتبار د ودې په هکله نور زيات معلومات په نهم فصل کې لوستلی شي.

له ګواښونو سره مخامخ دي، ملاتړ وکړي. د دغو قانوني وسایلو په هکله زیات معلومات د همدې کتاب په دیارلسم  فصل کې ورکړ شول.

**۱۴ ـ ۶**
**د جبهې لومړۍ کرښه**
هغه اساسي جوړښت چې د مدني ټولنې سازمانونو سره د هغوی د خپل امنیت د ساتلو په برخه کې مرسته کوي د (International foundation Front Line) یا «د جبهې د لومړۍ کرښې نړیوال بنسټ» په نامه یادیږي. فرنټ لاین یو روزنیز پروګرام لري او وخت په و خت هغه معلومات خپروي چې په هغو کې داسې لارښووني شته چې د ګواښونو، ویرولو او حملو په وړاندې سرې څرنګه مقابله وکړي او خپل امنیت خوندي وساتي. دغه نشراتي مواد په  دغې پاڼې کې موندلای شي: http://www.frontlinedefenders.org/manuals

## بیړنۍ حالتونه او قید یا تنګ کړای شوی چاپیریالونه: ګډ جوړښتونه

دغه فصل تر اوسه پورې بیړنیو حالاتو ته ځیرې شوی دی، څرنګه چې د هغو مختلف دولتونه او د مدنې ټولنې د سازمان د نقش په هکله یې معلومات ورکړي دي. خو په دې وروستي برخه کې هغه سپارښتنې بیان شوې چې څرنګه له سختو حالاتو او چاپیریالانو سره تعامل وشي.

قید یا تنګ چاپیریالانونه په حقیقت کې د بیړنی حالاتونو یولړ خصوصیات بیانوی، خو په عمومی توګه هغه ډیر وخت دوام کوی. سربیره پر دی د مدنی ټولنې سازمانونه هغه نقش چې په بیړنیو حالاتو کې لوبوی، دغسې یوه نقش په یو تمدید کړای شوی سخت چاپیریال کې هم لوبولی شي او سپارښتنې البته په عمومی توګه هم په همدی اړه د تطبیق وړ دی.

د قیدو چاپیریالونو خصوصیت دا دی چې د بیان، وجداني، ټولنو جوړولو، دین، خوځښت او دغه راز نورو مدنی آزادیو باندې قیودات ولګول شي او یا د مطبوعاتو د خپریدو مخه ونیوله او د وجداني اعتراض کونکو او غیر حکومتي سازمانونو  په ټکولو لاس پورې شي. دغه قیودات اکثر د استبدادي رژیمونو لخوا یا د حکومتي ادارو په ورځنیو کارونو کې لیدل کیږي او یا د یو نوی قانوني چوکات یوه برخه ګرځول شوې دي. د امنیتي سکتور سازمانونه او د هغه اداري اکثر په دغه ډول چاپیریال کې د بشري حقونو د سرغړونو مسوولیت په غاړه لري. معنی دا چې اکثر د مدنی ټولنی سازمانونه په داسې چاپیریالونو کې د سانسور او زورزیاتیو هدف ګرځي.

د رژیمونو د اختناق په وړاندی د مقابلې یوه ډیره ښه لاره نړیوالی ټولنې ته شکایت دی. په اختناقي چاپیریالونو کې د مدنی ټولنې سازمانونه کولای شي چې نړیوالی ټولنې ته د بشري حقونو د سرغړونو په هکله شکایتونه وړاندې کړي. نړیوال فشارونه اکثر بهرنی دولتونه او مرسته کونکی هیوادونه دی ته اړوي چې پر استبدادي رژیمونو باندی فشارونه زیات کړي او د بشري حقونو د سرغړونو په خاطر پرې بندیزونه ولګوي ترڅو  هغوی مجبوره کړي چې پر خپلو پالیسو کې بدلون رامنځ ته کړي. خو دا هم باید په پام کې ونیول شي چې د سرغړونو په هکله د رپوټونو، بندیزونو او د پالیسیو د بدلون ترمنځ اړیکې سره مستقیم تړاو نه لري. ډیری وخت لیدل شوی چې اکثر استبدادي رژیمونه د نړیوالو فشارونو او بندیزونو سره سره تر ډیری مودی په قدرت پاتی شوی؛ معنی دا چې یواځې نړیوالی ټولنې ته د بشري حقونو د سرغړونو په هکله د رپوټ ورکولو سره بریالیتوب لاس ته نه راځي. خو یو څه اوس څرګنده ده چې دولتونه په اوسني عالمي شوی نړۍ کې له خپلو ګاونډیو او یا نړیوال عام ذهنیت څخه د ځان ګوښه کیدو ادعا کولای نشي.

په قید او تنګ کړای شویو چاپیریالونو کی د مدنی ټولنی د سازمانونو نقش باید یواځی د سرغړونو او تیریو د څارنی او ریوټ ورکولو پوری محدود نه کړای شی. په د ی اړه باید د مدنی ټولنی سازمانونه له ټولو قانونی امکاناتو څخه کار واخلی تر څو د ناوړه چلندونو مخه ونیسی. ډیری وخت لیدل شوی دی چی په قید او سخت کړای شویو چاپیریالونو کی حکومتونه د دی لپاره چی بهرنی نړی وغولوی او داسی وښیی چی ګواکی دیموکراتیکه واکمنی لری، یو ډول ظاهری دیموکراتیک تأسیسات لکه د شکایتونو د اوریدو یا د بشری حقونو کمیسیونونه جوړوی. دغه تأسیسات په سختی سره د حکومت یا دولت څخه جلا او خپلواک عمل کوی. خو کله چی دا تأسیسات جوړ شی، کیدای شی چی خپل ځانګړی تګلاره خپله تعقیب کړی. نو په دی وجه د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی تر کومی کچی چی امکان لری له هغو سره همکاری پیل کړی او هڅه وکړی چی مثبتی خواته د هغوی په تګلاری باندی نفوذ پیدا کړی.

لنډه دا چی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د ستونزو د حل لپاره په ډله ایزو اقداماتو کی مرسته وکړی. په قید او تنګ کړای شویو چاپیریالونو کی د بیان او غونډو جوړولو پر آزادیو باندی قیودات پر دیموکراتیکی پروسی باندی د نفوذ موندلو په موخه د هر فرد لپاره امکانات زیاتوی. د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د ټولنی د بیلابیلو پرګنوغیرحکومتی لوبغاړو د یووالی لپاره هڅه وکړی تر څو د تیری کونکی پالیسیو پرضد یوه مشترکه جبهه جوړه کړی. په دی برخه کی ډیر مشهور او ښه مثال په چیلی کی د Asamblea de la Civilidad په نامه ټولنه ده چی د یو شمیر سیاسی ګوندونو او مدنی ټولنی د لوبغاړو په یو ځای کولو کی ستر نقش ولوباوه، آن تر هغه چی د ۱۹۸۰ لسیزی په پای کی د پینوچیت د رژیم په راپرځولو کی ستر نقش ولوباوه. لطفاً (۱۴ – ۸ چوکاټ مطالعه کړی.)

**۱۴ – ۷ چوکاټ**
**په قید کړای شویو چاپیریالونو کی د مدنی ټولنی سازمانونه**

**چین**

په قید کړای شویو چاپیریالونو کی په بهر کی میشت او جلاوطنی خلک ډیری وخت د سیمه ایزو فعالیتونو سره په ملاتړ او بشپړتیا کی ډیره ښه مرسته کولای شی. د دی ښه مثال د Laogai Research Foundition دی چی په ۱۹۹۲ کال کی په چین کی د زیږدلی امریکایی Harry Wu لخوا تأسیس شو. هغه ۱۹ کاله د Laogai د شاقه کار په کمپونو کی په بند محکوم شوی ؤ.

په چینایی اصطلاح کی laogai «د کار له لاری اصلاح» ته وایی. د Laogai سیستم د Mao Zedong (ماؤسیتونګ) لخواجوړ شو او تر ډیری کچی د شوروی اتحاد د Gulags د شاقه کارونو له کمپونو سره ورته والی درلود. نن هم په چین کی د شاقه کارونو سزا موجوده ده چی موخه یی د کار په شاقه کمپونو (laojiao) ګواکی «د کار له لاری بیا روزل» دی، په حقیقت کی دا یو ډول اداری بندیخانه ده چی د دری کلونو لپاره پرته د کومی محکمی له فیصلی څخه تورن کسان هلته ساتی.

د خپلو فعالیتونو په جمله کی د Laogai Research Foundation یو شیرمیاشتنی لاسی کتاب خپروی. په دی کتاب کی د څه د پاسه ۱۰۰۰ بندیخانو څخه نوم اخیستل شوی چی د هغو په جمله کی د شافه کارو نو کمپونه «د کار له لاری بیا روزل» هم شامل دی. دا د چین د شاقه کارونو د سزا د قانون په هکله یواځنی خپلواک ریفرینس دی چی په عامه توګه ورته لاس رسی ممکن دی.

سرچينه:
Laigai Research Foundation, http://www.laogai.org

**زيمبابوی**

د WOZA سازمان د هغو بشری حقونو د تيريو او سرغړونو په هکله چی د نوموړی سازمان د غړو په برخه کی شوی ؤ يوه څيړنه خپره کړه.
( دغه پاڼه وګوری:http://wozazimbabwe.org/?p=165). دغه راز دا سازمان وخت په وخت په خپلی پاڼی کی د خپلو نيول شويو غړو او يا د هغو د ربړولو په هکله معلومات خپروی. دغه پاڼه وګوری: http://wozazimbabwe.org/?s=torture
دغه پاڼه د دوو مهمو هدفونو لپاره خدمت کوی: د دولت د وسلوالو ځواکونو لخوا د سرغړونو ثبتول او په عين وخت کی د دغو سرغړونو پر ضد خبرداری خپرول چی نوموړی سازمان بی تفاوته پاتی کيدای نشی او د دی توان لری چی نړيواله ټولنی ته شکايت وړاندی کړی ترڅو پر حکومت باندی فشار واچوی.

سرچينه: http://wozazimbabwe.org/?page_id=4

**صربستان، Radio B92**

په ۱۹۹۳ کال کی B92 له ۷ نورو راډيويی دستګاوو سره خپل قوتونه يو ځای کړل ترڅو د بريښنايی رسنيو يو خپلواک انجمن (Association of Independent Electronic Media) جوړ کړی چی هدف يی سوليز مقاومت او ديموکراسی ته ځير شوی ؤ. د دغو مدنی ټولنو د سازمانونو ترمنځ د افقی اړيکو پراخوالی د دی سبب شو چی دغه انجمن د صربستان د هغه وخت د ديکتاتور Milosevic تر واکمنی لاندی د معلوماتو د آزادی لپاره په مبارزه کی ستر نقش ولوبوی.

په ۱۹۹۴ کال د پرانيستلو څخه وروسته B92 د راډيويی خپرونو څخه وړاندی پينه واړوله او يو نشراتی مرکز، د CD د توليد يوه شرکت جوړ کړ. سربيره پردی په بلګراد کی يو فرهنګی مرکز پرانيست او په ټول صربستان کی د لومړی ځل لپاره انترنتی خدمات عرضه کړل. په ټاکنو کی د درغليو پر ضد د سترو مظاهرو په ترڅ کی نوموړی راډيويی دستګاه په ۱۹۹۶ کال د دوهم ځل لپاره وتړل شوه، خو د ملی او نړيوالو فشارونو په نتيجه کی چارواکی مجبوره شول چی وروسته له دوو ورځو هغه بيرته پرانيځی.

د ۱۹۹۹ کال د اپريل په مياشت کی د کوزوو د کړکيچ په وخت کی د ناټو د هوايی بمباريو په ترڅ کی د Milosevic رژيم د معلومات د ټولو خپلواکو سرچينو د ټکولو هڅه وکړه. د B92 دفترونه بند شول او راډيويی دستګاه يی د ۱۹۸۹کال څخه وروسته د دريم ځل لپاره وتړله شوه. د دغی راډيويی دستګاه له تړلو څخه مخکی وروستی پيغام دا ؤ: «تل پاتی باور»، په صربی ژبه:
(Campagne de soutien a 92 Communique de presse du 3 averil 1999, http://helpb92.xs4all.nl/press_fra2.htm).
له ۱۹۹۶ کال څخه وروسته کله چی نوموړی راډيويی دستګاه خپل ټول فعاليتونه د انترنت له لاری پيل کړل د کوزوو د کړکيچ په موده کی د معلوماتو يواځنی خپلواکه سرچينه وه چی د صربستان له

دننی څخه لاس ته راتلل. ویل کیږی چی په هغه وخت کی د B92 انترنتی پاڼی د کتونکو شمیرد ورځی تر یو ملیون پوری رسیده.

نن B92 په صربستان کی په یوی مشهوری راډویویی او تلویزونی شبکی بدله شوی ده چی لا تر اوسه په دغه هیواد کی د خبری معلوماتو یواځنی خپلواکه سرچینه ګڼله کیږی. د هغه د تلویزون په پروګرامونو کی د “Insajder„ په نامه یو سریال هم شامل دی، دا د صربستان په تلویزونی خپرونو کی د څیړنیز ژورنالیزم، یواځنی پروګرام دی.

B92 د هغه یو مدنی ټولنی د سازمان کیسه ده چی د قیوداتو او محدودیتونو سره سره په دغه هیواد کی د دیموکراسی په پروسه کی د یو ستر لوبغاړی په توګه وده وکړه. د سیاسی خبرونو او د غیر ملیت پالنی د موسیقی د یو مختلط پروګرام سره B92 د صربستان نوی نسل هغه پیغام ورکوی چی څرنګه کولای شی عامه بحث باندی نفوذ ومومی.

## قید چاپیریالونه:
## د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره ننګونی او چانسونه

په تنګ او قید کړای شویو چاپیریالونو کی د مدنی ټولنی سازمانونه له ډیرو زیاتو ننګونو سره مخامخ دی. لومړی، د ټولو په سر کی د یادونی وړ دا ده چی د هغوی کارکونکی او غړی په منظمه توګه د دولتی چارواکو لخوا تر ګواښ لاندی دی. که چیری د یو رژیم لخوا خپلواک سازمانونه په بشپړه توګه غیرقانونی شوی هم نه وی، خو ډار، څارنه، پرته له کومی محاکمی څخه نیول او لادرک کیدل په داسی حالتونو کی نا پیژندل شوی پیښی نه دی. دوهم، د مطبوعاتو پر آزادی باندی قیودات د مدنی ټولنی د سازمانونو ظرفیت او محلی همکاری محدودوی چی نشی کولای عامه بحثونه تر نفوذ لاندی ونیسی او حکومت حساب کولو ته کښینوی. د ورځپاڼو او د مقالو او د بدیلو معلوماتو خپرول اکثر په دی مقصد دی چی آزاد او خپلواک نظریات څرګند شی. سربیره پردی د مدنی ټولنی د سازمانونو لپاره ډیره سخته ده چی په قید کړای شویو چاپیریالونو کی له نړیوالو سازمانونو سره د خپلو اړیکو او د خپلو مالی سرچینو په هکله وغږیږی، دا ځکه هغه سازمانونه چی معمولاً له بهر څخه پیسی لاس ته راوړی هغوی باندی تور لګول کیږی چی د «ملی ګټو» پر خلاف عمل کوی او د ناروااو تورونو سره مخامخ کیږی او دهمدی تورونو پر بنسټ هغوی د چارواکو لخوا ځورول کیږی.

**۱۴ ـ ۸ چوکاټ**
**په چیلی کی د کودتا په نتیجه کی د اوږدی مودی پوځی واکمنی**

د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر په ۱۱ په چیلی کی د جنرال Augusto Pinochet په مشری یوه پوځی کودتا وشوه او د Salvador Allende په دیموکراتیکه توګه منتخب حکومت یی راوپرځاوه او پر ځای یی پوځی واکمنی ټینګه کړه چی تر ۱۹۸۹ کال پوری دوام وکړ. د Pinochet رژیم د زور زیاتی، اختناق اوپر بشری حقونو باندی د تیریو سره حکومت وکړ. پوځی واکمنی په چیلی کی ټولی مدنی

آزادی له منځه یوړی، ملی کانګرس یې منحله کړ او سیاسی ګوندونه او سیاسی فعالیتونه یې بند کړل.
د رژیم په لومړی کال کی څه د پاسه ۳۰۰۰ خلک اعدام شول، ۲۹ زره وربړول شول او څه دپاسه

۳۰ زره نور له خپل هیواد څخه تیښتو ته مجبوره شول.[1]

په چیلی کی د Pinochet د واکمنی په موده کی مدنی ټولنی د بشری حقونو د سرغړونو په هکله په رپوټ ورکولو کی مهم نقش ولوباوه، کوم چی مثبتی اغیزی یی په ۱۹۸۹ کال دیموکراسی ته بیرته ستنیدو کی ولیدل شو. د ۱۹۷۳ کال د کودتا څخه وروسته په نوی ټاټوبی کی میشت سازمانونه په Poblaciones یا Shatytowns کی بیرته په فعالیت پیل وکړ. کاتولیکی کلیسا دغو سازمانونو ته په پناه ورکولو کی ستر نقش ولوباوه او په یو لړ هڅو یی لاس پوری کړ ترڅو هغوی خپل ظرفیت ته وده ورکړی او بیرته په خپلو پښو ودریږی.[2] دغه ساتونکی چاپیریال ټولنیزو سازمانونو سره مرسته وکړه ترڅو ورو ورو په یو قید چاپیریال کی د خپلواکمنو ټولنو په توګه وده وکړی.

د پوځی واکمنی د کلونو په موده کی د مدنی ټولنی سازمانونو ډیری لړی عامه ټولنی او د قتلونو، اعدامونو، نیولو، ربړولو او لادرک کیدو پر ضد د ډوډی نه خوړلو اعتصابونه درلودل. په ۱۹۸۰ لسیزه کی دغو اعتصابونه ورو ورو په سترو عامه مظاهرو بدل شول. د ۱۹۷۳کال څخه وروسته په ۱۹۸۷ کال کی د لومړی ځل لپاره سیاسی ګوندونو ته د فعالیت اجاره ورکړای شوه. له هغی وروسته د مدنی ټولنی یو شمیر سازمانونو لکه Pobladores، د پوهنتونو محصلین، حرفوی کسان، سازمانونه، د لاریو چلونکی، د ښځو انجمنونه او د بشری حقونو سازمانونو سره لاس ورکړ او په ګډه یی Asamblea de la Civilidad په نامه اتحاد جوړ کړ. د حکومت مخالف اړخ د یو ټینګ او ستر اتحاد په جوړولو بریالی شو او د Pinochet د واکمنی د پای ته رسولو په هکله د ۱۹۸۸ د یوی ټول پوښتنی سره د دیموکراسی په لور ستر ګام واخیست. د ۱۹۹۰ کال په مارچ کی دیموکراسی ته د بیرته ستنیدو سره د مدنی ټولنی سازمانونو د رښتینوالی او پخلاینی ملی کمیسیون ته چی د پوځی واکمنی په وخت کی د بشری حقونو د سرغړونو په هکله د څیړنو او رپوټ ورکولو په موخه جوړ شو، د شواهدو او اسنادو په وړاندی کولو سره ستر نقش ولوباوه.

د داسی ستونزو سره سره د مدنی ټولنی سازمان کولای شی چی د بشری بنسټیزو حقونو د محافظتی احکامو په ودی کی مهم نقش ولوبوی او دولت هڅولی شی چی په قید کړای شویو چاپیریالونو او اعلان شوی بیړنی حالت کی هم د نړیوال قانون سره سم عمل وکړی.

په دغو چاپیریالونو کی د غیرحکومتی سازمانونو شتوالی، د بشری حقونو د سرغړونو په هکله د رپوټ ورکولو او د حکومت د پالیسیو په هکله د یو خپلواکی ارزونی د وړاندی کولو په مقصد ژوند بښوونکی اهمیت لری. چیرته چی د مطبوعاتو آزادی محدوده کیږی او حکومتی خبری آژانسونه د ورځنیو معلوماتو یواځنی سرچینه پاتی کیږی، هغه شواهد او اسناد چی د بشری حقونو د سرغړونو په هکله د غیرحکومتی سازمانونو او انجمنونو لخوا ټولیږی په اوږد کړای شویو بیړنیو حالاتو کی د ناوړه چلندونو د ثبوتولو لپاره یواځنی معتبری سرچینی ګڼلی کیږی. پخوا د بشری حقونو د سیستماتیکو سرغړونو نړیواله ټولنه دی ته واړوله چی په اړوندو رژیمونو باندی اختیاری تجارتی یا اقتصادی

---

[1] National Commission on Political Imprisonment and Torture, Final Report, 1991, available online at: http://www.usip.org/liberty/tc/doc/reports/chile/chile_1993_toc.html
[2] Oxhorn, Philipp, Organizing Civil Society: The Popular Sector and the Struggle for Democracy in Chile, Pennsylvania State University Press, University Park, 1995:

بندیزونه ولګوی. سر بیره پردی د ربښتینوالی په نامه یو ګڼ شمیر کمیسیونونو چی د اوږد کړای شویو بیړنیو حالاتو په پای کی رامنځ ته شوی دی، تر زیاتی کچی په هغو شواهدو تکیه کړیده چی د مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا چمتو شوی دی تر څو د بشری حقونو د سرغړونو په موضوع کی د رژیم لاس درلودل په اثبات ورسوی او بیا یی په خپل وخت په سمبو لیکه توګه هغه چارواکی غندلی دی چی په نوموړی موده کی دغه جرمونه مرتکب شوی دی.

د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی د نړیوال او سیمه ایز قانون پر اساس، چی بیړنی صلاحیتونه تنظیموی، د دولت د بیلابیلو مکلفیتونو په هکله د معلوماتو په خپرولو کی مهم نقش ولوبوی. څیړنیز تأسیسات، پوهنتونه او د حقونو مدافع ډلی کولای شی د تعلیمی سمینارونو، د غیر متخصصو کسانو لپاره د لکچرونو او نورو داسی کورسونو سره د عام خلکو د پوهاوی د سطحی د لوړولو په برخه کی مرسته وکړی. د دغو تعلیمی پروګرامونو اغیزی په لنډه موده کی ښایی محدودی وی، خو یو پوه او خبر لرونکی ولس کولای شی چی د حکومت د هغو پالیسیو چی اساسی قانون سره ټکر کوی او یا د نړیوال قانون پر اساس د هغه له مکلفیتونو سره تناقض لری، د اوږدی مودی پر مخ مقاومت وکړی. په خاصه توګه د مدنی ټولنی اړوند سازمانونه باید پر چارواکو نفوذ ولری ترڅو په خپلو ملی قوانینو کی چی بیړنی حالتونه تنظیموی د نړیوالو اصولو قانونیت، اعلام، مفاهمی، استثنایی ګواښ او متناسب توب په پام کی ونیسی. کارپوهه تأسیسات، دبشری حقونو سازمانونه او د اتباعو ډلی چی په خاصه توګه د بیړنی حالت له صلاحیتونو څخه اغیزمن شوی دی، کولای شی چی د نړیوالو بشری حقونو د مکلفیتونو پر اساس د نوی قانون جوړونی په طرحی کی مرستی وړاندی کړی او د پیشهادی تعدیلاتو د اغیزو په هکله مشوری ورکړی.

بالاخره د مدنی ټولنی د سازمانونو تر ټولو محلی خصوصیت په قید کړای شویو چاپیریالونو کی چی هغوی نشی کولای په ديموکراتیک بحث کی په پراخه بڼه برخه واخلی، ورسره مرسته کوی. د مختلفو محلی سازمانونو او له نړیوالو غیرحکومتی سازمانونو سره په افقی توګه اړیکی درلودل له مدنی ټولنی سره مرسته کول چی د تصمیم نیولو په پروسی باندی اغیزی ولری. په خاصه توګه په قید کړای شویو چاپیریالونو کی د مدنی ټولنی محلی سازمانونه کولای شی چی په پخو او مضبوطو دیموکراسیو کی د غیر حکومتی سازمانونو له پوهی او تجربی څخه استفاده وکړی او دغه تجربی د خپل محلی ژوند واقعیتونو ته ولیږدوی او پلی کړی.

**۱۴ ـ ۹ چوکاټ**
**په نایجریا کی د کودتا په نتیجه کی اوږدمهاله پوځی واکمنی**

د ۱۹۹۳ کال د نومبر په ۱۷ د نایجریا د دفاع وزیر، Sani Abacha جمهور رییس Shonekan مجبوره کړ چی استعفاء ورکړی او یوه پوځی دیکتاتوری یی رامنځ ته کړه چی په ډیره ناوړه توګه پر بشری حقونو تیری وکړ، دیموکراتیک تأسیسات یی ړنګ کړل او د مطبوعاتو پر آزادی قیودات کینودل.

د Abacha د واکمنی په موده کی د مدنی ټولنی سازمانونو د بشری حقونو د سرغړونو او د هغه د دیکتاتوری واکمنی په ضد په دوامداره توګه مقابله وکړه. د مدنی ټولنی یو ګن شمیر سازمانونو چی په هغو کی حرفوی کارګران، قو می، سیمه ایز، ځوانانو (په خاصه توګه the Ikwre Youth Convention او د Ijaw Yoth Council ) او د پوهنتون ( The Accademic Staff Union of

(Universities) انجمنونه او دغه راز د بشری حقونو غیرحکومتی سازمانونه شامل ؤ د Abacha د پوځی رژیم د ټینګښت پر خلاف یی په عمل لاس پوری کړ.[1] په خاصه توګه د بشری حقونو غیرحکومتی سازمانونو له بشری حقونو څخه د سرغړونو د اسنادو زیاته برخه بهرنیو څارونکو او

نړیوالو سازمانونو ته وړاندی کړل. د بشری حقونو د سرغړونو د څارنی په نتیجه کی د امریکا متحده ایالاتو او نورو نړیوالو لوبغاړو د Abacha د مشری په غړو باندی د سفر کولو بندیز ولګاوه او په نایجریا یی د وسلو پلورل بند کړل او په پای کی نایجریا حکومت ته پوځی مرستی پای ته ورسولی.

د نایجریا په شمال کی د مدنی ټولنی سازمانونه چی د شمیر له لحاظه ډیر زیات نه دی او تر زیاتی کچی خپلو دودایزو ریښو او ټولنیزو جوړښتتو تر اغیزی لاندی دی د دولت د استبدادی پالیسو ضد مقاومت کی پراخه ونده واخیستله. د سیاست سره د هغوی د نه لیوالتیا خصوصیت سره سره، ډیری دغو سازمانونو د خپلو غړو او د هغوی د حقونو د موضوعاتو په اړه دولت سره د مخالفت لاره ونیوله. د بیلګی په توګه د Boyajidda په نامه د Funtua ښار کی ټولنیز اود ډرامو کلوپ چی تر دی دمه یو غیرسیاسی سازمان ؤ، وروسته له هغی چی د «حکومت ضد لوبو» د ادعا پر سر یی لوبغاړی او سازمان ورکونکی ونیول شول، د دولت پر ضد یی په مخالفت لاس پوری کړ.[2]

په ۱۹۹۹ کال کی انتخابی دیموکراسی ته د بیرته ستنیدو څخه را پدیخوا، نړیوال لوبغاړی، په خاصه توګه د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهی صندوق (UNICEF) او USIAD هغه پالیسی تعقیب کړی چی هدف یی د نایجریا د مدنی ټولنی د سازمانونو د خپلواکتوب ظرفیت پیاوړی کول دی. دغه ستراتیژی عبارت ده له: د سازمانونو ترمنځ د افقی اړیکو وده، د محلی سازمانونو او نړیوالو لوبغاړو ترمنځ د شبکی اړیکو لپاره لاره هوارول او تر ټولو مهمه د هغه یو ظرفیت رامنځ ته کول دی چی دا سازمانونه له دولت څخه خپلواک وساتی.

## نتیجه

د نړیوال قانون او د ډیرو ملی قوانینو له مخی حکومتونه کله چی فکر وکړی چی د دولت تأسیساتو پایښت له ګواښ سره مخامخ دی، اجازه لری ترڅو یو بیړنی حالت اعلان وکړی. قانونی سندونه هغه خاص شرایط نه څرګندوی کوم چی د بیړنی صلاحیتونو د صادریدو لامل ګرځی، خو معمولاً حکومتونه د جګړی یا د کورنیو وسلوال ناکراریو، تروریستی حملو څخه وروسته، اقتصادی کړکیچ یا مدنی ناکراریو او د یو شمیر نورو ټولنیز مسائلو له امله د بیړنی حالاتو اعلان کوی.

د یوبیړنی حالت لګول د دری مهمو نړیوالو او سیمه ایزو تړونونو له مخی تنظیمیږی: د مدنی او سیاسی حقونو تړون، د بشری حقونو په هکله د اروپا منشور او د بشری حقونو په هکله بین الامریکایی منشور. دولتونه کیدای شی چی د استثنایی حالاتو په وخت کی د دغو تړونونو د ځینو مکلفیتونو څخه تنازل وکړی. خو تنازل یو شمیر قیوداتو او محدویتونو پوری تړلی دی او دولتونه د نه تنازل وړ مکلفیتونو څخه هیڅکله تنازل نشی کولای. سر بیره پر دی په هغو اقداماتو چی د یو بیړنی حالت په وخت لاس پوری کیږی، باید د کړکیچ د شدت سره تناسب ولری او د وخت له لحاظه محدود وی.

[1] Walker, Judih-Ann, “Civil Society, The Challenge to the Authoritarian State, and the Consolidation of Democracy in Nigeria” In Issue, A Journal of Opinion, XXVII:1, 1990, p.54.
[2] Ibis, p.56

خو ډېرو حکومتونو د يو بيړنی حالت په «پلمه» هڅه کړی چی د ځو لسيزو لپاره بيړنی حالت جاری وساتی او پر بشری حقونو تيری کوی او خپلو نړيوالو مکلفيتونو څخه مخ اړوی. د بيړنی حالاتو په وخت کی د امنيتی سکتور په څارنی کی د مدنی ټولنی د سازمانونو نقش خورا اهميت لری، دا ځکه چی دبشری حقونو د سرغړونو تر ټولو ډېر ناخوال وضعيتونه د بيړنيو حالاتو په وخت کی ترسره کيږی، که هغه بالقوه يا بالذات حالت دی او دا تيری اکثر د امنيتی سکتور د پرسونل لخوا سرته رسول کيږی.
د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی په ملی قوانينو کی د بيړنی حالاتو د صلاحيتونو د تنظيم لپاره د غوره چارچلندونو د تطبيق د پلويتوب او اسانتياو برابرولو سره د دولت لخوا د تيريو مخه ونيسی. دغه راز هغوی کولای شی چی د بيړنيو حالاتو په وخت کی د حکومتی چارچلند د څارنی او د هغه په هکله د رپوټ ورکولو له لاری بشری حقونو سرغړونو ته پام واړوی. او سر بيره پر دی په هغه حالاتو کی چی دولت د زورزياتيو او ټکولو لاره نيولی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی  آزاد خبری معلومات وړاندی کړی.

په پای کی د مدنی ټولنی سازمانونه سخت ليوال دی چی د امينتی سکتور د حساب ورکولو ظرفيت بياوړی کړی، البته که چيری هغوی د قانون په چوکاټ  ترکومه ځايه چی امکان ولری، عمل وکړی، که چيری د امنيتی سکتور لخوا مرتکب شويو سرغړونو په هکله په منظمه توګه رپوټونه ورکړی او که چيری هغوی له بهرنيو همنظرو غيرحکومتی سازمانوو سره  د مشارکت اړيکی ټينګی کړی ترڅو د اړوند دولت ناوړه چارچلندونو ته نړيوال پام واړول شی او په خپل حکومت باندی فشار راوړی. دغه سپارښتنی نه يواځی د اعلان شويو بيړنيو حالاتو په برخه کی صدق کوی بلکه د قيد کړای شوو چاپيريالونو په برخه کی هم.

## د مدنی ټولنی د يو سازمان په توګه تاسی څه کولای شی

د قانون د اصلاحاتو لپاره هڅونه وکړی

- اړوند قانونی مقررات چی ستاسو په هيواد کی بيړنی حالتونه تنظيموی تحليل کړی
- د بشری حقونو اړوند نړيوال مکلفيتونه چی د بيړنی حالت په وخت کی د تطبيق وړ دی، تر پلټنی لاندی ونيسی.
- د قانون د اصلاحاتو لپاره هڅونه وکړی ترڅو ملی قوانين د دولت له نړيوالو مکلفيتونو سره تطابقت پيدا کړی.
- په بيړنی حالت کی د حفاظتی احکامو د تطبيق لپاره هڅونه وکړی

## د روزنی او د پوهی د سطحی د لوړلو لپاره هڅه وکړی

- پوځ، پوليس او د امنيتی سکتور نوری اداری د بيړنی حالت په وخت کی د نه  تنازل وړ بشری حقونو په هکله وروزی
- د بيړنی حالت لپاره روزنه په نورو روزنيز او د پوهی د سطحی د لوړولو لپاره پروګرامونو کی شامل کړی.
- د بيړنی حالت په وخت کی د دولت د مکلفيتونو او نه تنازل وړ بشری حقونو په هکله د پوهای او خبرتيا سطحی ته وده ورکړی.

د بيړنی حالت او د قيد کړای شويو چاپيريالونو کی د عمل لپاره ستراتيژی جوړه کړی

- په مناسبو اقداماتو لاس پورې کړي تر څو خپل ځان خوندي وساتي
- د هغو بشري حقونو څخه د سرغړونو څارل چې د امنيتي سکتور د اجنتانو لخوا سرته رسيدلي دي
- په بهر کې د مدني ټولنې له سازمانونو سره د مشارکت اړيکې ټينګې کړي او د تيريو په هکله رپوټونه بهرنۍ نړۍ ته خپاره کړي
- د پيښو قربانيانو ته قانوني لارې مشورې ورکړي.

# ۱۵
# فصل

KATRIN KINZELBACH AND YASMINE SHERIF

# پر امنیتی سکتور څارنه، زورپالونکی شخړه او سوله جوړونه

Katrin Kinzelbach and Yasmine Sherif

# ۱۵

# پر امنیتي سکتور څارنه، زورپالونکي شخړه او سوله جوړونه

## پیژندنه

عدالت او امنیت د یوې ټولنې بنسټیزې ستنې دي چې د قانون پر واکمنۍ باندې تکیه کوي. هرکله چې دغه بنسټ له منځه ولاړ شي، د هغې معکوس حالت رامنځ ته کېږي یعنې د زور واکمني چې نتیجه یې وسلوالې نښتې دي. د دې لپاره چې سرې پر امنیتي سکتور د څارنې، شخړې او سوله جوړونې ترمنځ په اړیکه باندې پوره پوه شي، هغه باید پر وسلوالې شخړې باندې پوه وي. د مدني ټولنې سازمانونه له شخړو څخه وروسته سوله جوړونې په دوره کې له ځانګړې ننګونې سره مخامخ دي چې لمن یې د نویو تأسیساتو له جوړنې څخه نیولې تر انتقالي عدلي او د رښتینوالي او پخلاینې تر کمیسیونونو پورې رسیږي. دغه فصل د اوسنۍ زمانې د کورنیو جګړو په فحوا کې د امنیتي سکتور پر څارنې ځیر شوی، چیرته چې نور رسمي دولت د امنیت د خوندي ساتنې په خدمت کې نه دی، بلکه د جګړې د اړخونو څخه یو اړخ دی.

کورنۍ جګړه اکثر د نړیوال او کورني قانون څخه د سرغړونو له مخې پیژندل کیږي، هغه اکثر د بشریت پرضد جنایاتو باندې لاس پورې کوي. د ولسي وګړو هدف نیول ډیرې وخت د جګړې د اړخونو ستراتیژي جوړوي، هغوی د بشري حقونو د سرغړونو او تیرو پرضد د ژمنې لپاره د فزیکي او قانوني محافظت له نشتوالي څخه استفاده کوي. د دغو سرغړونو او تیریو طراحان بنایي د هیواد د خپلې واکمنې د تأسیساتو په دننه کې حضور ولري، خصوصاً په امنیتي سکتور کې او بنایي د یو حاشیوي عدلي سکتور لخوا یې محافظت هم وشي. د پولیسو، امنیتي ځواکونو او پوځ لخوا تیرې، قصدي نیونې او په غیر قانوني توګه بندیخانو ته اچول، د سیاست تر نفوذ لاندې قضاء او جعلي محاکمې دا ټول بنایي پر یو فاسد او خوسا شوي عدلیې او امنیتي سکتور باندې شهادت ورکړي، حال دا چې دغه سکتورونه دنده لري چې له بنسټیزو حقونو او له وګړو څخه ساتنه وکړي.

په یو داسی چاپیریال کی تقنینی، قضائی او اجرائی تأسیسات له مشروعیت څخه بی برخی اوله بی کفایتی یا د ظرفیت له کمبود سره لاس او ګریوا ن دی. سربیره پر دی دغه تأسیسات د سیاست او پوخی مداخلو او فساد تر سیوری لاندی دی. پر وسلوالو ځواکونو له دیموکراتیک کنترول اوڅارنی څخه پرته ملکی وګړی په خپل ژوند له قصدی زورزیاتیو او مداخلو سره مخامخ دی. هغوی نه جسمی محافظت لری او نه هم قانونی مصونیت او نه هم عدلیی ته لاس رسی. په عدلی او امنیتی سکتور کی تأسیساتی او عملیاتی تشه (خلاء) اکثر د کوچنیو وسلو له دوران او په هیواد کی د قوم او دین پر بنسټ اختلافاتو په واسطه نوره هم ژوره کیږی. په مقابل کی دا حالت په یو ناپلوی عدلی او امنیتی سیستم د خلکو په منځ کی د یوی ناباوری سره نورهم ایسارکیږی.

د یوی وسلوالی شخړی په موده کی یا له هغی وروسته د عدالت او امنیت پر مسائلو باندی بحث کول او یا ورته ګوته نیول ځینی وختونه له حساسیتونوسره جوخت وی. نو په دی وجه د امینت او عدالت څخه جلا ټولنیز– اقتصادی رغونی ته پاملرنه زیاته ده. خو وګړو ته پرته له امنیت او عدالت ته د لاس رسی څخه چی د سولی جوړونی بنسټ جوړوی بی ځایه شوی خلک (مهاجرین او کورنی بی ځایه شوی وګړی) نشی کولای چی په پټ او عزت سره بیرته خپلو ټاټوبو ستانه شی؛ وسلوال شخړی به بیاهم د دښمنو اړخونو ترمنځ دوام پیدا کوی؛ د یوی ملکی واکمنی او حکومتوالی جوړښتونه حاشیوی بڼه پیدا کوی؛ او ټولنه ژر یا وروسته بیرته په یو بشپړی وسلوالی شخړی کی ډوبیږی. دعدلی او امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی پانګه اچول او پر امنیتی سکتور باندی د څارنی لپاره د دیموکراتیکو میکانیزمونو جوړول، نه یواځی حتمی او اړین دی، بلکه د یوی پایښت لرونکی سولی جوړونی لپاره مخکښینی شرط دی.

دا فصل په شخړیزو حالاتو کی د امنیتی موضوعاتو په هکله د مدنی ټولنی د مشغولتیا لپاره لاری چاری بیانوی، او په ځانګړی توګه د زورپالونکی شخړی څخه مخکی، په جریان او له هغی وروسته د دغی مشغولتیا په هکله نظر اچوی.

## د مشغولتیا لاری چاری: د شخړی له تشدد څخه مخکی

کله چی یو امنیتی سکتور د ټولنی امنیتی اړتیاوی پوره نه کړی، بلکه د خلکو امنیت له خطر سره مخامخ کړی، د امنیتی سکتور دیموکراتیک اصلاحات د یو تدریجی شخړی د زور اخیستلو او تشدد څخه په مخنیوی کی مرسته کولای شی. دا هغه چیرته ممکن دی چی د زورزیاتیو لپاره امکانات او سرچینی کمزوری دی او کیدای شی چی شخړی په سولیزه توګه حل شی. خو په عین وخت کی باید یادونه وشی چی د واقعی اصلاحاتو پروسه یوه ډیره متزلزله دوره ده. څیړنو ښودلی ده په داسی حال کی چی سیاسی او اقتصادی – ټولنیز اصلاحات د یوی شخړی سیستماتیک شرایطو او لاملونو ته ګوته نیسی، ښایی په لنډمهال کی د شخړی د مخنیوی پر ځای هغی ته نوره هم لمن ووهی.[1] د امنیتی سکتور اصلاحات کیدای شی چی د کش او کړپ لامل وګرځی، ځکه چی د قدرت انډول د یوی ډلی څخه بلی ډلی ته لیږدول کیږی. د قدرت پر سر جګړه کیدای شی چی د سیالو ډلو ترمنځ چی غواړی پر امنیتی سکتور کنترول ولری د کش او کړپ او لانجی سبب وګرځی. دا البته یوخطر دی چی کیدای شی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو د پلان په نتیجه کی رامنځ ته شی. یوه بله پراخه ستونزه دا ده چی دفاع او امنیتی تأسیسات د خپل ظرفیت د پراخوالی لپاره له نړیوال څخه مرستی ترلاسه کوی، خو د څارنی برخه کمزوری او غیر اغیزمنه پاتی کیږی. دا کیدای شی چی یو حالت رامنځ ته کړی چیرته چی د حقونو سرغړونکی امنیتی ځواکونه نورهم ښه سمبال شی او هغه څه وکړی چی تل یی کړی دی.

[1] See for example: Michael S.Lund: „Early Warnng and Preventive Diplomacy“, in Managing Global Chaos Sorece of and Responses to International Conflict, Chester A. Crocker, Fen Osler Hampson and Pamela R. Aall (ed), United States Institute of Peace, Washington, 1996, pp.379-402.

د امنیتی سکتور د هر ډول اصلاحاتو له پیل څخه مدنی ټولنه باید د پروسی د څارنی د برخی د ملاتړ لپاره متی بډ ووهی. په عین وخت کی خورا مهمه ده چی ډاډ لاس ته راشی چی د اصلاحاتو لپاره مرسته یواځی د هیواد په یوی برخی کی عرضه نشی. په یوه اختلافی ټولنه کی دا ښایی قومی تاوتریخوالی ته نوره هم لمن ووهی او حاشیوی ډلی نورهم تاوانی کړی. د دی لپاره چی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو لپاره د شخړو حساسیت په پام کی نیولو سره یوه لاره چاره ومونډله شی، غوره ده چی یو مشورتی میکانیزم جوړ کړای شی ترڅو ټول اړوند اړخونه په کی برخه ولری او په ګډه یو پلان جوړ کړی.

**۱۵ – ۱ چوکاټ**
**د پارلمان او د مدنی ټولنی د همکاری له لاری د کړکیچ د تشدد مخنیوی**

د ۲۰۰۶ کال د جون په میاشت کی د اوکرائین په پلازمینه، کیف کی د ګردی میز په یو بحث کی اوکرائینی پارلمانی غړی په دی ټکی ټینګار درلود چی د امنیت سکتور د اصلاحاتو د پلی کولو لپاره د یو مدنی ټولنی د غورځنګ او د هیواد د سیاسی پوهی پرګنی ترمنځ همکاری لومړنی شرط دی. په اوکرائین کی د قانونی تأسیساتو د کړکیچ په ترڅ کی بنسټیز بدلون رامنځ ته شو. په دغی تشی کی د یوی سیاسی پوهی څخه برخمنه نوی پرګنه او یو مدنی غورځنګ کولای شی چی په عمل لاس پوری کړی. په یو سیاسی کړکیچ کی د ملی امنیت او دفاعی کمیټو په شمول دری پارلمانی کمیټی د قانون له اجرائی ادارو او د مدنی ټولنی د سازمان له استازو سره په منظمه توګه تماس لری. له دی لاری هغوی د پیښو د ارزولو په هکله پوره خبرتیا لری او کولای شی چی وضعیت باندی څارنه ولری. په عین وخت کی هغه فعالیتونه چی د اوکرائین د پارلمان لخوا په لاره واچول شول ښایی د پراخ ولسی ملاتړ څخه پرته ممکن نه وای. دا په حقیقت کی د مدنی او د تقنینی امنیتی سکتور د څارنی ګډه همکاری وه چی د کړکیچ د تشدد په مخنیوی کی مرسته وکړه .

سرچنیه:
UNDP/DCAF Report on Parliamentary Roundtable on Security Sector Oversight, Kiev 22-23 June 2006, available at http://se2.dcaf.ch/serviceengin/Filecontent?serviceID=DCAF&Fleid=0003EF7B-6DAC-A39B-ECC8-3D75576B61E&Ing=en

مدنی ټولنه د قانونی تأسیساتو، ټولنیزو پرګنو او نړیوال لوبغاړو په منځ کی د پوهاوی د سطحی په لوړولو کی ونډه لری. مسلکی او ملی شبکی، غیرحکومتی او ټولنیز بنسټ لرونکی سازمانونه د سولی او د بشری حقونو پیغام خپروی او د ظرفیتونو په جوړولو کی ونډه لری او هغه نورمونو سره مقابله کوی چی ټولنیز ترون ته غیراغیزمن یا تاوان رسونکی دی. په جنوبی افریقا کی له نژاد پالنی څخه دیموکراسی ته اوښتون په حقیقت کی د هغه یو دیموکراتیک غورځنګ نتیجه ده چی د یو شمیر کلیسایی ټولنو، غیرحکومتی سازمانونو او صنفی اتحادیو په شمول د افریقا د ملی کانګرس لخوا یی لارښوونه کیدله. هغوی د خپلی مبارزی سره هغه رژیم نسکور کړ چی د ولس یو ستر اکثریت یی له ټولنیز ترون څخه بی برخی کړی و. [1]

[1] Cawthra, Gavin, „Security Transformation in Post-Apartheid South Africa", in Governing Insecurity: Democratic Control of Military and Security Establishments in Transitional Democracies, Cawathra and Luckham (eds), Zed Books, London, 2003.

## د مقابلې لارې چارې: د زورپالونکې شخړې په وخت کې

د زورپالونکې شخړې په وخت کې پرامنیتي سکتور باندې د ملي څارنې معنی دا ده چې له زورپالنې او خشونت سره په سوله ایزه توګه مقابله وشي، دسرغړونو پیښې ثبت کړای شي او د سولې په پلویتوب غبرګ پورته کړای شي. چیرته چې پر سوله ایزو سازمانونو او ټولنیزو جوړښتونو باندې د تیریو لمن پراخه شي، دغه ډول مقاومت د رسمي قانوني تأسیساتو لخوا یې ملاتر نه کیږي. په داسې حالاتو کې د انفرادي اشخاصو او کوچنیو ډلو زیارونه کیدای شي چې د زورزیاتیو په مخنیوي کې ښه نتیجه ورکړي. په دې اړه ښه مثال د سومالیې په شمال کې د «سومالیلند» خپل اعلان شوی دولت دی. په ۱۹۹۴ کال کې کله چې په Hargeisa کې جګړه ونښتله، د هغې پرخلاف د ښځو یوې ډلې د احتجاج غبرګ پورته کړ. کله چې دغو ښځو د وچ شوي سین په منځ کې په لاریون لاس پورې کړ، کوم چې د جګړې لومړۍ کرښه وه، ډزې ودرولې شوې. د ښځو په لاریون کې دغه شعر په سومالیې ژبه لوستل کیده:

Hadaba Deeqay dagaalkanu muxuu aha?

ترجمه:

«ای دیکا (د یو نارینه نوم) رښتیا چې زه بایلیدونکې یم
جګړه زمونږ د ژوند لاره نه ده»

د دې پرځای چې مونږ سره یو موټې شو... زما خلک زما ولس د یو بل په وینو تویولو بوخت دي زما ګاوندیان له یوبل څخه ویره لري... د یو بل وژلو ته ناست دي... ولې... په څه خاطر.... زما ناورین ساري نه لري....[1]

له وسلوالو ډلو سره د بشري حقونو رسمي خبري اترې هم کیدای شي چې پر امنیتي سکتور باندې د څارنې حیثیت پیدا کړي. په هغو حالاتو کې چې پر امنیتي سکتور باندې حکومتي میکانیزمونه کمزوري شي او د امنیتي سکتور فعالیتونه په ډلو ډلو وویشل شي، دغه ډول بشري خبرې اترې د زورزیاتیو د مخنیوي او د ولسي وګړو د ساتنې یواځنۍ لاره ده. د شخړې په وخت کې له وسلوالو ډلو سره خبرې اترې کیدای شي د لاندې هدفونو په مقصد سرته ورسیږي:

- اړو کسانو ته د بشري لاس رسیو تأمین؛
- د جګړې په مقرراتو او چارچلندونو باندې موافقه کول کوم چې د وسلوالو ډلو تر کنترول لاندې په ساحو کې د ولسي وګړو د امنیت په خوندي ساتنه کې د نړیوال بشري قانون او نړیوال بشري حقونو د قانون له مخې سمونوالې رامنځ ته کړي؛
- د وسلوالو ډلو لخوا د بشري مرستو د کار کونکو او ولسي وګړو په شمول د نیول شویو کسانو د خوشې کولو لپاره لاره هوارول؛
- د خاصو ساحو یا په یوې خاصې مودې کې د امنیت پر ساتلو باندې موافقه کول (د بیلګې په توګه په یو ټاکلې مودې کې د واکسین کولو د یو پروګرام په لاره اچول) [2]

البته دا یوه آسانه دنده نه ده. د ملکي استازو او د وسلوالو ډلو ترمنځ د قدرت نه انډول ډیرغښتلی دی. ملکي استازي کولای شي یواځې له اخلاقي قدرت څخه کار واخلي. که څه هم د دغه ډول خبرو اترو راتلونکې دیر روښانه نه ښکاري، خو هغه په بشپړه توګه ناکامي هم نه ګڼلی کیږي. کله چې له نړیوالو ډلو سره د ملکیانو د ساتنې بشري خبرې اترې سرته رسولې کیږي، دغه لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

---

[1]- د دې شعر بشپړ سومالیایي یا انګلیسي ترجمه په دې کتاب کې ولولئ: Judith Gardner and Judy El Bushra (eds), Somalia: The Untold Story. The War Through the Eyes of Somali Women Pluto Press, Lodon, 2004 p. 139.

[2] Mc Hugh, Gerard and Manuel Bessler, Humanitarian Negotiations with Armed Groups. A Manual for the Practitioners, OCHAR/United Nations, New York, 2006. p.12.

- د وسلوالو ډلو غړي ښايي د ملکي وګړو د امنيت د خوندي ساتنې په نسبت د مسووليت احساس ونه کړي او ښايي په دې برخه کې ناپوهه وي چې دوی د خپلو اعمالو ځواب ورکونکي دي، که چيرې ملکيانو ته تاوان ورسوي. د ملکي خلکو خوندي ساتنه په بشري قانون کې (هم په ملي او هم په نړيوالو وسلوالو شخړو کې)، په معمول نړيوال بشري قانون (هم په ملي او هم په نړيوالو وسلوالو شخړو کې) او د بشري حقونو په نړيوال قانون کې (چې د سولې او شخړې په وخت کې د تطبيق وړ دي) په څرګنده توګه بيان شوې دی . له وسلوالو ډلو سره د خبرو اترو يوه برخه بايد دغو مکلفيتونو ته د هغوی د غړو متوجه کول دي، هغوی ته بايد روښانه کړای شي چې دوی د ملکي وګړو د خوندي ساتنې لپاره مسووليت لري او د نيمګړتيا په صورت دوی ځواب ورکونکي ګڼل کيږي.
- د ملکي وګړو خوندي ساتنه يو حتمي امر دی او پرهغه باندې سازش او معامله کيدای نشي، ځکه هغه په نړيوال بشري قانون، د بشري حقونو په نړيوال قانون او نړيوال جنايي قانون کې صراحت لري، نو په دې وجه د بشري موضوعاتو د خبرو اترو مرکچيان بايد له وسلوالو ډلو سره له داسې لارې څخه کار واخلي چې هغوی پرې قانع کړای شي او پوه شي چې د ملکي وګړو خوندي ساتنه د هغوی په خپله ګټه ده.
- د بشري موضوعاتو د خبرو اترو مرکچيان بايد د خپلو سازمانونو په دننه او له وسلوالو ډلو سره د ستونزو د حل د لارو چارو د موندلو سره د ولسي وګړو د خوندي ساتنې لپاره امکانات برابر کړي. په دې اړه لارې چارې زياتې دي، د بيلګې په توګه له وسلوالو ډلو سره په دې هکله توافق چې د هغوی تر کنترول لاندې ساحو کې به د يتيمانو پالنه کيږي، ولسي وګړي به نه ښنتول کيږي او نه به په جنسي تيريو لاس پورې کيږي او نه به هم له ځوانو نجونو څخه ناوړه استفاده کيږي.
- حتی که څه هم وسلوالې ډلې د نړيوالو بشري حقونو د تړون غړي هم نه دي، د بشري حقونو نړيوال قانون کيدای شي چې له وسلوالو ډلو سره د بحث يو بنسټ وګرځي چې څرنګه هغوی د ولسي وګړو د امنيت په خوندي ساتنه کې ځينې مقررات مراعات کړي.[1]

بشري خبرې اترې ډيرې وخت تر ډيرو سختو سياسي او اخلاقي او د وخت د تنګوالي تر فشارونو لاندې صورت مومي. خو بياهم هغو ته بايد په پوره ځيرتيا او پاملرنې سره تياری ونيول شي. د بشري يا ولسي موضوعاتو د خبرو اترو مرکچيان بايد د وسلوالو ډلو د جګړې په دلايلو، د هغوی په سازماني جوړښت، په قومي – فرهنګي ابعادو، د هغوی په ګټو او د خبرو اترو لپاره د هغو د پلاو په ترکيب، د هغوی او د هغوی د مرکچيانو په غوښتنو او اړتياوو (سازماني، منابعو، هويت اړندو مسائلو او داسې نورو موضوعاتو) باندې پوه وي. په ځينو حالاتو کې خبرې اترې د ولسي وګړو پر امنيت باندې منفي اغيزې لري ځکه هغوی ښايي تر خپل کنترول لاندې ولسي وګړو څخه په خبرو اترو کې د خپلو ګټو د لاس ته راوړلو په خاطر د يوې وسيلې په توګه کار واخلي. دغه راز خبرې اترې ښايي د وسلوالو ډلو او هم د بشري موضوعاتو د خبرو اترو د مرکچيانو ژوند په خطر کې واچوي. خو له بلې خوا دا ډول خبرې د اعتماد د فضاء د رامنځ ته کولو لپاره ګټورې دي او د راتلونکو سياسي خبرو اترو لپاره لاره هواروي او کيدای شي چې د زور زياتيو د ټغر په ټوليدو کې مرسته وکړي.

---

[1] Ibid, p. 67

**۱۵ ــ ۲ چوکاټ**
**د جینوا غوښتنه یا مطالبه (Geneva Call)**

د جینوا د غوښتنې مطالبې په نامه سازمان هغه یو غیرحکومتي سازمان دی چې د غیردولتي لوبغاړو لپاره چې د نړیوالو تړونو په مسودو کې برخه نه لري او له همدې وجه بنایي د هغو په نسبت د مکلفیت احساس ونه کړي، ابتکاري میکانیزمونه وړاندې کوي ترڅو په ۱۹۹۷ کال کې پرسونل ضد مینونو د بندولو تړون په نسبت خپله ژمنه څرګنده کړي او د دغه تړون د تطبیق لپاره همکاري وکړي. د دغه تړون په نسبت ژمنې سره لاس لیک کونکې ډلې دغه لاندې مکلفیتونه په غاړه اخلي:

- د پرسونل ضد مینونو او نورو چاودونکو توکو د هرډول استعمال، تولید، لاس ته راوړل، لیږدولو او زیرمه کولو منع ـ په هر ډول شرایطو کې؛
- د مینونو د زیرمو له منځه وړلو، د مینونو د شنډولو، له قربانیانو سره د مرستې کولو او په دې اړه د پوهاوي د سطحې د لوړولو لپاره د ځینې پروګرامونو جوړول او په لاره اچول؛
- د جینوا د غوښتنې د سازمان لخوا د کړو ژمنو څارنې ته اجازه ورکول او هغې سره همکاري؛
- قوماندانانو او د ډلې نور کښته لیکو ته د امر صادرول ترڅو د نوموړي تړون په نسبت ژمنې ولري او د هغه په تطبیق کې همکاري وکړي؛
- د بشري نورمونو مطلوب ته د یو قدم په توګه یا اصولاً د یوې ژمنې د یوې پراخې برخې په توګه خپل ژمنې پالل.

په ۲۰۰۰ میلادي کال کې د جینوا د غوښتنې له پیل څخه تر اوسه پورې د یو ګڼ شمیر هیوادونو لکه برما / میانمار، بروندي، هندوستان، عراق، فلیپین، سومالیا، سودان، ترکیې او لویدیځې صحرا څخه ۳۴ غیردولتي لوبغاړو د عمل د ژمنې موافقه لاس لیک کړې ده. په ۲۰۰۷ کال کې د پرمختګ د یو رپوټ له مخې د لاس لیک کونکو ډلو یوې زیاتې برخې د خپلو ژمنو په نسبت پابندي ښکاره کړې، د پرسونل ضد مینونو د کار اخستلو څخه یې ډډه کړې او د مینو د شنډولو له پروګرامونو سره همکاري کړې. سربیره پر دې نهه نور غیردولتي لوبغاړو په یواړخیزه توګه یا له حکومتونو سره د اوربندونو له لارې ژمنه کړې چې د مینونو څخه استفاده منع کړي او یا لږترلږه محدوده یې کړي. په ځینو نورو هیوادونو کې د غیردولتي لوبغاړو لخوا د عمل د ژمنې د موافقې له لاس لیک کولو سره هغوی په خپلو تر کنترول لاندې سیمو کې د مینونو د شنډولو پروګرامونو او د دغه راز خپلو اړوندو دولتونو ته د اوتاوا منشور ته د لاس رسې لاره پرانیستې ده.

سرچینه:
Geneva Call Prograss Report (2000-2007). Available at http://www.geevacall.org/resources/testi-publications/gc-progress-report-07.pdf; see the Deed of Commitment at http://www.genevacall.org/about/testi-mission/gc04oct01-deed.htm

د وسلوالې شخړې په ټوله موده کې د مدني ټولنې سازمان ډیرې و خت د دولت بدیل نقش لوبوي، معنی دا چې هغه اړین خدمات عرضه کوي چې معمولاً د دولت لخوا باید سرته ورسیږي. سربیره پر دې د مدني ټولنې لوبغاړي د وسلوالې شخړې په موده کې د سرغړونو او تیریو څارنه کوي او په دې اړه اسناد او شواهد راټولوي ترڅو د شخړې د پای ته رسیدو څخه وروسته د پیښو عاملین د عدالت په

وړاندی ودروی (د زیاتو معلوماتو لپاره ا نتقالی عدالت ترعنوان لاندی برخه او په دی کتاب کی د بشری حقونو فصل مطالعه کړی).

## د مقابلی لاری چاری: د سولی خبری اتری

د سولی په موافقو کی د نورو مسائلو تر څنګ د وسلوالو ځواکونو غیرمحارب کول او اصلاحات یا د حکومت تر کنترول لاندی د یو واحد ځواک لاندی د پخوانیو سیالو وسلوالو ډلو تنظیمول هم شامل دی. د وسلوالو ځواکونو د بیا جوړونی سربیره (خصوصاً پوځ او نیمه پوځ) د سولی خبری اتری دا موقع هم برابروی تر څو په ژورو تشکیلاتی اصلاحاتو باندی موافقه وشی، ملکی کنترول ټینګ کړای شی او خلکو ته د خدمت پر بنسټ او دیموکراتیک امنیتی خدمات سرته ورسیږی. په تیرو زمانو کی دغسی موقع ډیره لږه برابره شوی ده.

په تیرو کلونو کی نړیوالی ټولنی د سولی د خبرو اترو او د سولی د ملاتړ عملیاتو په وخت کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو ننګونو ته ډیره زیاته پاملرنه کړیده. د ۲۰۰۷ کال په فبروری کی کله چی د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا دوره یی ریاست د سلواکیا د هیواد په غاړه وه د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په اړه د ملګرو ملتونو یو کاری قوه جوړه شوه. د دغی کاری قوی د هڅو په مرسته د ملګرو ملتونو عمومی منشی د امنیت شورا او عمومی اسامبلی ته یو ریوټ وړاندی کوی چی په هغه کی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په برخه کی د لاس ته راغلو تجربو او سپارښتنو په اړه معلومات راټول شوی دی. که څه هم د پالیسی په سطح کی د مدنی ټولنی نقش باندی اعتراف کیږی، په واقعیت کی د جګړه مارو ډولو ترمنځ د سولی خبری اتری معمولاً د یو مرکچی په مرسته سرته رسولی کیږی. د مدنی ټولنی استازی چی د وګړو هغه برخه جوړوی چی وسلی ته یی لاس نه دی اوړد کړی ډیر لږ امکان لری چی د سولی په خبرو اترو کی دی ونډه ولری.

**۱۵ ـ ۳ چوکاټ**
**د امنیتی سکتور د هراړخیزو اصلاحاتو سره د سولی موافقی**

په ۱۹۹۰ لسیزه په ګواتیمالا او بوزنیا – هرزګووینا کی د سولی په موافقو کی نه یواځی د امنیتی سکتور د اصلاحاتو په هکله شرایطو ته اشاره شوی، بلکه امنیتی او قضائی اصلاحات یو لړ پراخو اقتصادی او ټولنیزو بدلونو پوری هم تړل شوی دی.

د ګواتیمالا د حکومت او د هغه هیواد د متحدی انقلابی جبهی « Unidad Revolucionaria Natinal Guatmetalteca» (URNG) ترمنځ د سولی لاس لیک شوی موافقه له یوولس موافقو څخه عبارت ده چی د امنیتی اصلاحاتو، بشری حقونو، بومی ډلو، ټولنیز او اقتصادی اصلاحاتو، د ځمکی اصلاحاتو، د جګړی د جرمونو د ثبت کمیسیون او د پوځ نوی نقش او دغه راز غیرمحارب کولو او بیا ادغام پوری اړه نیسی.

د Dayton د سولی موافقه چی په بوزنیا – هرزګووینا کی شخړی ته یی د پای ټکی کیښود ډیره ښه بیلګه ده چی څرنګه د ثبات لپاره هڅی (دوره یی ریاست جمهوری او د دری جمهوریتونو په دننه کی د جلا جلا حکومتی پولیسی ځواکونو شته والی) کیدای شی د اوږدی مودی اصلاحاتو پروسی پوری وتړل شی. لس کاله وروسته د د غی پروسی په نتیجه کی د بوزنیا پارلمان د یو واحد پوځ او دفاع وزارت د جوړولو لپاره رأیه ورکړه او د اروپا د اتحادیی له معیارونو سره سم د پولیس ځواک د اصلاحاتو لپاره پریکړ وکړه.

سرچینه:
OECD/DAC Handbook on Security System Reform, OECD, 2007, p.101. available at http://www.oecd.org/datoecd/43/25/38406485.pdf

نو اوس پوښتنه دا ده چې څرنګه کیدای شي د یو ټولنې د بیلابیلې پرګنې ګټې، ارمانونه او ارزښتونه له شخړې څخه وروسته زمانه کې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو په هکله تصمیمونو کې په پام کې نیول کیږي؟ په دې اړه کومه واحده طرحه وجود نه لري چې ټولو حالاتو سره جوړه شي. خو بیاهم اساسا درې مختلف ډولونه شته دی: د سیاسي ګوندونو له لارې برخه اخیستونکې استازې؛ مشورتي میکانیزمونه د کومو له لارې چې مدني ټولنه خپل غږ پورته کړې او سپارښتنې وکړې؛ او په سیمه ایز مشورتي میکانیزم کې په مستقیمه توګه ونډه اخیستل. د سیاسي او د وخت فشارونو پام کې نیولو سره د سولې خبرې اترې د یو عامه پراخ ګډون لپاره ډیره لږه موقع برابروي. وروسته له مهمو ټکو چې مخکې له پرې توافق شوي دې د یوې مشورتي پروسې په لاره اچول یواځې ډیر لوی اعتبار لرې. دا چې د مدني ټولنې استازې څرنګه کولای شي د برخې اخیستو لپاره سیاسي فضا مساعده کړي یو حالت تر حالت پورې توپیر لرې، خو دغو لاندو نړیوالو نورمونو ته اشاره کول ښایي د مدني ټولنې غوښتنو سره مرسته وکړې ترڅو د سولې په خبرواترو کې غوږ ورته ونیول شي:[1]

### ۱۵ – ۴ چوکاټ
### د سولې په خبرواترو کې د مدني ټولنې د برخې اخیستو لپاره د نړیوالونورمونو کاري چوکاټ

| ډله | قانوني نورم |
|---|---|
| **عمومي خلک** | د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۱ ماده |
| | د مدني او سیاسي حقونو نړیوال منشور، ۲۵ ماده (په ۱۹۹۶ کې تصویب شوی) |
| **ښځې** | د ښځو، سولې او امنیت په هکله د امنیت د شورا ۱۳۲۵ پریکړه (S/RES/1325) |
| | د ښځو پر ضد د توپیر پالنې د ټولو ډولونو د له منځه وړلو لپاره د ملګرو ملتو منشور ( ۷ ماده) |
| | د نړیوالې سولې او همکارې په وده کې د ښځو د برخې اخیستو لپاره د ملګرو ملتو اعلامیه |
| | د پیکینګ د عمل پلتفارم د E برخه |
| **لږکې او بومي خلک** | د نژادي توپیرپالنې د ټولو ډولونو د له منځه وړلو په هکله نړیوال منشور (5c ماده) |
| | د ملي، قومي، مذهبي او ژبنې لږکیو حقونو په هکله د ملګرو ملتو اعلامیه (۲.۲ ۲.۳ مادې) |
| | د ۱۹۸۹ کال د نړیوال کار د سازمان منشور چې په خپلواکو هیوادونو کې بومي او قبایلي خلکو پورې اړه نیسي، ۱۶۹ شمیره (۴، ۶، ۷، ۱۴، ۱۷) |

د یوې معقولې عامه سلامشورې د تأمین په موخه د سولې موافقې باید لږترلږه د هغه یو میکانیزم او یا پروسې د جوړولو یوه ماده ولرې چې د هغې له مخې د مدني ټولنې سازمان وکړای شي د امنیتي اړتیاو په یوې سیستماتیکې ارزونې کې ګډون وکړې. دغه ډول ارزونه د شخړې څخه په وروسته دوره کې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو لپاره بنسټ جوړوي.

[1] Catherine Barnes: „Democratising peacemaking processes: strategies and dilemmas for public participation", in Accord, No. 13, Concilition Resources, London (2002): p.8 and 10.

## د مقابلی لاری چاری: د شخړی څخه وروسته حالات

د سولی د یوی موافقی له لاس لیک کولو سره ښایی د وسلوالی دښمنی چوپتیا رامنځ ته شی خو نه په زور زیاتیو او دبشری حقونو په سرغړونو کی. یوه ټولنه چی له جګړی په واسطه اغیزمنه شوی وی هغه د جګړی له یو ډول فکر او روحیی په واسطه هم اغیزمنه شوی ده. وسلوال انفرادی اشخاص او وسلوالی ډلی، نه روزل شوی پولیس او نه دسپلین لرونکی عسکر په سړکونو او بازارانو کی کښته پورته کیږی. ډار او ګواښ، کرکه او قهر د یوی اوږدی مودی لپاره پاتی کیږی او وخت په وخت پر هغو لاس پوری کیږی او دا ټول ډیری وخت د راتلونکو ناآرامیو لپاره یو نوی بنسټ برابروی. په بل عبارت د سولی جوړولو پروسه په خپل ذات کی د زور زیاتیو د پای معنی نه لری. په حقیقت کی هغه یوائی پیل دی.

د کړکیچن سیاسی غوښتنی د اړخ، د پوهی د بنسټ، د امنیتی ځواکونو د دیموکراتیک کولو او عملیاتی ظرفیت تر څنګ د قانون د اجراء کولو چاروکی، د قضائی او تقنینی چارو حرفوی کسان باید بیرته په کار وګمارل او پیاوړی کړای شی. هغوی باید په تخنیکی مهارتونو او ظرفیتونو مجهز کړای شی ترڅو په یو شفاف او حساب ورکونکی ډول خپل مسوولیتونه پر ځای کړی.

د نړیوالو پیژندل شویو معیارونو له مخی اعتماد باید رامنځ ته کړای شی او ژمنی وشی چی هغه څه سرته ورسیږی چی هغه معقولیت ولری. د یوعادل او د قانون پر بنسټ ولاړ نظام د نشتوالی په صورت کی، د قانونی اوامرو او د وګړو حقونو ته ژمنی هیڅکله عملی بڼه نه غوره کوی. په داسی یو حال کی قاضیان، پولیس او پوځ خلکو ته د خدمت پر ځای خپل رهبری او خپل دولت ته خدمت کوی. د داسی یو حالت مخه باید ونیوله شی.

**۱۵ ــ ۵ چوکاټ**
**د محلی واکمنی په جوړولو کی اشتباهات**

په ۱۹۹۹ کال کی د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د سولی د یو موافقی څخه دری کاله وروسته کله چی په ګواتیمالا کی ۳۶ کلنه جګړه پای ته ورسیده ، د هغه هیواد حکومت یو نوی ملکی پولیسی قوه یی جوړه کړه (Plicia National Civil, PNC ). د محلی پولیسو له اړیکو سره د مرستی په موخه د PCN د ملی عمومی رئیس Rodolfo Mendoa له مدنی ټولنی او پارلمان سره له مشوری پرته یوه محلی امنیتی شورا (Juntas Locales de Seguridad, JLS) جوړه کړه. دغه محلی شوراګانی چی تر زیاتی کچی د جمهوری ریاست له فرمان سره جوړی شوی نه د پارلمان د پریکړی سره، د ښاروال لخوا رهبری کیدلی او په هغی کی د سیمی د پولیسو مشر او ځینی مخور کسان شامل کړای شول. د هغوی دنده دا وه چی د سیمی له اوسیدونکو سره د مفاهمی لاره هواره کړی او هغوی ته د نوی پولیس ځواک او د هغه د نقش په هکله معلومات ورکړی او خلک تشویق کړی چی د اصلاحاتو په پروسه کی ونډه واخلی.

دغه شوراګانی پرته له کومی ښکاره ستراتیژی څخه چی څرنګه محلی خلک د پولیسو په کار کی ګډ کړای شی، عمل کوی. د شخړو په پخوانیو حوزو کی محلی خلک د نویو شوراګانو او د خپل ځان څخه د دفاعی ګزمو ترمنځ، چی د کورنی جګړی په موده، پولیسی دندو کی ونډه اخیستلو ته مجبور کړای شوی، توپیر نه کوی.

هغه درس چی له دی تجربی څخه باید زده کړای شی دا دی چی د یوی نوی ستراتیژی سره چی له

زور او فشار سره جوګه نه وی باید د پولیسو او محلی خلک په اړیکو کی اصلاحات رامنځ ته شی. که

څه هم د پولیسو په نظر دا شوراګانی د خلکو د تماس او د معلوماتو د راټولولو لپاره ګټوری ګڼلی کیږی، خو هغه یو پلوه ایزه اقدام ؤ پرته له دی چی پخوانی پس منظر ته پاملرنه وشی. په همدی وجه که چیری د پولیسو او محلی خلکو ترمنځ د اړیکو لپاره رامنځ ته شوی میکانیزمونه په حساب ورکولو کی نیمګړتیاوی ولری، له خارنی څخه بی برخی وی او کنترول پری نه وی، هغه د پولیسو او محلی خلکو په اړیکو کی کومه ګټه نه رسوی.

سرچینه:
Neild, Rachel, Sustaining Reform: Democratic Policing in Central America, Washington Office on Latin America, Washington, 2002.

د لوبغاړو یوه پراخه برخه باید دی پروسی ته راوړله شی، نه یوازی مدنی ټولنه. په حقیقت کی مدنی ټولنه د دی پروسی د پرمخ بولو لپاره مخکښ نقش لوبوی. مدنی ټولنه کولای شی چی د یو هیواد حتی هغو برخو ته هم لاس اوږد کړی چی د مفاهی امکان ورسره نشته یا حتی ترانسپورتی لاس رسی ورسره نه دی شوی او یا که چیری شوی هم دی، ډیر محدود دی. د کلیو او بانډو او د هغوی له کلتوری جوړښتونوڅخه معلومات د پوهاوی د سطحی په لوړولو او د پولیسو، امینتی ځواکونو او قانونی مسلکی کسانو د روزلو په پروسه کی مهم نقش لوبوی. هغوی پوهیږی چی د خپلو هیوادوالو په اړه بشری حقونو ته څه ډول بڼه ورکړی (د زیاتو معلوماتو لپاره چی څرنګه دا فعالیتونه په لاره واچوی، لطفا په دی کتاب کی هغو فصلونو ته مراجعه وکړی چی د پوهاوی د سطحی د لوړولو او روزلو په هکله دی).

له شخړی څخه وروسته دوره کی د امنیتی سکتور اصلاحات معمولاً له بی وسلی کولو، غیرمحارب یا ملکی کوو اوپه ټولنه کی د پخوانی جنګیالیو ادغام کولو (DDR) سره پیل کیږی. له شخړی څخه وروسته ټولنه کی د وسلوالو ځواکونو د کمولو او د مرکزی کنترول د اداری د بیرته جوړولو سر بیره د DDR د پروسی هدف دا دی چی د امنیت یوی مرکزی ستونزی ته پاملرنه وکړی، یعنی کله چی جګړی پای ته ورسیږی ډیری جنګیالی د ژوندانه د ملاتړ له شبکی څخه بی برخی کیږی. که چیری جنګیالی ډیر ژر د سولی له ګټو څخه برخمن نشی، ښایی د خپل ژوند د تأمین لپاره بیرته د جګړی ستراتیژی ته مخ واړوی.

مدنی ټولنه کولای شی چی د پخوانیو جنګیالیو په ادغام کی مهم نقش ولوبوی. له بده مرغه ډیری بیلګی وجود لری چی د DDR د بیا ادغام له پروګرامونو څخه د مدنی ټولنی له حذف کولو څخه ډیری ستونزی راولاړیږی. په دی اړه السلوادور، هاییتی، نیکاراګوا او مالی د یادونی وړ مثالونه دی.[1]

په ملکی وګړو یا ملکی اتباعو د سرتیرو او ملیشو بدلول په حقیقت کی یوه ټولنیزه ننګونه ده. په دی هڅه کی د مدنی ټولنی د نقش پر اهمیت باندی باید اعتراف وشی. له اقتصادی لحاظه هغه کولای شی چی د ځان – بسیا او پر خپلو پښو دریدو او اقتصادی بیارغاونی لپاره ښه موقع برابر کړی. له ټولنیز لحاظه مدنی ټولنی کولای شی چی په ټولنو کی د پخوانی جنګیالیو او ملیشو په ادغام او منلو کی مرسته وکړی. خو دا یوازی هغه وخت بریالی کیدای شی چی پروسه شفافیت ولری او عادلانه وی. د DDR د هر پروګرام غټه دنده دا ده چی د امنیت او عدالت ترمنځ انډول وساتی.

[1] See Poulton, Robin Edward, „Civil Society is an Indispensable Partner for Weapon Collection and DDRR within the UN Programme of Action", in UNIDIR Disarmament Forum, Geneva, 2006.

د DDR د پروګرام د بریالی کولو د چانس د زیاتولو لپاره د مدنی ټولنی د سازمان استازی باید د دغه پروګرام په ټولو پړاونو کی د یو مشورتی میکانیزم له لاری ګډون ولری. خصوصاً د وړتیا د معیارونو د ټاکلو په تصمیمونو کی برخه درلودل خورا اهمیت لری. دغه معیار ښیی چی د DDR ستر هدف د امنیت ښه کول دی. دا ده چی د وسلوالو ځواکونو هغو غړو ته چی د هغو له درکه د زیات خطر احساس کیږی، رومبیتوب ورکول کیږی. دغه پروسیجر د دی ښکاروندی دی چی معلولین او معیوبین، غیر وسلوالی ښځی، اختطاف شوی کسان (نارینه، ښځی او ماشومان) له دی پروسی څخه بی برخی کیږی. که څه دوی هم د جګړی اړخونو له جملی څخه دی، خو د وسلوالو جنګیالیو په څیر دوی هم د بیا ادغام له ستونزو سره مخامخ دی. د وړتیا معیار باندی باید د DDR د هری برخی لپاره جلا تصمیم ونیول شی:

- د وسلوالو ډلو غیر وسلوال غړی د بی وسلی کولو مستحق نه دی، خو باید د غیرمحارب کولو یا ملکی کولو او بیا ادغام مستحق وی؛
- د وسلوالو ډلو متعلقین یا کورنی غړی د بی وسلی کولو، غیرمحارب کولو یا ملکی کولو مستحق نه دی، خو د بیا ادغام مستحق باید وی؛
- ښایی اړتیا پیدا شی چی د وسلوالو شخړولو لپاره تښتول شوی کسان او ماشومان بی وسلی کړای شی، خو ښایی په رسمی توګه غیرمحارب شوی نه وی، هغوی د بیا ادغام لپاره مرستو ته اړتیا لری.[1]

**۱۵ – ۶ چوکاټ**

**د کانګو په دیموکراتیک جمهوریت کی د ښځو انجمنونه او DDR**

د هغی یوی ستراتیژی پرضرورت باندی ټینګار چی څرنګه ښځی او نجونی د کانګو د دیموکراتیک جمهوریت د بی وسلی کولو، غیر محارب یا ملکی کولو او د بیا ادغام پروسه کی شاملی کړای شی، یوه مشورتی پروسه سازماندهی شوه او د ۲۰۰۳ کال د نومبر له لسمی تر یولسمی پوری په پلازمینه کینشاسا کی پیل شوه. په دغی غونډی کی چی د UNDP او UNIFAM لخوا یی ملاتړ کیده، د کانګو ښځی وتوانیدی چی له موقع څخه په استفادی سره خپل نظریی او خپلی اړتیاوی څرګندی کړی او د سترو لوبغاړو په منځ کی دا پوهاوی پراخ کړی ترڅو د DDR په پروسه کی ښځی باید هیری نه کړای شی.

د ښځو د انجمنونو سربیره په برخه والو کی د بشری حقونو نور سازمانونه، په DRC کی د DDR په چارو کی د نورو وزارتونو استازی او د یو شمیر بسپنه کونکو هیوادونو استازی هم شامل دی. په لاندو موضوعاتو باندی د بحث لپاره څلورکاری ډلی جوړی شوی: ۱- بی وسلی کول او غیر محارب کول یا ملکی کول؛ ۲- بیا ادغام؛ ۳ – د DDR په هکله د پوهی د سطحی لوړول او د ټولنی لمسول؛۴- هغه ماشومان چی له وسلوالو ډلو سره همکاری لری.

د دغه سمینار په نتیجه کی د سپارښتنو یو مفصل لست جوړ شو چی په یو مطبوعاتی کنفرانس کی عامو خلکو ته وروړاندی شو. خو د حقونو څخه د دفاع د زیارونو سره سره د DDR ملی پروګرام یو

[1] UN Inter-Agency Working Group on Disarmament and Reintegration (IAW-DDR)): Operational Guide to the IDDRS, 2006. p.44. Available at http://www.unddr.org/iddrs.org/iddrs_guide.php

ډیر کمزوری طرح وړاندی کړه چی هغه ښځی له پام څخه وغورځولی چی له وسوالو ډلو سره د پیسو په خاطر همکاری کړی وه. په ۲۰۰۵ کال کی دغی مسألی د کمپونو په سرحدونو کی یو ستر بشری

کړکیچ رامنځ ته کړ، څرنګه چی په زرګونو ښځو له خپلو ماشومانو سره په ډیرو ناخوالو شرایطو کی د خپلو خاوندانو ملکی کولو ته انتظار وایست.

دغه مثال ښیی چی حاشیوی ډلی ډیری وخت د ارزښت وړ زیرکی او هوښیارتیا لری. که چیری د پروګرامونو په طرح کی د اړوندو مدنی ټولنو د لوبغاړو نظریات په پام کی ونیول شی، کیدای شی چی د دی پروګرام د منفی اغیری مخه ونیوله شی. دغه مثال دا هم ښیی چی د مدنی ټولنی د سازمانونو د مشورو پروسه او د حقونو د دفاع زیارونه تل د پآم وړ نتیجه م په لاس نه ورکوی.

سرچینه:
UNDP Report: Gender and DDR in the DRC, May 2005 see Emily Schroeder, A Window of Oppertunity in the Democratic Republic of Congo: Incorporating a Gender Perspective in the Disarmament, Demobilization and Reintegration Process, available online at http://www.peacestudiesjournal.org.uk/docs/AWindowofOpertunity.pdf

دغه راز د بیا ادغام پروګرامونه باید په ټولنه کی د هغو ډلو ترمنځ د تجرید او ګوښه کیدو مخه ونیسی چی هیڅکله یی په زورزیاتیو لاس نه دی پوری کړی. په نتیجه کی د حساسیتونو د مخنیوی لپاره د بیا ادغام پروګرام باید په یو بشپړ او هراړخیز اقدام لاس پوری کړی چی ګټه یی نه یواځی جنګیالیو ته ورسیږی بلکه د ټولنی اقتصاد ته په عمومی توګه. له مدنی ټولنی سره په کافی اندازی مشورتی میکانیزمونه د داسی یوی پروسی د بریالیتوب لپاره حتمی او ضروری دی.

د اوږدی مودی پلان په پام کی نیولو سره د DDR د طرحی یوه کمزورتیا دا ده چی هغه تر زیاتی کچی د سمدلاسه امنیتی ګواښونه پام اړوی، په دی وجه دغه ډول پروګرامونه د امنیتی سکتور د سترو اصلاحاتو لپاره لاره نه هواروی. څرنګه چی پورته تری یادونه وشوه، د یوی هر اړخیزی اصلاحی پروسی لپاره باید یوه لاربښوونکی نقشه د سولی په موافقه کی شامله کړای شی. د یو شخړی څخه وروسته چاپیریال کی د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی چی په لومړی سر کی تشکیلاتی اصلاحاتو ته پام واړوی. د دی مقصد لپاره کولای شی له هغو ستراتیژیو څخه کار واخلی چی د همدی کتاب د حقونو څخه د دفاع په فصل کی تری یادونه وشوه.

له شخړی وروسته په یو چاپیریال کی په خاصه توګه یو ګټور اقدام دا دی چی د مدنی ټولنی د سازمان استازی د DDR په ساحو کی په پروژو او د اجرائی ارګانونو، اجرائی او عامه ادارو په اصلاحاتو کی وټاکل شی. له دی سره د مدنی ټولنی استازی کولای شی چی د دغو پروګرامونو اوږدمهال کړنلاره تر نفوذ لاندی ونیسی او داړ لاس ته راوړی چی د تشکیلاتی اصلاحاتو لپاره یوه کړکی پرانیستله شوی ده. په داسی اجرائی هیأتونو کی د مدنی ټولنی استازیتوب په حقیقت کی پر بیرته رغول شوی امنیتی سکتور باندی د مدنی ټولنی د مخکی له مخکی څارنی په معنی ده.

وروسته له وسلوالی شخړی څخه پر امنیتی سکتور باندی د څارنی په اړه د مدنی ټولنی دنده وسلوالو زورزیاتیو او پر کوچنیو او سپکو وسلو باندی د کنټرول درلودلو پوری اړه نیسی. په داسی حال کی چی بی وسلی کول، غیرمحارب کول یا ملکی کول او بیا ادغام پروسی او دغه راز د امنیتی سکتور اصلاح هریو په خپل وار سره د وسلوالو ډلو په اختیار کی پاتی شوو وسلو ته پاملرنه کوی، دا هم خورا

اهمیت لری چې پر ټولو هغو وسلو چې په دوران کې دی کنترول ټینګ کړای شی. د سولې په وخت کې کوچنی وسلې د قانونی مقرراتو او د ټولنیز او کلتوری تفاهم له مخې کنترول او خوندی ساتل کیږی. خو کله چې شخړې رامنځ ته شی، دغه فرهنګی او ټولنیز پیوستون سره شلیږی او یوه شخړه ځان سره ناکراری، نا قانونی توب او د ټوپک واکمنی رامنځ ته کوی. وسلې رابرسیره کیږی او د ورځنی ژوند یوه برخه ګرځی. په نتیجه کې کوچنی او سپکې وسلې د کلیو او بانډو او د وسلوالو مخالفینو د ساتنی یواځنی وسیله ګرځی. د کوچنیو وسلو د خپریدو او د استعمال د مخنیوی لپاره دوه لاری دی: د کنترول زیاتول او د غوښتنو کمول. د کلیو او بانډو پولیسی کنترول او د ستونزو د حل سنتی لاری چاری ښایی د کلیو او بانډو په سطح د امنیت په خوندی ساتنه او د اعتماد په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړی.

**۱۵ ـ ۷ چوکاټ**
**په مقدونیه کې د کلیو او بانډو د مصؤنیت لاری چاری.**

په مقدونیه کې د سپکو او کوچنیو وسلو د عفوی په اړه د ۲۰۰۳ کال د نومبر او دسمبر په میاشتو کې د مدنی ټولنی فعالینو په پخوانیو شخړه ایزو سیمو کې په یو لړ بحثونو لاس پوری کړ. د مقدونیې د یو غیرحکومتی سازمان NGO CIVIL او د هغه د هالندی شریک Pax Christi د ویناو له مخې کلیوالی خلک د خپلو ستونزو په هکله د بحث لپاره لیوالتیا ښکاره کړه. یوه ستونزه چې هغوی غوښتل پرې وغږیږی، د انتظار په خلاف د وسلو د خپرولو موضوع وه. له کلیوالی خلکو څخه پوښتنه چې د هغوی ستونزې څه دی، نسبت ودی ته چې یواځې هغوی ته د وسلو د کنترول یا د اقتصاد، سیاست او امنیت په هکله لګچرونه ورکړ شی، ډیر زیات ګټور تمام شو او ښې پایلې درلودی.

په دی اړه د ملی سولې د یوی موافقی شتوالی (the Ohrid Framework Agreement) د بحث لپاره ډیره ښه لاره هواره کړه. بحثونه د کلیو له ملکانو سره د تماسونو له لاری پیل شول اوبیا له کلیوالی خلکو سره د نوموړی غیر حکومتی سازمان (NGO) د پلانونوپه هکله بحث او خبری وشوی. د کلیو او بانډو مشرانو د انتظار سره سم یو تن د رابط سړی په توګه وټاکه چې د پاتی غونډو بندوبست وکړی. د بحثونو په ترڅ کې د NGO غړو د دی بندو بست وکړ چې د راتلونکی عفوی په هکله نور معلومات چمتو کړی او د بی وسلې کولو په هکله یی موافق او مخالف بحث په لاره واچاوه.

سرچینه: SALW Awareness Support Pack, SEESAC, 2003, p.82.

په داسی حال کې چې څرګنده ده مدنی ټولنه کولای شی له شخړې وروسته په چاپیریال کې د امنیت په ټینګښت کې د ارزښت وړ ونډه واخلې او په امنیتی سکتور کې د تأسیساتی اصلاحاتو لپاره لاره هواره کړی، په عین وخت کې دا هم باید وویل شی چې حتمی نده د مدنی ټولنی ټول لوبغاړی د سولې جوړولو اجنداء سره مرسته وکړی. د بیلګی په توګه مافیایی ډلی د خپلو ګټو لپاره د وضعی د بی ثباتی د دوام لپاره کار کوی. دغو لوبغاړو ته ځینی وختونه «غیرمدنی ټولنه»[1] هم ویل کیږی. له بلې خوا د جګړی سابقه لرونکو ډلی ښایی که له یوی خوا سوله ایزهدفونه ولری، له بلې خوا دوی بیاهم د خپلو غړو په منځ کې د جګړی هویت تمثیلوی او له هغه څخه ملاتړ کوی، دا ډول یو دریځ هم کله ناکله د سولې

---

[1] See for example Alan Bryden, Timothy Donias and Heiner Hänggi, „Shaping a Security Governance Agenda in Post- Conflict Peacebuilding", DCAF Policy Paper No. 11.DCAF Genva 2005, P.12 Available at http://se2.dcaf.ch/serviceengine/Filecontent?serviceID=DCAF&fileid=7E41A1F4-6D69-5470-48FAF3DB4EoBD1E0&Ing=en

جوړولو د هڅو په وړاندی خنډونه پیدا کوی. نو په دی وجه له شخړی څخه وروسته چاپیریال کی د مدنی ټولنی د شریکانو انتخاب یو کړکیچنه موضوع ده. سربیره پر دی داهم لیدل شوی چی په یوچاپیریال کی د نړیوالو مرستو او پیسو د لاس ته راوړولو لپاره یو کڅ شمیر د مدنی ټولنی سازمانونه جوړیږی. په داسی شرایطو کی د یوی مدنی ټولنی جوړول د تجارت ښه غوره کوی. نو په دی وجه دا د وخت او زمان غوښتنه کوی چی د ریښتینو مدنی ټولنو د سازمانونو او غیر ریښتینو تر منځ توپیر وشی، هغه مدنی ټولنه وپیژندله شی چی د خلکو سره اړیکی لری نه دا چی له نړیوالو بسپنه ورکونکو سره په رابطه کی وی.

په داسی حال کی چی د سولی جوړولو لپاره د مدنی ټولنی سازمانونه له نړیوالی ټولنی سره اتحادونه جوړوی، په عین وخت کی باید هغوی ډیر زیات په نړیوال ملاتړ باندی تکیه ونه کړی، بلکه خپلو محلی اجنداو او خپلو توانمندیو ته دی ځیر شی او د بدلون لپاره همدا خپلو محلی اجنداو ته وده ورکړی.

## د مقابلی لاری چاری: انتقالی عدالت

اکثر داسی استدلال کیږی چی له شخړی او جګړی څخه وروسته دوره کی د خوراکی توکو د امنیت خوندی ساتلو او د یو پایښت لرونکی ژوندانه د تأمینولو په شمول بنسټیز امنیت ته پاملرنه نسبت ودی ته چی پخوا څه تیر شوی دی، ډیر زیات اهمیت لری. په حقیقت کی دا خبره صحیح ده چی ویل کیږی د خوراکی توکو، د ژوندانه د اړتیاوو امنیت او د ټولنیز اساسی خدماتو بیرته رغول او بنسټیز امنیت د روغی جوړی لپاره لومړني شرایط دی. خو کله چی دغو لومړنیو اندیښنو ته پاملرنه وشوه، دا پوښتنه هم عنوان کیږی چی تیری زمانی ته هم باید یوه کتنه وشی ترڅو د راتلونکی لپاره یو کډ هدف وټاکل شی.

تیری زمانی ته د کتنی لپاره مناسب وخت ټاکل ډیر زیات مهم دی. تجربی ښودلی ده چی د تیری شوی جګړی جنایاتو ته پاملرنه، ښایی د پیل یو رغونکی ټکی نه وی، که چیری د عدالت او د امنیت په سکتورکی د ظرفیت جوړونو د پراخو پروګرامونو څخه جلا تعقیب شی او یا د یو سیاسی حل او د سولی او ثبات له ټینګښت څخه ډیر مخکی ورته پام واړول شی، ځکه چی انتقالی عدالت ډیری وخت دی پوری محدود دی چی د شخړی اړخونه د سولی موافقی ته وهڅول شی، دا هغه لوبغاړی دی چی د شخړی د پای ته رسولو لپاره توان لری. دا د دی معنی نه لری چی د عدالت د تأمینولو لپاره هڅه ونشی، بلکه د دی معنی دا ده چی د نفس ایستلو یو فضا رامنځ ته شی ترڅو له ټولو اړخونو سره د مفاهمی لاره هواره او د عدالت له کلتور سره پیژندګلوی پیدا شی. له دغسی یو کلتور سره پیژندګلوی ټولنی سره مرسته کوی چی ورو ورو د تیری زمانی په کړو وړو باندی اعتراف وکړی او یوی ریښتینی روغی جوړی ته لاره هواره کړی. مدنی ټولنه کولای شی چی د ملی عدالت د سیستم له لاری د شخړی په وخت کی او وروسته له هغی عدالت سره د مرستی په موخه دغه لاره غوره کړی. د پولیسو، قاضیانو او څارنوالانو د روزلو ـ په عین وخت کی د مدافع وکیلانو اود هدف وړ ټولنو چمتو کول، چی په دی لاره کی مخ په وړاندی ګام واخلی ـ د متقابلو فعالیتونو له پیاوړی کولو سره په پخوانی غیرفعالو کورنیو محکمو کی بیرته د کار او فعالیت نفس چلیږی.

د داسی یو فعالیت ښه بیلګه په دارفور کی لیدل کیږی، چیرته چی د مدنی ټولنی ډلو قانونی مرستی په لاره واچولی. د محلی ۶۰ وکیلانو یوی شبکی د شخړی په وخت کی بی ځایه شویو خلکو ته قانونی مرستی عرضه کړی. د اعتماد رامنځ ته کولو او د پوهاوی سطح د لوړولو په برخو کی د پانګو اچولو له برکته د بشری حقونو جاری سرغړونو، په خاصه توګه جنسی تیریو یا د جنسیت پر بنسټ ولاړو سرغړونو ته د موجود قضایی سیستم له لاری پاملرنه وشوه. دا نه یوازی د قانونی محافظت لپاره یو

خدمت دی، بلکه دا د قاضیانو په خپله موقف باندی هم اغیزی لری چی د جنایاتو په ارتکاب اعتراف وکړی.

یوه سولیزه او دیموکراتیکه راتلونکی د تاریخ څخه په انکار سره جوړیدای نشی. دغه راز له پخلاینی څخه پرته د هیواد د راتلونکی په هکله د یو پراخ بنسټه جوړښت باندی موافقت لاس ته راتلای نشی. د کرکی او نه اعتماد دوام ښایی د توپیر پالنی د پالیسو د رامنځ ته کیدو سبب وګرځی، هغه چی د ټولنی ځینی ډلی د تجرید او بی برخیتوب احساس وکړی. مدنی ټولنه کولای شی چی د تیری جګړی جنایاتو او انتقالی عدالت ته پام اړولو لپاره غږ پورته کړی. دی هدف ته د رسیدو لپاره د یوی هر اړخیزی مشورتی پروسی ضرورت لیدل کیږی. د انتقالی عدالت لپاره ستر اقدامات په لاندی ډول دی:

- د بشری حقونو د سرغړونکو څارل په کورنی او نړیواله سطح؛
- د رښتیا ویلو له لاری چی په هغه کی د رښتیا ویلو ملی او نړیوال کمیسیونونه هم شامل دی، د تیرو سرغړونو د ښکیلو کچی مشخص کول؛
- د بشری حقونو د سرغړونو د قربانیانو د حقوقو اعاده کول: لکه هغوی ته تاوان ورکول، د هغوی درمل کول او د هغوی د یادون لپاره د یو یادګار جوړول؛
- تأسیساتی اصلاحات چی د هغو په مرسته په امنیتی سکتورونو، قضایی سیستم او عامه تأسیساتو کی له پولیسو څخه نیولی تر پوځیانو پوری او له قاضیانو څخه نیولی تر مامورینو پوری د سرغړونو او ناوړه استفادو په خاطر ترپلټنی لاندی ونیول شی. د داسی پلټنو په نتیجه کی هغه کسان چی جرم یی ثابت شی، له خپلو دندو څخه ګوښه کیږی؛
- په بی اتفاقو او ټوک ټوک کړای شویو ټولنو کی د پخلاینی هڅی: د بیلګی په توګه د انتقالی عدالت د میکانیزمونو او د ټولنیزو بیارغاونو باندی له قربانیانو سره کار کول؛
- د یادګارونو او موزیمونو جوړول ترڅو د تیری کلونو د پیښو یادون خوندی وسائل شی؛
- د جنسیت پر بنسټ ولاړ تیریو او سرغړونو ته کتنه ترڅو د ښځینه قربانیانو لپاره عدالت پیاوړی شی.[1]

چیرته چی د رښتیا ویلو او پخلاینی رښتینی کمیسیونونه موجود وی، هغوی هم کولای شی چی د اصلاحاتو په هکله د محلی او سیمه ایزو بحثونو لپاره بندوبست وکړی.

**۱۵ ــ ۸ چوکاټ**
**په پخوانی یوګوسلاویا کی د انتقالی عدالت په هکله د برخه اخیستونکو سلامشوری**

د پخوانی یوګوسلاویا څخه دری غیرحکومتی ملګرو سازمانونو,(Documenta (Croatia) د بشری قانون مرکز (Serbia and Kosovo) او د څیړنو او اسنادو مرکز (Bosnia and Herzegovina) د انتقالی عدالت په هکله «د جنګی جنایاتو او شخړو په هکله رښتیا موندل» تر شعار لاندی د ۲۰۰۷ کال د فبروری له ۸ تر ۹ پوری په زاغرب کی یو سیمه ایز مجلس جوړ کړ. د قربانیانو له ټولنو، د جګړی د پخوانی پوځیانو، کډوالو، د بشری حقونو سازمانونو، د ښځو له ډلو او د ځوانانو د ټولنی څخه په ټولیزه توګه ۳۰۰ استازو په دغه کنفرانس کی د رښتیا ویلو او رښتیا موندلو پر میکانیزمونو او لارو چارو باندی بحثونه وکړل. د پخوانی یوګوسلاویا لپاره د جګړی د جنایاتو د پلټنی د نړیوالی محکمی (ICTY) له استازو سربیره د کروتیا، د صربستان او بوزنیا هرزیګوینا څخه د محکمو، د څارنوالیو، د کور دیبلوماتیک ، د OSCE او UNDP او دانتقالی عدالت لپاره د نړیوال مرکز

[1] See International Center for Transitional Justice: http://www.ictj.org/en/tj/

استازو، هنرمندانو، تاریخ پوهانو، ژورنالستانو او د پارلمان غړو په دی بحثونو کی برخه واخیستله. د دغی ستری غونډی هدف دا ؤ تر څو د مدنی ټولنو په دننه کی د رښتیا ویلو او رښتیا موندلو د میکانیزمونو په هکله عامه بحث او سلامشوری په لاره واچوی او سیمه ایز حکومتونه او پارلمانونه څخه وغواړی چی د قربانیانو لپاره د عدالت د خوندی ساتنی په موخه، په راتلونکی کی د داسی جنایاتو د مخنیوی او په عمومی توګه د تیرو کلونو د پیټو د سپکولو لپاره په یو پراخ بحث کی ګډون وکړی.

سرچینه:
Documenta- Center for Dealing with the Past. For the Forum's conclusions, see http://www.documenta.hr/eng/index.php?option=content&task=viow&id=29&Ttemid

که څه هم انتقالی عدالت ته تر اوسه پوری سمه لاره چاره نه ده موندل شوی، خو نړیوال جنایی قانون اوس د انفرادی مسوولیت یو ټینګ نورم جوړ کړی دی. په ۲۰۰۲ کال کی د نړیوالی جنایی محکمی (ICC) چی د روم په تړون یا قانون کی پریکړه یی شوی وه، انفاذ پیدا کړی. نړیواله جنایی محکمه چی یو خپلواکه دایمی محکمه ده هغه اشخاص تر محاکمی لاندی نیسی چی له نړیواله نظره سخت جنایی جرمونه یی سرته رسولی وی، لکه عام قتل، د بشریت پرضد جنایت او د جګړی جنایت. د روم قانون او نړیواله جنایی محکمه په یوه شخړه کی د ټولو دخیلو وسلوالو ډلو په برخه کی د تطبیق وړ دی:[1]

- د روم د قانون په لومړی او ۸ مادو (۲) (f)-(c): نړیواله جنایی محکمه د غیرنړیوالو شخړو په حالاتو کی د وسلوالو ډلو پر انفرادی اشخاصو باندی قضایی صلاحیت لری؛
- د روم د قانون ۸ (۲) (f) ماده: کله چی د یو دولت په خاوره کی وسلواله شخړه رامنځ ته شی که دا شخړه د حکومتی ارګانونو او د سازمان شویو وسلوالو ډلو یا د دغو ډلو ترمنځ وی، نړیواله جنایی محکمه پر دی شخړی قضایی صلاحیت لری
- د روم د قانون ۱۲(۲) ماده: کله چی د روم د قانون د تړون د یوغړی دولت په خاوره کی وسلواله شخړه رامنځ ته شی، نړیواله جنایی محکمه په دی شخړی باندی قضایی صلاحیت لری؛ یا د هغه دولت چی د دی تړون غړی دی یو تبعه په جنګی جنایاتو تورن شوی وی، دغه محکمه پری قضایی صلاحیت لری؛
- د روم د قانون ۱۳ (b) ماده: که چیری د ولس وژنی جنایت، بشری ضد جنایت، جنګی جنایت یا نور داسی سخت تیری کونکی جنایتونه رامنځ ته شوی وی او اړونده قضیه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا لخوا نړیوالی جنایی محکمی ته راجع کړای شی، دغه محکمه پری قضایی صلاحیت لری؛
- د روم د قانون ۲۵ ماده: دغه ماده د انفرادی جنایی مسوولیت حکم کوی؛
- د روم د قانون ۲۷ ماده: که چیری یو مقام د تعقیب او څارنی څخه مصونیت هم ولری، دا ډول مصونیت نړیواله جنایی محکمه د هغه پر ضد له پلټنی څخه منع کیدای نشی؛
- د روم د قانون ۲۸ ماده: دا ماده حکم کوی چی یو قوماندان یا آمر د خپلو لاس لاندی کسانو د جنایتونو مسوولیت په غاړه لری.

د یادونی وړ ده چی د انتقالی عدالت ډیری میکانیزمونه متقابلاً انحصاری بڼه نه لری بلکه په حقیقت کی د یوبل بشپړ کونکی دی. جزائی عدالت یوائی د عدالت یو اړخ دی او له شخړی څخه وروسته دوری

[1] See http://www.icc-cpi.int/library/about/officialjournal/Rome_English.pdf

په شرایطو کې بنایي جزائي عدالت عملي بنه غوره نه کړي او د یوې بشپړې ستراتیژۍ لپاره بسیا ونکړي. د شخړې څخه وروسته حالاتو کې خلک اکثر عدالت ته د رسیدو لپاره د پخلاینې د لارو چارو د ضرورت احساس کوي، هغه یو عدالت چې رښتیا ویلو، تاریخي معلوماتو او پسمنظرونو، اعترافاتو او ښنو ته ځیر شي. د دغو مختلفو لارو چارو یو څرګنده تحلیل، د هغوی ګټې او یا نه ګټې د دې فصل له توان څخه وتلې کار دی. خو یو شمیر غیرحکومتي سازمانونه شته دي چې دانتقالي عدالت په هکله یې یو لړ په زړه پورې لارښودونکې مواد او څېړنې تولید او چمتو کړې دي. د دغو سرچینو یو فهرست په لاندې چوکاټ کې موندلای شي.

**۱۵ – ۹ چوکاټ**
**د انتقالي عدالت په هکله د یو شمیر غیرحکومتي سازمانونو نوښتونه**

د افریقا د انتقالي عدالت د څېړنې شبکه (ATJRN,www.transitionaljustice.org.za) د زورزیاتیو او پخلاینې د مطالعاتو مرکز (CSVRhttp://www.csvr.org.za/) ، د دیموکراتیکې پرمختیا لپاره د ګانا مرکز (CDD-Ghana, http://www.cddghana.org/) او د یوګندا د Markere د پوهنتون د کډوالو د قانون پروژه ( http://www.rfeugeelawproject.org/) څخه جوړه شوې ده.

د یوې نړیوالې جنایي محکمې لپاره ائتلاف ( CICC www.igc.org/icc/) د۲۵۰۰ غیرحکومتي سازمانونو (NGOs) یو نړیواله شبکه ده، چې د یوې انصاف لرونکې، اغیزمنې او خپلواکې نړیوالې جنایي محکمې(ICC) لپاره د پلویتوب غږ پورته کړې دی.

د انتقالي عدالت لپاره نړیوال مرکز (ICTJ, www.ictj.org) په امریکا متحده ایالاتو کې یو غیرحکومتي سازمان دی چې له هیوادونو سره د د تیرو جنایتونو یا بشرې ضد سرغړونو د ځارنې لپاره له هیوادونو سره مرسته کوي.

د IDEA نړیوال لاسی کتاب « له شخړې وروسته پخلاینه» یو لړ قانوني ابزار وړاندې کوي چې کیدای شي د پخلاینې د پروسې د طرحې او تطبیق په لاره کې ترې کار واخیستل شي او تر اوسه اخیستل شوی هم دی. لطفا دغه پاڼه وګورئ:
http://www.idea.int/publications/reconciliation/upload/reconciliation:ful.pdf

The Internet Guide by Search for Common Ground and Harvard Law School, Strategic Choices in the Desinn of Truth Commissions
(http://www.truthcommission.org)
دا یوه ویبپاڼه ده چې په ارجنتاین، چیلي، السلوادور، ګواتیمالا او جنوبي افریقا کې د د رښتیا ویلو د کمیسیونونو پر بنسټ جوړه شوې ده.

## نتیجه

د هغه یو چاپېریال د جوړولو لپاره چې هلته د قانون واکمنی ته لاره هواره شي، لازمه ده چې د یو پوځې کلتور ځای د قانون د تطبیق په ملکي میکانیزمونو، ځارنې او د شخړو د سنتي حل د اعاده کولو تر څنګ په خپلواکې قضاء بدل شي. د اعتماد رامنځ کولو او د عمل په ډګر کې د محلي نوښتونو یو

ځای کول هومره ضروری دی لکه د سترو تأسیساتو جوړل. یوائې له پاس څخه قاعدی په لور چارچلند هیڅکه د ستونزو د حل لاره نه ده. ړومبیتوبونه باید یو بل ته د لاس ورکولو او د متقابلی همکاری په جوړښت کی سره تنظیم او په موازی شکل سره تطبیق کړای شی. له دی اعتراف سره چی عدالت، امنیت او د قانون پراخه واکمنی یوائې د کاغذ پرمخ لیکل شوی قانون پوری نه محدودیږی، بلکه د عمل یو ټولنیز لاربنود ته یی هم لمن پراخیږی ترڅو یو بل سره د سولیز ژوند د لاری چاری بند وبست وشی، هغه لاره چاره چی څو اړخیز ځانګړیتوب ولری او په هغه کی اعتماد رامنځ ته کول او پرمختیایی ظرفیت، ولسی قدرت او د تأسیساتو جوړول نغښتی وی.

په یوی تدریجی لاری چاری کی ستر ړومبیتوب باید امنیت او عدالت ته ورکړای شی. تأسیساتی اصلاحات د یوی اوږدی مودی پانګه اینودل دی او د سولی جوړونی په لومړیو ورځو کی ټولنی د پراخو اصلاحاتو لپاره انتظار نشی ایستلی. خو کله چی میکانیزمونه پر خپل ځای کینودل شول ترڅو د امنیت بیرنیو اړتیاو ته ځواب ووایی، د تأسیساتو د اصلاحاتو پروسه هم باید پیل شی.

څرنګه چی مخکی له دی تری یادون وشو، مدنی ټولنه په دواړو سطحو کی یو مهم نقش لوبوی او په ټولو پړاوونو کی ډول ډول دندی په غاړه لری: د یوی شخړی څخه مخکی، د هغی په ترڅ کی او وروسته له هغی. په نتیجه کی: که څه هم پر دی باید اعتراف وشی چی مدنی ټولنی په پوره لیوالتیا خپل ماموریتونه د خپل ژوند په بیه سرته رسوی. خو په شخړایزه حالاتو کی د مدنی ټولنی فعالیت ډیری وخت د نا امنی او زورزیاتی په فضا کی او دغه راز د مختلفو تأسیساتو د غیرقانونی فعالیتونو له امله له سختو خنډونو سره مخامخ کیږی، د بشری حقونو د سازمانونو غړی تر څارنی لاندی نیول کیږی او قصدا بندیخانو ته اچول کیږی، سانسور، ځورول او حتی جسمی تیری او قتل د ورځنی ژوند رسم او عادت جوړوی. د محلی شبکو، د عمومی سازمانونو جوړول او له نړیوال حکومتی او غیرحکومتی سازمانونو سره مشارکت کول کیدای شی چی د شخصی امنیت په خوندی ساتلو کی مرسته وکړی. په ۱۴ فصل کی د قید او محدود کرای شویو چاپیریالونو او په ۱۳ فصل کی له نړیوالی ټولنی سره د اتحادونو د جوړولو په هکله لازم معلومات ورکړل شوی دی. خو د زور پالونکی شخړی په وخت کی پر امنیتی سکتور باندی د څارنی لپاره د مدنی ټولنی دنده تر سره کول، هغه یو ستره اتلولی ده چی د لاربنوونو هیڅ رساله او هیڅ لاسی کتاب نشی کولای د هغی لپاره بنسټیز مقررات یا معیار تعریف کړی.

## د دې کتاب د ونډه اخیستونکو په هکله یادونې

**پیتر البرشت (Peter Albrecht)** د دنمارک د نړیوالو مطالعاتو په انستیتوت (DIIS) او د کوپنهاګن د تجارت په ښوونځي (CBS) کې د PhD کاندید دی او په سیرالیون کې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو پلې کول یې تر څارنې لاندې نیولې دي. له دې مخکې پیتر د سولې جوړنې د موضوعاتو د نړیوالې چارو د څارنې د پروګرام آمر ؤ چې د بالقان او لویدیځې افریقا لپاره چمتو شوی ؤ. پیتر په کوزوو کې د ملګرو ملتونو په ماموریت، په ګانا کې د کوفي عنان د سوله ساتې روزنې په نړیوال مرکز، د بهرنیو چارو لپاره د دنمارک په انستیتوت او د نړیوالو همکاریو لپاره د دنمارک په انجمن کې دندې ترسره کړې دي. هغه دغه راز د جنسیت او امنیتي سکتور د اصلاحاتو په هکله هم لیکنې کړې دي او له Karen Barenes سره یې د DCAF-ODIHR-INSTRAWGender او Reform Sector Reform Toolkit په نامه رسالې کې هم ونډه اخیستې ده. هغه د لندن د اقتصاد له انستیوت (LSE) څخه د ملیت پالنې او قومیت پیژندنې په برخه کې خپله علمي ماستري (MSc) او د دنمارک د Arhus له پوهنتون څخه د انسان پیژندنې او نژاد پیژندې په برخه کې خپله ماستري (MA) ترلاسه کړې ده.

**مارینا کاپریني (Marina Caparini)** د انتقالي عدالت لپاره په نړیوال مرکز کې د امنیتي سیستم د اصلاحاتو د پروګرام د مدیر مرستیاله ده. مارینا د عدالت او امنیتي سکتور د حکومتوالۍ په برخه کې تخصص لري او په دې اړه یې ډیرې زیاتې لیکنې کړې دي، یو زیات شمیر نړیوالو برخه والو ته یې تحلیلونه او مشورتي لیکنې وړاندې کړې دي. د هغې ورستي کار د غیردولتي لوبغاړو نقش ته ځیر شوی چې د هغو په جمله کې د مدني ټولنې ډلې او خصوصي پوځي او امنیتي شرکتونه د یادونې وړ دي. هغه په اوسني وخت کې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو (SSR) لپاره د عدالت پر محور ولاړ یوې طرحې باندې کار کوي. هغې په سیاسي علومو کې خپلې لومړنې لوړې زده کړې کړې او بیچلر آف آرت (BA) ډیپلوم یې ترلاسه کړی او بیا یې د کالګري له پوهنتون څخه په نړیوالو اړیکو کې خپله ماستري ترلاسه کړې ده.

**ایدن کول (Eden Cole)** د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا په مرکز (DCAF) کې د NIS په اړپانیفي ریاست کې د مرستیالي دنده لري، په دغه ماموریت کې دی د پخواني شوروي اتحاد او په آسیا کې د DCAF د امنیتي سکتور د پروګرامونو اداره او پراختیا لپاره مسوولیت په غاړه لري. هغه CIS او SEE کې د امنیتي سکتور د څارنې په موضوعاتو او دغه راز د ځینو نورو مسائلو لکه د خصوصي امینتي سکتور د کمپنیو د تنظیم په برخه کې ډیرې زیاتې مقالې لیکلې دي. مخکې له دې چې په DCAF کې په کار پیل وکړي، ادین د بشري چارو د عمل په پروګرامونو او په City of London نومې مؤسسې کې د قراردادي په توګه کار کړی دی. هغه د لندن له پوهنتون څخه خپله BA او MA دواړه ترلاسه کړې دي.

**تیودورا فیور (Teodora Fuior)** د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا په مرکز (DCAF) کې د څیړنو په څانګه کې یو میلمه کار پوهه ده چې د رومانیا د حکومت لخوا استول شوې ده. هغه پر امنیتي سکتور باندې د پارلماني څارنې اړوند څیړنو، اسنادو او نشراتو د پروژو مسوولیت په غاړه لري. مخکې له دې چې تیودورا DCAF کې په کار پیل وکړي، هغه د رومانیا د پارلمان د استازو په مجلس یا ولسي جرګه کې د دفاع، عامه نظم او ملي امنیت په کمیټه کې لوړې پوړې مشاوره وه. له هغې مخکې نوموړې په بروکسل کې د ناتو په پارلماني اسامبله کې یې د څیړندوی اسیستانت په توګه دنده ترسره کوله. میرمن فیور په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې لوړې زده کړې کړې او په نړیوالو اړیکو او اروپایي ادغام کې خپله ماستري اخیستې ده. هغې همدا راز د پیرو د ډیپلوماسي په اکاډمي او د آلمان د ګارمیش پا تنکیرشن کې د جارج سي مارشال په مرکز کې زده کړې کړې دي. تیودورا د رومانیا د ملي دفاع له کالج څخه په ۲۰۰۴ کال کې فارغ شوې ده.

**وهان ګالومین (Vahan Galoumain)** د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا په مرکز (DCAF) کی د څېړندوی اسیستانت په توګه کار کوی. د هغه د کار ساحه په پخوانی شوروی اتحاد او آسیا کی د امنیتی سکتور اصلاحاتو ته ځیر شوی دی. مخکی له دی چی وهان له DCAF سره یو ځای شی، هغه د چیلی د پوهنی په وزارت کی یو مشاور ؤ. له هغی مخکی هغه د ترجمان په توګه د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو په عالی کمیساری کی کار کاوه. وهان د McGill د پوهنتون د سیاسی علومو له پوهنځی څخه د BA په لاس ته راوړلو سره فارغ شوی دی او بیا یی په جینوا کی د نړیوالو پرمختیایی مطالعاتو له انستیتوت څخه یی په نړیوالو چارو (امنیت او د شخړی په منجمنت) کی خپله ماستری ترلاسه کړی ده.

**مارک ګوتری (Mark Guthrie)** په بشری حقونو او حقوقی موضوعاتو کی یو خپلواک مشاور دی. مارک ۱۷ کاله په لندن کی د مشاور وکیل په توګه کار کړی، هغه هلته د Tooks Chambrs او د Chambers of Mansfield غړی دی، چیرته چی هغه د دفاع د جرایمو، د پولیسو ضد ملکی اقداماتو او د بشری حقونو په ساحو کی تخصص مونډلای دی. له هغی وروسته نوموړی د بریتانیا د بهرنیو او کامنولت د دفتر لخوا په بوزنیا او هرزګووینا کی د OSCE ماموریت ته استول شوی ترڅو په مختلفو ساحو لکه د بشری حقونو په دفتر، د قانون د حاکمیت د حقوقی مشاور او د بشری حقونو د لوړپوړی چارواکی په توګه خدمت وکړی. له هغی وروسته نوموړی په وارسا کی د دیموکراتیکو تأسیساتو او بشری حقونو لپاره د OSCE په نمایندګی کی د بشری حقونو د څانګی مرستیال ؤ. هغه په Cape Town کی زیږیدلی او د جنوبی افریقا د آزادی په مبارزه کی برخه درلوده. هغه د افریقا په چارو کی ځانګړی تجربه لری او د رویال افریکن سوسایتی غړی دی.

**دونکن هیسکوک (Duncan Hiscock)** یو څیړوندی دی چی د پخوانی شوروی اتحاد او آسیا د امنیتی موضوعاتو په هکله ډیری زیاتی لیکنی کړی دی. له دی مخکی هغه د اوکرائین د کیف په ښار کی د پالیسی د څیړنو د نړیوال مرکز د رئیس د نړیوال مشاور او په Saferworld کی د ختیځی اروپا لپاره د پروژی د همغږی کونکی په توګه دنده ترسره کړی ده. د دونکن هیسکوک وروستی لیکنی عبارت دی له:
„Integration and Coordination of DDR and SALW control programming: Experience and priorities' for CICS, University of Bradford, 'Human Security in Bangladesh' (Saferworld, 2008), 'The Commercialisation of Post-Soviet Private Security' in 'Privat Actors and Security Governance' (DCAF, 2006), and Security Sector Refor in Armenia' (Saferworld, 2005).
دونکن په اوسنی وخت کی په بریتانیا کی د عامه پالیسی د څیړنو په انستیتوت کی کار کوی.

**کاترین کینسل بخ (Katrin Kinzelbach)** سیاست پوهه په ویانا کی د لودویګ بولتسمن د انستیتوت د بشری حقونو په څانګه کی اکادمیکه غړی ده. له دی مخکی کاترین له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۷ کال پوری د UNDP لپاره کار کړی دی. د کړکیچ مخنیوی او بیارغول او دیموکراتیکه حکومتوالی په خاصه توګه د امنیتی سکتور په ساحه کی د هغی د کار مهمه برخی وی. دغه راز کاترین په جینوا کی د UNHCR لپاره هم کار کړی دی او د یوی لنډی مودی لپاره د OSCE لخوا هغی په تاکنو کی د څارونکی په توګه هم دنده تر سره کړیده. کاترین کینسل بخ د .M.A دوه ماستر دګری لری (لومړی یی د King's College څخه او دوهمه یی د فلورینس او بن له پوهنتونونو څخه ترلاسه کړیده) او په (۲۰۰۸) کال کی د ویانا له پوهنتون څخه خپله Ph.D ترلاسه کړه.

**ایێن لی (Ian Leigh)** د Durham په پوهنتون کی استاد او د دغه پوهنتون د بشری حقونو د مرکز مرستیال رئیس هم دی.
دهغه لیکنی د قانون، سیاست او محلی دیموکراسی په برخوکی دی (Oxford University Press,2000)؛

نوری لیکنی:

From the Cold: National Security and Parliamentary Democracy (Oxford University Press, 1994), with Laurence Lustgarten; Who's Watching the Spies: Establishing Intelligence Service Accountability (Potomac Books, 2005) with Hons Born and Loch Johnson; Religious Freedom in the Liberal State (Oxford University Press 2005), with Rex Ahder and Making Rights Real: the Human Rights Act in its First Decade (Hart Publishing, 2008), with Roger Masterman.

هغه په دی وروستیو وختونو کی د بشری حقونو او د وسلوالو ځواکونو د منسوبینو د بنسټیزو حقونو په هکله د OSCE/DCAF د لاسی کتاب په تألیف کی هم ونډه واخیستله (وارسا، ۲۰۰۸). د هغه د پالیسی نومی رپوټ د «ترپوښتنولاندی د استخباراتي ادارو نیول» او له ډاکتر هانس بورن سره په ګډه لیکلی دی، د پښتو او دری ژبو په شمول د نړی په ۱۲ ژبو ژباړل شوی دی. اصلی کتاب په انګریزی ژبه د ناروی د پارلمان د نشراتی اداری لخوا په ۲۰۰۵ کال کی په چاپ ورسید.

Ian Leigh همداراز د دیموکراتیکو تأسیساتو او بشری حقونو د OSCE د دفتر او د اروپایی دولتونو په شورا کی د امنیت او استخباراتی ادارو باندی د دیموکراتیک کنترول لپاره د Venice Commission سره د مشاور په توګه کار کړی دی .

**انجلا مک کی (Angela Mackay)** د پوځی،پولیسی او ملکی برخه والو د پرمختیا او روزنی لپاره د طرحو په جوړولو کی تجربه لری او په دغو ساحو کی له ملګرو ملتونو، OSCE او نورو نړیوالو سازمانونو او غیرحکومتی مؤسسو سره همکاری کړیده. انجلا د جنسیت اړوند موضوعاتو، بشری حقونو، د بشری قاچاق په مسائلو او په دی ورستیو وختونو کی د امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی تخصص ترلاسه کړی دی. په ۲۰۰۷ کال کی هغی د ICMPD د تیم غړی وه چی د کوزوو سرحدی پولیسو ته یی روزنه ورکړه. په اوسنی وخت کی انجلا په کینیا کی د ملګرو ملتونو د نمایندګی په بشری ماموریت کی د GenCap Adviser په توګه کار کوی.

**سیفوسامی مالونګا (Siphosami Malunga)** د ختیځی اروپا او جنوبی افریقا د سیمی لپاره په سیمه ایز مرکز کی د حکومتوالی د پالیسیو مشاور دی. سیفوسامی د ۲۰۰۸ کال په جنوری په نوموړی مرکز کی په کار پیل وکړ او له دی مخکی په اوسلو کی د حکومتوالی لپاره د UNDP په نمایندګی د شځړو د مخنیوی او سولی جوړونی په څانګه کی د مشاور په توګه دنده درلود. هغه همداراز په ختیځ تیمور کی د ملګرو ملتونو په انتقالی اداره (UNTAET) او د هغه په خلفی اداری (په ختیځ تیمور کی د ملګرو ملتونو د مرستی په ماموریت (UNMISET) کی په مختلفو څانګو لکه: د حقوقی مرستی/ عامه مدافع یونت د آمر په توګه، د قانونی چارو د چارواکی، د قضائی مسائلو د چارواکی او د ختیځ تیمور په مختلفو جنایی تریبونالونو د څارنوال په توګه دندی اجراء کړی دی. هغه همداراز د ختځ تیمور د قضائی روزنی په پروژه کی د مقیم پروګرام منجر په توګه د نړیوال پرمختیایی سازمان (IDLO) لپاره او د قضایی اصلاحاتو د پروګرام لپاره د پروګرام منجر په توګه په افغانستان کی د UNDP لپاره خدمتونه کړی دی. هغه د حکومتوالی په پالیسی او تخنیکی مرستو او د شخړی څخه وروسته دوره کی په بیارغاونی او سولی جوړونی کی تخصص لری. هغه خپله مسلکی تجربه په زیمبابوی، چیرته چی هغه د یو مدافع وکیل په توګه کار کاوه پیل کړه او له هغی وروسته په بوتسوانا کی دغی دندی ته دوام ورکړ. هغه د اوسلو د پوهنتون د حقوقو او د نړیوال قانون له څانګی څخه خپله ماستری او د زیمبابوی له پوهنتون څخه د LLB افتخاری علمی درجه ترلاسه کړیده.

**یوهانا میندلسن فورمن (Johanna Mendelson Forman)** د ستراتیژیکی او نړیوالو مطالعاتو په مرکز(CSIS) کی لوړپوړی همکاره ده، چیرته چی هغه د خپلی تخصصی برخی په مختلفو ساحو کی دندی ترسره کوی. د شخړی څخه روسته دوره کی د بیارغاونی د پروژی د پخوانی مرستیال مدیری په توګه هغی په شخړه لرونکو دولتونو کی د امینتی سکتور د اصلاحاتو، له جګړی څخه

وروسته ټولنو کی د اقتصادی پرمختیا او د سولی په ماموریتونو کی د ملګرو ملتونو د نقش په هکله لیکنی کړی دی. یوهانا تر ۲۰۰۶ کال پوری د ملګرو ملتونو په بنسټ کی د سولی،امنیت او بشری حقونو د مدیری په توګه خدمت وکړ. هغی په هاییتی کی د ملګرو ملتونو په ماموریت کی د مشاوری په توګه کار کړی دی. له هغی مخکی یوهانا میندلسن فورمن د امریکا د متحده ایالاتو د حکومت په USAID نومی پروګرام کی په لوړو مقامونو او د نړیوال بانک د بشری مرستو په دفتر او د انتقالی نوښتونو په څانګو کی مهمی دندی ترسره کړی دی. هغی د واشنګتن د پوهنتون د سنت لوییز، میسوری څخه په تاریخ کی خپله ډوکتورا ترلاسه کړی او په واشنګتن DC کی د امریکن له پوهنتون څخه په حقوقو کی خپل لیسانس اخیستی دی. یوهانا میندلسن فورمن د بهرنی اړیکو په شورا کی غړیتوب لری.

**امرای میولر (Amerei Müller)** په اوسنی وخت (۲۰۰۸) کی د ناتینګهم په پوهنتون کی په خپلی PhD باندی کار کوی چی موضوع یی د اقتصادی، ټولنیز او کلتوری حقونو د نړیوال منشور او د نړیوال بشری قانون پر اساس د قانونی مکلفیتونو د اړیکو څیړل دی. له هغی مخکی نوموړی د بشری حقونو لپاره د آلمان له انستیتوت (DIMR) او د اروپا لپاره د UNDP له سیمه ایز مرکز سره او همداراز د بشری حقونو او امنیتی مسائلو کی له CIS سره کار کړی دی. هغی په بریتانیا او آلمان کی د نړیوال بشری قانون (LL.M) او نړیوالی اړیکی (B.A.) په برخو کی زده کړی کړی دی. امرای د «ملګرو ملتونو د تړون د ارګان په پروسه کی (DIMR, 2008) د بشری حقونو د ملی تأسیساتو د نقش او د امنیتی سکتور په څارنی او څیړنی (UNDP/DCAF,2007) کی پرامنیتی سکتور باندی دڅارنی تر عنوان لاندی لیکنی کړی دی.

**الیاندرا پیرو (Alejandra Pero)** په اوسنی وخت (۲۰۰۸) کی د مدنی ټولنی او د بومی خلکو په موضوعاتو کی خپلواکه مشاوره ده. هغه د شخړو په مخنیوی، سولی جوړونی، بشری حقونو او محلی پرمختیایی موضوعاتو کی ډیره پراخه تجربه لری. له دی مخکی هغی په نیویارک کی د UNDP دمدنی ټولنی په څانګه کی د پرمختیایی پالیسی او د پروګرام په دیزاین کی کار کړی دی. مخکی له دی چی په ملګرو ملتونو کی خپل کار پیل کړی میرمن پیرو په ارجنتاین، ترکیی او د امریکا په متحده ایالاتو کی د ښځو د غیرحکومتی سازمانونو لپاره په څیړنو بوخته وه.

**جیوفری پریویت (Geoffrey Prewitt)** د فلسطینی خلکو سره د مرستی لپاره د ملګرو ملتونو د UNDP د پروګرام په چوکاټ کی د حکومتوالی او ټولنیزی پانګی د تیم مشری په غاړه لری. له هغی مخکی نوموړی د داروپا او د CIS لپاره د UNDP په سیمه ایز مرکز کی د بیوزلی د کمولو او د مدنی ټولنی د مشاوری په توګه پنځه کاله کار کړی دی. دغه راز جیف د حبشی په پلازمینه ادیس ابابا کی د UNDP د مشاور په توګه کار کړی اوپه مرکزی او ختیځه افریقا کی د بیوزلی د کمولو په برخه کی زیات زیار ایستلی دی او څو کاله یی له UNDP سره په مختلفو دندو کی کلونه تیر کړی دی. مخکی له دی چی جیف له UNDP سره کار وکړی هغه په ملاوی او هنګری یا مجارستان کی د مدنی ټولنی له سازمانونو سره هم همکاری کړیده. هغه د ملکی فعالیتونو او هڅو د موضوعاتو پر سر ډیری زیاتی لکینی کړی دی. د هغه تر ټولو وروستی اثر ټولنیزو مؤسسو باندی غور ته ځیر شوی دی. جیف د کورنیل له پوهنتون څخه د نړیوالو پرمختیاو په رشته کی M.A. لاس ته راوړی او د Wisconsin-Madison له پوهنتون څخه B.A. ترلاسه کړی.

**ریزال دارما پوترا (Rizal Darma Putra)** په جاکارتا کی د اندونیزیا د ستراتیژیکی او دفاعی مطالعاتو د انستیتوت (LESPERSSI) د اجرائیه چارو مدیر دی. د امنیت او ستراتیژیکی مطالعاتو په خاصه توګه د ختیځی آسیا امنیتی موضوعات د ریزال د کار د ساحی مهمی برخی دی. هغه د امنیتی سکتور د اصلاحاتو پر سر نړیوالو سیمینارونو او بحثونو کی د یو مهم وینا کونکی په توګه برخه اخیستی ده. هغه همداراز د ۲۰۰۸ کال په می کی د افغانستان د اسلامی دولت د ولسی جرګی د دفاع او کورنی امینت په کمیتو کی مشورتی کارونه سرته رسولی دی. په دی نژدی وختونو کی هغه د

اندونیزیا د پوځی اصلاحاتو د موضوعاتو په هکله نشراتو کی هم ډیره زیاته ونډه اخیستی ده، په خاصه توګه د پوځی تجارتی سکتور د له مینځه وړلو په برخه کی. هغه همدارا ز د اندونیزیا ډله ایزو رسنیو ته د ستراتیژیکی مسائلو په هکله لیکنی کوی. هغه د اندونیزیا له پوهنتون څخه په نړیوالو اړیکو کی خپل ماستری (MA) لاس ته راوړی ده.

**یاسمین شریف (Yasmin Sherif)** د کړکیچ د مخنیوی او بیا رغاونی لپاره د UNDP په دفتر کی د عدالت او امنیتی سکتور په اصلاحاتو کی لوړپوړی مشاوره ده. یاسمین په ۱۹۸۸ کال کی په ملګرو ملتونو کی خپل کار پیل کړ او د هغه سازمان د UNHCR,OCHA,UNDP او د DPKO د ادارو لپاره د نړی په سختو جګړه ځپلو سیمو لکه افغانستان، بوزنیا او هرزګووینا، کمبودیا، د کانګو دیموکراتیک جمهوریت، کوزوو او سودان کی خدمتونه کړی دی. هغه د ملګرو ملتونو په عمومی مقرونو، نیویارک او جینوا کی هم کار کړی دی. د خپل کار تر څنګ هغی له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۳ کلونو په نیویارک کی د Long Island په پوهنتون کی د پروفیسوری په توګه تدریس کړی، هغه د ملګرو ملتونو د فراغت نومی پروګرام مسووله وه او د دغه پروګرام په چوکاټ کی یی د ملګرو ملتونو، بشری حقونو، بشری قانون او منځنی ختیځ په هکله لکچرونه ورکړی دی. هغه په ملی او نړیوالو ډله ایزو رسنیو کی د کارپوهی په توګه مشهوره ده او ډیری زیاتی لیکنی کړی دی. یاسمین په قانون کی ماستری (LLM) لری او د نړیوال بشری حقونو او بشری حقونو په قانون کی د ستاکهلم له پوهنتون څخه په ۱۹۸۷ کال کی خپل تخصص ترلاسه کړ.